د قرآن رښا

د عظيم الشأن قرآن پښتو معنا

اولنۍ دعوتي تفسير

د پوهنوال دکتور مولوي/ محمدظاهر اسدالله مکي

په قلم او ژبه

دويم ټوک

(۲)

د الاعراف نه ترطه سورې پايه پورې

د قرآن رښا

د عظيم الشأن قرآن پښتو معنا

اولنۍ دعوتي تفسير

د پوهنوال دکتور مولوي/ محمدظاهر اسدالله مکي

په قلم او ژبه

د اسلامي نړۍ رابطې (رابطة العالم الإ سلامي)

د امامانو او دعاتو عالي انستيوت پخوانۍ استاذ

مکة المکرمة: العز يز ية الجنوبية

رمضان ١٦ /١٤٤٥هـ .ق المو افق

مارس ٢٦/ ٢٠٢٤ المو افق حمل ١٤٠٣هـ.ش

(٢)

دو يم ټوک

[د الاعراف سورې نه ترطه آخره پورې]

۞ در یم چاپ - چاپ حق د مولف په اجازه.

د مولف سره اړ یکه :

۞ د مولف تلفون او د واتساپ شمیری:

(۰۰۹۶۶۵۰۱۳۷۷۹۰۰)- ۰۰۹۶۶۵۰۶۵۶۵٤٦۰

ایمیل آدرس / dr.mzm۵۵@gmail.com

۞ کمپیوتري لیکنه او تنظیم :

مهندس/عبد الرحمن ظاهر(ابو حمزة) او أ/ ام جود جزاهما الله خیرا.

۞ په کمپیوتر او چاپي پانو کې مکرره کره کتنه

خپله مؤلف(عفی الله تعالی برحمته عن زلاته)

او په کره کتنه کې د ګڼ شمیر قدرمنو پوهاندانو او مولو یانو وړاندیزو نه په پام کې نیول سوي دي او هم د دوی ښه نظرونه د تفسیر په پای کې ثبت سوي دي.

الآية

قال الله تعالى: ﴿ قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴾[المائدة:١٥]

ای خلکو! یقینا چې تاسې ته د الله لخوا رڼا او روښانه کتاب قرآن راغئ، ترڅو مونږ د قرآن په رڼا کې سمه لار بیاومو او حق ته ورسیږو او د ورکتیا نه خلاص سو.

الحديث

قال رسول الله ﷺ : «ستكون بعدي فتنٌ، فسأل علي رضي الله عنه عنه: وما المخرج عنها؟ فقال رسول الله ﷺ: كتاب الله...» الحديث، رواه الترمذي.

ژباړه: [هو! د زمانه وروسته به ډیرې فتنې را پیښې سي! نو بیا علی رضي الله عنه و پوښتل: د خلاصون لار څه ده؟ رسول الله ﷺ: وفرمایل: د الله کتاب...الخ] دا حدیث امام ترمذي روایت کړئ دئ.


بسم الله الرحمن الرحيم

فهرست

﴿د الاعراف سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ١٧

{د الاعراف سورې لنډه پېژندنه او لوړ مقصدونه} ١٧
{قرآن پر محمدﷺرانازل سوئ او مومنانو ته پیغام دئ} ١٧
{د پیغمبرانو نه سر غړوونکو کسانو ترخه راتلونکې} ١٩
{د آدمعليه السلامپیدایښت او د شیطان دښمني د هغه کهول سره} ٢١
{آدمعليه السلام الله په جنت کې د یوې ونې میوې خوړلو نه منعې که} ٢٤
{الله خلکوته د جامو نعمت ورکړئ دئ چې عورتونه پې پټوي} ٢٧
{الله تعالی خلک تل د فحشاء نه ګواښلي دي} ٢٩
{مومنان ده په مسجدونو کې ښکلې جامې واغوندي دي} ٣٠
{د مومنانو او کافرانو پرتله په جنت او دوزخ کې کیږي} ٣٤
{د قیامت په ورځ دوزخ ته د کافرانو ورننوتلو ژوندئ انځور} ٣٥
{د جنت ورونه کافرانو پرمخ تړلي او مومنان ته خلاص دي} ٣٦
{ملائکی د قیامت په ورځ پر کافرانو د الله لعنت وایي} ٣٨
{چاچې په دنیا کې الله هیر که د قیامت په ورځ دوی الله هیروي} ٤٠
{د کائناتو پیدایښت نه وروسته الله پر عرش مستوي سه} ٤٢
{د مړو راژوندي کول د مړې ځمکې راشنه کول غوندې الله ته اسانه دي} ٤٤
{د نوح نه تر شعیب پورې د پخوانیو پیغمبرانو لنډه یادونه} ٤٥
{د نوحعليه السلام قوم الله د او بو په لوی طوفان کې ډوب که} ٤٦
{د هود قصه خپل قوم عاد سره او پکې د پند نه ډکې زدکړې} ٤٨
{د صالحعليه السلامقصه د خپل سرکښ قوم ثمود سره} ٥٠
{ د لوطعليه السلامقصه خپل قوم سره د عبرتونو نه ډکه ده } ٥٢
{شعیبعليه السلامالله تعالی د مدین اوسیدونکو ته استازئ راولیږه} ٥٣
{د الله نظام ټولنې اصلاح لپاره پر سزا او ثواب ولاړ دئ} ٥٧
{موسیعليه السلامالله فرعون ته د معجزو سره استازئ غوره که} ٦١
{د فرعونیانو توطئې موسیعليه السلام پر وړاندې رسوا سوې} ٦٢
{د فرعون کودګر د موسی معجزو پر وړاندې تسلیم سول} ٦٢
{د فرعون مشاور ینو د هغه امپراتوري سمندر کې لاهو کړه} ٦٥
{الله خپل حجت پر فرعونیانو پوره که خو دوی حق ونه مانه} ٦٦
{د ځمکې واکمني الله هغه چا ته میراث کړه چې زور یدلی ول} ٦٩

{الله کبرجنو کسانو ته د خپلو معجزو لیدلو توفیق نه ورکوي} ۷۳
{بني اسرائیلو د سامري خوسئ خدای ونیؤ} ۷٤
{د موسیﷺسره په تورات کې د الله لارښودنې او ر حمت ؤ} ۷٦
{د اهل کتاب ر یښتیني مومنان د محمدﷺاستاز یتوب مني} ۷۸
{د موسی په قوم کې داسې ډله هم سته چې اسلام مني} ۸۰
{د یهودو خالي یا شنې ورځې قصه او د دوی دروغژنې پلمې} ۸۲
{هغو یهودو چې خپلې هوکړې ماتې کړې خوار او ټوټه سول} ۸۵
{د آدمﷺکهول د پیدایښت نه مخکې خپل رب الله پیژاند} ۸۷
{د بلعم بن باعورا او د دین پلورونکو ملایانو عبرتناکه قصه} ۸۹
{الله په ښکلو نومونو یادیږي او د کافرانو په خولو نه بدلیږي} ۹۲
{ظالمان الله په ګناه کې همداسې ډو بوي او ښه ډیر بې زنډوي} ۹٤
{د قیامت ورځې د راتګ علم یوازې الله سره دئ} ۹٦
{د کافرانو خدایان بې واکه او بې وسې دي} ۹۹
{رسول الله ته او د امت دعاتو ته د تګ لارې نښو سپارښتنه} ۱۰۲

﴿د الانفال سورې پښتو معنا او لنډ تفسر﴾ ۱۰٦

{د الانفال سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدو نه} ۱۰٦
{دغنیمت و یش واکمن الله او پیغمبر دئ او اختلاف روا ندئ} ۱۰٦
{رسول اللهﷺ د بدر ډاګ کې کافرانو جهاد ته الله راوایست} ۱۰۸
{د بدر غزا کې الله په فرښتو د رسول اللهﷺمرسته وکړه} ۱۱۰
{د یرغلګر دښمن سره په جګړه کې د تیښتې شا تګ حرام دئ} ۱۱۲
{مومنان الله تعالی د خپل رب اطاعت ته رابللي دي} ۱۱۵
{د الله لو یو پیرزو ینو شکر و یستل پر مومنانو فرض دي} ۱۱۹
{د مکې کافرانو کینه کښې در یځ د رسول اللهﷺ پر وړاندې} ۱۲۰
{د مکې کافران د کعبې مینه پالان نه ول او نه یې لمونځ سم ؤ} ۱۲۳
{په توپې و یستلو ګناه ګاران بښل کیږي او کافران هلاکیږي} ۱۲٦
{د غنیمت څلور برخې د غاز یانو او پنځمه د الله او پیغمبر ده} ۱۲۷
{دښمن سره په جګړه کې کلک مقاومت پرمومنانو فرض دئ} ۱۳۱
{ننې سیکولران چې مومنانوته کنځل کړي پروني منافقان دي} ۱۳۳
{کافران د ځمکې پر سر الله تعالی پر وړاندې بد خلک دي} ۱۳۵
{پر مومنانو فرض ده چې پر نو یو اسلحو سمبال ځواک ولري} ۱۳۷

{جهاد ته د مومنانو هڅول جګړه مار دښمن سره فرض دي}..... ١٤٠
{د کافرانو برمته سوو نه باج اخستل الله مناسب نه بولي}..... ١٤٢
{مهاجر ين او انصار د کافرانو په جهاد کې سره ملګري ول}..... ١٤٥

﴿د التوبې سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ١٤٨

{د التوبې سورې لنډه پيژندنه او لوی مقصدونه}..... ١٤٨
{د التوبې سورې معنا او تفسير پيل نه وړاندې ار ين وضاحت}..... ١٤٩
{مومنان د اسلام دښمنانو سره په هوکړو کې محتاط وي}..... ١٥٥
{ د قرآن آيتونه کافرانو په لږ بيعه خرڅ کړل}..... ١٥٦
{مشرکان پرخپل کفر شاهدان دي او مسجدونه نه ودانوي}..... ١٥٩
{د مهاجرو مومنانو او د مجاهدينو مقام الله سره لوړ دئ}..... ١٦٠
{د ملتيا تله ايمان دئ او د خپلوانو کافرانو ملتيا حرامه ده}..... ١٦١
{مومنانو ته الله په جګړو کې د ملائکو په مرسته فتحې ورکړې}..... ١٦٢
{د هجرت په نهم کال کافران د مسجد الحرام نه منعې سول}..... ١٦٤
{يهودو عز ير عليه السلام او نصاراوو المسيح عليه السلام د الله زامن و بلل}..... ١٦٦
{يهود او نصارا غواړي د دين رڼا مړه کړي خو هغه الله خوروي}..... ١٦٧
{ قمري کال دولس مياشتې دئ او څلور يې حرامې دي}..... ١٧٠
{مومنانو ته نه ښايي د دنيا ژوند د آخرت په ژوند خوښ کړي}..... ١٧٢
{پر مومنانو جهاد د الله په لار کې په سر او مال فرض دئ}..... ١٧٤
{د منافقانو جاسوسان د مومنانو خبرې خپلو ملګرو ته وړې}..... ١٧٧
{د الله لارې غاز يان بر يا او يا شهادت ته سترګې په لار ول}..... ١٧٨
{د کافرانو خيراتونه الله نه قبلوي ځکه دوی سر کښان دي}..... ١٨٠
{منافقان دروغژن دي په لوړو ځانو نه د مومنانو پلو يان بولي}..... ١٨١
{رسول الله ﷺ مومنانو ته رحمت او زړه سواندئ پيغمبر دئ}..... ١٨٤
{د منافقانو او مجرمانو پلمې نه منل کيږي}..... ١٨٥
{منافقانو ټول د يو بل پلو يان دي}..... ١٨٧
{مومنان ښځې او نار ينه په ښو سپارښت او د بدو نه منع کوي}..... ١٨٩
{کافرانو او منافقانو سره جهاد د پيغمبر او مومنانو دنده ده}..... ١٩٠
{د منافقانو خولې او د زړه خبره يوه نه ده}..... ١٩١
{منافقان د تبوك غزا ته په نه تګ خوښ سول}..... ١٩٣
{منافقان چې زړونه يې تاپه سوي دي خپل خير نه پيژني}..... ١٩٥

{ناروغان او نور معذور کسان د جهاد نه معاف دي} ۱۹۷
{څوک چې په عذره جهاد ته نه ځي ایمان په ګواښ لاندې دئ} ۱۹۹
{د کلیو او باندو خلکو نفاق ډیر کینه کښ نفاق دئ} ۲۰۱
{ښه کړل پر مومنانو فرض دي او الله ورته ثواب ورکوي} ۲۰۵
{د ضرار مسجد منافقانو مومنانوسره دښمنۍ لپاره جوړ که} ۲۰۷
{د الله تعالی ډالۍ مجاهدینو ته جنتو نه دي} ۲۰۹
{د تبوك غزا مجاهدینو ته الله لخوا د توبې قبلیدو ز یرئ ؤ} ۲۱۲
{د مدینې خلک تبوك غزا ته په نه تګ الله کلک ملامت کړل} ۲۱۴

﴿د یونس سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۲۲۱

{د یونس سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدو نه} ۲۲۱
{د ایمان ځلورو رکنونو د تصدیق قاطع بیان} ۲۲۱
{د مکافاتو او مجازاتو قانون په آخرت کې د ګواښ پیغام دئ} ۲۲۴
{د کافرانو مِینه په آخرت کې دوزخ او د مومنانو جنت دئ} ۲۲۵
{انسان خپل رب په سختۍ کې پیژني او په روغتیا کې یې هیر وي} ۲۲۷
{د تیر تار یخ ترخو پیښو نه زد کړه او پند اخستل فرض دي} ۲۲۸
{قرآن د الله حق کتاب دئ او رسول الله د بدلون واک نه لري} ۲۲۹
{د فکر ازادۍ حق خلکوته الله په تقدیر کې لیکلئ دئ} ۲۳۱
{د الله رحمتونو هیرول د خلکو ناشکرۍ تل پاتې خوی دئ} ۲۳۳
{مومنانو ته په آخرت کې د الله جنتونه او کافرانوته دوزخ دئ} ۲۳۶
{د مکې کافرانو د الله تعالی توحید په ر بو بیت کې مانه} ۲۳۸
{قرآن دروغ نه دئ او مخکني کتابونه یې تصدیقونکي دي} ۲۴۱
{د دنیا ژوند ژر تیریدونکئ دئ او کافرانو ته الله سزا ورکوي} ۲۴۵
{په قیامت کې د هر قوم ځای پیغمبرانو په مخکې ټاکل کیږي} ۲۴۶
{قرآن د وعظ او پام را اړونې پیغام او د زړونو روغتیا دئ} ۲۴۹
{مومنانو ته په دنیا او آخرت کې د ډاډ او اطمئنان ز یري} ۲۵۲
{د شپې او ورځې بدلون او پرلپسې راتګ د الله قدرتونو نښه ده} ۲۵۳
{د نوح علیه السلام قصه د مکې او نړۍ کافرانو ته لوی ګواښ دئ} ۲۵۶
{فرعون او قوم یې د موسی پیغمبرۍ پر وړاندې کبر وکه} ۲۵۸
{کافران د حق سره دښمني کړي خو الله حق بر یاته رسوي} ۲۶۱
{د موسی قوم مومنانو ته د خلاصون ز یري} ۲۶۳

{فرعون د خپل لښکر سره په سمندر کې ډوب او هلاك سه}.....۲٦٥
{د قرآن په ر یښتینوالي تورات او انجیل شاهدان دي}.....۲٦۷
{د یونس علیه السلام قوم تو به قبوله سؤ او عذاب ورځخه لرې سه}.....۲٦۹
{پیغمبر د الله توحید ته لارښود دئ د بل چا بنده ګي نکړي}.....۲۷۳
{د خیر او شر ر یښتینئ واکمن ځښتن یوازې الله دئ}.....۲۷٤
د هود سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر.....۲۷۷
{د هود سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}.....۲۷۷
{د کافرانو نفسي او روحي بدلیدونکي حالت بیان}.....۲۸۲
{ پیغمبر صلی الله علیه وسلم الله دکافرانو غوښتنو پر وړاندې ډاډمن کړئ دئ}.....۲۸٤
{څوک چې دنیا غواړي الله پې ورکوي او آخرت کې برخه نه لري}.....۲۸٦
{پر کافرانو چې د الله رحمت نه رټل سوي دي لعنت اور یږي}.....۲۸۷
{د مومنانو ځای په آخرت کې تل پاتې جنت دئ}.....۲۸۹
{د نوح قوم پر خپلو ځانو د عذاب راکوز یدل وغوښتل}.....۲۹۳
{نوح د الله حکم هیر که او د زوی نجات پې وغوښت}.....۲۹۷
{نسب د خلاصون بیړی نه ده بلکې ایمان د نجات بیړی ده}.....۲۹۸
{هود علیه السلام خپل قوم یوازې د الله عبادت ته راو باله}.....۲۹۹
{صالح علیه السلام الله خپل قوم ثمود ته پیغمبر راولیږه}.....۳۰۳
{د صالح علیه السلام معجزه خپل قوم ته د الله اوښه ؤ}.....۳۰۵
{د ابراهیم علیه السلام قصه د لارښودنو ژبا او د الله قدرتونو نښه ده}.....۳۰۷
{لوط علیه السلام چې د الله استازي ونه پیژندل زړه پې په تنګ سه}.....۳۰۸
{شعیب علیه السلام خپل قوم د الله عبادت ته راو باله}.....۳۱۱
{شعیب علیه السلام خپل قوم د تیرو ولسونو تور برخلیک نه وګواښه}.....۳۱۳
{موسی علیه السلام فرعون ته الله پیغمبر را ولیږه خو هغه ونه ما نه}.....۳۱۵
{د بشر یت په اوږده تار یخ کې الله پرخلکو ظلم نه دئ کړئ}.....۳۱٦
{د موسی پیغمبرۍ په ژبا کې اسلام پیغمبرته د الله لارښودنې}.....۳۲۰
{د مصلحانو په شتون کې الله کلي او شمارو نه نه رنګوي}.....۳۲۲
د یوسف سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر..... ۳۲۷
{د یوسف سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدو نه}.....۳۲۷
{یوسف علیه السلام تهپه خوب کې لمر او سپوږمۍ سجده وکړه}.....۳۲۹
{د یوسف علیه السلام قصه هوښیارانو ته د الله لو یو قدرتو نښه ده}.....۳۳۰

{د یوسف علیه السلام نازونه او پالنه د مصر واکمن پاچا په کور کې}..... ۳۳٤
{د یوسف پاک لمنې ثبوت د مصر واکمن میرمنې پر وړاندې}..... ۳۳٥
{په دربارکې اوازه سۀ چې ملکه په خپل زلمکي مَینه سوې ده}..... ۳۳۷
{یوسف علیه السلام جیل د زنا پر سپکاوي باندې غوره که}..... ۳۳۸
{ یوسف علیه السلام د زندان پر لور او د خو بونو تعبیر }..... ۳٤۰
{یوسف په زندان کې د زندانیانو خو بونه تعبیر کړل}..... ۳٤۲
{یوسف علیه السلام د جیل یا زندان نه تر پاچا در بار پورې}..... ۳٤٦
{حق څرګند سه او یوسف علیه السلام د ر یښتونکونه ؤ}..... ۳٤۷
{د مصر پاچا یوسف علیه السلام خپل ځانګړئ مشاور غوره که}..... ۳٤۸
{د یوسف علیه السلام واکمني د مصر په خاوره کې د الله پیرزو ینه ؤ}..... ۳٤۹
{د یوسف میرني ورونه د ولړې نه مصر ته راغلل}..... ۳٥۰
{یوسف علیه السلام بنیامین په غیږ کې ونیؤ او د ورور نه پې خبر که}..... ۳٥٤
{کاروانیان شرمیدلي خپل پلار یعقوب علیه السلام ته ورستانه سول}..... ۳٥۷
او په ور پسې مبارکو آیتونوکې بیا الله تعالی د یعقوب علیه السلام هغه حکم یاد کړئ دئ چې هغه
خپلو زامنو ته وو یل: لاړ سۍ او ورکو ورونو پسې مو وګرځئ، او په بیان کې یې فرمایلي دي: ۳٦۰
{د یوسف مور او پلار دواړو یوسف ته د درناوي سجده وکړه}..... ۳٦٤
{ یوسف علیه السلام د الله پیرزو ینې او د ښو خلکو ملتیا وغوښتله }..... ۳٦٥
{یوسف علیه السلام ته د الله پټې خبرې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د ډاډ پیغام دئ}..... ۳٦٦
{کافران په کائناتو کې د الله قدرتونو نښانو نه مخ اړوي}..... ۳٦۷
{رسول الله خپله تګ لاره چې په پوهاوي ولاړه ده اعلان کړه}..... ۳٦۸
{ټول پیغمبران الله تعالی د کلیو او ښارو نه نار ینه غوره کړل}..... ۳٦۸
د الرعد سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ۳۷۱
{د الرعد مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}..... ۳۷۱
{قرآن حق دئ خو ډیر خلک باور نکړي او د الله توحید نه مني}..... ۳۷۲
{الله په پټ او ښکاره پوهیږي او هرڅه د الله سره په اندازه دي}..... ۳۷٥
{د الله تعالی قدرتونو لوړې نښانې په اسمانو کې رڼې ځلیږي}..... ۳۷۷
{پر ځمکه او اسمانو کې سته مخلوقات الله ته سجده کړي}..... ۳۷۹
{ د حق او باطل په منځ کې د بیلتون ژوندۍ بیلګه }..... ۳۸۱
{د هوښیارانو او حق پالونکو ښه خو یونه}..... ۳۸۲
{د روزې ډیرولو او لرولو واکمن څښتن الله دئ}..... ۳۸٥

{محمد ﷺ خپل امت ته د الله نه را لیږل سوئ پیغمبر دئ} ۳۸۷
{د پخوانیو پیغمبرانو تار یخ رسول الله ﷺ ته د ډاډ پیغام ؤ} ۳۸۹
{متقیانو ته په آخرت کې د جنتونو انځور ز یري} ۳۹۱
{اهل کتاب پر محمد ﷺ د قرآن پر را نازلیدو خوښ سول} ۳۹۱
{پیغمبران ټول نار ینه ول او میرمنې او کهول یې درلود} ۳۹۲
د ابراهیم علیه السلام سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ۳۹۶
{د ابراهیم علیه السلام سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ۳۹۶
{قرآن خلک د کفر تیارو نه د ایمان رڼا او توحید ته را باسي} ۳۹۷
{موسی علیه السلام یهود د تیارو نه رڼا ته راوایستل} ۳۹۹
{د پیغمبرانو بر یا او د کافرانو ماتې انځور په تاریخ کې} ۴۰۱
{د کافرانو کړنې کلک باد لکه د اور ایرې اړوي را اړوي} ۴۰۴
{په قیامت کې کشران مشران د الله سزانه خلاصولای نسي} ۴۰۵
{په جنت کې مومنان په سلام اچولو سره د یو بل هرکلئ کړي} ۴۰۷
{االله په لو یو قدرتونو او په ډیرو پیرزو ینو پیژندل کیږي} ۴۱۰
{د ابراهیم علیه السلام مناجات او غوښتنې د خپل لوی رب الله نه} ۴۱۱
{الله ځینې کافرانو ته سزا ورکول د قیامت ورځې ته زنډوي} ۴۱۴
{د قیامت په ورځ کافرانو ته د سزا ورکولو ژوندئ تصو یر} ۴۱۶
د الحجر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ۴۱۸
{د الحِجر مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوړ اهداف} ۴۱۸
{کافران په آخرت کې د مسلمانې ارمان کړي} ۴۱۹
{رسول الله ﷺ ته الله تعالی د ډاډ او اطمئنان ز یرئ ورکړئ دئ} ۴۲۱
{آدم علیه السلام ته ملائکو سجده وکړه خو ابلیس یې دښمن سه} ۴۲۶
{شیطان الله وراټه نو بیایې د آدم کهول غولو ته ملا وتړله} ۴۲۷
{مومنان په جنت کې ورونو غوندې ژوند کړي او کینې نکړي} ۴۲۹
{ابراهیم ته د الله استازو ملائکو د زوی ز یر یدلو ز یرئ ورکه} ۴۳۰
{د لوط مجرم قوم ته الله تعالی کلکه سزا ورکړه} ۴۳۲
{لوط الله تعالی د خپل سرکښ قوم هلاکت نه خبر که} ۴۳۳
{ په مدین کې د شعیب علیه السلام قوم ته الله لوی عذاب ورکه } ۴۳۴
{د الحجر تنګي قصه او د صالح قوم مینه د عبرتونونه ډکه ده} ۴۳۵
{الله پیغمبر ﷺ خپل قوم پر وړاندې عفوې ته رابللئ دئ} ۴۳۷

{لوی قرآن او د(الفاتحې)سوره الله رسول اللهﷺ ته ډالی که} ٤٣٨
{د قرآن آیتونو عملی کول د خلکو په خوښه نه دي} ٤٣٩
د النحل سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ٤٤٢
{د النحل مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدو نه} ٤٤٢
{قیامت ژر راتلونکئ دئ او پیغمبر د الله په خوښه غوره کیږي} ٤٤٢
{انسان چې کله خپل پیدایښت هیر که نو د خالق دښمن سه} ٤٤٣
{د الله لوی قدرتونه او نعمتونه پر ځمکه او اسمان کې ځلیږي} ٤٤٦
{د مشرکانو بتان چې دوی پې خدایان بولي پې شعوره دي} ٤٤٩
{د مړو بدعتي ز یارت په باره کې ناپوهو کسانو ته نصیحت} ٤٥٠
{کافرانو ته په دنیا او آخرت کې سزا ورکول کیږي} ٤٥١
{مومنانو ته الله په دنیا او په آخرت کې نعمتونه ورکوي} ٤٥٣
{کافرانو پر خپلو ځانو ظلم وکه او تقدیري پر یکړې پټې دي} ٤٥٤
{ ټولو ولسونو ته الله پیغمبران راولیږل او توحیدته پې راو بلل} ٤٥٦
{کافران د قیامت په ورځ د مړوو بیرته راژوندي کیدل نه مني} ٤٥٧
{د الله لارې مهاجر ینو ته د لو یو پیرزو ینو ز یري} ٤٥٨
{د حق پیژندنې غوره لار د پوهانو او علماوو نه پوښتل دي} ٤٦٠
{یوازې د یؤ خدای بنده ګي پر ټولو خلکو فرض ده} ٤٦٢
{کافران الله ژر نه رانیسي د ټاکل سوې نیټې پورې زنډوي} ٤٦٥
{د محمد ﷺ پیغمبري مومنانو ته د رحمت ز یرئ ؤ} ٤٦٧
{د الله لوی قدرتونه په کائناتو کې خلکو ته پیغامونه دي} ٤٦٧
{ټول خلک الله پیدا کړي او ساه ګانې اخلي او برخې پوره کوي} ٤٦٩
{خیر رسونکئ سړئ بل چا ته ور پشا سړي سره برابر نه دئ} ٤٧١
{د ژوند اسانتیاوې د الله پیرزو ینې او قدرتونو نښې دي} ٤٧٥
{الله په عدالت امر کړي او د منکراتو نه خلک منعې کوي} ٤٧٩
{په دروغو لوړه لو یه ګناه ده او دروغژن ته الله سزا ورکوي} ٤٨١
{د قران تلاوت په اعوذ بالله من الشیطان الرجیم پیل کیږي} ٤٨٢
{ قرآن چې د الله خبرې دي جبرئیل پر پیغمبر رانازل کړې دي } ٤٨٣
{ ځوک چې مرتد سي د الله کلکې سزا مستحق ګرځي } ٤٨٥
{نعمت په شکر و یستلو ډیر یږي او په ناشکرۍ ورکیږي} ٤٨٧
{ د یهودو او نصاراوو اختلاف به الله په قیامت کې حل کړي } ٤٩٢

{الله دين ته دعوت د حکمت نه ډکې خورې خبرې غواړي} ٤٩٣
د الإسراء سورې پښتو معنا او لنډ تفسير ٤٩٦
{اسراء او معراج د رسول الله ﷺ پيغمبرۍ لو ی پيغام ؤ} ٤٩٦
{موسی عليه السلام ته الله لارښود کتاب تورات ورکه} ٤٩٨
{د ولسونو بډيان په خپله سرکښۍ ولسونه هلاکوي} ٥٠٥
{د الله روزي په دنياکې خوره ده او د آخرت برخه د مومنانو ده} ٥٠٦
{ د ټولنې ژوند په چارو کې د الله تعالی اړ ين آداب او نظام } ٥١١
{قيامت په ورځ د هرچا حواسو او مدارکو نه الله پوښتنه کړي} ٥١٣
{الله پسې افترا لو يه ګناه ده او ځان ساتنه ورځخه فرض ده} ٥١٥
{کافران د قرآن پر وړاندې کبرجن در يځ او تګ لاره لري} ٥١٦
{د قر يشو کافران د قيامت ورځې ژوند نه منکر ول} ٥١٨
{ملائکو آدم ته سجده وکړه خو سرکښ شيطان سجده ونکړه} ٥٢٤
{د الله لو يو نعمتونو شکر و يستل پر بنده ګانو فرض دي } ٥٢٦
{ د قيامت په ورځ خلکو ته د دوی کړن ليکونه سپارل کيږي } ٥٢٨
{ د پيغمبر ﷺ پر وړاندې د مکې کافرانو دګواښونو انځور } ٥٢٩
{پر رسول الله ﷺ لمړۍ د صباح او بيګاه لمنځونه فرض سول} ٥٣١
{روح د الله پټ قوت او قرآن يې معجزه ده خلک پرې ښادېږي} ٥٣٤
{د قيامت په ورځ د کافرانو بد حال لنډ انځور} ٥٣٨
{موسی د نهو معجزو سره پيغمبر ؤ خو فرعون کودګر و باله} ٥٤٠
{قرآن د الله نه را نازل سوئ حق پيغام او د اسلام تګ لاره ده} ٥٤٢
{الله او الرحمن ټول د الله تعالی ښکلي نومونه دي} ٥٤٣
د الکهف سورې پښتو معنا او لنډ تفسير ٥٤٦
{د الکهف سور ې ثوابونه او په ازمايښتونو کې د ايمان بيلګې} ٥٤٦
{د الکهف مبارکې سورې لوړ اهداف او مقصدونه} ٥٤٧
{قرآن مومنانو ته د الله ز يرئ ورکونکئ پيغام دئ} ٥٤٧
{د ځمکې په سر مخلوقاتو ښکلا د دوی د کړنو تله ده} ٥٤٩
{ په سمځ (کهف) کې د پټ سوو زلمکيانو قصې لوی ازمايښت } ٥٤٩
{د الکهف اصحابو قصه د قيامت ورځې پر راتګ شاهد دئ} ٥٥٥
{د کهف ملګرو شمير الله ته معلوم دئ او جدال پکې روا ندئ} ٥٥٧
{د الله حکمونه ځوک بدلولای نسی او الله د دين ساتونکئ دئ} ٥٥٩

{د دنيا ژوند ژر تيريدونکئ او د آخرت ژوند تل پاتې دئ}.....٥٦٥
{د ابليس نه ځان ساتنه ځکه فرض ده چې دښمن دئ} ٥٦٧
{د موسی ازمايښت خضر پر وړاندې د علم بر يا ځرګندوی ؤ }.....٥٧٢
{ موسی خضر بيامونډ او شاګرد سه ترڅو نوئ علم زده کړي } ٥٧٤
{خضر نور د موسي ملګرتيا نه سترئ سه او سره بيل سول}.....٥٧٦
{ذوالقرنين په تار يخ کې لوی عادل او مومن پاچا تير سوئ دئ} ٥٧٩
{د قيامت په ورځ د کافرانو راتلونکې نندارتون انځور} ٥٨٣
{د قيامت په ورځ مومنانوته د تل پاتې جنتونو ز يري} ٥٨٥
د مر يم سورې پښتو معنا او لنډ تفسير ٥٨٧
{د مر يم سورې لنډه پيژندنه او لوی مقصدو نه} ٥٨٧
{د هجاء پرتورو پيل سوو سورو کې د قرآن ادبي اعجاز ځليږي}.....٥٨٨
{ د الله تعالی سره د زکر يا مناجات د زوی په غوښتنه کې }.....٥٨٨
{زکر يا عليه السلام ته الله د يحيی په نامه زوی ز يږ يدلو ز يرئ ورکه} ٥٨٩
{يحيی ته په وړکتوب کې الله حکم وکه چې تورات کلک ونيسه}.....٥٩٠
{د عيسی بن مر يم بې پلاره ز يږ يدل د الله قدرتونو نښه وه}.....٥٩١
{مر يم ته د ماشوم ز يږ يدلو په وخت کې الله کلک ډاډ ورکه} ٥٩٣
{عيسی عليه السلام په زانګو کې خپله پيغمبري خلکوته اعلان کړه} ٥٩٤
{عيسی د مر يم عليهما السلام زوی ؤ نه د خدای زوی}.....٥٩٥
{ابراهيم عليه السلام د الله پيغمبر ؤ پلار او قوم يې توحيد ته راو بلل} ٥٩٨
{الله ابراهيم عليه السلام ته د کافرانو نه بيلتون کې رحمت و باښه}.....٦٠٠
{موسی او اسماعيل او ادر يس د الله غوره سوي پيغمبران ول}.....٦٠١
او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله د موسی، اسماعيل او د ادر يس عليهم السلام د نبوت
او پيغمبرۍ لنډه يادونه کړې ده او دوی يې کلک ستايلی دي، او په بيان کې يې فرمايلي دي: .٦٠١
{ملائکې د الله تعالی اسماني حکمونه پر ځمکه جاري کوي} ٦٠٤
{د قيامت په ورځ ټول خلک راژوندي کيږي او انکار يې کفر دئ} ٦٠٦
{مومنان به د قيامت په ورځ بر يالي او کافران به ز يانمن وي}.....٦٠٧
{الله تعالی کبرجنو دروغژنو کافرانو ته سزا ورکوي} ٦٠٨
{د مشرکانو خدايان قيامت په ورځ خپل براءت اعلانوي}.....٦١٠
{ مومنانو ته د الله تعالی د محبت او مينې ز يرئ}.....٦١٢
{ هو! دلته يوه اړ ينه يادونه د پام وړ ده } ٦١٣

د طه سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ٦١٥

{د طه مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ٦١٥
{قران د خلاصون او شادۍ پیغام دئ نه د کم بختۍ} ٦١٦
{موسی علیه السلام ته الله تعالی د نبوت مقام و باښه} ٦١٨
{موسی علیه السلام ته د معجزو ورکړه د هغه پیغمبري تصدیق کړه} ٦٢٠
{ فرعون د خدایي دعوا وکړه نو الله ورته موسی استازئ ولیږه} ٦٢١
{موسی علیه السلام الله فرعون ته ولیږه چې د اطاعت ته یې راو بولي} ٦٢٥
{ موسی په مناظره کې پر فرعون باندې زورور سه} ٦٢٦
{فرعون د الله قدرتونو نه منکر سه او موسی یې کودګر وګانه} ٦٢٧
{د فرعون کودګر د موسی علیه السلام پر وړاندې کلک رسوا سول} ٦٢٩
{فرعون خپل کودګر چې کله یې ایمان راوړ په سزا وګواښل} ٦٣٠
{د موسی علیه السلام غمجنه مرکه د خپل مشرك قوم سره} ٦٣٤
{موسی علیه السلام په غوصه سه چې هارون ولې یهود د خوسي عبادت ته پریښودل} ٦٣٥
{قرآن مورِ ته د پخوانیو پیغمبرانو قصو لوی قاموس دئ} ٦٣٧
{د قیامت لنډ انځور چې پرځمکه میخ سوي غرونه الوزي} ٦٣٩
{آدم علیه السلام د الله سره خپل هوډ هیرکه نو د شیطان شکار سه} ٦٤٢
{د پخوانیو خلکو برخلیک نه عبرت اخستل فرض دي} ٦٤٥
{د مکې کافرانو رسول الله ﷺ نه مادي معجزه وغوښتله} ٦٤٧

د الاعراف سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الاعراف سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه أجمعين و بعد: قدرمنو دوستانو! د الاعراف مبارکه سوره؛ مکي سوره ده، او د هغې په مبارکو آیتونو کې چې ټول (٢٠٦) آیته دي الله تعالی مونږته د کفر او ایمان او د حق او باطل په منځ کې د آدم عليه السلام نه نیولې تراسلام پیغمبر محمد ﷺ او بیا د قیامت ورځې پورې اوږدې خبرې او د پخوانیو پیغمبرانو قصې یادې کړي دي، او هم یې پکې د ټول بشر یت خلاصون او د دنیا او آخرت ورځې نیکمرغۍ لپاره ډیرې ارزښتناکه لارښودنې او سپارښتنې راته کړې دي، نو ښایي چې د پیغمبر ﷺ وارثان علماء او دعات هغه خلکوته په وار وارسره ولولي او بیان یې کړي او دوی ته یې ورسوي، او دوی د هغو نه ګټې اخستلوته را و بولي، ترڅو دوی د خپل ژوند په عملي ډګر کې خپلو ولسونوته داسې ژوندي ځلانده څراغونه وې چې سمه لار ورته رڼا کوي، او دا مبارکه سوره په الاعراف، ځکه نومول سوې ده چې د جنت او د دوزخ په منځ کې ولاړ دیوال نوم اعراف دئ او په اعراف کې میشتو کسانو قصه پکې یاده سوې او بیان سوې ده.

{قرآن پر محمد ﷺ رانازل سوئ او مومنانو ته پیغام دئ}

د الاعراف مبارکه سوره چې مکي سوره ده؛ الله تعالی په مقطعاتو تورو باندې پیل کړې ده، او بیایې د قرآن رسالت او پیغام رسوالله ﷺ ته پکې یاد کړئ او ښه روښانه بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿الٓمٓصٓ ۝١ كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيۡكَ فَلَا يَكُن فِي صَدۡرِكَ حَرَجٞ مِّنۡهُ لِتُنذِرَ بِهِۦ

وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٢ ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٣

[١] الٓمٓصٓ (الف، لام، ميم، صاد) [د الاعراف مبارکه سوره، لکه البقرة، او آل عمران؛ الله تعالى د الهجاء په پر یکړل سوو تورو باندې چې په عربي کې په (مقطعات) نومول سوي دي؛ پیل کړې ده، او هرحرف او توریې په خپل نامه لوستل کیږي، او معنا او مقصدیې:(الله اعلم بمراده) باندې ډیرو مفسر ینو یاد کړي دي، یعنی الله په خپل مقصد ښه پوهیږي، لکه څنګه چې په بیان مخکې په البقرة کې تیر سه، خو ځینې نورو مفسر ینو بیا و یلي دي چې په دغسې مقطعاتو تورو کې د عربي ژبې پوهانو او ادیبانوته ننګونه، چلنج یا تحدی دوه، یعنی دا کتاب (قرآن) چې پر رسول الله ﷺ باندې رانازل سوئ دئ؛ د عربي ژبې هجایي تورو نه جوړ سوئ کتاب دئ او ور باندې لوستل کیږي، او هرڅوک چې پکې شک لري، نو د هغه غوندې سورې او یا آیتونه ده راوړي، نو بیا هغه وه چې د عربي ژبې ټول شاعران او ادبیان ورڅخه عاجز او بې وسې سول، نو یقینا چې عظیم الشأن قرآن د رسول الله ﷺ پیغمبرۍ تصدیقولو لپاره؛ یوه تل پاتې لو یه بیاني معجزه ده، او هیڅ څوک د هغه غوندې کتاب راوړای نسي، لکه څنګه چې د قرآن کر یم پنځلس سوه کلن تار یخ ور باندې ښکاره او ځلانده شاهد یا ګواه دئ!

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالى پر رسول الله ﷺ باندې غږ کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[٢] ای پیغمبره! دا کتاب (قرآن) تاته رانازل سوئ دئ، نو ستا زړه د هغه نه په تنګ نسي، ترڅو ته خلک د الله سزا نه پر قرآن وګوانبي، او قرآن مومنانوته ور یادونکئ پیغام دئ، یعنی قرآن دوی ته د دنیوي او اخروي ګټو لاس ته راوړ روښانه پیغام او دعوت دئ.

[٣] او ای خلکو! هغه کتاب پسې لاړ سی چې هغه تاسې ته د ستاسې پالونکې څښتن الله لخوا را نازل سوئ دئ، او د الله نه پرته د بل هیڅ چا

ملګرتيا مکړئ [يعنى د الله تعالى نه پرته نور څوک ملګرې مه نيسئ] او اى خلکو! تاسې ډير لږ خبره اورئ، يعنى حق ډير لږ منئ، او بيا په سمه لار ځئ او د الله په حکمونو عمل کړئ!

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې رسول اللهﷺ او د هغه ملګرو او د پيغام رسولو وارثانو دعاتوته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ چې د و يرې او اندېښنې نه پرته ده؛ خپل دعوت او پيغام چې هغه د قرآن مبارک آيتونه دي خلکوته ورسوئ او دوى ده ايمان راوړوته دعوت کړي او ورته دې را بولئ، او همداسې الله تعالى ټولو خلکو باندې غږ کړئ دئ چې ښايي دوى يوازې قرآن او د پيغمبرﷺ سنتو پسې لاړ سي او پرهغو ده عمل وکړي، ځکه هغه د الله لخوا په ر ښتيا او حق سره رانازل سوئ اسماني کتاب دئ، او بيا پيغمبرﷺ هغه ښه روښانه شرحه کړئ او رسولئ دئ، او تاسې اى خلکو! هيڅ څوک د انسي او جني شيطانانو نه ځان ته ملګري مه نيسئ او ور پسې مځئ.

{د پيغمبرانو نه سرغړونکو کسانو ترخه راتلونکې}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ د تيرو هغو ولسونو هلاکت او کلکو سزاګانو نه خبر کړي يو چې کله دوى د الله نه ورته را ليږل سوي پيغمبران ونه منل او پر وړاندې يې د بغاوت او سرغړونې لار خپله کړه، نو بيا دوى ته الله دغسې سزاګاني ورکړې چې په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَكَم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا فَجَآءَهَا بَأۡسُنَا بَيَٰتًا أَوۡ هُمۡ قَآئِلُونَ ٤ فَمَا كَانَ دَعۡوَىٰهُمۡ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَآ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٥ فَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرۡسِلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٦ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيۡهِم بِعِلۡمٖ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ٧ وَٱلۡوَزۡنُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّۚ فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٨ وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَظۡلِمُونَ ٩ وَلَقَدۡ مَكَّنَّٰكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا

مَعَٰيِشَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَشۡكُرُونَ ١٠﴾

[٤] هو! د څومره ډيرو کليو ميشت خلک [چې کله دوی پيغمبران ونه منل] مونږ هلاك او تباه کړل [يعنی په دنيا او په آخرت کې خوار او ذليل سول] نو بيا دوی ته د زمونږ عذاب په شپه کې [چې دوی په خوارۍ خوب کې و يده ول] راغئ، او يا د ورځې چې کله دوی د غرمې په دمه کې و يده ول د زمونږ عذاب راغئ، يعنی نو بيا دې عذاب دوی هلاك او تباه کړل.

[٥] نو بيا چې کله دوی ته د زمونږ عذاب راغئ، نو دوی په ګناه باندې د اقرار نه پرته بله لار نه درلوده، او و يو يل چې يقينا مونږ تيرئ کونکي او ظالمان وو، يعنی مونږ د الله تعالی نه راغليو پيغمبرانو خبره ونه منله، نو ځکه تباه او هلاك سوو.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی دغسې کافران او دوی ته ورليږل سوی پيغمبران؛ په کلکې پوښتنې ګواښلي او ورته يې فرمايلی دي:

[٦] نو مونږ به خاماخا د هغو کسانو نه چې دوی خلکوته استازي رالیږل سوي ول؛ پوښتنه کړو، او هم به دغه خلک چې پيغمبران ورته راغلي ول پوښتو، يعنی دا چې الله تعالی د قيامت په ورځ د پيغمبرانو نه او د دوی د ولسونو او امتونو نه پوښتنې کړي او ورته وايي چې دوی ته پيغمبرانو د الله پيغام څنګه ورسا وه؟ او بيا دغو خلکو د خپلو پيغمبرانو په ځواب کې څه وو يل؟ او د امتونو ځواب يې څه شئ وه؟

[٧] نو دوی به مونږ په پوره علم او پوهې سره په دنيا کې د خپلو کړنو او و يناوو نه خبر کړو [يعنی چې دغو خلکو د خپلو پيغمبرانو په ځواب کې څه او څه شئ وو يل؟] ځکه مونږ د دوی نه پټ نه وو، يعنی د دوی کړنې د زمونږ کلک څار لاندې وي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د قيامت ورځې تله حق بللې ده، چې وړونکي ور باندې د بايلونکو نه بيليږي، او پکې يې فرمايلې دي:

[٨ -٩] او د قيامت ورځې راتګ حق دي او د هرچا تله چې درنده سوه، نو دوی بر يالي او وړونکي دي، او د چا تله چې سپکه سوه، نو دوی هغه

کســان ول چې خپل ځانونه يې بايلودل او ز يانمن ســول، ځکه دوی د زمونږ پرآيتونو باندې ظلم کا ؤ، يعنی دوی د الله کتاب(قرآن)آيتونو نه منکر سول او هغه يې ونه منل.

ګرانو وروڼو او خو يندو! د قيامت په ورځ د الله تعالی د عدالت تلې د تللو په محکمه کې د ټولو خلکو ښې او بدې کړنې؛ تلل کيږي او حسابيږي، او بيا هرچا ته د هغه خپل عمل ثواب او ســزا ورکول کيږي، او پرهيچا باندې په هغه ورځ ظلم نکيږي، او يقينا چې دغه د مکافاتو او مجازاتو عادل نظام او قانون نافذول او جاري کول؛ هغه لو يه ګټوره وسـيله ده، چې دا دئ اوس اوس د نن ورځې ټولو پرمختللو بشــري ټولنو؛ هغه منلئ دئ، او د دوی د ژوند يؤ اړ ينه او ضروري برخه ګرځيدلې ده، او همدارنګه د پخوانيو ولســونو تار يخ د راتلونکو خلکو لپاره د پند اخســتلو لوی ارزښتناکه کتاب دئ چې ښايې تل يې ولولو او ورڅخه ګټه واخلو.

او په ور پســې مبارک آيت کې الله تعالی د خپلو نعمتونو پروړاندې د خلکو ناشکرۍ په باره کې فرمايلي دي:

[١٠] ای خلکو! او يقينا چې تاســې مونږ پر ځمکه ميشــت او پکې واکمن کړی، او ځمکه مونږ تاسې ته د ژوند چارو سمبال ځای وګرځا وه، خو تاســې د الله نعمتونو نه لږ مننه کړی! يعنی حال دا چې ښــايې ډيره مننه وکړی او ايمان راوړی او د خپل رب الله تعالی حق په بنده ګی کې پرځای کړی او کلکه مننه يې وکړی او شکريې و باسی.

{د آدم عليه السلام پيدايښت او د شيطان دښمني د هغه کهول سره}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې د آدم عليه السلام د پيدايښت او د لعنت سـوي شـيطان ابليس سـرغړونه آدم عليه السلام ته د سـجدې کړو نه الله تعالی مونږ ته يادې کړې ده، ترڅو د ابليس ملعون وســوســو نه خپل ځانونه کلک وساتو، هو! کله چې ملعون شـيطان کبر پسې واخسـت، نو ځان يې پرآدم صلی الله عليه وسلم باندې لوړ او پورته و باله او د درناوي سجده يې ورته ونکړه، او په بيان کې يې الله فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَٰكُمۡ ثُمَّ صَوَّرۡنَٰكُمۡ ثُمَّ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ لَمۡ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ١١ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسۡجُدَ إِذۡ أَمَرۡتُكَۖ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ١٢ قَالَ فَٱهۡبِطۡ مِنۡهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَٱخۡرُجۡ إِنَّكَ مِنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ١٣ قَالَ أَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ١٤ قَالَ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ١٥ قَالَ فَبِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ صِرَٰطَكَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ١٦ ثُمَّ لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ وَعَنۡ أَيۡمَٰنِهِمۡ وَعَن شَمَآئِلِهِمۡۖ وَلَا تَجِدُ أَكۡثَرَهُمۡ شَٰكِرِينَ ١٧ قَالَ ٱخۡرُجۡ مِنۡهَا مَذۡءُومٗا مَّدۡحُورٗاۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمۡ أَجۡمَعِينَ ١٨﴾

[۱۱] ای خلکو! او تاسې مونږ پیدا کړی او بیا لمړی مونږ د ستاسې څیره جوړه کړه [یعنی الله تعالی لمړئ د آدم علیه السلام چې د ټولو خلکو نیکه دئ کالبوت جوړکه او بیاېې پکې روح پوکه او ساه یې پکې وچلوله] او بیا ملائکو ته مونږ وو یل: آدم ته د درنښت سجده وکړی، نو ملائکو سجده وکړه، خو ابلیس [چې هلته ؤ او په سجده مامور ؤ] د سجده کونکو نه نه ؤ، یعنی آدم ته یې سجده ونکړه او کبرېې وکه او ځان یې لوړ وګانه، او دا دئ اوس د زمونږ په عصر او زمانه کې د بده مرغه دغسې ابلیسې خوی په ډیرو اسلامي ټولنو کې خور سوئ دئ، او بیل بیل قومونه د شیطان په دیکه؛ خپل ځانونه په یو بل باندې پورته بولي او د یو بل سره د ټولنې په مشړی او بیا د ټولنو په ټوټه کولو کې شپه او ورځ لګیا وي، او همدې شوم مقصد ته د رسیدو په لارکې کافرانو باندې د خپلو ځانو پلورولوته هم په ډیره لږ بیعه تیار وي!

[۱۲] نو بیا الله ابلیس ته وو یل: کله چې تاته ما حکم وکه چې آدم ته سجده وکړه، نو بیا ولې تا سجده ونکړه؟ ابلیس وو یل: زه د آدم نه غوره، پورته او لوړ یم، ځکه زه تا د اور نه پیدا کړئ یم او آدم ده د خټې نه.

ګرانو عز یزانو! دا ؤ رټل سوئ شیطان ملعون ابلیس چې هغه د

پیدایښت په لومړی ورځ؛ د لو یتیا او د نژادي تو پیر غږ پورته که او په همدې دلیل یې آدم ته د درنښت سجده ونکړه، او و یو یل چې ما ځکه سجده ونکړه چې زه د آدم نه غوره او لوړ یم، زه تا ای ر به! د اور نه پیدا کړئ یم او آدم ده د خټې نه! نو بیا دغه شیطاني غلونه همداسې د انسانانو په ټول تار یخ کې روانه پاتې سوه، او ځینې خلک پرځینې نورو باندې خپل ځانونه لوړ بولي، او د ظلم او وحشت میچن پرهغو کسانو باندې چې د ځان نه یې ټیټ بولي؛ ګرځوي او د قومیت فاشسټی اور په کړونکو لمبوکې دوی سوزوي، حال دا چې ټول خلک الله تعالی د آدم او حوا نه پیدا کړي دي، او بیایې ډلې ډلې ګرځولي دي او په قومونو او خیلونو باندې یې و یشلي دي، نو هیڅ څوک پر یو بل باندې پورته او لوړ نه دئ، مګر په تقوا سره یعنی د الله سزا نه په اطاعت او بنده ګۍ سره په ځان ساتنه کې، لکه څنګه چې یې د الله تعالی په کتاب (قرآن) او د پیغمبرﷺ په احادیثو کې پوره بیان راغلئ دئ، او الله تعالی فرمایلي دي:(إن أكرمكم عند الله اتقاكم) یقینا چې د ستاسې نه ښه معزز سړئ د الله پر وړاندې ښه تقوا دار سړئ دئ، یعنی هغه څوک چې د الله سزا نه کلک و یر یږي او حکمونه یې پرځای کوي، او په الله باندې ګران دئ.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې بیا الله تعالی رټل سوي شیطان ته حکم کړئ دئ او د جنت نه یې شړئ دئ، او فرمایلي دي:

[۱۳] [او بیا الله تعالی لعنت سوي ابلیس ته] وو یل: نو ته د جنت نه کوز سه، ځکه ته نور حق نه لرې چې په جنت کې ځان غټ کړې او کبر وکړې، نو ته د جنت نه ووځه او ته یقینا د خوارسو سپکو کسانو نه یې، یعنی نو ښایي چې مومنان هیڅ کله د ابلیس په وسوسو ونه غولیږي!

[۱۴-۱۵] [نو بیا لعنت سوي ابلیس د الله تعالی نه وغوښتل او په ټینګار سره یې] وو یل: ما تر قیامت ورځې پورې چې پکې خلک بیرته د ګورونو نه راجګول کیږي؛ وزندوه [یعنی د قیامت در یدو پورې ما پر یږده چې د آدم کهول نه ښه ډیر کسان وغلوم] نو بیا الله ورته وو یل: څه لاړ سه، او یقینا چې ته د قیامت ورځې پورې د زندول سوو نه یې، یعنی الله

تعالی هغه په دنیا کې وژندا ؤ، او ښــه اوږد فرصــت یې ورکه، ترڅو د هغه په شــیطانی وســوســو ســره خلک کلک وازمایي او وړونکي د بایلونکو نه بیل کړي او مومنان جنت ته ورننه باسي او کافران او منافقان دوزخ ته.

[١٦-١٧] [او په ځواب کې یې بیا رټل سوي ابلیس لوړه وکړه او په ټینګار سره یې] وو یل: نو کله چې زه تا ای ر به! د سمې لارې نه کوږ او ورک کړم، نو زه به خامخا د ستا په سمه لار کې خلکوته کینم [او د آدم کهوول به د سمې لارې نه اړوم!] او بیا به دوی زه په کلکه سره د وړاندې نه او د دوی د شانه او د دوی ښي خوا او کین خوا نه راځم [او د حق نه به دوی اړوم او باطل ته به یې راکړځوم] او ای ر به! د آدم کهول نه به ډیر کسان شکر و یستونکي ونه مومې، یعنی لعنتي شیطان د آدم کهول غولوي او په خپله لاربې چې د کفر لار ده خوځوي او د حق نه بې باطل ته اړوي.

[١٨] [نو بیا الله تعالی رټل سوي ابلیس ته حکم وکه] او ورته یې وو یل د جنت نه رټل سوئ او مختورن ووځه، او د آدم کهول نه چې هرچا د ستا پیروي وکړه او تا پسې لاړه، نو د ستاسې ټولو نه به زه دوزخ ډک کړم!

{آدم علیه السلام الله په جنت کې د یوې ونې میوې خوړلو نه منعې که}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې مونږ الله تعالی د آدم او د حوا قصې نه په جنت کې خبر کړي یو، او فرمایلي دي:

﴿وَيَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنَ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩ فَوَسۡوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ لِيُبۡدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنۡهُمَا مِن سَوۡءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنۡ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيۡنِ أَوۡ تَكُونَا مِنَ ٱلۡخَٰلِدِينَ ٢٠ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ٢١ فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٖۚ فَلَمَّا ذَاقَا ٱلشَّجَرَةَ بَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمۡ أَنۡهَكُمَا عَن تِلۡكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ

ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمَا عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٢٢ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٢٣ قَالَ ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٖ ٢٤ قَالَ فِيهَا تَحۡيَوۡنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنۡهَا تُخۡرَجُونَ ٢٥

[١٩] او ای آدمه! ته او میرمن ده (حوا) په جنت کې میشت سی او پکې واوسیږی، او چیرته چې د ستاسې دواړو خوښه وي؛ هلته د جنت میوې وخوری، خو دغې وني ته ورنزدې نسی [او بیایې هغه ونه ورته په نښه کړه او نښه یې ورته وښودله، او بیا الله تعالی دوی ته وفرمایل:] او که د دغې وني میوه تاسې وخوړه، نو بیا به د ظالمانو نه وی، یعنی د الله حکمونو پرحدودو یا پولو باندې به تاسې دواړو تیرئ کړئ وي او سرکښي به مو کړې وي!

[٢٠] نو بیا د آدم او حوا دواړو په زړو کې شیطان تلوسه واچوله [یعنی وې هڅول ترڅو دوی دواړه ګناه وکړي] او هغه ځای به دوی دواړو ته ښکاره کړي چې هغه د دوی د شرم ځای او عورت ؤ [نو بیا شیطان د دوی غولني لپاره] وو یل: ای آدمه او حوا! د ستاسې رب الله د دغې وني میوې د خوړلو نه تاسې د دې لپاره منع کړي یاستی چې ترڅو تاسې ملائکې او پرښتې نسی او په جنت کې تل پاتې ژوند ونه کړی!

[٢١] هو! ملعون ابلیس دوی دواړو ته لوړه وکړه او قسم یې وخوړه چې زه یقینا تاسې دواړو ته د خیر غوښتونکو نه یم، خو حقیقت دا ؤ، چې لعنت سوئ ابلیس غولونکئ او دروغژن ؤ، او غوښتل یې چې آدم او حوا علیهما السلام د جنت نه و باسي.

[٢٢] نو بیا لعین ابلیس په دغسې غولوني سره آدم او حوا دواړه [د دغې ممنوعه وني میوې خوړلوته وهڅول او تشو یق یې کړل] نو بیا چې کله دوی د هغې وني میوه وڅکله، نو دوی دواړو ته د دوی د شرم ځایونه (عورتونه) بر بنډ سول [یعنی ور باندې پرتې پردې لرې سوې] نو بیایې د

باغونو پاڼي راواخستلې او ور پورې يې وتپلي، نو بيا پردوی دواړو باندې د دوی پالونکي رب الله غږ وکه [او ورځخه يې و پوښتل او و يو يل:] آيا تاسې ما د دغې وڼې ميوې خوړلو نه؛ نه وی منعې کړې؟ او تاسې دواړوته ما نه ؤ و يلي چې شيطان يقينا د ستاسې دواړو ښکاره دښمن دئ؟ [هو! استفهام دلته تقرير دئ، يعنی دا چې دوی الله د دغې وڼې ميوې خوړلو نه منعې کړې ول، خو دوی رڼا سوي ابليس وغلول او د هغې وڼې ميوې وخوړلوته يې چې ورځخه منعې سوي ول؛ وهځول او تشو يق سول.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مونږته د آدم او حوا عليهما السلام د توبې و يستل ياد کړې دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

[٢٣] [نو بيا دوی دواړو (آدم او حوا) الله سره په مناجات کې] وو يل: ای د زمونږ لو يه څښتنه! مونږ پرخپلو ځانو باندې ظلم او تيرئ وکه، نو که ته مونږ ونه بښې او راباندې مهر بان نسې، نو بيا به مونږ يقينا چې د زيانمنو نه وو [ځکه مونږ لو يه ګناه کړې ده او د هغې وڼې ميؤ مونږ وخوړله چې هغه تا پرمونږ حرامه کړې وه، نو که ته ای لو يه ر به! مونږ ونه بښې نو مونږ به کلک تاوان کړئ وي، او د دنيا او آخرت خپلې ټولې برخې به مونږ د لاسه ورکړې وي او د هرڅه نه به محروم سوي وو.

[٢٤] [نو بيا الله تعالی دوی ټولوته (آدم، حوا او ملعون ابليس ته) امر او حکم وکه او ورته يې] وو يل: د جنت نه کوز سی، او تاسې د يو بل سره دښمنان ياستی، او ځمکه به تر يوه وخته پورې تاسې ته د استوګنې تم ځای او ورځخه خوند اخستل وي، يعنی هلته به پکې ميشت ياستی او پکې اوسيږي به، او پرځمکه پرتو خورو ورو نعمتونو نه به خوند اخلی.

[٢٥] او بيا الله ورته وو يل په ځمکه کې به ژوند کړی او پکې به مری، او بيا به د ځمکې نه بيرته راو يستل کيږی.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې مونږ ته د آدم عليه السلام د پيدايښت او هغه ته د ملائکو د درنښت سجده کړل او د رڼا سوي ابليس سرغړو نه آدم ته د سجدې کړو نه، او بيا د آدم، حواء او د

ابليس شړلو قصه د جنت نه په لنډو الفاظو کې کړې ده، ترڅو د شيطان دغه لو يه تار يخې او تل پاتې ښکاره دښمني؛ د آدم او حوا سره او د دوی کهول ســره تر قيامت ورځې پورې؛ د زمونږ په مغزونو کې همداســې تل حاضــره وي او انځور يې پکې پروت وي، ترڅو خپل ځانونه د شــيطان غولونکو وسوسو نه په کلکه سره وساتو او خپل ځانونه د الله تعالى په لارښودنو چې هغه يې په خپل کتاب قرآن کې مونږ ته را ليږلې دي، او هغه د اسلام پيغمبر محمدﷺ مونږ ته رارسولې او بيان کړې دي؛ ښه پوه کړو او عمل پرې وکړو او د مخالفت نه يې ځانونه کلک وســاتو، ترڅو د خپل لمړي پلار او لمړۍ مور استوګنځي ته چې جنت دئ؛ د الله تعالى په فضل او رحمت سره بيرته ورســتانه ســو، او بيا هلته د تل پاتې ژوند نه هغــې خوند واخلو چې بيان يې د قرآن مجيد په ډيرو آيتونوکې ياد ســوئ او ښــه روښانه بيان سوئ دئ، او په ځانګړي ډول د جنت پيغلو حورو سره واده او ورځخه داسې خوند اخســتل چې د دنيا ښځونه مونږ هيڅکله هغــې خوند نه وه اخستئ.

{الله خلکوته د جامو نعمت ورکړئ دئ چې عورتونه يې پټوي}

ګرانو دوســتانو! الله تعالى پرخپلو بنده ګانو باندې د دنيا په ژوند کې ښــه ډير نعمتونه لورولي دي او جامې يا لباس د دغو نعمتونو؛ يوه هغه ارزښتناکه برخه ده چې پکې د انسان عزت او پت خوندي دئ او ور باندې ښايسته او ښکلئ ښکاري، او د دې نعمت په بيان کې الله فرمايلي دي:

﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ٢٦ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٧﴾

[٢٦] ای د آدم کهوله! پرتاسې باندې مونږ داسې جامې راکوزې کړې

چې هغه د ستاسې عورتونه پټوي، او د مرغانو بڼکو غوندې ښايسته جامې مونږ د ستاسې په برخه کړې [یعنی دا چې په اغوستلوسره یې ښکلي او ښایسته ښکاری، او تاسې ته مونږ د تقوا جامه درکړه او په هغه کې درته خیر دئ [ځکه تقوا ډیره لو یه معنوي جامه ده او تاسې د هر ډول بې پَتې او بې عزتۍ نه ساتي] او دا ټولې ورکړې د الله د قدرتونو نښې دي، ترڅو خلک ورڅخه پند واخلي، یعنی الله تعالی ور په یاد سي او د نعمتونو په ارزښت یې پوه سي، او بیایې شکر و باسي او د الله تعالی حکمونو باندې ټینګ سي او د خپل رب الله بنده ګي په اخلاص سره وکړي او ښه کلک ور باندې ودر یږي.

[۲۷] او ای د آدم کهوله! کلک پام وکړئ، ترڅو شیطان تاسې په فتنو او ازمایښت کې وانه چوي [یعنی تاسې ونه غولي] لکه څنګه چې یې د ستاسې مور او پلار(آدم او حوا) د جنت نه راوایستل او جامې یې ورڅخه وایستلې، ترڅو دوی ته د دوی د شرم ځایونه اوعورتونه لوڅ وروو یني او ورښکاره یې کړي، او یقیناچې شیطان او د هغه لښکر تاسې ای خلکو! د داسې ځای نه و یني چې تاسې دوی نه و ینۍ، او یقیناچې شیطانان مونږ د هغو کسانو ملګري ګرځولي دي چې دوی ایمان ندئ روړئ.

درنډو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مونږ ته لارښودنه کړې ده چې د الله نه راکړل سوو نعمتونو نه [چې دغه جامې او د الله سزا او عذاب نه و یره او ځان ساتنه په اطاعت سره؛ یو لوی نعمت دئ] ښه ګټه واخلو او خپل ښکاره او پټ پت او عزت ور باندې وساتو او د هر ډول بې حیایي او بر بنډتوب نه زمونږ نار ینه او ښځې خپل ځانونه کلک وساتي، او په ځانګړې ډول د هغو جامو اغوستلو نه چې هغه اوسني کفري کلتور زمونږ په ټولنو کې د لعنتي شیطان په وسوسو سره رواج کړې دي، او مونږ یې ټول په اغوستلوسره لوڅ کړي یو، او په ځانګړي ډول میرمنې یې داسې بر بنډې او لوڅې کړې دي چې په لیدلوسره یې د هر غیرتي مومن احساسات کلک راپار یږي، او د دغسې بې حجابۍ غندنه رسول الله ﷺ په خپلو و یناوو کې په کلکه سره کړې ده او هغه یې

د شیطان کار ګڼلئ دئ، او یقینا چې شیطان د زمونږ دښمن او د کافرانو ملګرئ دئ، نو ځکه کافرانو د اسلام نه مخکې د جاهلیت په شرکي دوره کې او هم یې په دې اوسني جاهلي عصر کې؛ تل هڅه کړې ده، ترڅو مومنې میرمنې او د زمونږ درندې ښځې بې پردې او بې پته کړي، او د خپلو ناروا حیواني مقصدونو لپاره ورڅخه خوند واخلي [لکه څنګه چې په دې ورځو کې (۱۳۹۸هـ ش کال په پسرلي کې) ټولې بر یښنایي ټولنیزې رسنۍ حجاب پسې د (ار یانا سعید) په نامه یوې مشهورې ډمې د سپکو سپورو و یناوو نه ډکې دي، حال دا چې افغاني ټولنه یوه درنده، پتمنه باعزته او مومنه ټولنه ده، او د خپل ناموس نه په مرګ دفاع او ساتنه کړي، لکه څنګه چې د افغانستان معاصر تار یخ ور باندې شاهد دئ، او د شاه امان الله خان غوندې پاچایانو د ښځو بې حجابۍ په ګناه پاچایي د لاسه ورکړه او د وطن نه فرار سه!

{الله تعالی خلک تل د فحشاء نه ګواښلي دي}

قدرمنو دوستانو! او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د کافرانو هغه و یناوې غندلې دي چې دوی به پکې د خپلو فحشاوو نه دفاع کړه، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذَا فَعَلُوا۟ فَٰحِشَةً قَالُوا۟ وَجَدْنَا عَلَيْهَآ ءَابَآءَنَا وَٱللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا ۗ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِٱلْفَحْشَآءِ ۖ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾ قُلْ أَمَرَ رَبِّى بِٱلْقِسْطِ ۖ وَأَقِيمُوا۟ وُجُوهَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ۚ كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ ﴿٢٩﴾ فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلضَّلَٰلَةُ ۚ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلشَّيَٰطِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٠﴾﴾

[۲۸] هوا! کله چې به کافرانو فحشا [او لو یه ګناه وکړه] نو وېې و یل: دا خو مونږ ته د پلرونو نه راپاتې ده او مونږ ته الله ور باندې امر کړئ دئ! نو ای پیغمبره! ته دوی ته په ځواب کې ووایه یقینا چې الله پرفحشاء [یعنی پرلو یه ګناه باندې] امر نکړي، نو آیا تاسې ای کافرانو! الله پسې

هغه څه وايي چې نه پرې پوهيږی؟ يعنی دا چې يقينا تاسې دروغژن او مفتريان ياستی، او الله تعالی پسې دروغ وايي!

[۲۹] ای پيغمبره! [او دغو کافرانو ته] ووايه چې د زما لوی رب الله پرانصاف او عدالت امر کړئ دئ، او تاسې ته يې ای مومنانو! حکم کړئ دئ چې په هر مسجد کې خپل مخونه الله ته واړوی او يوازې د الله بنده کې او عبادت وکړی او په اخلاص سره الله وغواړی او خپل دين او خپله بنده کې الله ته وګرځوی، او لکه څنګه چې تاسې لمړئ الله پيدا کړئ؛ همداسې تاسې بيرته الله ته ورګرځيدونکي ياستی، يعنی د قيامت په ورځ ټول خلک بيرته راژوندي کيږي او د الله تعالی پر وړاندې در يږي، او د قيامت ورځې راتګ حق دئ او په هغه ورځ باندې ايمان او باور فرض دئ.

[۳۰] هو! الله خلک په دوه ډلو و يشلي دي، يوه ډله سمې لارې ته هدايت سوي دي او بله ډله په ورکتيا کې ډوب دي، ځکه دوی د الله نه پرته شيطانان په ملګرتيا ونيول او ګمان کړي چې دوی په سمه لار روان دي، يعنی حق ته هدايت سوي دي، خو حقيقت دا دئ چې پردوی باندې د سمې لارې نه د ورکتيا سُورئ خور دئ، ځکه شيطان دوی خپلو ځانو ته مل او ملګرئ خوښ کړئ دئ او دهغه وسوسې مني او ور پسې ځي!

هو! دا و يش درندو دوستانو! د الله تعالی په تقديري علم او پر يکړه ترسره سوئ دئ، ځکه الله تعالی د هرې ډلې پرحال ښه پوخ علم لري چې دوی کمه لار خوښوي، نو هرڅوک چې د الله تعالی په علم کې په سمه لار ځي، نو الله تعالی دوی ته په هغه لار د تګ توفيق ورکړئ دئ، او څوک چې يې لائق نه ؤ او شيطان ورته کړه لار ښايسته کړي وه؛ نو دوی خيال کا وه چې سمې لارې ته هدايت سوي دي، خو په حقيقت کې دوی د سمی لاری نه اوښتي دي او په کړه لار خوځيدلي دی، ځکه دوی د الله تعالی په علم کې په سمه لار د تګ لائق نه ول.

{مومنان ده په مسجدونو کې ښکلې جامې واغوندي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنان الله تعالی په مسجدونو کې د

لمانځه په وخت کې ښـو پاکو ښـکلو جامو اغوسـتلو ته رابللي دي، او فرمايلي دي:

﴿*يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٣١ قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِۚ قُلۡ هِيَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا خَالِصَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٣٢ قُلۡ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلۡإِثۡمَ وَٱلۡبَغۡيَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَأَن تُشۡرِكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗا وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٣٣ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٞۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَأۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ٣٤﴾

[٣١] ای د آدم کهوله! هر مسـجد یا جومات ته [چې د لمانځه کړو لپاره تللی] نو ښکلې او ښایسته جامې واخلئ [یعنی هغـې جامې واخلئ چې پاکې وي او د سـتاسـې ځانونه پې پټ کړي وي او هغه واغوندئ] او خواړه وخورئ او او به وڅکئ، خو اسراف مکړئ، ځکه یقینا چې اسراف کونکي الله نه خوښوي، یعنی هرڅوک چې په جامو اغوستلو او په خوراک او ځښـاک کې په رواجي جامو او خوړو باندې تیرئ کړي؛ پرالله ګران نه دي!

هو! قدرمنو وروڼو او خو یندو! اعتدال او د منځنۍ لارې خوښـول د انسـان په ټولو کړنو کې د الله تعالی خوښـه او غوښـتنه ده، نو ځکه یې خپلو مومنو بنده ګانو ته؛ تل په وسـطیت او اعتدال باندې سـپارښـت کړئ دئ، او اسـراف یې چې د دین پولو نه اوښـتل دي؛ په خوړو، ځښـاک او د جامو په اغوسـتلو کې؛ کلک غندلئ دئ، نو ښـایې چې هر مومن بنده خپلې کټې لپاره ځان ور باندې ټینګ کړي او د هر ډول افراط او تفر یط نه په کلکه سره ځان وساتي او د شر یعت قالب سره سم خپل ځان جوړ کړي، او هم د دین په شعائرو کې د هر ډول ډیرولو او کمولو نه کلکه ډډه

وکړي، او د خپل ژوند ټولې چارې د شر يعت په رڼا کې سمبال کړي.

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارك آيت کې رسول اللهﷺ ته حکم کړئ دئ چې پرځمکه پيدا سوو ټولو پاکو خوړو حلال والئ خلکوته اعلان او په ننبه کړي، او فرمايلي دي:

[۳۲] ای پيغمبره! [دغو ناپوهانوته چې د الله ځينې حلال نعمتونه پرخپلو ځانو باندې حراموي؛ اعلان وکه او ورته] ووايه: هغه څوک دئ؟ چې د الله دغه ښايسته جامي او پاک خواړه او روزي چې هغه الله خپلو بنده ګانو ته راو يستلې او ورکړي ده؛ پرخپلو ځان باندې حرامه کړې ده؟ [استفهام دلته انکاري دئ، يعنى دا چې هغه حرامه نه ده، ځکه هغه الله تعالي خپلو بنده ګانو ته د ګټې اخستلو لپاره پيدا کړي دي، نو ښايي چې ورڅخه ګټه واخلي، نا دا چې د الله تعالى حلالې ورکړې پرخپلو ځانو باندې حرامې کړي] او ای پيغمبره! دغو کسانو ته [چې پرخپلو ځانو باندې حلال خواړه او ښکلئ پوښاک حراموي] ووايه: دغه د الله حلال نعمتونه د قيامت په ورځ يوازې د هغو کسانو برخه او نصيب دي چې دوی ايمان راوړئ دئ [يعنى د خپل رب عبادت او بنده ګى په يو والي او توحيد سره کړي، خو په دنيا کې نور خلک (کافران) هم ورڅخه ګټه اخلي] او مونږ د خپل کتاب (قرآن) آيتونه او حکمونه هغو خلکوته چې دوی په خبره پوهيږي په پوره رونټيا او په ډير وضاحت سره بيانوو، يعنى ترڅو هرڅوک د خپل واک حدود او پولې ښې و پيژني او د خپل پالونکي څښتن الله پرواک باندې په حلالو او حرامو کې تيرئ ونکړي، او پردې پولو ښه کلک ولاړ وي.

ګرانولو عز يزانو! الله تعالى په دې مبارك آيت کې د مکې کافرانو خپل سره حکمونه د پاکو جامو اغوستلو او د پاکو ځارو يو د غوښو خوړلو د حراملو په باره کې کلک غندلي دي، ځکه چې دوی د خپلو ځانونو نه پرته د کم شرعي دليل او حجت نه؛ د ځينې حلالو ځارو يو غوښې او د پاکو جامو اغوستل د بيت الله شر يف طواف په وخت کې؛ پرځانو حرام کړل، نو بيا الله تعالى د مشرکانو دغه بې بنسټه بشري ناقص عقل نه راټوکيدلې پر يکړې کلکې ردې کړې او غندلې دي.

او په ور پسې مبارك آيت کې مونږ ته الله تعالى څو غټ حرام او لوی ګناه وې په نښـــه کړې دي، ترڅو خپل ځانونه ورڅخه په کلکه ســره وساتو، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

[۳۳] ای پيغمبره! خلکوته ووايه چې يقينا د زما پالونکي څښــتن الله فحشــاء او بد کړل په پټه او په ښــکاره حرام کړي دي [او همدارنګه الله تعالى] ګناه او ناحقه تيرئ پرخلکو حرام کړئ دئ، او ای خلکو! پرتاســې الله د ناحقه خدای شــر يکول هغه ســره په عبادت کې حرام کړي دي، ځکه چې الله ور باندې هيڅ دليل ندئ رانازل کړئ، او هم هغه خبرې الله پسې حرامې دي چې هغه تاسې د خپلو ځانونه کړئ او تاسې ور باندې نه پوهيږئ، يعنی د کم دليل نه پرته هغه خبرې الله ته منسو بوئ او ور پسې تپې يې چې هغه حرامې دي او مونږ ور باندې مکلف نه يو.

درندو دوســتانو! يقينا چې د حلالو او حرامو واکمن څښــتن؛ يوازې الله دئ، او د الله تعالى نه پرته بل هيڅ څوک حق نه لري چې د الله په واکمنۍ باندې تيرئ وکړي او په خپله خوښــه حرام او حلال خلکوته د خپل ځان نه را و باســي، او بيا خلک ور باندې مکلف کړې او خپل حکمونه ور پښا کړي او ور باندې يې وچلوي.

او بيا په ور پســې مبارك آيت کې الله تعالى مونږ د هرامت او ولس د ژوند ټاکل ســوې نيټې او وخت نه په دنيا کې خبر کړي يو، او کله چې هغه پوره سي نور بيا وړاندې او وروسته نکيږي، او فرمايلي دي:

[۳٤] هو! د هرامت يا د هر ولس وخت او اجل ټاکل ســوئ دئ، نو کله چې د دوی اجل راسي او وخت يې پوره سي، نو بيا يو ساعت هم هغه وړاندې او وروســته نکيږي، يعنی هرڅوک د خپل اجل ســره سم د دنيا نه ځي او مري، او بيا هرچاته د هغه لائق ثواب او ســزا چې هغه حق ده؛ ورکول کيږي، او د ټولو خلکو د مرګ او مړ ينې نيټې الله تعالى په خپل علم ســره مخکې له مخکې ټاکلې دي، او يقينا چې دا ټاکنه د الله تعالى د لوی قدرت نښه ده او مومنانوته هغه د ښه عمل کړو پيغام دئ، نو ښايي چې

مونږ هيڅ کله غافل او بې پروا نسو او تل تيار سئ وو!

{د مومنانو او کافرانو پرتله په جنت او دوزخ کې کيږي}

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ د مومنانو او کافرانو برخليک نه د قيامت په ورځ خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأۡتِيَنَّكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٣٥ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٣٦ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ يَنَالُهُمۡ نَصِيبُهُم مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوۡنَهُمۡ قَالُوٓاْ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰفِرِينَ ٣٧﴾

[٣٥] هو! اى د آدم کهوله! [پردې پوه سې!] چې تاسې ته د ستاسې منځ نه خاماخا پيغمبران راځي او د زما کتاب آيتونه به درته رسوي، نو چاچې ځان وساته او اصلاح سه [يعنى ايمان يې راوړ او د الله تعالى پرحکمونوپې عمل وکه او د الله نه وو ير يده] نو پرهغه نوره و يره نسته او نده غمجن کيږي، يعنى دئ به الله تعالى په دنيا او آخرت کې شاد کړي.

هو! قدرمنو دوستانو! دا مبارك آيت مومنانو ته د ډاډ ګيرنې ډير لوى ز يرئ او شــه پيغام دئ، نو هيله ده چې مومنان هيڅ کله هم د دې لوى ز يري نه بې پروا نسي او د خپل پالونکي څښتن الله حکمونه د پښو لاندې نکړي او په عملي کولو کې ور باندې کلک ودر يږي.

او بيا الله تعالى په ور پســې مبارکو آيتونو کې کبرجن کافران د دوزخ اور په کلکه سزا باندې ګوابلي دي، او فرمايلي دي:

[٣٦] او هغو کســانو چې د زمونږ کتاب (قرآن) آيتونه دروغ وګڼل او کبرې په وکه [يعنى ځانونه يې د الله حکمونو نه پورته وګڼل] نو هغوى دوزخيان دي او هلته به پکې تل کړ يږي.

[٣٧] نو ای خلکو! څوک د هغه چانه ډیر ظالم دئ چې الله پسې یې دروغو وتپل او افترایې وکړه، او یا یې د الله نه راغلي آیتونه دروغ وګڼل او هغه یې ونه منل؟ [ځواب دا چې: هیڅ څوک د دغسې کس نه ډیر ظالم ندئ!] او دوی ته به خپله برخه هغه سزا چې په لوح محفوظ کې لیکل سوې ده؛ رسیږي، ترڅو چې کله دوی ته د زمونږ استازي راسي او دوی وفاتوي [یعنی ساه ورڅخه اخلي] نو بیا به ورته وایي: د ستاسې هغه خدایان چې تاسې د الله نه پرته د هغوی عبادت او بنده کې کړه؛ اوس چیرته دي؟ [نو بیابه کافران ور ته په ځواب کې وایي:] هغوی د زمونږ نه ورک سول، او دوی به پرخپلو ځانو باندې شاهدي وایې چې دوی کافران ول، یعنی د الله توحید نه منکر ول، او د الله تعالی بنده کې ته په توحید او یو والي سره رابلونکې پیغمبران یې دروغژن ګڼل!

{د قیامت په ورځ دوزخ ته د کافر انو ورننوتلو ژوندئ انځور}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې مونږ ته الله تعالی د دوزخیانو انځور د قیامت په ورځ وړاندې کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿قَالَ ٱدۡخُلُواْ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ فِي ٱلنَّارِۖ كُلَّمَا دَخَلَتۡ أُمَّةٞ لَّعَنَتۡ أُخۡتَهَاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱدَّارَكُواْ فِيهَا جَمِيعٗا قَالَتۡ أُخۡرَىٰهُمۡ لِأُولَىٰهُمۡ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا فَـَٔاتِهِمۡ عَذَابٗا ضِعۡفٗا مِّنَ ٱلنَّارِۖ قَالَ لِكُلّٖ ضِعۡفٞ وَلَٰكِن لَّا تَعۡلَمُونَ ٣٨ وَقَالَتۡ أُولَىٰهُمۡ لِأُخۡرَىٰهُمۡ فَمَا كَانَ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلٖ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ٣٩﴾

[٣٨] [او الله تعالی په دغو مشرکانو باندې غږ کړي او ورته] وایي: اوس د پیریانو او د انسانانو هغو ډلو سره چې د ستاسې نه مخکې کافران تیر سوي دي؛ یوځای د دوزخ اور ته ورننوځئ، او کله چې یوه ډله دوزخ ته ورننوځي، نو پر بله ډله لعنت وایي، ترڅوچې دوزخیان ټول یو بل هلته بیامومي او سره یوځای سي، نو بیا وروستۍ ډله مخکې ننوتلې ډلې ته په اشارې سره وایي: ای د زمونږ لو یه ر به! دغو کسانو زمونږ نه د حق لار

ورکه کړه! نو ته ای ر به! دوی ته دۀ برابره ســزا ورکړه، نو الله ورته په ځواب کې وایي: هرې ډلې ته دوه برابره سزا ده، خو تاسې ای دوزخیانو! نه پوهیږی، یعنی دا چې الله تعالی په پوره عدالت سره دوی ته سزا ورکوي!

[٣٩] نو بیا لمړۍ ډله ورسـتینو ته [یعنی مشـران کشـرانو ته] وایي: تاسې پرمونږ باندې څه احسان ندئ کړئ [یعنی ټول سره برابر یو] نو بیا الله دوی ته وایي: اوس نو د خپلو بدو کړنو سزا وڅکئ!

عزتمنو دوسـتانو! دا ۀ د قیامت په ورځ د کافرانو د بد حال لنډ بیان او ځلانده انځور یا تصـو یر چې په هغه کې مونږ الله تعالی د دوزخیانو بد حال نه مخکې له مخکې خبر کړي یو، ترڅو ورڅخه پند واخلو او د عبرت اخستلو سبقو نه ورڅخه زده کړو، ترڅو سپین مخي الله ورسوو.

{د جنت ورونه کافرانو پرمخ ټرلي او مومنان ته خلاص دي}

او بیا الله تعالی د کافرانو بده راتلونکې چې د جنتو نه محرومیت دئ، او د مومنانو ښه راتلونکې چې جنتونو ته ورننوتل دي؛ یاده کړې ده، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمۡ أَبۡوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ وَلَا يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلۡجَمَلُ فِي سَمِّ ٱلۡخِيَاطِۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٤٠ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٞ وَمِن فَوۡقِهِمۡ غَوَاشٖۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ٤١ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٤٢ وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلّٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهۡتَدِيَ لَوۡلَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ لَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّۖ وَنُودُوٓاْ أَن تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٤٣﴾

[٤٠] هو! یقینا هغو کســانو چې د زمونږ کتاب (قرآن) آیتونه او

دليلونه دروغ وګڼل او باور يې ور باندې ونکه او ځانونه يې ورځخه لوړ او غټ و بلل او کبرېي وکه [او ايمان يې رانوړ] نو دوی ته د اسمان ورو نه يا دروازې نه پرانستل کيږي او جنت ته نه ورننوځي، ترهغو چې اوښ د ستنې په سوري کې ورننوځي [يعنی څنګه چې د اوښ ننوتل د ستني په واړه سوري کې محال دي؛ همداسې د کافرانو ننوتل جنت ته محال دي] او همدارنګه هغو مجرمانو ته [چې دوی د الله فرمان نه سرغړونه وکړه او ايمان يې رانوړ] مونږ سزا ورکوو!

[٤١] او د دغو کافرانو د ملاستې ځای توشک به د دوزخ اور نه وي، او هغه به د پاسه نه هم د اور لمبو پټ کړئ وي، او دغو ظالمانوته مونږ همدغسې سزا ورکوو، يعنی دا ځکه چې دوی د الله حکمونه د پښو لاندې کړل او هغه يې پرځانو پلي يا عملي او تطبيق نکړل.

قدرمنو عز يزانو! دا په آخرت کې د کافرانو بده ورځ ده، او هغه لو يه او سخته سزا ده چې دوی يې د الله تعالی حکمونو نه د سرغړونې او کبر کړو په ګناه ګالي، او مومنانوته الله تعالی جنتونه ورکوي، او په ز يري کې الله تعالی فرمايل دي:

[٤٢] او هغو کسانو چې پرالله باندې ايمان راوړ [يعنی د الله کتاب آيتونه يې ومنل او باور يې پرې وکه] او بيا دغو مومنانو ښه وکړل؛ دوی جنتيان دي، او هلته به پکې تل اوسيږي [ځکه دوی د الله تعالی اطاعت او بنده ګي په اخلاص سره کړې ده] او هيڅ څوک مونږ د هغه وسعې نه ډير په کم کار باندې نه ګمارو، يعنی د الله تعالی د دين حکمونه د بنده ګانو د وسعې او طاقت سره برابر دي، او دوی ته دروند پيښ نه ور پښا کيږي، ځکه د الله دين په اسانتيا ولاړ دين دئ، نه پرسختيو او ستونزو باندې.

[٤٣] او مونږ د جنتيانو د زړونو نه کينې را وايستلې، او په جنت کې به د دوی لاندې د او بو و يالې بهيږي [او کله چې دغه مومنان جنتونوته ورننوځي] نو بيا وايي: الحمد لله [ټوله ستاينه الله لره ده] چې هغه مونږ ايمان او ښه عمل ته هدايت کړو، او که د الله توفيق نه وای نو مونږ به

سمې لارې ته نه وو سم سوي، هو! يقيناچې د زمونږ پالونکي څښتن الله پيغمبران په حق سره راغلل [يعنى د الله پيغام يې مونږ ته را ورسا ؤ، نو بيا پردغو جنتيانو باندې غږ وسي چې تاسې دغه جنتونه په خپلو ښو کړنو کټلي دي، يعنى دا جنتونه د ستاسې ايمان او د ښو کړنو انعام او غټه جائزه ده چې دا دئ هغه تاسې ته الله درکړه!

ګرانو دوستانو: الله تعالى پرخپلو بنده ګانو باندې مهر بان او د دوى په حق کې ښه عادل پالونکئ څښتن دئ، نو هرچاته د هغه د ښه عمل ثواب او انعام او د بد عمل او د سر غړونې سزا ورکوي، او الله تعالى مونږ د خپلو دغو مکافاتو او مجازاتو قانون او نظام نه مخکې له مخکې خبر کړي يو، ترڅو هرڅوک ښه کار ته او د الله بنده ګى ته په اخلاص سره ملا وترې او د کفر او د بدو کړنو نه ځان وساتي.

درندو عزيزانو! او همدارنګه دا خبره هم دلته د پام وړ ده چې د الله تعالى دغه د مکافاتو او مجازاتو نظام که څه هم په آخرت کې عملي کيږي، خو هغه په دنيا کې هم مومنانو ته الله تعالى د خوښۍ او نيکمرغۍ ز يرئ ګرځولئ دئ، او کافران يې د دنيايي سزا نه هم کلک و يرولي او ګواښلي دي، او بل دا چې د الله تعالى دغه د مجازاتو او مکافاتو نظام د بشري ټولنو ښه ژوند لپاره په دنيا کې؛ ډير ضرورى او اړ ين لارښود نظام دئ، او هغه په ژوند کې د ترقۍ او پرمختيا ښه سبب او هڅونکئ عامل ګرځيداى سي، نو ځکه و ينو چې وتلي او پؤ خلک؛ هغه په خپل کورني ژوند کې د ښى روزنې لپاره تل په پام کې نيسي او عمل پرې کړي او خپل کهول ور باندې ښه کلک روزي.

{ملائکى د قيامت په ورځ پرکافرانو د الله لعنت و ايي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ د جنتيانو او دوزخيانو په منځ کې د خبرو او يو بل سره پوښتنو نه خبر کړي يو، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدۡ وَجَدۡنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقّٗا

فَهَلۡ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمۡ حَقّٗاۖ قَالُواْ نَعَمۡۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنُۢ بَيۡنَهُمۡ أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ٤٤ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ كَٰفِرُونَ ٤٥ وَبَيۡنَهُمَا حِجَابٞۚ وَعَلَى ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٞ يَعۡرِفُونَ كُلَّۢا بِسِيمَىٰهُمۡۚ وَنَادَوۡاْ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَن سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡۚ لَمۡ يَدۡخُلُوهَا وَهُمۡ يَطۡمَعُونَ ٤٦ *وَإِذَا صُرِفَتۡ أَبۡصَٰرُهُمۡ تِلۡقَآءَ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ قَالُواْ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٤٧ وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٗا يَعۡرِفُونَهُم بِسِيمَىٰهُمۡ قَالُواْ مَآ أَغۡنَىٰ عَنكُمۡ جَمۡعُكُمۡ وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ ٤٨ أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمۡتُمۡ لَا يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحۡمَةٍۚ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ٤٩

[٤٤] [هو! كله چې د قيامت په ورځ مومنان جنت ته ورننوځي] نو په دوزخيانو غږ کړي او ورته وايي: دا دئ مونږ يقينا چې د خپل پالونکي څښتن الله وعدې په ر يښتيا سره بياموندلې، نو آيا تاسې هم هغه وعدې چې د ستاسې خداى درسره کړې وې په ر يښتيا سره بياموندلې؟ [نو بيا دوزخيان په ځواب کې ورته] وايي: هو! نو بيا د دوى په منځ کې يو جار ژونکئ په جګ غږ اعلان کړي وايي: پرظالمانو ده د الله لعنت وي، يعنى داځکه چې دوى تيرئ وکه، او د الله تعالى حکمونو نه يې سرغړونه وکړه، ايمان يې رانوړ او د کفر لار يې خوښه کړه.

[٤٥] او ظالمان هغه کسان دي چې د الله لارې نه خلک منعې کوي او د الله دين سمه لار کړه بولي، او د آخرت ورځې نه منکر دي او هغه نه مني.

[٤٦] او د جنتيانو او دوزخيانو په منځ کې يوه بيلونکې پرده ده او يو بل ليدلاى نسي، او پر دغه بيلونکې پرده يا پوله باندې داسې څارونکي کسان ناست وي چې جنتيان او دوزخيان هر يو د دوى د خبرونه پيژني [چې دا جنتي دئ او هغه دوزخي] او دغه په اعراف کې ناست کسان په جنتيانو باندې غږ کړي او ورته وايي: پرتاسې ده سلام وي، او دوى خپله

لا تر اوسه په اعراف کې دي او جنت ته ندي ورننوتلي، خو هیلمن دي چې جنت ته به ورننوځي، یعنی دا چې د دغو کسانو ښه او بد سره برابر وي، نو بیا یې الله تعالی ښې او جنت ته ورننوځي.

[٤٧] او کله چې په اعراف کې ناستو کسانو سترګې دوزخیانو خوا ته وروګوري، نو وایي: ای د زمونږ لو یه خدایه! مونږ د ظالمانو ډلې سره چې دوی دوزخیان دي ونه ګرځوي!

[٤٨] او دغه د اعراف خاوندان د کافرانو پرهغو کسانو باندې چې په ځیرویې پیژني غږ کړي او ورته وایي: آیا تاسې ته د ستاسې ډلو او پلو یانو او هغې زورواکۍ چې تاسې کړې؛ څه ګټه ونه رسوله؟ یعنی د دوزخ نه یې راونه و یستلې؟

[٤٩] او آیا دغه کسان [چې جنت ته ننوتلي دي؛ دوی څوک دي؟] او تاسې به ای کافرانو! قسمونه خوړل او لوړې به مو کړې [چې د قیامت په ورځ الله خپل رحمت او مهر باني پر دوی نه لوروي! خو دا دئ اوس دوی و یې چې الله تعالی ورته وایي:] جنت ته ورننوځئ او پرتاسې باندې هیڅ و یره نسته او نه به تاسې غمجن کیږئ!

ګرانو دوستانو! استفهام یا پوښتنه دلته انکاري ده او مقصد یې د مشرکانو غندل دي، او د پوښتنې ځواب دا دئ چې هو! دغه جنتیان هغه بې وزره مومنان دي چې دوی به مشرکانو په دنیا کې زورول، او ایمان راوړو ته یې نه پر یښودل، خو دوی ټولې ستونزې وګاللې او ایمان راوړ او بیا پرخپل ایمان کلک ودر یدل، نو بیا الله تعالی د دوی سره خپلې کړې وعدې ر یښتیا کړې او دوی ته یې د دوی د ایمان او د ښه عمل او د استقامت په ثواب کې جنتونه ورکړل.

{چاچې په دنیا کې الله هیر که د قیامت په ورځ دوی الله هیروي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې د دوزخیانو غوښتنو نه چې په اعراف کې یې د جنتیانو نه غواړي؛ مونږ الله خبر کړي یو، خو جنتیان دوی ته

وايي: پرکافرانو الله او به حرامې کړې دي، ځکه دوی الله په دنيا کې هير کړئ ؤ، نو اوس دوی الله هير کړي دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَنۡ أَفِيضُواْ عَلَيۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ أَوۡ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُۚ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٥٠ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَهۡوٗا وَلَعِبٗا وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰهُمۡ كَمَا نَسُواْ لِقَآءَ يَوۡمِهِمۡ هَٰذَا وَمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ٥١ وَلَقَدۡ جِئۡنَٰهُم بِكِتَٰبٖ فَصَّلۡنَٰهُ عَلَىٰ عِلۡمٍ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٥٢ هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأۡوِيلَهُۥۚ يَوۡمَ يَأۡتِي تَأۡوِيلُهُۥ يَقُولُ ٱلَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبۡلُ قَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَآءَ فَيَشۡفَعُواْ لَنَآ أَوۡ نُرَدُّ فَنَعۡمَلَ غَيۡرَ ٱلَّذِي كُنَّا نَعۡمَلُۚ قَدۡ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٥٣﴾

[٥٠-٥١] او دوزخيان په جنتيانو باندې غږ کړي [او ورته وايي چې ای جنتيانو!] پرمونږ باندې لږ او به راوشندی، او يا د هغې روزي نه چې تاسې ته الله څه شئ روزي کړي دي؛ مونږ ته څه شئ را واچوی! نو بيا جنتيان دوی ته په ځواب کې وايي: يقينا چې دا دؤ نعمتونه الله پرکافرانو باندې حرام کړي دي، او کافران هغه کسان ول چې دوی په خپل دين لوبې کړې [يعنی ملنډې يې ور باندې ؤلي، ځکه] دوی د دنيا ژوند وغلول، نو دا دئ اوس مونږ هم دوی هير کړل، لکه څنګه چې دوی د دغې ورځې سره يوځای کيدل هير کړل، او د زمونږ آيتونو نه [په قرآن کې] منکر سول او هغه يې ونه منل، يعنی کافرانو د قيامت ورځ هيره کړه او کلک ورځخه بې پروا او غافل سول، نو بيا دوی هم الله تعالی هير کړل!

[٥٢] او يقينا چې کافرانو ته مونږ کتاب او په هغه کې ستە ټول علم او پوه بيان کړه، او دا کتاب (قرآن) مومنانو ته لارښود او رحمت دئ، يعنی د قرآن نه يوازې مومنان ګټه اخلي او کافران يې د ګټونه محروم دي.

[٥٣] او آيا کافران د قرآني لارښودنو عملي تفسير او شرحي ته انتظار

باسي؟ [ترڅو وګوري څه پيښيږي؟] او په هغه ورځ چې کله د قرآن آيتونو عملي تفسير راسي، نو بيا به هغه کسان چې مخکې يې قرآن هير کړ وايي: يقينا چې د زمونږ رب استازي (پيغمبران) په حق سره مونږ ته راغلل [يعنی د دوی ټولې و يناوې حق اور يښتيا وي، نو آيا اوس مونږڅوک سپارښتونکي لرو، ترڅو زمونږ لپاره شفاعت او سپارښت وکړي او مونږ معاف سو؟ او يا دا چې مونږ بيرته دنيا ته ور وګرځول سوو، ترڅو بيا پرته د هغو کارونو نه چې هغه مخکې مونږ کړي دي؛ نور داسې نــه کارو نه وکړو چې [ترڅو الله راڅخه راضــي او خوښ ســي] هو! يقينا چې دوی نور خپل ځانونه بايللي او ز يانمن کړي دي [يعنی دوزخ ته به ورننوځي او هلته به خپله سزا څکي] او هغه څوک چې مشرکانو د هغه عبادت کا ؤ او هغه يې په دروغو د الله ســره په خدايي کې شــر يکا ؤ؛ هغه نور د دوی نه ورک ســه او مشرکانو ته هيڅ ګټه رسولای نسي!

{د کائناتو پيدايښت نه وروسته الله پر عرش مستوي سه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی خپل عظمت او لوی قدرتونه مونږ ته ياد کړي دي، او بيا يې پټ او ښــکاره مونږ خپل عبادت ته په توحيد سره رابللي يو، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾ ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٥٥﴾ وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَٰحِهَا وَٱدْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ۚ إِنَّ رَحْمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾﴾

[٥٤] ای خلکو! يقينا چې د ستاسې پالونکئ څښتن الله؛ هغه څوک دئ چې اسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړل او بيا وروسته پرخپل عرش (تخت) باندي مستوي سه [يعنی هغسې مستوي سه، لکه

څنګه چې د الله تعالى لوى مقام سره لائق ؤ] او الله شپه او ورځ يوه پر بله پټوي او يوه بله په چټکتيا سره غواړي او ور پسې ورځي [يعنى د ورځې رڼا شپه په تيارو بدلوي او بيا ورځ شپې پسې راځي او تياره يې رڼا کوي، او هره يوه يوې بلې پسې په چټکۍ سره راځي] او لمر، سپوږمۍ او ستوري [الله پيدا کړي دي] او ټول د الله په حکم تسخير سوي دي [يعنى څنګه چې الله غواړي هغسې هر يو په خپله دائره کې ګرځي را ګرځي، نو اى خلکو! په دې پوه سې چې] ټول عالم د الله حکم او فرمان لاندې دئ او الله پيدا کړئ دئ، نو ټوله لو يتيا، عظمت او ستاينه الله لره ده چې د ټولې نړۍ واکمن او پالونکئ څښتن دئ!

نو بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې ټول خلک د خپل لوى رب عبادت ته راباللى دي او پرځمکه يې د وراني او فساد نه کلک منع کړي او ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

[٥٥] اى خلکو! خپل رب الله په پټه او په زارۍ سره وغواړئ [يعنى دعاء وکړئ] او يقينا چې الله تيرئ کونکي کسان نه خوښوي، يعنى دا چې بنده ته ښايي چې د زړه له تل او کومي نه د خپل خداى عبادت او بنده ګي وکړي او په پوره زارۍ او تواضع سره خپل رب وغواړي، او پټه دعاء وکړي او د ر يانه خپل ځان کلک وساتي، ځکه ر يا او ځان ښودنه په عبادت کې د بنده عمل باطلوي او له منځه يې وړي.

[٥٦] او اى خلکو! په ځمکه کې د هغې ودانۍ نه وروسته فساد او ورانئ مکړئ [ځکه ځمکه الله د خپلو پيغمبرانو په را ليږلو سره اصلاح او ودانه کړه او د ورانۍ او فساد نه يې پاکه کړه، نور نو تاسې پرځمکه په ګناه کړو سره ورانئ او فساد مکړئ] او د الله سزا و يرې نه او د ثواب په طمعه؛ د الله بنده ګي وکړئ او حکم ته يې غاړه کيږدئ، او يقيناچې د الله رحمت د ښو کړنو خاوندانو ته ښه ورلنډ دئ!

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د خپل ر بو بيت لوړ مقام په ښکاره دليلونو سره مونږ ته بيان کړئ دئ، او بيايې مونږ

خپلې بنده ګۍ ته په پوره اخلاص سره را بللي يو او د هر ډول فساد، ګناه، وراني او تيريو نه يې کلک ګوابسلي او منع کړي يو، ځکه د الله فضل او لويې پيرزو يني؛ يوازې د محسنانو په برخه کيږي!

{د مړو راژوندي کول د مړې ځمکې راشنه کول غوندې الله ته اسانه دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د خپل لوى قدرت نښې يادې کړې دي او بيايې د قيامت ورځې يقيني راتګ ثبوت بيان کړئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَىۡ رَحۡمَتِهِۦٓۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتۡ سَحَابًا ثِقَالٗا سُقۡنَٰهُ لِبَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَنزَلۡنَا بِهِ ٱلۡمَآءَ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ كَذَٰلِكَ نُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٥٧ وَٱلۡبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخۡرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ وَٱلَّذِى خَبُثَ لَا يَخۡرُجُ إِلَّا نَكِدٗاۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَشۡكُرُونَ ٥٨﴾

[٥٧] او الله هغه څوک دئ چې د هوا شمالونه (بادو نه) د خپل رحمت ورکړي نه وړاندې ز يرئ ورکونکي را ليږي، ترڅو چې کله د هوا دغه شمالونه يا بادونه د او بو نه ډک درانده ووره ځان سره يوسي او بيا هغه مونږ مړې ځمکې ته ورليږو، نو بيا مونږ د وورو نه او به راووروو، او په دغو او بو د ځمکې نه هر ډول ميوې را باسو، او بيا همداسې مونږ مړې د ځمکې نه بيرته را باسو [يعنى را ژوندي کو يې] ترڅو تاسې اى خلکو! د خپل رب قدرتونه راپه ياد کړى، يعنى په ارزښت يې پوه سى او پند ورڅخه واخلى او د خپل رب الله بنده ګي په توحيد سره وکړى!

[٥٨] هو! پاکه خاوره د خپل څښتن په اجازه او حکم سره خپل بوټي په اسانى سره راباسي [يعنى هغه راشنه کوي] خو هغه ځمکه چې کلکه او

ناکاره او شړله وي؛ د هغې کښت په سختي سره راشين کيږي، هو! مونږ د خپلو قدرتونو نښې [يعنی د حق بيانولو دليلونه] همداسې په پوره روښتيا سره؛ هغو کسانو ته بيانوو چې دوی د الله نعمتونو شکر باسي، يعنی خپل رب ښه پيژني او په قدر يې پوهيږي او په توحيد سره د الله تعالی عبادت او بنده ګي کړي.

قدرمنو دوستانو! په دې مبارکو آيتونو کې الله تعالی له يوې خوا خپل لوی قدرت مونږ ته د باران په وورولو سره ښودلئ دئ او هغه د الله رحمت دئ چې ځمکه او به کوي او ډول ډول ميوې ورڅخه راباسي، او بيايې د ښې او بدې ځمکې يادښت په بيلګو سره د خپل دين حق پيغام خپلو مخلصو بنده ګانوته د باران او د ځمکې سره په ورته والي کې پرتله سوئ؛ بيان کړئ دئ، او يقينا چې هغه د الله تعالی لوی رحمت دئ، او په خپل عزتمن پيغمبر محمدﷺ باندې يې را نازل کړئ دئ، ترڅو رسول اللهﷺ هغه خپل امت ته ورسوي، نو ځوک چې لکه پاکه او پسته ځمکه وي؛ ايمان راوړي او حق په خوښی سره مني او د الله تعالی د دې لوی نعمت شکر باسي، خو هغه کسان چې ناپاکه او خبيث دي؛ دوی د الله حق پيغام نه ګټه نه اخلي او هغه نه مني، او که ځينې يې هم ومني دوی منافقان دي، او د دوی په زړو کې ايمان ر ينښې ندي غځولې او پکې خښ سوئ ندئ، نو ښايې چې هرمومن بنده د دغسې الهي لارښودنو په معنا ځان ښه پوه کړي او ښه ګټه ورڅخه واخلي، ترڅو دوی په هغو کسانو کې وشميرل سي چې د الله تعالی نعمتونو او لو يو پيرزو ينو شکر باسي او په اخلاص سره د خپل رب سبحانه وتعالی بنده ګي په اخلاص سره کړي.

{د نوح نه تر شعيب پورې د پخوانيو پيغمبرانو لنډه يادونه}

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د تيرو ولسونو نه د پنځو پيغمبرانو:(نوح، هود، صالح، لوط او د شعيب عليهم السلام) قصې مونږ ته الله تعالی د هغوی سرکښو امتونو سره لنډې لنډې يادې کړې دي، ځکه د دوی ولسونه د عر بانو لوی ټاپو(جز يرې) په يمن او شام کې ميشت ول، او د مکې خلکو د دوی قصې اور يدلې وي، نو ځکه الله تعالی د دوی قصې د عبرت اخستلو په مقصد قر يشوته يادې کړې دي، او د

دغو پخوانيو ولسونو يا امتونو نه ښو ډيرو کسانو د خپلو پيغمبرانو دعوت نه ډئ منلئ، نو بيا الله تعالى دوى ته د دوى د غوښتنو سره سم کلکه سزا ورکړې ده، د نوح عليه السلام قوم د او بو په لوى طوفان کې هلاك سه او د هود عليه السلام قوم (عاد) د زورور بادونو بړ بښکيو طوفان کې لمنځه لاړل، او د صالح عليه السلام قوم (ثمود) د ځمکې په يؤ ټکان سره پرمخې ولو يدل او ټول هلاك سول، او بيا د لوط عليه السلام پرقوم باندې ځمکه وچاوديدله او په بل مخ را وا وښتله او د تيکو باران ور باندې وسه او دوى ټول پکې ډوب سول او لمنځه لاړل، او د شعيب عليه السلام قوم هم د ځمکې په ټکان او لړز يدو سره پرمخې ولو يدل او په ځمکه کې خښ سوي ننوتل او پکې ډوب سول او ټول تباه سول، او دا ډئ اوس اوس د نړۍ په ډيرو هيوادونو کې، د افغانستان نه تراندونيسيا، ليبيا، مراکش، ترکيا او تر پاکستانه په سيلابونو او د زلزلو يا ځمکې په ټکانونو کې لکهاوو کسان تباه او هلاك سول چې يقينا هغه زمونږ لپاره لوى ګواښ دئ، او ښايي ورڅخه عبرت او پند واخلو او د غفلت اوږدو خو بونو نه را و يښ سو!

{د نوح عليه السلام قوم الله د او بو په لوى طوفان کې ډوب که}

قدرمنو دوستانو! او د دغو قصو په بيان کې چې د عبرتونو نه ډکې قصې دي؛ الله تعالى دا لاندې مبارك آيتونه رانازل کړي دي او په پيل کې يې د نوح عليه السلام قصه ده، او په بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥٩ قَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٦٠ قَالَ يَٰقَوۡمِ لَيۡسَ بِي ضَلَٰلَةٞ وَلَٰكِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦١ أُبَلِّغُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَأَنصَحُ لَكُمۡ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٦٢ أَوَعَجِبۡتُمۡ أَن جَآءَكُمۡ ذِكۡرٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ لِيُنذِرَكُمۡ وَلِتَتَّقُواْ وَلَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٦٣ فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيۡنَٰهُ

وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِى ٱلْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَآ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا عَمِينَ ﴿٦٤﴾

[٥٩] هو! يقينا چې نوح مونږ د هغه قوم ته [استازئ] را ولیږه [نو بیا هغه خپل ولس ته] وو یل: ای د زما قومه! د الله عبادت وکړئ، ځکه تاسې د الله نه پرته بل په حق سره معبود نه لرئ، او یقینا چې زه تاسې باندې د لویې ورځې(قیامت)عذاب نه و یر یږم!

[٦٠] نو د نوح قوم مشرانو په ځواب کې ورته وو یل: هو! یقینا چې مونږ تا په ښکاره ورکتیا او د سمې لارې نه په بې لارې توب کې و ینو، یعنی دا چې تا ای نوحه سمه لار ورکه کړې ده!

[٦١-٦٢] [نو بیا نوح عليه السلام په ځواب کې ورته] وو یل: ای د زما عز یزانو! زه ورک نه یم، زه د ټول عالم لوی څښتن الله لخوا تاسې ته استازئ او پیغمبر را لیږل سوئ یم! او د خپل پالونکي خدای پیغام تاسې ته رسوم او نصیحت درته کړم [یعنی درته خیر غواړم] او زه د الله لخوا په هغه څه پوهیږم چې تاسې ور باندې نه پوهیږئ! یعنی ماته الله خپل پیغام را لیږلئ او راښودلئ دئ، ترڅو هغه زه تاسې ته ورسوم!

[٦٣] او ای قومه! آیا تاسې حیران سوئ او تعجب کړئ چې تاسې ته ستاسې د لوی څښتن لخوا د یادونې پیغام راغئ، او هغه د ستاسې د منځ نه پر یوه سړي باندې [چې هغه نوح عليه السلام دئ] را نازل سه، ترڅو تاسې د الله عذاب او سزا نه وو یروي او متقیان سئ [یعنی خپل ځانونه د الله عذاب نه د هغه حکمونو نه په اطاعت کړو سره وساتئ] او بیابه د الله رحمت ورکړې پرتاسې وورر ږي!

[٦٤] نو بیا قوم خپأ (نوح عليه السلام) دروغژن وګانه [یعنی د الله تعالی بنده ګئ ته یې د هغه دعوت ونه مانه] نو بیا نوح او ورسره مومنانوته مونږ په بیړئ کې نجات ورکه [یعنی د او بو لوی طوفان کې د ډو بیدو نه خلاص سول] او هغو کسانو چې د زمونږ آیتونه او دلیلونه دروغ و بلل [یعنی هغه یې ونه منل او ورڅخه منکر سول، نو بیا دوی مونږ په طوفان کې ډوب او هلاك

کړل] ځکه یقیناچې دوی د حق لیدلو نه یو ړوند قوم ؤ، یعنی د نوح عليه السلام قوم ته الله تعالی د حق لیدلو توفیق نه ؤ ورکړئ!

{د هود قصه خپل قوم عاد سره او پکې د پند نه ډکې زدکړې}

﴿* وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٦٦﴾ قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٧﴾ أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴿٦٨﴾ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ ۚ وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِن بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَصْطَةً ۖ فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللَّهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾ قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللَّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا ۖ فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ ۖ أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا نَزَّلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ ۚ فَانتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾ فَأَنجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۖ وَمَا كَانُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٧٢﴾ *﴾

[٦٥] او د عاد قوم ته مونږ د دوی ورور هود را ولیږه او هغه خپل قوم ته وو یل: ای د زما قومه! د الله عبادت او بنده کي وکړئ، ځکه تاسي د الله نه پرته په حق سره بل معبود نه لرئ، نو آیا تاسي تقوا نکړئ؟ یعنی خپل ځانونه د الله سزا نه په ایمان را وړو سره نه ساتئ؟ ښایي متقیان سئ او ځانونه د الله عذاب نه کلک وساتئ!

[٦٦] نو بیا د عاد قوم مشرانو نه هغو کسانو چې کافران سوي ول

[یعنی د هود پیغمبرې نه منکر ول] وو یل: یقینا چې تا ای هوده! مونږ ډیر ساده او ناپوه و ینو او پرتا باندې مونږ یقینا د دروغژن ګمان کړو!

[٦٧] نو [بیا هود دوی ته په ځواب کې] وو یل: ای د زما قومه! زه ناپوه نه یم او د زما په عقل او هوښیارۍ کې هیڅ کمښت نسته، او زه د رب العالمین [یعنی د الله تعالی چې د ټول عالم پالونکئ څښتن دئ] استازئ یم!

[٦٨] او زه د خپل پالونکي خدای الله پیغامونه تاسې ته رسوم، او زه تاسې ته ر یښتینئ خیر غوښتونکئ یم، یعنی زه تاسې ته نیکمرغي غواړم او دروغ نه وایم!

[٦٩] او ای قومه! آیا تاسې تعجب وکه او حیران سوی؟ چې د ستاسې رب لخوا درته یادونکئ پیغام راغئ او هغه د ستاسې د منځ نه پر یوه سړي باندې را نازل سه، ترڅو تاسې د الله عذاب نه وو یروي؟ او ای قومه! پرڅپلو ځانو د الله هغه نعمت راپه یاد کړئ چې تاسې یې د نوح قوم نه وروسته د هغوی پرځای کینولې او لوړې اوږدې ونې یا تنې یې درکړې، نو د الله دا نعمتونه راپه یاد کړئ، ترڅو بر یالي او سرلوړي سئ!

[٧٠] [نو بیا هود ته دوی] وو یل: آیا ته ای هوده! مونږ ته راغلې چې یوازې د الله عبادت وکړو او د خپلو پلرونو خدایانو عبادت پر یږدو؟ نو که ته ای هوده! د ر یښتیاو یونکو نه یې؛ هغه عذاب چې ته مونږ ور باندې ګوابنې؛ هغه مونږ ته را وړه؟ یعنی ترڅو مونږ پرتا باندې باور وکړو!

[٧١] [نو بیا هودعليه السلام خپل قوم ته په ځواب کې] وو یل: یقینا چې پرتاسې باندې د ستاسې خدای لخوا عذاب او د الله قهر راولو یده، نو آیا تاسې ای قومه! زما سره د هغو بتانو په نومونو کې بحث او استدلال کړئ چې تاسې او د ستاسې پلرونو ور باندې د خدای نومونه ایښې دي؟ حال دا چې الله د دغو بتانو په خدایي باندې هیڅ کم دلیل نه دئ رانازل کړئ، نو ای خلکو! د الله عذاب ته انتظار و باسئ او ورته تم سئ، او یقینا چې زه هم درسره د انتظار و یستونکو نه یم! یعنی ترڅو په یقین سره روښانه او

ثابته سي چې حق د چا سره دئ؟

[۷۲] نو بيا مونږ په خپل رحمت سره هود ته او ورسره ملګرو [مومنانو ته يې] نجات ورکه او د هغو کسانو ر ينې مونږ وايستلي چې د زمونږ دليلونه يې دروغ وګڼل، او دوی د ايمان راوړونکو نه نه ول، يعنی د هود عليه السلام پيغمبری يې ونه منله او باور يې ور باندې ونکه!

{د صالح عليه السلام قصه د خپل سرکښ قوم ثمود سره}

او بيا الله تعالی مونږ ته د صالح عليه السلام قصه د خپل قوم ثمود سره ياده کړې ده، او په بيان کې سې فرمايلي دي:

﴿وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً ۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ ۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ ٱلْجِبَالَ بُيُوتًا ۖ فَٱذْكُرُوٓا۟ ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِمَنْ ءَامَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ قَالُوٓا۟ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلَ بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟ إِنَّا بِٱلَّذِىٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٧٦﴾ فَعَقَرُوا۟ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوْا۟ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا۟ يَٰصَٰلِحُ ٱئْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٧٧﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّى وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ

ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٧٩﴾

[٧٣] او د ثمود قوم ته مونږ د دوی ورور صالح را ولیږه او هغه خپل قوم ته وو یل: ای د زما قومه! د الله عبادت وکړی، ځکه تاسې د الله نه پرته بل په حق سره معبود نه لری، او تاسې ته د ستاسې خدای لخوا معجزه راغله او هغه دغه د الله اوښه ده، او هغه تاسې ته معجزه ده، نو هغه پر یږدی چې د الله پرځمکه وخري او هغې ته څه ز یان ونه رسوئ! ځکه چې بیا به تاسې ته د الله دردونکئ عذاب ورسیږي!

[٧٤] او ای قومه! هغه وخت د الله پیرزو ینو نه راپه یاد کړی، کله چې تاسې الله د عاد قوم نه وروسته د دوی ځای ناستي وګرځولی او د ځمکې خلافت یې درکه او پرځمکه کې یې واکمنان کړی، او بیا تاسې په اوارو ځمکو کې خپلو ځانوته لویې مانۍ او قصرونه ودان کړل او په غرونو کې تاسې ته مونږ د سمځو کورونه جوړ کړل [یعنی په اوړي کې به په هسکو او لوړو مانیو کې اوسیدلی او ژمئ به بیا په سمځو کې تاوده اوسیدلی] نو د الله دا نعمتونه را په یاد کړی، او په ځمکه کې د ورانی کونکو نه مکیږی! یعنی د الله تعالی حکمونو نه په سرکښي سره پرځمکه فساد او ورانئ مکړی او هغه پکې مه خوروی.

[٧٥] نو بیا د صالح قوم کبرجنو مشرانو نه؛ هغو کسانو چې استکبار یې وکه [یعنی د صالح عليه السلام پر پیغمبري یې کبر وکه او ځانونه یې ورځخه لوړ وګڼل او ایمان یې رانوړ] دوی د خپل قوم هغو بې وزرو ضعیفه کسانو ته چې ایمان یې راوړئ ؤ وو یل: آیا تاسې پوهیږی چې صالح د خپل رب لخوا را لیږل سوي دئ؟ [نو دوی په ځواب کې ورته] وو یل: هو! مونږ د صالح په پیغمبری مومنان یو، یعنی مونږ پوهیږو چې هغه د الله نه راغلئ استازئ دئ، او لارښود پیغام یې مونږ ته راوړئ دئ.

[٧٦] نو بیا هغو کسانو چې کبر وکه [یعنی د صالح عليه السلام پیغمبري یې ونه منله] و یو یل: یقینا په هغه پیغام چې تاسې ای کمزورو او بې وزرو کسانو ایمان راوړئ دئ؛ مونږ پر هغه باندې کافران یو او هغه نه منو!

[۷۷] نو بيا دغو كافرانو هغه اوښــه چې معجزه ؤ؛ زخمي او مړه كړه او د خپل رب حكم نه يې ســرغړونه وكړه، او صــالح ته يې وو يل: اى صالحه! كه ته د پيغمبرانو نه يې، نو مونږ ته هغه عذاب راوړه چې ته مونږ ور باندې كوانښې!

[۷۸] نو بيا د ځمكى كلكې زلزلې دغه مســتكبران راونيول او په خپلو كورو كې پرمخې پراته هلاك سول.

[۷۹] نو بيا صــالح خپل قوم ته مخ واړا ؤ او و يو يل: اى د زما قومه! تاسې ته ما د زما رب الله پيغام ورسـا ؤ او تاسې ته ما نصيحت وكه، خو تاسې خپل خير غوښتونكئ نه خوښوى!

قدرمنو دوسـتانو! يقينا چې دغه د پخوانيو ولسـونو تار يخې قصې د هر هوښيار بنده لپاره د عبرت او د پند اخستلو لوى درس او زدكړې دي، او هغه همدارنګه د پيغمبرانو لارو يانو دعاتو او علماووته چې شــپه او ورځ خلك د الله عبادت ته رابولي؛ پوره اطمئنان او د تســليت پيغام دئ، نو ښايي چې دوى هيڅ كله په دې اوږده مزله كې ستړي نسي او خپل صبر او زغم د لاســه ورنكړي او په كلك عزم ســره خپل ولســونه د الله تعالى بنده كې ته په توحيد سره او د ځانونو اصلاح كولو ته راو بولي.

{ د لوط عليه السلام قصه خپل قوم سره د عبرتونو نه ډكه ده }

او بيا په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى د لوط عليه السلام قصه د خپل سركښ قوم سره مونږ ته ياده كړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٨٣﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا

فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٨٤

[٨٠] [ای پیغمبره! او لوط عليه السلام هم مونږ د غه قوم ته پیغمبر را ولیږه، نو هغه د خپل قوم کرکجن او بد عمل نه په کرکې ســره پردوی غږ وکه او] و یو یل: آیا تاســې هغه فاحش او کرکجن کار کړی چې د ټولې نړۍ خلکو نه هیڅ چا د ستاسې نه مخکې او وړاندې؛ نه وه کړئ؟

[٨١] او یقینا چې تاسې د ښځونه پرته نار ینوو ســره د خپل جنسي شــهوت نه خوند اخلی، بلکې تاســې په ر یښــتیا ســره تیرئ کونکئ قوم یاستی، یعنی تاسې د خپل سالم فطرت او د الله تعالی شر یعت حدودو یا پولو نه ښکاره تیرئ کړئ دئ!

[٨٢] نو بیا د لوط قوم بل ځواب نه درلود، مګر دا چې په یوې خولې ســره یې اعلان وکه او و یو یل: لوط او د هغه کورنۍ د ســتاســې کلي نه و باسی او وي شړی، ځکه دوی داسې خلک دي چې [د بچه بازئ] نه خپل ځانونه پاک ګڼي!

[٨٣] نو بیا مونږ لوط او د هغه کورنۍ تــه پرتــه د هغــه میرمنې نــه؛ نجات ورکه او میرمن یې د هلاك ســوو نه وه، یعنی دا چې هغې د خپل میړه خبره ونه منله او د بدو کسانو ملګرې سوه او ایمان یې رانوړ!

[٨٤] او د لوط پرقوم بــانــدې مونږ د تیګو بــاران راووورا ؤ، نو ای پیغمبره! وګوره چې د دغو مجرمانو راتلونکې څنګه وه؟ یعنی کله چې دوی د خپل پیغمبر خبره ونه منله، نو بیا دوی ته الله تعالی کلکه ســزا ورکړه او هلاک او تباه یې کړل.

{شعیب عليه السلام الله تعالی د مدین اوسیدونکو ته استازئ راولیږه}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې د شــعیب عليه السلام پیغمبرۍ قصــه د هغه قوم سره الله تعالی مونږ ته یاده کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ

إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ فَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ
وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ
إِصْلَٰحِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَلَا تَقْعُدُوا۟
بِكُلِّ صِرَٰطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ بِهِۦ وَتَبْغُونَهَا
عِوَجًا ۚ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ ۖ وَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ
عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٨٦﴾ وَإِن كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنكُمْ ءَامَنُوا۟ بِٱلَّذِىٓ
أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوا۟ فَٱصْبِرُوا۟ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ بَيْنَنَا ۚ
وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٨٧﴾ * قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ
لَنُخْرِجَنَّكَ يَٰشُعَيْبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِى مِلَّتِنَا ۚ
قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَٰرِهِينَ ﴿٨٨﴾ قَدِ ٱفْتَرَيْنَا عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِى مِلَّتِكُم بَعْدَ إِذْ
نَجَّىٰنَا ٱللَّهُ مِنْهَا ۚ وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّعُودَ فِيهَآ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّنَا ۚ وَسِعَ
رَبُّنَا كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ۚ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا ٱفْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِٱلْحَقِّ وَأَنتَ
خَيْرُ ٱلْفَٰتِحِينَ ﴿٨٩﴾ وَقَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ لَئِنِ ٱتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا
إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٩٠﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴿٩١﴾
ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ شُعَيْبًا كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا۟ فِيهَا ۚ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ شُعَيْبًا كَانُوا۟ هُمُ
ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٩٢﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّى
وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۖ فَكَيْفَ ءَاسَىٰ عَلَىٰ قَوْمٍ كَٰفِرِينَ ﴿٩٣﴾

[٨٥] او د مدين خلکوته مونږ د دوی ورور شعيب [پيغمبر را ولیږه او هغه د خپل ولس خلک د الله بنده کې ته را و بلل او ورته يې] وو يل: ای د زما قومه! د الله عبادت وکړی، ځکه تاسې د هغه نه پرته بل په حق سره معبود نه لری، او تاسې ته يقينا چې د ستاسې پالونکي څښتن لخوا داسې روښانه نښه او دليل راغئ [چې د زما دا خبره باوري کوي او تصديق يې

کړي] او ای عز یزانو! تاسې تله او پیمانه پوره کړئ او د خلکو حقوق مه کموئ، او په ځمکه کې د هغې ودانۍ او اصلاح نه وروسته؛ ورانئ مکړي! او ای خلکو! که تاسې مومنان یاستئ، نو دا کارو نه درته ښه دي، یعنی د الله دین او د زما پیغمبري ومنئ!

[٨٦] او په هره لار کې مه کینئ او خلک مه زوروئ او مومنان د الله دین نه مه منعې کوئ او د الله دین لار کږه مه بولئ، او د الله نعمتونه پرخپلو ځانو باندې را په یاد کړئ، هو! تاسې چې کله لږ وئ، نو بیا الله تاسې ډیر کړئ [یعنی ځواکمن ســوئ] او ای خلکو! د تیر ســو ولســونو تار یخ ته وګورئ چې د مفسدانو راتلونکې او برخلیک په ځمکه کې څنګه سه؟ یعنی کله چې دوی فساد او ورانئ وکه، نو بیا ټول هلاک او تباه سول!

[٨٧] او ای قومه! که څه هم د ســتاســې یوې ډلې د زما په پیغمبرئ باندې ایمان راوړ او هغه یې ومنله، خو بلې ډلې بیا ایمان رانوړ او باور یې ونکه، نو تاسې صبر وکړئ او تم سئ، ترڅو الله د زمونږ په منځ کې خپله فیصله یا پر یکړه وکړي، ځکه الله د خپلو بنده ګانو په منځ کې ښه حکم کونکې لوی خدای دئ، یعنی الله په انصاف سره حکم کونکئ ذات دئ.

[٨٨] نو بیا د شعیب قوم هغو مشرانو چې کبریې وکه [یعنی پرالله یې ایمان رانوړ او د شعیب علیه السلام پیغمبري یې ونه منله] شعیب ته یې په ځواب کې وو یل: ای شعیبه! مونږ به تا او هغه کسان چې د ستا سره یې ایمان راوړئ دئ؛ د زمونږ کلي نه په و یستلو سره وشړو، او یا به تاسې خاماخا بیرته د زمونږ دین ته راګرځئ! نو بیا شــعیب دوی ته وو یل: آیا مونږ د ستاسې دین ومنو! که څه هم د هغه نه مونږ کرکه لرو؟ یعنی داځکه چې د ستاسې دین باطل دین دئ، نو مونږ هیڅ کله هغه نه منو او باطل پسې نه ځو او نه عمل ور باندې کړو!

[٨٩] او ای قومه! که مونږ د ستاسې دین ته چې الله ورڅخه خلاص کړو بیرته دروګرځو، نو یقینا چې مونږ به الله پسې د درغو تور پورې کړئ وي! او مونږ ته نه ښایي چې د ستاسې ملت ته در وګرځو، مګر دا چې الله

د زمونږ خدای بل څه وغواړي، او د زمونږ لوی څښتن په هرڅه علم لري، نو مونږ پر الله توکل کړئ دئ او خپل ځانونه پرالله سپارو او دعاء کړو وایو چې ای لو یه ر به! د زمونږ او زمونږ د قوم په منځ کې په حق سره فیصله او پر یکړه وکړه، او ته ډیر ښه خلاصونکئ لوی رب یې، یعنی الله د حق او باطل په منځ کې ښه بیلونکې ذات دئ!

[٩٠] نو بیا د شعیب قوم نه هغو مشرانو چې کافران سول خلکوته [په خپلو و یناوو کې] وو یل که تاسې شعیب پسې لاړی [یعنی د هغه ملتیا مو وکړه] نو بیابه یقینا چې تاسې د ز یانمنو نه یاستی، یعنی هرڅه به تاسې بایللي وي، نو دوی یې ښه کلک وکوابښل، ترڅو پرشعیب علیه السلام ایمان رانوړي، او همداسې په خپل کفر کې پاتې سي.

[٩١] نو بیا د مدین اوسیدونکي د ځمکې سختې زلزلې راونیول او ټکان یې ورکه او کلک یې ولړزول او په خپلو کورونو کې شپه وربانديې په مرګ سره صبا سؤ، یعنی ټول هلاك او تباه سول!

[٩٢] او هغو کسانو چې شعیب دروغژن و باله، لکه دا چې دوی د ژوند نه په خپلو کورونو کې هیڅ خوند وانخست، او هغو کسانو چې د شعیب پیغمبرې تکذیب کړه [یعنی د هغه خبره یې ونه منله] دوی په خپله بایلونکې ول او خپلو ځانوته یې کلک تاوان ورسا ؤ!

[٩٣] نو بیا شعیب د دوی نه بیرته وګرځیده او و یو یل: ای د زما قومه! ما د خپل رب پیغام تاسې ته ورسا ؤ او تاسې ته ما خیر وغوښت، نو زه به څنګه پر کافر قوم باندې چې د حق نه منکر سه خفه او غمجن سم؟ یعنی دغسې یو کبرجن قوم چې په خپل خیر نه پوهیږي د دې لائق ندئ چې پیغمبر ور باندې خفه سي!

ګرانو عز یزانو! د الله تعالی ټولو پیغمبرانو خپلو ولسونو ته د خیر پیغام راوړئ ؤ، خو د دوی ولسونو نه ډیر کسان په خپل خیر پؤ نسول، او د پیغمبرانو په مخالفت کې یې د سرکښی لار ونیوله او د خپلو پیغمبرانو سره یې؛ کلکه دښمني وکړه، او دا دود یا کړن لاره اوس هم په

ځينو اسلامي ټولونو کې همداسې پاتې ده، نو ځکه الله تعالى دغو سرکښو ولسونه ته په دنيا کې کلکه سزا ورکړه، ترڅو نورو ته د پند اخستلو پيغام وي او ورته ګواښ وکړئ!

{د الله نظام ټولنې اصلاح لپاره پرسزا او ثواب ولاړ دئ}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خپله تګ لاره سرکښو خلکوته پر ګواښ او سزا ورکولو او يا دوی ته په ثواب ورکولو سره مونږ ته په ښه کړې او بيان کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّآ أَخَذۡنَآ أَهۡلَهَا بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَضَّرَّعُونَ ٩٤ ثُمَّ بَدَّلۡنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلۡحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَواْ وَّقَالُواْ قَدۡ مَسَّ ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ فَأَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ٩٥ وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٩٦ أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا بَيَٰتٗا وَهُمۡ نَآئِمُونَ ٩٧ أَوَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا ضُحٗى وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ ٩٨ أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٩٩ أَوَلَمۡ يَهۡدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ أَهۡلِهَآ أَن لَّوۡ نَشَآءُ أَصَبۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡۚ وَنَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ١٠٠﴾

[٩٤] [ای خلکو!] هو! په هيڅ کلي او هيڅ قوم کې مونږ پيغمبر ندئ را ليږلي، مګر دا چې [کله دوی دا پيغمبر تکذيب کړئ دئ او ايمان يې ندئ راوړي او د پيغمبر دعوت يې ندئ منلئ] نو بيا د غسې کافر قوم خلکوته مونږ کلکه سزا ورکړي ده او دوی مونږ په ډول ډول سختيو کې اچولي دي، ترڅو الله ته په زاري سره بيرته ور وګرځي، يعنی د کفر نه پښيمانه سي او ايمان راوړي او حق باندې کلک سي او ټينګ ور باندې ودر يږي!

[۹۵] او بيا د دغو [کبرجنو ولسونو] بد حالت مونږ په ښه حالت بدل که، ترڅو چې دوی روغتيا بياموندله [خو کله چې د ناروغۍ نه روغ سول، نو شکريې ونه و يست او و يو يل: هوا! د زمونږ پلرونو هم کله کله دغسې سختۍ ګالليې دي او بيا اسانتيا ور باندې راغلې ده [يعنی دا د ژوند څرخ دئ چې ګرځی راګرځي!] نو بيا دغه کسان مونږ داسې ناڅاپه راونيول چې هيڅ پام يې نه ؤ او هلاك مو کړل او لمنځه لاړل!

قدرمنو دوستانو! دا ؤ د بشر يت په اوږده تاريخ کې د حق او باطل په منځ کې د اوږدې قصې يوه لنډه برخه چې الله تعالی مونږ ورڅخه په دې مبارکه سوره کې لنډ لنډ خبر کړي يو، ترڅو خپل ځانونه ښه ور باندي پؤ ګړو او د حق پلو يان سو او د تار يخ نه پند واخلو، نه دا چې مونږ د پرون ورځې هغه ترخه ازمايښتونه چې د زمونږ مشران ور باندي وازمايل سول؛ داسې هير کړو، لکه چې هيڅ څه شئ نه ول، هوا! يقينا لکه څنګه چې الله تعالی د قرآن کر يم په ځينو مبارکو آيتونو کې په وار وار سره فرمايلي دي چې انسان ډير ژر ازمايښتونه هيروي او د شکر و يستلو په ځای؛ ډير په تلوار سره د کبر، بغاوت، سرکښی، ظلم، او تيري ډګر ته وردانګي، او د الله ټولې لارښودنې او د پندونو نه ډکې قصې هيروي.

عزتمنو دوستانو! او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی همداسې ټول خلک د الله عذاب نه و يرې ته هڅولي دي او د خپل رب الله حکمونو سرکښيو نه يې کلک ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

[۹٦] او که چيرې د دغو کليو اوسيدونکو ايمان راوړئ وای او يوازې د الله بنده ګي يې کړي وای او د خپلو پيغمبرانو خبره يې منلې وای او د الله سزا نه يې ځانونه ساتلي وای، نو يقينا چې مونږ به پردوی باندې د اسمان او د ځمکې نه ډير نعمتونه راوورولي ول، خو دوی پيغمبران دروغژن وګڼل او ايمان يې رانوړ، نو بيا دوی مونږ په خپلو بدو کړنو باندې کلک را ونيول، يعنی دغو کافرانو ته الله تعالی کلکه سزا ورکړه.

[۹۷] او آيا د دغو کليو اوسيدونکي د دې نه په امن کې سول چې دوی

ته به د زمونږ سزا په شپه کې چې کله دوی په درانده خوب کې و یده وي راسي؟

[٩٨] او آیا دغه کلیوال د دی نه ډاډمن سول چې د زمونږ سزا به دوی ته غرمه په داسې حال کې راسي چې دوی به لوبې کړي؟ یعنی په کلکه مستۍ کې به لګیا وي.

[٩٩] او آیا دغه خلک د الله مکر او نیولو نه په امن کې دي؟ حال دا چې د الله عذاب او را نیولو نه هیڅ څوک د بایلونکي قوم نه پرته نه بې پروا کیږي، یعنی غفلت نکړي!

هو؛ درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د زمونږ پام خپلو لو یو قدرتونو ته را اړولئ دئ، ترڅو مونږ هیڅ کله د الله عذاب او نیولو نه غافل او بې پروا نسو، او ښایي د الله تعالی لویې پیرزو یې په خپلو ځانو باندې تل په پام کې ولرو او شکریې و باسو، ترڅو د الله قهر او غوصې نه په امن او ډاډ کې وو، او الله مونږ په خپل فضل سره وساتي!

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی پرخپلو ګواښونو ټینګار کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[١٠٠] او آیا دغو کسانوته چې دوی ته ځمکه د پخوانیو ولسونو نه په میراث پاتې ده او دوی یې په مینه کې میشت سوي دي؛ آیا دوی ته لا تر اوسه نده روښانه سوې؟ [یعنی آیا دوی لاتر اوسه نه پوهیږي هغه پخواني کسان چې د خپل رب ورکړو شکریې ونه و یست ټول هلاك سول؟ خو دوی بیا هم د هغوی پیښې او تقلید کړي او ورڅخه پند نه اخلي!] او که مونږ وغواړو دوی به په خپلو ګناه وو کلک را ونیسو او زړونه بې ټاپه کړو، نو بیا به دوی هیڅ شئ نه اوري، یعنی د هر ډول وعظ او نصیحت اور یدلو نه به دوی محروم سي!

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې بیا الله تعالی پیغمبرﷺ او د هغه امت ته په ټینګار سره و یلي دي چې د پخوانیو ولسونو سرکښۍ قصو نه

همداسې تاسې مونږ خبر کړی، ترڅو ورڅخه پند واخلی، او فرمايلي دي:

{ د پخونيو ولسونو قصو مقصد پند اخستل دي}

﴿تِلْكَ ٱلْقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآئِهَا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟ بِمَا كَذَّبُوا۟ مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٠١﴾ وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم مِّنْ عَهْدٍ ۖ وَإِن وَجَدْنَآ أَكْثَرَهُمْ لَفَٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾﴾

[١٠١] ای پیغمبره! [د دغو پورته یاد ســوو کلیو خلکو د نوح، هود، صـالح، لوط او شـعیب قومونو] قصـې مونږ تاته په دې مقصـد کړو چې ترڅو ته پؤ سي؛ دوی ته يې خپل پیغمبران د معجزو او ښکاره نښـو سـره راغلل، خو دوی ونه منل، ځکه دوی پردغو پیغمبرانو باندې چې مخکې يې تکذیب کړي ول؛ د ایمان راوړو توفیق نه درلود، او د کافرانو زړونه الله همداسـې ټاپه کوي، یعنی د حق منلو توفیق نه ورکوي، ځکه الله په خپل ازلي علم سـره پوهیږي چې دغه کســان حق ته د هدایت لائق نه دي، لکه څنګه چې يې په ور پسې مبارك آیت کې دا حقیقت یاد کړئ، فرمايلي دي:

[١٠٢] هو! د دغو خلکو ډیرو کســانو ســره مونږ کم تعهد او امانت بیانمود، بلکې د دوی نه ډیر مونږ فاســقان بیاموندل او د الله اطاعت او بنده ګۍ نه وتلي ول!

ګرانو عز یزانو! دا ؤ د ډیرو هغو پخوانیو امتونو فکري، روحي، نفسي او ټولنیز بد حالت چې هغه مونږ ته الله تعالی د پند اخســتلو په مقصــد یاد کړئ او بیان کړئ دئ نه دا چې هغه خوســې قصــې دي او مونږ يې په خپلو مجلســونو کې د یو بل ســره لولو! نو ښــایي چې ورڅخه عبرت واخلو او په خپل ایمان باندې چې هغه د زمونږ تعهد او د خپل رب ســره هوډ دئ کلک ودر یږو، نه لکه هغه تعهد ماتونکي منافقان چې په خپلو هوډونو او تعهداتو باندې ولاړ نه ول.

{موسی عليه السلام الله فرعون ته د معجزو سره استازئ غوره که}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې د موسی عليه السلام پیغمبرۍ قصه فرعون ته الله تعالی ښه اوږده مونږ ته یاده کړې ده، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَظَلَمُوا۟ بِهَا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٠٣﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرْعَوْنُ إِنِّى رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ ۚ قَدْ جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِىَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾ قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِـَٔايَةٍ فَأْتِ بِهَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿١٠٧﴾ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِىَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٠٨﴾﴾

[١٠٣] او بیا د دغو پیغمبرانو نه وروسته موسی مونږ د خپلو معجزو سره فرعون او د هغه قوم مشرانوته را ولیږه، نو بیا فرعونیان [د موسی معجزو سره کینو پسې واخستل] او ظلم یې په وکه [یعنی د الله تعالی معجزو نه موسی عليه السلام سره منکر سول] نو ای پیغمبره! وګوره چې د مفسدانو را تلونکې څنګه سؤ؟ یعنی دا چې فرعون او د هغه لښکر الله تعالی د موسی په مخکې چې په سترګو یې لیدل په سمندر کې ډوب او غرق کړل، او دا ؤ د مفسدانو تور برخلیک او رسوا سوې څیره!

[١٠٤-١٠٥] [او بیا موسی فرعون باندې غږ وکه او ورته یې] وو یل: زه د ټول عالم پالونکي څښتن الله لخوا تاسې ته را لیږل سوئ استازئ یم! او پرما باندې د الله حق دئ چې زه ور پسې د ر یښتیانه پرته بل هیڅ څه ونه وایم، او یقینا چې زه د ستاسې پالونکي څښتن الله لخوا د معجزو سره تاسې ته راغلئ یم، نو ای فرعونه! بني اسرائیل زما سره ولیږه! یعنی دوی نور پر یږده چې زما سره بیت المقدس ته لاړ سي، ځکه بني اسرائیل فرعون د مر یانو غوندې خپل خدمت ته برمته کړي ول.

[١٠٦] [نو بیا فرعون په ځواب کې ورته] وو یل: که تا ای موسی! د

ځان سره معجزه راوړې وي، نو که بيا ته د ر ښتيا و يونکو نه وي؛ دغه معجزه راوړه؟ يعنی خپله معجز ده چې هغه د ستا پيغمبرۍ تصديق کوي رابنکاره کړه، ترڅو مونږ د ستا پيغمبرۍ ومنو.

[١٠٧-١٠٨] نو بيا موسی خپله لکړه پرځمکه وغورځوله، نو هغه ښکاره ښامار ؤ، يعنی لکه ژوندئ ښامار ټولو خلکو په سترګو وليده، او بيايې خپل لاس د لستوڼي نه راوايست، نو ګوري چې هغه ليدونکوته تک سپين ځليږي! يعنی همداسې موسی عليه السلام د الله تعالی معجزې فرعونيانوته وښودلې، خو دوی کينو پسې واخستل تسليم نسول، ترڅو هلاک سول.

{د فرعونيانو توطئې موسی عليه السلام پرورانديې رسوا سوې}

او بيا د فرعون قوم مشرانو موسی عليه السلام په کوډو تورن که او و يو يل:

﴿قَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٞ ١٠٩ يُرِيدُ أَن يُخۡرِجَكُم مِّنۡ أَرۡضِكُمۡۖ فَمَاذَا تَأۡمُرُونَ ١١٠ قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ وَأَرۡسِلۡ فِي ٱلۡمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ١١١ يَأۡتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٖ ١١٢﴾

[١٠٩] د فرعون قوم مشرانو [په خپل منځ کې سره] وو يل: دا خو په يقين سره ښه پوخ کوډګر دئ، يعنی موسی [العياذ بالله] يو څه د خلکو په سترګو کې په بله بڼه کې ښيي، حال دا چې هغه هيڅ حقيقت نه لري.

[١١٠] [او بيا فرعونيانو ز ياته کړه و يو يل:] موسی غواړي چې تاسې ای خلکو! د خپلې خاورې (مينې او ټاټوبي) نه و باسي [نو بيا فرعون د خپل قوم مشرانو نه و پوښتل چې] نو تاسې څه حکم کړئ او څه وايي؟

[١١١-١١٢] د فرعون قوم مشرانو په ځواب کې وو يل: موسی او ورور يې (هارون) وزنډۀ او ښارو او کليوته را غونډونکي استازي وليږه، ترڅو هر ښه پوخ کوډګر تاته راوړي، يعنی ترڅو چې د موسی سره سيالي وکړي.

{د فرعون کوډګرد موسی معجزوپرورانديې تسليم سول}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د فرعون کوډګرو د ماتې

بيان په دې سيالۍ کې مونږ ته ياد کړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرۡعَوۡنَ قَالُوٓاْ إِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا إِن كُنَّا نَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ١١٣ قَالَ نَعَمۡ وَإِنَّكُمۡ لَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ١١٤ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحۡنُ ٱلۡمُلۡقِينَ ١١٥ قَالَ أَلۡقُواْۖ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ سَحَرُوٓاْ أَعۡيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسۡتَرۡهَبُوهُمۡ وَجَآءُو بِسِحۡرٍ عَظِيمٖ ١١٦ *وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ١١٧ فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١١٨ فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ١١٩ وَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ١٢٠ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٢١ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ١٢٢ قَالَ فِرۡعَوۡنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكۡرٞ مَّكَرۡتُمُوهُ فِي ٱلۡمَدِينَةِ لِتُخۡرِجُواْ مِنۡهَآ أَهۡلَهَاۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ١٢٣ لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ ١٢٤ قَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ١٢٥ وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنۡ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتۡنَاۚ رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَتَوَفَّنَا مُسۡلِمِينَ ١٢٦﴾

[١١٣-١١٤] او بيا د فرعون ساحران او کوډګر راغلل او فرعون ته يې وو يل: که مونږ زورور سوو [يعنې وړونکي سوو] نو مونږ ته به انعام او ډالۍ راکوي! [نو فرعون په ځواب کې ورته] وو يل: هو! [که تاسې زورور او بر يالي سوی؛ تاسې ته به جائزه درکړم] او تاسې به ماته د ډيرو لنډ کسانو نه وی.

[١١٥] نو بيا کوډګرو پرموسی غږ وکه او و يو يل: ای موسی! يا به ته [خپله لکړه لمړئ] پر ځمکه غورځوي او يا به مونږ دا راسره توکو او سامان غورځونکي وو؟

[١١٦] موسی ورته وو يل: تاسې يې لمړئ وغورځوی، نو بيا چې کله د فرعون کوډګرو [خپل پړي او لکړې] پرځمکه راواچولې، نو د خلکو په

ستركو يې كوډې وكړې او خلک يې وو يرول او يو لوی سحر يا كوډې يې راوړې، يعنی خپلې كوډې يې د خلكو په مخ كې نندارې ته وښودلې.

[١١٧-١١٨] نو بيا مونږ موسی ته وحيه وكړه [يعنی هغه ته مونږ پټ وو يل:] اوس ته خپله لكړه پرځمكه را واچوۀ، نو بيا د موسی لكړې [د فرعون كوډګرو] د دروغو ښامارانو په خوله كې را دننه كړل، نو حق ثابت او څرګند سه او د فرعون كوډګرو چې څه كړل؛ لمنځه لاړل او شند سول.

[١١٩] نو بيا هلته د فرعونيانو ټولو كوډګرو كلكه ماته وخوړله او شرميدلي په شا وګرځيدل.

[١٢٠-١٢٢] نو بيا د فرعون كوډګر پرمخې الله ته په سجده ولو يدل او و يو يل: مونږ د ټول عالم په پالونكي خدای الله باندې چې هغه د موسی او د هارون خدای دئ ايمان راوړ.

[١٢٣-١٢٤] نو بيا فرعون [پردوی كلک په غوصه سه] او و يو يل: آيا تاسې مخكې لدې چې زه درته اجازه دركړم؛ پرموسی ايمان راوړ؟ نو يقينا چې دا د ستاسې يو چل او مكر ۀ، او هغه تاسې په خپل ښار كې سره غوټه كړئ او جوړ كړئ ۀ، ترڅو د دې ښار خلک و باسی، نو تاسې به ای كوډګرو! ډير ژر پۀ سی [چې څومره سزا دركول كيږي؟] او د ستاسې لاسو نه او پښې به چپه او راسته سره پر يكړم او بيا به تاسې ټول په دار كې را زوند كړم او پكې به مو را وژړوم!

[١٢٥-١٢٦] او كوډګرو فرعون ته په ځواب كې وو يل: مونږ خپل خدای ته ورګرځيدونكي يو! او ته ای فرعونه! د زمونږ نه لدې كبله غچ او انتقام اخلي چې مونږ د خپل رب پر معجزو باندې چې كله هغه مونږ ته راغلې ايمان راوړ [يعنی هغه مونږ ومنلې، ځكه هغه حق وي] نو بيا دغو مومنو كوډګرو دعاء وكړه او و يو يل: ای د زمونږ لو يه خدايه! مونږ ته صبر او زغم راكړه او مونږ د دنيا نه مسلمانان بوزه.

{د فرعون مشاورينو د هغه امپراتوري سمندر کې لاهو کړه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د فرعون وز يرانو هغه سپکې مشورې يادې کړې دي چې د فرعون امپراتوري يې په سمندر کې غرقه او ډوبه کړه او دوی يې هلاک کړل، او فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوۡمَهُۥ لِيُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَنَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡ وَإِنَّا فَوۡقَهُمۡ قَٰهِرُونَ ١٢٧ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْۖ إِنَّ ٱلۡأَرۡضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ١٢٨ قَالُوٓاْ أُوذِينَا مِن قَبۡلِ أَن تَأۡتِيَنَا وَمِنۢ بَعۡدِ مَا جِئۡتَنَاۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُهۡلِكَ عَدُوَّكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ١٢٩﴾

[١٢٧] او د فرعون قوم مشرانو هغه ته وو يل: آيا ته ای فرعونه! موسى او د هغه قوم (بني اسرائيل) پر يږدې چې په ځمکه کې ورانۍ وکړي، او تا او د ستا خدايان پر يږدي؟ [نو بيا فرعون په ځواب کې ورته] وو يل: د دوی نار ينه زامن به مړه کړو او ښځې يې خدمت ته ژوندۍ پر يږدو او مونږ پردوی باندې زورور يو.

[١٢٨] نو بيا موسى خپل قوم ته وو يل: د الله نه مرسته وغواړۍ او صبر وکړۍ [يعنى انديښنه مکړۍ] ځکه يقينا چې ځمکه د الله ده او الله چې هغه هرچاته د خپلو بنده ګانو نه وغواري؛ ورکوي يې، او راتلونکې د متقيانو ده، يعنى راتلونکې بر يا او نيکمرغي يقينا د متقيانو ده! ځکه دوی د الله نه و ير يږي او ځانونه د هغه سزا نه په اطا عت سره ساتي.

[١٢٩] [نو بيا بني اسرائيلو د موسى نه په ګيلې کړو سره وو يل: مونږ مخکې لدې چې ته را ته را سې وزورول سوو، او هم چې کله ته بيا وروسته راغلې؛ مونږ وزورول سوو! نو بيا موسى دوی ته په ځواب کې وو يل: کيدای سي چې د ستاسې رب الله ستاسې دښمن (فرعون) هلاک کړي او

تاسي په ځمکه کې د هغه پرځای کینوي او واکمن سی، نو بیا به الله ګوري چې تاسې څه کړی؟ یعنی دا چې آیا تاسې ښه کړی او که بد کړی!

{الله خپل حجت پر فرعونیانو پوره که خو دوی حق ونه مانه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی فرمایلي دي چې د زمونږ مقصد د دې ټولو ازمایښتونو نه حق منلوته د فرعون سمیدل ول، خو فرعونیانو پند وانخست، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ أَخَذْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ١٣٠ فَإِذَا جَآءَتْهُمُ ٱلْحَسَنَةُ قَالُوا۟ لَنَا هَٰذِهِۦ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا۟ بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ ۗ أَلَآ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمْ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ١٣١ وَقَالُوا۟ مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِۦ مِنْ ءَايَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ١٣٢ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلْجَرَادَ وَٱلْقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٍ مُّفَصَّلَٰتٍ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ١٣٣ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ ٱلرِّجْزُ قَالُوا۟ يَٰمُوسَى ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ ۖ لَئِن كَشَفْتَ عَنَّا ٱلرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ١٣٤ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ ٱلرِّجْزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ١٣٥ فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُوا۟ عَنْهَا غَٰفِلِينَ ١٣٦﴾

[١٣٠] او یقینا چې د فرعون کورنۍ او قوم بیا مونږ د قحطۍ او د میوو کمښت سره مخامخ کړل، ترڅو پند وا خلي او الله ته وروګرځیږي او تو به و باسي، یعنی دا چې الله تعالی د اصلاح او حق ته د راګرځیدو په مقصد سرکښو کسانوته کلکه سزا ورکوي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی همداسې پرفرعونیانو باندې خپل لوی لوی نعمتونه او پر وړاندې یې د دوی سرکښي او ناشکري

یاده کړې ده، او فرمایلي دي:

[١٣١] نو بیا چې به کله فرعونیانو ته خیر راغئ [یعنی خوره وره روزي به ورته راغله] و یل ېې: دا خو د زمونږ حق دئ، خو کله چې به ورته مصیبت او سختي ورسیده، نو بیا ېې پر موسی او څوک چې ورسره ول؛ بد شامت اړا ؤ [حال دا چې د دوی دا بد بخت الله په تقدیر کې ورته لیکلئ ؤ، او د روزي لږوالئ او تنګي او یا یې ډیروالئ] د الله لخوا ؤ، خو د موسی قوم بني اسرائیلو نه ډیر کسان په دې نه پوهیږي چې هرڅه د دوی رب الله له پلوه ورته مقرر دي، او د الله تقدیري یر یکړې نه پرته هیڅ څه نکیږي!

درندو دوستانو! الله تعالی په دې مبارك آیت کې د زمونږ پام په قضاء او قدر باندې د ایمان راوړو اهمیت ته را اړولئ دئ، نو ښایي چې مومن بنده په تقدیر باندې کلک ایمان ولري او د اسبابو کارولو نه وروسته چې هغه هم تقدیر پورې ترلئ حکم دئ؛ ځان پرالله تعالی وسپاري!

[١٣٢] او بیا فرعونیانو موسی ته وو یل: هرڅومره معجزې چې ته مونږ ته راوړې او په هغو سره پرمونږ باندې کوډې وکړې، خو مونږ پرتا باندې باور نکړو او ایمان نه راوړو!

[١٣٣] نو بیا مونږ پردوی د سیلآب طوفان، ملخ او د میوو جنجي اوښکانبې را ولیږلي، او د و ینو و یالې پر دوی باندې مونږ راخوسې کړې [یعنی د الله تعالی دغسې عذابونو د دوی هرڅه لمنځه یوړل] او هغه ټول د الله د قدرتونو روښانه نښې وي، خو فرعونیانو کبر وکه [یعنی د الله پیغمبر منلو نه یې سرغړونه وکړه، او هغه یې ونه مانه، ځکه چې] دوی یو مجرم قوم ؤ، یعنی د حق نه مخ اړونکئ او باطل پالونکئ قوم ؤ!

[١٣٤] او کله چې د الله عذاب پرفرعونیانو باندې راپر یوت [نو بیا دوی پرموسی غږ وکه] او و یو یل: ای موسی! هغه وعدې چې د ستا رب الله درسره کړې دي، نو ته مونږ ته دعاء وکړه او د خپل رب نه وغواړه [چې دا عذاب د زمونږ نه لرې کړي] او که دغه عذاب تا د زمونږ نه لرې که، نو بیا به مونږ پرتا باور وکړو او ایمان به راوړو او بني اسرائیل به ستا

سره ولیږو! یعنی ترڅو ډاډه او مطمئن سې.

[١٣٥] نو بیا چې کله دا عذاب مونږ د دوی نه وروسته له هغې چې تاکل سوې نیټه یې پوره سؤ؛ لرې که، نو بیا فرعونیان بیرته په شا واوښتل، یعنی خپل تعهد او هوکړه یې ماته کړه او همداسې کافران پاتې سول او ایمان رانه ووړ او د موسی پیغمبري یې ونه منله!

[١٣٦] نو بیا مونږ د دوی نه غچ او انتقام واخست او دوی مونږ په په سمندر کې لاهو او ډوب کړل، ځکه دوی د زمونږ معجزې دروغ و بللې او ورڅخه بې پروا، غافل او منکر سول.

قدرمنو عز یزانو! دا وه د فرعون او د هغه قوم د کبرجن در یځ او چلند اوږده قصه موسیعليه السلام سره چې هغه مونږ ته الله تعالی یاده کړې ده، او یقیناچې فرعونیانو موسیعليه السلام او قوم یې بني اسرائیل ښه ډیر وزورول، خو کله چې پر فرعون او پر قوم باندې یې د الله تعالی لخوا سختي راغله، نو بیایې د موسیعليه السلام نه وغوښتل چې الله ته دعاء وکړي، ترڅو الله تعالی خپل عذاب د دوی نه لرې کړي، او بیا به دوی ایمان راوړي او د موسی قوم بني اسرائیلو زورولو نه به لاس واخلي، خو بیا چې کله د الله عذاب د فرعون قوم نه لرې سه؛ دوی بیرته د خپلې وعدې او هوکړې نه په شا سول او ایمان یې رانوړ، نو بیا هغه وه چې الله تعالی دوی ته خپله کلکه سزا ورکړه، او دوی یې په سمندر کې داسې غرق او ډوب کړل چې بیرته یې د راوتلو وسعه نه درلوده، او موسی او قوم یې (بني اسرائیل) نور الله تعالی د فرعونیانو ګواښونو او زورولو نه خلاص کړل.

هو! ګرانو دوستانو! دغه قصه او د هغې نه وړاندې د نورو پیغمبرانو قصې د خپلو کافرانو ولسونو سره چې دوی ټول د پیغمبرانو نه منکر سول او بیا الله تعالی دوی ته کلکې سزاګانې ورکړې او هلاك او تباه یې کړل؛ نو دغه قصې ټولې زمونږ لپاره د لوی عبرت او پند اخستلو قصې دي او ښایي چې په ډیر ژور فکر سره هغه تل ولولو او ورڅخه ګټه واخلو او د کافرانو پیښې او تقلید ونکړو، نو ځکه دا قصې مونږ ته الله تعالی په

وار وار سره په پاک قرآن کې يادې کړې دي، او تلاوت او لوستلوته يې په ژور فکر کړو سره هڅولي او را بللي يو!

{د ځمکې واکمني الله هغه چا ته ميراث کړه چې زور يدلی ول}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خپلې پيرزو ينې او نعمتونه پر بني اسرائيلو باندې رايادې کړي دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَأَوۡرَثۡنَا ٱلۡقَوۡمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۖ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلۡحُسۡنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْۖ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ يَصۡنَعُ فِرۡعَوۡنُ وَقَوۡمُهُۥ وَمَا كَانُواْ يَعۡرِشُونَ ١٣٧ وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصۡنَامٖ لَّهُمۡۚ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞۚ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ١٣٨ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٣٩ قَالَ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡغِيكُمۡ إِلَٰهٗا وَهُوَ فَضَّلَكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٤٠﴾

[١٣٧] او بيا هغه قوم ته [يعنى بني اسرائيلوته] چې دوی يو لاس لاندې خوار او ضعيف قوم ؤ؛ مونږ د هغې خاورې ختيځ او لوديځ په ميراث پر ينښود چې پکې مونږ د هرڅه برکت اچولئ ؤ [يعنى د شام او د مصر په شرقي او غربي ډاکو (بيت المقدس) کې دوی مونږ ميشت کړل] او ای پيغمبره! د ستا پالونکي لوی ځښتن هغه ښکلي و ينا [يعنى وعده چې د بې وزرو کسانو واکمني ؤ؛ پر بني اسرائيلو پوره سؤ] ځکه دوی صبر وکه [او ستونزې يې وزغملې] او د فرعون او د هغه قوم ټول هغه برجونه او مانۍ چې دوی وداني کړې وې؛ مونږ ړنګې کړې.

[١٣٨] او بني اسرائيل مونږ د سره سمندرکې نه تير کړل او ورڅخه مو پورې ايستل، نو بيا دوی په لار کې پر داسې خلکو باندې تير سول چې هغوی د خپلو بتانو بنده کې او عبادت کا ؤ او ورته په اعتکاف ناست ول، نو بني اسرائيلو بيا موسى ته وو يل: ای موسى! ته مونږ ته داسې خدای

جوړه کړه، لکه دغه خلک چې خدایان لري! نو موسـی ورته په ځواب کې وو یل: یقینا چې تاسې ډیر ناپوه خلک یاستی، یعنی په دې نه پوهیږی چې د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسته!

[۱۳۹] هو! یقینا چې د دغو کسانو کار رټل سوئ دئ او هغه د بیزاری وړ دئ، او دوی چې څه کړي هغه باطل دي، یعنی د بتانو عبادت او هغه د الله سره ګډول ناروا دي، ځکه هغه ناحقه خدایان دي.

[۱٤۰] او موسی دوی ته وو یل: ای بني اسرائیلو! آیا د الله نه پرته بل خدای درته وغواړم؟ حال دا چې تاسې الله پرنورو خلکو باندې غوره کړي یاستی او لوی فضیلت یې درکړئ دئ! یعنی تاسې د الله نه پرته بل خدای نه لری او نه ښایي چې بل څوک ځان ته خدای ونیسی!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې مونږ د خپل لوی احسان نه پر بني اسرائیلو باندې خبر کړي یو او هغه دا چې کله دوی الله تعالی د فرعون قوم مزدوری او غلامی نه خلاص کړل، نو بیا بني اسرائیل د الله تعالی د دې لوی نعمت په ارزښـت پوه نسـول او د نعمت کفران یې وکه او د موسـی علیه السلام نه یې وغوښـتل چې دوی ته د بتانو نه خدایان جوړ کړي، ترڅو د هغوی بنده ګي وکړي، نو بیا موسی علیه السلام دوی جاهلان و بلل او د بتانو عبادت یې کلک وغانده، ځکه د الله نه پرته بل هیڅ څوک په حق سـره معبود ندئ، نو ښـایي چې مونږ د الله تعالی د ورکړو او د لو یو نعمتونو په قدر پوه سو او په پوره اخلاص سره د الله عبادت او بنده ګي وکړو او د هر ډول شـرك نه او د الله تعالی حکمونو مخالفت نه؛ خپل ځانونه کلک وساتو او د کافرانو پیښې او تقلید ونکړو.

{د فرعونیانو ظلمونو نه د بني اسرائیلو نجات ازمایښت ؤ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی همداسې د موسی علیه السلام او د بني اسرائیلو د قصې په بیان او یادونه کې فرمایلي دي:

﴿وَإِذۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ يُقَتِّلُونَ

أَبۡنَآءَهُمۡ وَيَسۡتَحۡيُۥنَ نِسَآءَهُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ﴿١٤١﴾ *وَوَٰعَدۡنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيۡلَةٗ وَأَتۡمَمۡنَٰهَا بِعَشۡرٖ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرۡبَعِينَ لَيۡلَةٗۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخۡلُفۡنِي فِي قَوۡمِي وَأَصۡلِحۡ وَلَا تَتَّبِعۡ سَبِيلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿١٤٢﴾ وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِي وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡجَبَلِ فَإِنِ ٱسۡتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوۡفَ تَرَىٰنِيۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلۡجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكّٗا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقٗاۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٤٣﴾ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي وَبِكَلَٰمِي فَخُذۡ مَآ ءَاتَيۡتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَكَتَبۡنَا لَهُۥ فِي ٱلۡأَلۡوَاحِ مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡعِظَةٗ وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ فَخُذۡهَا بِقُوَّةٖ وَأۡمُرۡ قَوۡمَكَ يَأۡخُذُواْ بِأَحۡسَنِهَاۚ سَأُوْرِيكُمۡ دَارَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿١٤٥﴾ *

[١٤١] ای بني اسرائيلو! [او د زمونږ هغه نعمتونه پرخپلو ځانو باندې راپه یاد کړی] کله چې تاسې مونږ د فرعون او د هغه قوم ځپلو نه خلاص کړی، او فرعونیانو تاسې ته سخته سزا درکوله، د ستاسې زامن یې وژل او ښځې یې د خدمت لپاره ژوندي پر ېښودلي، او په دې کې ستاسې لپاره[ای بني اسرائیلو] لوی ازمایښت ؤ، یعنی دا چې آیا تاسې به اوس د الله د دې لوی نعمت شکر و باسی او حق ېې پرځای کړی کنه؟

[١٤٢] او د موسی سره مونږ دیرس شپې د خبرو [یعنی د مناجات] وعده وکړه او بیا هغه مونږ په لسو نورو شپو سره پوره کړې، نو د موسی مناجات خپل رب سره؛ پوره څلو یښت شپې سوې [او کله چې موسی علیه السلام د الله مناجات ته خوځیده] نو خپل ورور هارون ته یې وو یل: ته د زما پرځای زما د ولس چارې ښې و پاله او سمبال یې کړه، او کوره چې د مفسدانو پر لار لاړ نسې، یعنی بني اسرائیل د ورانۍ ژورې کندې ته لاهو نکړي او د کوانښ سره یې مخامخ نکړي!

[۱٤۳] او بیا چې کله موسی د زمونږ ټاکل شوي ځای ته راغئ او پالونکي ځښتن يې ورسره په مناجات کې خبرې وکړې، نو موسی خپل رب الله ته وو يل: ای لو يه ر به! ځان راوښيه [يعنی ځان ده راښکاره کړه] ترڅو درته وګورم! الله ورته وو يل: ای موسی! ته ما نسې ليدلای، خو هغه غره ته وګوره، نو که غر پرځپل ځای ټينګ پاتې سه، نو کيدای سي چې ته ما وو يني، نو بيا چې کله د موسی ځښتن الله هغه غره ته وځليده [يعنی وړانګې يې ورباندې راپر يوتلې] غر خاورې ايرې سه او موسی بې اوښه سوئ ولو يده، او بيا چې کله موسی په اوښ راغئ و يو يل: ای لو يه ر به! ته د هرڅه نه پاک يې [يعنی د ستا مقام ډير لوړ دئ او هيڅ ډول کمښت او عيب په تاکې نسته] نو ما تاته تو به وايستله او تاته دروګرځيدلم [يعنی د خپلې هغې غوښتنې نه چې تا په دنيا کې وو ينم پښيمان يم] او زه پر تا باندې ای لو يه رب! د لمړ يو مومنانو نه يم، يعنی زه د ستا پر لو يتيا، عظمت او د هر ډول کمښتونو نه په پاکۍ سره پوخ باور او يقين لرم.

[۱٤٤] نو بيا موسی ته الله وو يل: يقينا چې ته ما پر نورو خلکو باندې خپلې پيغمبرۍ او خپلو خبرو لپاره غوره او خوښ کړې، نو هغه پيغام چې ما تاته درکړئ دئ؛ هغه کلک ونيسه او د شکر کونکو نه سه، يعنی د الله د دغې لويې پيرزو يې شکر و باسه او پيغام يې خپل ولس (بني اسرائيلو) ته ورسوئ، يعنی ترڅو دوی خپل رب په حق سره و پيژني او بنده ګي يې وکړي او د سرکښۍ او شرک نه ځانونه وساتي!

[۱٤٥] او موسی ته په ورکړل سوو پاڼو(تورات) کې مونږ د هرڅه په باره کې يوه ګتوره خبره، موعظه او د هرڅه پوره بيان ليکلئ ورکه، نو ته ای موسی! هغه کلک ونيسه او خپل ولس ته ده حکم او سپارښت وکړه چې د دغو لارښودنو او حکمونونه غوره اوښه حکمونه او لارښودني کلکې ونيسي [يعنی عمل ور باندې وکړي] او بيا به هغه کسان دروښيم چې دوی د الله اطاعت نه وتلي او فاسقان دي، يعنی دا چې د هغوی ځای په آخرت کې د دوزخ اور دئ!

{الله کبرجنو کسانو ته د خپلو معجزو لیدلو توفیق نه ورکوي}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې هغه لوی حقیقت یاد کړئ دئ چې الله کبرجنو او سرکښو کسانو ته؛ هیڅ کله د خپلو قدرتونو نښانو لیدلو او منلو توفیق نه ورکوي، او فرمایلی دي:

﴿سَأَصۡرِفُ عَنۡ ءَايَٰتِيَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَإِن يَرَوۡاْ كُلَّ ءَايَةٖ لَّا يُؤۡمِنُواْ بِهَا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلرُّشۡدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلۡغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ١٤٦ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡۚ هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٤٧﴾

[١٤٦] هو! هغه کسان چې په ځمکه کې د حق نه پرته کبر او زورواکي کړي [یعنی خپل ځانونه د حق منلو نه غټ او لوړ بولي] دوی به د زما معجزو او د قدرتونو لیدلو او پوهیدلو نه واړوم، نو که دوی د زما قدرتونو نښانو نه هره نښه هم وو یې؛ ور باندې ایمان نه راوړي، او که د حق سمه لار په سترګو وو یې؛ هغه نه خوښوي او پر هغه نه ځي، خو که دوی کږه لار وو یې؛ هغه خوښوي او ور باندې ځي، او دا ځکه چې دوی د زمونږ دلیلونه او د قدرتونو نښې او معجزې دروغ و بللې او پروایې ونکړه او ورڅخه غافل سول، یعنی الله تعالی دغه کسان د خپلې مرستې او توفیق نه محروم کړل، نو پر سمه لار چې د حق لار ده؛ تلای نسي!

[١٤٧] او هغو کسانو چې د زمونږ کتاب آیتونه او معجزې او د آخرت ورځې ملاقات دروغ وګڼل؛ د دوی تیرې سوې نښې کړنې او عملونه؛ ټول ضائع سول، نو آیا دوی ته د آخرت په ورځ د دوی د بدو کړنو د جزا نه پرته بله سزا ورکول کیږي؟ ځواب: نا! بلکې د دغسې کسانو سزا د دوزخ اور دئ، یعنی په جهنم کې به دوی تل کړول کیږي او سوز یږي!

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونو کې الله خپل ټول بنده ګان د

الله تعالى په عظمت او لوی مقام باندې د کبر کړو او د حق منلو نه په سرغړونې سره کلک ګوابنلي دي، او دوی ته يې و يلي دي چې د دغسې کبرجنو کسانو پخوانۍ ټولې ښې کړنې ضائع کيږي، ځکه دوی حق نه مني او د قيامت په ورځ د الله تعالى په حضور کې در ښدل دروغ بولي، او همدارنګه الله تعالى دغه کسان د خپل تقديري علم سره سم؛ د حق په سمه لار باندې د تګ نه محروموي او توفيق نه ورکوي چې په هغه لارې سي.

{بني اسرائيلو د سامري خوسئ خداى ونيؤ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ د موسى عليه السلام د قوم بني اسرائيلو د هغې لويې ناشکرۍ نه خبر کړي يو چې کله دوی د فرعونيانو مريي توب نه الله تعالى خلاص کړل، نو بيا دوی د هغې نه وروسته د بتانو عبادت ته مخه کړه او د سامري خوسئ يې ځانوته خداى ونيؤ، او د دغې قصې ښه اوږد او پوره بيان د طه په مبارکه سوره کې راغلئ او بيان سوئ دئ، او دلته يې په بيان کې الله تعالى لنډ داسې فرمايلي دي:

﴿وَٱتَّخَذَ قَوْمُ مُوسَىٰ مِنۢ بَعْدِهِۦ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ خُوَارٌ
أَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّهُۥ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيهِمْ سَبِيلًا ٱتَّخَذُوهُ وَكَانُوا۟
ظَٰلِمِينَ ﴿١٤٨﴾ وَلَمَّا سُقِطَ فِىٓ أَيْدِيهِمْ وَرَأَوْا۟ أَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوا۟ قَالُوا۟ لَئِن
لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾ وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ
إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًا قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِى مِنۢ بَعْدِىٓ ۖ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ ۖ
وَأَلْقَى ٱلْأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيْهِ ۚ قَالَ ٱبْنَ أُمَّ إِنَّ ٱلْقَوْمَ
ٱسْتَضْعَفُونِى وَكَادُوا۟ يَقْتُلُونَنِى فَلَا تُشْمِتْ بِىَ ٱلْأَعْدَآءَ وَلَا تَجْعَلْنِى مَعَ
ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى وَلِأَخِى وَأَدْخِلْنَا فِى رَحْمَتِكَ ۖ وَأَنتَ أَرْحَمُ
ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٥١﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِى
ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُفْتَرِينَ ﴿١٥٢﴾ وَٱلَّذِينَ عَمِلُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ

تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِهَا وَءَامَنُوٓا۟ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٥٣﴾

[١٤٨] او د موسى قوم بنى اسرائيلو موسى نه وروسته [چې كله موسي عليه السلام د الله سره مناجات ته لاړه] د خپلو ګاڼو نه د خوسي داسې كالبوت او مجسمه جوړه كړه چې خوره هاريې خوت او رمبړې وهلې، نو بيا هغه دوى ځانوته خداى ونيؤ، نو آيا بني اسرائيلو ونه ليدل چې دا كالبوت خو د دوى سره خبرې نكړي او نه ورته كمه لار وربښي؟ نو دوى ظالمان ول، يعنى دا ځكه چې بني اسرائيلو د سامري خوسي كالبوت خپلو ځانوته خداى وني ؤ او د خوسي عبادت يې پيل كه او دا كار د الله تعالى پرخدايي باندې د دوى بښكاره تيرئ ؤ.

[١٤٩] او بيا چې كله دا د خوسي بې روحه كالبوت د دوى په لاسونو كې پرمخې راولو يده [نو بيا بني إسرائيل پرخپلو كړنو پښيمانه سول] او پؤ سول چې دوى سمه لار وركه كړي ده [نو بيا يې الله ته په زارى سول] وو يل: كه ته اى د زمونږ پالونكئ څښتنه پرمونږ ونه رحميږي او مونږ ونه بښي، نو مونږ به يقينا د ز يانمنو نه وو، او مونږ به كلك تاوان كړئ وي، يعنى هرڅه به مونږ بايللي وي او د لاس نه به مو وركړي وي.

هو! ګرانو دوستانو! كله چې يو ګناه كړونكئ انسان پرخپله ګناه پوه سي، نو ورته بښايي چې ژر تو به و باسي او پر ګناه او تيروتنه پښيمانه سي او بښنه وغواړي، ځكه الله تعالى لوى بښونكئ او بښه مهر بان ذات دئ.

[١٥٠] او بيا چې كله موسى [د الله تعالى سره مناجات نه بيرته خپل قوم ته راورګرځيده؛ پوه سه چې بني اسرائيلو د خوسي عبادت كړئ دئ] نو ډير خفه او په غوصه سه او و يو يل: اى قومه! تاسې د زمانه وروسته ډير بد كړي دي، او آيا تاسې د خپل رب حكم ته [چې هغه د زما مړ ينه ده] ډير ژر تلوار وكه؟ او بيا موسى د تورات لوحې پرځمكه وغورځولې او خپل ورور (هارون عليه السلام) يې د سر ايښتو نه را وني ؤ او ځان ته يې راكش كه، نو بيا هارون ورته وو يل: اى زما د مور زو يه! باور وكړه چې د زمونږ قوم زه ضعيفه او بې وزرئ وليدلم او لنډه وه چې ما مړ كړي، نو ته پرما

باندې دښمنان مه خوښوئ، او ما د خپل ظالم قوم نه مه شميره، يعنى زه يې ملګرئ نه وم، بلکې دوی د زما حکم نه سرکښي وکړه!

[١٥١] نو بيا موسى دعاء وکړه او و يو يل: اى لو يه ر به! ما او د زما ورور(هارون) و بښه او مونږ په خپل رحمت کې ننه باسه، او يقينا چې ته اى لو يه خدايه! د ټولو رحمت کونکو نه ښه ډير مهر بان خداى يې!

[١٥٢] او يقينا هغو کسانو چې خوسئ خداى ونيؤ [يعنى د خوسي عبادت يي وکه] دوی ته به د دوی د رب غوصه، ذلت او خواري د دنيا په ژوند کې ورسيږي، او همداسې به ټولو مفتريانوته چې الله پسې دروغ وايي کلکه سزا ورکړو.

[١٥٣] او هغو کسانو چې ګناه وې وکړې او بيايې وروسته تو به وايسته او پښيمانه سول او ايمان راوړ [او ښه عمل يي وکه] نو اى پيغمبره! يقينا چې د ستا رب الله لوى بښونکئ، او ښه مهر بان ذات دئ، يعنى دغه تو به و يستونکي پښيمانه سوي کسان بښي او تو به يې قبلوي.

درندو عز يزانو! الله تعالى په دې ز يري سره خپلو هغو بنده ګانوته اطمئنان او ډاډ ورکړئ دئ چې دوی د ګناه کړو نه وروسته پښيمانه سي او تو به و باسي او د الله تعالى نه بښنه وغواړي، او په پوره اخلاص سره د الله اطاعت او بنده ګي ته ملا وتړي او ښه وکړي او د بدو کړنو نه خپل ځانونه کلک وساتي، نو بيا الله تعالى دوی بښي او ثوابو نه ورکوي، نو دعاء کړو چې الله ده مونږ ټولو ته د ښه عمل توفيق راکړي او ګناه نه ده مونږ په خپل رحمت سره وساتي او د زمونږ توبې ده الله تعالى قبولې کړي.

{د موسى عليه السلام سره په تورات کې د الله لارښودنې او رحمت ؤ}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د تورات پيغام د موسى عليه السلام قوم بني اسرائيلوته ياد کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلْغَضَبُ أَخَذَ ٱلْأَلْوَاحَ ۖ وَفِى نُسْخَتِهَا هُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ﴿١٥٤﴾ وَٱخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُۥ سَبْعِينَ رَجُلًا لِّمِيقَٰتِنَا

فَلَمَّآ أَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُم مِّن قَبْلُ وَإِيَّىَّ ۖ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَّآ ۖ إِنْ هِىَ إِلَّا فِتْنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَآءُ وَتَهْدِى مَن تَشَآءُ ۖ أَنتَ وَلِيُّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَا ۖ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْغَٰفِرِينَ ﴿١٥٥﴾ * وَٱكْتُبْ لَنَا فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ إِنَّا هُدْنَآ إِلَيْكَ ۚ قَالَ عَذَابِىٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنْ أَشَآءُ ۖ وَرَحْمَتِى وَسِعَتْ كُلَّ شَىْءٍ ۚ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٦﴾

[١٥٤] او کله چې د موسی غوصه سړه سوه، نو په ځمکه پرتې لوحې [یعنی د تورات پاڼې] یې را واخستلې، او په دې پاڼو کې هغو کسانو ته چې د خپل پالونکي څخه ستن الله نه و یر یږي سمې لارې ته لارښودنې او د زړه سواندي رحمت ؤ.

[١٥٥] او بیا موسی د خپل قوم (بني اسرائیلو) نه او یا کسان زمونږ سره ملاقات ته غوره او خوښ کړل [ترڅو دوی د خپل ګناه ګار قوم نه د عذر غوښتنې لپاره طور غره ته ځان سره بوزي، او د الله پروړاندې هغو کسانوته چې د خوسي کالبوت عبادت یې کړئ ؤ؛ بښنه وغواړي، نو بیا چې کله دوی ټاکل سوي ځای ته راغلل موسی ته یې وو یل: ای موسی! مونږ پرتا باندې باور نکړو، ترڅو الله مونږ په سترګو ونه و ینو؟] نو بیا دوی د ځمکې لړز یدو را ونیول [او مړه سول] نو بیا موسی الله ته په ډیرې زاری سره وو یل: ای لو یه ر به! که تا غوښتل [چې دغه کسان مړه کړي] نو لدې وړاندې به ده دوی زما سره یوځای هلاك کړي ول! او ای لو یه ر به! آیا ته د څو ناپوهانو او جاهلانو په ګناه مونږ وژنې؟ [هو؛ ای خدایه! هغه څه چې د زما قوم وکړل] هغه د ستا لخوا لوی ازمایښت ؤ، او په دغسې ازمایښت سره چې ته څوک وغواړي د سمې لارې نه یې ورکوي، اوڅوک چې وغواړی هغه سمې لارې ته برابروې، او ته ای لو یه خدایه! د زمونږ مرستندوی یې، نو مونږ و بښه او رحم را باندې وکړه، ځکه ته لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات یې!

[۱۵۶] او ته ای لو یه خدایه! په دنیا او په آخرت کې مونږ ته ښیکڼې ولیکه، او یقینا چې تاته مونږ رجوع کړې ده او سمې لارې ته هدایت سوی یو [نو بیا الله تعالی موسی ته] وو یل: د زما عذاب چې چاته وغواړم هغه ته یې ورسوم، او د زما رحمت لوی دئ هرچاته رسیږي، او زه به په ځانکړي ډول خپل رحمت هغو کسانوته ولیکم چې دوی متقیان دي او د الله نه په اطاعت کړو سره؛ خپل ځانونه د عذاب نه ساتي او د خپل مال زکات او خیرات ورکوي، او همدغه متقیان هغه کسان دي چې د زمونږ پر آیتونو او معجزو باندې یې ایمان راوړئ دئ.

ګرانو دوستانو! نو ښایې چې هرمومن بنده الله ته تسلم سي او د الله تعالی نه توفیق وغواړي او د موسی علیه السلام د خولې نه دغه دعاء چې قرآن ور باندې ناطق دئ؛ د خپلې ژبې ورد وګرځوي او د دنیا او آخرت نیکمرغي ده وغواړي او د الله تعالی اطاعت او عبادت خوند ده وځکي.

{د اهل کتاب ر یښتیني مومنان د محمد صلی الله علیه وسلم استاز یتوب مني}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې مونږ د تورات او انجیل د ر یښتینو او صادقو مومنانو ایمان نه د اسلام پر ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې خبر کړي یو، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلْأُمِّيَّ ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَٱلْأَغْلَٰلَ ٱلَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُوا۟ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿١٥٧﴾ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ ٱلْأُمِّىِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ

تَهۡتَدُونَ ﴿١٥٨﴾

[١٥٧] [او په تورات کې د الله تعالى پر آيتونو باندې ر يښتيني مومنان] هغه کســان دي چې دوی هغه پيغمبر او نبي مني او ور پســې ځي چې هغه امي دئ [يعنى په ليک او لوست نه پوهيږي] او د هغه پيژندنه د دوی سره په تورات او په انجيل کې ليکل سوې مومي، او دا پيغمبر[محمدﷺ] دوی ښــو کړونوته رابولي او د بدو کړنو او منکراتو نه يې منع کوي او پاک خواړه ورته حلالوي او ناپاکه او چټل خواړه ور باندې حراموي، او دروند پيټئ او درندې ځولنې چې د دوی په وګو او پښــو کې پرتې دي؛ هغه ورځخه ســپکوي او لرې کوي يې، نو هغو کســانو چې پردې پيغمبر ايمان راوړ اوملايې وترله او مرســته يې وکړه او هغې رڼا پســې لاړل چې هغه د ده سره رانازله ســوي ده، نو دوی بر يالي او ســر لوړي دي، يعنى ر يښــتينه او حقيقي ښادي، او بر يايې چې د دنيا او آخرت نيکمرغي ده؛ په برخه کيږي.

قدرمنو دوســتانو! په دې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د اســرائيل (يعقوب عليه السلام) کهول يهود؛ د اســلام پر پيغمبر باندې ايمان راوړلوته کلک رابللي دي، او د هغه پيغمبرى نه يې په تورات او انجيل کې دوی ته ليکلئ خبر او ز يرئ ورکړئ دئ چې د اســلام پيغمبر محمدﷺ دوی ته په ښــو کړنو حکم کړي او د بدو کړنو نه يې منع کوي، او د هغه په شر يعت کې د خوړو، څکو او پوښــاک پاک توکي دوی ته حلالوي او ناپاکه او چټل توکي پردوی حراموي، او هم رسـول اللهﷺ د دوی نه ډير درانده پيټي چې په تورات کې ور باندې مکلف ول؛ سپکوي او ځولنې يې د پښونه خلاصوي، نو چاچې د هغه دعوت ومانه او د رســول اللهﷺ نصــرت او مرســته يې وکړه او ايمان راوړ؛ دئ خپل لوی مقصد ته رسيدلئ او بر يالئ سوئ دئ.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى رسـولﷺ ته سـپارښـت کړئ دئ چې ټولو خلکوتـه اعلان وکړي چې محمـد ﷺ دوی ټولوتـه د اللـه استازئ او پيغمبر دئ، او فرمايلي دي:

[١٥٨] ای پيغمبره! [خلکوته اعلان وکړه او ورته] ووايه: چې ای خلکو! زه تاسې ټولوته د هغه لوی څښــتن الله اســتازئ او پيغمبر يم چې دا ټول اســمانو نه او ځمکه د هغه واک لاندې دي، او د الله نه پرته بل په حق ســره معبود او الله نســته، او الله خلک راژوندي کوي او وژني يې [يعنى

مرګ او ژوند د الله په واک کې دئ] نو پرالله او د هغه پر پیغمبر چې امي پیغمبر دئ [یعنی نا لوستئ دئ، لیک او لوست کړای نسي] ایمان راوړی، او دا هغه پیغمبر دئ چې پرالله او د هغه پرټولو خبرو [او پرکتابونو] باندې یې ایمان راوړئ دئ [یعنی نو تاسې ای خلکو! هغه پسې لاړ سی او پیروي یې وکړی او پیغمبري یې ومنی] ترڅو تاسې حق ته هدایت سی، یعنی پرسمه لار لاړ سی او مقصد ته ورسیږی.

ګرانو دوستانو! دا مبارك آیت د رسول اللهﷺ پر پیغمبرې باندې ټول عالم ته ډیر ځلانده او قاطع دلیل دئ، او په قرآن کر یم کې هغه ته ورته نور شپه ډیر مبارك آیتونه ستە چې د رسول اللهﷺ پیغمبري ټولې نړۍ ته تصدیقوي او ټول خلک ورته رابولي، نو شایي چې ټول خلک دا پیغمبر شپه و پیژني او ایمان راوړي، ترڅو د الله تعالی عذاب نه نجات بیاموميِ.

{د موسی په قوم کې داسې ډله هم سته چې اسلام مني}

درندو دوستانو! او همداسې په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د موسیعليه السلام قوم یوې ډلې ایمان راوړل د اسلام پرپیغمبر یاد کړې، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٩﴾ وَقَطَّعْنَٰهُمُ ٱثْنَتَىْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ۚ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ ٱسْتَسْقَىٰهُ قَوْمُهُۥٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ۖ فَٱنۢبَجَسَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۚ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْغَمَٰمَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ۚ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١٦٠﴾ وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ ٱسْكُنُوا۟ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ وَكُلُوا۟ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ وَقُولُوا۟ حِطَّةٌ وَٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطِيٓـَٰتِكُمْ ۚ سَنَزِيدُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٦١﴾ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ ٱلَّذِى قِيلَ

لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُوا۟ يَظْلِمُونَ ﴿١٦٢﴾

[١٥٩] او د موسی قوم نه داسې یؤ ډله خلک هم سته چې نور خلک حق ته را بولي [او یقیناچې دا حق په ر یښتیا سره اسلام دئ] او دوی د خلکو په منځ کې په اسلام باندې پر یکړې کړي او عدالت چلوي.

[١٦٠] هو! د موسی قوم (بني اسرائیل) مونږ په دولسو پښو یا په دولسو خیلونو وو یشل چې هره پښه یا خیل یې یو امت او ډله ول [یعنی دوی مونږ ډلې ډلې کړل او بیا چې کله بني اسرائیلو د موسی نه] او به وغوښتلې، نو موسی ته مونږ وحیه وکړه چې دغه تیګه په خپله لکړه ووهه، نو بیا د هغې نه دولس چینې او به راووتلې او جاري سوې، او هرې ډلې خپله چینه په یقین سره و پیژندله [یعنی پرې پوه سول، ترڅو هره ډله د خپلې چینې نه او به وڅکي] او بیا په اسمان کې پردوی باندې ووړه مونږ سورئ کړل او د من او سلوا (تیار خواړه) مونږ دوی ته را ولیږل [او بیا دوی ته مونږ وو یل] چې د دغې پاکې روزۍ نه چې تاسې ته مونږ روزې کړې ده؛ وخورئ، او مونږ د موسی پرقوم باندې ظلم ندئ کړئ، خو دوی پرخپلو ځانو باندې ظالمان ول، یعنی د الله تعالی دغو نعمتونو شکریې ونه و یست او د اسمان نه رالیږل سوو تیارو خوړو د بدلون غوښتنه یې وکړه او د ځمکې نه راشنه سوي خواړه یې غوره وګڼل او خوښ یې کړل.

[١٦١] او بیا چې کله بني اسرائیلوته وو یل سول چې په دې کلي کې میشت سئ او چیرته چې بیا د ستاسې څه خوښ سول؛ هغه وخورئ [او دعاء وکړئ او ووایې: ای لو یه خدایه! د زمونږ ګناه وې تویې کړه] او په ډیرې زارۍ سره سجده کړونکي (کوپ کوپ) د ښار(بیت المقدس) په ورونو ورننوځئ او د ستاسې تیرې ګناه وې مونږ درته بښو او د ښو کړنو خاوندانوته به مونږ د دوی ثواب وردیر کړو.

[١٦٢] نو بیا د بني اسرائیلو نه هغو کسانو چې تیرئ او ظلم وکه؛ دوی ته د دعاء هغه کلمه چې ورته ښودل سوي وه، هغه یې پر بله کلمه بدله کړه [یعنی یهودو د هغې دعاء پرځای چې هغه دوی ته ښودل سوې وه چې

ووايي: اى لوى يه ر به! د زمونږ ګناه توپي کړه! دوى د هغې پرځاى وو ويل: (حنطة) د غنمو يوه دانه، او په کناټيو ناست د بيت المقدس ار يحا ښار ته ورننوتل، نو بيا الله تعالى فرمايلي دي:] نو بيا مونږ د اسمان نه پردوى باندې عذاب راولېږه، ځکه دوى ظالمان ول، يعنى د خپل پيغمبر خبره يې بدله کړه او عمل يې ور باندې ونکه.

{د يهودو خالي يا شنبې ورځې قصه او د دوى دروغژنې پلمې}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ د يهودو خالي يا شنبې ورځې قصې نه خبر کړي يو او د دوى دروغژنې پلمې يې د الله تعالى پروړاندې کلکې رسوا کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَسْـَٔلْهُمْ عَنِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِى كَانَتْ حَاضِرَةَ ٱلْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِى ٱلسَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ لَا تَأْتِيهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُم بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿١٦٣﴾ وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ٱللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ قَالُوا۟ مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُوا۟ مَا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦٓ أَنجَيْنَا ٱلَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذْنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ بِعَذَابٍۭ بَـِٔيسٍۭ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوْا۟ عَن مَّا نُهُوا۟ عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُونُوا۟ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿١٦٦﴾﴾

[۱۶۳] اى پيغمبره! د يهودو نه د دوى د هغه کلي اوسيدونکو حال و پوښته چې دا کلئ د سمندر په غاړه پروت ؤ او د اونى پرخالي يا (شنبې) پرورځ يې تيرئ وکه [يعنى د کبانو(مايانو) ښکار لپاره يې پلمه جوړه کړه] ځکه کبان به خالي په ورځ [چې دوى په هغه ورځ د ښکار نه منع سوي ول] ښه ډير راتلل او په نورو ورځو کې به کبان نه راتلل [نو بيا دغو يهودو شنبې په ورځ کبان په ډنډونو کې راغونډول او په صبايې ښکار کا ؤ، ترڅو څوک ونه وايي چې يهودو د الله حکم پښو لاندې کړئ دئ] او همداسي يهود مونږ ازمايو، ځکه دوى د الله اطاعت نه وتلي ول.

عزتمنو دوستانو! یهود الله تعالی د اونۍ په شنبه یا خالي ورځ د ښکار کړو نه منع کړل او په دغه ورځ به کبان(مایان) ښه ډیر راتلل او په نورو ورځوکې به نه را تلل، نو دوی ورته پلمه جوړه کړه او او به یې ډنډ کړې، ترڅو په خالي ورځ کبان پکې را غونډ سي، او بیایې په بله ورځ ښکار کړي، نو یقینا چې دغه ډله بني اسرائیل په دغسې کړنو سره د الله اطاعت نه ووتل او پرخالي یا شنبې ورځ یې چې دوی د ښکار نه منع سوي ول؛ د کبانو ښکارته پلمه جوړه کړه او د الله تعالی پرحکم یې تیرئ وکه او ځانونه یې په خپل لاس د الله کلکې سزا ته تیار کړل.

[١٦٤] او ای پیغمبره! یهودوته هغه ورځ هم ور په یاد کړه کله چې د دوی یوې ډلې بلې ډلې ته وو یل: ولې تاسې دغو کسانوته چې دوی الله هلاکوي او کلکه سزا ورکوي؛ وعظ او نصیحت کړی؟ [یعنی دا کسان د وعظ او خیر غوښتنې لائق نه دي] نو بیا نصیحت کونکو په ځواب کې ورته وو یل: ترڅو مونږ د الله پر وړاندې عذر ولرو [یعنی دا چې مونږ خپل رسالت او دنده پرځای کړه او دغه خلک مونږ د الله نا فرمانۍ نه منع کړل] او هیله من یو چې دوی د الله نه وو یر یرې او د عذاب نه یې ځانونه په فرمانوړو سره وساتي.

[١٦٥] نو بیا چې کله دغو فاسقانو دا نصیحتونه هیر کړل، نو بیا مونږ هغو کسانوته د سزا نه نجات ورکه چې دوی خلک د بدو کړنو نه منع کول، او هغو کسانو چې ظلم وکه؛ دوی مونږ په کلکه سزا راونیول، ځکه دوی فاسقان ول، او د الله بنده ګۍ او اطاعت نه وتلي ول.

[١٦٦] نو بیا چې کله دغو سرکښو ډلو د دوی [د هغو بدو] کړنو نه چې دوی ورڅخه منع سوي ول؛ لا ډیره سرغړونه وکړه [یعنی د الله تعالی حکمونه یې د پښو لاندې کړل] نو بیا دوی ته مونږ په خپلې تقدیري فیصلې او پر یکړې سره سم حکم وکه چې خوار سوي او سپک بیزوګان (شادیان) سی، یعنی دوی الله تعالی مسخ کړل او مختورن بیزوګان سول، او بیا دغه مسخه سوي کسان ډیر ژر هلاك او تباه سول او لمنځه لاړل.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د یهودو ځیني ډلو سرکښي د الله حکمونو نه مونږ ته یاده کړې او بیان کړي ده، او هغه دا چې کله دوی سرغړونه وکړه او د خپل بغاوت لوړو ته ورسیدل، نو بیا الله تعالی دوی په دینا کې مسخ کړل او په بیزوګانویې بدل کړل، خو د بني اسرائیلو په منځ کې یوه بله داسي ډله هم وه چې د الله پرحکمونو باندې کلک ولاړ ول او دغه ظالم او فاسق کسان یې د بغاوت نه منعې کول، خو دا چې دغسې هلاکت او مسخ کیدل د دوی په برخه ول، نو د هیڅ چا خبرې یې نه منلې او تو به یې نه و یستله.

عزتمنو دوستانو! او همدارنګه په دغو مبارکو آیتونو کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر لویې فر یضې لوړ مقام الله تعالی بیان کړئ دئ، نو هیڅ کله نه ښایي چې څوک ورځخه ډ ډه وکړي، ترڅو دوی په سپینو مخونو د الله تعالی په حضور کې د محشر په ورځ سرلوړي ښه کلک ودر یږي او ووایې چې مونږ خپل رسالت پرځای که او خلک مونږ د بدو کړنو نه منعې کړل، او د دوی پروړلاندي مونږ چوپ پاتې نسوو.

ګرانو عز یزانو! د یادونې وړ ده چې د بني اسرائیلو دغه ناغیږې او د الله تعالی پرحکمونو باندې تیرئ وروسته د دوی څلو یښت کلنې ورکتیا او سرګردانۍ نه د سیناء په ډاګ او لو یو دښتو کې؛ په هغه وخت کې ؤ چې دوی د موسی علیه السلام نه وروسته د یوشع بن نون علیه السلام مشرۍ لاندې ځواکمنو حاکمانو سره جګړې ته ؤڅول سول، او بیا د دوی ځینو سرکښو ډلو دغسې پیښې یا ناندرې پیل کړې، او د الله پیرزو ینو شکرې ونه و یست او شیطان پسې لاړل، لکه څنګه چې یې بیلګې په اوسني عصر کې په افغانستان او په ځینې نورو اسلامي هیوادونو کې ولیدل سوې، او د قدرت او واکمنۍ ځینو وړو ډلو د ځاني لنډو ګټو لپاره هر ډول ناروا پلمو او حیلوته ملا وترله او په افغانسان کې یې څه باند څلو یښت کاله افغان مجاهد مظلوم ولس په اینو کې ولمبا ؤ.

{هغو يهودو چې خپلې هوکړې ماتې کړې خوار او توتې سول}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ الله تعالى د بني اسرائيلو کافرانو ذلت او خورۍ او توتې کيدلو نه خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ ۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ ٱلْعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعْنَٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أُمَمًا ۖ مِّنْهُمُ ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَبَلَوْنَٰهُم بِٱلْحَسَنَٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٦٨﴾ فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا ٱلْأَدْنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِن يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُۥ يَأْخُذُوهُ ۚ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم مِّيثَٰقُ ٱلْكِتَٰبِ أَن لَّا يَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ وَدَرَسُوا۟ مَا فِيهِ ۗ وَٱلدَّارُ ٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦٩﴾ وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلْكِتَٰبِ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُصْلِحِينَ ﴿١٧٠﴾ * وَإِذْ نَتَقْنَا ٱلْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٌ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُۥ وَاقِعٌۢ بِهِمْ خُذُوا۟ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُوا۟ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧١﴾﴾

[١٦٧] ای پيغمبره! او هغه وخت راپه ياد کړه کله چې د ستا رب الله په قاطع او پر يکنده حکم سره اعلان وکه چې دئ به په دغو يهودو باندې [چې دوی ځان غوښتنې او بغاوت ته زور ورکړئ دئ] داسې څوک راولیږي [يعنی پردوی يې مسلط کړي] چې بيا به د قيامت ورځې پورې دوی ته بنه کلک عذاب او سزا ور وځکي، او يقينا چې د ستا لوی څښتن الله ای پيغمبره! کافرانو ته زر سزا ورکوي، او يقيناچې الله بنه بښونکئ او لوی مهر بان ذات دئ.

[١٦٨] او يهود مونږ پرځمکه توتې توتې تيت کړل [يعنی دوی الله تعالى پر ډلو وو يشل او خواره يې کړل] او د دوی نه بيا ځينې کسان نيکان او بنه خلک ول [يعنی د الله تعالى او د خلکو حقوق يې پرځانو باندې منل

او هغه يې پرځای کول] او ځینې نور يې د دوی نه ټیټ کســان ول [یعنی پردوی باندې فرض ســوي حقوق يې نه پرځای کول] نو بیا دوی مونږ په ښـو او په بدو کړنو [او پرسختیو او اسـانیو سـره] وازمایل، ترڅو د الله بنده کې او اطاعت ته بیرته راوکړځي، یعنی په اخلاص سـره د الله عبادت وکړي.

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې مونږ ته دا حقیقت بیان کړئ دئ چې د نیکونو نه پاتې کتابونو میراث د عمل نه پرته؛ هیڅ چاته ګټه رسولای نسي، او فرمایلي دي:

[١٦٩] نو بیا [د الله تعالی اطاعت نه وتلو بني اسـرائیلو] پسې وروسـته؛ داسې څوک د دوی ځای ناسـتي سـول چې د نیکونو نه ورته پاتې کتاب يې په میراث یوړل او د دنیا ډیره ټیټه متاع [لکه رشـوتونه يې واخسـتل] او و یو یل چې الله به بیا مونږ و ښځي، او که دوی ته بیا د دنیا دغسې [ناولې] متاع راسي؛ هغه اخلي او خوري يې[یعنی دا چې دغسې کسان د حلالو او حرامو پروا نه لري] او آیا د دغو یهودو نه په تورات باندې [چې هغه دوی ته راغلئ کتاب دئ؛ تعهد او هوډ ندئ اخسـتل سـوئ چې په هغه باندې به عمل کړي] او الله پسـې به د حق نه پرته بل څه نه وایي؟ [ځواب دا چې: هو! د دغو یهودو نه دغسې تعهد اخسـتل سـوئ دئ] او دوی هغه مسـئلې چې په کتاب کې وې ولوسـتلې [یعنی پرحکمونو باندې يې ځانونه ښـه پوه کړل، خو عمل يې ور باندې ونکه او د الله سـره يې خپل ټول هوډونه د پښـو لاندې کړل] او د آخرت ورځې ثوابونه هغو کسـانو ته ډیر ښـه او غوره دي چې دوی د الله عذاب نه ځان سـاتي، نو آیا تاسـې ای خلکو! په دې کې فکر نکړئ؟ یعنی ښـه پرې نه پوهیږي؟ حال دا چې ښـایي پکې ښـه فکر وکړئ او ځانونه پوه کړئ چې د ستاسې خیر او ګټه په څه کې ده؟

درندو دوستانو! په ډیر خفتیان سره ښایي اعتراف وکړو او ووایو چې د دغسې بدو خو یونو سره اوس ډیر مسلمانان لاس په ګر یوان دي، او د حلالو او حرامو په منځ کې پروا نکړي او وایي: الله غفور او رحیم دئ، هو! یقینا چې الله غفور او رحیم دئ، خو دا هغو کسانوته چې په سهۆ او

په تیروتنه، او یا په ناپوهۍ سره چې پام یې نه وي؛ ګناه وکړي، خو بیا چې یې کله پام سي او په خپله ګناه پوه سي؛ نو ډیر ژر الله ته رجوع وکړي او د خپلې ګناه نه کلکه توبه و باسي او د الله نه بښنه وغواړي.

[۱۷۰] او هغه کسان چې کتاب (تورات) کلک نیسي [او عمل پرې کړي] او دوی لمونځ ودرا ؤ [او ور باندې ټینګ سول] نو یقینا چې مونږ دغسې اصلاح کونکو کسانو ته ښه ورکوو او د دوی ښې کړنې نه ضائع کوو، یعنی ثواب یې الله پوره ورکوي.

قدرمنو عز یزانو! په دې مبارکو آیتونو کې مونږ الله تعالی ځینې هغو بني اسرائیلوته د سختې سزا ورکولو نه خبر کړي یو چې دوی د الله حکمونو نه سرغړونه وکړه او خپل ټول هغه تعهدات یې مات کړل چې د الله تعالی سره یې په خپل کتاب تورات کې کړي ول، خو بیا هم الله تعالی بښونکې او ښه مهربان ذات دئ، نو هرڅوک چې الله ته رجوع وکړي او په بدو کړنو پښیمانه سي، نو الله دئ بښي او د ښو کړنو ثواب یې ورکوي.

او په ور پسې مبارك آیت کې بني اسرائیل الله تعالی د طور غره په راغورځولو باندې ګواښولي دي، او فرمایلي دي:

[۱۷۱] ای پیغمبره! او هغه ورځ یهودوته ور په یاد کړه، کله چې د طور غونډۍ مونږ پر بني اسرائیلو باندې د بیخ نه راجګه کړه او هغه د دوی په سر، لکه سورئ سوه، نو بیا دوی وانګیرله [چې که په تورات عمل ونکړي] نو دا غر به پردوی باندې خامخا را لو یږي، نو بیا مونږ دوی ته وو یل: هغه کتاب (تورات) چې تاسې ته مونږ درکړئ دئ؛ هغه کلک ونیسئ او هغه حکمونه چې په دې کتاب کې دي؛ هغه راپه یاد کړئ [یعنی عمل پرې وکړئ] ترڅو تاسې متقیان سئ، یعنی د الله عذاب نه ځانونه په ښو کړنو سره کلک وساتئ او د سزا نه یې وژغورئ.

{د آدم عليه السلام کهول د پیدایښت نه مخکې خپل رب الله پیژاند}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې مونږ الله تعالی د آدم عليه السلام کهول د فطري خدای پیژندنې نه خبر کړي یو، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْۖ قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدْنَآۚ أَن تَقُولُواْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَٰذَا غَٰفِلِينَ ١٧٢ أَوْ تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أَشْرَكَ ءَابَآؤُنَا مِن قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنۢ بَعْدِهِمْۖ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلْمُبْطِلُونَ ١٧٣ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْأٓيَٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ١٧٤﴾

[۱۷۲] ای پیغمبره! [او هغه هوکړه او تعهد راپه یاد کړه] کله چې د ستا رب الله هغه د آدم کهول نه په هغه وخت کې واخست چې دوی د خپلو پلرونو په شاګانو کې ول، او دوی یې پرخپلو ځانو باندې شاهدان وګرځول او وې پوښتل چې: آیا زه د ستاسې رب او خدای نه یم؟ نو بیا دوی په ځواب کې وو یل: هو! ته د زمونږ رب یې او مونږ شاهدان یو، ترڅو بیا تاسې ای خلکو! د قیامت په ورځ ونه وایې چې د زمونږ خو پام نه ؤ، یعنی مونږ خبر نه، بلکې مونږ غافل وو.

[۱۷۳] او یا دا چې بیا تاسې ووایې: هو! د زمونږ پلرونه د پخوا نه مشرکان ول، او مونږ د دوی نه وروسته کهول یو، نو آیا ته ای خدایه! مونږ د نورو په ناروا کړنو هلاکوې؟

[۱۷٤] هو! ای پیغمبره! مونږ همداسې خپل دلیلونه په پوره روښتیا سره خلکوته یادوو، ترڅو کافران بیرته راوګرځي، یعنی د خپل کفر او شرک نه پښیمانه سي او یوازې د خپل پالونکي څښتن الله بنده ګان سي!

درندو دوستانو! په دې مبارکو آیتونو کې مونږ ته الله تعالی د زمونږ خپل هغه تعهد او قول چې هغه یې د آدم علیه السلام کهول نه په هغه وخت کې اخستئ دئ چې دوی لا د خپلو پلرونو په شاګانو کې ول، او په دې تعهد کې الله تعالی د آدام ټول کهول د قیامت ورځې پورې د الله توحیدي بنده ګی ته کلک رابللئ دئ، ترڅو هیڅ څوک د قیامت په ورځ ونه وایي: چې مونږ خو خبر نوو، او بیا دغه تعهد او هوکړه الله تعالی په مخامخ دعوت او بلنه کې د خپلو پیغمبرانو او د دوی وارثانو دعاتو په خوله هرچا خپل

ولس او قوم ته رسـولې ده، او په خپل وار سـره يې د تار يخ په اوږدو کې خپل خلک او ولسونه د الله توحيد ته په عبادت کې رابللي دي، نو بيا چې څوک منکر سـي او وايي چې مونږ خو خبر نه وو او يا دا چې مونږ خپلو هغو پلرونو پسې لاړوو چې دوی د زمونږ نه مخکې مشرکان ول، نو دا خبره عذر نه دئ او الله يې نه مني، ځکه د الله حجت پردوی ښـه روښـانه اوځلاند دئ.

{د بلعم بن باعورا او د دين پلورونکو ملايانو عبرتناکه قصه}

قدرمنو دعاتو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مونږ ته د يؤ بني اسرائيلي مذهبي مشر (حبر) چې (بلعم باعوراء) نومیده قصه ياده کړي ده، ځکه هغه د الله تعالی کتاب ښـکاره آيتونو او دليلونو نه منکر سـه، نو بيا الله تعالی ورته کلکه سزا ورکړه، او د دې قصې په بيان کې چې هغه علماوو، ملايانو، دعاتو او هم نورو ټولو خلکوته د پند اخسـتلو او د زدکړې لوی درس او پند دئ؛ الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱلَّذِيٓ ءَاتَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا فَأَتۡبَعَهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ١٧٥ وَلَوۡ شِئۡنَا لَرَفَعۡنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخۡلَدَ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلۡكَلۡبِۖ إِن تَحۡمِلۡ عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ أَوۡ تَتۡرُكۡهُ يَلۡهَثۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۚ فَٱقۡصُصِ ٱلۡقَصَصَ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ١٧٦ سَآءَ مَثَلًا ٱلۡقَوۡمُ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَأَنفُسَهُمۡ كَانُواْ يَظۡلِمُونَ ١٧٧ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِيۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٧٨ وَلَقَدۡ ذَرَأۡنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ لَهُمۡ قُلُوبٞ لَّا يَفۡقَهُونَ بِهَا وَلَهُمۡ أَعۡيُنٞ لَّا يُبۡصِرُونَ بِهَا وَلَهُمۡ ءَاذَانٞ لَّا يَسۡمَعُونَ بِهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ١٧٩﴾

[١٧٥] ای پيغمبره! او خپل امت ته ده د هغه سړي قصه ولوله چې هغه

ته مونږ د خپل قدرت نښې او د کتاب آیتونه او دلیلونه ورکړل، خو بیا دئ ورڅخه ووت [یعنی د دې ټولو دلیلونو نه منکر سه او هغه یې شاته وغورځول او عمل ور باندې ونکه] نو ځکه شیطان هغه پسې لاړه، یعنی شیطان د هغه مر ید او مل سه، نو بیا دئ د ډیر علم او پوهې سره سره د ناپوهانو غوندې هلاك سوئ او مختورن لمنځه لاړه.

[۱۷٦] او که مونږ غوښتي وای، نو [بلعم باعورا] به مونږ په خپل ورکړل سوي علم او آیتونو باندې لوړ کړئ ؤ، خو هغه ته د ځمکې ژوند خوند ورکه او خپل هوس پسې واخست او ور پسې لاړه، نو د هغه بیلګه [یعنی د بلعم باعورا بیلګه که څه هم دئ لوی عالم ؤ] لکه هغه سپئ دئ چې که ته ور باندې ورودانګې [یعنی دئ د خپل ځان نه وشړي] نو دئ به خپله زونډه ژ به ښوروي او که همداسې یې پر یږدي [یعنی څه ورته ونه وایي بیا به هم] خپله زونډه ژ به ښوروي، او دا بیلګه او مثال د هغه قوم بیلګه ده چې دوی د زمونږ قدرتونو نښې او د کتاب آیتونه دروغ و بلل [یعنی ورڅخه منکر سول] نو ته ای پیغمبره! دغسې قصې خپل امت ته وکړه، ترڅو دوی ښه فکر وکړي، یعنی د حق منلوته غاړه کیږدي.

[۱۷۷] او د هغه قوم خلکو مثال او بیلګه چې دوی د زمونږ آیتونه دروغ وګڼل [او باورې پرې ونکه] ډیر بد مثال ؤ، یعنی دوی پرخپلو ځانو ظلم وکه او د حق نه محروم سول او نیکمرغي یې په برخه نسوه.

[۱۷۸] او څوک چې الله حق ته هدایت کړي [یعنی په سمه لار یې روان کړي] نو هغه هدایت سوئ دئ، او د چا نه چې الله سمه لار ورکه کړي، نو هغه ز یانمن او د تاوانیان دي، یعنی دوی ر یښتیني بایلونکي دي.

قدرمنو دوستانو! د پیغمبرﷺ صحابوو او یارانو نه روایت سوي دئ چې په بني اسرائیلو کې یو سړي ته الله ډیر علم او پوهه ورکړي وه او د الله تعالی اسم اعظم یې زده ؤ، نو چې څه به یې غوښتل دعاء یې قبلیده، او دغه سړئ په بلعم باعورا باندې مشهور ؤ، نو د هغه نه یې خپلو خلکو وغوښتل چې د موسی علیه السلام او د هغه لښکرو پسې دعاء وکړي چې د دوی

کلي ته رادننه نسي، خو هغه چې موسی علیه السلام پیژاند چې د الله تعالی پیغمبر دئ، نو د خپل قوم غوښتنه یې ونه منله، خو بیا چې کله دوی باعورا ته ډیر کلک سول، نو بیا بلعم باعورا دعاء وکړه، نو الله تعالی دئ مختورن که، ځکه هغه د شیطان ملګرتیا ومنله او د حق نه واوښت، نو دعاء یې بې ارزښته سوه، او دئ هغه سپي ته ورته سه چې خپله زونډه ژ به ښوروي، خو هیڅ څه کړلای نسي او د ژبې ښورول یې نور ګټه نه لري، نو یقینا چې د هغو کسانو بیلګه او مثال چې دوی د الله آیتونو نه انکار کړي او هغه نه مني؛ ډیر بد مثال دئ، او دوی دغسې یو سپي ته ورته دي او ز یان یې خپلو ځانوته رسیږي او د الله تعالی ټول نعمتونه بایلي او هغه یې د لاس نه وځي او دئ خسر الدنیا والاخره کیږي!

هو! عزتمنو دوستانو! دا قرآني قصه ډیره د عبرتونو نه ډکه قصه ده، نو مونږ الله تعالی ته د دغسې علماوو او ملایانو نه پناه وړو او د دغسې لوی امتحان نه ده مونږ الله تعالی په خپل رحمت سره وساتي، او هم د پام وړ ده چې د دغسې کسانو بیلګې په تار یخ کې متاسفانه ښې ډیرې دي، او دوی الله تعالی په دې مبارك آیت کې هغه سپي ته ورته بللي دي چې خپله زونډه ژ به هرې خوا ته اړوي را اړوي، خو هیڅ څه کړای نسي، او دغسې په نامه علماء او مشران ملایان د حق او د حق غوښتونکو پروړلاندي په ټولنه کې لوی ګواښ دئ، ځکه دوی تل د حق پالانو پروړلاندې خندې دي او په لار کې یې د مرکونې اغزي شندي، نو ځکه الله تعالی مونږ د بې عمله علم نه کلک ګواښلي یو، او همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې د دغسې بې عمله ملایانو په باره کې ډیر سخت وعیدونه یا ګواښونه راغلي دي، او د دغسې خو یونو نه منع سوي دي .

او په ور پسې مبارك آیت کې مونږ ته الله تعالی د دوزخیانو خو یونه او صفتونه یاد کړي او بیان کړي دي، ترڅو مونږ خپل ځانونه ورڅخه کلک وساتو، او فرمایلي دي:

[۱۷۹] او یقینا چې د دوزخ اور ته مونږ ډیر کسان د پیریانو او انسانانو نه [پیدا کړي دي] او په ځمکه کې دوی مونږ خواره واره شیندلي

دي، دوی زړونه لري، خو په څه نه پوهيږي، او ستړکې هم لري، خو هيڅ څه يا هيڅ شئ ور باندې نه و يني، اوغوږونه لري، خو هيڅ څه ور باندې نه اوري، او دغه کسان، لکه څاروي دي، بلکې د څارو يو نه هم سمه لار دوی ډيره ورکه کړې ده او دوی غافلان دي، يعنی په هيڅ څه نه پوهيږي، ځکه د دوی عقل او زړونه د حق پوهيدلو نه محروم دي او په ستړکو او په غوږونو باندې نه حق ليدلای سي او نه يې اوري.

ګرانو دوستانو! دا مبارك آيت رسول اللهﷺ ته او د هغه پيغام او د دين وارثانوته چې علماء او دعات دي؛ لوی ډاډ او تسليت دئ، نو د الله تعالی دين ته ده يو رابلونکئ عالم او مبلغ؛ هيڅکله هم دا فکر نکړي چې د هغه خبره به ټول خلک اوري او پرې پوهيږي به او بيا به هغه خاماخا مني، نا! واقعيت داسي نه دئ، او الله تعالی په خپل تقديري علم کې ډير کسان داسې ګرځولي دي چې دوی هيڅ کله هم حق ته غاړه نږدي او هغه نه مني، نو ځکه په تار يخ کې و ينو او لولو چې د باطل او د شيطان لښکر تل د حق پالانو پر وړاندې کلک در يدلئ دئ او دښمني يې ورسره کړې ده، او غوښتي يې دي چې د حق مخه ونيسي، نو يقينا چې دا د حق او باطل په منځ کې اوږده جګړه به تل همداسې جاري وي او پای به يې هغه ورځ وي چې کله عيسیعليه السلام د اسمان نه راکوز سي او د حق او د توحيد کلمې بيرغ په ټوله نړۍ کې ور پوي، او بيا ټول خلک د هغه حکم او د اسلام بيرغ لاندې راغونډ سي، نو د علماوو او دعاتو رسالت به همداسې مخ پروړاندې خوځيدلئ پاتې وي او دوی به د باطل سره تل په جګړه کې وي.

{الله په ښکلو نومونو يادیږي او د کافرانو په خولو نه بدليږي}

او په ور پسې مبارك آيت کې مومنان الله تعالی هڅولي دي چې د ښکلو نومونو لوی څښتن الله ده په توحيد سره وغواړي او د ملحدانو پيښې او تقليد ده پر يږدي، او فرمايلي دي:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٨٠﴾

[۱۸۰] ای مومنانو! او الله ښـکلي نومونه لري [چې هغه ټول د الله تعالی پر لو یتیا او عظمت باندې دلالت کړي] نو تاسې ای مومنانو! الله په دغو نومونو باندې یاد کړئ او وې غواړئ، او هغه کسان چې د الله په نومونو کې څه بدلوي؛ دوی پر یږدئ [یعنی ورڅخه تیر سئ او پروایې مکړئ] او دوی ته به الله [د هغو بدو کړنو چې د الله په نومونو کې څه بدلوي کلکه] سزا ورکړي، یعنی الله به دغه ملحدین هلاك کړي.

ګرانو دوسـتانو! الله تعالی خپل ځان مونږ ته په ښـکلو نومونو او لوړو صـفتونو راپیژندلئ دئ، نو ښـایي مونږ د الله تعالی په ټولو ښـکلو نومونو او په لوړ صـفتونو باندې کلک ایمان او باور ولرو او په هغو کې هیڅ ډول بدلون رانولو او په معنایې د الله مقام او د هغه شان سره برابر پوه سو، او دا الله تعالی دغه ښکلي نومونه او لوړ صفتونه پرته د کم تاو یل، تبدیل، تعطیل او تحر یف نه الله تعالی ته ثابت کړو، لکه څنګه چې الله تعالی هغه خپل ځان ته په قرآن کې ثابت کړي دي او خپل ځان یې ور باندې نومولئ او ستایلئ دئ، او د قرآن په آیتونو کې یې هغه مونږ ته په ښـه روښـانه عربي ژ به بیان کړي دي، او بیایې ډیر بیان رسـول اللـه ﷺ په خپلو احـادیثو کې راتـه کړئ دئ، او فرمـایلي دي:"اللـه نـه نوي(۹۹) نومو نه لري، او هرڅوک چې هغه وشمیري او په معنایې پوه سي او عمل پرې وکړي، نو جنت ته ځي" او بیا الله تعالی مومنانوته لارښـودنه او سپارښت کړئ دئ او فرمایلي دي:"او د مشرکانو نه چې هرڅوک د الله په نومونو کې الحاد کوي او د هغو معنا بدلوي، نو هغه پر یږدئ او پروا یې مکړئ." یعنی دا چې ترڅو دوی همداسې په خپل جهالت کې ورک سي.

هو! درندو دوستانو! نو ښایې چې اسلام ته رابلونکی دعات او علماء د نن ورځې ملحدانو او سیکولارانو پروړاندې همدا در یځ غوره کړي او حق خلکوته د الله تعالی توحید په باره کې بیان کړي او د ملحدانو او مشرکانو پروا ونکړي، ځکه الله تعالی هغوی ته د خپل بد عمل او د الحاد او شـرك سزا خامخا ورکوي او مختورن او سر کوزئ برخلیک یې په برخه کیږي او د جهنم په اور کې ټې وکړوي.

{ظالمان الله په ګناه کې همداسې ډوبوي او ښه ډیرې زنډوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان او کافران سره بیل کړي دي، او د کافرانو هلاکت نه یې مومنان خبر کړي، او فرمایلي دي:

﴿وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٨١﴾ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٢﴾ وَأُمْلِى لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِى مَتِينٌ ﴿١٨٣﴾ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا۟ ۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١٨٤﴾ أَوَلَمْ يَنظُرُوا۟ فِى مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ وَأَنْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ ۖ فَبِأَىِّ حَدِيثٍۭ بَعْدَهُۥ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٥﴾ مَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَا هَادِىَ لَهُۥ ۚ وَيَذَرُهُمْ فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٨٦﴾﴾

[١٨١] او د هغو کسانو نه چې دوی مونږ پیدا کړل داسې یو ډله هم سته چې دوی د حق لارې ته سم سوي دي [یعنی پرحق باندې پوخ ایمان او باور لري] او د خلکو په منځ کې عدالت چلوي، یعنی دا هغه مشران دي چې پردوی الله خپل رحمت پیرزو کړئ دئ، نو ایمان یې راوړئ دئ، او ښه عمل لري، او دا کسان د رسول اللهﷺ یاران (صحابه) او بیا وروسته د قیامت ورځ پورې د هغه امت دئ.

[١٨٢-١٨٣] او هغو کسانو چې د زمونږ کتاب آیتونه تکذیب کړل [یعنی هغه یې ونه منل او ورڅخه منکر سول] دوی به د داسې لارې نه چې هیڅ پام یې نه وي او نه پوهیږي په تدر یج سره [ورو ورو په ډیرو ورکړو سره] غافل کړو او هلاکت ته به یې ورلنډ کړو، یعنی الله تعالی غافل کسان په ډیر مال، دولت او مقام ورکولو سره ازمایي او بیایې هلاکوي، او دغسې هلاکت ته علماء استدراج وایي.

[١٨٣] او دغو کافرانوته [چې دوی د خپل رب الله تعالی لوړ مقام نه پیژني] مهلت ورکوم [یعنی ترڅو په ګناه کې ښه ډیر رودي او پکې ډوب سي،

نو بيا پې سزا هم ښه ډيره سي] او د زما نقشه (پلان) د دوی نيولو ته ښه کلک دئ، يعنی هغه الله تعالی په خپل لوی علم سره پرکافرانو اجرا کوي.

عزتمنو دوستانو! نو کافران د الله تعالی سزا نه هيڅ کله خلاصيدای نسي، ځکه د الله تدبير د هغه دښمنانو پر وړلاندې ډير پوخ دئ او هيڅ څوک يې د اجرا کيدو مخه نيولای نسي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې د رسول اللهﷺ نه په دفاع کې الله تعالی فرمايلي دي:

[١٨٤] او آيا دغو کافرانو ښه ژور فکر ونکه چې [محمد ﷺ]د دوی ملګرئ [چې دوی به ورته ليونئ و يل] هغه ليونئ ندئ، بلکې هغه دوی ته ښکاره ګوابښوونکئ را ليږل سوئ دئ، يعنی محمد ﷺ کافران د الله سخټې سزا نه ګوابښي او مومنانوته د الله تعالی لخوا د نيکمرغۍ پيغام رسوي.

[١٨٥] [او آيا دغو کافرانو چې د الله کتاب (قرآن) آيتونو نه منکر سول او د الله تعالی پرتوحيد يې ايمان رانه وړ] آيا دوی د الله قدرتونو ته پرځمکه او په اسمانو کې او هغه څه ته چې پکې الله پيدا کړي دي ونه کتل؟ [يعنی پکې ښه ژور فکر نکړي؟] نو کيدای سي چې د کافرانو اجل را لنډ سوئ وي [او د هلاکت نيټه يې رانزدې وي] نو کافران د قرآن ګوابښونو نه وروسته په کومه خبره باور او ايمان لري؟ يعنی د قرآن نه چې د الله کلام دئ بل د با خبرتيا او ګوابښ؛ هيڅ داسې اوچته مرجع نسته چې ور باندې باور وسي او خبرې يې ومنل سي!

[١٨٦] هو! هرڅوک چې الله د سمې لارې نه ورک کړي، نو بيا دئ بل لارښود نه لري چې په سمه لارې وخوځوي، او کافران الله همداسې په خپله سرغړونه کې حيران سوي پر يږدي، يعنی داچې ترڅو همداسې په کفر کې سرګردانه ګرځي را ګرځي او سمه لار نه مومي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د ټولو کافرانو او په ځانګړي ډول د مکې مشرکانو ورکتيا سمې لارې نه او د حق نه سرکښي؛

کلکه غندلي ده او دوی يې د الله لو يو قدرتونو په سختو سزاګانو ګواښلي دي، ترڅو حق ته غاړه کيږدي او په سمه لار چې هغه د دوی د خلاصون او په دنيا او آخرت کې د نيکمرغۍ لار ده؛ روان او ښاد سي.

{د قيامت ورځې د راتګ علم يوازې الله سره دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى پيغمبرﷺ ته د قيامت ورځې د راتګ نيټې په باره کې ډيرې روښانه لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، او په پوره بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى ۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَآ إِلَّا هُوَ ۚ ثَقُلَتْ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً ۗ يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِىٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾ قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ لَٱسْتَكْثَرْتُ مِنَ ٱلْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِىَ ٱلسُّوٓءُ ۚ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٨﴾﴾

[١٨٧] ای پيغمبره! [او د مکې کافران] ستانه د قيامت ورځې راتګ پوښتنه کړي چې قيامت کله راځي او څه وخت در ږي؟ نو ته ای پيغمبره! [دوی ته په ځواب کې] ووايه: د قيامت ورځې راتګ علم او پوهه يوازې د زما رب الله سره ده او د الله نه پرته بل هيڅ څوک د قيامت ورځې په راښکاره کيدو باندې علم نه لري [يعنی د قيامت ورځې راتګ د پټو پيښو نه دئ او د الله نه پرته بل هيڅ څوک ور باندې نه پوهيږي] او د دغې ورځې د راتګ علم د اسمانو او د ځمکې په اوسيدونکو دروند سه [يعنی هغه ورڅخه پټ دئ او هيڅ څوک خبر نه دي چې قيامت به کله در ږي؟ خو قيامت ناڅاپه راځي، او ای پيغمبره! دغه خلک ستانه د قيامت ورځې د راتګ پوښتنه کړي، لکه دا چې ته ورڅخه خبر يې، ځکه نو ډير يې يادوې، نو ته دوی ته ووايه: د قيامت ورځې راتګ علم د الله سره دئ، خو ډير

خلک نه پوهیږی، یعنی ښایي پۀ سي چې د قیامت ورځې راتک حتمي دئ، نو باید هرڅوک ورته تیار سئ وي.

[۱۸۸] ای پیغمبره! [او دغو کافرانوته] ووایه: زه خپل ځان ته د کټې رسولو او یا د ز یان رسولو واک او اختیار نه لرم، مګر هغه څه چې الله وغواړي او که زه په غیب او په پټو شیانو پوهیدای، نو ما به ځان ته ډیره ګټه رسولې وه، او هیڅ کله به ما ته د بدو ز یان او تاوان نه ۀ رسیدلئ، هو! زه یوازې د الله عذاب او د دوزخ اور نه ګواښونکئ یم او مومنانوته د ثوابونو ز یري ورکوم.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې دا لوی حقیقت مونږ ته په پوره روښتیا سره بیان کړئ دئ چې رسول اللهﷺ یوازې پیغمبر او د الله استازئ ۀ، او د الله پیغام یې خلکوته رسا ۀ، مومنانوته یې د جنت ز یري ورکا ۀ او کافران یې د دوزخ اور نه ګواښل، او پیغمبرﷺ خپله هیڅ واک نه درلود، ځکه دئ د الله نورو بنده ګانو غوندې یو بنده ۀ، خو الله تعالی دئ د خپلې پیغمبرۍ لپاره غوره کړئ ۀ، نو هغه نه په غیبو باندې علم درلود او نه یې څه شئ په واک او قدرت کې ول، نو نه ښایي چې څوک د الله تعالی پرځای د رسول اللهﷺ نه چې اوس دئ مړ دئ او په خپل کورکې خښ دئ؛ خپل حاجتونه او اړتیاوې وغواړي، خو یقیناچې رسول اللهﷺ د قیامت په ورځ ګناه ګارو مومنانوته د الله په حضور کې او د الله تعالی په اجازه شفاعت او سپارښت کړي، نو بیا دوی د دوزخ نه راوځي او الله یې جنت ته ورننه باسي.

{آدم اوکهول یې الله پیدا کړل او د شکرو یستلو هوډې وکه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې د آدمعليه السلام او د هغه کهول شکر و یستلو تعهد نه مونږ الله تعالی خبر کړي یو، او فرمایلي دي:

﴿۞هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ۖ فَلَمَّا تَغَشَّىٰهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا فَمَرَّتْ بِهِۦ ۖ فَلَمَّآ أَثْقَلَت دَّعَوَا ٱللَّهَ رَبَّهُمَا

لَئِنْ ءَاتَيْتَنَا صَٰلِحًا لَّنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٨٩﴾ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُمَا صَٰلِحًا جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ فِيمَآ ءَاتَىٰهُمَا ۚ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٩٠﴾

[۱۸۹] هو؛ ای خلکو! الله هغه څوک دئ چې تاسې یې د یؤ سړي (آدم علیه السلام) نه پیدا کړی او بیایې د هغه نه خپله جوړه (حواء) پیدا کړه، ترڅو آدم د هغې سره په ملتیا کې ډاډمن او آرام سي [یعنی دا چې ټول خلک په اصل کی د آدم او حواء نه پیدا سوي دي او د دوی کهول بلل کیږي، خو بیا چې کله میږه او میرمن یو بل] سره ځملاستیدل، نو میرمن یې سپک حمل واخست [یعنی بلار به سوه او بیا شپې او ورځې همداسې تیریدلې، خو د ستړیا احساس یې نه کا ؤ] او کله چې درنده سوه [یعنی ماشوم یې په نس کې را لوی سه] نو بیا میږه او میرمني دواړو دعاء وکړه او د خپل لوی څښتن الله نه یې وغوښتل چې که مونږ ته تا ښه او صالح ماشوم را که، نو یقینا چې مونږ به د ستا [د دغې لویې ښې] د شکر و یستونکو نه یو، یعنی ستا د بنده ګی حق به پرځای کړو او یوازې د ستا بنده ګي به کړو او هیڅ څوک به ستا سره په عبادت کې نه ګډو او نه یې شر یکوو، او د هر ډول کفر او شرك نه به ځانونه کلک ساتو.

[۱۹۰] نو بیا چې کله دوی دواړو ته الله صالح ماشوم ورکه، نو بیا دوی د الله سره په هغه ورکړه کې چې پردوی یې پیرزو کړه؛ نور څوک یې په دې ورکړه کې شر یکان وګرځول، نو الله د دوی د شر یکانو نه لوړ او پاک دئ، یعنې ښاییدل چې دوی د خپل رب الله سره د هغه په ورکړه کې بل څوک نه وای شر یك کړئ، ځکه دا نعمت دوی ته یوازې الله چې د دوی خالق او پالونکئ څښتن دئ ورکه.

قدرمنو عز یزانو! د حسن بصري رحمة الله علیه نه روایت سوئ دئ چې د مشرکانو نه دلته مقصد د آدم علیه السلام کهول وروستي نسلونه دي، نه خپله آدم او حواء علیهما السلام، او دا قول د جمهورو مفسر ینو مذهب دئ، نو ځکه الله تعالی خپله لوړتیا د دوی په شرکي خدایانو باندې پورته اعلان کړې ده، او په دې مبارکو آیتونو لمړئ نوع د انسان، یعنی یوازې

آدم عليه السلام مقصد دئ، او بيا په ور پسې مبارك آيت کې مقصد جنس د انسانانو دئ چې په دې لو يه ګناه کې چې شرك دئ؛ لو يدلي دي.

{د کافرانو خدايان بې واکه او بې وسې دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې شرك الله تعالى په ډير کلک معقول استدلال سره رد کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿١٩١﴾ وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٢﴾ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمْ ۚ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ أَمْ أَنتُمْ صَٰمِتُونَ ﴿١٩٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ ۖ فَٱدْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٩٤﴾ أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ ءَاذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۗ قُلِ ٱدْعُوا۟ شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾ إِنَّ وَلِيِّىَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْكِتَٰبَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٩٦﴾ وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٧﴾ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ لَا يَسْمَعُوا۟ ۖ وَتَرَىٰهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿١٩٨﴾﴾

[١٩١] آيا کافران د الله سره هغه څه په خدايي کې شر يکوي چې هيڅ څه شئ نه پيدا کوي او دوی [يعنی د مشرکان خدايان] خپله پيدا سوي دي، يعنی مشرکان الله پيدا کړي دي، نو يوازې الله په حق سره د دوی معبود خدای دئ او بل هيڅ څوک مل او شريك نه لري.

[١٩٢] [او دغه ناحقه معبودان] مشرکانو ته څه مرسته رسولای نسي او نه د خپلو ځانو سره مرسته کړلای سي، يعنی د دوی دغه معبودان د هرڅه نه عاجز او بې وسې کالبوتان دي.

[١٩٣] او که تاسې ای مشرکانو! دغه ناحقه معبودان سمې لارې ته

راو بولې؛ دوی تاسې پسې نه ځي او نه د ستاسې پیروي کړي، نو برابره ده چې دوی سې لاړې ته را دعوت کړی او یا چوب پاتې سی [یعنی را دعوت یې نکړی، ځکه] دا دواړه سره برابر دي.

[۱۹٤] او ای کافرانو! یقینا هغه څوک چې د الله نه پرته تاسې غواړی او عبادت یې کړی؛ هغوی د ستاسې غوندې [پیدا سوي] بنده ګان دي، او ای کافرانو! که تاسې ر یښتیا وایي، نو خپلې غوښتنې د بتانو نه وغواړی [او بیا وګوری چې آیا دوی د ستاسې غوښتني مني کنه؟] یعنی هغه څه چې تاسې غواړی هغه به درکړي کنه؟

هو؛ ګرانو دوستانو! دلته سوال یا پوښتنه انکاري ده، یعنی بتان د ستاسې غوښتنو ته ځواب نه درکوي، او هغه خوسې کالبوتان دي!

[۱۹۵] او ای مشرکانو! آیا د ستاسې دغه ناحقه خدایان او بتان پښې لري چې ور باندې لاړ سي؟ او آیا دوی لاسونه لري چې څه شئ ور باندې ونیسي؟ او آیا دوی سترګې لري چې څه پرې وو یني؟ او آیا غوږونه لري چې څه په واوري؟ [هو! دا پوښتنې ټولې انکاري دي، ځکه د مشرکانو بتانو چې دوی ورته خدایان و یل؛ هیڅ څه نه درلودل او د کانړو یا تیګو نه جوړ سوې خوسې کالبوتونه ول، او ساه پکې نه وه، او کله چې حقیقت داسې دئ، نو تاسې ای مشرکانو! ولې د بتانو عبادت کړی او د خپل پیدا کونکي او پالونکي خدای الله بنده ګي پر یږدی؟

او بیا الله تعالی پیغمبرﷺ ته په خپله و ینا کې فرمایلي دي: ای پیغمبره! دغو مشرکانوته ووایه: نو خپل هغه معبودان چې تاسې یې د الله سره په خدایې کې شر یکوی را وغواړی او بیا په ګډه سره د زما پرضد توطئیه او چل جوړه کړی او ماته هیڅ وخت او مهلت مه را کوي، ترڅو زه د ستاسې سیالی ته تیارئ ونیسیم، یعنی پیغمبر د مشرکانو بتانو پروا نکړي او نه ورڅخه و یر یږي، ځکه هغه پرالله باندې توکل کړئ دئ او دئ الله تعالی د هر ګوانې نه ساتي!

[۱۹٦] هو؛ ای مشرکانو! یقینا چې د زما مل او ملګرئ الله دئ او الله

د زما پالونکئ لوی څښتن دئ او دا کتاب (قرآن) يې پرما باندې را نازل کړئ دئ او الله د صالحانو او ښو کسانو ملګرئ او مرستندوی دئ.

[۱۹۷] او هغه بتان چې تاسې يې ای مشرکانو! د الله نه پرته عبادت کړئ؛ هغوی د ستاسې مرسته نسي کړای او نه د خپلو ځانونو مرسته کړای سي، يعنی د خپلو ځانونو نه دفاع کړلای نسي، ځکه هغه خوسې تراشل سوي شوکانې دي.

[۱۹۸] او که ته ای پيغمبره! دغه بتان سمې لارې ته [چې هغه يوازې د الله عبادت دئ] را و بولې، نو دوی د ستا خبره نه اوري [ځکه دوی خوسې بې ساه کالبوتان دي] او ته به ای پيغمبره! دغه بتان و يې چې درته ګوري، خو دوی څه نه و يي، يعني مشرکانو به د تيګو يا کانړو نه د آدم او انسان غوندې کالبوتان جوړول، خو ساه به پکې نه وه.

ګرنو عز يرانو! الله تعالی پردې اوږده بيان او ډول ډول دليلونو سره د ټول بشر يت په اوږده تار يخ کې د مشرکانو بت پرستۍ او د الله تعالی نه د ناشکرۍ انځور او ښه ځلانده تصو ير مونږ ته وړاندې کړئ دئ، او بيايې د مشرکانو سره د دوی ناحقه خدايانو او بتانو په باره کې اوږد استدلال او اوږدې خبرې او مرکه کړې ده، او د مشرکانو په فاسده او بې بنسټه شرکې عقيده باندې يې د بطلال سره کړښه را کش کړې ده.

هو؛ قدرمنو دوستانو! د دې تصو يري بيان د پيل نه چې د قصې په بڼه کې سوئ دئ؛ ظاهرا داسې ښکاري چې هغه دوه ناشکره بنده ګان آدم او حواء وي، لکه څنګه چې د قرآن ځينو مفسر ينو هم ورته اشاره کړې ده، خو حقيقت، لکه څنګه چې مخکې وو يل سول داسي نه دئ او مقصد يې د آدم عليه السلام او د حواء نه وروسته د دوی د کهول نه؛ ټول هغه کافران او مشرکان دي چې په دې لو يه ناشکرۍ کې لو يدلي دي، لکه د مکې مشرکان چې د الله تعالی سره يې په خپلو لاسونو جوړ کړي بتان په خدايي کې کډول، نو په دي مبارکو آيتونو کې الله تعالی د دوی اوږد بيان کړی دئ، ځکه د قرآن د را نازليدو په وخت کې لمړني مخامخ مخاطب

کسان همدا مشرکان ول، او آدم علیه السلام او حواء چې د ټولو خلکو مور او پلار دي؛ هیڅ کله دغسې لو یه ګناه نه ده کړي، او دوی د شرك نه پاک ول او په خپلو لاسونو جوړ سوي بوت عبادت یې؛ هیڅ کله نه دئ کړئ، بلکې دوی خپل رب الله په توحید سره پیژاند او یوازې د الله عبادت او بنده ګي یې کړه!

{رسول الله ته او د امت دعاتو ته د تګ لارې نښو سپارښتنه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د خلکو سره د ښه چلند په باره کې ځانګړې لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، او هغه هر دعوت کونکي مبلغ ته ځلانده څراغونه او ډیوې او د لارې ارزښتناکه توښه ده، او په بیان کې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حکم کړئ فرمایلي دي:

﴿خُذِ ٱلۡعَفۡوَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡعُرۡفِ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡجَٰهِلِينَ ١٩٩ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ نَزۡغٞ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٢٠٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ إِذَا مَسَّهُمۡ طَٰٓئِفٞ مِّنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبۡصِرُونَ ٢٠١ وَإِخۡوَٰنُهُمۡ يَمُدُّونَهُمۡ فِي ٱلۡغَيِّ ثُمَّ لَا يُقۡصِرُونَ ٢٠٢ وَإِذَا لَمۡ تَأۡتِهِم بِـَٔايَةٖ قَالُواْ لَوۡلَا ٱجۡتَبَيۡتَهَاۚ قُلۡ إِنَّمَآ أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ مِن رَّبِّيۚ هَٰذَا بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمۡ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٢٠٣﴾

[۱۹۹] ای پیغمبره! [ته د خپل امت مومنانو او کافرانوته] د عفوې او تیري نه کار واخله [یعنی د دوی د تیروتنو نه ورتیر سه او د هیڅ چا سره سختي مکړه او ښه پوست او اسانه ورسره چلیږه] او د دود سره سم په ښو کړنو او ښو خبرو سره خلکوته حکم او سپارښت وکړه او د ناپوهانو نه [یعنی د کم عقله کسانو نه] مخ واړه وه او ورڅخه تیر سه.

[۲۰۰] او ای پیغمبره! کیدای سي چې کله شیطان ډیکه درکړي [یعنی په زړه کې ده وسوسه واچوي] او تا را و پاروي، نو ته د الله نه د خپل ځان ساتنه وغواړه، ځکه یقینا چې الله ښه اور یدونکئ او ښه پوه لوی ذات

دئ، يعنى د خپلو بنده ګانو دعاګانې اوري او پر مقصدونو يې پوهيږي.

هو! درندو دعاتو او ملايانو! يقينا هغه کسان چې متقيان دي [يعنى د الله عذاب نه و يږي او د سزا نه يې په اطاعت سره ځان ساتي] دوى ته چې کله د شيطان وسوسې ډيکه ورکړي، نو بيا الله دوى ته ژر ور پياد سي او په پوره هوښيارۍ سره د شيطان وسوسو نه ځانونه ساتي.

او دغسې سپارښتنه الله تعالى د فصلت سوره په ٣٤تر٣٦مبارکو آيتونو کې هم پيغمبرته کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَلَا تَسۡتَوِي ٱلۡحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُۚ ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِي بَيۡنَكَ وَبَيۡنَهُۥ عَدَٰوَةٞ كَأَنَّهُۥ وَلِيٌّ حَمِيمٞ ٣٤ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٖ ٣٥ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ نَزۡغٞ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٣٦﴾

معنا دا چې اى پيغمبره! د خلکو سره چلند په ښه طر يقه او په بده طر يقه سره برابر نه دئ، نو ته په ډيره ښه طر يقه د ځان نه دفاع وکړه، نو بيا به هغه کس چې د ستا او هغه په منځ کې دښمني ده؛ داسې بيامومې، لکه چې دئ د ستا صميمي دوست دئ، او د نيکۍ دغسې لوړ مقام ته څوک رسيدلاى نسي، مګر هغه کسان چې صبر کړي او د کلک زغم څښتن دي، هو! دغسې مقام او رتبې ته څوک نسي رسيدلاى، مګر دا چې دئ د لويې برخې څښتن وي، او کيداى سي چې د شيطان لخوا ديکه درکړه سي، نو الله ته پناه يوسه او ځان ور باندې وسپاره،ځکه يقيناچې الله ښه اور يدونکئ او ښه پوه ذات دئ، يعنى نو الله تعالى به د ستا ننګه وکړي او دښمن بده مختورن او رسوا کړي.

[٢٠٢] [او اى خلکو! په دې پوه سې چې] د شيطان ورونه [او پلو يان يې د انسانانو او پيريانو نه] هغه سره د خلکو په بې لارې توب کې مرسته او ملتيا کړي او د شيطان نه هيڅ شئ نه سپموي.

[٢٠٣] او اى پيغمبره! کله چې ته مشرکانوته د دوى د خوښې معجزې او دليلونه را نوړې، نو بيا دوى وايي: ولې تا د خپل ځان نه دا آيت يا دا معجزه غوره نکره [يعنى هغه ده رانوړه؟] نو ته اى پيغمبره! [په ځواب کې

دغو مشـــرکانوته ووایه: زه د هغې وحې پې تابع یم چې هغه ماته د زما رب الله لخوا راځي [یعنی د خپل ځان نه پیغمبر هیڅ څه شئ راوړلای نسي، او دا قرآن د الله تعالی نه پیغمبر ته وحیه ســوئ کتاب دئ او په هغه کې د ستاسې رب او لوی څښتن لخوا] روښانه دلیلونه دي او هغه مومن قوم ته لارښــود او رحمت دئ، یعنی د هغه په ســر الله پر مومنانو باندې ډیر رحم کړئ دئ او خپل لوی نعمتونه پې ور باندې وورولي دي.

{د قرآن تلاوت سجده په لوستونکو او اوریدونکو واجب ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې چې د الاعراف ســورې وروســتي مبارك آیتونه دي؛ الله تعالی مونږ ته په قرآن مجید کې د تلاوت سجدو حکمونه بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٢٠٤ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ فِي نَفۡسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ ٱلۡجَهۡرِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ٢٠٥ إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ يَسۡجُدُونَ ٢٠٦﴾

[٢٠٤] ای مومنانو! او کله چې قرآن ولوستل سي، نو تاسې ورته غوږ و باسئ او چوپ سئ، ترڅو د الله رحمت در باندې وورسي، یعنی تاسې د الله په مقصد ښه پوه سئ.

[٢٠٥] او ای پیغمبره! خپل لوی رب الله ده سحر صبا او د غرمې نه وروســته د ځان ســره په زاړه او په ورو ورو غږ ســره پرته د جګ غږ نه؛ یاد کړه او د غافلانو نه مکیږه، یعنی خپل رب او لوی خدای مه هیروه!

[٢٠٦] او ای پیغمبره! یقینا هغه کسان چې د ملائکو نه د ستا رب الله ســره دي؛ هغوی د الله پرعبادت او بنده ګۍ باندې کبر نکړي [یعنی خپل ځانونه ورڅخه پورته نه بولي] او د الله تســبیح وایي او الله په پاکې ســره یادوي او الله ته سجده کړي، یعنی فرښتې چې اســتوکنځۍ پې اســمان دئ شــپه او ورځ د الله په عبادت کې لګیا دي او الله تعالی ته پرمخې په سجد پراته دي او هیڅ کله نه ستړي کیږي!

قدرمنو دوستانو! دا ارزښتناکه قرآني لارښودنې رسول اللهﷺ ته او د هغه میراث خورو عالمانو، ملایانو، دعوت کونکو او مبلغانوته ډیرې غوره لارښودنې دي، نو ښایي چې دوی هغه په پوره تدبر او کلک پام سره په قرآن کې ولولي او خپل ځانونه ور باندې ښه پوه کړي، او بیا هغه عملي کړي او د خپلې ټولنې په اصلاح کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړي، ترڅوپې د دنیا او آخرت نیکمرغي په برخه سي.

هو؛ ګرانو دوستانو! دا د الاعراف سورې وروستئ مبارك آیت دئ او د قرآن په لوستلو، تلاوت او په اور یدلو سره یې د تلاوت سجده په هر مومن بنده باندې واجب ده، او دا سجده د تلاوت لمړنۍ سجده په قرآن کر یم کې ده، او بیا په راتلونکو مبارکو سورو کې نورې دیارلس سجدې دي، او د تلاوت وروستۍ سجده د العلق یا د اقرأ په مبارکه سوره کې ده.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين و على آله و أصحابه أجمعين.

سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

❁❁❁

د الانفال سورې پښتو معنا او لنډ تفسر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالي په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الانفال سورې لنډه پيژندنه او لوی مقصدو نه}

قدرمنو دوستانو، او د الله لارې مجاهدينو! د الانفال مبارکه سوره مدني سوره ده، او د بدر غزا او د هغې بر يا او فتحې په باره کې پر رسول الله ﷺ باندې رانازل سوې ده، او د غنيمتونو و يش مسئلې، حکمونه او د مسلمانانو په منځ کې اتحاد او وروری ته پکې کلکه بلنه ورکړل سوې ده، او سپارښتنې يې مونږ ته الله تعالی يادې کړې او بيان کړې دي، او لکه څنګه چې دا مبارکه سوره ټوله د کافرانو او مشرکانو سره د جهاد په باره کې ده، او د بدر په غزا کې چې کله کافرانو لمړئ مسلح بر يد پرمومنانو باندې وکه، نو مومنانوته د رسول الله ﷺ په مشری الله تعالی لو يه فتحه او بر يا ور په برخه کړه، او بيا الله تعالی په دې مبارکه سوره کې کافرانو سره د جهاد مسئلي او د فتحې او نصرت عوامل او اسباب او خپلې ډيرې پيرزو ينې پرمومنانو باندې يادې کړې او بيان کړې دي، او همدارنګه په دې مبارکه سوره کې د الله تعالی ښې ډيرې ارزښتناکه لارښودنې او الهي ځلانده سپارښتنې مومنانوته ترقيامت ورځې پورې بيان سوی دي، او يقيناچې عملي کول يې د دوی د ښادی او سرلوړی لپاره ډير اړين او ښه ګټور لارښود پيغام دئ.

{دغنيمت و يش و اکمن الله او پيغمبر دئ او اختلاف روا ندئ}

ګرانو دوستانو! دا مبارکه سوره په (الانفال) څکه نومول سوې ده چې د ډيرو غنيمتونو بيان پکې سوئ دئ [يعنی د دښمن نه ولکه سوې اسلحې او د جګړې نور سامانو نه پکې ښه روښانه ياد سوي دي] او دغه

ولکه سوئ سامان د بدر په غزا کې د مومنانو په ولکه کې پر یوت، او د الانفال معنا په جهاد کې د دښمن نه لاس ته راغلي غنیمتونه ده، نو پوښتنه داده چې دا غنیمتونه د چا حق دئ؟ او هغه ښایي څنګه تقسیم او وو یشل سي؟ نو په ځواب کې یې الله تعالی مونږ ته د الانفال مبارکې سورې په پیل کې فرمایلي دي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَنفَالِ ۖ قُلِ ٱلْأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَصْلِحُوا۟ ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۖ وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١﴾ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ۚ لَّهُمْ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٤﴾﴾

[١] ای پیغمبره! ستانه ده [هغه ملګرې چې د بدر په غزا کې یې برخه درلوده او د مشرکانو په لوی یرغلګر لښکریې بر یا په برخه سوه] پوښتي [چې د مات سوي دښمن د جګړه مار لښکر نه پاتې سوي] غنیمتونه څنګه وو یشي؟ [یعنی هغه د چا حق دئ؟ نو ته ای پیغمبره! په ځواب کې دوی ته] ووایه: غنیمتونه د الله او د پیغمبر په واک کې دي [یعنی پیغمبریې د الله حکم سره سم و یشي او هرچا ته د هغه خپله برخه ورکوي] نو تاسې ای مومنانو! متقیان سی او د الله عذاب نه ځانونه وساتی او په خپل منځي اختلاف کې صلحه او روغه جوړه وکړی [او یو د بل سره د غنیمتونو پرسر اختلاف مکړی] او که تاسې مومنان یاستی، نو د الله او پیغمبر حکم ومنی، یعنی د الله تعالی او پیغمبر امرونوته د غنیمت په تقسیم او عادلانه و یش کې غاړه کیږدئ، او پکې اختلاف مکړی!

[٢] [او دا ځکه چې ر ښتیني] مومنان هغه کسان دي چې کله الله یاد سي، نو د دوی زړونه د و ېرې نه کلک ولړز یږي، او کله چې د الله کتاب (قرآن) آیتونه پردوی ولوستل سي، نو د دوی ایمان ډیر سي [یعنی ټینګ

او غښـــتلئ ســـي] او مومنان پرالله باندې توکل کړي، يعنی ځانونه پرالله سپاري، او هيڅکله د مادي ګټو په فکرکې ندي.

[۳] هو! مومنان هغه کســـان دي چې لمنځونه کړي [يعنی په خپلو تاکل سوو وختونو کې لمنځونه دروي] او د هغې روزی نه چې مونږ دوی ته ورکړي ده؛ بې وزرو مسکينانوته خيرات ورکوي.

[٤] او هغوی په حق او ر ښـتيا ســره مومنان دي، او دوی ته د دوی پالونکي څښـتن ســره لوړې درجې، بښـنه او عزتمنه روزي ده، يعنی دوی ته به الله تعالی په آخرت کې لوړ مقام او ډيره روزي ورکړي.

درندونو دوســـتانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې د غنيمنتونو د و يش حکم او واک چې هغه د الله او د پيغمبر ســـره دئ؛ مونږ ته بيان کړئ دئ، او بيا الله تعالی مومنان د غنيمت تقســـيم پر ســـر اختلاف کې خپل منځي روغې جوړې ته رابللي دي، او د الله تعالی او د پيغمبر امرونو اطاعـت يې پردوی بـانـدې فرض کړئ دئ، او بيـا الله تعـالی مونږ تـه د صـادقانو او ر ښـتينو مومنانو خو يونه او ځانګړي صـفتونه بيان کړي دي، او د دوی لوړ عزتمن مقام يې د الله ســـره په آخرت کې را ته په نښـه کړئ او ياد کړئ دئ، نو مومنانو ته ښـايي چې د دغسې ښـو خو يونو څښـتن سي، ترڅو دغه لوړ مقام په آخرت کې وګټي.

{رسول الله ﷺ د بدر ډاګ کې کافر انو جهاد ته الله راو ايست}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د بدر غزا ته د رسـول الله ﷺ د راوتلو مقصد الله تعالی مونږ ته بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ۝٥ يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ۝٦ وَإِذۡ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحۡدَى ٱلطَّآئِفَتَيۡنِ أَنَّهَا لَكُمۡ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيۡرَ ذَاتِ ٱلشَّوۡكَةِ تَكُونُ لَكُمۡ وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ

وَيَقۡطَعَ دَابِرَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧ لِيُحِقَّ ٱلۡحَقَّ وَيُبۡطِلَ ٱلۡبَٰطِلَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٨

[٥] [هو؛ ای پیغمبره! [دا د غنیمتونو تقسیم او و یش پرسر اختلاف؛ د بدر غزا په لور د ستا وتلو اختلاف ته ورته دئ] او لکه څنګه چې ته د خپل کور نه د ستا رب الله مشرکانو سره مخامخ جګړي ته په بدر کې په حق سره را وایستلې، او د مومنانو یوې ډلې یقینا د ستا سره د وتلو نه کرکه درلوده [نو اوس هم د ستا ځینې ملګرو د غنیمت په و یش کې په خپل منځ کې سره اختلاف وکه، ترڅو چې بیا د غنیمت تقسیم واک الله او پیغمبر ته وسپارل سه او هغه په حق سره د الله حکم دئ، نو د پیغمبر وتل بدر ته او بیا د غنیمتونو و یش واک سپارل الله او پیغمبرته دا دواړه حق دي، یعنی پکې بحث او جنجال نه روا او نه پکار دئ.

[٦] ای پیغمبره! [او کله چې د بدر په غزا کې] حق ټولوته روښانه سه [یعنی رسول الله ﷺ او ورسره صحابه د مشرکانو جګړه مارو یرغلګرو لښکرو سره مخامخ جګړه کړي او دا جګړه حق ده، نو بیا یوې ډلې مومنانو د رسول الله ﷺ سره په دې جګړه کې] بحث او استدلال وکه [یعنی و یو یل: مونږ خو د مشرکانو سوداګر یز کاروان مخې ته راوتلي وو نه جګړې ته!] او په زړو کې یې داسې و یره او ډار را پیدا سه، لکه چې دوی د مرګ ډګر ته چې هغه په سترګو و یني بیول کیږي.

[٧-٨] ای مومنانو! او د بدر غزا اتلانو! هغه وخت راپه یاد کړی، کله چې الله د ستاسې سره وعده وکړه چې یؤ ډله د دؤ ډلو مشرکانو نه به د ستاسې په برخه سي، او د ستاسې دا خوښیدله چې هغه کمزورې ډله چې د تجارت کاروان ؤ؛ ستاسې په ولکه کې راسي، خو الله غواړي چې په خپل حکم او د خپلو پخوانیو وعدو سره سم؛ حق پرخپل ځای کې کینوي [یعنی حق پالان بر یالي کړي او د کافرانو ر ینې و باسي] ترڅو حق په خپل ځای کې ځای په ځای کړي او باطل له منځه یوسي؛ که څه هم مجرمان [چې همدا مشرکان دي هغه نه غواړي] او دوی د حق نه کرکه

لري، يعنی زړونه يې د کينو نه ډک دي.

عزتمنو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د بدر غزا په اړوند د ځينې هغو مومنانو ذهني او فکري حالت مونږ ته انځور کړي دئ چې دوی، لکه څنګه چې د رسـول اللهﷺ سـره د مدينې نه د بدر غزا ته د وتلو سـره مخالف ول؛ اوس بيا همدا دوې د مشـرکانو جګړه مار لښـکر سره د مخامخ کيدو نه کرکه درلوده، ځکه د مرګ و يرې پسې اخستې ول، نو ځکه يې د رسـول اللهﷺ سـره په دې اړه مناقشـه او بحث وکه، خو الله تعالی غوښـتل چې حق او حقپالان بر يالي کړي او دوی ته واک او قدرت وسـپاري او د مشـرکانو ر ينې وروسـته د ډير زنډ او مهلت نه چې دوی ته يې ورکړئ ؤ؛ و باسي او حق چې اسلام دئ بر يا ته ورسـوي او سـر لوړئ کړي، نو ځکه د بدر په غزا کې د الله په مرسته او د هغه تقديري پر يکړې سـره سـم؛ رسـول اللهﷺ او مخلص ملګري يې د دښـمن په لوی لښـکر چې د مومنـانو څو برابره ډير ؤ؛ زورور سـول او د کافرانو ډير کسـان د ابوجهل په مشـری پکې ووژل سـول او مال او اسـلحه يې غنيمت سول او نور ډير جنګيالي يې مومنانو برمته کړل او ژوندي يې ونيول.

ګرانو مجاهدينو وروڼو! نو ځکه الله تعالی د دې لمړی لويې غزا په باره کې دا مبارک آيتونه رانازل کړل، ترڅو هغه مومنانوته د قيامت ورځې پورې تل پاتې ډير غوره لارښـود پيغام وي، او د اسلام ر پانده بيرغ لاندې د اسلام سر تيری مجاهدين ورڅخه تل ګټه وا خلي، نو ځکه مونږ و ينو چې د بدر غزا ته ورته پيښې د مسلمانانو په سرلوړي تار يخ کې تل تکرار سوې دي، نو دا د حق او بـاطل پـه منځ کې جګړه بـه تر قيـامـت ورځې پورې همداسـې جاري وي، او دا دئ اوسـني مومنان هم په دغسـې جګړو کې د اسلامي نړۍ په اشـغال سـوو هيوادونو کې ښکيل دي.

{د بدر غزا کې الله په فرښتو د رسول اللهﷺ مرسته وکړه}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د بدر په غزا کې د فرښـتو مرستې لويې معجزې نه د رسولﷺ او د هغه ملګرو سره يادونه کړې ده،

او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ ﴿٩﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ ﴿١١﴾ إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا ۚ سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ وَمَنْ يُشَاقِقِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٣﴾ ذَٰلِكُمْ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابَ النَّارِ ﴿١٤﴾﴾

[٩] ای مومنانو! [او آیا هغه وخت په بدر کې د ستاسې په یاد ده؟] کله چې تاسې د خپل رب نه مرسته غوښتله [او الله ته لاس په دعاء وې چې غیبي مرسته درسره وکړي] او بیا الله د ستاسې دعاء قبوله کړه [او ز یرئ یې درکه] چې زه په یقین سره د ستاسې مرسته کړم او یو زر کسان ملائکې به چې په یؤ لیکه کې یو بل پسې درځي؛ درولیږم.

[١٠] او دا مرسته الله تاسې ته ز یرئ وګرځا ؤ، ترڅو د ستاسې زوړنه مطمئن او ډاده سي، کنه نو فتحه او بر یا خو په حقیقت کې د الله لخوا ده، او یقینا چې الله لوی ځواکمن او ښه حکیم پالونکئ څښتن دئ، یعنی کله چې الله تعالی څه وغواړي؛ هغه په پوره ځواکمنۍ، حکمت او په پاخه تدبیر سره ترسره کوي.

[١١] [او ای د بدر غاز یانو! هغه وخت هم راپه یاد کړې] کله چې الله پرتاسې باندې پر یښاني راوړه، ترڅو مطمئن سې او د ستاسې زړونه

ولږ يږي، او د اسمان نه پرتاسې باندې الله باران راووراؤ، ترڅو تاسې د باران په او بو باندې وو ينځي او پاک مو کړي او د شيطان وسوسې او چټلي د ستاسې نه يوسي او لړې يې کړي، او د ستاسې زړونه وټړي او کلک يې کړي او د ستاسې ګامونه په ځمکه کې ټينګ کړي، يعنی ترڅو د ستاسې پښې ونه ښو يږی او ښه کلک د دښمن پروړاندې ودر يږی.

[۱۲-۱۳] ای پيغمبره! او هغه وخت راپه زړه کړه، کله چې د ستا پالونکي رب الله ملائکوته پټ وو يل چې زه يقينا د ستاسې سره يم او هغه کسان ټينګ کړی او ملايې وټړی چې دوی ايمان راوړئ دئ، او زه به د هغو کسانو په زړو کې چې کافران سول؛ کلکه و يره واچوم، نو په ورمېږو باندې يې د پاسه وی او هره ګوته يې پر يکړی، او داځکه چې دغو کافرانو يقينا د الله او د پيغمبر خبره ونه منله [يعنی ورڅخه بيل سول] او هر هغه څوک چې د الله او د پيغمبر مخالفت کړي او د حکمونو نه يې سرغړونه کړي [نو هغه ده پؤ سي]چې الله کلک عذاب ورکونکئ دئ.

[۱٤] ای کافرانو! نو دا سزا وڅکی، او يقينا چې کافرانوته د دوزخ اور عذاب تيار سوئ دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دي مبارکو آيتونو کې مونږ ته د بدر غزا او غاز يانو سره د الله تعالی غيبي مرسته تصو ير کړې ده، او بيا يې کافرانوته د دغې کلکې ماتې او د سزا حقيقی سبب او عامل چې د الله تعالی او د پيغمبر ﷺ سره مخالفت او د حکمونو نه يې سرغړونه ؤ؛ بيان کړي دي، او هم الله تعالی په آخرت کې کافرانو ته د سختې سزا ورکولو نه چې هغه د دوزخ اور دئ؛ مونږ خبر کړي يو، ترڅو هرڅوک ورڅخه پند او عبرت واخلي، خو په ډير خفتيان سره دامنو چې ډير لږ خلک د قرآن ارزښتناکه لارښودنو نه پند اخلي او ګټه ورڅخه پورته کوي.

{د يرغلګر دښمن سره په جګړه کې د تيښتې شا تګ حرام دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مومنان د دښمن سره په مخامخ جګړه کې د تيښتې نه؛ کلک ګواښلي او منع کړي دي، خو که

څوک د مجاهدينو بلې ډلې سره د يوځای کيدو قصد وکړي، نو بيا دغسې په شا کيدل پروا نکړي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحۡفٗا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلۡأَدۡبَارَ ١٥ وَمَن يُوَلِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفٗا لِّقِتَالٍ أَوۡ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٖ فَقَدۡ بَآءَ بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأۡوَىٰهُ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٦ فَلَمۡ تَقۡتُلُوهُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمۡۚ وَمَا رَمَيۡتَ إِذۡ رَمَيۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ وَلِيُبۡلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡهُ بَلَآءً حَسَنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ١٧ ذَٰلِكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيۡدِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٨ إِن تَسۡتَفۡتِحُواْ فَقَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡفَتۡحُۖ وَإِن تَنتَهُواْ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَإِن تَعُودُواْ نَعُدۡ وَلَن تُغۡنِيَ عَنكُمۡ فِئَتُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَوۡ كَثُرَتۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٩﴾

[١٥] ای مومنانو! کله چې د يرغلګرو کافرانو سره په مخامخ جګړه کې يوځای سوی، نو بيا خپلې شاوې مه وراړوی، يعنی د بر يد کوونکي دښمن سره د جګړې ډګر نه مه تښتی او خپل مورچل مه پر يږدی!

[١٦] او چاچې په دغه ورځ خپله شا دښمن ته وروړوله [يعنی د جګړې نه وتښتيده] نو هغه د الله په غوصه کولو سره په شا سه او ځای يې د دوزخ اور دئ او جهنم د ورتګ بد ځای دئ، خو که څوک د جګړې بلې نقشې د جوړولو په مقصد په شا سي او يا د مجاهدينو يوې بلې ډلې ته وروواړي، يعنی دغسي تاکتيکي پشا کيدل بيا پروا نکړي، لکه څنګه چې خالد بن الوليدﷺ د موتې په جګړه کې په شا سه.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی فرمايلي دي چې په جهاد کې پرکافرانو د مومنانو حقيقي بر يا ورکونکئ الله دئ چې دوی يې پرخپل دښمن باندې بر يالي کړل، او فرمايلي دي:

[١٧] ای مومنانو! [په دې پؤ سی چې د بدر غزا په ورځ د مشرکانو جګړه ماران] تاسي مړه نکړل؛ دوی الله مړه کړل [يعنی الله تعالی د ستاسې

مرسته وکړه] او ای پیغمبره! [کله چې د کافرانو جګړه ماران] تا وو یشتل دوی [په حقیقت کې] تا ونه و یشتل؛ دوی الله وو یشتل [یعنی د ستاسې غشي الله تعالی پردوی باندې ولږول] ترڅو مومنان الله ښه وازمایي [یعنی ترڅو بیا لوړې درجې ورکړي] او یقینا چې الله ښه اور یدونکئ او ښه پوه پالونکی ځښتن دئ، یعنی الله تعالی د ستاسې دعاوې ای مومنانو! اوري او پرې پوهیږي او هغه قبلوي او فتحه او لو یه بر یا د ستاسې په برخه کوي.

[١٨] او ای مومنانو! [دا پیرزو ینې پرتاسې باندې د الله فضل ؤ، او هغه یې د خپلو مومنو بنده ګانو په برخه کړې] او یقینا چې الله د کافرانو د دسیسو شنډونکئ لوی ځښتن دئ.

درندو عز یزانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې لمړئ د الله لارې ټول هغه مجاهدین چې د دښمن سره په مخامخ جګړه کې لګیا وي؛ د مورچلو او سنګرونو پر یښودلو او ورځخه تیښتې نه په کلکه سزا ګواښلي دي، او دغسې شا تک یې لو یه ګناه بللې ده، او الله تعالی پردوی باندې کلک په غوصه کیږي، او بیا الله تعالی د بدر پرغاز یانو باندې د خپل نصرت او د فتحې یادونه کړی ده، ترڅو دوی په دې فتحې سره د الله تعالی مرستونه غافل نسي او په دې باور ولري چې ر یښتینه بر یا او فتحه مومنان د الله په فضل او رحمت سره کړې، او الله هغه لوی پالونکئ ذات دئ چې د کافرانو ټولې توطئې کلکې شنډوي او مومنان یې د شرنه ساتي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی پرهغو مشرکانو باندې غږ کړئ دئ چې د دوی لوی لښکر د بدر په غزا کې د مومنانو په لاس برمته سه، او ورته یې و یلي دي هغه فتحه او بر یا چې تاسې پرمومنانو باندې غوښتله؛ هغه درته راغله، نو ښایي چې نور ښه پوه سئ او د باطل نه حق ته راواوړی، کنه، نو د همداسې تورې راتلونکې انتظار و باسی، روایت سوئ دئ چې کله د مشرکانو لښکر رسول اللهﷺ پسې او د هغه ملګرو پسې بدر ته ووت، نو وو یل هرڅوک چې خپلوي شکوي؛ دوی ده الله مات او رسوا کړي، نو بیا چې کله دوی الله مات کړل، نو بیایې ورته وفرمایل:

[۱۹] ای کافرانو! که تاسي فتحه او بر یا غواړی؟ نو دا دئ فتحه تاسې ته راغله، نو د خپلو دغو شومو مقصدونو او بدو کړنو نه نور لاس واخلئ او دا درته ښه ده او تاسې ته پکې خیر او ګټه ده، او که بیرته پشا وګرځئ او پرخپلو بدو کړنو باندې کلک ودر یږئ پکې پاتې سئ، نو بیا مونږ هم بیرته راګرځو او د ستاسې ډلګئ که هرڅومره ډیره سي؛ هیڅ ګټه درته رسولای نسي، او یقینا چې الله د مومنانو مل دئ، یعنی د مومنانو مرسته الله کړي او فتحه او بر یا ورکوي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دي مبارك آیت کې کافران له یوی خوا رټلي دي، خو له بلې خوا یې بیا دوی ته نصیحت کړئ دئ چې د ستاسې خیر په دې کې دئ چې نور د حق سره د جګړې نه لاس واخلئ او سر زوري، عناد او سرکښي پر یږدئ، ځکه تاسې مخکې د دغسې جګړې نه د مومنانو او کافرانو په منځ کې د فتحې او د پر یکړې غوښتونکي وئ، نو دا ده فتحه راغله او هغه الله د مومنانو په برخه کړه، نور نو تاسې د دښمنئ نه لاس واخلئ، خو ملعون شیطان د مکې کافران نور هم پرله پسې جګړې ته وهڅول، ترڅو چې د احزابو جګړې ماتې نه وروسته بیا الله تعالی د حدیبې صلحې فتحه د مومنانو په برخه کړه، او بیا وروسته د هجرت په اتم کال مکه هم فتحه سؤ او رسول الله ﷺ او ملګري یې سرلوړي مکې ته راننوتل او په کعبه معظمه کې پراته ټول بتان یې مات کړل او یوازې د الله تعالی عبادت بیرغ یې پکې ور پا ؤ او ټول ولسونه یې د بنده ګانو بنده ګئ نه خلاص کړل او یوازې د الله تعالی بنده ګئ ته یې را واړول!

{مومنان الله تعالی د خپل رب اطاعت ته رابللي دي}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنان د خپل رب الله او د هغه پیغمبر ﷺ فرمان وړوته کلک رابللي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَأَنتُمۡ تَسۡمَعُونَ ٢٠ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ٢١ * إِنَّ

شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلصُّمُّ ٱلۡبُكۡمُ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٢٢﴾ وَلَوۡ عَلِمَ ٱللَّهُ فِيهِمۡ خَيۡرٗا لَّأَسۡمَعَهُمۡۖ وَلَوۡ أَسۡمَعَهُمۡ لَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعۡرِضُونَ ﴿٢٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمۡ لِمَا يُحۡيِيكُمۡۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَقَلۡبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَٱتَّقُواْ فِتۡنَةٗ لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمۡ خَآصَّةٗۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٢٥﴾

[٢٠] ای مومنانو! د الله او د هغه پیغمبر اطاعت وکړئ [او حکمونه یې ومنئ] ځکه تاسې د الله په کتاب (قرآن) کې د هغه حکمونه اوري، نو د فرمان وړو نه یې په شا نسئ، یعنی حکمونه یې پرې نږدئ.

[٢١] ای مومنانو! او تاسې د هغو کسانو غوندې نسئ چې په خولو یې و یل: مونږ د الله آیتونه واور یدل، خو په عمل کې دوی هغه نه اوري، یعنی لکه کافران او منافقان چې په غوږو اوري، خو په زړو کې یې نه مني، او عمل ور باندې نکړي.

[٢٢] هو! یقینا چې د ځمکې پرسر د ټولو کرځندو کسانو نه د الله پروړاندې بد کسان؛ هغه څوک دي چې د حق اور یدلو نه کا نه او د و یلو نه یې کنګان او بې عقلان دي؛ په څه نه پوهیږي، یعنی په زړو باندې یې د باطل تیاره خوره ده او حق د باطل نه بیلولای نسي.

[٢٣] او که په دوی کې الله خیر لیدلئ وای، نو دوی ته بې حق ور اورولئ ؤ [خو الله په دې پوهیږي چې دا کافران د حق اور یدلو لائق نه دي] نو که حق هم واوري، نو بیا بیرته ورڅخه په شا اوړي، یعنی دا ځکه چې دوی د حق سره کلکه دښمنی کړي او هغه نه مني او عمل ور باندې نکړي.

ګرانو دوستانو! د بده مرغه ټول دغسې خو یونه کټ مټ د افغان ولس په ډیرو سیاسي مشرانو کې خپلې ر یښې څرکندې غځولې دي، نو

ځکه دوی دا څه باندې څلو یښت کاله [۱۳۵۷نه تر ۱۴۰۰هـ ش] یو بل سره د شیطان په وسوسو؛ په داسې جګړو کې ښکیل سول چې یؤ خوا پکې د کافر دښمن په ولکه کې ؤ او غوښتل چې د اسلام په ځای کفري فکر او قانون پلئ کړي، او بلې خو الحمد لله د هیواد آزادۍ او اسلامي عقیدې او شرعي قانون نه دفاع کړه، او په دې اوږدو جګړو کې لکهاوو افغانان ووژل سول او عام ولس کلک وکړ یده، ترڅو بالآخره ښکیلاککړو خپله ماته ومنله او خپل ځواکونه یې، لمړئ شوروي اتحاد او بیا ناتو د افغانستان نه وایستل، او دا دئ د ۱۴۰۰هـ ش کال سنبلې برج او د ۲۰۲۱م کال د آګست نیمایي نه را په دې خوا هیواد ازاد سوئ دئ او اسلامي امارت پکې حاکم دئ، نو دعا کړو چې الله تعالی نور دا مظلوم او مجاهد ولس ونه کړوي او نیکمرغي یې په برخه کړي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مومنان د الله او د پیغمبرﷺ هغه پیغام منلوته رابللي دي چې دوی را ژوندي کوي او لو یه نیکمرغي اوښادي ور په برخه کوي، او فرمایلي دي:

[۲٤] ای مومنانو! او کله چې تاسې الله او پیغمبر هغه څه ته راو بللی چې پکې د ستاسې ژوند دئ، نو د الله او پیغمبر اطاعت وکړئ او حکم یې ومنئ او په دې پؤ سې چې یقینا الله د بنده زړه مالك دئ او کمې خوا ته چې وغواړي هغې خوا ته یې اړوي، او یقینا چې تاسې ټول ای خلکو! د قیامت په ورځ الله ته ورغونډیدونکي یاستئ، یعنی نو هلته به بیا الله د هرچا سره د هغه ښو او بدو کړنو حساب وکړي!

[۲۵] او ای مومنانو! د هغه ازمایښت او فتنې نه خپل ځانونه وساتئ چې هغه د ستاسې نه یوازې هغو کسانو ته نه رسیږي چې ظلم یې کړئ دئ [یعنی د الله دین پولې او حدود یې د پښو لاندې کړي دي] او هم په دې پؤ سې چې یقینا الله کلک سزا ورکونکئ او لوی ذات دئ، یعنی کله چې د الله عذاب د یو قوم ظلمونو په وجه راسې نو بیا ټول قوم پکې کړ یږي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې ټول مومنان د

الله تعالى او د هغه پيغمبر محمدﷺ فرمان وړوته رابللي دي او د مخالفت او سرغړونې نه يې کلک ګوابنلي دي، او د الله تعالى او د پيغمبرﷺ بلنې يې حق ته چې هغه د الله پرحکمونو عمل دئ؛ د مومنانو د عزتمن ژوند سبب او عامل بللئ دئ، نو ځکه د حق منل او ور باندې عمل کړل پردوی باندې فرض دي، او همدارنګه د مومنانو پام الله تعالى ديته کلک را اړولئ دئ، چې نه ښايي دوی يوازې په خپل ايمان بسنه وکړي او پرې وغولیږي او نور بيا د حلالو او حرامو او د ښو او بدو کړنو پروا ونکړي، ځکه الله تعالى د زړونو مالك دئ، نو چې کمې خوا ته وغواړي؛ هغې خوا ته زړونه اړوي، يعنى دا چې کله څوک د ګناه پروا ونکړي، نو پردوی باندې د دې و يره سته چې الله تعالى دوی د ايمان نه کفرته[العياذ بالله] واړوي او خداى مکړه مرتد سي او حق نه چې اسلام دئ واوړي!

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د مومنانو پام امر بالمعروف او نهى عن المنكر پيغام پرځاى کولوته را اړولئ دئ، او هغه دا چې د منکراتو خور يدل په ټولنه کې؛ يوازې هغو کسانوته چې دوی په منکراتو کې لګيا دي تاوان نه رسوي، بلکه ټول خلک يې د سزا په اور جهنم کې سوز يږي، نو ښايي چې په ټولنه کې د منکراتو مخنيوئ؛ په کلکه سره وسي او هيڅ څوک داسې ونه وايي چې زما په څه! او يا لکه هغه فارسي متل چې وايي: (بز از پايې خود وګوسفند از پايې خود) هو! هرڅوک د خپل ځان کړنو او و يناوو نه پوښتل کيږي، او د منکراتو مخنيوئ په ټولنه کې له همدې مسئوليت نه دئ، ځکه رسول اللهﷺ فرمايلي دي: (اى مومنانو! د ستاسې نه چې چا منكر وليده هغه ده په لاس منع کړي او که په لاس يې وسعه ونسؤ، نو په ژ به دې منع کړي او که په ژ به يې هم وسعه ونسؤ، نو بيا ده په زړه کې ورسره کرکه ولري، او دا د ايمان ډيره ضعيفه درجه ده) نو په ټولنه کې اصلاح غوښتونکې مبارزه ډيره اړ ينه ده، ځکه د هغې نه پرته ټولنه د ورانۍ کلک ګوابنې سره مخامخ کيږي او ظلم او فساد پکې خور يږي.

{د الله لو يو پيرزو ينو شكر و يستل پر مومنانو فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خپلې پيرزو يې پرمومنانو باندې د بدر غزا نه مخکې دوى ته ور په ياد کړي دي او بيا يې ښه ډير کټور سپارښتونه ورته کړي دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ أَنتُمۡ قَلِيلٞ مُّسۡتَضۡعَفُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمۡ وَأَيَّدَكُم بِنَصۡرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٢٦ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمۡ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٧ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ٢٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢٩﴾

[۲۶] ای مومنانو! [د الله هغه پيرزو ينې او نعمتونه پرخپلو ځانو] را په ياد کړی، کله چې تاسې په ځمکه کې لږ او ضعيفه وی او د کافرانو د زور ځواکی لاندې وی او و ير يدلی چې خلک به تاسې وتښتوي! نو بيا تاسې الله [د مکې نه مدينې ته په هجرت کړو سره] په امن کې کړی او په خپلې مرستې سره يې تاسې واکمن کړی او د پاکو خوړو روزي يې درکړه، ترڅو تاسې د دغو لو يو نعمتونو شکر و باسی، يعنی د الله تعالې ټول حکمونه ښه پرځای کړی او غافل او بې پروا نسی او د هر ډول کفر او ظلم نه لاس واخلی!

[۲۷] او ای مومنانو! د الله او پيغمبر سره خيانت مکړی او په خپلو امانتونو کې چې تاسې پرې پوهيږی او ور باندې علم لری خيانت مکړی، يعنی ښايي د الله حکمونه په پوره صداقت او اخلاص سره وساتی او هيڅ کله ورڅخه غافل نسی.

[۲۸] او ای مومنانو! په دې پوه سی چې د ستاسې ټول مال، دولت او

کهول تاسې ته ازمایښت دئ، نو پام کړئ چې هغه تاسې د الله دین نه ورک او بې لارې نکړي او غافل نسې، او یقینا چې د الله سره لوی لوی ثوابونه دي، یعنی ای مومنانو! د الله ثوابونو په هیله ښه کړل خپل خوی وګرځوئ او په پوره صداقت او ر یښتینوالی سره د الله بنده ګان سی.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنان تقوا او د الله تعالی نه ویرې ته را بللي دي او د ګناهونو تو ییدو ز یرئ ورکړئ، او فرمایلي دي:

[۲۹] هو؛ ای مومنانو! که تاسې د الله نه وو یر یرئ [یعني خپل ځانونه د الله سزا نه په اطاعت سره وساتئ او ګناه ونکړي] نو الله به د حق او باطل په منځ کې بیلتون ستاسې په برخه کړي، او د ستاسې تیرې ګناه وې به پټې او تویې کړي او تاسې به الله و بښي، ځکه الله د لوی فضل څښتن دئ، یعنی پرخپلو مومنو بنده ګانو باندې ټولې پیرزو یې لوروي.

{د مکې کافر انو کینه کښې در یځ د رسول الله ﷺ پرورا ندې}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د خپل لوی قدرت په ښودلو سره د رسول الله ﷺ نجات یادونه د قر یشو زلمکیانو په لاس د مرګ او وژلونه کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ ٱللَّهُ ۖ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلْمَٰكِرِينَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا قَالُوا۟ قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَٰذَآ ۙ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذْ قَالُوا۟ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ ۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿٣٣﴾﴾

[۳۰] ای پیغمبره! هغه وخت راپه یاد کړه، کله چې کافرانو [یعنی د مکې مشرکانو په پټو جرګو کې د ستا پرضد توطئې جوړولې] ترڅو تا په

جيل کې بندي کړي او يا تا مړ کړي او يا ده د مکې نه وشړي [يعنى تبعيد ده کړي] هو! کافران توطئې او چلونه جوړوي، خو الله د دوى د چلونو او توطئيو په شنډولو کې ښه پوخ تدبير کونکئ لوى ذات دئ.

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دې مبارك آيت کې د کافرانو د هغې توطئې او چل يادونه کړې ده چې کله دوى د ابوجهل په مشرۍ د مکې جرګه ګيو په انګړ کې سره راغوند سول، ترڅو نور رسول الله ﷺ د خپل دعوت نه منعې او بند کړي، نو بيا ځينو وو يل بندي يې کړى او ځينو بيا د هغه د مرګ او وژلو غوښتنه وکړه او ځينې نورو د شړلو او تبعيد وړلانديځ وکه، خو ابوجهل د شيطان په ديکه او هڅونه؛ د رسول الله ﷺ د وژلو او د مرګ غوښتونکئ سه، او په پايله کې ټولو د رسول الله ﷺ د وژلو پر يکره وکړه او په ټينګار سره يې وو يل چې د قر يشو د هرخيل او هرې پښې نه به يو يو کلک غښتلئ او تکړه زلمي خوښ کړو او تورې به په لاسونو کې ورکړو، ترڅو دوى ټول په يو وار سره پر محمد باندې بر يد وکړي او هغه مړ کړي، نو بيا به بني هاشم د ديت يا د و يني بيعې اخستلو نه پرته بله لار نه لري او د محمد خون د انتقام اخستلو وسعه بې نکيږي، نو هغه ؤ چې بيا د هجرت لمړي کال په سرکې د مشرکانو دغه مرګونې ترورسته ډله زلميان د شپې په توره تياره کې د رسول الله ﷺ کور نه راتاو سول او هغه يې محاصره او کلا بند که، نو بيا الله تعالى په خپل علم او په لوى تد بيره سره رسول الله ﷺ د کافرانو د دې شومې توطئې نه خبر که او د خلاصون لار يې وروښودله، نو بيا رسول الله ﷺ د خپل تره زوى على ابن ابي طالب رضي الله عنه په خپل کټ کې ځملا ؤ او دئ خپله د کور نه ووت او يو موټئ خاوره يې راواخسته او د قر يشو ځوانانو پرسرونو يې وشيندله، نو بيا دوى د خاورې په دوړو کې نور ځوک ونه ليدل او رسول الله ﷺ د کور نه سلامت ووت، او د الله تعالى په مرسته د مشرکانو توطئ ښکار نه روغ راووت، او بيا يې د ابو بکر صديق رضي الله عنه په ملتيا مدينې منورې ته هجرت وکه او هلته د اوس او خزرج باتورو مومنانو لخوا رسول الله ﷺ ته ښه تود هرکلئ وو يل سه، او په مدينه منوره کې بيا رسول

اللهﷺ د لمړنۍ اسلامي ټولنې بنسټ کېښود، او هلته يې پکې د ميشتو يهودو سره د ګډ ژوند ټرون(وثيقة المدينه) وليکله او امضايې کړه.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د مشرکانو در يځ د رسول اللهﷺ پر وړاندې بيان کړي دئ، او فرمايلي دي:

[۳۱] او کله چې پر دغو کافرانو باندې د زمونږ کتاب (قرآن) آيتونه ولوستل سي، نو د ډير کبر او کينې نه وايي: يقينا چې دا آيتونه مونږ ښه واور يدل او که مونږ غوښتي واى، نو د دې کتاب غوندي آيتونه به مونږ هم و يلي ؤ، او دغه آيتونه چې ته اى محمده! مونږ ته لولې هغه د پخوانيو ولسونو نه راپاتې ليکل سوې قصې دي، يعنى (العياذ بالله) هغه دروغ دي او حقيقت نه لري.

قدرمنو دوستانو! نو ځکه رسول اللهﷺ امي پيغمبر ؤ او په ليک او لوست نه پوهيده او نه يې د پخوانيو امتونو قصې د چانه زده کړې وې، او هم الله تعالى په وار وار سره کافرانوته د قرآن په آيتونو کې چلنج ورکړئ دئ او دوى يې د هغه غوندې کتاب په راوړو کلک ننګولي دي، يعنى که په قرآن کې څوک شک لري، نو د قرآن غوندې کتاب او يا ده يوه سوره، او يا ده د قرآن آيتونو غوندي يو آيت راوړي؟ خو بيا د مشرکانو ټول شاعران او اديبان د ځواب و يلو نه پاتې راغلل او بې وسې سول.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى همداسې مونږ د مکې کينه کښو کافرانو بې ځايه غوښتنو او ننګونو نه خبر کړې يو، او فرمايلي دي:

[۳۲-۳۳] اى پيغمبره! [او د مشرکانو هغه خبره راپه ياد کړه] کله چې دوى وو يل: اى خدا يه! که دا کتاب (قرآن) حق وي؟ [يعنى که هغه په ر ښتيا سره د الله نه رانازل سوئ وي] نو پرمونږ باندې د اسمان نه تيږې يا کاڼي راوورو ؤ، او يا مونږته دردونکې عذاب راوړه، خو اى پيغمبره! ترڅو چې ته د دوى سره وې؛ الله ورته عذاب نه ورکوي [او هم تر هغو چې دوى په خپلو زړونو کې ځانونه ګناه ګار بولي] او د الله نه بښنه غواړي، نو الله دوى ته سزا نه ورکوي، يعنى که څه هم دوى د الله سزا وړ او مستحق

دي، ځکه د رسول اللهﷺ اوسيدل د کافرانو سره په مکه کې او د دوی استغفار او د بښنې غوښتنه پردوی باندې د الله عذاب راکوز يدلو مخه نيسي،ځکه دا هيله سته چې د مکې کافران په خپل کفر باندې د ټينګار نه لاس واخلي او ايمان راوړي، خو کله چې د مکې کافرانو د رسول اللهﷺ هجرت نه مدينې منورې ته بيا هم پرخپل کفر باندې ټينګار وکه او مومنان يې د مسجد الحرام نه منع کړل، نو الله تعالی دوی د کلکې سزا مستحق وګڼل او د بدر په لو يه غزا کې يې کلکه سزا ورکړه، ابوجهل او ورسره د مشرکانو ډير نور مشران ووژل سول، او څه نور يې د مومنانو په لاسونو کې برمته سول، او پاتې لښکريې مختورن مکې ته په ټيښته سه، او دا لو يه بر يا په قرآن کې الله تعالی په يوم الفرقآن ونومولە او هغه به د قيامت ورځې پورې لوستل کيږي او اسلام ته رابلونکي مخلص دعات به ورڅخه کټه اخلي او سر کښو کافرانوته به د پند اخستلو زدکړه وي.

{د مکې کافران د کعبې مينه پالان نه ول او نه يې لمونځ سم ؤ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د مکې کافرانو ر يښتينه مينه د کعبې معظمې سره او واکمني يې پر مسجد الحرام باندې الله تعالی رده کړې ده، او د دوی کفر او هغه بدې کړنې يې په نښه کړې دي چې دوی ته د الله تعالی د لوی عذاب ورکولو سبب او عامل وې، او فرمايلي دي:

﴿وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَمَا كَانُوٓاْ أَوْلِيَآءَهُۥٓ ۚ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾ لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ ٱلْخَبِيثَ بَعْضَهُۥ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُۥ جَمِيعًا

فَيَجْعَلَهُۥ فِي جَهَنَّمَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٣٧﴾

[٣٤] او ولې به الله د مکې کافرانوته سزا نه ورکوي؟حال دا چې دوی مومنان د مسجد الحرام نه منع کوي او مشرکان د مسجد الحرام [ر ښتيني او صادق واکمنان نه ول] او نه دوی د الله او د کعبې دوستان او مينه پالان دي[يعنی دا ځکه چې دوی د الله تعالی ر ښتيني دوستان ندي] او نه د مسجد الحرام ر ښتيني مينه وال او متقيان واکمنان دي، ترڅو د الله عذاب نه وو ير يږي [يعنی نه يې سم ايمان راوړي دئ او نه يوازي د الله تعالی عبادت او بنده کي داسې کړي چې بل هيڅ څوک د الله سره په عبادت کې نه ګډوي] خو د کافرانو نه ډير کسان په دې نه پوهيږي، يعنی مشرکان په دروغو د کعبې شر يفې د واکمنۍ او ورسره د مينې دعوا کړي، ځکه دوی د کعبې معظمې لوی څښتن الله تعالی سره بتان په خدايي کې ګډوي!

[٣٥] او د مشرکانو لمونځ په بيت الله کې خوسې شپيلۍ وهل، چک چکې او د لاسونو پرکول ؤ، نو ای کافرانو! اوس د خپل کفر ګناه په سزا کې د الله عذاب وڅکئ.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د دغسې کافرانو پښيماني د قيامت په ورځ ياده کړې ده، او فرمايلي دي چې دوی خپل مال او دولت د الله لارې نه په مخنيوي کې لږوي:

[٣٦-٣٧] او يقينا هغه کسان چې کافران سول؛ دوی خپل مال او دولت د الله لارې نه د خلکو مخنيوي په لار کې لږوي، نو دوی به خپل مال خرڅ کړي او دولت به ولږوي، خو بيا به ور باندې پښيمانه وي [يعنی دا چې آه او افسوس به کړي چې ولې مونږ خپل مال او دولت د الله دين د مخنيوي لپاره لږا ؤ؟] او دا ځکه چې بيا دوی ماتيږي [يعنی د الله تعالی د دين پلو يان ور باندي زورور کيږي] او هغه کسان چې کافران سول، نو دوی ټول د قيامت په ورځ الله ته ورغونديږي، ترڅو الله ناپاکه او چټل کسان د پاکو کسانو نه بيل کړي، او خبيثان ټول يو پر بل باندې سر په

سر څرلئ کړي او د دوزخ په اور کې يې ور پورې وهي، نو همدا مشرکان بايلونکي دي، يعنی دوی ز يانمن دي او کلک تاوان يې کړئ دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې لمړئ مونږ ته د مکې کافرانو هغه متضاد او دؤ مخئ چلند او در يځ د رسول اللهﷺ او پرهغه باندې رانازل سوي کتاب (قرآن) پروړلاندې انځور کړئ دئ چې له يوې خوا يې هغه دروغ باله او له بلې خوا بيا دوی په و يره کې ول او استغفارې کا ؤ او د خپلو ګناه وو نه يې بښنه غوښتله، نو ځکه الله تعالی پردوی باندې خپل عذاب وزنډاؤ، ترڅو چې د دوی بغاوت خپل عوج ته ورسيده او د پيغمبرﷺ د مرګ او وژلو پر يکړه يې وکړه، خو الله تعالی رسول اللهﷺ د کافرانو منګلو نه ژوندئ راوايست، او د مکې معظمې نه يې مدينې منورې ته هجرت وکه او په تيښته د مکې نه کډه سه، خو مشرکانو بيا هم پيغمبرﷺ او ملګرې يې صحابه هلته په قرار پر ينښودل او په وار وار سره يې په بدر، احد او د احزابو په يرغلونو کې خپل جګړه مار لښکر مدينې ته مومنانو پسې را وايست او د الله دين نه يې خلک منعې کړل، او په دې لار کې يې خپل ټول مال او دولت ولږا ؤ، خو الله تعالی د کافرانو ټولې دغسې منډې شنډې کړې او دوی يې مات او مغلوب کړل، او د حق او سمې لارې پلو يان يې چې رسول اللهﷺ او د هغه ملګري صحابه ول؛ پرکافرانو باندې زورور او برلاسي کړل او مومنان او کافران الله تعالی ښه سره د يو بل نه بيل کړل، او مومنانوته يې فتحه او بر يا ورکړه او کافران يې ښه ذليل او سپک کړل او سخت عذاب او کلکه سزاء يې ورکړه، ترڅو هغه ټولو سرکښو کافرانوته زده کړه او پند وګرځي.

هو؛ عزتمنو دوستانو! دا د الله تعالی هغه ثابت او نه بدليدونکئ نظام او قانون دئ چې د حق او باطل لښکرو په منځ کې به همدا سې د قيامت ورځې راتګ پورې جاري وي، لکه څنګه چې يې مثالو نه او بيلګې په تار يخ کې لولو او ژوندي انځورو نه يې په خپل ژوند کې په سترګو و ينو، نو ښايي چې مومنان ورڅخه پند واخلي او د حق پلو يان سي او د باطل ملتيا او مرسته هيڅ کله ونکړي.

{په توبې و يستلو ګناه ګاران ښښل کيږي او کافران هلاکيږي}

قدرمنو دوســتانو! الله تعالى چې ډير مهر بان او (الرحمن الرحيم) لوى ذات دئ؛ کافرانوته يې د رسـول اللهﷺ په خوله سـپارښـت کړئ دئ چې راسـې تو به و باسـې، ترڅو و ښښـل سـې، کنه نو هلاك به سـي، او په بيان کې داسې يې فرمايلي دي:

﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ وَإِن يَعُودُواْ فَقَدۡ مَضَتۡ سُنَّتُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٣٨ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٣٩ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ٤٠﴾

[٣٨] ای پيغمبره! دغو کســانوته چې کافران ســول [يعنى د حق نه منکر سـول او ايمان يې رانور] ووايه که دوى [د کفر نه او د الله تعالى او پيغمبرﷺ سـره د دښـمنۍ نه] لاس واخلي، نو تيره ګناه يې ښښـل کيږي، خوکه بيرته کفر ته وروګرځيږي، نو د پخوانيو امتونو سـنت او قانون به پر دوى باندې جاري سي، يعنى سخته سزا به ورکړه سي.

[٣٩] ای پيغمبره! او سـتا سـره مومنانو! د دغو جګړه مارو کافرانو سـره جګړه وکړئ، ترڅو فتنه نوره نه وي [يعنى د جګړه مارو کافرانو ملا ماته سـي او ر ښـې يې وخيژي] او يوازې د الله بنده ګي وسـي [يعنى ټول خلک يوازې يوه لوى څښتن الله ته مخ په سجده ولو يږي] خوکه دغو مشرکانو [د شرك نه او پيغمبر سره د دښمنۍ نه] لاس واخست، نو يقينا چې الله د دوى په کړنو ښــه بينا دئ، يعنى تو به يې مني او دوى ښـې او بيا ورته د دوى لائق ثواب ورکوي چې هغه جنت ته ورننوتل دي.

[٤٠] خو که کافران بيرته په شـا ووانسـتل، نو تاسـې ای مومنانو! نور پؤ سـې [يعنى ډا ډه او مطمئن سـې] چې يقينا الله د سـتاسـې ډير ښـه مل او مرستندوى دئ، يعنى الله تعالى خپل مخلص بنده ګان يوازې نه پر يږدي،

او د دښمن پرضد ورسره کلکه مرسته کړي.

درندو دوستانو! د الله تعالی دغه وعدې ټولې د رسول اللهﷺ او د هغه ملګرو مومنانو سره ر ښتیا سوې، او کله چې مشرکانو خپلې کینه کښې دښمنۍ ته د بدر غزا نه وروسته همداسې زور ورکه او د احد او د احزابو په غزاګانو کې یې لوی لوی خونړي بر یدونه پر رسول الله ﷺ او د هغه پر ملګرو باندې په مدینه منوره کې وکړل، نو بیا الله تعالی مومنان پرکافرانو باندې داسې زورور کړل چې مکه یې بیا د جګړې نه پرته فتحه کړه او ټول مهاجرین بیرته خپلو پلرنیو کورونوته سرلوړي ورستانه سول او بتان یې مات کړل او کعبه معظمه د الله کور یې ورڅخه پاک که او د ابراهیمعليه السلام توحیدي تار یخ یې راژوندئ که او د لا اله الا الله محمد رسول الله کلمه یې په مکه مکرمه کې ور پوله او ټول زور یدلي مومنان یې د ظالمانو منګلو نه ازاد او خلاص کړل.

{د غنیمت څلور برخې د غاز یانو او پنځمه د الله او پیغمبر ده}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د غنیمت و یش په باره کې خپل حکم او پر یکړه اعلان کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿۞وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤١﴾

[٤١] ای د الله لارې مجاهدینو! په دې پوه سې چې هغه غنیمتونه [یعنی ولکه سوئ مال اوسامان] چې تاسې [د دښمن نه په جګړه کې] غنمت ونیوئ، نو د هغه پنځمه برخه یقینا د الله او د پیغمبر او د پیغمبر خپلوانو (بني هاشم) او د یتیمانو او د بې وزرو مسکینانو او د بې وزرو لارو یانو (پردیسیو مسافرو) حق دئ [او پاتې څلور برخې] پرمجاهدینو او غاز یانو باندې و یشل کیږي، او ای مومنانو! که تاسې پرالله او پرهغو

آیتونو باندې ایمان را وړئ وي چې هغه مونږ پرخپل بنده (محمدﷺ) باندې د حق او باطل په منځ کې د بیلتون او فرقان په ورځ رانازل کړل [یعني د بدر په غزا کې هغه مونږ رانازل کړل، نو دغه دئ په جهاد کې د ولکه سوي غنیمت و یش او تقسیم] او دا آیتونه هغه وخت رانازل سول، کله چې دؤ ډلې د مومنانو او کافرانو نه په بدر کې مخامخ سره ونښتلې، او الله په هرڅه قادر لوی ذات دئ، یعنی هرڅه چې الله وغواړي هغسې کړلای سي او هیڅ څوک د الله کړنو مخه نیولای نسي.

ګرانو دوستانو! هو! د دې مبارك آیت اړوند په تفسیر کې ښایي دا خبره روښانه سي چې دغه د کافرانو نه و لکه سوئ غنیمت چې هغه د دښمن نه په دغسې ځانګړو جهادي جګړو کې چې د اسلام په اوږده تار یخ کې یې مثالونه او بیلګې ښې ډیرې دي؛ لاس ته راوړل سوئ وي؛ هغه ټول په دغسې تقسیم سره و یشل کیږي، نو د دې الهي و یش په عملي کولو کې ښایي تل همدا ځانګړي شرطونه په پام کې ونیول سي، ځکه بل هیڅ څوک پکې د خپلې خوښې و یش واک او حق نه لري چې هغه بدل کړي.

او بله خبره چې د لته د پام وړ ده؛ هغه د اهل تشیع خمس دئ چې دوی یې د ټولو شیعه ګانو په مالي عایداتوکې د زکات غوندې واجب بولي او هرشیعه باید د خپلې سرمایې پنځمه برخه د اهل تشیع مذهبي حوزو اخندانوته ورکړي، خو دا مبارك آیت هیڅ کله هم د هغوی پرخمس دلالت نکړي او هغه د اهل تشیع د خمس دلیل کیدای نسي، ځکه د جهاد غنیمت خمس شرطونه په دي مبارك آیت کې ښه روښانه بیان سوي دي او دلالت یې خاص دئ نه عام، او کم روایات چې شیعه آخندان یادوي؛ هغه هم د محمد رسول الله ﷺ په صحي احادیثو کې څه اصل او ر ینښه نه لري، بلکې هغه ټول شیعه راو یانو خپلو ځانو نه رسول اللهﷺ پسې په دروغو تپلي دي!

{د رسول اللهﷺ په مشرۍ د بدرغزا جګړې څرنګوالي انځور}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې همداسي الله تعالی مونږ ته د بدر غزا

مخامخ جګړې لنډ انځور او ژوندۍ تصویر وړاندې کړئ او فرمایلي دي:

﴿إِذْ أَنتُم بِٱلْعُدْوَةِ ٱلدُّنْيَا وَهُم بِٱلْعُدْوَةِ ٱلْقُصْوَىٰ وَٱلرَّكْبُ أَسْفَلَ مِنكُمْ ۚ وَلَوْ تَوَاعَدتُّمْ لَٱخْتَلَفْتُمْ فِى ٱلْمِيعَٰدِ وَلَٰكِن لِّيَقْضِىَ ٱللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنۢ بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَىَّ عَنۢ بَيِّنَةٍ ۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ إِذْ يُرِيكَهُمُ ٱللَّهُ فِى مَنَامِكَ قَلِيلًا ۖ وَلَوْ أَرَىٰكَهُمْ كَثِيرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَٰزَعْتُمْ فِى ٱلْأَمْرِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ سَلَّمَ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٤٣﴾ وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ إِذِ ٱلْتَقَيْتُمْ فِىٓ أَعْيُنِكُمْ قَلِيلًا وَيُقَلِّلُكُمْ فِىٓ أَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِىَ ٱللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٤٤﴾﴾

[٤٢] ای د بدر غزا اتلانو! هغه وخت را په یاد کړی، کله چې تاسي د بدر لوړې په هغه څنده کې چې مدینې خوا ته ده؛ لنډ پراته وی او د کافرانو لښکر د مدینې نه لرې په بله څنډه کې پروت ؤ، او د کافرانو سوداګر یز کاروان د ستاسې لاندې سره سمندرکې په څیرمه ؤ [یعنی نو په دې دول تاسې ټول په یو ډاګ او په یو وخت یا نیټه کې الله تعالی سره را ټول کړی] او که تاسې په دې ځای کې یو بل سره د راغونډیدلو وعده ایښی وای، نو بیابه هم تاسې په وعده کې د یو بل سره اختلاف کړئ ؤ [یعنی څوک به مخکې او څوک به وروسته رارسیدلي ول] خو الله وغوښتل چې هغه څه وکړي چې فیصله او پر یکړه یې مخکې سوې او کیدونکې ؤ، ترڅو هرڅوک د خپلې خوښې روښانه دلیل سره هلاك او تباه سي او یا ژوندۍ پاتې سي [یعني دا چې نور هیڅ چاته عذر او پلمه پاتې نوي] او یقینا چې الله ښه اور یدونکئ او ښه پوه پالونکئ څښتن دئ، یعنی د هرچا خبرې اوري او په کړنوپې پوه دئ، نو بیا هرچاته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[٤٣] ای پیغمبره! او هغه وخت راپه یاد کړه، کله چې تاته کافران الله په خوب کې لږ وښودل، او که دوی یې تاته ډیر ښودلی وای، نو د ستاسې په زړونو کې به و یره او ډار لو یدلئ ؤ او مات سوي به وی، او مشرکانو سره به بیا د جګړې په سر؛ تاسې په خپل منځ کې اختلاف کړئ ؤ، خو

الله تاسې وساتلی، ځکه یقینا چې الله په زړونو باندې ښه پوه ذات دئ، یعنی د خپلو بنده ګانو روحي او نفسي حالت ښه پیژني او پرې پوهیږي، او الله تعالی هیڅ کله هم خپل حکمونه او پر یکړې د بنده ګانو د مزاجونو او روحي حالاتو څرنګوالي پرخلاف نکړي، نو ځکه الله تعالی د مومنانو ذهنیت داسې جوړ که چې دوی به دښمن ته خاماخا ماته ورکوي او ور باندې زورور کیږي به او بر یا بې په برخه کیږي.

[٤٤] او ای پیغمبره! هغه وخت هم راپه یاد کړه، کله چې تاسې او د کافرانو لښکر یو بل سره د بدر په غزا کې مخامخ سوی، نو بیا دوی الله د ستاسې په سترګو کې لږ وښودل او تاسي یې هم د دوی په سترګو کې لږ وښودلی، ترڅو الله هغه څه وکړي چې [هغه د الله تعالی تقدیري پر یکړې سره سم] کیدونکی ؤ [یعنی هغه د مومنانو سره په بدر کې د فتحې، بر یا او ورسره د الهي نصرت او مرستې د وعدو عملی کول ول] او هرڅه بیرته الله ته ورګرځول کیږي، یعنی بیا الله تعالی د قیامت په ورځ هرچاته د ښو ګړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکوي.

درندو دوستانو! د بدر په غزا کې د پیغمبرﷺ یارانو او ملګرو لښکر د مشرکانو لوی جګړه مار یرغلګر لښکر سره نه د میړو په شمیر کې برابر ؤ او نه د اسلحو په سمبال کې، ځکه مشرکان د مسلمانانو سره د جګړې په مقصد راواتلي ول، خو د رسول اللهﷺ یارانو مقصد یوازې د مشرکانو سوداګر یز کاروان نیول او ولکه کول ؤ، نو ځکه د مومنانو شمیر د بدر په غزا کې د درې سوو او څوارلسو غازیانو نه نه اوښت، او سپاره کسان یې هم ډیر لږ ول، او د مشرکانو لښکر چې پوره مسلح ؤ؛ یو زر جنګیالیو ته رسیده او سپاره کسان یې هم ښه ډیر ول، نو د دغو دواړو لښکرو په منځ کې هیڅ ډول اندول برابر نه ؤ، حال دا چې د هغه وخت جګړې ټولې مخامخ په تورو وهلو او د غشو په و یشتلو جګړې وې، نو د لښکرو د شمیر ډیر والئ او لږ والئ پکې د پام وړ ؤ، خو لکه څنګه چې الله تعالی د مومنانو سره د غیبي مرستې وعده کړی ؤ او دوی ته یې د بر یا او فتحې کلک ژ یرئ ورکړئ ؤ، نو دوی ښه ډاډمن او د دښمن ماتې ته په هیله؛د جګړې ډګرته په لوی معنوي قوت سره ورودانګل او ورته چمتو سول.

{دښمن سره په جګړه کې کلک مقاومت پرمومنانو فرض دئ}

ګرانو مومنانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانوته د دښمن سره په مخامخ جګړه کې ؛ښې ډیري ارزښتاکه لارښودنې او سپارښتنې کړې دي او دوی يې کلک مقاومت ته يې رابللي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةٗ فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٤٥ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ٤٦ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرٗا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ٤٧ وَإِذۡ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَإِنِّي جَارٞ لَّكُمۡۖ فَلَمَّا تَرَٰٓءَتِ ٱلۡفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكُمۡ إِنِّيٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوۡنَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٤٨﴾

[٤٥] ای مومنانو! کله چې تاسې د کافر دښمن يوې ډلې سره په جګړه کې مخامخ سوی، نو کلک ودر يږی او ټينګ سی او الله ښه ډير ياد کړی [يعنی دعا وکړی او د الله تعالی نه مرسته او بر يا وغواړی] ترڅو تاسې ورونکي او فاتح بر يالي سی.

[٤٦] او ای مومنانو! د الله او د پيغمبر [حکمونو او سپارښتنو] اطاعت وکړی [يعنی هغه پرځپلو ځانو عملي کړی] او په خپل منځ کې يو بل سره جنجال مکړی [يعنی يو د بل سره دعوا مکړی او ناندرې مه سره وهی، ځکه چې يو بل سره په اختلاف کړو کې؛ بيل سوي ماتيږی] او ستاسې د قوت او زور باد وځي [او د دښمن بر يدونو پروړاندې] صبر او زغم وکړی، ځکه يقينا چې الله د صبر کونکو مل او مرستندوی دئ.

[٤٧] او ای مومنانو! د هغو کسانو غوندې مکيږی چې دوی د خپلو کورونو نه د وتلو په وخت کې کبر، ر ياء او ځان ښودنې په سر واخستل

[یعنی غوښتل یې چې خپل زور خلکوته وښيي] او خلک د الله لارې نه منعې کړي، خو الله د دوی په ټولو کړنو را ګرد دئ او ښه ور باندې پوهیږي، یعنی بیا به دوی ته الله کلکه سزا ورکړي.

هو؛ ګرانو مجاهدینو ورونو! او همداسې سؤ او د کافرانو لوی لښکر د ابوجهل په مشرۍ کلک مختورن او سرکوزئ مات سه.

[٤٨] [او ای مومنانو! هغه وخت هم راپه یاد کړی] کله چې شیطان کافرانوته د دوی یرغلګر کړه وړه د مومنانو پروړاندې ښه ښکلي او ښایسته کړل او ورته یې وو یل: نن پر تاسې باندې د هیڅ چا زور نه رسیږي او زه د ستاسې مل او مرستندوی یم، نو بیا چې کله دواړه ډلې [مومنان د ملائکو په ملیتا او مشرکان د شیطان په ملتیا] یو بل ته مخامخ سره راښکاره سول، نو بیا شیطان ورڅخه په شا سه او و یو یل: زه نور د ستاسې ملتیا نه ای مشرکانو! بې زاره یم، ځکه زه په یقین سره هغه څه په سترګو و ینم چې تاسې یې نه و ینې او زه د الله نه و یر یرم، ځکه الله کلک عذابونکئ لوی ذات دئ، یعنی د الله سزا ډیره سخته ده.

قدرمنو دوستانو! په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ ته د بدر په غزا کې د مومنانو او کافرانو د لښکرو په منځ کې د مخامخ نښتې او جګړې ژوندۍ تصویر وړاندې کړې دئ، او مومنان یې د جګړې په ډکر کې ښه کلک مقاومت او صبر او زغم ته رابللي دي، او د هر ډول خپل منځي اختلاف او یو بل سره ناندرو وهلو نه ګواښلي دي، او الله تعالی دوی ته نصیحت کړئ دئ چې پام کړی د ابوجهل په مشرۍ د مشرکانو جګړه مار لښکر کبرجن بد خو یونه ونکړی، او هغه دا چې مشرکان په ډیر فخر او کبر سره د خپلو کورونو نه راووتل اود مومنانو منعې کولوته یې د الله لارې نه؛ کلکه ملا وټرله او خپل ټول زور او ځواک یې خلکوته وښود، او ملعون ابلیس چې د دوی ملګرئ ؤ؛ مشرکانوته یې د دوی دغه کرغیړن یرغل د مومنانو پرضد ښکلئ او ښایسته که، او دوی یې کلک وغولول او ورته یې وو یل چې نن پرتاسې باندې د هیڅ چا زور نه رسیږي، خو بیا چې کله دواړه خوا وې د جګړې ډګر ته مخامخ راښکاره سول، نو لعنت سوئ

ابليس كلكې و يرې پسې واخست او وتښتيده او مشركان يې همداسې د جنګ تورو شړنګه هارکې؛ يوازې پر يښودل، ترڅو د الله تعالى په غيبي مرسته او د مومنانو په لاس د مشرکانو لښکر نه؛ څوک ووژل سول او څوک ژوندي برمته سول، او يوه نه هيريدونکې تار يخې ماته يې په پرخه سؤ او خوار او سپک بيرته مخ په مکه وتښتيدل، فالحمد لله على منه ونصره وعظيم فتحه الذي سماه الله فتحا مبينا .

{نني سيکولران چې مومنانوته کنځل کړي پروني منافقان دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنان د منافقانو کينه کښې در يځ او د کرکجنو تبليغاتو نه دوی پسې الله تعالى خبر کړي او فرمايلي دي:

﴿إِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ هَٰٓؤُلَآءِ دِينُهُمْ ۗ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٩﴾ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ وَذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ﴿٥٠﴾ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٥١﴾ كَدَأْبِ ءَالِ فِرْعَوْنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٥٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً أَنْعَمَهَا عَلَىٰ قَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا۟ مَا بِأَنفُسِهِمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٣﴾ كَدَأْبِ ءَالِ فِرْعَوْنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ فَأَهْلَكْنَٰهُم بِذُنُوبِهِمْ وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ ۚ وَكُلٌّ كَانُوا۟ ظَٰلِمِينَ ﴿٥٤﴾﴾

[٤٩] [اى مومنانو! او هغه وخت را په ياد کړئ] کله چې منافقان او هغه کسان چې زړونه يې ناروغ دي [يعنى د نفاق تورې پردې ور باندې راخورې دي] وايي: دغه کسان [يعنى مومنان] خپل دين مغرور کړي او غولولي دي [يعنى نو ځکه د يو لوی ځواکمن دښمن سره جګړې ته راوتلي دي، خو منافقان خبر نه دي چې مومنانو پرالله باندې توکل کړئ دئ او

پرې پروسعه لري] او څوک چې پرالله ځان وسپاري، نو یقیناچې الله لوی ځواکمن او ښه حکیم ذات او د مومنانو مل دئ.

[٥٠] ای پیغمبره! [که ته د کافرانو بد حال د ځانکندن په وخت کې وو یې] چې کله ملائکې د کافرانو ساه او روح راباسي [نو دوی به په ډیر سخت او بد حال کې و یې] او ملائکې به دغه کافران په مخونو او په کناټیو باندې وهي او بیا به ورته وایي: اوس د دوزخ سوزونکئ اور وڅکی، یعنی ورڅخه خوند واخلی!

[٥١] او دغسې سزا ورکول دغو کافرانوته د دوی د خپلو هغو بدو کړنو سزا ده چې په خپلو لاسونویې کړي دي، ځکه یقینا چې الله پرخپلو بنده ګانو باندې ظلم کونکئ نه دئ، یعنی الله ښه عادل او پالونکئ او ښه مهر بان لوی خدای دئ.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د بدر په غزا کې د مشرکانو یرغلګر لښکرته سزا ورکول د فرعون لښکرو سزا ته ورته سزا بللې ده، او فرمایلي دي:

[٥٢] [هو! یقینا چې دغسې سزا ورکول د الله تعالی تل پاتي قانون او سنت د ټولو کافرانو سره دئ] لکه د فرعون کورنۍ لښکر ته چې یې دغسي دودیزه سزا ورکړه، او د هغوی نه مخکې کافرانوته یې همداسې سزا ورکړه، ځکه دوی ټول د الله کتاب پرآیتونو او معجزو باندې کافران او ورڅخه منکر سول، نو بیا دوی الله په خپلو ګناه وو کلک راونیول، او یقینا چې الله ډیر کلک سزا ورکوونکئ ذات دئ، یعنی څوک چې د الله حکمونو نه سرغړونه وکړي؛ نو الله ورته سزا ورکوي او کلک انتقام او غچ ورڅخه اخلي او د جهنم په اور کې یې کړوي.

[٥٣] [او دا کلکه سزا کافرانوته، ځکه ورکول کیږي] چې یقینا هغه نعمتو نه او پیرزو ینې چې الله پرکم قوم ولوروي؛ هغه نه بدلوي [یعنی بیرته یې ورڅخه نه اخلي] مګر دا چې دوی په خپلو ځانو کې بدلون راولي [یعنی د الله اطاعت او بنده ګۍ نه د الله تعالی ګناه او معصیت ته واړي]

او يقينا چې الله ښه اور يدونکې او ښه پوه لوی ذات دئ، يعنی د هرچا حال نه الله ښه خبر دئ او بيا د هرچا سره چې څنګه ښايي هغسي چلند او معامله کړي.

[٥٤] هو! لکه د فرعون کورنۍ لښکر او د دوی نه مخکې کافرانو سره دوديز چلند او سزا ورکول، ځکه دوی د خپل رب پرآيتونو او معجزو باندې کافران سول [يعنی هغه يې ونه منل] نو بيا دوی مونږ په خپلو ګناهونو هلاک کړل [يعنی لمنځه مو يوړل] او فرعون او د هغه کورنۍ لښکر مونږ په سمندر کې غرق او ډوب کړل، ځکه دوی ټول ظالمان ول، يعنی د الله تعالی پر حق سره بنده ګۍ او اطاعت باندې يې کلک تيرئ کړئ ؤ او سرکښي يې ورڅخه کړې ؤ.

درندو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې د مکې يرغلګر لښکرته په بدر کې د ابوجهل په مشرۍ د فرعونيانو لښکرو غوندې سزا ورکولو نه مونږ خبر کړي يو، او دا د الله تعالی تل پاتې قانون او سنت دئ، چې هغه يې پر ټولو سرکښو ولسونو باندې، لکه پرفرعونيانو او ابوجهلانو باندې تل نافذ کړئ دئ او دوی ته لله تعالی کلکه سزا ورکړې ده، او د الله تعالی دا تل پاتې سنت او قانون به د قيامت ورځې پورې همداسې جاري وي، لکه څنګه چې يې بيلګې همدا اوس مونږ په نړۍ کې په سترګو و ينو او په غوږونو اورو، لکه پرونۍ تار يخ چې همداسې په وار وار سره تکرار يږي، خو د بده مرغه هغه خلک چې د شيطان لښکر دئ؛ پند نه اخلي او د الله تعالی پرحکمونو سرکښۍ نه لاس نه اخلي!

{کافران د ځمکې پرسر الله تعالی پروړاندې بد خلک دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنان الله تعالی د کافرانو د شرارت نه خبر کړي دي، ځکه دوی خپل ټرونو نه د مومنانو سره ماتوي او د پښو لاندې يې کوي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ۝ ٱلَّذِينَ

عَٰهَدتَّ مِنۡهُمۡ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهۡدَهُمۡ فِي كُلِّ مَرَّةٖ وَهُمۡ لَا يَتَّقُونَ ٥٦ فَإِمَّا تَثۡقَفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡحَرۡبِ فَشَرِّدۡ بِهِم مَّنۡ خَلۡفَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ٥٧ وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوۡمٍ خِيَانَةٗ فَٱنۢبِذۡ إِلَيۡهِمۡ عَلَىٰ سَوَآءٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡخَآئِنِينَ ٥٨ وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَبَقُوٓاْۚ إِنَّهُمۡ لَا يُعۡجِزُونَ ٥٩

[٥٥] هو! يقينا چې د ځمکې په سر ګرځندو خلکو نه ډير بد کسان هغه څوک دي چې کافران سول [يعنی د الله تعالی عبادت او بنده ګی نه منکر سول] نو دوی هيڅ کله ايمان نه راوړي، يعنی حق نه مني او د الله تعالی په توحيد باندې باور نکړي او د خپل کفر سرکښۍ نه لاس نه اخلي.

[٥٦] او دا کسان د هغو بدو کسانو نه دي چې تا ای پيغمبره! د دوی نه تعهد واخست [يعنی دوی د ستا سره کلک تعهد او هوډ وکه چې ستا پر ضد به بل چا سره ملتيا نکړي] خو بيا يې خپل تعهد هرځل مات که، ځکه دوی د الله سزا نه نه و يرې او نه خپل ځانونه د عذاب نه په اطاعت سره ساتي.

عزتمنو دوستانو! په دې مبارکو آيتونو کې تعهد ماتونکو کسانو په باره کې ځينې مفسر ينو روايت کړئ دئ چې د دغو هوډ ماتونکو او تعهد شکنه خلکو نه مقصد د يثرب (مدينې منورې) ميشت هغه يهود ول چې د رسول الله ﷺ سره يې تعهد او هوکړه وکړه او و يو يل چې دوی به د مشرکانو ملتيا نکړي او مومنانو سره به په ګډه د مدينې منورې ساتنه کړي، خو بيا يې په وار وار سره خپل دغه ټول ټړونو نه مات کړل او د رسول الله ﷺ پرضد او مخالفت کې د مشرکانو ملګري سول، نو ځکه دوی الله تعالی د ځمکې پر سر د ډيرو بدو خلکو نه ګڼلي دي او مومنان يې د دوی شر نه ګواښلي دي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ ته الله تعالی حکم کړئ دئ چې دغو ټولو کافرانو ته کلکه سزا ورکړي، او فرمايلي دي:

[٥٧] نو بيا به ته ای پيغمبره! [دغه کينه کښ کافران او هوډ ماتونکي

کسـان] په جګړه کې خاماخا بياموميې او لاس ته بده راسـي، نو بيا دوی د شـانه ډلګۍ ډلګۍ پسې واخله [يعنی ښـه کلکه سـزا ورکړه، ترڅو د دوی په زړونو کې و يره ولو يږي او په خپله ګناه چې تيرۍ پې کړۍ دۍ] ښـه پوه سي او پند واخلي، يعنی بيا نور دوی پخوا غوندې بدو کړنوته چې هغه د رسول اللهﷺ سره دښمنۍ ؤ ملا ونه تړي.

[۵۸] او ای پيغمبره! که ته د کومې ډلې نه چې تا ورسـره تعهد کړۍ دۍ وو يرِ يدلي چې هغه به سـتا سـره خيانت وکړي، نو د دوی سـره تړل سـوۍ تعهد او تړون بيرته ور واچوۀ، ترڅو دواړه خواوې سـره برابر سـی [يعنی دا چې د دوی په منځ کې هيڅ ډول تړون نسـته] او يقينا چې خائنان او تعهد ماتونکي کسان پر الله ګران نه دي.

[۵۹] او هغه کسـان چې کافران سـول او بيا د الله نيولو نه په تيښـته خلاص سـول؛ دوی ده داسـې خيال او ګمان نکړي چې دوی نور تير سـول [يعنی د الله تعالی زور پر دوی باندې نه رسـيږي؛ نا داسـې ګمان ده هيڅ کله نکړي] ځکه د الله سزا نه دوی هيڅ کله خلاصيدای نسي!

{پر مومنانو فرض ده چې پرنويو اسلحو سمبال ځواک ولري}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی مومنانو ته سـپارښـت کړۍ دۍ چې ښايي پر نويو پرمختللو اسلحو سمبال ځواک ولري، او فرمايلي دي:

﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ٦٠﴾

[٦٠] ای مومنانو! او د ځومره ځواکمن غښـتلي ځواک تيارولوته چې د سـتاسـې وسـعه رسـيږي؛ هغه کافرانو سـره جګړې ته تيار کړۍ، لکه د سـپرلۍ اسـانو تړل په غوجلو کې، ترڅو د سـتاسـې دغه ځواک د الله او د سـتاسـې دښـمانو په زړونو کې و يره واچوي او ورته ګواښ وي، او د هغو کسـانو په زړونو کې هم و يره ولو يږي چې د دوی شـاته ولاړ دي، او تاسـي

پر دوی پوه نه یاستی او نې پېژنی، خو الله ور باندې پوهیږي، او ای مومنانو! هغه مال او دولت چې تاسې د الله په لار کې لږوی [یعنی د مجاهدینو سره مرسته کړي] الله به هغه بیرته پوره درکړي او پرتاسې باندې الله ظلم نکیږي.

عزتمنو مجاهدینو! الله تعالی په دې مبارك آیت کې رسول اللهﷺ ته حکم او کلک سپارښت کړئ دئ چې کله د دغو ترونونو ماتونکو دښمنانو سره چې چیرته مخامخ سوی؛ کلکه سزا ورکړی، او کله چې د دغو کسانو د خیانت او د هغوی تعهد ماتولو نه چې د ستاسې سره یې کړي دي؛ په ډار او و یره کې سوی، نو د هغوی سره ترل سوئ تعهد بیرته ورواچوی، او خپل ځانونه د دښمن سره جګړې ته تیار کړی، او د دغسې جګړې لپاره د قوت او ځواک ټول سامان او وسائل او دودیزې اسلحې چمتو کړی او ښه کلک مسلح فوز جوړ کړی او ښه پوخ تیارئ ونیسی، یعنې ښایي مسلمانان تل د کفري ښکیلاک مخې ته تیارسئ وي، او د خپل مومن ولس او هیواد نه ساتنه وکړي او د یرغلګر دښمن پر وړاندې تل تیارسئ ولاړ وي.

دوستانو! یقینا چې د دغو لارښودنو حکمونه عام دي او د مومنانو ټول واکمنان په هرهیواد او په هروخت او هرعصر او هره زمانه کې پرې مکلف دي، او پردوی باندې لازمه ده چې خپل ځانونه تل د دښمن سره جګړې ته د هرعصر او زمانې غوښتنو سره سم په مناسبو اسلحو سمبال او تیار کړي، ترڅو د دښمن بر یدونو نه ځانونه کلک وساتي.

او هیره ده نه وي چې د نړی اوسنیو ځواکمنو هیوادونو د همدې قرآني پیغام نه د خپلو لښکرو په زدکړو او تیارسئ کې، ګټه اخستې ده.

{هغه دښمن چې صلحه غواړي ورسره صلحه فرض ده}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانوته د دښمن سره د صلحې سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿*وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلۡمِ فَٱجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ

ٱلۡعَلِيمُ ٦١ وَإِن يُرِيدُوٓاْ أَن يَخۡدَعُوكَ فَإِنَّ حَسۡبَكَ ٱللَّهُۚ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَيَّدَكَ بِنَصۡرِهِۦ وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٦٢ وَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡۚ لَوۡ أَنفَقۡتَ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مَّآ أَلَّفۡتَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٦٣ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسۡبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٦٤

[٦١] ای پیغمبره! او که کافرانو صلحې ته غاړه کیښودله، نو ته هم هغه ومنه او پرالله توکل او پروسعه وکړه [یعنی ځان ده پر الله تعالی وسپاره او صلحه وکړه] ځکه یقینا چې الله ښه اور یدونکئ او ښه پوه پالونکئ لوی څښتن دئ.

[٦٢] خو که دښمن وغواړي چې تا ای پیغمبره! وغولوي، نو یقینا چې الله درته بس او کافي دئ، او الله هغه څوک دئ چې د ستا مرسته یې وکړه او مومنانویې د ستا ملاتړ وکړځول.

[٦٣] او د مومنانو په زړونو کې [چې دوی پخوا په خپلو منځونو کې د یو بل سره دښمنان ول] الله محبت او مینه واچوله، او که تا ای پیغمبره! په ځمکه کې پروت ټول مال او دولت لږولئ وای، نو د دوی په زړو کې به ده الفت او مینه نه ؤ اچولې، خو الله د دوی په منځ کې مینه واچوله، ځکه یقیناچې الله لوی ځواکمن او ښه حکیم او پالونکئ ذات دئ، یعنی الله تعالی د خپلو بنده ګانو چارې په لو یه ځواکمنۍ او په پاخه تدبیر او حکمت سره چلوي، او کله چې الله وغواړي، نو بیا د دؤ دښمنو ډلو په مینځ کې مینه اچوي او دوی سره پخلا کوي.

[٦٤] او ای پیغمبره! تاته او درسره ملګرو مومنانوته ده؛ الله کافي او بس دئ، یعنی دا ډاډ پیغمبر او د هغه ملګروته ښه کلک او پوخ ډاډ او تسلیت دئ، نو دوی ده نه اندیښمن کیږي او د دښمن نه ده نه و یر یږي!

قدرمنو دوستانو! په دي مبارکو آیتونو کې الله تعالی لمړئ رسول اللهﷺ ته حکم کړئ دئ چې کله دښمن د صلحي یا د اور بند وړاندیځ وکه او صلحې ته یې میلان وښود، نو ته هم هغې خوا ته میلان وښیه او

صلحه ومنه او پرالله توکل وکړه او هیڅ و یره او اندیښنه مکړه، او که دښمن وغوښتل چې تا وغولوي، نو الله تعالی سره د ستا مومنو ملګرو چې یو موټئ او واحد امت دئ؛ درته بس او کافي دي، ځکه دوی د ستا مرستندوی دي، نو ته ای پیغمبره! په خپل زړه کې هیڅ اندیښنې او و یرې ته ځای مه ورکؤ او په پوره ډاډ سره خپل رسالت او پیغام په مخ یوسه.

هو! ګرانو عز یزانو! یقینا چې د دښمن سره صلحه او اور بند څه اسانه کار ندئ، ځکه کیدای سي چې دښمن بد نیت ولري او د صلحې نه په ګټې اخستلو سره خپل رقیب او دښمن له منځه یوسي، خو د دې سره سره الله تعالی صلحه روا کړې ده او خپل پیغمبر ته یې کلک اطمینان او ډاډ ورکړئ دئ، او دا سپارښت یې ټولو مومنانوته ډیر غوره سپارښت دئ، ځکه اسلام صلحه غواړي نه جګړه، لکه څنګه چې سلام د اسلام لوی شعار دئ او غواړي ټول بشر یت په صلحه کې ژوند وکړي او جګړوته د پای ټکئ کیږدي، خو د بده مرغه د اسلام هغه دښمنان چې د مسلمانانو هیوادونه او مقدسات یې په زور لاندې کړي دي؛ هغوی صلحې ته تیار نه دي، مګر دا چې د مقاومت او ولسي جهاد سره مخامخ سي چې یقینا یې ژوندی بیلګه یې په دې وروستیو پیړو کې افغانستان، او بیا مسجد الاقصی په فلسطین کې دئ چې دا لسهاوو کاله کیږي د صهیونستي دولت اشغال لاندې دی، او الحمد لله افغانستان خو آزاد سه، نو دعا کړو چې فلسطیني ولس ته هم الله تعالی د کلک مقاومت توفیق ورکړي، ترڅو په خیر ازاد سي، او دا دئ اوس اوس [د ٢٠٢٣ کال اکتو بر٨] د دغسې سرتیري مقاومت نښانې په فلسطین کې هم وځلیدلې، نو الله تعالی ده دوی ته هم بر یا او فتحه ورکړي، اللهم آمین یا رب العالمین.

{جهاد ته د مومنانو هڅول جګړه ماردښمن سره فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې بیا الله تعالی رسول اللهﷺ ته امر کړي دئ چې مومنان د جګړه مارو کافرانو سره جهاد او جګړې ته ښه کلک وهڅوی، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَى ٱلۡقِتَالِۚ إِن يَكُن مِّنكُمۡ عِشۡرُونَ صَٰبِرُونَ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ٦٥ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسۡبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٦٤ ٱلۡـَٰٔنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمۡ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمۡ ضَعۡفٗاۚ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ صَابِرَةٞ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُمۡ أَلۡفٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفَيۡنِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ٦٦﴾

[٦٥] ای پیغمبره! مومنان د کافرانو سره جګړې ته وهڅوي! او که د ستاسې سر تیري شل کسه صبرناکه [تور یالي مجاهدین] وي نو د کافرانو په دۀ سوو جګړه مارو [ښکیلاک ګرو باندې به] زورور کیږي او غلبه به پرې مومي، او که د ستاسې سرتیري سل کسان ول، نو د کافرانو پر یو زر جنګیالو باندې زورور کیږي، ځکه کافران ناپوه خلک دي، یعني دوی نه پوهیږي چې الله تعالی د خپلې لارې مجاهدینو سره په جګړه کې مرسته کړی او په آخرت کې بیا لوی لوی ثوابونه ورکوي، او کافران چې د لږو دنیایي ګټو لپاره جګړه کړي؛ هیڅ څوک مرستندوی نه لري.

ګرانو دوستانو! د یاونې وړ ده چې د دښمنانو نه مقصد دلته د قرآن نزول په وخت کې د مکې مشرکانو ول چې په وار وار سره یې پر رسول الله ﷺ او ورسره مومنانو باندې په مدینه منوره کې ښکیلاک ګړې حملې وکړې، نو کافر دښمن سره د جګړې او جهاد دغه حکمونه تل پاتې دي، او ښایي چې مومنان تل د یرغلګر کافر دښمن سره دغسې حکمونه په پام کې ولري.

[٦٦] هو! ای مومنانو! اوس الله د ستاسې پیټۍ سپک که او پوه سه چې په تاسې کې ضعف دئ او بې وسې یاستئ، نو که د جګړې په ډکر کې د ستاسې سل کسان صبرناک سرتیري وي، نو د کافرانو پردۀ سوو جنګیالانو باندې زورور کیږي، او که د ستاسې سرتیري یو زر کسان ول، نو د الله په حکم د کافرانو په دۀ زره جنګیالانو باندې زورور کیږي، ځکه الله د صابرانو مل او ملګرئ دئ.

ګرانو مومنانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې لمړۍ رسول الله ﷺ ته حکم کړئ دئ چې مومنان د يرغلګرو جګړه مارانو کافرانو سره جګړې ته وهڅوي او تشويق يې کړي، او بيا يې مومنانوته ز يرئ ورکړئ دئ چې د ستاسې لښکر که شل کسان زړور او صبرناکه غښتلي زلميان ول؛ د دښمن پر دۀ سوو جګړه مارانو باندې به زورور سي، خو بيا وروسته الله تعالى دوی ته د اسانتيا ز يرئ ورکړئ دئ، او فرمايلې يې دي چې اوس به د مسلمانانو سل کسان صبر ناک تور يالي مجاهدين د کافرانو پر دۀ سوو جنګيالانو باندې به زورور سي، او ښکاره ده چې د هغه وخت جګړې لاس په لاس وې، نو د الله لارې مجاهدين کلک تصميم او صبرته اړل ول.

{د کافرانو برمته سوونه باج اخستل الله مناسب نه بولي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د يوې نرۍ کيلې په ترڅ کې رسول الله ﷺ ته په و ينا کې د دښمن نه د برمته سوو کسانو نه باج اخستل مناسب ندي ګڼلي، او فرمايلي دي:

﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسۡرَىٰ حَتَّىٰ يُثۡخِنَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنۡيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٦٧ لَّوۡلَا كِتَٰبٞ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمۡ فِيمَآ أَخَذۡتُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٦٨ فَكُلُواْ مِمَّا غَنِمۡتُمۡ حَلَٰلٗا طَيِّبٗاۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٦٩ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِيٓ أَيۡدِيكُم مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ فِي قُلُوبِكُمۡ خَيۡرٗا يُؤۡتِكُمۡ خَيۡرٗا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٧٠ وَإِن يُرِيدُواْ خِيَانَتَكَ فَقَدۡ خَانُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ فَأَمۡكَنَ مِنۡهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٧١﴾

[٦٧] [هو؛ ای محمده ﷺ پيغمبرته نه شاييدل چې برمته سوي اسيران ولري، ترڅو چې ځمکه د دښمن په و ينو سره ولړې [يعنی ځمکه د کافرانو جګړه مارانو د و ينو په تو ييدو سره سره درنده کړې او دښمن

ستړئ کړي] او ای مومنانو! آیا تاسي په دنیا کې درته ورلاندې سوې کټې غواړئ؟ حال دا چې تاسي ته الله د آخرت ثوابونه غواړي [یعنی الله تعالی د خپل دین بر یا او د دښمن ماته غواړي] او الله لوی ځواکمن او ښه حکیم پالونکئ څښتن دئ، یعنی د هیڅ چا زور پرالله تعالی باندې نه رسیږي، او دئ د خپلو بنده ګانو چارې په لوی ځواک او حکمت سره سمبالوي.

[٦٨] ای مومنانو! که د الله لخوا په تقدیرکې د پخوانه لیکل سوې فیصله او پر یکړه نه وای [یعنی دا چې تاسي به د برمته سوو اسیرانو نه فد یه یا باج اخلی] نو بیا به تاسي ته [د هغوي فدیو او د مال او دولت باج اخستلو په عوض کې چې هغه تاسي د بدر غزا برمته سوو اسیرانو نه واخستل] لوی عذاب به درکړل سوئ ؤ، یعنی دا چې مومنانو باج یا فد یه اخستل د اسیرانو نه؛ د دوی پر وژلو غوره کړل؛ او دا د الله تعالی هغه پر یکړه ؤ چې مخکې په تقدیرکې لیکل سوې ؤ، نو ځکه مومنانوته الله تعالی سزا ورنکړه او دوی یې معاف کړل او و یښل.

[٦٩] نو ای مومنانو! اوس هغه غنیمتونه چې [د بدر په غزا کې تاسي د کافرانو نه ولکه کړل] هغه حلال او پاک وخوری [ځکه هغه درته حلال دي او هیڅ اندیښنه مکړی] او د الله نه وو یر یږی [یعنی د حکمونو پرځای کولو سره یې د سزا نه ځانونه کلک وساتی] او یقینا چې الله ښه بښونکئ او لوی مهر بان پالونکئ ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! کله چې د بدر په غزا کې د رسول اللهﷺ ملګري د مشرکانو په لوی یرغلګر لښکر باندې برلاسي او زورور سول او د کافرانو ډیر کسان یې ژوندي برمته ونیول، نو رسول اللهﷺ د مشرانو صحابوو سره په مشوره دا غوره کړه چې د دغو برمته سوو بندیانو نه د سر بیعه فدیه یا باج واخلي او بیا دوی خوسې کړي، نو بیا الله تعالی دغه د عتاب او د ګیلې مبارك آیتونه رانازل کړل او محمد رسول اللهﷺ یې په دې ملامت که چې د جګړه مارو اسیرانو نه یې فدیه واخستله، سره لدې چې پیغمبرته نه ښایيدل چې دئ جنګي اسیران ولري، بلکې ښایيدل خپل

دښمن ښه وځپي او ځمکه د دوی په مړو باندې درنده کړي، خو دا پر یکړه د پخوا نه ورته الله په تقدیرکې لیکلې ؤ، نو ځکه دوی الله تعالی و ښېل او دغه فدیه او نور غنیمت سوئ مال یې د دښمن نه ورته روا او حلال که، ترڅو دوی هغه په پوره ډاډ سره وخوري او ګټه ورڅخه واخلي.

ګرانو دوستانو! د رسول اللهﷺ دا حکم یقینا چې د هغه پر پوره رحمت او مهر بانۍ او د بشر د حقونو ساتنې پر اصولو باندې ولاړ ؤ، او هغه د الله تعالی تقدیري پر یکړه ؤ، نو دا دئ اوس په نړ یوالو جنګي قوانینو کې په جګړه کې د نیول سوي بندي وژل منع دي او دغه اسیر د نورو اسیرانو سره مبادله کیږي او یا یې د سر بیعه فد یه ورکول کیږي.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته د جنګي بندیانو په باره کې د ډاډ ګیرنې سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[٧٠] ای پیغمبره! هغو بندیانوته چې د ستاسې په لاسونوکې برمته سوي دي ووایه: که الله پوه سي چې د ستاسې په زړونو کې خیر دئ [یعنی د الله او پیغمبر دښمنۍ نه تاسې نور لاس اخستئ دئ] نو الله به د هغه مال په بدل کې چې هغه ستاسې نه د ستاسې سرونو ازادۍ په نذرا نه کې اخستل سوئ دئ؛ لا ډیر ښه مال او دولت درکړي او د ستاسې ګناه به درته الله تعالی و ښبي او معاف به مو کړي، ځکه الله تعالی لوی ښونکې او ښه مهر بان پالونکئ ذات دئ.

[٧١] خو ای پیغمبره! که دغه جنګي اسیران بیا ستا سره د خیانت قصد وکړي، نو په دې ده پوه سي چې دوی پخوا د الله سره خیانت وکه، نو بیا الله دوی راونیول [یعنی د ستاسې په منګلوکې یې برمته کړل] او الله ښه پوه او حکیم پالونکئ ذات دئ، یعنی د الله تعالی ټول کړل په لو یه پوهه او په پاخه تدبیر او حکمت باندې ولاړ دي.

درندو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې د کافرانو نه برمته سوو بندیانوته خیر غوښتئ دئ، او دوی ته یې ز یرئ ورکړئ دئ چې الله به ورته ښه ډیر عوضو نه ورکړي، او بیا الله تعالي خپل پیغمبرﷺ ته هم

اطمئنان او ډاډ ورکړي دئ چې دغه اسيران او جنګي بنديان تاته څه تاوان رسولای نسي، ځکه که دوی ستا سره بيا د خيانت قصد وکړي، نو الله به بيا دوی د ستاسې په ولکه کې راونيسي، ترڅوپې ښه وځې او کلکه سزا ورکړي، ځکه دا د الله تل پاتې قانون دئ چې د بشر يت په تار يخ کې يې پر تعهد ماتونکو کسانو باندې چلوئ دئ او دوی ته سزا ورکړل سوې ده.

{مهاجر ين او انصار د کافر انو په جهاد کې سره ملګري ول}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د مهاجر ينو او انصارو هغه ميړانې ستايلې دي چې د الله لارې جهاد او د بدر په لو يه غزا کې؛ دوی وښودلې او لوړ مقامونه يې وګټل، او بيا دوی ته الله تعالی ډيرې ارزښتناکه سپارښتنې او لارښودنې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْۚ وَإِنِ ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٧٢ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ تَكُن فِتۡنَةٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٞ كَبِيرٞ ٧٣ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٧٤ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ مَعَكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ مِنكُمۡۚ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ٧٥﴾

[٧٢] هو! يقينا هغو کسانو چې ايمان راوړ او بيايې د مکې نه مدينې ته هجرت وکه او وروسته يې يبا د الله په لار کې په خپل سر او مال باندې جهاد وکه؛ دوی او هغه کسان چې مهاجر ينوته يې ځای او پناه ورکړه او

بيا يې د دوی مرسته وکړه؛ دوی ټول د يو بل ملګري او دوستان دي، او هغو کسانو چې ايمان راوړ، خو هجرت يې ونکه، نو تاسې ای مومنانو! د دوی سره په ملګرتيا او مرسته مکلف نه ياستي، ترڅو چې دوی د کافرانو نه راووځي او مومنانوته هجرت وکړي، او که دوی د خپل دين ساتنې په باره کې د ستاسې نه مرسته وغوښتله، نو ورسره مرسته وکړي، خو د هغو کسانو پرضد ورسره مرسته مکړئ چې هغوی د ستاسې پلو يان دي او ستاسې سره ټرون لري، او ای مومنانو! الله د ستاسې په کړنو باندې ښه بينا دئ، يعنی د ستاسې کړنې د الله تعالی څار لاندې دي.

[٧٣] او هغه کسان چې کافران سول؛ دوی د يو بل ملګري دي [او ای مومنانو! که تاسې د يو بل مرسته او د الله په لار کې د کافرانو سره جهاد] ونکړئ، نو په ځمکه کې به لوی فساد او ورانئ خور سي، يعنی مومنان به بيا د لوی ازمايښت سره مخامخ سي او کافران به دوی ډير وزوروي او د ستونزو سره بې مخامخ کړي.

[٧٤] هو؛ ای مومنانو! هغو کسانو چې ايمان راوړ او بيا يې د الله په لار کې هجرت او جهاد وکه [يعنی د مشرکانو يرغلګرو لښکرو پر وړاندې کلک ودر يدل او مقاومت يې وکه] او هغو کسانو چې مهاجر ينو ته [په خپل ځنګ کې په مدينه منوره کې] ځای ورکه او د دوی مرسته يې وکړه [يعنی د مهاجر ينو ا مرستندوی سول] نو هغوی ټول په ر يښتيا سره مومنان دي او دوی ته د الله لخوا بښنه، عزتمن ژوند او خوره روزي ورکول کيږي.

[٧٥] ای مومنانو! او هغه کسان چې بيا وروسته د مکې نه مدينې ته کډه سول او هجرت يې وکه، او بيا دوی د ستاسې سره [ای لمړنيو مهاجرينو او انصارو! د الله په لار کې] جهاد وکه [يعنی د کافرانو لښکرو سره وجنګيدل] نو دوی د ستاسې ډلې نه دي [يعنی د ستاسې غوندي حقوق او مسوليتونه لري] او هغه څوک چې د يو بل سره نسبي اړ يکې لري؛ هغوی د الله کتاب (قرآن) حکمونو سره سم د يو بل خپلوان دي [او د يو بل نه ميراث وړي] او يقينا چې الله په هرڅه ښه پوه دئ، يعنی د خپلو بنده ګانو سره په پوره پوهه چلند کړي او چارې يې پالي.

عزتمنو دوستانو! په دې مبارکو آیتونو کې چې د الانفال مبارکې سورې وروســتي آیتونه دي؛ د الله تعالی د دین د ســاتلو او لوړتیا په لار کې د مهاجرنیو او انصــارو چې لمړني مجاهدین ول؛ الله تعالی د دوی ســتاینه کړي ده او دوی یې د یو بل دوستان او ملګري بللي دي، ترهغو چې دوی به د یو بل نه میراث وړ، او بیا الله تعالی د دوی دندې او رســالت د نورو مومنو مهاجر ینو په باره کې چې د بدر غزا نه وروســته مهاجر ســول په نښــه کړئ او بیان کړئ دئ، او په وروســتي مبارك آیت کې الله تعالی د اسـلامي وروروليِ پر اسـاس میراث وړل منسـوخ کړي دی او یوازې نسـبي خپلوان د یو بل نه میراث وړي، لکه څنګه چې د میراث ټول حکمونه الله تعالی د النساء په مبارکه سوره کې مونږ ته ښه مفصل بیان کړي دي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين.

سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

❁❁❁

د التوبې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

الحمد الله الذي نصر عبده وأنجز وعده وهزم الأحزاب وحده، ثم أعلن البراءة من المشركين، وصلى الله وسلم على عبده ورسوله المبعوث بالحق بشيرا ونذيرا ورحمة للعالمين، وعلى آله وصحبه أجمعين.

{د التوبې سورې لنډه پېژندنه او لوی مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د التوبې یا د البراءة سوره چې کافرانوته د سزا ورکولو سوره ده؛ مدني سوره ده، او د هجرت په نهم کال رانازله سوې ده، او په ټول قرآن کې یوازنۍ سوره ده چې د الانفال سورې نه د بیلتون لپاره یې په پیل کې (بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ) نه ده لیکل سوې، نو د تفسیر علماء وایي چې د دې یو دلیل او عامل دا دئ چې د (بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ) معنا: د الله لخوا پر بنده ګانو باندې رحمت او مهر بانۍ ده، او د البراءة په سوره کې الله تعالی د مشرکانو نه اعلان د براءت، بې زارۍ او د سزا ورکولو کړئ دئ، ځکه دوی د رسول اللهﷺ سره د حدیبې اور بند ټړون مات که، و دا دواړه [رحمت او براء ت] نه سره یوځای کیږي، نو ځکه یې په پیل کې (بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ) نه ده لیکل سوې.[والله اعلم بالصواب]

هو! درندو دوستانو! د التوبې یا د البراءة مبارکه سوره چې د الانفال سورې پسې نښتې سوره ده؛ هغه لوی لارښود پیغام دئ چې لمړئ پکې الله تعالی د هغو مشرکانو نه خپل براءت او بې زاري او پر یکون اعلان کړئ دئ چې د بدر، احد او د احزابو غزاګانو نه وروسته رسول اللهﷺ د دوی سره په الحدیبیه کې د اور بند ټړون امضاء که او لنډ مهاله صلحه یې ورسره وکړه، او بیا الله تعالی په دې مبارکه سوره کې د کافرانو او منافقانو تورې کرغیړنې څیرې او کینه کښ مقصدونه رسول اللهﷺ او مومنانوته ښه څرګند رسوا کړي دي، او د مومنانو او کافرانو په منځ کې یې د قاطع او پر یکنده بیلتون حکمونه او فیصلې اعلان کړې دي او مومنان یې دغو بر یدګرو جګړه مارو کافرانو سره؛ جګړې او مقاومت ته رابللي دي، او د

دغسې تعهد ماتونکو کافرانو سره په مسلح جهاد فرض کړئ دئ، او دا هغه لوی اهداف دي چې په دې مبارکه سوره کې مومنانوته الله تعالی بیان کړي دي، او د تفسیر علماوو د التوبې مبارکې سورې په نومونو کې یوولس نومو نه روایت کړي دي چې مشهور یې همدا: التو بة، البراءة او(الفاضحة)دي، یعنی رسوا کونکې، ځکه منافقان د التوبې سورې په خو یونو او صفتونو سره مومنانوته ډیر روښانه معرفي کړي دي او ښه روښانه یې ور پیژندلي دي، او ښه کلک یې رسوا کړي دی، ترڅو مومنان تل هغوی ښه و پیژني او ورسره د دوی لائق چلند وکړي او د دوی شیطاني وسوسو په لومو کې ونښلي، نو یقیناچې د منافقانو په اړه دا قرآني وضاحت هغه لارښود پیغام دئ چې ښایي مومنانو په هر وخت او عصر کې ورڅخه ګټه واخلي، او په ځانګړي ډول په اوسني عصر کې چې منافقانو خپلې جامې بدلې کړې دي او د روشن فکر، سیکولر او پرمختیا پالونکي او ترقۍ غوښتونکي ترعنوان او نامه لاندې؛ خپل زهرجن فکر په اسلامي ټولنو کې خوروي، او په حقیقت کې دا منافقان غواړي چې د حق پروړاندې ودر یږي او ورته ګواښ سي او پر یږدي چې حق برلاسی بر یا ته ورسیږي.

{د التوبې سورې معنا او تفسیر پیل نه وړاندې اړ ین وضاحت}

ګرانو عز یزانو! د التوبې مبارکې سورې د آیتونو پښتو معنا او لنډ تفسیر نه وړاندې د دۀ خبرو یا د دۀ مسئلو لنډ بیان او روښانه کول ډیر اړ ین او ضروري بر یښي، ځکه په دې مبارکه سوره کې د جهاد مسئلې په ډیر تفصیل او اوږده بیان سره؛ یادې سوې دي، او د دې دوۀ مسئلو نه لمړئ مسئله چې وضاحت یې پکار دئ دا ده چې آیا د الله تعالی په لار کې جهاد او د دښمن سره جګړه کړل؛ دفاعي ضرورت دئ او که هجومي فریضه ده؟ او دو یمه مسئله دا چې جهاد ښایي د چا په حکم اعلان او پیل سي، یعنی د جهاد اعلان واکمن څوک دئ؟

هو! کله چې دغسې یۀ ډیره غټه او ضروري پوښتنه مطرح کیږي، نو ښایي

چې د ځواب نه مخکې يې د دغو مبارکو آيتونو د رانازليدو په سياق او په وخت کې يې عيني واقعيتونه په ډير دقت سره مطالعه او چې سي او بيا حکم وسي، او دا مسئله هم په يقين سره ثابته او روښانه ده چې د الله تعالى په لار کې جګړه او مسلح جهاد پر مومنانو باندې د ډاډمن مشرتابه قيادت لاندې فرض دئ، خو په دې شرط چې عيني واقعيتونه د دغو مبارکو آيتونو د سياق څرنګوالي ته ورته وي، نو په دغسې حالت کې جهاد د هغو کافرانو سره چې دوی تيرئ کونکې بر يدګر دښمنان دي؛ هجومي او دفاعي دواړه دئ، ځکه چې اسلامي ټولنه خپل مطمئن او ځواکمن قيادت لري او دښمن يې ښکاره کافر تيرئ کونکئ دښمن دئ، او د دې موقف يا در يځ شرعي حجت او شاهد؛ د سول اللهﷺ په مشرۍ د يرغلګرو سره او همدارنګه د نورو کافرانو سره د رسول الله مبارك غزاګانې په مدني دوره کې او همدارنګه د ځينې صحابوو کرامو په مشرۍ د مدينې منورې په ګاونډ کې د اسلام تبليغ سره يوځای د جګړه مارو قبائلو سره جهاد ؤ.

ګرانو دوستانو! او دو يم مقصد چې ښايي دلته لنډ روښانه سي؛ هغه دا دئ چې ښايي جهاد چا په حکم اعلان سي او د چا په مشرۍ پيل سي؟

درندو عز يزانو! او د دغو پوښتنو لنډ ځواب دا دئ چې د براءت سورې مبارکو آيتونو سياق او شان نزول حکم دا دئ چې د جهاد اعلان د مسلمانانو مومن قيادت او مشرتابه؛ شرعي حق او رسالت دئ، نو ښايي چې هغه د تيرې کونکې کافر دښمن پر وړاندې جهاد او نفير عام اعلان کړي، ترڅو د دښمن تيرئ په شا وتنبوي او کافران داسې وځې چې نور بيا دغسې وحشيانه تيرې ته زړه ښه نکړي، لکه د بدر، احد، احزابو او د مکې فتحه او د حنين لويې غزاګانې چې پکې د رسول اللهﷺ په مشرۍ د يرغلګرو کافرانوسره د جهاد او غزا بيرغونه ور پول سول او تورې د تيکونه راوايستل سوې، خوکه چيرې مومنان په داسې حال کې د دښمن ګواښ او ننګونې لاندې راغلل چې نه يې د ډاډمن مشر سره شرعي بيعت کړئ ؤ او نه يې مسلح ځواک درلود چې د دښمن سره جهاد ته تيار وي، نو

بيا مومنانوته ښايي چې د رسول اللهﷺ غوندې لمړئ د ځان لپاره مطمئن او ډاډمن استونګئ او مينه پيدا کړي او هلته خپله هغسې مومنه ټولنه جوړه کړي چې د خپل مشر سره په اخلاص شرعي بيعت وکړي، او بيا چې کله دوی د دښمن يرغل لاندې راغلل او يا يې هيواد يرغلګر کافر دښمن لاندې که، نو بيا ده په يۀ خوله د دښمن پر وړاندې جهاد اعلان کړي او د خپل هيواد، خپل کور او کلي د آزادۍ او ساتنې لپاره ده جهاد ته کلکه ملا وتړي، ترڅو تيرئ کونکئ کافر دښمن مات سي او وطن آزاد سي، او په اوسني عصر کې يې بيلګه د غربي او شرقي ښيکلاک پر وړاندې د اسلامي هيوادونو ازادي غوښتونکو؛ هغه جهاد او خواره واره مقاومتونه او پاڅونونه ول، چې په پايله کې يې ډير اسلامي هيوادونه د کافرانو اشغال ولکې نه په تيره شلمه ميلادي پيړۍ کې د نړۍ والو استعماري جګړو نه وروسته ازاد سول، او بيايې بله بيلګه د هغې نه وروسته د فلسطين، فلپين او د افغان مومنو ولسونو جهاد او مقاوت ؤ چې د اسلامي نړۍ علماوو په فتوا د يرغلګر کافر دښمن پر وړلاندې ولسي پاڅون او مسلح جهاد ته اړل سول، او په ښه ميړا نه يې جهاد او مقاومت وکه، ترڅو چې د الله تعالى په مرسته يې يرغلګر دښمن د کلک مقاومت او مسلح جهاد نه وروسته شا تګ ته اړکه، او دا دئ اوس الحمد لله افغانستان د يوې پيړۍ په اوږدوکې د درې ښکيلاک ګرو امپراتور يو [انګليس، روس او امر يکا] نظامي ماتې نه وروسته ازاد او خپلواک مستقل اسلامي هيواد دئ.

{الله اوپيغمبر د الحديبې ترون ماتونکو سره پر يکون اعلان که}

قدرمنو دوستانو! د البراءة يا د التوبې مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى او پيغمبرې محمد ﷺ د مکې مشرکانو نه خپله بې زاري او پر يکون اعلان کړئ او د الحديبې اور بند ترون يې لغوۀ کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿بَرَآءَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١ فَسِيحُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَرۡبَعَةَ أَشۡهُرٖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ غَيۡرُ مُعۡجِزِي ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُخۡزِي

ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝٢ وَأَذَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلنَّاسِ يَوۡمَ ٱلۡحَجِّ ٱلۡأَكۡبَرِ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِيٓءٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ وَرَسُولُهُۥۚ فَإِن تُبۡتُمۡ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ غَيۡرُ مُعۡجِزِي ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝٣ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ثُمَّ لَمۡ يَنقُصُوكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَمۡ يُظَٰهِرُواْ عَلَيۡكُمۡ أَحَدٗا فَأَتِمُّوٓاْ إِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ إِلَىٰ مُدَّتِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ۝٤ فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٥ وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبۡلِغۡهُ مَأۡمَنَهُۥۚ ذَٰلِكَ قَوۡمٞ لَّا يَعۡلَمُونَ ۝٦

[۱] ای مومنانو! الله او پیغمبر یې د هغو مشرکانو نه بې زاره دي چې تاسې هغوی سره [د اور بند یا د صلحې] ټرون کړئ ؤ، یعنی الله او پیغمبر خپله هوکړه د هغوی سره لغوؤ کړه او براءت او پر یکون یې ورڅخه اعلان که، او هر ډول اړ یکې یې ورسره قطع کړې!

[۲] نو ای مشرکانو! لاړ سی او څلور میاشتې چې چیر ته پرځمکه غواړی؛ هلته ښه ډاډمن وګرځی، خو پوه سی چې د الله سزا نه خلاصیدای نسی [یعنی د ستاسې زور هیڅ کله پرالله نه رسیږي] او یقینا چې کافران الله [په دنیا او آخرت کې] مختورن رسوا کوي او خواروي یې، یعنی ذلت او سپکا وئ یې په برخه کیږي.

[۳] [او د لوی اختر په ورځ] چې د حج ا کبر ورځ ؤ الله او پیغمبریې ټولو مشرکانوته اعلان وکه چې خدای او رسول یې د مشرکانو نه بې زاره دي [او هیڅ ډول اړ یکې او ټرون ورسره نه لري] نو که تاسې ای مشرکانو تو به وایستله او الله ته وروګرځیدلی، نو تاسې ته پکې خیر دئ، او که په شا واوښتی، نو پوه سی چې پرالله باندې د ستاسې زور نه رسیږي [یعنی د الله سزا نه خلاصیدای نسی] او هغه کسان چې کافران سول؛ دوی ته ای

پیغمبره! د الله دردونکې عذاب نه خبر کړه!

[٤] خو ای مومنانو! هغو کسانو چې د مشرکانو نه ستاسې سره ټرون او تعهد کړئ دئ [یعنی د ستاسې متحدین دي] او خپل تعهد او ټرون یې نه دئ مات کړئ او ستاسې پرضدیې د هیڅ چا سره مرسته نه ده کړې، نو د دوی ټرون د ټاکل سوې نیټې پورې ورسره پوره کړی، او یقینا چې متقیان پرالله ګران دي، یعنی دا ځکه چې دوی د الله نه و یر یږي او حکمونه یې مني او خیانت نکړي او خپلې وعدې نه ماتوي.

[٥] او کله چې دغه حرامې میاشتې چې [مشرکانوته پکې د امنیت وخت ورکړل سوئ دئ] تیرې سوې [یعنی کله چې هغه څلور میاشتې چې تاسې ای مومنانو! مشرکانوته پکې د امنیت ډاډ ورکړي ؤ تیرې سوي] نو بیا چې کافران تاسې هرچیرته بیاموندل؛ راوړئ نیسی او کلا بند (قلعه بند) یې کړی، او په ټولو مرچلوکې ورته کینی او مړه یې کړی، خوکه بیا دوی تو به وایستله او الله ته را وګرځیدل او ایمان راوړ او لمنځونه یې وکړل او زکات یې ورکه، نو بیایې خوسې کړی، او یقینا چې الله ښه بښونکئ او ښه کلک مهر بان پالونکی ذات دئ.

[٦] او ای پیغمبر! د مشرکانو نه که کم چا د ستا په څنګ کې امنیت او ډاډ وغوښت، نو هغه ته د امنیت او ډاډ پناه ورکړه، ترڅو د الله خبرې واوري [ځکه د الله خبرې د قرآن آیتونه دي، نو ښایي چې کافران ښه پرې پوه سي] او بیایې خپل سیب ځای ته چې چیرته ؤ؛ ورسوی، او دا ځکه چې دغه مشرکان ډیر ناپوه خلک دي، یعنی په اسلام نه پوهیږي او حق ورڅخه ورک دئ، نو پوه کول یې پکار دي.

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونو کې الله تعالی خپل براءت او د رسول اللهﷺ براءت او بې زاري د مشرکانو نه اعلان کړې ده او بیا یې مومنانوته چې د اسلام ځوانې واکمنې او فاتحې ټولنې او نبوي دولت سر تیرئ لښکر ؤ؛ امر کړئ دئ چې که تاسې ای د الله لارې مجاهدینو! هغه مشرکان چې لا تر اوسه د الله او د هغه پیغمبر سره پرخپله دښمنۍ باندې ټینګار کړي او کلک پرې ولاړ دي؛ مړه کړی او چیرته چې لاس ته درغلل راوړې نیسی او کلا بند یې کړی، خو که بیا یې ایمان راوړ او د خپل کفر نه او د الله او پیغمبره سره یې د دښمنئ نه تو به وایستله، نو بیایې خوسې

کړي، ځکه الله لوی ښونکې او ښه مهر بان ذات دئ.

او همدارنګه په دې مبارکو آیتونو کې چې د مشرکانو نه د براءت او بې زارۍ او ورسره د جنګ او مسلح جهاد اعلان دئ؛ الله تعالی مشرکان په څو برخو او ډلو و یشلي دي، لمرۍ ډله هغه جګړه ماره ډله د مشرکان ول چې رسول اللهﷺ ورسره د اور بند او لنډ مهاله صلحې تړون کړئ ؤ، خو دوی خپل تړون مات که، نو بیا دوی الله ځلور میاشتې وزنډول او مهلت یې ورکه، او د هغی نه وروسته یې ورسره د جنګ امر کړئ دئ، او دو یمه ډله هغه مشرکان ول چې د رسول اللهﷺ سره یې تړون درلود او پرخپل تړون باندې کلک ولاړ ول او هغه یې نه ؤ مات کړئ، نو الله تعالی مومنانوته حکم کړئ دئ چې د هغوی سره خپل تعهد تر ټاکل سوې نیټې پورې ورسوي او پوره یې کړي، او در یمه ډله هغه مشرکان ول چې د رسول اللهﷺ سره یې کم تړون نه درلود، نو دوی ته هم الله تعالی ځلور میاشتي وخت ورکه، ترڅو ښه فکر وکړی او خپله لار او در یځ د الله تعالی او د هغه پیغمبرﷺ سره معلوم کړي چې آیا ورسره همداسې دښمني کړي او که ایمان راوړي او تو به باسي او د الله او پیغمبر سره د دښمنۍ نه نور لاس اخلي؟ او بیا الله تعالی رسول الله ته امر کړئ دئ چې که په دغو ځلورو میاشتو کې د مشرکانو نه چا وغوښتل چې د الله کلام (قرآن) واوري، نو دوی ته ډاډمن امان ورکړه، ترڅو راسي او د الله تعالی کلام په پوره غور سره واوري او ځان ښه ور باندې پوه کړي، او بیا خپله لار په پوره پوهې سره چې په قرآن او د پیغمبر په سنتو سره د اسلام پیژندنه ده؛ غوره او خوښه کړي.

ګرانو عزیزانو! د یادونې وړ ده چې د البراءة مبارکه سوره، لکه څنګه چې مخکې وو یل سول؛ د هجرت په نهم کال د حج په میاشتو کې رانازله سوې ده، او د حاجیانو مشري په دې کال چې په اسلام کې لمړئ حج ؤ؛ د مسلمانانو لمړي خلیفه ابو بکر صدیقرضی الله عنه په غاړه ؤ، خو کله چې د البراءة سوره را نازله سؤ، نو بیا رسول اللهﷺ دا مبارکه سوره خپل تره زوی علي بن ابي طالب کرم الله وجهه ته چې د رسول الله سره په غزاګانو کې تل د لو یو اتلانو نه ؤ ورکړه، ترڅو ابو بکر صدیق پسې وروسته مکې معظمې ته لاړ سي او د الله تعالی او د هغه پیغمبر براءت او بې زاري د مشرکانو نه د لوی اختر په ورځ چې هغه د لوی حج ورځ ده؛ ټولو خلکو او

حاجيانوته اعلان کړي او دوی ته ووايي چې د سږ کال حج نه وروسته نور مشرکان حج ته چې پکې د الله تعالی عبادت په توحيد سره ځليږي؛ راتلای نسي، ځکه مکې ته راننوتل پردوی نور تر قيامت ورځې پورې حرام دي او د شرک ټغر نور د کعبې نه ټول سوئ دئ، او د توحيد کلمه پکې لوړه ر پيدلې ده.

عزتمنو دوستانو! هو؛ امير المومنين علي کرم الله وجهه ورضي عنه؛ دغه پيغام چې د مشرکانو نه د الله او د پيغمبرﷺ د براءت اعلان ؤ؛ خلکوته ورسا ؤ او خپل رسالت او دنده يې ترسره کړه، خو بيا وروسته د براءت دغسې اعلان د مشرکانو نه د رسول اللهﷺ لخوا په حجة الوداع کې چې د هجرت لسم کال ؤ؛ ونه سه او نه د راشدينو خلفاوو په واکمنۍ کې براءت تکرار سوئ دئ، نو هغه غوښتنه چې ځينې اوسنۍ شيعه ډلې يې کړي او د حج په موسم کې هر کال د مشرکانو نه د دغسې براءت ورځې په نامه په مکه معظمه کې لار يونو نه کړي او غونډې جوړوي؛ دا ټول يو بدعتي سياسي دود دئ او په قرآن کر يم او د رسول اللهﷺ په سنتو کې هيڅ اصل نه لري او هغه، لکه څنګه چې ځينې شيعه سياسي ډلې کاذبه دعوا کړي او د حج شعائرو نه يې بولي؛ هيڅ کم شرعي دليل نه لري، او د حج مناسکو او شعائرو نه نه شميرل کيږي!

{مومنان د اسلام دښمنانو سره په هوکړو کې محتاط وي}

ګرانو دوستانو! په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د مشرکانو نه براءت او بې زارۍ او د هغوی سره جهاد او جګړې دليلونه او کټې په ډيره روښتيا سره بيان کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِۦٓ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّمْ عِندَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۖ فَمَا ٱسْتَقَٰمُوا۟ لَكُمْ فَٱسْتَقِيمُوا۟ لَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ۝٧ كَيْفَ وَإِن يَظْهَرُوا۟ عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوا۟ فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ يُرْضُونَكُم بِأَفْوَٰهِهِمْ وَتَأْبَىٰ قُلُوبُهُمْ وَأَكْثَرُهُمْ فَٰسِقُونَ ۝٨﴾

[٧] ای مومنانو! څنګه به مشرکانو ته د الله او د پیغمبر پر وړاندې د امان او ډاډ هوډ وي؟ [یعنی د مکې پر مشرکانو اعتماد نکیږي! لکه څنګه چې د دې پوښتنې ځواب په ور پسې مبارکو آیتونو کې راغلئ دئ، او هغه دا چې کله مشرکان پرمومنانو باندې زورور سي، نو بیا د مومنانو سره د هیڅ ډول خپلوی او د عهد او تړون پروا نکړي او پرمومنانو چې یې هر ډول ظلم او زور ز یاتئ د لاسه کیږي؛ هغه ورځخه نه سپموي، خو د دې ځواب نه وړلاندې الله تعالی په معترضه جمله کې فرمایلي دي:] ای مومنانو! د مشرکانو نه هغه کسان چې د مسجد الحرام په څیرمه تاسې د دوی سره تعهد کړئ دئ؛ پر یږدی، او تر هغوچې دوی ستاسې سره په خپل تړون ولاړ دي؛ تاسي هم ورسره ودر یږی، ځکه یقیناچې متقیان پرالله ګران دي، یعنی متقیان چې د الله نه و یر یږي په خپلو هوکړو او تعهدونو کې د چا سره خیانت نکړي.

[٨] [هو! څنګه به الله او پیغمبر پرمشرکانو باور وکړي او دوی ته به امان ورکړي؟ حال دا چې] که مشرکان پرتاسې باندې ای مومنانو! زورور سي، نو بیا دوی په تاسې کې هیڅ ډول خپلوي او هوکړې په پام کې نه نیسي او پروایې نکړي، او کافران تاسې په خولو خوښوي، خو په زړونو کې درسره کرکه لري، او ډیر مشرکان فاسقان دي، یعنی د الله اطاعت او بنده ګی نه وتلي دي، او د دوی په زړونوکې د الله عذاب نه هیڅ و یره نسته، ترڅو مومنانو سره مینه ولري.

درندو دوستانو! دا مبارك آیت، لکه څنګه چې وړاندې وو یل سول د پورتنۍ پوښتنې ځواب دئ، او هغه دا چې د مشرکانو دښمني مومنانو سره؛ ډیره ژور ده، نو پکار ده چې مومنان هیڅ کله پرهغوی باور ونکړي او د شر نه یې په ډاډ کې نسي، بلکې په و یښتیا او احتیاط ورسره وچلیږي.

{ د قرآن آیتونه کافر انو په لږ بیعه خرڅ کړل }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مومنان د مشرکانو ژورې دښمنۍ نه د دوی سره خبر کړي دي او کلک یې ګواښلي دي، او بیا یې د کافران

سره جګړې ته هڅولي، او فرمايلي دي:

﴿ٱشۡتَرَوۡاْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلٗا فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩ لَا يَرۡقُبُونَ فِي مُؤۡمِنٍ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُعۡتَدُونَ ١٠ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ وَنُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ١١ وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُم مِّنۢ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُواْ فِي دِينِكُمۡ فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَٰنَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَنتَهُونَ ١٢ أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوۡمٗا نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ وَهَمُّواْ بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍۚ أَتَخۡشَوۡنَهُمۡ فَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَوۡهُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣ قَٰتِلُوهُمۡ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ بِأَيۡدِيكُمۡ وَيُخۡزِهِمۡ وَيَنصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ وَيَشۡفِ صُدُورَ قَوۡمٖ مُّؤۡمِنِينَ ١٤ وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ قُلُوبِهِمۡۗ وَيَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ١٥ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَلَمۡ يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةٗۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٦﴾

[٩] [هو! دغو مشرکانو] د الله کتاب آيتونه په لږ بيعه خرڅ کړل او خلک يې د الله لارې نه منع کړل، او يقينا چې د دوی دغسې کړنې ډيرې بدې او کرکجنې وې.

[١٠] مشرکان د مومنانو سره د خپلوۍ او ورسره د عهد او پيمان پروا نه لري او دوی تيرۍ کونکي دي، يعنی مشرکان (کافران) د الله پر حکمونو تيرۍ کړي او هغه د پښو لاندې کوي.

[١١] خو که بيا دغو مشرکانو تو به وايستله [او حق ته راوګرځيدل او ايمان يې راوړ] او لمنځونه يې ودرول او زکات يې ورکه، نو بيا دوی [ای مومنانو!] د ستاسې دينې وروڼه دي، او مونږ خپل دليلونه او د کتاب آيتونه د هغه چا لپاره په ډير وضاحت او روښتيا سره بيانو چې دوی پرې

پوهيږي، يعنی ګټه ورڅخه اخلي.

[۱۲] ای پيغمبره! او که دغو مشرکانو خپل قسمونه او هغه لوړې چې ستا سره يې کړې دي؛ د پښو لاندې کړې او خپل تعهدونه يې مات کړل او د ستاسې دين سپکا وئ يې وکه، نو بيا د کافرانو مشرانو سره جګړه وکړئ، ترڅو د خپلو دغو بدو کړنو نه لاس وا خلي او ورڅخه پشا سي، او يقينا چې دغه کافران په خپلو لوړو(تعهدونو) باندې ولاړ ندي.

[۱۳] ای مومنانو! آيا تاسې د هغه قوم سره په جګړه کړو کې زړه نا زړه ياستئ چې دوی خپل قسمونه مات کړل او د خپلو هوکړو نه يې شا سول او د مکې نه يې د رسول الله و يستلو ته ملا وتړله؟ [او هم ای مومنانو!] د ستاسې زورول لمړئ مشرکانو پيل کړل، نو آيا تاسې د دوی نه و يرې ئ چې په جنګ کې به تاسې مړه کړي؟ نو که تاسې په ريښتيا سره مومنان ياستئ، نو درته ښايي چې يوازې د الله نه وو يرې ئ، يعنی ای مومنانو! د مشرکانو سره په حق سره وجنګيږئ او و يره او حيرانتيا د خپلو زړونه لرې کړئ، ترڅو پردوی باندې زورور سئ.

[۱٤] ای مومنانو! [او د الله هغو دښمنانو سره چې مشرکان دي] وجنګيږئ، ځکه دوی الله د ستاسې په لاسونو عذابوي او سزا ورکوي او خواروي يې، او تاسې ته ای مومنانو! پر مشرکانو باندې الله بر يا درکوي او د مومنانو زړونه ور باندې يخوي، يعنی مومنان د کافرانو پرماته باندې ښه کلک خوښيږي او د زړونو پراس يې وځي.

[۱۵] [او ای مومنانو! الله تعالی کافرانوته په سزا ورکولو سره] د مومنانو زړونو نه غوصه راباسي، او هرچاچې د دغو مشرکانو نه تو به وايستله، نو بيا چې الله چاته وغواړي د هغه تو به قبلوي او مني يې، ځکه الله ښه پوه، او لوی حکيم پالونکئ ذات دئ، يعنی هرڅه چې کړي هغه په ښه پوهه او په لوی حکمت سره وي.

[۱٦] ای مومنانو! او آيا تاسې خيال کړئ چې همداسې به بې ازمايښته او پرته له امتحان نه؛ پر يښودل سئ؟ حال دا چې لا تر اوسه الله د ستاسې نه هغه کسان چې جهاد يې کړئ دئ؛ نه دي معلوم کړي؟ [يعنی مجاهدين يې په کوروکې ناستو کسانو نه ندي بيل کړي؟ او دغو مخلصو مومنانو] د الله او د هغه پيغمبر او د مومنانو نه پرته بل هيڅ ځوک

ملګرئ او مل ندئ نيولئ، او الله د ستاسې کړنو نه خبر دئ، يعنی د الله نه هيڅ څه شئ پټ ندي.

قدرمنو دوستانو! په دې مبارکو آيتونو کې مومنان الله تعالی د مشرکانو سره جګړې ته چې هغه د حق او باطل او د ظالم او مظلوم په منځ کې جګړه ؤ؛ په کلکه سره هڅولي دي او دوی ته يې د خپلې مرستې ز يرئ ورکړئ دئ، او همدارنګه الله تعالی دا مقصد روښانه کړئ دئ چې د دښمن سره جګړې نه مقصد او غرض د مومنانو ازمايښت ؤ، ترڅو ټولوته روښانه سي چې څوک د الله رضا غواړي او په لار کې يې سر ورکوي؟ او څوک د دغې ژر تر ېدونکې دنيا په ژوند مين دي؟

{مشرکان پرخپل کفر شاهدان دي او مسجدونه نه ودانوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د مشرکانو ځان ستاينې غندلې دي، ځکه چې دوی به و يل: مونږ د بيت الله شر يف مسجد ودان کړئ دئ او د حاجيانو خدمت کړو، خواړه، او به ورته تياروو، او فرمايلي دي:

﴿مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُوا۟ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِٱلْكُفْرِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ وَفِى ٱلنَّارِ هُمْ خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا ٱللَّهَ ۖ فَعَسَىٰٓ أُو۟لَٰٓئِكَ أَن يَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُهْتَدِينَ ﴿١٨﴾ * أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ ٱلْحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ كَمَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَجَٰهَدَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ لَا يَسْتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩﴾﴾

[۱۷] مشرکانو ته نه ښايي د الله مسجدون ودان کړي، ځکه دوی پرخپلو ځانو باندې د کفر شاهدان دي [يعني دا چې مومنان په مسجدونو کې يوازي الله ته د بنده کۍ سجدې کړي، خو مشرکانو بتان د الله سره په عبادت کې شر يك کړي دي، نو دوی پرخپل کفر شاهدان دي] نو د مشرکانو ټول کړل لمنځه لاړل او ضائع سول او دوی به د دوزخ په اور کې

تل پاتې کړ يږي.

[١٨] هو! د الله مسجدونه هغه څوک ودانوي چې دوی پرالله او د آخرت پر ورځ ايمان راوړئ دئ او لمونځ کړي او زکات ورکوي او د الله نه پرته؛ بل هېڅ چانه نه و يږي، نو دا کسان يقينا سمې لارې ته هدايت سوي دي، يعنی ر يښتيني مومنان دي.

[١٩] ای مشرکانو! آيا تاسي حاجيانوته او به ورکول او د مسجد الحرام [يعنی د کعبې معظمه ودانول ځان ته] لکه د هغه چا غوندې بولی چې هغه پرالله او د آخرت پرورځ ايمان راوړئ دئ، او د الله په لار کې يې جهاد کړئ دئ؟ نا دا دواړه هيڅ کله د الله سره برابر نه دي [يعنی دا دواړه الله تعالی د يو بل سره برابر نه بولي] او الله ظالم او تيرئ کونکئ قوم سمې لارې ته چې هغه د حق لار ده نه سموي، يعنی الله تعالی هيڅ کله د چا عمل د ايمان نه پرته نه قبلوي، ځکه په توحيد سره پرالله ايمان راوړل او د بتانو عبادت نه د بې زاری اعلان؛ د بنده ښه عمل لپاره د قبليدو کلک اړ ين شرط دئ.

{د مهاجرو مومنانو او د مجاهدينو مقام الله سره لوړدئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د مومنانو، مهاجرانو او د الله لارې مجاهدينو مقام الله تعالی ستايلي دئ، او فرمايلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ أَعۡظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٢٠ يُبَشِّرُهُمۡ رَبُّهُم بِرَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَرِضۡوَٰنٖ وَجَنَّٰتٖ لَّهُمۡ فِيهَا نَعِيمٞ مُّقِيمٌ ٢١ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ٢٢﴾

[٢٠] هو! هغو کسانوچې ايمان راوړ او بيايې هجرت وکه او د الله په لار کې يې په سر او مال جهاد وکه؛ د دوی رتبې د الله پرورلاندې لوړې دي او دوی وړونکي، بر يالي او سرلوړي دي.

[٢١] او دوی ته د دوی پالونکئ څښتن الله د خپل رحمت او خوښی ز يري ورکوي او هم ورته د هغو جنتونو ز يري ورکوي چې پکې تل پاتې

نعمتونه دي، يعنې مومنان به ورځخه تل پاتې خوند اخلي.

[٢٢] [او دغه مومنان او د الله لارې مهاجران او مجاهدان به] په دغو جنتونو کې تل پاتې وي، او يقينا چې د الله سره د دوی لپاره لوی ثواب دئ.

{د ملتيا تله ايمان دئ او د خپلو انو کافر انو ملتيا حرامه ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنان الله تعالى د خپلو کافرانو خپلوانو سره د ملګرتيا نه کلک منع کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمۡ وَإِخۡوَٰنَكُمۡ أَوۡلِيَآءَ إِنِ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡكُفۡرَ عَلَى ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٣ قُلۡ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ وَإِخۡوَٰنُكُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ وَعَشِيرَتُكُمۡ وَأَمۡوَٰلٌ ٱقۡتَرَفۡتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٞ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَآ أَحَبَّ إِلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٖ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٤﴾

[٢٣] ای مومنانو! [تاسې چې پرالله او د آخرت پرورځ ايمان راوړئ دئ] د خپلو پلرونو او وروڼو نه که دوی کفر پرايمان باندې خوښ او غوره که؛ څوک ځانونه دوستان مه نيسئ [يعنې ملتيايې مکړئ او ورسره مينه او محبت مکړئ] او هرڅوک چې د ستاسې نه ای مومنانو! خپلوانو کافرانو سره مينه او ملتيا وکړي، نو هغوی ظالمان دي، يعنې د الله پرحکمونوپې تيرئ کړئ دئ او د حق نه وتلي دي.

[٢٤] ای پيغمبره! [او دغو مومنانو ته] ووايه: که د ستاسې پلرونه، زامن، وروڼه، ښځې، او نور خپلوان، او د ستاسې هغه مال او دولت چې هغه تاسې ګټلئ دئ، او هم هغه سوداګري چې تاسې پکې ورته د زيان رسيدلو او تاوان کړو نه و يرئ، او هم هغه کورونه او استوګنځي چې تاسې پکې خوښ ژوند کړئ؛ که هغه ټول تاسې ته د الله او د هغه پيغمبر

نه او د الله په لار کې جهاد نه ډير ګران وي؟ نو بيا تم سې او انتظار وباسي، ترڅو الله خپل عذاب تاسې ته راوړي [يعنى كلكه سزا دركړي] او الله هيڅ کله د خپل اطاعت او بنده ګۍ نه وتلي قوم او ډلې ته په سمه لار د تګ توفيق نه ورکوي، يعنى فاسقان د الله پيرزو ينو نه تل محروم دي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د مومنانو او کافرانو په منځ کې د بيلتون پر يکنده فيصله کړې ده، او هغه دا چې د زوى، پلار او د نورو خپلوانو په منځ کې د مينې او خپلوى ملتيا معيار او تله او هم د دوى په منځ کې د دښمنۍ او د يو بل نه د بيلتون او بې زارۍ معيار او تله؛ ايمان او کفر دئ، او هغه په عقيدتي اصطلاح کې په نامه ده [ولاء او براء] يادېږي، يعنى مومنان ټول د يو بل سره ورونه، دوستان او ملګري او د يو بل مل دي او تل د يو بل په ځنګ کې ولاړ وي، که څه هم دوى په نسب او و ينه کې سره خپلوان نه وي، او د بيلو بيلو قومونو او ولسونو نه وي، او همدارنګه کافران هم د يو بل ملګري او دوستان دي، نو مومنانوته روا نه ده چې خپلو کافرانو خپلوانو سره دوستي او ملتيا وکړي، او هغه څوک چې دا خبره نه مني او د خپل کافر پلار او کافر ورور او نورو خپلوانو کافرانو سره دوستي کړي، او يا د دنيا مال او دولت، منصب او قدرت محبت نه خوند اخستلو دوى په سراخستي وي، او هغه ټول پردوى باندې د الله نه ډير ګران وي، نو د الله سز ا ته ده کلک انتظار و باسي او ورته تم ده سي، يعنى دا چې پردغو کسانوچې د خپلوى او يکې بې پرايماني او يکو غوره کړې دي؛ د الله عذاب راتلونکئ دئ، او په دنيا او آخرت کې به دوى ته سزا ورکړه سي او د دوزخ په اورکې به وکړ يږي او تل پاتې زورونه بې په برخه سي.

هو؛ عزتمنو دوستانو! د الله تعالى دا قانون او ګواښ خلکوته يو تل پاتې ګواښ دئ، او د الله تعالى سزا نه ځان ساتنه پر مومنانو فرض ده، نو ښايي چې هيڅ کله بې پروا نسي او د الله تعالى حکمونه د پښو لاندې نکړي او ورڅخه بيرته په شا وانوړي.

{مومنانو ته الله په جګړو کې د ملائکو په مرسته فتحې ورکړې}

او په ور پسي مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنانو باندې خپلې غيبي

مرستې او لوېې لور يې يادې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٧﴾﴾

[٢٥] ای مومنانو! [او د پيغمبرﷺ ملګرو!] په ډيرو غزاګانو کې تاسې ته الله پر دښمن باندې بر يا او فتحه درکړه، او د حنين په ورځ چې کله تاسې د خپل لښکر ډيروالي خوښ کړی [يعني ور باندې وغولیدلی، نو بيا تاسې وو يل: نن پر مونږ باندې د هيڅا زور نه رسيږي!] خو بيا تاسې ته دې لوی لښکر هيڅ ګټه ونه رسوله، او ځمکه د لو يتيا سره سره پر تاسې راتنګه سۀ او په تيښته بيرته په شا وګرځيدلی، يعنی تاسې الله پوه کړی چې بر يا د لښکر ډيروالي او لږوالي سره ترلې نه ده، بلکې هغه د الله تعالی پيرزو ينه ده چې پرخپلو مخلصو بنده ګانو باندې يې لوروي.

[٢٦] نو بيا الله پرخپل پيغمبر او ورسره مومنانو باندې سکون او ډاډ راکوز که او خپل هغه سر تيري يې چې تاسې [ای مومنانو!] نه ليدل د اسمان نه ځمکې ته راکوز کړل، او هغو کسانوته يې چې کافران ول [يعنی د حق نه منکر ول] کلکه سزا ورکړه [يعنی کافرانو درنده ماته وخوړله، سر او مال يې برمته سول] او دا ماته کافرانو ته سزا ورکول ول، يعنی دا ځکه چې دوی د الله تعالی دين د خور يدلو مخه نيوله او د الله او پيغمبر سره يې دښمني ته کلکه ملا وترله، او لوی جګړه مار ښکيلاکګر لښکريې ور پسې بدر، احد ، د احزابو او حنين جګړو ډګرته راوايستل.

[٢٧] او بيا د هغې نه وروسته چې چاته الله غواړي تو به يې قبلوي، ځکه الله لوی بښونکئ، او ښه مهر بان پالونکئ ذات دئ.

کړانود وســتانو! الله تعالی تل د خپل پیغمبر محمدﷺ او د ورســره مخلصــو مومنانو مرســته کړې ده او د اســمان نه یې فرښــتې مومنانو مرستې ته د کافرانو سره په جګړه کې راکوزې کړې دي، او د بدر او حنین غزاګانې یې ژوندي مثالونه او بیلګې دي، او په دې مبارکو آیتونو کې یې یاد او بیان سوئ دئ، او په ځانګړې ډول د حنین غزا یادو نه سوې ده، ځکه په دې غزا کې مومنان د خپل لښــکر په ډیروالي وغولیدل او وو یل: نن به پرمونږ باندې د هیڅ چا زور نه رسـیږي، حال دا چې مومن ته ښــایي هیڅ کله د دښــمن ســره په جګړه کې پرخپل زور غره نســي او ور باندې ونه غولیږي، او یوازې د الله نه مرسته وغواړي او پرالله توکل وکړي!

{د هجرت په نهم کال کافران د مسجد الحرام نه منعې سول}

او په ور پســې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د مشــرکانو ننوتل مســجد الحرام ته منعې اعلان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ فَلَا يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦٓ إِن شَآءَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٢٨ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ٢٩﴾

[٢٨] ای مومنانو! یقینا چې مشــرکان ناولي دي، نو د ســږ کال حج نه وروسته ده نور مسجد الحرام ته نه رانزدې کیږي [یعنی پردوی باندې مکې حرم ته راننوتل او د بیت الله مسجد ته ورتلل حرام سول] او که تاسې ای مومنانو! د ولږي نه وو یر یدلې [ځکه مشرکانو چې د ځانو سره کم کالي او خوراکې توکې راوړل؛ هغه نور د مکې پراوســیدونکو بند ســول] نو که الله وغوښــتل د خپل فضــل نه به په درکړې ســره تاســې ای مومنانو! غنیان

کړي، او یقیناچې الله ښـــه پوه او لوی حکم پالونکئ ذات دئ، یعنی ای مومنانو! هغه ز یان او تاوان چې تاسې ته د مشرکانو په منعې کولو سره د مکې نه رسـیږي؛ الله ښـه پرې پوهیږي او الله چې د پاخه حکمت څښـتن دئ، نو پر ځای بې د ستاسې اړتیاوې په خپل فضل او رحمت سره د کمې بلې لارې نه پوره کړي او تاســې به ان شــاءالله نه وړي کیږی او غنیان به سی او د ستاسې ټولې اړتیا وې به الله لرې کړي.

قدرمنو دوســتانو! الله تعالی د دې مبارك آیت په حکم ســره نور ټول کافران د مکې معظمې حرم او د بیت الله شـر یف مسجد ته د راننوتلو نه منعې کړي دي، ځکه دوی په معنوي چټرې چې کفر او شــرك دئ؛ ناولې دي او الله تعالی نور د بیت الله شـر یف مسجد د هر ډول کفري چټلې نه پاک کړئ دئ، او کعبـه معظمـه یې یوازې هغو کســانو تـه د عبـادت او اطاعت کور ګرځولئ دئ چې دوی یوازې د الله بنده ګي کړي او د هر ډول کفر او شـرك نه پاک دي، او همدارنګه الله تعالی د مکې اوسـیدونکو نه د هغو کسـانو اندیښـنې ځواب کړي دي چې دوی ته به کافرانو ځانو سـره د دوی د اړتیاوو خوراکي او پوښــاکي توکي راوړل، او ډاډ یې ورکړئ دئ چې د ســتاســې دغه اړتیاوې به الله تعالی په خپل فضـل او کرم سـره د کمې بلې لارې نه پوره کړي او خپل نعمتونه به الله پرتاسې ووورويِ.

او په ور پســې مبارك آیت کې الله تعالی د اهل کتاب شــرك او کفر غندلئ دئ او مومنانوته یې حکم کړئ دئ چې دغو کافرانو سره وجنګیږی، ځکه دوی پخوا د مشـرکانو سـره د رسـول اللهﷺ او د مومنانو پرضـد جګړو کې ملتیا او مرسـته کړه، نو اوس چې مشـرکان مات سـول او ایمان راوړ، نو اهل کتابوته ښایي د اسلام واکمني ومني، او فرمایلي دي:

[٢٩] ای مومنانو! د هغو کافرانو ســره وجنګیږي چې دوی پرالله او د آخرت پر ورځ ایمان نه راوړي [یعنی هغه نه مني] او هم د الله او د هغه پیغمبر حرام کړي شـیان حرام نه بولي [لکه د شـرابو څښـکل او د خوګ غوښــې خوړل چې هغه ټول الله تعالی حرام کړي دي] او دا اهل کتاب (یهود او نصــارا) د الله حق دین چې اســلام دئ نه مني [نو تاســې ای

مومنانو! د دوی سره جګړه وکړی، ترڅو مات او ذلیل سي او مسلمانانوته په خپل لاس په داسې حال کې جز یه (د سرونو مالیه) ورکړي چې دوی خوار، سرکوزي او سپک وي.

درندو عز یزانو! دلته دا وضاحت ضروري دئ چې د اهل کتابو سره جګړه د دین منلو په مقصد نه ؤ، که څه هم ډیرو یهودو او نصاراوو د ایمان راوړو نه سر غړونه وکړه او اسلام یې ونه مانه، نو هغوی سره د جګړو نه مقصد دا ؤ چې که دوی غواړي د اسلام واکمنۍ په سوري کې ژوند وکړي، نو د اسلام واکمني ده ومني او د ځان ساتنې لپاره ده باج چې قرآني نوم یې (جز یه) ده ورکړي، ترڅو حکومت دوی ته امنیتي خدمات وړاندې کړای سي.

{یهودو عز یر علیه السلام او نصاراوو المسیح علیه السلام د الله زامن و بلل}

او په ور پسې مبارکو آیتو کې الله تعالی مونږ د یهودو او نصاراوو شرکي عقیدې نه خبر کړي یو، او فرمایلي دي:

﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرُۨ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٣٠ ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣١﴾

[٣٠] هو! یهودو وو یل چې عز یر د الله زوی دئ، او نصارو وو یل: چې المسیح عیسی بن مر یم د الله زوی دئ، او دا د دوی د خپلو خولو خبره ده او هغه د دوی نه پخوا کافرانو خبرو ته ورته ده، نو الله ده دوی مړه او هلاك کړي، څنګه د حق نه باطل ته اوړي؟ یعنی سره لدې چې د حق په ثبوت کې شکاره دلیلونه راغلي دي، خو بیا هم دوی باطل ته اوړي.

[٣١] او دغو اهل کتابو [خپل مذهبي مشران او عبادت کونکي پيران] احبار او رهبان د الله نه پرته خپل خدايان ونيول، نصاراوو المسيح عيسى بن مر يم خپل خداى ونيؤ؛ سره لدې چې دوى ته حکم سوئ ؤ چې يوازې د يؤ معبود الله عبادت او بنده کي وکړي، ځکه د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسته او الله [د مشرکانو معبودانو نه] پاک دئ، يعنى الله تعالى بل هيڅ څوک شر يك نه لري او الله يو او پالونکئ لوى ذات دئ.

هو؛ عزتمنو دوستانو! يهودو او نصاراوو خپلو مذهبي مشرانو، لکه عزير عليه السلام او عيسى المسيح عليه السلام ته د الله تعالى خدايي مقام ورکه او دوى يې د الله زامن وګڼل، حال دا چې الله تعالى نه د چانه پيدا سوئ دئ او نه د چا پلار دئ، ځکه دا د نقصان او عيب نښه ده، او الله د هر عيب او نقصان نه پاک دئ، او همدارنګه دغو اهل کتابو (يهودو او نصاراوو) خپل نور مذهبي مشران د خدايي مقام ته ورسول او د دوى په خوله بې حلال او حرام پيژندل پرته لدې چې د الله لخوا کم دليل يا حجت ور باندې رانازل سوئ وي.

{يهود او نصارا غواړي د دين رڼا مړه کړي خو هغه الله خوروي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ د يهودو او نصاراوو د شومو مقصدونو نه د اسلام پر ضد خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔوا۟ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٣٢﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ * يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ

ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ٣٤ يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ٣٥

[٣٢] هو! دغه کافران غواړي چې د الله دين وړلانکې د خپلو خولو په پوکي سره مړې کړي، خو الله دا نه غواړي، ترڅو چې د خپل دين ژباړه خوره او پوره کړي [يعنی ټوله نړۍ ور باندې ژباړه کړي] که څه هم کافران ورڅخه کرکه ولري، يعنی هغه ونه غواړي او په لار کې يې خنډ سي.

[٣٣] او الله خپل استازئ او پيغمبر د لارښود کتاب (قرآن) او په حق دين اسلام سره راولېږه، ترڅو دا دين په نورو ټولو دينونو باندې برلاسئ او زورور کړي، که څه هم مشرکان يې ونه غواړي او ورسره کرکه ولري.

[٣٤] ای مومنانو [او په دې پؤ سې چې] يقينا ډير احبار او رهبان (د يهودو او نصاراوو مذهبی مشران، پؤان او پيران) د خلکو مال او دولت په باطل او ناروا سره خوري او خلک د الله لارې نه منعې کوي، او دغه کسان چې د سرو او سپينو زرو راغونډولو سره مينې او شوق پر سر اخستې دي او هغه د الله په لار کې نه لږوي، نو ته ای پيغمبره! دوی د دردونکي عذاب او سزا نه خبر کړه، يعنی هرڅوک چې د دنيا سره او سپين (طلا او نقره) راغونډوي او بيا د الله حق زکات نه ورکوي، نو دوی ته په آخرت کې کلکه سزا ده.

[٣٥] ای پيغمبره! [دغو کسانوته هغه ورځ ور په ياد کړه] کله چې په هغه ورځ دغه د سرو او سپينو زرو مال او دولت خاوندان د دوزخ په اورکې کړول کيږي او د څښتنو تندي، ډډې او شا وې يې ور باندې تپل کيږی، او ورته و يل کيږي چې دا د ستاسې هغه مال او دولت دئ چې خپلو ځانوته مو راغونډ کړئ او ذخيره کړئ ؤ [يعنی په هغه کې د الله حق (زکات) تاسې نؤ ورکړئ] نو اوس د خپل ګنج کړي مال سزا وڅکئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې مونږ د اهل کتابو (يهودو او نصاراوو) د کفر او شرك نه او د مومنانو او اسلام سره د دوی د کينه کښې دښمنۍ نه خبر کړي يو، او هغه دا چې اهل کتاب نه غواړی د الله حق دين اسلام پر ځمکه خور سي او ټول خلک او ټول ولسونه يې په رښا کې عزتمن ژوند وکړي، او بيا دغو کافرانو خپلو دغو شومو غرضونو او مقصدونوته د رسيدو لپاره؛ د رسول الله ﷺ پرضد د مشرکانو سره په جګړو کې مرسته او ملتيا وکړه، لکه څنګه چې په هغه وخت کې د رسول اللهﷺ سره د غزاګانو تار يخ ور باندې ژوندي شاهد دئ، نو ځکه مومنان الله تعالى د دغو کافرانو سره جنګ ته هڅولي دي، او همدارنګه د دغو اهل کتابو زړونه د کفر پر تيارو تور دي او پرالله او د آخرت پر ورځ باندې ايمان نه راوړي او د حلالو او حرامو پروا نکړي او د الله حق دين چې اسلام دئ نه مني، نو تاسې ای مومنانو! ورسره وجنګيږی، ترڅو دوی مات سي او د اسلام د خور يدلو لاري نه دغه خنډونه لرې سي، او بيا الله تعالى مومنانوته ز يرئ ورکړئ دئ چې دا خو د دغو کافرانو او مشرکانو دښمنانه هيلې دي چې نه غواړي اسلام خور سي، خو الله تعالى به خپل دين خامخا ښکاره کوي او هغه به پرځمکه خور يږي، او د توحيد کلمه چې لا إله إلا الله محمد رسول الله کلمه ده د کافرانو مانيو پرسرونو ر پول کيږي، که څه هم دوی خوښ نه وي او هغه نه غواړي.

ګرانو دوستانو! او همدارنګه په دې مبارکو آيتونو کې مومنان الله تعالى د اهل کتابو (يهودو او نصاروو) د ډيرو مذهبي مشرانو، پؤانو او پاپانو د حرص نه د دنيا سرو او سپينو زرو د دولت را ټولو نه خبر کړي دي چې دوی به هغه په ناحقه سره د خلکو نه اخستل او خوړل بې او د حرامو پروايې نکړه، نو ښايي چې د مومنانو علماء او ملايان دغسې دين پلورونکي نه وي او د حرام مال نه خپل ځانونه په کلکه سره وساتي، او همدارنګه الله تعالى دغه په سرو او سپينو زرو مين کسان د دغسې مال او دولت د راغونډلو او ذخيره کولو نه چې هغه د الله په لارکې نه لږوي؛

کلک ګواښلي دي او د آخرت په ورځ يې د جهنم اور کړونکي عذاب نه ښه په يقين سره و يرولي دي.

درندو دوستانو! هو؛ د دې مبارکو آيتونو مخامخ مخاطب رسول الله ﷺ او د هغه ملګري هغه صحابه رضي الله عنهم ول چې د الله تعالى په دغو لارښودنو يې عمل وکه او د حق غږ او پيغام يې نه يوازې په عرب کې، بلکې د هغه وخت په ټوله نړۍ کې خور کړ او د مشرکانو او کافرانو ظالمانه واکمنۍ لاندې يې ډير مستضعف ولسونه آزاد کړل او بنده ګانو ته يې د عبادت او سر ټيټولو نه د الله تعالى عزتمن عبادت او بنده ګۍ ته راو يستل او سرلوړي او ښادۍ يې کړل.

هو؛ عزتمنو وروڼو، خو يندو! او دا د حق او باطل پر منځ کې د جګړې لړۍ به همداسې تر قيامت ورځې پورې روانه وي، نو ښايي چې مونږ خپل ځانونه د الله تعالى کلام په معنا ښه پوه کړو او بيا د رسول الله ﷺ يارانو غوندې عمل پرې وکړو، او هم ښايي د دې کتاب قرآن مجيد رڼا خلکو ته ښه روښانه ورسوو او په دې لار کې چې د کمو ګواښونو او خطرونو سره مخامخ کيږو؛ ښايي د هرې ټولنې او د هر وخت او عصر عيني شرايطو سره برابر د رسول الله ﷺ غوندې حکمت وچلوو، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ د کافرانو سره د جهاد بيرغ وټاړه او بيا شام ته د اهل کتابو هغو کافرانو سره جګړې ته لاړل چې دوی پخوا د مشرکانو سره د رسول الله ﷺ پرخلاف ملتيا کړې ؤ، خو کله چې رسول الله ﷺ تبوک ته ورسيده، نو څو ورځې هلته تم سه، او بيا د حالاتو سختي له امله بيرته مدينې ته راستون سه؛ پرته لدې چې د دښمن سره په جګړه کې مخامخ سي، او دا پيښې مونږ ته الله تعالى په همدې مقصد په قرآن کې ښې رښتې ځليدلي ساتلې دي، ترڅوپې په رڼا کې د دښمن سره خپلې تک لارې وټاکو.

{ قمري کال دولس مياشتې دئ او څلور يې حرامې دي }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنان الله تعالى د کال د مياشتو شمير او د څلورو حرامو مياشتو حرمت نه خبر کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ عِندَ ٱللَّهِ ٱثۡنَا عَشَرَ شَهۡرٗا فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ يَوۡمَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ مِنۡهَآ أَرۡبَعَةٌ حُرُمٞۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُۚ فَلَا تَظۡلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمۡۚ وَقَٰتِلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ كَآفَّةٗ كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ كَآفَّةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ٣٦ إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ يُضَلُّ بِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُحِلُّونَهُۥ عَامٗا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامٗا لِّيُوَاطِـُٔواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ فَيُحِلُّواْ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُۚ زُيِّنَ لَهُمۡ سُوٓءُ أَعۡمَٰلِهِمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٣٧﴾

[۳٦] [ای خلکو!] یقینا چې د کال میاشتو شمیر د الله سره دولس میاشتې دئ او هغه د الله په کتاب (لوح محفوظ) کې په هغه ورځ [لیکل سوې او ثبت سوې دې] چې کله ځمکه او اسمانو نه الله پیدا کړل او د دغو میاشتو نه څلور میاشتې حرامې میاشتې دي (ذولقعده، ذوالحجة، محرم او رجب) او دا د الله سم دین دئ [چې پکې د الله حکم او فیصلوته تسلیمیدل او حلال او حرام یې منل دي] نو ای مومنانو! په دغو میاشتو کې [یعنی په دغو څلورو حرامو میاشتو کې چې پکې جنګ او جګړه حرامه ده] پرخپلو ځانو باندې ظلم ونکړئ [یعنی د دغو میاشتو حرمت چې هغه د الله حکم دئ وساتئ] او بیا ای مومنانو! ټولو مشرکانو سره هغسې وجنګیږئ، لکه څنګه چې دوی ټول د ستاسې سره جنګیږي، او په دې پوه سئ چې یقینا الله د متقیانو سره دئ، یعنی د دوی مرسته کړي او ورته پرمشرکانو باندې بر یا ورکوي.

[۳۷] نو د خپل وخت نه د دغو میاشتو وروسته کول بلې میاشتې ته په کفر کې ډیروالئ دئ [یعنی دا چې حرامه میاشت د خپل ځای نه بلې میاشتې ته بې ځایه سي] او هغه کسان چې کافران سول [دوی په دې بدلون سره شیطان] د سې لارې نه ورکوي، ځکه دوی دغه حرامې میاشتې یو کال ځان ته حلالوي او بل کال هغه حراموي، ترڅو د دغو میاشتو شمیر د حرامو میاشتو شمیر سره چې الله حرامې کړې دي برابر سي، نو بیا دوی هغه میاشتې چې الله حرامې کړې دي؛ ځانوته حلالوي، ځکه دوی ته د دوی دغه بد عمل [رټل سوي شیطان] ښکلئ کړئ دئ، او

الله هغو کافرانوته چې په ر ښتيا او حق سره د ايمان راوړو نه منکر سول په سمه لار د تګ توفيق نه ورکوي، يعنی دا ځکه چې الله تعالی پوهيږي دوی د دغسې توفيق لائق نه دي او ارزښت يې نه لري.

قدرمنو مومنانو! يقينا چې ځمکه او اسمان او لمر او سپوږمۍ؛ ټول الله پيدا کړي دي او بيا دغه ټول لوی مخلوقات د الله تعالی په امر په ګټه کې دي او ورځخه شپه، ورځ، مياشت او کال ز يږ يري، او الله تعالی د مياشتو شمير په کال کې دولس مياشتې ګرځولې دی او هغه دغه پيژندل سوې قمري مياشتې دي چې مياشت پکې د سپوږمۍ په راختلو سره پيل کيږي او بيا د مياشتې په آخرکې د سپوږمۍ په پر يوتلو سره پای ته رسيږي، او هرځوک کولای سي چې هغه وڅاري او وې شميري او پرې پوه سي، او دا چې د خلکو په منځ کې تل جګړې کيږي، نو الله تعالی څلور مياشتې په کال کې حرامې مياشتې ګرځولې دي او په دغو مياشتو کې يې جنګ او جګړه په کلکه سره حرامه کړې ده، او د عر بانو مشرکانو به دغه حرمت د مياشتو په شمير مانه، خو بيا يې په دغه پلمه د خپلو ګټو سره سم دغه حرامې مياشتې وروسته او وړاندې کولې، د بيلګې په ډول: يو کال يې محرم مياشت صفر مياشتی ته زندوله او بل کال به يې هغه وړاندې کوله، نو الله تعالی د مشرکانو دغه کړنه په دې مبارک آيت کې کلکه غندلې ده او هغه يې د دوی د شيطان کار بللې دی چې دوی ته يې ښايسته کړی دی او دوی يې د سمې لارې نه بې لارې کړي دي، او يقينا چې په دې کې مومنانوته هم لوی درس او د عبرت اخستلو زدکړه ده، نو ښايي چې په حلالو او حرامو کې څوک د ځان نه څه شی جوړ نکړي.

{مومنانو ته نه ښايي د دنيا ژوند د آخرت په ژوند خوښ کړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې چې د تبوک غزا په باره کې رانازل سوي دي؛ مومنان الله تعالی پرخپله لار جهاد ته هڅولي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ٣٨ إِلَّا

تَنفِرُواْ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـٔٗاۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٣٩ إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذۡ أَخۡرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَاۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ تَرَوۡهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفۡلَىٰۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلۡعُلۡيَاۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٤٠

[۳۸] ای مومنانو! پرتاسې څه وسول؟ کله چې درته وو یل سول د الله په لار کې جهاد ته [په ډیر شوق او ولولو سره] ووځی [او د خپل کافر دښمن سره جهاد وکړی] نو بیا آیا تاسې درانده سوی او کښالی په سر واخستی، او آیا پرځمکه ناستې کش کړی؟ او یا دا چې تاسې د دنیا ژوند د آخرت پرژوند غوره او خوښ که؟ [خو ای مومنانو! په دې پوه سی] چې د دنیا ژوند خوند د آخرت ژوند خوندونو پر پرتله ډیر لږ دئ، یعنی د دنیا ژوند لنډ دئ، او ډیر ژر تیریږي.

[۳۹] ای مومنانو! که تاسې د الله په لار کې جهاد ته ونه وځی، نو الله به تاسې ته په دردونکي عذاب سزا درکړي او تاسې به په بل قوم بدل کړي [او دا نوئ قوم به ستاسې پرځای واکمنان کړي] او ای مومنانو! تاسې الله ته هیڅ ضرر او ز یان رسولای نسی او الله پرهرڅه قادر دئ او هرڅه چې الله وغواړي هغسې کړلای سي.

[٤٠] هو؛ ای مومنانو! که تاسې د پیغمبر مرسته ونکړی، نو پوه سی چې الله د هغه مرسته په هغه وخت کې وکړه چې کله کافرانو دئ د مکې نه را وایست [یعنی د مکې نه پې رسول الله ﷺ وشاړه او هجرت ته یې اړ که] او بیا چې کله پیغمبر ﷺ د خپل ملګري (ابو بکر الصدیق) سره دو یم سړئ د ثور غره [په څوکه کې سته] سوړه کې پټ ؤ او خپل ملګري ته یې په ډاډ ورکولو سره وو یل: مه غمجن کیږه، ځکه چې یقینا الله [په خپل علم] زمونږ سره دئ، نو بیا الله خپل ارامښت او ډاډ پرهغه باندې راکوز

که او پرخپلو هغو سر تیرویې د هغه مرسته وکړه چې تاسې دوی ونه لیدل، او هغه کسان چې کافران سول د هغوی غږ او خبره الله کوزه او تیته کړه، ځکه د الله خبره یا کلمه لوړه ده، او الله لوی ځواکمن، زورور او ښه حکیم پالونکئ ذات دئ، یعنی په خپل لوی ځواک او په پاخه حکمت سره یې رسول اللهﷺ د خپل ملګري ابو بکر په ملتیا د مشرکانو ولکې نه خلاص که او دوی الله تعالی په خپلې مرستې سره د هغه ظالم دښمن نه چې د رسول اللهﷺ وژلو پر یکړه یې کړې ؤ؛ وساتل او نجات ورکه او بیایې دوی دواړه په خپل رحمت سره روغ رمټ مدینې ته ورسول.

{پر مومنانو جهاد د الله په لارکې په سر او مال فرض دئ}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانوته حکم کړئ دئ چې په خپل مال او سر د الله په لار کې جهاد ته سپاره او پیاده ووځی او په دې کې درته خیر او ګټه ده، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿ٱنفِرُواْ خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٤١ لَوۡ كَانَ عَرَضٗا قَرِيبٗا وَسَفَرٗا قَاصِدٗا لَّٱتَّبَعُوكَ وَلَٰكِنۢ بَعُدَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلشُّقَّةُۚ وَسَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسۡتَطَعۡنَا لَخَرَجۡنَا مَعَكُمۡ يُهۡلِكُونَ أَنفُسَهُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ٤٢ عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَتَعۡلَمَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٤٣ لَا يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُتَّقِينَ ٤٤ إِنَّمَا يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱرۡتَابَتۡ قُلُوبُهُمۡ فَهُمۡ فِي رَيۡبِهِمۡ يَتَرَدَّدُونَ ٤٥ ۞ وَلَوۡ أَرَادُواْ ٱلۡخُرُوجَ لَأَعَدُّواْ لَهُۥ عُدَّةٗ وَلَٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمۡ فَثَبَّطَهُمۡ وَقِيلَ ٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ٤٦﴾

[٤١] ای مومنانو! د الله په لار کې جهاد ته د خپل مال او سر سره، که سپک وی که درانده لاړ سی، او د الله په لار کې په خپل سر او مال جهاد وکړی، او که تاسې پوهیږی په دې کې درته خیر او ګټه ده، یعنی دا چې تاسې په جهاد سره خیل دین، سر، کور، مال او دولت د دښمن بر ید نه خوندي کوی، او بیا به د خپل رب بنده ګي په ډاډ سره کړی.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې هغه کسان الله تعالی کلک غندلي دي چې د رسول الله ﷺ سره د تبوك غزا ته ونه وتل او په ډول ډول پلمویې د رسول الله ﷺ نه په کوروکې د پاتې کیدو اجازې وغوښتلي او د رسول ملګرتیایې په جهاد کې ونکړه، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

[٤٢] ای پیغمبره! که دا د دنیا لنډې ګټې او لنډ مزل وای [او دوی ده ور پسې راوتلوته رابللي وای] نو دوی به تاپسې در یدلي ول، خو کله چې د لارې مزل پر دوی اوږد ؤ، نو د ستانه یې د پاتې کیدلو اجازې وغوښتلي، او پر الله قسمونه خوري وایي: ای پیغمبره! که چیرې د زمونږ وسعه سوې وای، نو درسره وتلي به وو [خو دوی په خپلو دغو دروغژنو لوړو او قسمونو باندې] ځانونه تباه کوي او الله په دي ښه پوهیږي چې دا کسان یقینا کلک دروغژن دي، یعنی غواړي په دغسې پلمو سره ځانونو خلاص کړي او جهاد ته لاړ نسي.

[٤٣] ای پیغمبره! او الله د ستانه تیر سه او بښنه یې درته وکړه، ځکه چې تا ولې دغو منافقانوته اجازه ورکړه [ترڅو دوی ستا سره جهاد ته لاړ نسي؟ او ښاییدل چې دوی ده همداسې پرې ایښي وای] ترڅو تاته صادقان د درغژونو نه بیل سوي او ښکاره سوي وای، او دروغژن ده ښه پیژندلي وای، یعنی دا چې ترڅو دوی همداسې خلکوته هم رسوا سوي واي.

[٤٤] [هو؛ ای پیغمبره!] هغو کسانوچې پرالله او د آخرت پر ورځ ایمان راوړئ دئ؛ دوی د الله په لار کې په خپل مال او سر جهاد کړوته اجازه نه غواړي، او الله متقیان ښه پیژني، یعنی متقیان هغه څوک دي چې د الله نه کلک و یر یږي او د سزا نه یې ځانونه ساتي او په سر او مال

جهاد کړي.

[٤٥] او ای پیغمبره! یقینا هغه کسان [ستانه اجازه غواړي ترڅو ستا سره جهاد ته لاړ نسي] چې دوی پرالله او د آخرت پرورځ ایمان نه درلوډ [یعنی دوی په زړو کې مومنان نه دي، بلکې شکمن دي او په اسلام باور نه لري] نو دوی همداسي په خپل شك کې حیران پاتې دي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې د تبوك غزا ته د تلو څرنګوالي انځور مونږته تصو یر کړئ دئ، ځکه کله چې رسول اللهﷺ د هجرت په نهم کال د الله په امر د روم امپراتوری لښکرو سره جهاد ته ملا وتړله او په ډیرو سختو حالاتوکې یې پرمومنانو باندې جهاد ته د تګ غږ وکه او د دې جهاد مقصد ځای یې چې د روم لښکرې په شام کې وې؛ هم مومنانوته وښود او په نښه یې که، نو بیا منافقانو چې ایمان د دوی په زړو کې ځای پرځای سوئ نه ؤ؛ د رسول الله نه یې اجازې وغوښتلې، ترڅو دوی د رسول اللهﷺ سره جهاد ته لاړ نسي، او نښې ډیرې پلمې یې وکړي، نو بیا رسول اللهﷺ د دوی قسمونه او دروغژنې لوړې ومنلې او د جهاد نه پاتې کیدلو اجازه یې ورکړه، نو ځکه الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې لمړئ د جهاد پرفرضیت کلک ټینګار کړئ دئ او ټول مومنان یې د دښمن سره جهاد ته رابللي دي، او بیا یې د رسول اللهﷺ نه نری کیله کړي ده چې ولې ده دغو کسانوته چې دوی منافقان ول؛ اجازه ورکړه، ترڅو ورسره جهاد ته لاړ نسي، یعنی ښاییدل چې دوی رسول اللهﷺ همداسې پرې اینې وای، ترڅو په ر یښتیا سره مومنان د دروغژنو منافقانو نه بیل سوي او معلوم سوي وای؟

هو؛ کرانو عز یزانو! یقیناچې دا مبارك آیتونه صادقو مومنانو لپاره او د دوی مشرانوته؛ ډیرې غوره سپارښتنې دي، ځکه مومنان او منافقان په لوی امتحان او ازمایښت کې د یو بل نه سره ښه بیلیږي او پیژندل کیږي، نو ازمایښت ډیر اړ ین دئ، ترڅو ر یښتیني مومنان د منافقانو نه بیل او و پیژندل سي او ټول خلک دوی ښه و پیژني او ور باندې ونه غولیږي.

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى همداسې مومنانوته د دغو منافقانو څيرې لوڅې کړې دي، او فرمايلي دي:

[٤٦] هو؛ ای مومنانو! که دغو منافقانو د ستاسې سره غزا ته د وتلو [او د تګ قصد کړئ وای او غوښتې يې وای چې ستاسې سره لاړ سي] نو د تګ لپاره به يې د غزا سامان برابر کړئ ؤ [خو دوی هيڅ څه شئ تيار کړي ندي، نو داسې ښکاري چې دوی د زړه نه غزا ته تګ نه غوښته، او الله چې د دوی پر زړونو پوه ؤ] نو د دوی ليږل يې غزا ته بد وګڼل [او رسول اللهﷺ سره وتل يې] پر دوی درانده کړل [يعنی شيطان د دوی په زړو کې وسوسه واچوله] او دوی ته وو يل سول چې په کورو کې ناستو کسانو سره کينئ او جهاد ته لاړ نسئ.

{د منافقانو جاسوسان د مومنانو خبرې خپلو ملګرو ته وړې}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې رسول اللهﷺ ته اطمئنان او ډاډ ورکړئ دئ چې که دا منافقان د ستاسې سره تبوک غزا ته وتلي وای، نو بيا بې هم د ستاسې په منځ کې اختلاف او فتنې راپارولې، ځکه د هغوی جاسوسان ستاسې په منځ سته، او فرمايلي دي:

﴿لَوْ خَرَجُوا۟ فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا۟ خِلَٰلَكُمْ يَبْغُونَكُمُ ٱلْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّٰعُونَ لَهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾ لَقَدِ ٱبْتَغَوُا۟ ٱلْفِتْنَةَ مِن قَبْلُ وَقَلَّبُوا۟ لَكَ ٱلْأُمُورَ حَتَّىٰ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَظَهَرَ أَمْرُ ٱللَّهِ وَهُمْ كَٰرِهُونَ ﴿٤٨﴾ وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ٱئْذَن لِّى وَلَا تَفْتِنِّىٓ ۚ أَلَا فِى ٱلْفِتْنَةِ سَقَطُوا۟ ۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٩﴾﴾

[٤٧] ای مومنانو! او که دغه منافقان ستاسې سره غزا ته وتلي وای، نو تاسې ته يې د ګډوډۍ اچولو نه پرته؛ بله څه ګټه نه ؤ رسيدلې او په ډيرې چټکۍ سره به يې ستاسې په منځ کې خبرې تيتې کړې وې او فتنې يې راپارولې وې [ځکه دوی غواړي د مومنانو په منځ کې فساد او اختلاف واچوي، ترڅو يو پر بل اعتبار ونکړي] او ای مومنانو! ستاسې په منځ د

دغو منافقانو جاسوسان هم سته [یعنی خپلو مشرانوته د ستاسې خبرې رسوي] او الله په دغو ظالمانو باندې پوه دئ، یعنی دوی نشه پیژني، نو دوی ته به د دوی لائق سزا ورکړي.

[٤٨] ای پیغمبره! یقینا چې منافقانو مخکی هم [په هغه وخت کې چې کله ته نوئ مدینې منورې ته راغلې] وغوښتل د مومنانو په منځ کې فتنې راولاړې کړي [او د دوی په منځ کې اختلاف واچوي] او ستا پرضد یې ای پیغمبره! ډیر چورتونه ووهل [یعنی توطئې یې جوړې کړې] ترهغوچې د بدر په غزا کې حق بر یا ته ورسیده، او د الله دین برلاسئ او زورور سه، خو منافقان چې د و یرې یې اسلام راوړئ ؤ؛ ناخوښه ول، یعنی د مومنانو په بر یا او فتحه باندې په بدر کې راضي نه ول.

[٤٩] او ځینې منافقانو به رسول الله ته و یل: ماته اجازه راکړه او جهاد ته د تګ نه ما معاف کړه او ما په ازمایښت کې مه اچوئ [یعنی ما جهاد ته په نه تګ سره؛ مه ګناه ګاره ؤ] خو دا دئ اوس دوی [چې د الله په لار کې جهاد ته ونه وتل] په فتنه یا ازمایښت او ګناه کې ولو یدل [ځکه جهاد ته دعوت او رابلنې حکم نه سرغړو نه لو یه ګناه ده] او یقیناچې د دوزخ اور پرکافرانو باندې د هرې خوا نه راتاو دئ، یعنی منافقان د جهنم اور لاندې کړي دي او پرې راګرد دئ.

{د الله لارې غازیان بر یا اویا شهادت ته سترګې په لار ول}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسول اللهﷺ او مومنان د منافقانو د زړونو کینو نه خبر کړې دي او بیاې ډاډ ورکړئ دئ چې دوی به یؤ د دووو لو یو ګټو نه لاس ته راوړي، او فرمایلي دي:

﴿إِن تُصِبۡكَ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡۖ وَإِن تُصِبۡكَ مُصِيبَةٞ يَقُولُواْ قَدۡ أَخَذۡنَآ أَمۡرَنَا مِن قَبۡلُ وَيَتَوَلَّواْ وَّهُمۡ فَرِحُونَ ٥٠ قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٥١ قُلۡ هَلۡ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحۡدَى ٱلۡحُسۡنَيَيۡنِۖ وَنَحۡنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمۡ أَن يُصِيبَكُمُ ٱللَّهُ بِعَذَابٖ مِّنۡ عِندِهِۦٓ أَوۡ بِأَيۡدِينَاۖ فَتَرَبَّصُوٓاْ إِنَّا مَعَكُم

مُّتَرَبِّصُونَ ﴿٥٢﴾

[۵۰] ای پیغمبره! که تاته یوه ښېګڼه در ورسېږي [یعنی پردښمن باندې ستا کمه بر یا په برخه سی] نو بیا دغه منافقان خفه کوي، خو که کم مصیبت او ستونزه درته ورسېږي [یعني د دښمن سره په مخامخ جګړه کې ماته وخوري] بیا نو دا منافقان وایي: مونږ مخکې خپل واک په لاس کې ونیؤ [یعنی مونږ د مومنانو سره ملګرتیا ونکړه او خپل ځانونه مونږ د مرګ او کړ یدلو نه وساتل، او منافقان بیا په ډیرې خوښۍ سره بیرته خپلو کورونوته ستنیږي.

[۵۱] ای پیغمبره! [او مومنانوته اعلان وکه او ورته] ووایه چې هیڅ مصیبت مونږ ته نه رسیږي، مګر هغه څه چې په تقدیر کې راته الله لیکلي دي او الله د زمونږ مرستندوی او مل دئ، نو مومنان ده پرالله توکل او اعتماد وکړي، یعنی خپل ځانونه ده پرالله تعالی وسپاري.

[۵۲] او ای پیغمبره! [دغو منافقانو او کافرانوته] ووایه: آیا تاسې دې ته تم او منتظر یاستی چې مونږ ته به د دؤوو نیکیو نه پرته بل څه راپیښ سي؟ [یعنی دا چې یؤ یې د دغو دؤوو نه د الله په لار کې شهادت او قر باني ده او بله یې پرتاسې باندې نصرت او بر یا ده!] او مونږ د الله نه هیله او طمعه لرو چې تاسې ته به الله خپله او یا د زمونږ په لاسونو سخته سزا درکړي، نو تم سی او انتظار و باسی او مونږ هم درسره منتظر یو، یعنی ګورو چې الله تعالی مونږ دواړو خواوو سره څه کړي؟

هو؛ درندو دوستانو! یقینا چې الله تعالی د ر یښتینو او صادقو حق پالانو مرستندوی دئ او مومنانوته بر یا ورکوي او منافقان او کافران خواروي، او ژوندئ مثال او بیلګه یې د رسول اللهﷺ او د هغه صحابوو بر یا، فتحه او برلاسئ پرکافرانو باندې ؤ، او الله تعالی خپل پیغمبر او ورسره مومنان د اته کاله هجرت او د کافرانو درې لو یو جګړه مارو لښکرو بر یدونو نه وروسته بیرته فاتح او سرلوړئ مکې ته؛ راستونه کړل او په مسجد الحرام کې یې د توحید کلمه ور پوله او بتان یې مات کړل.

{د کافرانو خیراتونه الله نه قبلوي ځکه دوی سرکښان دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی اعلان کړئ دئ چې د کافرانو مالي ورکړې او خیراتونه د الله پر وړاندې نه قبلیږي، او فرمایلي دي:

﴿قُلْ أَنفِقُوا۟ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ إِنَّكُمْ كُنتُمْ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٥٣﴾ وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَٰتُهُمْ إِلَّآ أَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأْتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَٰرِهُونَ ﴿٥٤﴾ فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٥٥﴾﴾

[٥٣] ای پیغمبره! [او همدارنګه دغو منافقانوته اعلان وکه او ورته] ووایه: که تاسې خپل مال او دولت په خوښۍ او یا په زور سره په جهاد کې ورکړئ او پکې وې لږوئ؛ دا خیرات ستاسې نه الله نه قبلوي، ځکه تاسې یقینا د الله حکم او فرمان نه یو وتلئ قوم وئ! یعنی دا چې الله تعالی یوازې د مومنانو خیراتونه قبلوي او د منافقانو او کافرانو خیراتونه الله نه مني او دوی ته یې هیڅ ګټه نه رسیږي، ځکه الله ورځخه مستغني دئ.

[٥٤] [او ای مومنانو! په دې پوه سئ] چې ولې الله د دغو منافقان خیراتونه نه قبلوي؟ ځواب دا چې دوی پرالله او د هغه پر پیغمبر باندې کافران سول [یعنی منافقان چې په خوله ځانونه مومنان بولي؛ په زړوکې دوی د الله او د هغه پیغمبرﷺ نه منکر دي او نې مني] او منافقان لمانځه ته نه راځي، مګر په ډیرې کښالۍ او تنبلۍ سره، او خیرات نه ورکوي، مګر په ناخوښۍ او کرکې سره، یعنی په زور ز یاتي سره، ځکه د دوی په زړونو کې ایمان نسته او په ثواب او سز باور نه لري او نه ورته

هیلمن دي.

[۵۵] نو ای پیغمبره! د دغو منافقانو ډیر مال، دولت او کهول [چې دوی ته الله ورکړئ دئ] تا په تعجب کې وانه چوي او ته ورته حیران نسې؟ او یقینا چې الله غواړي کافرانو ته د دنیا په ژوند کې عذاب ورکړي او د دوی د ځانونو نه ساه په داسې حال کې راو باسي چې دوی کافران وي، یعنی د ایمان نه محروم وي او د کفر په تیارو کې پټ وي.

{منافقان دروغژن دي په لوړو ځانو نه د مومنانو پلویان بولي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی لمړئ رسول الله ﷺ او مومنان د منافقانو پټو کینو نه ګواښلي دي، او بیاې د زکات مستحق کسان مومنانوته ور پیژندلي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَيَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنكُمْ وَمَا هُم مِّنكُمْ وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ ٥٦ لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَـًٔا أَوْ مَغَٰرَٰتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا۟ إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ ٥٧ وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِى ٱلصَّدَقَٰتِ فَإِنْ أُعْطُوا۟ مِنْهَا رَضُوا۟ وَإِن لَّمْ يُعْطَوْا۟ مِنْهَآ إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ٥٨ وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا۟ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَقَالُوا۟ حَسْبُنَا ٱللَّهُ سَيُؤْتِينَا ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَرَسُولُهُۥٓ إِنَّآ إِلَى ٱللَّهِ رَٰغِبُونَ ٥٩ ۞ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱلْعَٰمِلِينَ عَلَيْهَا وَٱلْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِى ٱلرِّقَابِ وَٱلْغَٰرِمِينَ وَفِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ ۖ فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ٦٠﴾

[۵۶] ای مومنانو! او منافقان پرالله لوړي کړي او قسمونه خوري چې دوی یقینا د ستاسې پلو یان دي، خو دوی د ستاسې پلو یان نه دي، او یو و یرندونکئ یا ډارونکئ قوم او ډله دي، یعنی منافقان دا خبرې د

کلک ډار او و يرې نه کړي، او غواړي چې ځانو نه د سزا او ګواښ نه وساتي.

[۵۷] هو! که دغه منافقان د پټيدو ځای او يا سمځې او يا په ځمکه کې د ننوتولو کم کويي يا څاه بيا مومي؛ هغې خوا ته به په منډه سره ښه ګړندي ورواوړي!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د منافقانو صفتونه، خو يونه او د زړونو ر يښتينو و يناوو انځور مونږ ته په مخ کې ايښئ دئ او مومنان يې د دوی پټو توطئيو او هغو شيطاني پلمونه خبر کړي دي چې هغه د دوی خوی دئ، او تل غواړي چې خپل پټ پلانو نه او نقشې د حق پالانو پر ضد او خلاف پلې کړي، خو د دوی پر وړاندې الله تعالی مومنانوته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ چې منافقان دوی ته هيڅ څه ضرر او ز يان رسولای نسي، مګر هغه څه چې الله ورته په تقدير کې ليکلي دي، او همدرانګه الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې مومنانوته سپارښت کړئ دئ چې دوی ته ښايي د دغو آيتونو په عملي کولو سره خپل ځانونه د منافقانو شر او فتنو نه وساتي، او هم ورته ښايي چې مومنان د منافقانو پټو توطئيو نه په خبريدو سره خپل ځانونه ښه چمتو کړي او د دښمن پټې دسيسې شنډې کړي.

هو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې که څه هم مونږ د حق او باطل په منځ کې د اوږدې مبارزې د يؤ معلوم تار يخي پراو نه خبر کړي يو، خو دا لړۍ همداسې اوس هم جاري ده او د قيامت ورځې پورې به روانه وي، نو ښايي چې حق پالان د الله تعالی دين په لار کې د دغی مبارزې او جهاد اوږده تار يخ نه ګټه او پند واخلي او خپل ځانونه په هر وخت او هر عصر کې د عيني او ذهني واقعيتونو په رڼا کې سمبال او چمتو کړئ او تل تيار سئ وي او هيڅ کله د عاطفې او احساساتو ښکار نسي!

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې همداسې الله تعالی مونږ ته د منافقانو ځينې نور خو يو نه هم ياد کړي او په نښه کړي دي او بيايې د زکات و يش

مستحق کسان راپیژندلي دي، او فرمایلی دي:

[۵۸] ای پیغمبره! د منافقانو نه ځینې کسان بیا د خیراتونو او زکاتونو و یش پر سر تا پسې سپکې سپورې خبرې کړي، نو که بیا دوی ته د خیراتونو نه څه ورکړل سي ور باندې خوښیږي او که څه شئ ورنکړل سول، نو بیا په غوصه وي.

[۵۹] خو که منافقان په هغو ورکړو چې الله او پیغمبر دوی ته ورکړي؛ خوښ سوي وای او و یلي وای چې الله مونږ ته بس دئ، او الله او د هغه پیغمبر به خپل فضل پرمونږ باندې ولوروي او رابې کړي، او یقینا چې مونږ د الله ورکړو غوښتونکې یو، یعنی نو دا به دوی ته ښه ؤ او دوی ته پکې ډیر خیر او ګټه ؤ.

درندو دوستانو! او بیا الله تعالی په ور پسې مبارك آیت کې د زکات مال حق وړونکي مونږ ته په صفتونو او نښو سره راښودلې او راپیژندلي دي او د دوی نه پرته بل چاته زکات ورکول روا ندي، نو نه ښایي چې څوک د الله تقسیم او و یش ته ګوته ونیسي او اعتراض پرې وکړي، او د دې و یش په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

[٦۰] ای مومنانو! یقینا چې زکات یوازې هغو کسانوته ورکول کیږي، چې فقیران دي[یعنی هیڅ څه نه لري] او یا مسکینان دي [لږ څه شئ لري، خو ورته بس نه دي] او یا د زکات راټولولو او د و یش کارکونکي دي [یعنی بل معاش او تنخا نه لري] او یا دوی نوي مسلمان سوي وي، نو دوی ته زکات د خوښۍ [او په اسلام کې د ټینګدو په مقصد ورکول کیږي] او یا دوی مر یان وي، نو د دوی د ازادۍ لپاره زکات ورکول کیږي، او یا پور وړي قرضداران وي [او هیڅ څه نه لري چې خپل پور او قرض ورکړي] او یا د الله په لار کې جهاد کړي او یا په مسافرۍ او پردیسیتوب کې مرستې ته اړسي [یعنی نو زکات یوازې د همدې اتو ډلو حق دئ] او هغه د الله لخوا فرض سوئ دئ او الله ښه پوه او لوی حکیم ذات دئ، یعنی الله تعالی په خپل لوی علم او په پاخه حکمت سره؛ زکات یوازې د دغو کسانو

حق ګرځولئ دئ او د دوی نه پرته بل څوک د زکات په مال کې حق نه لري.

ګرانو عز یزانو! دا د الله تعالی عادل تقسیم او و یش دئ چې د زکات مستحق کسان یې مونږ ته د دوی په صفتونو په ډیر تفصیل سره راښودلي او په نښه کړي دي، ترڅو زکات یوازې همدغو کسانوته ورکړل سي، نو بیا هیڅ څوک د اعتراض کړو حق نه لري، ځکه دا تقسیم الله کړئ دئ، او یقینا چې الله عادل او ښه پوه او حکیم ذات دئ، او د ټولو خلکو پالنه کړي، نو هیڅ څوک پرالله د اعتراض حق نه لري، او یقینا چې رسول اللهﷺ د الله تعالی حکمونو په پلي کولو او تطبیق کې؛ د امانت او عدالت چلولو داسې مثال او بیلګه ؤ چې بل هیڅ څوک د هغه لوړ مقام ته رسیدلای نسي، نو یقینا هر هغه څوک چې د رسول اللهﷺ پر کړنو اعترض کړي؛ هغه به یا کافر او یا به منافق وي، ځکه مومنان هیڅ کله ځان ته د دې حق نه ورکوي چې د الله او پیغمبر تقسیم او و یش ته ګوته ونیسي او اعتراض پرې وکړي.

{رسول اللهﷺ مومنانو ته رحمت او زړه سو اندئ پیغمبر دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی یؤ بله ډله د منافقانو رسول اللهﷺ او مومنانوته ور پیژندلې ده او د دوی خو یونه یې ورته ښودلي او په نښه کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَمِنْهُمُ ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱلنَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌۚ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْۚ وَٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٦١ يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ إِن كَانُواْ مُؤْمِنِينَ ٦٢ أَلَمْ يَعْلَمُوٓاْ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدًا فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلْخِزْيُ ٱلْعَظِيمُ ٦٣﴾

[٦١] [ای مومنانو!] او د منافقانو نه ځینې هغه کسان دي چې پیغمبر زوروي او وایي چې هغه خو غوږونه دئ [یعنی پیغمبر د هرچاته غوږ باسي او خبرې یې اوري او باور پرې کړي، نو ته ای پیغمبره! په ځواب کې ورته] ووایه: هو! هغه ستاسې لپاره د خیر غوږونه دئ او پرالله ایمان لري او پر مومنانو باور کړي [یعنی خبرې یې اوري او هغه مني] او دا پیغمبر همداسې د ستاسې نه پر هغو کسانو باندې چې ایمان یې راوړئ دئ؛ رحمت دئ او پردوی زړه سوانديئ دئ، او هغه کسان چې د الله استازئ او پیغمبر زوروي؛ دوی ته دردوونکئ عذاب دئ.

[٦٢] [هو! ای مومنانو! د دغو منافقانو بل خوی دا دئ چې دوی] تاسې ته په الله باندې [د دروغو] لوړې کړي او قسمونه خوري [چې دوی رسول الله او مومنانو پسې د تبوك په غزا کې څه ندي و یلي] ترڅو تاسې ای مومنانو خوښ او راضي کړي [یعنی پر دوی باندې بې اعتماده نسی] حال دا چې الله او پیغمبر یې د هرچانه وړلاندې دا حق لري چې راضي او خوښ سي، نو که دغه منافقان په ر یښتیا سره مومنان وي، یعنی نو الله او د هغه رسول ﷺ ده په صادقانه ایمان راوړو سره؛ خوښ کړي.

[٦٣] او آیا دغه منافقان په دې پوه نسول چې یقینا هرڅوک د الله او د هغه پیغمبر سره دښمنی کړي [او ورسره جنګیږي] نو د دوی ځای د جهنم اور دئ او هلته به پکې تل کړ یږي او هغه ډیره لو یه رسوایي او ښکاره سپکاوئ دئ.

{د منافقانو او مجرمانو پلمې نه منل کیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی منافقان د لویې رسوایي نه ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَحۡذَرُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيۡهِمۡ سُورَةٞ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِي قُلُوبِهِمۡۚ قُلِ ٱسۡتَهۡزِءُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ مُخۡرِجٞ مَّا تَحۡذَرُونَ ٦٤ وَلَئِن سَأَلۡتَهُمۡ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلۡعَبُۚ قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ

كُنتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوا۟ قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ ۚ إِن نَّعْفُ عَن طَآئِفَةٍ مِّنكُمْ نُعَذِّبْ طَآئِفَةًۢ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ﴿٦٦﴾

[٦٤] هو! منافقان ده پام کړي چې کله به بيا پردوی باندې يوه سوره رانازله سي او دوی به د هغه څه نه خبر کړي چې په زړو کې يې دي [يعنی هغه څه چې کفر دئ، نو بيا به ښه کلک رسوا سي!] نو ته ای پيغمبره! [دوی ښه وو يرؤ چې تاسي خو په زړو کې کافران ياستي، او ورته] ووايه: نو همداسې ملنډې ووهی [يعنی خپلو سپکو و يناوو ته زمونږ پرضد دوام ورکړي] خو په يقين سره پوه سی چې الله به هغه پټ حقيقتونه راو باسي [او رسوا بې کړي] چې تاسې پکې احتياط کړی، يعنی د رسوا کيدو نه يې کلک و ير يرئ او نه غواړی چې سپک سی!

[٦٥] ای پيغمبره! که ته د دغو منافقانو نه و پوښتې [چې ولې تاسې ما پسې او مومنانو پسې سپکې سپورې خبرې کړی او ملنډې ور باندې وهی او سپکا وئ کړئ؟ نو منافقان به په ځواب کې تاته] ووايي مونږ خو يوازې ټوکې ټاکلي کړې [يعنی ته او د ستا صحابه او ياران د زمونږ مقصد نه ول] نو بيا ته ای پيغمبره! دوی ته په ځواب کې ووايه: آيا تاسې پرالله او د هغه کتاب پرآيتونو او د الله پرپيغمبر او استازي باندې؛ ملنډې وهلې او د هغوی سپکا وئ مو که؟ يعنی د ستاسې دغه خبرې الله ته او د هغه کتاب (قرآن) او د هغه پيغمبرﷺ ته توهين او سپکا وئ ؤ.

[٦٦] نور نو تاسې ای منافقانو! عذر مه غواړی او پلمې مکړی، ځکه يقينا چې تاسې د ايمان نه وروسته [په خپلو دغو بدو خبرو او دروغژنو تبليغاتو سره] کافران سوی، نو که څه هم بيا مونږ د ستاسې يوې ډلې کسانو نه [چې دوی تو به وايستله] تير سوو او عفؤ مو ورته وکړه، خو د ستاسې بلې ډلې ته سزا ورکوو، ځکه دوی په يقين سره اصلي مجرمان ول، يعنی نو دوی د الله عذاب او کلکې سزا نه خلاصيدای نسي.

{منافقانو ټول د يو بل پلو يان دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د منافقانو ښځې او نار ينه ټول په ډيرې رونټيا سره؛ رسوا کړي دي او په کلکو سزاګانوپې ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍۘ يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْۚ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمْۚ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ هِىَ حَسْبُهُمْۚ وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٦٨﴾ كَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ كَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنكُمْ قُوَّةً وَأَكْثَرَ أَمْوَٰلًا وَأَوْلَٰدًا فَٱسْتَمْتَعُوا۟ بِخَلَٰقِهِمْ فَٱسْتَمْتَعْتُم بِخَلَٰقِكُمْ كَمَا ٱسْتَمْتَعَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُم بِخَلَٰقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَٱلَّذِى خَاضُوٓا۟ أُو۟لَٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَؤُا۟ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَقَوْمِ إِبْرَٰهِيمَ وَأَصْحَٰبِ مَدْيَنَ وَٱلْمُؤْتَفِكَٰتِۚ أَتَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٧٠﴾﴾

[٦٧] [هو! ای مومنانو! په دې پوه سې چې] منافقان نار ينه او ښځې د يو بل مل دي، منکراتو او بدو کړنوته خلک هڅوي او ښو کړنو او ايمان راوړته څوک نه پر يږدي، او خپل موټي پې کلک نيولي دي، او الله دوی هيرکه، نو دوی هم الله هيرکړل [يعنی د خپل رحمت نه پې محروم کړل] او يقيناچې منافقان فاسقان دي، يعنی د الله اطاعت او بنده ګۍ نه وتلي دي او راتلونکې پې تياره ده.

[٦٨] او الله د منافقانو نار ينوو او ښځو سره او د کافرانو سره

وعده کړې ده چې د دوی ځای د دوخ اور دئ او هلته به پکې تل سوز یږي او هغه د دوی بس دئ، او دوی الله د خپل رحمت نه شړلي دي او منافقانو او کافرانو ته تل پاتې عذاب دئ.

[٦٩] [او ای کافرانو او منافقانو! د ستاسې دغه بد کړنې د هغو کسانو کړنو غوندې دي] چې هغوی د ستاسې نه په خوا تیر سوي دي او دوی د ستاسې نه ډیر ځواکمن، دولتمن او بډایان ول، او ډیر زامن یې درلودل، او دوی د خپلو برخو نه په دنیا کې خوند واخست، نو تاسې هم ای منافقانو او کافرانو! د خپلو برخو نه خوند واخست، لکه څنګه چې پخوانیو خلکو خوند واخست، او تاسې هم د هغوی غوندې سپکې سپورې وو یلې، او بیا د دوی ټول ښه کړل او حسنات په دنیا او آخرت کې باطل سول او له منځه لاړل، او دوی خپل ځانونه ز یانمن کړل او تاوان یې وکه او دوی خپله بایلونکي ول، یعنی هرڅه یې د لاسه ورکړل، نو تاسې چې د دوی په پله لاړی، نو د هغوی غوندې به په دنیا او آخرت کې رسوا او مختورن سی!

[٧٠] او آیا دغو منافقانو او کافرانوته د پخوانیو ولسونو قصې او د هغوی تورې راتلونکې خبرونه نه ؤ راغلي؟ هو! د نوح قوم ته او د عاد او ثمود امت ته او د ابراهیم او د مدین ولسونوته او د لوط قوم ته چې ځمکه ور باندې په بل مخ راواوښتله؛ دغو ټولو ولسونوته [چې د مکې په ځیرمه په شمال او جنوب کې میشت ول] د دوی پیغمبران راغلل او معجزې او د الله کتاب آیتونه یې دوی ته راوړل، خو دوی ور باندې باور ونکه او هغه یې ونه منل او پیغمبران یې دروغژن و بلل، نو بیا الله پردغو ټولو ولسونو باندې خپل عذاب راکوز که او دوی ټول هلاك او تباه سول، او الله نه غوښتل چې پردوی باندې ظلم وکړي، خو دوی پرخپلو ځانو باندې ظلم او تیرئ وکه، او د الله بنده ګی نه ووتل او پیغمبران یې ونه منل، نو بیا الله تعالي دوی ته کلکه سزا ورکړه.

هو؛ درندو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې د منافقانو ځیرې چې په زړو کې کافران ول؛ د تبوك په غزا کې رسوا کړي دي، او بیا

دوی الله تعالی پرخپلو کلکو سزاګانو ګواښلي دي، او همدارنګه الله تعالی د دوی نه مخکې تیر ســوو هغو ولســونو تار یخ یاد کړئ دئ چې هغوی د خپلو پیغمبرانو خبره او دعوت ونه مانه او ورځخه منکر سول، نو بیا الله تعالی هغه ولسونه ټول په دنیا کې تباه او هلاك کړل او سختې سزاګانې یې ورکړې، نو ښــایي چې تیر تار یخ هیڅ کله هم هیر نکړو او ښــایي ځانونه ورځخه خبر کړو او ګټه او عبرت ورځخه واخلو، ترڅو د پخواینو غوندې د بدې راتلونکې په ژوره کې خښ نســو او تباهي او هلاکت (العیاذ بالله) د زمونږ په برخه نسي، هوا! ښایي دا تر یخ حقیقت ومنو چې انسان ډیر ژر خبره هیروي او بیا د هغو ژورو پانډو لاندې لو یږي چې بیرته ورځخه راوتل ډیر ستونزمن او ګران کار دئ.

{مومنان ښځې او نار ینه په ښو سپارښت او د بدو نه منع کوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مومنان ستایلي دي او د دوې ایماني خو یونه یې مونږ ته بیان کړې دي، ترڅو هرمومن بنده د دوی پرپله لاړ سي او د دنیا او آخرت نیکمرغي وګټي، او فرمایلي دي:

﴿وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ ٱللَّهُ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٧١﴾ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّٰتِ عَدْنٍ ۚ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٧٢﴾﴾

[۷۱] مومنانان نار ینه او ښځې د یو بل سره دوســتان او ملکري دي، دوی په ښــو کړنو یو بل ته امر کړي او د بدو او ناروا کړنو نه یو بل منعې کوي، او لمنځونه په خپلو وختونوکې دروي او د خپل مال زکات ورکوي او د الله او د هغه پیغمبر حکمونه مني او عمل پرې کړي، نو پردوی باندې

به الله خپل رحمت ووروي، او يقيناچې الله لوی ځواکمن او ښـــه حکيم پـالونکئ ذات دئ، يعنی خپلو مومنو بنـده ګانوتـه عزت او ســـر لوړي ور ښني او دوی ښادوي.

[۷۲] هو! د نار ينو او ښځو مومنانو ســره الله د داسـې جنتونو او زرغونو باغونو وعده کړي ده چې د خوږو او بو و يالې پکې بهيږي او دوی به هلته تل پکې اوسيږي او دوی ته په جنتونو کې ښه پاک استوګنځي دي، او دوی ته بل ډير لوی نعمت د الله رضـا ده او الله د دوی نه خوښـيږي او دا ډيره لو يه بر يا او نيکمرغي ده.

{کافر انو او منافقانو سره جهاد د پيغمبر او مومنانو دنده ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی رسـول اللهﷺ ته حکم کړئ دئ چې د کافرانو او منافقانو سره کلک جهاد وکړي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٧٣ يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ وَلَقَدۡ قَالُواْ كَلِمَةَ ٱلۡكُفۡرِ وَكَفَرُواْ بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ يَنَالُواْۚ وَمَا نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنۡ أَغۡنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضۡلِهِۦۚ فَإِن يَتُوبُواْ يَكُ خَيۡرٗا لَّهُمۡۖ وَإِن يَتَوَلَّوۡاْ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَا لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ٧٤﴾

[۷۳] ای پيغمبره! د کافرانو او منـافقـانو ســره [چې دوی پـه خولـو مومنان او په زړو کې کافران دی] جهاد وکړه، او ښـه کلک ورســره وچلېږه [يعنی پر يکنده در يځ ورسـره ونيسـه] او د منافقانو ځای د دوزخ اور دئ، او هغه د دوی لپاره ډيره بده راتلونکې ده، يعنی دوی به پکې تل سوز يږي.

قدرمنو دوسـتانو! د تفسـير علماء وايي چې د جهاد نه دلته مقصـد د کافرانو سره مسلح جګړه او جهاد دئ، ځکه دوی د رسـول اللهﷺسره د جګړې پيلونکي ول، خو د منافقانو سره ښايي په پاخه منطق او استدلال

خبري وسي، ترڅو دوی د نفاق نه لاس وا خلي او په حق او ر ښتيا سره په اسلام کې ننوځي او د زړه نه ايمان راوړي او په خوله او زړه مومنان سي، او د اسلام په ټولو لارښودنو عمل وکړي.

ګرانو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د منافقانو چلند او در يځ د رسول اللهﷺ او مومنانو سره د تبوك په غزا کې مونږ ته ډير روښانه تصو ير کړئ دئ، او فرمايلي دي.

[٧٤] هو! منافقان پر الله قسمونه خوري [يعنى لوړې کړي چې دوی رسول الله پسې او مومنانو پسې سپکې خبرې] ندي کړې [خو حقيقت دا دئ] چې دوی په يقين سره د کفر کلمه وو يله او د ايمان رواړو او د اسلام نه وروسته بيرته کافران سول [او بيايې رسول اللهﷺ ته د ز يان رسولو] قصد وکه، خو خپل مقصد ته ونه رسيدل [يعنى الله تعالى د دوی دسيسه شنډه کړه، او منافقانو غوښتل چې پر رسول الله باندې د تبوك غزا نه بيرته د راستنيدو په لار کې مرګونئ بر يد وکړي] هو! دغو منافقانو د رسول الله نه د دغسې غچ اخستلو [يعنى بدو کړوته ملا ونه تړله] مګر کله چې دوی الله او پيغمبر د خپل فضل او کرم نه غنيان کړل [او هرڅه يې ورکړل، خو دوی بيا د خيانت قصد وکه] او که بيا هم دغه منافقان تو به و باسي او پښيما نه سي، نو دوی ته پکې خير دئ، او که په شا واوړي او پرخپل کفر او نفاق باندې همداسې کلک ودر يږي] نو الله به دوی ته په دنيا او آخرت کې دردونکې سزا ورکړي او دوی د ځمکې پر سر هيڅ څوک ملګرئ او مرستندی نه لري.

{د منافقانو خولې او د زړه خبره يوه نه ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې منافقان الله تعالى مومنانوته کلک رسوا کړي او ور پيژندلي دي، او فرمايلي دي:

﴿* وَمِنْهُم مَّنْ عَٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنْ ءَاتَىٰنَا مِن فَضْلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضْلِهِۦ بَخِلُوا۟ بِهِۦ وَتَوَلَّوا۟

وَّهُم مُّعۡرِضُونَ ٧٦ فَأَعۡقَبَهُمۡ نِفَاقٗا فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ يَلۡقَوۡنَهُۥ بِمَآ أَخۡلَفُواْ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ ٧٧ أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ٧٨ ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٧٩ ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ إِن تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِينَ مَرَّةٗ فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٨٠

[۷۵] او د منافقانو نه [ځینې بې وزرو کسانو چې هیڅ څه شئ پې نه درلودل] د الله سره تعهد وکه چې که چیرې تا د خپل فضل او کرم نه مونږ ته څه شئ را کړل، نو هغه به مونږ خامخا خیرات کړو او مونږ به په کلکه سره د صالحانو نه کیږو، یعنی دا چې د زمونږ نه به نور ښه او صالح سړي جوړ یږي او ټولنې ته به د زمونږ ګټه رسیږي.

[۷۶] نو بیا چې کله دوی ته الله د خپل فضل نه هرڅه ورکړل [یعنی غنیان پې کړل] نو بیا دوی بخیلان سول [او خیرات پې ورنکه] او بیرته په شا واوښتل.

[۷۷] نو بیا د دوی په زړونو کې الله تر قیامت ورځې پورې چې په هغه ورځ د الله په حضور کې در یږي؛ نفاق واچا ؤ، ځکه دغو منافقانو د الله سره په خپلو وعدو کې مخالفت وکه او دوی دروغژن ول، یعنی په خپلو وعدو کې ر ښتیني نه ول.

[۷۸] او آیا دغه منافقان په دې نه پوهیدل چې الله د دوی په پټو اسرارو او پټو خبرو باندې پوهیږي؟ او یقینا چې الله په غیبو او پټو شیانو ښه پؤ ذات دئ، یعنی نو منافقانوته به د دوی لائق سزا ورکړي.

[۷۹] او دغه منافقان هغه کسان دي چې خیرات ورکونکي مومنان

[چې د خپلې وسعې سره سم خيرات ورکوي] هغوى هم د منافقانو سپکو خبرو نه خلاص نه دي [يعنى منافقان په دغو مومنانو پسې چې لږ خيرات ورکوي؛ بدي خبر کړي او سپکا وئ يې کړي، نو الله ده دوى ته د دوى د دغسې سپکا وي او ملنډو سزا ورکړي، او منافقانوته دردونکې عذاب دئ.

[٨٠] او اى پيغمبره! که ته دغو منافقانوته د الله نه بښنه وغواړي او که وې نه غواړي [الله دوى نه بښي] او که ته دوى ته او يا ځله هم بښنه وغواړي، نو الله هيڅ کله دوى نه بښي، او دا ځکه چې دوى پرالله او د هغه پر پيغمبر باندې کافران سول، او الله فاسقانوته چې د الله اطاعت نه وتلي دي [يعنى د حکمونو نه يې سرغړونه کړې ده] پرسمه لار د تګ توفيق نه ورکوي، يعنى دوى د الله په تقديري علم کې د توفيق لائق نه دي.

ګرانو دوستانو! د تفسير علماوو روايت کړئ دئ چې کله د منافقانو مشر عبد الله بن ابئ بن سلول مړ سه، نو زوى يې عبد الله رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه وغوښتل چې د هغه پلار ته د الله نه بښنه وغواړي، نو بيا دا مبارك آيتونه رسول الله ﷺ ته رانازل سول او پکې د رسول الله ﷺ نه نرى ګيله سوې ده چې ولې هغه د منافقانو مشر ته دعاء وکړه، ځکه الله تعالى هيڅ کله هم دغسې فاسقان نه بښي، نو ښايې چې هر مومن بنده په خپله دعاء کې محتاط وي، او په ځانګړي ډول علماء او دعات او داسې نه چې فاسقانوته دعاء وکړي، ځکه دوى د دعاء لائق ندي.

{منافقان د تبوك غزا ته په نه تګ خوښ سول}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنان د هغو منافقانو خوښى نه خبر کړي دي چې دوى د رسول الله ﷺ سره د تبوك غزا ته نه ؤ تللي، او فرمايلي دي:

﴿فَرِحَ ٱلْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِى ٱلْحَرِّ ۗ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَّوْ كَانُواْ يَفْقَهُونَ ﴿٨١﴾ فَلْيَضْحَكُواْ قَلِيلًا وَلْيَبْكُواْ كَثِيرًا جَزَآءًۢ بِمَا كَانُواْ

يَكۡسِبُونَ ﴿٨٢﴾ فَإِن رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٖ مِّنۡهُمۡ فَٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِلۡخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخۡرُجُواْ مَعِيَ أَبَدٗا وَلَن تُقَٰتِلُواْ مَعِيَ عَدُوًّاۖ إِنَّكُمۡ رَضِيتُم بِٱلۡقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٖ فَٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡخَٰلِفِينَ ﴿٨٣﴾ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٖ مِّنۡهُم مَّاتَ أَبَدٗا وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ إِنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُواْ وَهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٨٤﴾ وَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَأَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾

[٨١] او هغه منافقان چې د رسول الله حکم نه په مخالفت سره په خپلو کورو کې پاتې سول [یعنی د تبوك غزا ته لاړ نسول] دوی په کورو کې په خپله ناسته خوښ سول، ځکه دوی د الله په لار کې په خپلو مالونو او سرونو سره د جهاد نه کرکه وکړه او خلکوته یې وو یل چې په دا سره ګرمۍ کې جهاد ته مځی! نو ته ای پیغمبره! دوی ته ووایه چې د دوزخ اور ډیر سور دئ که چیرې کافران په دې پوهیدلای؟ یعنی خو کله چې منافقان د دوزخ په سره اور باور نه لري په دې نه پوهیږي،ترڅو ورڅخه ځانونه وساتي!

هو؛ درندو عز یزانو! یقینا چې په سره ګرمۍ کې جهاد ته وتل او د الله په لار کې د دښمن سره جهاد کړل؛ مجاهد د آخرت په ورځ د دوزخ سره اور نه خلاصوي او جنت ته یې د ننوتلو سبب ګرځی، خو منافقان په دې نه پوهیږي او د الله تعالی او د هغه پیغمبرﷺ حکمونو منلو په ارزښت باور نه لري او ورڅخه غافل دي.

[٨٢] [او دغه منافقان چې د الله او رسول اللهﷺ مخالفت یې وکه او د الله په لار کې جهاد ته لاړ نسول] نو دوی به په دنیا کې لږ وخاندي [یعنی لږ به خوښ سي] خو په آخرت کې به ډیر وزاړي [یعنی غمجن به سي] او دا د دوی د هغو بدو کړنو سزا ده چې په دنیا کې یې کړل.

[٨٣] نو ای پیغمبره! که بیا ته الله د دغې غزا نه بیرته د منافقانو کمې ډلې ته ورستون کړي، نو بیا دوی د ستانه اجازه وغوښتله چې په بله غزا کې به درسره جهاد ته لاړ سي، نو ته ای پیغمبره! دوی ته ووایه: تاسې نور هیڅ کله د زما سره غزا ته وتلای نسی او د هیڅ دښمن سره د زما په ملتیا کې جګړه کړلای نسی، ځکه تاسې لمړئ ځل په کورو کې په ناسته خوښ

سوی، نو همداسې د جهاد نه پاتې سوو کسانو سره کینې!

[۸٤] او ای پیغمبره! نور نو هیڅ کله په کم منافق باندې که مړ سه د جنازې لمونځ مکړه او په قبر باندې یې [د دعاء لپاره] مه در یږه، ځکه دا کسان پرالله او د هغه پر پیغمبر باندې کافران او منکر سول او په داسې حال کې دوی مړه ســول چې فاســقان ول، یعنی د الله او د هغه پیغمبر اطاعت نه وتلي ول، یعنی نو پردوی د جنازې لمونځ نکیږي، ځکه دوی کافران ول.

[۸۵] او ای پیغمبره! د دغو منافقانو ډیر مال، دولت او کهول تا حیران نکړي [چې څنګه الله دوی ته دا ډیر مال، کهول او زامن ورکړي دي؟] ځکه یقینا چې الله غواړي په دې ډیر مال او کهول ســره دوی ته په دنیا کې سزا ورکړي، او بیاې ساه د ځانونو نه په داسې حال کې راو باسي چې دوی کافران وي، یعنی او بیا به دوی ته الله تعالی په آخرت کې هم کلکه سزا ورکړي.

قدرمنو دوســتانو! په دې مبارکو آیتونو کې په وار وار ســره منافقان الله تعالی غندلي دي، او په دنیا او آخرت کې یې په کلکه سزا ګواښلي دي او رســول اللهﷺ ته یې د منافقان ســره د ډیر پر یکنده چلند او در یځ ســپارښــت کړئ دئ چې هغه یقینا د رســول اللهﷺ د دین وارثانو او د مومنانو واکمنانوته تل پاتې سپارښت دئ، نو ښایي چې هرمسلمان که څه هم خپل ځان ورته ښــکاره مومن بر ینبــي؛ د نفاق نه ده ځان کلک وساتي، ترڅو هغه د منافقانو غوندې د تور برخلیک سره مخامخ نسي، ځکه د دنیا ژوند غولونکې غوښتنې ښې ډیرې دي او د شیطان وسوسې او تیر و یســتنې شــپه او ورځ ور پســې په منده دي، نو الله تعالی ده مونږ ورڅخه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

{منافقان چې زړونه یې ټاپه سوي دي خپل خیر نه پیژني}

او بیا الله تعالی په ور پســې مبارکو آیتونوکې مومنان همداســې د منافقانو تورو زړونو نه خبر کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ أَنۡ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ٨٦ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ

مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ﴿٨٧﴾ لَٰكِنِ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ جَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡخَيۡرَٰتُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٨٨﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٨٩﴾ وَجَآءَ ٱلۡمُعَذِّرُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ لِيُؤۡذَنَ لَهُمۡ وَقَعَدَ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٩٠﴾

[٨٦] هو! ای پیغمبره! کله چې پرتا باندې یوه سوره رانازل سؤ [او په هغه کې خلکوته الله حکم کړي ؤ] چې پرالله باندې [په اخلاص سره د زړه له کومې] ایمان راوړی او د الله پیغمبر (محمدﷺ) سره [د الله په لار کې] جهاد وکړی، نو بیا د منافقانو نه دولتمنو کسانو [چې ډیر مال او دولت یې درلود] د ستانه یې اجازه وغوښته او و یو یل: مونږ پر یږده چې د ناستو کسانو سره کینو، یعنی مونږ ته اجازه راکړه چې د هغو کسانو سره په کورونو کې ناست پاتې سو چې دوی جهاد ته د تلو وسعه نه لري او په کورو کې ناست پاتې دي.

[٨٧] هو! دغه منافقان په دې راضي او خوښ سول [چې د ښځو، سپینږیرو، ماشومانو او نورو معذورو کسانو سره] په کورو کې کیني [او د پیغمبر محمدﷺ او مومنانو سره جهاد ته لاړ نسي] ځکه د دوی زړونه ټاپه سوي دي [یعنی تک تور اوښتي دي] نو په خپل خیر نه پوهیږي، یعنی که چیرې دوی په خپله ګټه پوهیدلای نو د جهاد نه به نه پاتې کیدل.

[٨٨] خو پیغمبر او هغه کسان چې د هغه سره یې ایمان راوړ او پرخپل مال او سرې [د الله په لار کې] جهاد وکه؛ ټول خیراتونه [فتحه او بریا او د دښمن نه لاس ته راوړلې غنیمتو نه] د دوی پر برخه دي، نو دوی دي وړونکي او ګټونکي، یعنی په دنیا او آخرت کې بر یا او سرلوړي د رسول اللهﷺ او د ورسره مومنانو (صحابوو کرامو) په برخه ده.

[٨٩] او دغو مجاهدینوته الله داسې جنتونه تیار کړي دي چې

ورلاندې يې د روانو او بو و يالې جاري ښېږي، او دوی به پکې تل اوسېږي او هغه په يقين سره لو يه بر يا ده.

ګرانو دوســتانو! الله تعالى په دغو مباروکو آيتونوکې د منافقانو بډايانو ناسته په کورونو کې او د رسول اللهﷺ او مومنانو سره جهاد ته نه تګ؛ کلک غندلې دئ او هغه يې د دوی ناپوهې بللي ده، ځکه دوی په خپل خير او ګټه نه پوهيږي، او بيا الله تعالى رســول اللهﷺ او ورســره مومنان د رســول اللهﷺ صــحابه او ياران چې د الله په لار کې جهاد ته لاړل؛ ښــه ســتايلي دي او په دنيا او آخرت کې يې د ډيرو ثوابونو ګټلو او د بر يا او سر لوړې ز يرې ورکړي دي، نو يقينا چې دا مبارك آيتونه همداسې د الله په لار کې د جهاد لوړ مقام او ډيرو ثوابونو بيانونکي دي.

او بيا په ور پســې مبارك آيت کې الله تعالى د مدينې منورې ښــار په ځيرمه پرتو کليوالو او باندې چيانو عذر غوښــتلو بيان کړي دئ، ځکه دوی هم خپلې پلمې رســول اللهﷺ ته وړلاندې کړي او جهاد ته د نه تلو اجازه يې وغوښتله، او فرمايلي دي:

[۹۰] [او د مدينې منورې ښــار نه بهر ډاګو کې ميشــت] ځينې عذر غوښــتونکي باندې چيان رســول الله ته راغلل [او خپل عذرونه او پلمې يې ورته په مخکې کيښــودلې] ترڅو جهاد ته د تلو نه معاف ســي، او هغه کســان هم په خپلو کورونو کې کيناســتيدل [يعنى جهاد ته لاړ نسـول] چې دوی الله او پيغمبر دروغژن وګڼل [يعنى دوی د الله تعالى حکمونو نه ســرغړونه وکړه] او د باندې چيانو نه به هغو کســانوته چې کافران ســول ښه کړونکئ عذاب ورسيږي، يعنى کلکه سزا به ورکړه سي.

{ناروغان او نورمعذورکسان د جهاد نه معاف دي}

او په ور پســې مبارکو آيتونو کې الله تعالى ناروغانوته او نورو معذورو ضــعيفو کســانوته ز يرئ ورکړئ دئ چې دوی د جهاد نه معاف دي، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿لَّيْسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا۟ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۚ مَا عَلَى ٱلْمُحْسِنِينَ مِن سَبِيلٍ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩١﴾ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا۟ وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا۟ مَا يُنفِقُونَ ﴿٩٢﴾ إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَسْتَـْٔذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَآءُ ۚ رَضُوا۟ بِأَن يَكُونُوا۟ مَعَ ٱلْخَوَالِفِ وَطَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٩٣﴾﴾

[۹۱ - ۹۲] پرهغو کسانو باندې چې ضعیفه او بې وسې دي او یا ناروغ دي او یا د جهاد خرڅ نه لري، خو د الله او پیغمبر سره اخلاص لري [پردوی ټولو باندې] څه ګناه نسته که چیرې دوی جهاد ته لاړ نسول [ځکه یقیناچې دوی په خپل ایمان کې صادقان او ر ښتیونکي دي] او پر دغسې ښو کسانو باندې د نیوکې کمه لار نسته [یعنی جهاد ته په نه تللو سره نه ملامتیږي] او الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان پالونکئ ذات دئ، او هم پرهغو کسانو باندې څه ګناه نسته چې کله دوی تاته ای پیغمبره! راغلل ترڅو دوی د ځان سره سپاره کړي [یعني جهاد ته یې درسره بوزې] خو بیا دوی ته تا وو یل: د زما سره د سپرلۍ ځاروي نسته چې تاسې ور باندې سپاره کړم، نو بیا دوی بیرته وګرځیدل او د ډیر خفتیان نه یې اوښکې د سترګو نه بهیدلې، ځکه جهاد ته د تللو خرڅ او د سورلۍ ځارویې بیانموندل، یعنی د بې وسۍ لکبله پیغمبر سره د جهاد نه پاتې سول او د ثواب نه محروم سول.

[۹۳] خو د ملامتۍ لار یقینا هغو کسانو پرمخ خلاصه ده چې دوی غنیان دي [یعنی مال او دولت لري] خو بیا هم ستانه ای پیغمبره! اجازه غواړي چې په کورو کې کیني او جهاد ته لاړ نسي، او دوی په دې خوښ دي چې په کورو کې ناستو سپینږیرو، ښځو او نورو معذورو کسانو سره پاتې سي [یعني د الله په لار کې جهاد ته لاړ نسي] او د دغو کسانو زړونه الله

ټاپه کړي دي [یعنی مهرپې ور باندې وهلې دئ] خو دوی په دې نه پوهیږي، یعنی دا چې جهاد ته په تګ کې د دوی عزت دئ او په نه تګ کې یې خواري ده، نو د الله لخوا دوی ته چې د حکم نه یې سرغړونه وکړه، کلکه سزا ده.

{څوک چې بې عذره جهاد ته نه ځي ایمان یې ګواښل لاندې دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی منافقانوته اعلان کړئ دئ چې د دوی عذرونه او پلمې جهاد ته د نه تګ په باره کې نه منل کیږي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ ۚ قُل لَّا تَعْتَذِرُوا لَن نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا اللَّهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ ۚ وَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٤﴾ سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا انقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ ۖ فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ ۖ إِنَّهُمْ رِجْسٌ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٩٥﴾ يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۖ فَإِن تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَرْضَىٰ عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴿٩٦﴾﴾

[۹٤] ای مومنانو! [کله چې تاسې د تبوك غزا نه بیرته مدینې منورې ته] راستانه سوی، نو بیا منافقان تاسې ته عذرونه کړي [یعنی خپلې هغه پلمې درته وړاندې کوي چې دوی یې د غزا نه پاتې کړل] نو ته ای پیغمبره! دوی ته ووایه: پلمې او عذرونه مکړی، ځکه مونږ نور د ستاسې په خبرو باور نکړو، او مونږ د ستاسې زړونو نه الله په یقین سره خبر کړو، او الله او پیغمبرې د ستاسې کړنې و یې [یعنی دا چې آیا تاسې همداسې په خپل منافقت کې پاتې یاستی او که تو به مو و یستلې ده؟ او هرڅه به ښکاره سې] او د قیامت په ورځ چې پټ او ښکاره ټول یکې الله ته معلوم دي؛ تاسې ای منافقانو بیرته الله ته ورګرځول کیږي، نو بیا به الله تاسې د خپلو کړنو نه چې هغه تاسې په دنیا کې کړل خبر کړي او ثواب او سزا بې درکړي.

[۹۵] او ای مومنانو! [او د الله لارې مجاهدانو!] کله چې تاسې بیرته د تبوک غزا نه راوګرځیدلئ، نو بیا به دغه منافقان تاسې ته پرالله لوړې کړي او قسمونه به خوري، ترڅو تاسې د دوی نه تیر سئ [یعنی دوی ملامت نکړئ] نو تاسې ای مومنانو! ورڅخه تیر سئ، ځکه یقینا چې [د دوی زړونه د کفر په] چټلئ ناولي او تور دي او منافقانوته د دوی د بدو کړنو سزا ورکولو ځای د دوزخ اور دئ.

[۹۶] هو؛ ای مومنانو! دغه منافقان تاسې ته قسمونه خوري، ترڅو تاسې د دوی نه راضي او خوښ سئ [یعنی د دوی پلمې ومنئ] نو که تاسې د منافقانو نه راضي سوئ [او د دوی په پستو خبرو وغلیدلئ او هغه تاسې ومنلي، نو تاسې به د الله مخالفت کړئ وي] ځکه الله د فاسقانو نه هیڅ کله نه راضي کیږي، یعنی نو د مومنانو راضي کیدل دوی ته څه ګټه نه لري، او الله پردوی باندې په غوصه دئ، نو ښایي چې دغه منافقان کلکه تو به و باسي او په اخلاص سره ایمان راوړي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې رسول اللهﷺ سره د تبوک غزا ته تګ او د دښمن سره جهاد کړل، ډیر اړ ین بللي دي او په کورو کې پاتې کیدل او غزا ته نه تلل یې پرته د کم شرعي عذر نه لو یه ګناه بللې ده، ځکه هغه د منافقانو او د ښکاره کافرانو خوی دئ، نو ځکه الله تعالی منافقان کلک غندلي او رسوا کړي دي، او مومنانوته یې سپارښت او لارښودنه کړي ده چې کله تاسې د تبوک غزا نه بیرته راستانه سوئ، نو د منافقانو پلمې او عذرونه چې تاسې ته یې کړي؛ ونه منئ او خپل وخت د هغوی سره په خبرو کې مه ضائع کوي او ورڅخه همداسې تیرسئ، او مطمئن اوسیږئ چې الله به دوی ته په دنیا او په آخرت کې د دوی د بدو کړنو سخته سزا ورکړي او د جهنم اور به د دوی ځای کړي.

هو ګرانو دوستانو! یقینا چې د الله په لار کې جهاد د ایمان، کفر او د نفاق په منځ کې د بیلتون پر یکنده تله ده، نو ښایي چې هرمومن بنده په کلکه سره خپل ځان د نفاق نه وساتي، ترڅو د الله تعالی کړوونکې سزا هغه ته ونه رسیږي او د الله عذاب نه په امن کې سي.

{د کلیو او باندې خلکو نفاق ډیر کینه کښې نفاق دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې مومنان الله تعالی په باندې کې میشتو عر بانو د نفاق نه خبر کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿ٱلۡأَعۡرَابُ أَشَدُّ كُفۡرٗا وَنِفَاقٗا وَأَجۡدَرُ أَلَّا يَعۡلَمُواْ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٩٧ وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغۡرَمٗا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ ٱلدَّوَآئِرَۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٩٨ وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَٰتٍ عِندَ ٱللَّهِ وَصَلَوَٰتِ ٱلرَّسُولِۚ أَلَآ إِنَّهَا قُرۡبَةٞ لَّهُمۡۚ سَيُدۡخِلُهُمُ ٱللَّهُ فِي رَحۡمَتِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٩٩﴾

[٩٧] هو! باندې چیان اعراب [یعنی هغه کوچیان عرب چې د مدینې منورې ښار نه بهر په ډاکو کې میشت دي] په خپل کفر او نفاق کې د بل هرچانه ډیر کلک دي، او ښایي چې دوی د الله هغه حدود او پولې د روا او ناروا [حلا او حرام] په منځ کې ونه پیژني چې هغه الله پر خپل پیغمبر باندې رانازل کړې دي، او الله ښه پوه او کلک حکیم پالونکئ ذات دئ، یعنی د خپلو بنده ګانو پر زړونو ښه پوه دئ او په لوی حکمت او تدبیر سره د خپلو بنده ګانو چارې سمبالوي او هرچا سره د هغه لائق چلند کړي.

[٩٨] او د دغو باندې چیانو نه ځینې داسې څوک هم ستە چې هغه مال او دولت چې دوی لږوي [یعنی رسول الله ﷺ ته زکات او د خپل مال خیرات ورکوي؛ هغه دوی باج اخستل او ناحقه تاوان ورکول بولي او د ثواب امید نه لري] او دغه منافقان باندې چیان تاسې ته ای مومنانو! د زمانې څرخښ پیښوته انتظار باسي او ورته سترګې په لار دي، ترڅو د زکات او خیرات ورکولو نه خلاص سي، خو د زمانې دا بد څرخښت به پر دوی باندې وي، او الله ښه اور یدونکئ او ښه پوه ذات دئ، یعنی هرڅه ښه اوري او په هرڅه ښه پوهیږی، نو بیا هرچا ته د هغه لائق د ښو او

بدو کړنو ثواب او سزا ورکوي.

[۹۹] او په باندې چیانو اعرابو کې داسې څوک هم ستە چې پرالله او د آخرت په ورځ باور او ایمان لري، او هغه مال چې دوی خیرات او زکات ورکوي؛ د هغه ثواب د الله نه غواړي او د رسول الله دعاء ته په طمعه دي [نو ای مومنانو! په دې پوه سې چې د دوی دغه زکاتونه او خیراتونه] دوی الله ته ورلنډوي او الله به دوی د خپل رحمت لاندې ورننه باسي، او یقینا چې الله لوی بښونکئ، او ښه مهربان او پالونکئ ذات دئ.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې مومنان په کلیو او باندو کې میشتو ځینو منافقانو د تورو کینه کښو زړونو نه خبر کړي دي، ترڅو دوی په هغو باندې ونه غولیږي او په راسه درسه او په را کړه ورکړه کې ورسره محتاط او و یښ وي، خو بیا الله تعالی هغه باندې چیان نه دي هیر کړي چې دوی پرالله او د آخرت پرورځ باندې په خپل ایمان کې صادق او ر یښتیني دي، نو ښایي چې ټول په یوه تله ونه تلل سي او ښه خلک د بدو خلکو پرګناه ونه سوز یږي.

هو؛ قدرمنو دوستانو! د الله تعالی دا پیغام مونږ ته د انصاف او عدالت غوښتنې سپارښت دئ، نو مومنانو ته نه ښایي چې د یوه قوم او د یوې ډلې ټول وګړي په یوه تله وتلي او د هغوی په منځ کې د ښو او بدو کړنو تو پیر ونکړي، او داسې نه، لکه د اوسني وخت ځینې خپل سره قاضیان چې ټول ولسونه او قامونه د دوی د ځینې کسانو د بدو ګړنو په ګناه باندې رانیسي او په ناحقه تورونویې محاکمه کوي.

{مهاجر ینو او انصارو ته الله جنتو نه تیارکړي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مهاجر ینو او انصارو ته الله تعالی د جنتونو ز یرئ ورکړئ دئ او د منافقانو نه یې په مدینه منوره کې او د هغې په شاوو خوا کلیو کې مومنان خبر کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم

بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٠٠ وَمِمَّنۡ حَوۡلَكُم مِّنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مُنَٰفِقُونَۖ وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعۡلَمُهُمۡۖ نَحۡنُ نَعۡلَمُهُمۡۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيۡنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٖ ١٠١ وَءَاخَرُونَ ٱعۡتَرَفُواْ بِذُنُوبِهِمۡ خَلَطُواْ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٠٢ خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ١٠٣ أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَأۡخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٠٤

[۱۰۰] الله د پخوانيو مخکښــو مهاجر ينو نه او د دوی انصــارو او ور پسې پلو يانو نه خوښ او راضي سـه، او دوی د الله نه راضي سـول [ځکه دوی د نورو خلکو نـه پـه ايمـان راوړو او پـه هجرت کې د مکې نـه مدينې ته وړلاندی سـول او بيا انصـارو په مدينه کې د مهاجر ينو نه خوښ هرکلئ وکه او بيا دوی پسې وروسـته نورو خلکو هم ايمان راوړ او ور پسې تر قيامت ورځې پورې ولاړ دي، نو الله د دوی ټولو نه خوښ دئ او دوی د الله نه خوښ دي] او الله دوی ته په آخرت کې داسې جنتونه تيارکړي دي چې د سـيندونو و يالې پکې بهيږي، او دوی به هلته پکې تل پاتې اوسـيږي او دا لو يه بر يا او لاس ته راوړنه ده چې د دوی په برخه سؤ.

هو؛ درندو دوسـتانو! دا ز يرئ مونږ ته او ترقيامت ورځې پورې؛ ټولو هغو مومنانوته دئ چې دوی ايمان راوړئ دئ او د رسول الله ﷺ او دهغه يارانو (مهاجر ينو او انصـارو) په پله کلک ولاړ او روان دي، نو مونږ هم د الله تعالی نه د حق په سمه لار باندې همداسې ثبات او استقامت غواړو، نو الله ده مونږ ور باندې ټينګ کړي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی يوځل بيا خپل پيغمبر ﷺ او

ورسره مهاجر ین او ا نصار ملګري يې د منافقانو حال نه چې د دوی سره په مدینه منوره کې او د مدینې نه بهر په کلیو او باندو کې میشت ول؛ خبر کړي دي، او بیا يې منافقانو سره د دوی لائق چلند په باره کې ډیرې ارزښتناکه سپارښتنې ورته کړي دي، او فرمایلي دي:

[١٠١] ای پیغمبره او مومنانو! او هغه باندې چیان اعراب چې د ستاسې شا وخوا کلیو او باندو کې اوسیږي؛ منافقان دي، او د مدینې ځینې اوسیدونکي منافقان په خپل نفاق کې داسې ننوتي دي چې تاسې دوی نه پیژنی، خو مونږ يې پیژنو او دوی ته به دؤ ځله سزا ورکړو [یوځل به يې په دنیا کې رسوا کړو] او بیابه په آخرت کې دوی لوی عذاب ته وروګرځول سي، یعنی هلته به د خپل کفر او نفاق سزا وګالي.

[١٠٢] او ځینې نورو هغو کسانو [چې د بې پروایي او تنبلۍ نه د رسول الله ﷺ سره ملتیا ونکړه او د تبوك غزا ته ورسره لاړ نسول] دوی پرخپلو ګناهو باندې اقرار وکه [او پښیمانه سول] هو! دوی ښه او بد کړل [یعنی اطاعت او معصیت سره] ګډ کړل، نو کیدای سي چې الله د دوی پښیماني او تو به ومني او دوې و بښي، ځکه یقیناچې الله لوی بښونکئ او ښه لوی مهر بان پالونکئ ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روایت سوئ دئ چې د دې مبارك آیت مقصد ابو لبابه رضي الله عنه او ورسره ملګري يې ول چې د رسول الله ﷺ سره تبوك غزا ته لاړ نسول، خو بیا ډیر خفه او کلک پښیمانه ول او تو به يې وایستله، نو الله تعالی د دوی دا تو به قبوله کړه، نو یقینا چې د دوی پښیماني او تو به و یستل د ګناه نه د بل هرمومن بنده لپاره ښه لارښود او د زدکړې ښه غوره سبق دئ.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې د توبې و یستونکو منافقانو په باره کې رسول الله ﷺ ته الله تعالی لارښودنه کړي ده چې د دوی زکاتو نه واخله او په مړو باندې يې لمونځ وکړه، او فرمایلی دي:

[١٠٣] نو ای پیغمبره! د منافقانو د مال او دولت زکات واخله او په

دې [زکات او خیرات ســره] دوی د ګناه نه پاک کړه [یعنی د منافقانو نه دوی بیل کړه] او دعاء ورته وکړه [یعنی د الله نه دوی ته ښـــنه وغواړه] ځکه یقیناچې د ســتا دعاء دوی ته ډاډ او اطمئنان دئ او زړونه یې نور ډاډه کیږي، او الله ښه اور یدونکئ او ښه پوه پالونکئ څښتن دئ، یعنی د خپلو بنده ګانو دعاء اوري او زاري یې قبلوي او د تیروتنو نه یې تیریږي.

[١٠٤] او آیا دغه کسان په دې نه پوهیدل؟ چې الله د خپلو بنده ګانو تو به قبلوي او خیراتونه یې اخلي او هغه مني [او ثواب یې ورکوي] او یقینا چې یوازې الله د تو بو ښه قبلونکئ څښتن، او ښه مهر بان ذات دئ، یعنی دا چې ښـــایي مونږ په دي پوه ســو چې الله تعالی د خپل هغه ګناه کړونکي بنده تو به قبلوي چې هغه په پوره اخلاص ســره او د زړه له کومي الله ته رجوع وکړي او د خپلې تیروتنې او ګناه نه تو به و باسي او د الله رحمت نه هیڅ کله ناهیله نسي او امید یې د خپل پالونکي خدای نه ونشکیږي.

{ښه کړل پر مومنانو فرض دي او الله ورته ثواب ورکوي}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی دغو تو به و یســتونکو کسانو ته سپارښت کړئ دئ چې ښه ده وکړي، ځکه دوی الله او پیغمبر و یې او بیا په آخرت کې هرچاته الله تعالی د خپل ښه عمل ثواب ورکوي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۖ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥ وَءَاخَرُونَ مُرۡجَوۡنَ لِأَمۡرِ ٱللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمۡ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيۡهِمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ١٠٦﴾

[١٠٥] ای پیغمبره! [دغو کسانو ته چې دوی د ستا سره تبوک غزا ته لاړ نسول او اوس پښیمانه دي] ووایه: د الله اطاعت او عبادت وکړئ! [او د ناروا او بدو کړنو نه ځانونه وســاتي] نو بیا به الله او د هغه پیغمبر او مومنان د ستاسې ښه عملونه او کړنې وو یني [یعنی د ستاسې ایمان او صــداقت نه به ډاډه او مطمئن ســي] او بیا تاســې د قیامت په ورځ د الله

حضورته ورګرځول کيږي [يعنی الله تعالی د ستاسې په پټو او ښکاره ټول حال باندې ښه پوهيږي] نو بيا الله تاسې د خپلو هغو کړنو نه خبروي چې هغه تاسې په دنيا کې کړل.

[١٠٦] [او د تبوك غزا نه پاتې سوو کسانو نه] نور هغه څوک دي چې د الله حکم ته هيلمن دي چې الله به د دوی تو به قبوله کړي او يا به دوی ته سزا ورکړي! او الله ښه پوه او کلک حکيم پالونکئ ذات دئ، يعنی د خپلو بنده ګانو چارې په لوی علم او پوهې او حکمت سره چلوي او پالي يې او هر چاته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

قدرمنو عز يزانو! الله تعالی چې ښه پوه او لوی حکيم، منصف او پالونکئ ذات دئ، نو خپلو بنده ګانوته يې هم په پوره علم، حکمت او عدالت سره د چلند سپارښت او لارښودنه کړي ده، او په دغو مبارکو آيتونو کې چې پښتو معنايي دلته بيان سؤ؛ لمړئ الله تعالی رسول اللهﷺ او مومنان د باندې چيانو اعرابو او د منافقانو د ډيرو نورو ډلو د بيلو بيلو خو يونو نه خبر کړي دي، او بيايې دوی د منافقانو د دغو کرغيړنو زړونو کينه کښو مقصدونو نه کلک ګواښلي دي، او بيا الله تعالی په کليو او باندو کې ميشتو خلکو نه؛ د هغو کسانو سپيناوئ کړئ دئ چې دوی په پوره صداقت او اخلاص سره ايمان راوړئ دئ او د خپل مال او دولت زکات د الله رضا لپاره ورکوي، ترڅو دغه مخلص باندې چيان د نورو ګناه ګارو باندې چيانو په ډله کې ونه شميرل سي او يو د بل نه سره بيل سي، او هرڅوک خپل حق ته ورسيږي او ثواب وګټي او د عذاب او د الله سزا نه په امن کې سي او ډاډمن ژوند ولري.

ګرانو دوستانو! او همدارنګه الله تعالی مهاجر ين او انصار کلک ستايلي دي او بيايې دوی په مدينه منوره کې د ميشتو منافقانو د کرجنو مقصدونو نه خبر کړي دي او ورڅخه يې کلک ګواښلي دي، او همدارنګه الله تعالی هغو مومنانوته چې په خپله ګناه يې اقرار وکه اطمئنان او ډاډ ورکړئ دئ چې د توبې و يستلو ورونه د هغوی پرمخ خلاص دي.

هو! یقینا چې دغه الهي لارښـــودنې او ســپارښــتنې ټولو مومنانوته او په ځانګړي ډول اسلام ته رابلونکو علماوو او دعاتوته ډیرې غوره سپارښتنې دي، نو دوی تـه ښـــایي چې پرخپلو ځـانو هغـه عملي کړي او په ژونـد کې ورځخه ګټه واخلي او خپله مومنه ټولنه ښه کلکه ور باندې وروزي، ترڅو د هغې نه یوه صالحه ټولنه جوړه کړي.

{د ضرار مسجد منافقانو مومنانوسره دښمنۍ لپاره جوړکه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د منافقانو یوه بله توطئه او چل د مومنانو پرضـد رسـوا کړئ دئ، او رسـول الله ﷺ ته یې سـپارښـت کړئ دئ چې هیڅ کله د دوی په مسجد کې لمونځ ونکړي، او فرمایلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسۡجِدٗا ضِرَارٗا وَكُفۡرٗا وَتَفۡرِيقَۢا بَيۡنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَإِرۡصَادٗا لِّمَنۡ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبۡلُۚ وَلَيَحۡلِفُنَّ إِنۡ أَرَدۡنَآ إِلَّا ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١٠٧ لَا تَقُمۡ فِيهِ أَبَدٗاۚ لَّمَسۡجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقۡوَىٰ مِنۡ أَوَّلِ يَوۡمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِۚ فِيهِ رِجَالٞ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُطَّهِّرِينَ ١٠٨ أَفَمَنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ تَقۡوَىٰ مِنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٍ خَيۡرٌ أَم مَّنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٖ فَٱنۡهَارَ بِهِۦ فِي نَارِ جَهَنَّمَۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٩ لَا يَزَالُ بُنۡيَٰنُهُمُ ٱلَّذِي بَنَوۡاْ رِيبَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ١١٠﴾

[۱۰۷] [ای پیغمبره! او د منافقانو نه] نور هغه کســان دي چې دوی خپلو ځانوته بیل مسجد ودان که [ترڅو په دې پلمه په زړو کې همداسې کافران پاتې سي] او مومنانوته ضرر او ز یان ورسوي او د مومنانو په منځ کې اختلاف او تفرقه واچوي [یعنی دوی ســره بیل بیل او ټوټه ټوټه کړي] او دا مسـجد د هغه چا لپاره مورچل جوړ سـي؛ چې دوی د پخوا نه د الله

او د هغه پیغمبر سره جګړه وکړه [او ورسره په دښمنۍ کې ول، لکه ابوعامر الراهب، خو بیا همدغه منافقان رسول اللهﷺ ته راغلل] او قسمونه پې وخوړل چې مونږ خیر غوښته، خو الله شاهدي وایي چې دا کسان یقینا دروغژن دي.

[۱۰۸] نو ای پیغمبره! ته په دې مسجد کې [چې هغه د ضرار مسجد دئ] د لمانځه کړو لپاره ونه در یږي او لمونځ پکې ونکړي [او د دغو منافقانو په دروغژونو لوړو او قسمونو باندې باور ونکړي] او یقینا هغه مسجد چې د لمړۍ ورځې نه په تقوا سره ودان سوئ دئ؛ هغه غوره مسجد دئ چې ته پکې په لمانځه ودر یږي [یعنی ته ای پیغمبره! د قباء مسجد کې لمونځ وکړه، ځکه هغه د رسول اللهﷺ د هجرت په لمړ یو ورځو کې په قباء کې ودان سه] او په دې مسجد کې [چې پر تقوا او د الله عذاب نه د ځان ساتنې په مقصد ودان سوی دئ] هغه کسان لمونځ کړي چې پټه او ښکاره پاکي د دوی خوښیږي، او ښه کسان پرالله ګران دي، یعنی نو ځکه دوی خپل ځانونه د کفر او شرك نه پاک کړي دي.

[۱۰۹] نو آیا هغه چاچې د مسجد یا جومات ودانۍ بنسټ د الله عذاب نه د ځان ساتنې او د الله رضا او خوښۍ لپاره کیښود؛ هغه ښه مخلص مومن دئ؟ او که هغه څوك چې د مسجد ودانۍ بنسټ پې، لکه د ښو ییدلې پاندې په څنډه کیښود؟ نو بیا چې کله دا ودانه په ژنګیدو سؤ د خپل ودانونکي سره یوځای د جهنم اور په ګړنګ کې ولو یده؟ [ځواب دا چې: نا دا دواړه هیڅ کله سره برابرې نه دي، او هغه څوك غوره دئ چې مسجد پې د الله عذاب و یرې نه او د ثواب په طمعه جوړ او ودان که] او ظالم قوم ته الله هدایت نکړي، یعنی هغه ته په سمه لار د تګ توفیق نه ورکوي، نو همداسې به د حق لارې نه ورك وي.

[۱۱۰] او دا د ضرار مسجد ودانه چې منافقانو جوړه کړه [او بیا وروسته د رسول ﷺ په حکم ړنګه سؤ] هغه لا تر اوسه د منافقانو په زړونو کې د شك داغ ده، مګر دا چې د دوی زړونه توته توته سي او د نفاق شکونه ورڅخه ووځي، او الله ښه پوه او لوی حکیم ذات دئ، یعنی د خپلو

بنده ګانو په زړونو باندې ښه پوه دئ او هر چا سره د هغه لائق چلند او سپارښت کړي.

درندو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ او مومنان د منافقانو د بدو خو يونو، او دروغژنو پلمو نه خبر کړي دي، ترڅو دوی تل و يښ وي او د دښمن توطئيو په لومو کې ونښلي، او يقينا چې بشري ټولني په هر عصر او په هر وقت کې د حق سره د دغې دښمنو ډلو نه ډکې دي، نو ښايي چې د پيغمبر ﷺ دعوت کونکې وارثان او صادق مومنان د دغې قرآني لارښودنو او سپارښتونو نه په ګټې اخستلو سره خپل موقف، در يځ او چلند د منافقانو سره ښه تنظيم او برابر کړي، ترڅو د دوی شر نه په امن کې پاتې سي.

{د الله تعالى ډالۍ مجاهدينو ته جنتو نه دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى هغو مومنانو ته د جنتونو ز يرئ ورکړئ دئ چې دوی خپل سرونه د الله په لار کې قر بانوي، او بيايې د دغو متقيانو صفتونه د الله تعالى په اطاعت او بنده ګۍ کې ياد کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿* إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِۚ فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي بَايَعۡتُم بِهِۦۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١١١ ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلۡعَٰبِدُونَ ٱلۡحَٰمِدُونَ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّٰجِدُونَ ٱلۡأٓمِرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡحَٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١١٢﴾

[١١١] هو! يقينا چې الله د مومنانو نه د دوی سرونه او مالونه د جنتونو په بيعه واخستل [يعنې دغو غاز يانو او شهيدانوته الله تعالى د

دوی د سر او مال په بیعه کې جنتونه ورکوي] ځکه دوی د الله په لار کې د کافر دښمن سره جګړه کړي او د [الله او پیغمبر دښمنان] وژني او دوی هم وژل کیږي [یعنی مومنان په شهادت رسیږي] او د الله دا وعده د هغوی سره پرالله باندې حق ده، او هغه یې په تورات، انجیل او په قرآن کې یاده کړې او بیان کړې ده، او بل څوک د الله نه پرته په خپله هوکړه او وعده باندې ډیر وفاء کونکئ او کلک ولاړ دئ؟ [ځواب دا چې هیڅ څوک د الله تعالی نه په خپلو وعدو او هوکړو کې ډیر وفاء دار او صادق نه دئ] نو ای مومنانو! [یعنی د الله لارې غاز یانو او شهیدانو!] تاسې ته ده د خپلې دغې لویې بیعې یې ز یرئ وي چې تاسې خپل ځانونه ور باندې و پرولل او پرې خرڅ مو کړل [نو په دې لو یه ډالۍ چې هغه په آخرت کې د الله خواره واره شنه بڼونه یا باغونه دي] خوښ سی او هغه تاسې ته لو یه بر یا ده.

[۱۱۲] [او د دغو مومنانو نور ښه صفتونه دا دي] چې دوی الله ته ورکړځیدلي دي او توبې باسي او د الله عبادت او ستاینه کړي او د الله په لار کې خوله په روژه جهاد ته وځي او پردیسي دي، او پر رکوع او سجدو کړو سره پرلمنځونو لګیا دي، او نورو خلکوته په ښو کړنو سپارښت کړي او د بدو کړنو نه یې منعې کوي او په حلالو او حرامو کې د الله حدودو او پولو ساتونکي دي، نو ای پیغمبره! دا ز یري مومنانوته ورکړه، یعنی دا چې ترڅو دوی ور باندې خوښ سي.

قدرمنو دوستانو! نو ښایي چې په اوسني عصر کې د مومنانو مسلح ځواکونه تل د خپل دین، ځان، عزت او ناموس نه د دفاع په مور چلو او سنګرو کې په میړا نه وجنګیږي او د الله دغسې لو یو انعامونوته په طمعه وي او شپه او ورځ د خپل پالونکي څښتن الله په اطاعت کې لګیا وي او خپل قوم ته په ښو کړنو بلنه ورکړي، او د بدو کړنو نه یې په منعې کولو سره دګناه نه کلک وساتي.

{پیغمبر او مومنان ده کافر انو ته د الله نه بښنه نه غواړي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی پیغمبرﷺ او مومنان

کافرانوته که څه هم دغه کافران د دوی خپلوان وي؛ د دعا کړو، سپارښت او د بښنې غوښتنې نه؛ کلک منع کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ وَلَوۡ كَانُوٓاْ أُوْلِي قُرۡبَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ١١٣ وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٞ ١١٤ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِلَّ قَوۡمَۢا بَعۡدَ إِذۡ هَدَىٰهُمۡ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ١١٥ إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ١١٦﴾

[١١٣] [هو! کله چې پيغمبر او مومنان په دې پۀ سول چې مشرکان يقينا دوزخيان دي] نو بيا دوی ته نه ښايیدل چې مشرکانوته د الله نه بښنه وغواړي، که څه هم دا کافران د پيغمبر او د مومنانو خپلوان وي.

[١١٤] او ابراهيم خپل پلار (آزر) ته د ورکړل سوې وعدې سره سم؛ بښنه وغوښتله، خو کله چې هغه ته ښکاره سۀ چې پلارې د الله دښمن دئ [ځکه وعظ او نصيحت يې ونه ما نه] نو بيايې خپله بې زاري ورڅخه اعلان کړه، او يقينا چې ابراهيم د الله يو عابد بنده او صبرناک پيغمبر ۀ.

ګرانو عز يزانو! د دغو مبارکو آيتونو په اړوند روايت سوئ دئ چې رسول الله ﷺ غوښتل خپل تره ابو طالب ته د الله نه بښنه وغواړي، نو بيا الله تعالى دئ د دغسې دعاء نه منع که، ځکه ابو طالب د دنيا نه کافر تللئ دئ او کافر الله نه بښي، لکه څنګه چې د ابراهيم په دعاء الله د هغه پلار ونه بښه، يعنى نو ابو طالب به هم د خپل کفر سزا په آخرت کې وڅکي، لکه څنګه چې يې بيان په قرآن کې په وار وار سره راغلئ دئ!

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول الله ﷺ او مومنانوته

چې دوی خپلو کافرانو خپلوانوته د دعاء کړو او د بښنې غوښتنې نیت او قصد درلود؛ ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ او خپله ټولواکي یې پرټولو مخلوقاتو باندې په ځمکه او اسمانو کې دوی ته په کلک استدلال سره یاده کړې ده، او فرمایلي دي:

[١١٥] او وروسته لدې چې الله یو قوم سمې لارې ته هدایت کړي، نور نو دوی د سمې لارې نه هیڅ کله نه ورکوي [یعنی د سمې لارې نه یې نه اړوي، ځکه الله تعالی خپلو بنده ګانوته ښادي او خیر غواړي] ترڅو دوی ته د تقوا لار چې د الله عذاب نه ځان ساتنه ده؛ وروښيي [او د دین ټول حکمونه او مسئلې ورته بیان کړي] او بیا دوی خپل ځانونه ور باندې د ورکتیا نه وساتي، او یقینا چې الله پرټولو شیانو ښه پوه دئ، یعنی الله تعالی هرچاته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[١١٦] او یقینا چې د ځمکې او اسمانو ټولواک الله دئ، او هم الله دئ چې څوک راژوندي کوي او څوک مړه کوي، او ای خلکو! تاسې د الله نه پرته بل هیڅ څوک ملګرئ او مرستندوي نه لري، یعنی د ټولو مخلوقاتو د مرګ او ژوند مالك یوازې الله دئ، نو پرخپل پالونکي څښتن الله باندې اعتماد وکړئ او سپارښتنې یې عملي کړي.

{د تبوك غزا مجاهدینو ته الله لخوا د توبې قبلیدو ز یرئ ؤ}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې مجاهدینوته ز یرئ ورکړئ دئ چې د تبوك غزا د توبې قبلیدو غزا وه، او فرمایلي دي:

﴿لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ ٱلْعُسْرَةِ مِنۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّهُۥ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٧﴾ وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلْجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوٓاْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ

﴿ ١١٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ١١٩ ﴾

[١١٧] هو! يقينا چې الله د پيغمبر او ورسره ملګرو هغو مهاجر ينو او انصارو تو به قبوله کړه چې دوی په ډير سخت حالت کې د رسول الله ملتيا وکړه [او ورسره د تبوك غزا ته لاړل] او دا وروسته له هغې چې لنډه ؤ د دوی د يوې ډلې زړونه کاږه سي [يعنی د حق نه واوړي، خو بيا الله تعالی پر دغو کسانو باندې اساني راوسته او پر خپل ايمان يې ټينګ کړل] او د دوی تو به يې قبوله کړه، ځکه يقيناچې الله پر دغو صحابوو باندې زړه سواندئ او مهر بان لوی ذات دئ.

[١١٨] او د هغو درې کسانو تو به هم الله قبوله کړه [چې دوی پرته د کم عذر د تبوك غزا نه پاتې سوي ول، خو بيا دوی کلک پښيمانه ول او رسول اللهﷺ ته يې هيڅ عذر او پلمه وړلاندې نکړه، نو رسول اللهﷺ هم دوی الله ته وسپارل] نو بيا ځمکه ده لو يتيا سره؛ پر دوی راتنګه سوه او زړونه يې کلک په تنګ سول، او په فکر کړو سره پوه سول چې د الله نه پرته بل هيڅ څوک د دوی مرستندوی نسته [نو بيا الله تعالی دوی ته د توبې لار وښودله، ترڅو الله ته وروګرځي او تو به و باسي] نو بيايې تو به الله قبوله کړه، ځکه يقينا چې الله د توبې لوی قبلونکئ او ښه کلک پالونکئ او مهر بان ذات دئ.

او په ور پسې مبارك آيت کې مومنانو ته الله تعالی سپارښت کړئ دئ چې د الله عذاب نه ځانونه وساتي او د ر يښتينکو مخلصو کسانو ملګري او دوستان سي، او فرمايلي دي:

[١١٩] ای مومنانو! د الله نه وو ير يږی [او د سزا نه يې خپل ځانونه په اطاعت او بنده ګی سره وساتی] او د صادقانو او ر يښتينکو کسانو پلو يان سی، يعنی دا ځکه چې هغوي ر يښتيا وايي او دروغژن نه دي، لکه دغه دري کسه مومنان چې پرته د کم عذره نه د تبوك غزا نه پاتې سول او بيا چې کله رسول اللهﷺ بيرته مدينې ته راستون سه، نو دوی هيڅ پلمې ونکړې او په خپله ګناه يې اقرار وکه او ر يښتيايې وو يل، نو ښايي چې ټول

مومنان د دغسي صادقانو ملتيا وکړي او په څنګ کې يې ودر يږي، او د ګناه نه د دوی غونده ر يښتينې تو به و باسي.

ګرانو دوستانو! دغه درې کسه انصار مومنان چې د رسول الله ﷺ سره تبوک غزا ته لاړ نسول؛ ډير خفه او پښيمانه ول، نو رسول الله ﷺ ته يې هم پلمې ونکړې، ترڅو دوی معاف کړي، نو بيا دوی همداسې خفه پاتې سول او الله ته يې مخه کړه او په زاړۍ سره يې دعاء وکړه، ترڅو دوی الله تعالى و بښې، نو بيا الله دوی و بښبل او تو به يې قبوله کړه او نورو مومنانو ته يې هم د دغسې صادقانو ملتيا سپارښت وکه، نو يقينا چې دا د هغوی په لوړ مقام باندې ښه ز يرئ دئ، او دغه درې کسه ر يښتونکي او صادق مومنان هر يو: کعب بن مالك، مرارة بن الربيع او هلال بن اميه رضي الله عنهم ول، او د قرآن دا مبارك آيتونه د دوی په ستاينه کې رانازل سوي دي، او د دوی دا در يځ مخلصو مومنانو ته ښه لارښود پيغام دئ.

{د مدينې خلک تبوک غزا ته په نه تګ الله کلک ملامت کړل}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې د تبوک غزا نه پاتې سوي کسان الله تعالى کلک ملامت کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿مَا كَانَ لِأَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُوا۟ عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا۟ بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِۦ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٌ صَٰلِحٌ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾ * وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا۟ كَآفَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا۟ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا۟ قَوْمَهُمْ

إِذَا رَجَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَحۡذَرُونَ ١٢٢

[١٢٠] د مدينې او د هغې په شـــا وخوا کليو او بانډو کې ميشـــتو کوچيانو ته نه ښـــايېدل چې د رســـول الله ســـره ملګرتيا نه تبوک غزا ته؛ پاتې سي [يعنی ورسـره جهاد ته ملګري لاړ نسـي] او خپل ځانونه د پيغمبر ځان نه وسپموي [يعنی په کورو کې په دمې کړو او ناستې خوښ وي] او دا ځکه چې دوی ته د الله لارې په جهاد کې؛ هيڅ تنده، ســـترېا او ولږه نه رســـيږي او د کافران غوصـــه کولو په لار کې هيڅ ګام نږدي [او د الله، پيغمبر او د مومنانو] دښمن ته پکې [هيڅ مالي او ځاني] ز يان او تاوان نه رسـوی، مګر دا چې دوی ته يې په عوض کې ښـه عمل ليکل کيږي، او يقينا چې الله د ښو کړنو خاوندانو ثواب او اجر نه ضائع کوي.

[١٢١] او دغه د الله لارې غاز يان په جهاد کې لږ او يا ډير مال نه لږوي او خرڅ نکړي، او د هيڅ يوې تالې او تنګي نه بلې تالې او تنګي ته نه اوړي او ورڅخه نه تيريږي، مګر دا چې ثواب يې دوی ته ليکل کيږي، ترڅو الله دوی ته د دوی د دغو ښـو کړنو نه لا ښـه ډير ثواب ورکړي، يعنی الله تعالی دوی ته په آخرت کې جنتونه ورکوي.

او په ور پسـې مبارک آيت کې الله تعالی مومنانو ته لارښـودنه کړې ده چې ځينې کسـان ده علم او زدکړې پسې ولېږي، او فرمايلي دي:

[١٢٢] هوا! ټول مومنان دې ته تيار نه ول چې د دښـمن سـره د جګړې ډګر ته يوځای ورودانګي [لکه څنګه چې دوی ته نه ښـــايېدل چې ټول په کورو کې کيني او جهاد ته لاړ نسـي] نو بيا ولې د دوی د هرې ډلې نه يو ټولۍ کسـان [جهاد ته او د الله په لار کې غزا ته لاړ نسـول او د رسـول اللهﷺ ملګرتيا پې ونکړه؟] ترڅو خپل دين باندې ښـه پوه سـي او مسـئلې پې زده کړي، او بيا چې کله بيرته خپلو کورو ته راسـتانه سـول؛ خپل قوم ته ده د الله د دين حکمونه ورزده کړي، او دوی د الله عذاب نه وو يروي، ترڅو په ښـــه عمل کړو ســـره خپل ځانونه د عذاب نه وســـاتي، يعنی احتياط وکړي او روا او نـاروا، حلالو او حرامو تـه پې کلـک پـام وي او د ګنـاه نـه

ځانونه وساتي او د الله حکمونه ښه پرځای او تطبیق کړي.

عزتمنو دوســتانو! په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی لمړئ د مدینې منورې او د هغې نه بهر میشــت عر بانو کوچیانو کلیوال او باندې چیان چې د رسول اللهﷺ سره تبوک غزا ته لاړ نسول؛ ملامت کړي دي او کلکه ګیله پې ورڅخه کړې ده، ځکه د الله تعالی په لار کې په سـر او مال باندې جهاد کړل ډیر ثواب لري او د غازي او شهید مقام لوړ او رتبه پې جګه ده، او بیا الله تعالی جهاد د علم ســره تړلئ دئ او مومنان پې هڅولي دي چې ښـایي د دوی نه ځینې کسـان د رسـول اللهﷺ سـره په غزاګانو کې برخه واخلي او د پیغمبر ﷺ ملګرتیـا وکړي، ترڅو دوی خپـل هغـه علم چې د محمد رسـول اللهﷺ سـره پې په ملګرتیا کې حاصـل کړئ دئ؛ هغه خپلو پاتي خلکو ته چې په کورو کې ناسـت ول او غزا ته نۀ تللي ورسـوي او دوی تـه پې ورزده کړي، ترڅو دوی ورڅخـه ګټـه واخلي او د اللـه تعـالی نـه پـه اطاعت سـره خپل ځانونه د الله سـزا نه په علم او پوهې سـره وسـاتي، او یقیناچې دا مبارك آیت د علم او پوهې په ارزښــت باندې لوی دلیل دئ، او هغه دا چې د علم او زدکړې لړۍ ښـایی هیڅکله ونه درول نسـي، یعنی نه ډب سـي او نه وزنډول سـي، او د جهاد په مزلو کې هم ښـایي د علم زدکړه جاري وي، خو دلته د علم نه یوازې شرعي علم، لکه د عباداتو، معاملاتو او نورو شرعي علومو حکمونو پیژندل مقصد دي.

او دا وضـاحت هم دلته د پام وړ دئ چې په دین کې پوهې او زدکړې ته د هڅولو دا سـپارښــت د الله تعالی لخوا عام دئ، نو ښـایي چې مومنان هیڅ کله هغه هیر نکړي او په دین کې د پوهني لپاره خپله تک لاره ولري او تل د هغه په زدکړه کې ز یار و باســي او په دې لار کې پراته خنډونه لرې کړي.

{جګړه مارکافرسره جهاد د جګړې مخنیوئ لپاره فرض دئ}

او په ور پســې مبارك آیت کې الله تعالی مومنان کافرانو ســره جهاد ته رابللي او کلک پې ورته هڅولي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ وَلۡيَجِدُواْ فِيكُمۡ غِلۡظَةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ١٢٣﴾

[١٢٣] ای مومنانو! هغو [جګړه مارو] کافرانوسره چې تاسې ته لنډ په څنګ یا ګاونډ کې پراته دي؛ جګړه وکړئ، او ای مومنانو! تاسې ته ښایي چې کافران درڅخه کلک تصمیم او پر یکنده چلند بیامومي [یعنی ښایي کافران پوه سي چې مومنان د کلکې ارادې او د قوي تصمیم څښتن دي] او تاسې هم ای مومنانو! پوه سئ چې الله د متقیان مل دئ، یعنی الله تعالی د هغو کسانو مل او مرستندوی دئ چې دوی د الله نه کلک و یر یږي او د الله تعالی حکمونو نه په اطاعت سره ځانونه د الله تعالی عذاب نه ساتي، ځکه دوی ر ښتیني متقیان دي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی دلته د (قاتلوا) کلمې په حکم مومنان د جګړه مارو کافرانو سره جګړې ته رابللي او هڅولي دي، ځکه د (قاتلوا) معنا په عربي ژ به کې دا ده چې دغه د مومنانو په ګاونډ کې پراته کافران مومنانو ته ګوابښ دي، ځکه هغوی تل مومنانو سره جګړې ته تیار سئ دي، نو ځکه د دغسې حالت نه پرته بیا مومنانو ته روا نده چې د خولې جهاد او د الله دین ته د خلکو دعوت؛ پر توده جګړه بدل کړي، او بشري ټولنې د اقتدار غوښتنې په جګړو کې ښکیل کړي، لکه څنګه چې بشر یت د شلمې میلادي پیړۍ خونړ یو نړۍ واړو جګړو اور په لمبوکې وکړ یده او هیوادونه ړنګ سول او ولسونه تباه سول!

{ قرآن مومنانو ته د خوښۍ او کافرانو ته د ګوابښ پیغام دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مونږ الله تعالی د قرآن سورو په رانازلیدو سره د مومنانو خوښۍ او د ایمان قوت او د کافرانو او منافقانو د خفتیان او ګناه ډر یدلو نه خبر کړي یو، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ فَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمۡ زَادَتۡهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنٗاۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَزَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَهُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ١٢٤ وَأَمَّا

ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَىٰ رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿١٢٥﴾ أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾ وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ هَلْ يَرَىٰكُم مِّنْ أَحَدٍ ثُمَّ ٱنصَرَفُوا۟ صَرَفَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُم بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٢٧﴾

[١٢٤] او کله چې به د قرآن یو سوره [پر پیغمبرﷺ باندې] رانازله سوه، نو بیا به منافقانو یو بل ته د پسخند نه و یل: دې سورې ستاسې نه د چا ایمان ډیر که؟ هو! د دې سورې په را نازلیدلو سره د هغو کسانو ایمان ډیر سه چې دوی [پر الله او د هغه پر کتاب (قرآن) باندې د زړه له کومې] ایمان راوړئ دئ [یعنی منافقان نه دي] او مومنان د قرآن سورو په رانازلیدو سره خوښیږي، یعنی دا ځکه چې دوی ته پکی د الله تعالی ډیر حکمونه او لارښودنې راغلې دي او د الله پر حکمونوپې پوهاوئ ډیر یږي.

[١٢٥] او د هغو کسانو په زړه کې چې ناروغي ده [لکه منافقان] نو د دوی د زړونو چټلې یوه بلې پسې ډیر یږي او دوی همداسې په کفر کې مري، یعنی ترڅو د الله تعالی وعدو سره سم د جهنم په اور کې وکړ یږي.

[١٢٦] [او آیا دغه منافقان چې زړونه یې د کفر په ناروغۍ تور سوي دي] نه و یې چې دوی هر کال یوځل یا دوه ځله ازمایښت کیږي [یعنی سختي او ستونزې ور باندې راځي] خو بیا هم تو به نه باسي [یعنی د کفر او نفاق نه ایمان ته نه را اوړي] او د الله لو یو قدرتونو ازمایښت نه پند نه اخلي، یعنی دا چې زړونه یې د کفر او نفاق ټاپو تور کړي دي!

[١٢٧] او کله چې د قرآن یو سوره رانازله سي، نو منافقان یو بل ته په سترګګ وهلو سره ګوري [یعنی خپله کرکه راښکاره کوي، او بیا یو بل ته وایي: که تاسې د پیغمبر مجلس نه راجګ سوی او ورڅخه را ووتلی] نو آیا تاسې څوک و یې؟ او بیا [چې کله د چا پام نه وي همداسي را ولاړ سی] او د مجلس نه راووځي! [هو؛ ای مومنانو!] د منافقانو زړونه الله د ایمان نه

واړول، ځکه منافقان یقینا داسې خلک دي چې په څه نه پوهیږي، یعنی د الله تعالی کتاب په آیتونو کې ښه ژور فکر نکړي، ترڅو ورڅخه ګټه واخلي او خپلو ځانو ته دآخرت ورځې لپاره توښه تیاره کړي.

ګرانو دوســتانو! په دغو مبارکو آیتونو کې الله تعالی د مومنانو، کافرانو او د منافقانو در یځونه د قرآن کر یم نو یو ســورو را نازلیدو په باره کې ډیر روښــانه مونږ ته یاد کړي او بیان کړي دي، او هغه دا چې د مومنانو زړونه د قران آیتونو په را نازلیدو ســره رڼا کیږي او ایمان او علم یې د الله تعالی پر حکمونو ډیر یږي، خو د کافرانو او منافقانو زړونه لا تور یږي، ځکه د دوی د زړونو پټې کینې د قرآن رڼا په لار کې خنډ ګرځي، نو دوی د الله لوی رحمت نه همداسې محروم او بې برخې پاتې کیږي، او هیڅ ګټه ورڅخه نه اخلي، لکه د بده مرغه په افغانســتان کې د وروســتیو څه باندې څلو یښتو کلنو منافقان چې زړونه یې همداسې د شیطان په ولکه کې زنګ ځلي تور پاتې دي او د دې ترخو تجر بو نه یې عبرت ندئ اخستئ!

{د الله تعالی قریشي پیغمبرﷺ پر مومنانو زړه سو اندئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې مومنانو ته الله تعالی ز یرئ ورکړئ دئ چې پیغمبر محمدﷺ ور باندې ښه زړه سواندئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَهُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١٢٩﴾﴾

[١٢٨] ای مومنانو! یقینا چې تاسې ته د ستاسې منځ نه داسې پیغمبر راغئ چې پر هغه باندې د ستاسې ستړیا او تاسې ته ز یان رسیدل درانده تمامیږي [یعنی محمد رسوالله ﷺ پرخپل قوم کلک زور یږي] او دا پیغمبر پرمومنانو ښه زړه سواندئ او ډیر مهر بان دئ، یعنی د دوی په زدکړه او ښه روزنه کې ښه ستړئ لګیا دئ، او د الله کتاب دوی ته رسوي او هغه ورزده کوی او مومنان ور باندې ښه روزي.

[١٢٩] نو ای پیغمبره! [که بیا هم دغو کافرانو او منافقانو] د ستانه مخ واړا ؤ او ایمان رانوړ، نو ته دوی ته ووایه: الله [چې واحد او لاشریك ذات دئ] او د هغه نه پرته بل په حق سره معبود نسته؛ هغه ماته بس دئ او ما پرالله باندې توکل او پروسعه کړي ده [یعنی ما خپل ځان په الله باندې سپارلئ دئ] او الله د لوی عرش څښتن دئ، یعنی الله چې پر ټولو مخلوقاتو باندې جګ او لوړ واکمن ذات دئ، نو د عرش نه ټول مخلوقات څاري او چارې یې سمبالوي، او مومنان د کافرانو او منافقانو نه بیلوي او ځانګړې پاملرنه ورته کړي، او همداسې االله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې چې د التوبې مبارکې سورې وروستي آیتونه دي؛ یوځل بیا د منافقانو تورې کرغیړنې څیرې رسوا کړې دي، او د رسول اللهﷺ لوړ او زړه سواندئ مقام یې پرخپل امت باندې مونږ ته یاد کړئ او ښه رون بیان کړئ دئ، نو یقینا چې دا مبارك آیتونه د مومنانو ایمان په قوت او په ټینګښت باندې ښه ځلانده حجت او کلک دلیل دئ.

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات، وصلى الله وسلم على رسوله الرؤوف الرحيم بالمؤمنين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك...❁❁❁

د یونس سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د یونس سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

عزتمنو دوستانو! د یونس مبارکه سوره مکي سوره ده، ځکه په مکه معظمه کې د هجرت نه پخوا پر رسول اللهﷺ باندې رانازل سوې ده، او لوی مقصد او غرض یې په ډیرو څرګندو دلائلو سره د کافرانو شرکې باورونو او عقیدې رسوا کول دي، نو ځکه الله تعالی په دې مباره سوره کې د قرآن مجید ر یښتینوالئ او حقانیت چې د الله نه رانازل سوئ کتاب دئ؛ بیان کړئ دئ، او د مشرکانو تعجب او حیرانتیا یې د الله تعالی کتاب په رانازلیدو پرخپل پیغمبر محمدﷺ باندې؛ کلکه غندلې ده او د رسول اللهﷺ د پیغمبرۍ تصدیق یې کړئ دئ، نو ځکه حیرانتیاته پکې هیڅ ځای نسته او هغه د پخوانیو ولسونو پیغمبران غوندې یو پیغمبر دئ، او بیا الله تعالی د پیغمبر محمدﷺ دنده او رسالت چې خلکوته د جنتونو ښه رون ز یرئ او د دوزخ نه و یرول او ګواښ ؤ؛ بیان کړئ دئ، او همداسې الله تعالی په دې مبارکه سوره کې د الله تعالی د توحید مسئلې په کلک استدلال او په پاخه منطق سره بیان کړې دي، او د کافرانو شرك یې کلک غندلئ او رد کړئ دئ، او ټول خلک یې پر الله باندې په یو والي سره ایمان راوړو او اطاعت ته رابللي دي، او په پای کې یې د قضاء او قدر په عقیده چې د ایمان شپږم لوی رکن دئ؛ ټینګار کړئ دئ او هغه یې ښه روښانه بیان کړئ دئ، او په پیل کې فرمایلي دي:

{د ایمان څلورو رکنونو د تصدیق قاطع بیان}

هو! د یونس مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی مونږ ته د ایمان څلورو

لو يو رکنونو او بنسټونو ډير پر يکنده، قاطع او روښانه بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ١ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ رَجُلٖ مِّنۡهُمۡ أَنۡ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنَّ لَهُمۡ قَدَمَ صِدۡقٍ عِندَ رَبِّهِمۡۗ قَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٞ مُّبِينٌ ٢ إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ إِذۡنِهِۦۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٣﴾

[۱] هوا! (ألف، لام، را) د هغه کتاب (قرآن) آيتونه دي چې د حکمتونو نه ډک کتاب دئ، يعنی قرآن د هجاء دغسې تورو نه، لکه (ألف، لام، را) جوړ سوئ کتاب دئ او د عربي ژبې پوهان او شاعران هغو ته ورته آيتونو د راوړو نه بې وسې او عاجز سول، او په دې کتاب قرآن کې الله مونږ ته خپل کلک، منل سوي او د حکمتونو نه ډک فرمانو نه رالېږلي دي او هغه مونږ ته ښه لارښود پيغامونه دي.

[۲] او آيا د مکې خلک په دې حيران سول او تعجب يې وکه؟ چې د دوی د منځ نه مونږ يوه سړي (پيغمبر محمدﷺ) ته وحيه وکړه چې ته خلک د الله سزا نه وو ير ؤ، او هغو کسانو ته چې ايمان يې را وړئ دئ ز يرئ ورکړه چې دوی د خپل پالونکي خدای الله پر وړاندې د صداقت نه ډک لوړ مقام لري [يعنی دوی ته الله تعالی ثوابونه ورکوي، خو کله چې پيغمبرﷺ د الله دا پيغام خلکوته ورسا ؤ] نو کافرانو [چې د رسول اللهﷺ پيغمبری نه منکر ول] وو يل: دا سړئ ښکاره کوډګر دئ، يعنی هغه آيتونه چې هغه ولوستل کوډې دي(العياذ بالله) او اسماني وحيه او پيغام نه دئ!

قدرمنو دوستانو! په دې مبارکو آيتونو کې مونږ ته الله تعالی د قرآن حقانيت او ر يښتينوالئ چې په حق سره رانازل سوئ لارښود کتاب دئ؛ بيان کړئ دئ، او همدارنګه په دې سوره کې مونږ ته الله تعالی خپل منل

ســـوي ثابت او کلک حکمونه رالیږلي او بیان کړي دي، او بیا الله تعالی د مشـــرکانو حیرانتیا او تعجب د محمدﷺ پیغمبرۍ په باره کې رد کړئ او غندلئ دئ، ځکه رسول الله د قر یشو د یوې لویې معتبرې کورنۍ نه ؤ، او دئ اللـه تعـالی خپلې پیغمبرۍ تـه غوره کړئ دئ، نو هغـه هیڅ کلـه د دروغژنې پیغمبرۍ دعوا نکړې او نه په دروغو دغســې غوښـــتنه ورته څه ګټه لري.

او په ور پسۍ مبارك آیت کې الله تعالی خپل عظمت، قدرت او لو یتیا یاده کړې ده، او هغه دا چې ټوله نړۍ او پکې میشـــت؛ ټول مخلوقات الله تعالی پیدا کړي دي او د الله واک او حکم پکې چلیږي، او فرمایلي دي:

[۳] ای خلکو! یقینا چې د ســـتاســې پالونکئ څښـــتن الله دئ، او الله هغه څوک دئ چې ځمکه او اسمانو نه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړل [او بیا الله تعالی د هغه ر بو بیت مقام ســره لائق] پرعرش مســتوي ســه، او الله د ټولو مخلوقاتو چارې سمبالوي، او د الله اجازې نه پرته هیڅ څوک شـفاعت او سـپارښـت کړای نسي [هو؛ ای خلکو!] او دغه الله د ستاسې لوی څښتن او واکمن ذات دئ، نو یوازې د الله عبادت او بنده ګي وکړئ، او آیا تاســې ای خلکو! [د الله تعالی دا لوړ مقام نه راپه یادوئ او حق نه پیژني؟] یعنی تاسې ته ښـایي چې حق و پیژنئ او هغه ومنئ او یوازې د الله بنده ګي او عبادت وکړئ، او هم د الله پیغمبر محمد ﷺ ومنئ او پرهغه باندې ایمان راوړئ او د هغه پیغمبرۍ قبوله کړئ.

ګرانو عز یزانو! الله تعـالی پـه دې مبـارك آیـت کې خپـل توحیـد پـه ر بو بیت کې مونږ ته بیان کړئ دئ، او ځان ته یې د لوړتیا صـــفت پاس پرعرش باندې؛ هغســې ثابت کړئ دئ چې د الله تعالی لوی واکمن مقام ســره لائق دئ، او هغه یې مونږ ته یاد کړئ او ښـــه ځلاند په نښـــه کړئ دئ، نو یقیناچې پرعرش باندې د الله تعالی د اســـتوا معنا دا ده چې الله تعالی پرټولو مخلوقاتو باندې بې ســیاله واکمن ذات دئ، او بیا الله تعالی ټول خلک یوازې د خپل رب عبادت او بنده ګۍ ته په کلکه ســره رابللي دي او د شرك نه یې منع کړي دي، او د کافرانو هغه شرکې خبرې او و ینا وې

يې چې دوی بتان الله ته شفيعان او سپارښتونکي ګڼل؛ کلکې ردې کړې او غندلې دي، ځکه د دوی بتان د الله لخوا هيڅ واک نه لري، او د هغوی په واکمنۍ باندې الله تعالی هيڅ کم دليل نه دئ رانازل کړئ، او بيا په آخرت کې الله مومنانو ته د ايمان ثواب چې جنت دئ ورکوي، نو په دې مبارکو آيتونوکې د ايمان څلور لوی رکنو نه بيان سوي دي او هغه د الله تعالی په توحيد باندې په ر بو بيت، عبادت او بنده ګۍ کې کلک ايمان او د رسول اللهﷺ پرنبوت او رسالت باندې باور، او د قرآن پرنزول ايمان او باور، او د قيامت ورځې ثوابونو منل او ور باندې ايمان راوړل او پخه عقيده ده.

{د مکافاتو او مجازاتو قانون په آخرت کې د ګواښ پيغام دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د زمونږ پام د قيامت ورځې حساب ته را اړولئ دئ، او بيا يې د خپلو لو يو قدرتونو نښې را ته پرځمکه او اسمانو کې يادې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿إِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقًّاۚ إِنَّهُۥ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلۡقِسۡطِۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ شَرَابٞ مِّنۡ حَمِيمٖ وَعَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡفُرُونَ ٤ هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلشَّمۡسَ ضِيَآءٗ وَٱلۡقَمَرَ نُورٗا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٥ إِنَّ فِي ٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَّقُونَ ٦﴾

[٤] ای خلکو! د ستاسې ټولو ورتګ بيرته الله ته دئ او د الله وعده حق ده، او يقينا چې د ټولو خلکو پيدايښت الله پيلوي[يعنی ټول خلک د لمړي ځل لپاره الله پيدا کړي دي او بيايې د مرګ او مړ ينې نه وروسته] بيرته راکړځوي او راژوندي کوي يې [يعنی حساب اخستلو ته يې راکړځوي] ترڅو هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړئ دئ او ښه کارونه يې

کړي دي په عدالت او انصاف سره ښه ثواب ورکړي، او هغه کسان چې کافران سول او ایمان یې رانوړ؛ هغوی ته د څکلو سړې او به او دردونکئ عذاب دئ، یعنی کافرانو ته داسې ایشدلې سړې او به ورځکل کیږي چې کُلمې یې پیرکوي او نوره کلکه سزا هم ورکول کیږي.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خپل لوی قدرتونه په اسمان کې د لمر او سپوږمۍ په ګښت کې یاد کړې دي، او فرمایلي دي:

[٥] هو؛ ای خلکو! الله هغه څوک دئ چې لمر یې ځلیدونکې رڼا ګرځولې ده او سپوږمۍ یې ور باندې رڼا کړي ده [او د سپوږمۍ پیل نه د غټیدو او بیا یې د وړ یدو] پراوونه یې ښه منظم اندازه کړي دي، ترڅو تاسې [ای خلکو د میاشتو] او کلونو په شمیر باندې پوه سی، او هغه ټول الله په حق سره پیدا کړي دي [یعنی پکې ډیرې ګټې دي] او الله د خپلو قدرتونو نښې او دلیلونه هغه قوم ته بیانوي چې دوی ور باندې پوهیږي.

[٦] او یقینا چې د شپې او ورځې په منځ کې اختلاف [یعنی د یوې بلې سره په فرق کې] او هم په هغو نورو مخلوقاتو کې چې هغه الله پر ځمکه او په اسمانو کې پیدا کړي دي؛ په دې ټولو کې هغو کسانو ته چې د الله نه و یر یږي [یعنی په اطاعت سره د الله عذاب نه ځانونه ساتي] د الله لو یو قدرتونو نښانې او دلیلونه نغښتي دي، یعنی نو متقیان ورځخه ګټه اخلي، ځکه دوی د الله نه و یر یږي او د عذاب نه یې ځانونه په ایمان راوړو او په ښو کړنو سره کلک ساتي.

{د کافرانو مِینه په آخرت کې دوزخ او د مومنانو جنت دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی کافران او مومنان هر یو په آخرت کې د خپلې مینې او تل پاتې استوګنځیو نه خبر کړي او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَٱطۡمَأَنُّواْ بِهَا وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ٧ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ يَهۡدِيهِمۡ رَبُّهُم بِإِيمَٰنِهِمۡۖ تَجۡرِي

مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ۝٩ دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا سُبۡحَٰنَكَ وَتَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٞۚ وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝١٠

[٧-٨] هو! يقينا هغه کسان چې د زما سره ملاقات او د يوځای کيدو طمعه نه لري او د دنيا په ژوند راضي او خوښ دي او پکې ډاډمن دي، او نور هغه کسان چې د زمونږ قدرتونو نښانو نه [او د کتاب آيتونو او دليلونو نه غافل او بې پروا سول] د دوی ټولو مِينه او تل پاتې استوګنځۍ د دوزخ سور اور دۍ، ځکه دوی بد کړل، يعنی په دنيا کې دوی په ګناه کې ډوب ول، او د الله تعالی پرحکمونو او سپارښتنوپې عمل نکه او ورځخه کلک منکر او غافل ول.

درندو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې د خپلو قدرتونو لوپې نښې او دليلونه مونږ ته بيان کړي دي، او بيا يې فرمايلي دي: څوک چې د قيامت ورځې په حساب باندې باور نه لري او په هغه ورځ د الله ثوابونو ته هيلمن نه دي، او د دنيا ژوند خوندونو دوی د الله قدرتي او شرعي نښو او دليلونو نه بې پروا کړي دي، نو د دوی ځای په آخرت کې د دوزخ اور دۍ او هلته به پکې د خپلو بد کړنو سزا ګالي.

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونو کې د مومنانو د ښو کړنو ثوابونه بيان کړي دي او دوی ته يې ز يري ورکړي دي، او فرمايلي دي:

[٩] هو! يقينا هغو کسانوچې ايمان راوړ او ښې کړنې يې وکړي، نو الله چې د دوی لوی خدای دۍ؛ دوی د خپل ايمان له کبله د جنتونو لاړې ته سموي او د دغو جنتونو يا باغونو لاندې د سيندونو روانو او بو و يالې بهيږي، يعنی د غه باغونه د خورورو ډول ډول ميوو نه ډک وي.

[١٠] او د جنتيانو دعاء په جنتونو کې د الله تسبيح و يل او الله په پاکۍ سره يادول او په هرکلي او ښه راغلاست سره يو بل ته سلام اچول دي، او د جنتيانو وروستۍ دعاء: الحمد لله رب العالمين ده، يعنی دوی خپل رب ستايي، ځکه الله د ټولې نړۍ لوی پالونکۍ څښتن دۍ.

نو کرانو عز يزانو! دعاء کړو چې الله تعالى ده مونږ د دغسې لوړ مقام لائق وګرځوي او د اخلاص نه ډک ايمان او د ښـــه عمل او اطاعت او د مخلصانه بنده ګۍ توفيق ده راکړي.

{انسان خپل رب په سختۍ کې پيژني او په روغتيا کې يې هير وي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى غافل او د الله اطاعت نه بې پروا کسان کلک ګواښلي دي، او د مزاجي خو يونو خاوندان يې ښه رسوا کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿*وَلَوۡ يُعَجِّلُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ ٱلشَّرَّ ٱسۡتِعۡجَالَهُم بِٱلۡخَيۡرِ لَقُضِيَ إِلَيۡهِمۡ أَجَلُهُمۡۚ فَنَذَرُ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ١١ وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوۡ قَاعِدًا أَوۡ قَآئِمٗا فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمۡ يَدۡعُنَآ إِلَىٰ ضُرّٖ مَّسَّهُۥۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلۡمُسۡرِفِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢﴾

[١١] او که چيرې الله خلکوته شـــر د خير غوندي ژر راولي [يعنى د ځيني کافرانو غوښتنې پر دوى باندې د شر په راتلو سره ومني] نو د دوى د اجل نيټې به ورلنډې او پرې کړي [يعنى دوى به مړه او هلاک ســي] خو هغه کســان چې زمونږ ســره ملاقات ته هيلمن نه دي؛ دوى همداســې په خپل بغاوت او د الله اطاعت نه په ســرغړونو کې پر يږدو، يعنى ترڅو همداسې حيران او سرګردان ګرځي را ګرځي او د خلاصون لار نه مومي.

قدرمنو دوســتانو! او په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالى د مشــرکانو دروغژن ايمان او الله ته د دوى هغه زارى رســـوا کړې ده چې دوى يې په سختيو کې کړي، ترڅو د دوى نه الله تعالى ستونزې لرې کړي، خو بيا چې کله د دوى نه سختي لرې ســوه، نو بيا دوى هرڅه هير کړل، نو الله تعالى مونږ ته د دوى ر ينښتينۍ خوى چې ناشکري ده، او هغه د اسماني دين نه

د ټولو محرومو خلکو خوی دئ؛ یاد کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[۱۲] هو! کله چې [نا شکره] انسان ته څه ستونزه ورسیږي، نو بیا دئ چې [په هرحال کې وي] ناست وي او که ولاړ؛ مونږ خپل څنګ ته راغواړي، خو کله چې بیا هغه ته رسیدلې ستونزه مونږ لري کړو، نو بیا داسې تیر سي، لکه چې دئ مونږ هیڅ کله ورته د رسیدلې ستونزې لرې کولو لپاره نه وو راغوښتي! [یعنی تیره سوې ټوله سختي یې هیره سي] او همداسي دغو تیرئ کونکو خلکو ته د دوی هغه بد عملونه چې مخکې یې کړل ښایسته کیږي، یعنی دوی د الله توفیق لائق ندي، او همداسې به په خپلو بدو کې پاتې وي، ترڅو دوی ته د قیامت په ورځ الله تعالی کلکه سزا ورکړي او د دوزخ په انګار کې یې وکړوي.

هو؛ درندو عز یزانو! لکه څنګه چې وړاندې وو یل سول په دې مبارك آیت کې الله تعالی هغه خلک د دوی د بد خوی نه چې احسان فراموشي او د ښو کړنو هیرول دي؛ خبر کړي دي، ترڅو ښه فکر وکړي او خپل رب ته په ر یښتیا، صداقت او په پوره اخلاص سره ور وګرځي او د ګناه نه او د الله تعالی حکمونو سرغړوني نه لاس وا خلي، او پرسمه لار باندې چې د الله تعالی او د هغه پیغمبرﷺ لار ده لاړ سي، او بیا د دنیا او آخرت نیکمرغي وګټي او ښاد سي.

{د تیرتار یخ ترخو پیښو نه زد کړه او پند اخستل فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خلک د تار یخ ترخو پیښو نه پند اخستلو ته رابللي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا ٱلۡقُرُونَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَمَّا ظَلَمُواْ وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ١٣ ثُمَّ جَعَلۡنَٰكُمۡ خَلَٰٓئِفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لِنَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ١٤﴾

[۱۳] ای خلکو![او په دي پوه سی] چې مونږ د ستاسې نه پخوا پیړیو کې هغه ولسونه هلاك او تباه کړل چې دوی پرخپلو هغو پیغمبرانو باندې

تيرئ وکه چې دوی ته د الله لخوا د معجزو سره يوځای راغلل [خو دوی ونه منل] او ايمان يې رانوړ او مجرمانو ته مونږ همداسې سزا ورکوو، يعنی دا د الله تعالی تل پاتې قانون دئ او هغه پر ټولو سرکښو خلکو باندې چليږي، ځکه هيڅ څوک د الله سره د خپلوی اړ يکې نه لري، ترڅو معاف سي، او همداسې سوه او الله تعالی د قر يشو کافران د رسول اللهﷺ او د هغه صحابوو پر وړاندې په لو يو لو يو غزا ګانو کې مات او خوار کړل، لکه د بدر غزا او بيا د مکې په لو يه فتحه کې، او دا لړی به ترقيامت ورځې پورې همداسې د حق او باطل پلو يانو ترمنځ جګړو کې جاري وي، خو د مکې مشرکانو پردې ګواښونو باندې ځانونه پوه نکړل، ترڅو چې تباه سول او لښکرې يې د لو يو ماتو سره مخامخ سول.

[١٤] او تاسې ای خلکو! مونږ تيرو ولسونو پسې وروسته پرځمکه ځای ناستې وګرځولی، ترڅو وګورو چې تاسې څنګه کړنې کړي؟ يعنی دا چې آيا پرسمه لار ځی او ښه کړي؟ او يا دا چې بدو کړنو ته چې هغه د الله دين خلاف وي؛ ملا ټړی؟ نو بيا به دوی ته الله د دوی د ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو کلکه سزا ورکړي!

{قرآن د الله حق کتاب دئ اورسول الله د بدلون واک نه لری}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالي کافرنو ته اعلان کړئ دئ چې قرآن د الله نه راغلئ پيغام او حق کتاب دئ او پيغمبر يې د بدلون واک نه لري، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا ٱئۡتِ بِقُرۡءَانٍ غَيۡرِ هَٰذَآ أَوۡ بَدِّلۡهُۚ قُلۡ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلۡقَآيِٕ نَفۡسِيٓۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۖ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ١٥ قُل لَّوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوۡتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَدۡرَىٰكُم بِهِۦ

فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِۦٓ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦﴾ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿١٧﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٨﴾

[۱۵] هو! کله چې پرکافرانو د زمونږ کتاب آیتونه [چې هغه د زمونږ حکمونه بیانوي] تلاوت سي، نو بیا هغه کسان چې د قیامت په ورځ د زمونږ سره ملاقات او یوځای کیدو ته هیله نه لري [رسول الله ﷺ] ته وایي: د دي کتاب نه پرته بل قرآن راوړه او یا هغه بدل کړه، نو ته ای پیغمبره! دوی ته په ځواب کې ووایه: زه حق نه لرم چې هغه د خپل ځان نه بدل کړم [یعنی زه د هغې وحی پې تابع یم چې هغه ماته کیږي] او که زه د خپل رب نافرماني وکړم [یعنی حکم پې ونه منم] نو بیا د لویې ورځې (قیامت) عذاب نه و یر یږم.

[۱۶] ای پیغمبره! [او همدارنګه مشرکانو ته] ووایه که الله غوښتي وای، نو بیابه دا آیتونه ما پرتاسې باندې نه ؤ لوستي او نه به تاسې الله پرهغو پوه کړي وی، او زه خو د پیغمبرۍ نه مخکې ډیر عمر د ستاسې سره اوسیدلئ یم! نو آیا تاسې فکر نکړي او خپل عقل په کار نه اچوي؟ یعنی دا چې تاسې ای عز یزانو! ما ښه پیژنی چې زه دروغژن نه یم او هرڅه چې وایم او د الله کتاب آیتونه چې تاسې ته لو لم؛ هغه ټول حق او ر ښتیا دي او هغه ماته الله وحیه کړي دي، او زه پې د دغو آیتونو په تبلیغ او تاسې ته پې پر رسولو مکلف کړی یم.

[۱۷] نو څوک د هغه چانه ډیر ظالم او تیرئ کونکئ دئ چې الله پسې دروغ وایي [یعنی ور پسې افترا کړي؟] او یا دا چې د الله کتاب آیتونه دروغ بولي؟ [ځواب دا چې هیڅ څوک د دوی نه ډیر ظالم او مجرم نه دئ] او یقینا چې مجرمان الله نه ښادوي، یعنی هیڅ کله بر یا او سر لوړي د

ظالمانو په برخه نکيږي، ځکه دوی لوی مجرمان دي او الله پسې يې افترا کړې ده او دروغ يې ور پسې تپلي دي.

ګرانو دوستانو! د قرآن بدلولو غوښتنې به مشرکانو په هغه وخت کې کړي چې کله به پر دوی باندې د قرآن کر يم؛ هغه آيتو نه لوستل کيدل چې د مشرکانو کفر به پکې غندل سوئ ؤ او د دوی کم عقلي به پکې ښکاره ځليدله، او دغسې آيتونه په مکې سورو کې ښه ډير دي او په وار وار سره الله تعالی د مشرکان بوت پرستي پکې کلکه غندلی ده او دوی يې يوازې خپل رب الله عبادت او بنده ګی ته په توحيد سره پرته د شرک نه رابللي دي، او د هغو خدايانو عبادت نه يې منع کړي دي چې هغه دوی ته هيڅ ګټه او ز يان رسولا نسي، لکه څنګه چې يې بيان په ور پسې مبارک آيت کې راغلي دئ، او الله تعالی فرمايلي دي:

[۱۸] او دا د مکې مشرکان د الله نه پرته [د هغو بتانو عبادت کړي] چې نه ورته ز يان رسوي او نه ګټه، او دوی وايي چې دا بتان د الله پروړاندې د زمونږ سپارښت کونکي دي! [يعنی الله ته د زمونږ شفاعت کړي] نو ای پيغمبره! ته دوی ته ووايه: آيا تاسې الله د هغه څه نه خبروی چې دئ به په ځمکه او اسمانو کې ور باندې نه پوهيږي؟ [يعنی (العياذ بالله) ايا الله ورڅخه خبر نه دئ؟ حال دا چې الله د ځمکې او د اسمانو خالق او لوی واکمن ذات دئ] او الله د مشرکانو دغسې تورونو نه او د ناحقه معبودانو نه چې هغه د الله سره په عبادت کې ګډوي پاک او لوړ دئ، يعنی دا ډيره سپکه خبره ده چې څوک ووايه: دا بوت الله ته د زما شفاعت کړي!

{د فکر ازادی حق خلکوته الله په تقدير کې ليکلئ دئ}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې د شرک تار يخ په رايادولو سره خلکو ته الله تعالی د فکر او عقيدې خوښولو ازادی حق بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخۡتَلَفُواْۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ

مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾ وَيَقُولُونَ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ فَقُلْ إِنَّمَا ٱلْغَيْبُ لِلَّهِ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾

[١٩] هو! ټول خلک یو امت ؤ[یعنی د ټولو خلکو دین یو ؤ او ټولو یوازې د الله عبادت او بنده کې کړه] خو بیا دوی په اختلاف کې ولو یدل [یعنی د یو بل نه بیل سول، ځینې کافران سول او ځینې نور پرحق باندې چې هغه یوازې د الله بنده کې ده؛ ټینګ پاتې سول] او ای پیغمبره! که د ستا رب هغه حکم او خبره چې مخکې په تقدیر کې لیکل سوې ده؛ نه وای [او هغه دا چې کافرانو ته سزا ورکول د ستا رب الله زنډولې دي او دوی پرګناه ژر نه نیول کیږي، نو که دا تقدیري پر یکړه نه وای، نو په هغه څه کې چې مشرکانو اختلاف کړئ دئ، او هغه حق او باطل، او کفر او اسلام دئ] په هغه کې به فیصله سوي وه او کافران به هلاك سوي ول، او مومنانو به نجات موندلئ ؤ.

ګراتو دوستانو! الله تعالی خلکوته د دنیا په ژوند کې وخت او مهلت ورکړئ دئ، ترڅو هرڅوک په خپله خوښه د حق یا د باطل لار غوره کړي، ځکه دا ژوند د ازمایښت دوره ده، او بیا الله تعالی په آخرت کې هرچا سره حساب کړي، خو الله تعالی د دنیا په ژوند کې خلک همداسې یوازې خپلې خوښې ته پرته د لارښود را لیږلو نه؛ نه دي پرې ایښي، بلکې پیغمبران او کتابونه یې ورته رالیږلي دي او سمه او کړه لاریې ورته ښودلې او په نښه کړې ده، او بیایې هرڅوک خپلې خوښې ته پرې ایښئ دئ، نو بیا د هرچا خپله خوښه چې ایمان راوړي او که کافر یږي او خپل هوس او خوښې پسې ځي؟ نو یقینا چې داد فکر او عقیدې هغه حقیقي ازادي ده چې اسلام یې ضمانت کړئ دئ، خو دا فکري ازادي مطلقه او بې پولو ازادي نه ده، بلکې هغه خپل ځانګړي حدود، پولې او شرطونه لري چې بیا هغه مونږ ته علماوو بیان کړي دي، نو په پام کې نیول یې پرمومنانو باندې فرض دي او ښایي هیڅکله ورڅخه غافل نسي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې مونږ الله تعالى د مشرکانو هغو غوښتنو نه چې د رسول اللهﷺ نه يې کړې خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

[٢٠] او دغه کافران [چې کينو په سر اخستي دي] وايي: ولې پر پيغمبر باندې د هغه رب او لوی څښتن لخوا يوه معجزه يا نښه [چې په سترکو وليدل سي] نه ده رانازله سوې؟ [يعنى ترڅو د هغه پيغمبري تصديق کړی او مونږ پوه سو چې دئ په ر يښتيا سره پيغمبر دئ؟] نو ته ای پيغمبره! دوی ته ووايه: يقيناچې په غيب او پټو شيانو باندې؛ يوازې الله پوهيږي [نو اوس تاسې د الله تعالى خوښې ته چې څه کړي؟] تم سی او کلک انتظار و باسی، او زه به هم يقينا چې ستاسې سره منتظر يم، يعنى ترڅو الله د زمونږ په منځ کې پر يکړه وکړي او حق او باطل سره بيل کړي.

قدرمنو دوستانو! دا لارښودنې پيغمبرﷺ ته د هغه پالونکي رب الله لخوا د تسليت او د زغم پيغام دئ، نو اسلام ته رابلونکو ټولو دعاتو ته ښايي چې هغه تل په پام کې ونيسي او هيڅ کله بې صبره او ناهيلې نسي، او په پاخه زغم او ډاډمنې هيلې سره خپل دعوت پرمخ يوسي.

ګرانو عز يزانو! او دا يادونه هم دلته د پام وړ ده چې بيا الله تعالى ښې ډيرې مادي معجزې رسول اللهﷺ ته په مکه او بيا په مدينه کې ورکړې، لکه په مکه کې د سپوږمی چاوديدل او دۀ پلې کيدل، او د رسول اللهﷺ مرستې ته په بدر او په نورو غزاګانو کې؛ د ملائکو نزول او راکوز يدل ، او همداسې نورې ډيرې مادي معجزې چې هغه مونږ ته د رسول اللهﷺ په احاديثو او سيرت کې روايت سوې، او ښې روښانه بيان سوې دي.

{د الله رحمتونو هيرول د خلکو ناشکری تل پاتې خوی دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې په ډير ټينګار سره رسول اللهﷺ ته الله تعالى ډاډ ورکړئ دئ چې د باطل پلو يانو ټول چلونه او توطئې د حق پر وړاندې الله شنډوي، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ ءَايَاتِنَاۚ

قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ ﴿٢١﴾ هُوَ ٱلَّذِي يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَرَيۡنَ بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ وَفَرِحُواْ بِهَا جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمۡ إِذَا هُمۡ يَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغۡيُكُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡۖ مَّتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٢٣﴾ إِنَّمَا مَثَلُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ مِمَّا يَأۡكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلۡأَنۡعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلۡأَرۡضُ زُخۡرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتۡ وَظَنَّ أَهۡلُهَآ أَنَّهُمۡ قَٰدِرُونَ عَلَيۡهَآ أَتَىٰهَآ أَمۡرُنَا لَيۡلًا أَوۡ نَهَارٗا فَجَعَلۡنَٰهَا حَصِيدٗا كَأَن لَّمۡ تَغۡنَ بِٱلۡأَمۡسِۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٢٥﴾

[٢١] هو! كله چې مونږ زور يدلو خلکوته د هغو سختيو او ستونزو نه وروسته چې دوی ته رسيدلې وي؛ رحمت او اسانتيا ور وښکو، نو بيا دوی د زمونږ آيتونه دروغ بولي [يعنی هغه نه مني او ملنډې ور باندې وهي! نو ته ای پيغمبر دوی ته] ووايه: الله به ژر تاسې ته د ستاسې چلونو او ملنډو وهلو سزا درکړي، او يقينا چې د زمونږ درليږل سوي استازي [څارونکي ملائکې] د ستاسې سپکا وئ [د زما کتاب پرآيتونو] ليکي، يعنی دا چې ای د الله تعالی نعمتونو نه ناشکره خلکو! ستاسې سره به کلک حساب کيږي او درنده سزا به درکول کيږي.

[٢٢] ای خلکو! [او په دې پوه سی] چې الله هغه څوک دئ چې تاسې په وچه ځمکه کې او د سمندر پرلندو او بو کې ګرځوي، او کله چې تاسې په بيړيو کې سپاره وی او هغه مونږ پردوی باندې په ښه خواږه شمال يا

باد خوځولې وې او دوی ور باندې خوښ ول، ناڅاپه الوزونکئ شمال یا باد؛ دوی ته راوالوت او سمندر د هرې خوا نه ور باندې طوفاني او څپاند سه، او په بیړۍ کې سپرو کسانو داسې وانګیرله او ګمان یې وکه چې دوی د سمندر څپو د هرې خوا نه لاندې کړل او پرې را ګرد سه، نو بیا دوی د زړه له کومې او په پوره اخلاص سره [یعنی په کلکو ماتو غاړو سره] الله ته دعاء وکړه او و یو یل: ای لو یه څښتنه! که تا مونږ د دې طوفان نه خلاص کړو، نو بیابه مونږ یقینا د شکر کونکو نه وو، یعنی ای لو یه ر به! د ستا د دې لویې پیرزویني شکر به هرومرو باسو او د ستا بنده ګي به په اخلاص او په پوره صداقت سره کړو.

[۲۳] نو بیا چې کله دوی ته الله نجات ورکه؛ ناڅاپه دوی پرځمکه ناحقه او ناروا بغاوت او فساد پیل که، خو ای خلکو! په دې پوه سئ چې ستاسې د بغاوت ز یان او تاوان به د ستاسې پرځانو راواوړي، او د دنیا ژوند نه خوند اخستل تیردونکې دي، او بیا وروسته تاسې ټول مونږ ته راتلونکي یاستئ، نو بیا الله تاسې د هغو کړنو نه خبروي چې هغه تاسې په دنیا کې کړل، یعنی بیا به الله د ستاسې سره کلک حساب وکړي.

[۲٤] او ای خلکو! د دنیا ژوند [چې تاسې ورڅخه په خوند اخستلو سره پر یو بل فخر کړئ] مثال او بیلګه هغو او بوته ورته ده چې هغه مونږ د اسمان نه را وورولې او د ځمکې بوټې او دانې چې هغه ټول خلک او څاروي خوري؛ ور باندې او به سول، او بیا ځمکې ښکلا خپله کړه او ښایسته سؤ، او خاوندانوې داسې وانګیرله چې اوس دوی کولای سي چې کښت ور یې او حاصل یې وا خلي، خو د زمونږ حکم ور باندې په شپه او یا په ورځ کې راغئ او دا کښت مونږ داسې ر یبل سوئ واړا ؤ، لکه چې پرون هلته هیڅ کښت نه ؤ، او ای خلکو! مونږ د خپل قدرت نښې او دلیلونه همداسې په پوره روښتیا سره هغه قوم ته چې فکر کړي بیانوو، یعنی دا چې ترڅو خلک خپله ګټه او تاوان ښه و پیژني او بیا په هغه لار لاړسي چې دوی ته پکې خیر دئ او د خپل رب نه غافل نسي او د شیطان په لومو کې ونښلي او د سمې لارې نه ورک نسي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې د مشرکانو کفر، شرک او د دوی ناروا کړنې او ناسمه چلند د رسول اللهﷺ سره غندلې دئ، او بيايې د ټولو خلکو ناڅاپه نفسي او روحي بدلون او دوه رنګه چلند او خو يونه د سختيو او اسانتياوو په وخت کې بيان کړي دي او هغه يې کلک غندلي دي، او دوی يې د دنيا ژوند تيريدونکو لنډو خوند اخستلو نه ګواښلي دي او د دنيا ژوند انځوريې په يوې بيلګې يا مثال سره بيان کړئ دئ چې يقينا هغه ډير روښانه دئ، نو دا روښ بيان زمونږ لپاره د زدکړې او د عبرت اخستلو لوی درس دئ!

او په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالى خلک د سلامتۍ او ښادۍ کورته رابللي دي، او فرمايلي دي:

[٢٥] او ای خلکو! الله تاسې د سلامتۍ کورته [يعنی د هوسايي او د نعمتونو نه ډک ځای ته چې هغه په آخرت کې د الله جنتونه دي رابولي] او هرڅوک چې الله وغواړي سمې لارې ته يې سموي.

هو؛ درندو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې خپل بنده ګان د دنيا ژوند نه د خوند اخستلو غلونو نه چې الله تعالي او د هغه تل پاتې نعمتونه په آخرت کې ورڅخه هيروي؛ کلک ګواښلي دي او د آخرت ورځې هوسا او خوشحاله ژوند ته يې رابللي او هڅولي دي، نور نو د خلکو خپله خوښه چې په کمه لار ځي او څه کړي؟

{مومنانو ته په آخرت کې د الله جنتونه او کافر انوته دوزخ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ ته د آخرت په ورځ د مومنانو او کافرانو د ښه او بد ژوند او د ثوابونو او سزا ورکولو انځور وړاندې کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿۞ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوهَهُمۡ قَتَرٞ وَلَا ذِلَّةٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٦ وَٱلَّذِينَ كَسَبُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٖ

بِمِثۡلِهَا وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۖ كَأَنَّمَآ أُغۡشِيَتۡ وُجُوهُهُمۡ قِطَعٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مُظۡلِمًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٧ وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ مَكَانَكُمۡ أَنتُمۡ وَشُرَكَآؤُكُمۡۚ فَزَيَّلۡنَا بَيۡنَهُمۡۖ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم مَّا كُنتُمۡ إِيَّانَا تَعۡبُدُونَ ٢٨ فَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ إِن كُنَّا عَنۡ عِبَادَتِكُمۡ لَغَٰفِلِينَ ٢٩ هُنَالِكَ تَبۡلُواْ كُلُّ نَفۡسٖ مَّآ أَسۡلَفَتۡۚ وَرُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۖ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٣٠

[۲۶] هو! هغو مومنانوته چې د الله عبادتونه يې نه کړي دي؛ جنتونه او نور ډير څه ورکول کيږي [يعنی د دغې لويې ډالۍ او پيرزو يې نه پرته د الله هغه لیدل يې هم په برخه کيږي چې هغه د الله لوړ مقام سره لائق دي] او پرمخونويې هيڅ ډول خواري او د خواری ګردونه نه نښکاري [يعنی مخونه يې رانه ځليږي] او هغوی جنتيان دي او جنتونوکی به تل اوسيږي.

[۲۷] او هغو کسانو چې ګناه وې وکړې، نو د دوی د بدو کړنو سزا د بدو غوندې ده، او خواری او ذلت به دوی نه ستړي کړي وي او د الله سزا نه دوی هيڅ څوک ساتونکئ نه لري، او د دغو ګناه کړونکو [کافرانو مخونه به داسې تور وي] لکه چې د شپې تورو تيارو پټ کړي وي او دوی د دوزخ اور ملګري دي او هلته به د دوزخ په سره اور کې تل کړ يږي.

[۲۸-۲۹] ای خلکو! [او هغه ورځ راپه ياد کړی] کله چې پکې مونږ ټول [کافران او د دوی ناحقه معبودان] سره راغونډوو،او بيا مشرکانو ته وايو: تاسې او د ستاسې ناحقه معبودان په خپلو ځايونکې کلک ودر يږی [يعنی تم سی او انتظار و باسی، ترڅو وګوری چې څه کيږي؟] نو بيا دوی سره بيلوو[او ګورو چې د مشرکانو نه د دوی ناحقه معبودان خپله بيزاري اعلانوي] او ورته وايي: تاسې د زمونږ عبادت نه کا ؤ [يعنی دا چې تاسې د شيطان وسوسو پسې اخستې وی او د هغه خبره مو منله او مونږ په هيڅ څه نه پوهيدلو، ځکه مونږ نه څه شئ اور يدل او نه مونږ څه ليدل] او

ای کافرانو! مونږ د ستاسې عبادت نه خبر نه وو، نو اوس د ستاسې شرک ثبوت لپاره د الله شاهدي زمونږ او ستاسې په منځ کې را ته بس او کافي ده، یعنی د آخرت په ورځ الله تعالی د مشرکانو دغه ناحقه معبودان (بتان) خبروي چې مشرکانو دوی د الله سره په خدایي کې کډول.

[۳۰] او بیا هلته [د محشر په ورځ] هرڅوک خپل ځان په خپلو پخوا تیر سوو کړنو ازمایي [یعنی د ځان سره حساب کړي] او ټول خلک په همدې ورځ الله ته چې په ر یښتیا سره د دوی رب او خدای دئ؛ ورګرځول کیږي، او هغه بتان چې دوی په دروغو سره خپل خدایان ګرځولي ول؛ هغوی د دوی نه ورکیږي، او بیا هرچا ته د هغه خپله سزا او ثواب ورکول کیږي، مومنانو ته ښکلی باغونه او کافرانو ته د دوزخ کړنګونه.

هو! قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د محشر په ورځ د مومنانو او کافرانو یقیني برخلیک او راتلونکې چې مومنان جنتونو ته ځي او کافران د دوزخ په اور کې کړ یږي؛ بیان کړې ده، او بیایې د کافرانو نه د دوی د ناحقه معبودانو بیزاری انځور مونږ ته وړاندی کړئ دئ، او یقینا چې پایله یې د مشرکانو ذلت، سپکاوئ او خواري ده.

{د مکې کافرانو د الله تعالی توحید په ربو بیت کې مانه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی پیغمبرﷺ ته امر کړئ دئ چې د مشرکانو سره د دوی د حقیقي او ر یښتیني معبود الله په باره کې خبرې او پوښتنې وکړه، ترڅو دوی په خپله قانع سي او خپل پالونکئ ځښتن الله چې دوی یې پیدا کړي دي او روزي ورکوي او هرڅه یې په واک کې دي؛ ښه و پیژني او ورته تسلیم سي او د بتانو خدایي نه لاس واخلي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾ فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَمَاذَا بَعْدَ

ٱلۡحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ٣٢ كَذَٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ فَسَقُوٓاْ أَنَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٣٣ قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۚ قُلِ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٣٤ قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّۚ قُلِ ٱللَّهُ يَهۡدِي لِلۡحَقِّۗ أَفَمَن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّيٓ إِلَّآ أَن يُهۡدَىٰۖ فَمَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ٣٥

[۳۱] ای پیغمبره! [پردغو مشرکانو باندې غږ وکړه او ورته] ووایه چې څوک د اسمان او د ځمکې نه تاسې ته روزي درکوي؟ آیا هغه څوک چې د غوږونو او سترګو مالك او خاوند دئ او که بل څوک؟ او څوک ژوندئ د مړي نه راباسي او مړئ د ژوندي نه؟ [لکه د مرغانو چورکوړي چې د مړې هګۍ نه راباسي، او لکه هګۍ چې د ژوندي مرغه نه راباسي، یعنی] الله او که بل څوک؟ او څوک د ټولو مخلوقاتو چارې سمبالوي؟ الله او که بل څوک؟ نو بیا به مشرکان تا ته ای پیغمبره! په ځواب کې ووایه: الله [یعنی یوازې الله دئ چې مونږ ته روزي راکوي او مونږپې پیدا کړي یو او د ژوند ټولې چارې سمبالوي، نو بیا ته ای پیغمبره! دوی ته] ووایه: نو ولې د الله نه تاسې نه و یر یږۍ او تقوا نکړۍ؟ یعنی ولې د الله په توحید باندې په عبادت کې اقرار او باور نکړۍ او هغه نه منۍ؟ حال دا چې ښایي خپل رب، خالق او رازق چې الله دئ په ر یښتیا سره و پیژنۍ او یوازې د الله بنده کې او عبادت وکړۍ او د الله تعالی ټول حکمونه ومنۍ، او پر پیغمبر باندې پې ایمان راوړۍ او په شر یعت پې عمل وکړۍ.

[۳۲] نو ای کافرانو! دا رب الله په حق سره د ستاسې خاوند او لوی څښتن دئ، نو د حق نه پرته بل هرڅه ورکتیا او بې لار یتوب دئ، نو تاسې ای کافرانو! د الله عبادت او بنده کۍ نه پرته بلې کمې خوا ته اوړۍ؟ یعنی د الله نه پرته د بل چا عبادت کړۍ؟ حال دا چې تاسې الله پیدا کړي یاستۍ او الله روزي درکوي او الله د ټولو مخلوقاتو چارې سمبالوي، نو آیا تاسې ته لائق ده چې الله پر یږدۍ او د بل هغه چا یا د هغه څه عبادت

وکړي چې هغه د هيڅ څه واک او وسعه نه لري، لکه بتان چې د بده مرغه تر نن ورځې پورې يې ډير بودايان او هندوان عبادت کړي!

[٣٣] هو؛ ای پيغمبره! [لکه څنګه چې مشرکان کافران سول او بيا په خپل شرک کې کلک پاتې سول] نو همداسې د ستا رب الله تقديري حکم او پر يکړه پرهغو کسان باندي پوره سوه چې دوی د خپل رب الله بنده ګی او فرمان وړو نه ووتل [يعنی د الله يو والي نه په عبادت کې منکر سول او د ستا پيغمبري يې ونه منله] او يقينا چې هيڅ کله دوی ايمان نه راوړي.

[٣٤] ای پيغمبره! [او دغو مشرکانو ته] ووايه: آيا د ستاسې هغو خدايانو نه چې د الله سره يې په عبادت کې ګډوی؛ څوک سته چې د خلکو پيدا کول يې په لمړي ځل کې پيل ګړي وي او بيا دوی مړه کوي او بيايې بيرته د لمړي پيدايښت په څير را ګرځوي؟ [يعنی يقينا چې مشرکان هيڅ کله دا پوښتنه نسي ځوابولای!] نو ته ای پيغمبره! کافرانو ته په ځواب کې ووايه: هو! يوازې الله دئ چې ټول خلک يې په لمړي ځل کې پيدا کړي دي او بيايې مړه کوي او بيايې بيرته هغسې را ګرځوي لکه څنګه چې ول، نو تاسې ای خلکو! کمې خوا ته او څنګه د حق نه باطل ته اوړي؟ يعنی د الله نه پرته د ناحقه معبودانو(بتانو)عبادت او بنده ګي کړی؟

[٣٥] ای پيغمبره! [او پردغو مشرکانو باندې همداسې غږ وکړه او ورته] ووايه: آيا د ستاسې دغو ناحقه معبودانو نه داسې څوک سته چې حق ته لارښودنه وکړي؟ [يعنی خلکوته سمه لار وښيي؟ [ځواب دا چې:] نا، مشرکان تا ته ای پيغمبره! ځواب نه لري، نو بيا ته دوی ته ووايه:] نو هغه څوک چې خلک سمې لارې ته رابولي آيا هغه د متابعت او ور پسې د تګ مستحق دئ؟ او يا هغه څوک چې د لارښودني وسعه نه لري، مګر دا چې دئ په خپله حق ته هدايت سي او حق ښه و پيژني او هغه ومني؟ نو تاسې ای مشرکانو! ولې او څنګه داسې حکم کړی؟ يعنی خالق د مخلوق سره برابروی! نو د ستاسي دا حکم او پر يکړه؛ هيڅ هوښيار انسان نه مني او ور پسې اقتدا نکړي.

[٣٦] هو! د دغو مشرکانو نه ډير کسان پرته د اټکل او ګمان [او د شيطان وسوسو نه؛ بل کم منطق او دليل پسې نه ګرځي] او يقينا چې دا خيال او ګمان د حق ځای نيولای نسي، او يقينا چې الله د کافرانو په کړنو ښه پوه دئ، يعنی دوی ته به کلکه سزا ورکړي.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې رسول ﷺ ته دغه د منطق او پاخه استدلال لار مشرکانو سره په بحث او استدلال کې ښودلې ده، او پکې يې د دوی ټولې بې ځايه شبهې او شکونه رد کړي او غندلي دي، نو ښايي چې اسلام ته رابلونکي دعات په هر وخت او زمان او په هرځای کې دغه قرآني لارښودنې د کافرانو او مشرکانو سره عملي کړي، او هغوی په استدلال او په ښو خبرو او په منطق سره اسلام ته راو بولي او د دوی شبهې ردې او شکونه يې لرې کړي، ترڅو مومنان په پوره ډاډ سره د خپل رب الله سبحانه وتعالی عبادت او بنده ګي وکړي.

{قرآن دروغ نه دئ او مخکني کتابونه يې تصديقونکي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی قرآن پسې تورونه رد کړي دي، او د هغه بياني اعجازيې بيان کړئ دئ او د قرآن منکر ين يې د هغه سورو غوندې د يوې سورې په راوړو؛ کلک ننګولي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٧﴾ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّثْلِهِۦ وَٱدْعُوا۟ مَنِ ٱسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣٨﴾ بَلْ كَذَّبُوا۟ بِمَا لَمْ يُحِيطُوا۟ بِعِلْمِهِۦ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٩﴾ وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِۦ ۚ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٤٠﴾ وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّى عَمَلِى وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۖ أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعْمَلُ وَأَنَا۠ بَرِىٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٤١﴾ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ ۚ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤٢﴾

وَمِنْهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيْكَ ۚ أَفَأَنتَ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظْلِمُ ٱلنَّاسَ شَيْـًٔا وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٤﴾

[٣٧] او نه ښايي چې دا قرآن [چې هغه لو يه معجزه ده] د الله نه پرته بل چا ته منسوب او ور پسې وتپل سي، قرآن [د پخوانيو آسماني کتابونو غوندې د الله نه راغلې کتاب دې] او د هغه نه مخکې کتابونه يې تصديق کونکي دي، او د الله کتاب ټول حکمونه يې ښه روښانه بيان کړي دي، او د قرآن په رانازليدو کې د رب العالمين لخوا هيڅ شك او شبهه نسته، يعنی قرآن، لکه تورات او انجيل د الله نه جبرئيل امين عليه السلام په واسطه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وحيه سوې کتاب دې، او هيڅ شك پکې نسته او د الله ټول حکمونه، لکه د اسلام او ايمان ارکان او نور شعائر او د ژوند اړوند ټول حلال او حرام حکمونه يې خلکوته په پوره روښتيا او تفصيل سره بيان کړي دي، نو يقيناچې قرآن خلکوته لارښود پيغام دې.

[٣٨] او آيا مشرکان وايي چې [محمد صلی الله عليه وسلم العياذ بالله] قرآن په دروغو الله ته منسوب کړې او ور پسې يې تپلې دې؟ [نو ته ای پيغمبره! دوی ته په ځواب کې] ووايه: هو! که تاسې ای مشرکانو! په خپله خبره کې صادق او د ر ښتيا و يونکي ياستی، نو د قرآن سورو غوندې يوه سوره راوړی او د مرستې غوښتلو ته چې مو د الله نه پرته په هرچا وسعه کيږي؛ هغه راوغواړی، يعنی ترڅو د ستاسې مرسته وکړي!

[٣٩] خو مشرکانو قرآن مخکې لدې چې پکې ښه ژور فکر وکړي او په معنا او مقصديې ښه پوه سي؛ دروغ و باله، او په قرآن کې تر اوسه د بيان سوو وعدو تفسير لا ندې راغلې [يعنی داچې هغه د قيامت ورځې راتګ او پکې جنت او دوزخ دي] هو! او همداسې د مکې مشرکانو غوندې پخوانيو ولسونو چې مخکی تير سوي دي؛ د الله هغه پيغمبران چې دوی ته راغلي ول دروغژن و بلل، نو ته ای پيغمبره! وګوره [يعنی د دوی تير تار يخ ته نظر واچوۀ] چې د ظالمانو برخليک او راتلونکې څنګه ؤ؟ يعنی ټول پخواني سرکښ ولسونه الله هلاك کړل او له منځه يې يوړل.

هو! عزتمنو دوستانو! يقينا چې الله تعالى پخوانيو سركښو ولسونو ته ډول ډول سزاګاني ورکړي او دوی يې په دنيا کې هلاک کړل او لمنځه يې يوړل، لکه د نوح، لوط، هود او د صالح عليهم السلام امتونه.

[٤٠] ای پيغمبره! [او د ستا قوم قر يشو نه] ځينو کسانو په قرآن باندې ايمان راوړ او ځينې نورو ايمان رانوړ او هغه نه مني [نو همداسې به په کفر کې مړه سي او بيا به همداسې بيرته د قيامت په ورځ را ژوندي سي] ای پيغمبره! د ستا رب هغه مفسدان چې د کينې نه ايمان نه راوړي ښه پيژني او پردوی باندې پوه دئ، يعنی نو کافرانو ته به الله تعالى کلکه سزا ورکړي او د جهنم په اور کې بې وکړوي.

[٤١] او ای پيغمبره! که ته د ستا قوم همداسې تکذيب کړې [يعنی دروغژن يې و بللې او پرخپل شک باندې کلک ودر يدل] نو ته دوی ته ووايه: د زما خپل کار او د ستاسې خپل کار [ځکه نه د ستاسې نه د زما کړنو پوښتنه ګيږي او نه د زمانه د ستاسې د کړنو پوښتنه کيږي] او تاسې د زما کړنو نه بې زاره ياستې او زه د ستاسې کړنو نه بې زاره يم، يعنی نه تاسې د زما ذمه وار ياستې او نه زه د ستاسې ضامن او ذمه وار يم او هرڅوک خپل ځواب وايي!

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې رسول اللهﷺ ته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ او د هغه دنده او رسالت يې چې د الله دين تبليغ او خلکو ته يې رسول دي؛ په نښه کړئ دئ، نه لکه ځينې احساساتي مسلمانان چې غواړي د الله دين په زور پر خلکو باندې ومني؛ پرته لدې چې د دين پر مقصدونو اولوړو اهدافو ځانونه ښه پوه کړي او ټول واقعيتونه په پام کې ونيسي او ګټې او ز يانونه سره مقايسه او پرتله کړي او سره وې تلي، او لمړ يتو بونه او د خپل دعوت پايلې ښې ژورې وڅيړي، او بيا خپله پر يکړه او فيصله وکړي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې رسول اللهﷺ الله تعالى همداسې د مشرکانو فکري او ذهني ځرنګوالي نه؛ خبر کړئ دئ او ډيرې اړ ينې او

ګټورې لارښودنې او سپارښتنې يې ورته کړې دي، او فرمايلي دي:

[٤٢] او ای پيغمبره! د کافرانو نه ځينې کسان د ستا خبرو ته غوږ باسي [يعنی د قرآن تلاوت اوري، خو هغه نه مني او حق لارې ته نه سميږي، ځکه دوی کاڼه دي او ښه فکر نکړي] نو آيا ته ای پيغمبره! کاڼه اوروي، که څه هم دوی په څه نه پوهيږي؟ يعنی لکه څنګه چې د ګټو راوړوو وسعه نه لري، نو همداسي ته دا مشرکان پرسمه لار بيولای نسې، مګر دا چې الله وغواړي او دوی ته پرسمه لار د تګ توفيق ورکړي.

[٤٣] او ای پيغمبره! د مشرکانو نه ځينې کسان تاته به ړنو سترګو ګوري [خو د ايمان نور چې هغه تاته الله درکړي دئ نه و يي] نو آيا ته ای پيغمبره! ړلانده کسان حق ته سموي؟ که څه هم دوی څه ليدلای نسي؟ يعنی لکه څنګه چې ته ړندو ته د ليدلو سترګې نسې ورکولای، ترڅو حق ور باندې وو يي؛ همداسې دغه کافران چې بصيرت نه لري په سمه لار خوځولای نسې، ځکه حق ته هدايت او ورڅخه ورکتيا د الله په واک کې ده، او الله چې چاته هدايت وغواړي، نو بيا هغه ته په سمه لار د تګ توفيق ورکوي.

قدرمنو عز يزانو! دا مبارکو آيتونه چې رسول الله ﷺ يې د مشرکانو ذهني حالت نه خبر کړئ دئ؛ هغه پيغمبر ﷺ ته د تسليت او اطمئنان لوی پيغام دئ، ترڅو د مشرکانو په کفر باندې د هغه زړه په تنګ نسي او خفه نسي، ځکه د زړونو مالك الله دئ، نو کله چې الله تعالی چاته خير وغواړي زړه يې د ايمان په نور ړنا کوي او توفيق ورکوي، او چاته چې الله هدايت ونه غواړي، نو هغه همداسي د کفرو په تيارو کې محروم پر يږدي او د حق منلو ته د سميدلو توفيق نه ورکوي.

ګرانو دوستانو! او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی د ځان نه ظلم نفيه او رد کړئ دئ او د هغه ملامتي يې پرخلکو اچولې ده، ځکه دوی سرکښي کړي او ځانونه د عذاب وړ او مستحق ګرځوي، نو بيا الله تعالی ورته د دوی د خپلو بدو کړنو او د تيريو سزا ورکوي، او فرمايلي دي:

[٤٤] هو! يقينا چې الله پرخلکو باندې هيڅ ظلم نکړي، خو خپله خلک دي چې پرخپلو ځانو په کفر سره ظلم کړي او د الله نعمتونو نه خپل ځانونه محروموي، يعنی دا چې ايمان راوړل لوی نعمت دئ، خو کافرانو خپل ځانونه ورڅخه محروم کړي دي.

{د دنيا ژوند ژر تيريدونکئ دئ او کافر انو ته الله سزا ورکوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې کافران الله تعالی ګواښلي دي چې نه ښايي د دنيا لنډ ژوند نعمتونو نه په خوند اخستلو سره وغولېږي، ځکه د الله سزا دوی ته په دنيا او آخرت کې راتلونکې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ كَأَن لَّمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّنَ ٱلنَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيۡنَهُمۡۚ قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ٤٥ وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ ٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ ٤٦﴾

[٤٥] او په هغه ورځ چې دغه کافران الله [په آخرت کې حساب ورکولو ته] راغوندوي، نو بيا دوی داسې انګيري، لکه چې دوی د دنيا په ژوند کې يو ساعت يا يوه ګړۍ تيره کړې ده او د يو بل سره پې تعارف او پيژند ګلوي کړي ده، خو هغو کسانو چې د محشر په ورځ الله سره يوځای کيدل او ملاقات دروغ و بلل؛ دوی هرڅه بايلل او پرسمه لار تګ ته نه ؤ برابر سوي، يعنی دوی نور محروم سوي دي او د خپل کفر سزا به هرومرو ګالي.

[٤٦] او ای پيغمبره! کيدای سي چې تاته د ستا په ژوند کې ځينې هغه سزا او عذاب دروښيو چې کافران ورڅخه و يرول سوي دي [يعنی د عذاب ورکولو وعده ورسره سوي ده] او يا دا چې تا به کافرانوته د سزا ورکولو نه وړاندې وفات کړو او مړ به سې، نو د کافرانو بيرته را ګرځول مونږ ته اسانه دي، او الله د دوی پرکړنو باندې شاهد دئ، يعنی هيڅ څه شئ د الله نه پټ نه دي، نو بيا کافرانو ته په حق سره سزا ورکول کيږي.

{په قيامت کې د هر قوم ځای پيغمبر انو په مخکې تاکل کيږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د خلکو پام دې لوى حقيقت ته را اړولئ دئ چې د هر امت خپل پيغمبر دئ، نو د دوى برخليک او ځاى د خپل پيغمبر په مخکې تاکل کيږي، او هرچا ته په عدالت سره سزا ورکول کيږي او پرهيځ چا ظلم نکيږي، او په بيان کې يې الله فرمايلي دي:

﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ ۖ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمْ قُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٤٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾ قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٥٠﴾ أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓ ءَآلْـَٰٔنَ وَقَدْ كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْخُلْدِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٥٢﴾ * وَيَسْتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ۖ قُلْ إِى وَرَبِّىٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ ۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥٣﴾ وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِى ٱلْأَرْضِ لَٱفْتَدَتْ بِهِۦ ۗ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ۖ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٥٤﴾ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾ هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٥٦﴾﴾

[٤٧] ای خلکو! او د هر امت او قوم خپل پيغمبر دئ، او کله چې د هر امت يا د هر ولس خپل پيغمبر د محشر په ورځ راسي، نو بيا د دوى په منځ کې په عدالت او انصاف سره حکم او پر يکړه کيږي او پردوى ظلم نکيږي، يعنى په هغه ورځ مومنان جنت ته ځي او کافران دوزخ ته.

[٤٨] هو! ای پيغمبره! او دغه مشرکان تاسې ته وايي: که تاسې د

ر ښځتيا و يونکي ياستی، نو دا د قيامت ورځ کله ده؟ يعنی د قيامت ورځې وعدې به کله راځي؟

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې پيغمبرﷺ د الله په حکم خلکوته اعلان کړئ دئ چې زه خپل ځان ته د ګټې او د تاوان رسولو واک نه لرم، او په بيان کې الله تعالی داسې فرمايلي دي:

[٤٩] نو ته ای پيغمبره! [په ځواب کې دوی ته] ووايه! زه خپل ځان ته پرته د هغه څه نه چې الله وغواړي؛ نور د ګټې او د زيان رسولو څه واک نه لرم، او د هرامت يا د هر قوم اجل او نيټه ټاکل سوې ده، نو هر کله چې د چا اجل راسي او وخت يې پوره سي، نو بيا يو ساعت هم وړلاندې او وروسته نکيږي، يعنی هرځوک د خپل اجل سره سم مړ کيږي او د خپل اجل نه وړلاندې او وروسته نکيږي، او د ټاکل سوې نيټې پوره کيدل هر چاته د هغه قيامت دئ.

[٥٠] ای پيغمبره! [او دغو مشرکانو ته چې د عذاب راتلو ته تلوسه او تلوار لري] ووايه: وګورئ! که دا د الله عذاب تاسې ته شپې راسي او که ورځې، نو آيا تاسې به په خوښ سئ او که ور باندې خفه او غمجن به سئ؟ نو ولې دا مجرمان (کافران) د عذاب راتلو ته تلوار لري؟ يعنی دا چې د قيامت ورځې راتګ د دوی لپاره ښه ز يرئ نه دئ، نو نه ښايي چې دوی ورته تلوار ولړي!

[٥١] او ای کافرانو! آيا وروسته لدې چې د الله عذاب تاسې ته راسي، نو بيا به تاسې ايمان راوړئ؟ نا! ايمان راوړل اوس څه ګټه نه لري [يعنی کله چې تاسې ته و يل کيدل چې د قيامت راتګ نه مخکې په دنيا کې ايمان راوړئ] نو تاسې يقينا د قيامت ورځې راتګ ته تلوار درلود او په عجله کې وئ، يعنی نو اوس خپله سزا وګالئ، او ايمان راوړل نور څه ګټه نه لري او د الله ټاکل سوي عذاب نه تاسې نجات نه مومئ!

[٥٢] او بيا هغو کافرانوته چې پرخپلو ځانو يې تيرئ او ظلم کړئ دئ؛ و يل کيږي: هو! اوس تاسې تل پاتې عذاب او سزا وځکئ، او آيا تاسې ته

ای کافرانو! [د ستاسې خپلو بدو کړنو نه پرته سزا درکول کیږي؟ ځواب: نا] هو! تاسې ته یوازې د خپل کفر او شرك سزا درکول کیږي.

[٥٣] ای پیغمبره! [کافران غواړي چې د قیامت ورځې عذاب نه خپل ځانونه باوري کړي] او د ستانه پوښتي چې آیا هغه حق دئ؟ نو ته ای پیغمبره! دوی ته ووایه: هو! زما پرخپل رب الله باندې قسم دئ چې هغه په یقین سره حق دئ، او تاسې د الله عذاب مخه نیولای نسی.

[٥٤] او هر چاچې پر خپل ځان باندې ظلم وکه [یعنی کافر د دنیا نه لاړه] نو که په ځمکه کې پروت ټول مال او دولت د هغه وي او بیا دئ د خپل ځان خلاصون لپاره هغه نذرانه کړي [څه ګټه نه لري، ځکه نور د نذرانې ورکولو وخت تیر سوئ دئ] او کله چې دغه کافران د قیامت ورځې عذاب چې تر اوسه یې نه ؤ لیدلئ وو یې، نو بیا خپله پښیماني پټوي، او د کافرانو په منځ کې د قیامت په ورځ په عدالت او انصاف سره حکم کیږي، او پردوی هیڅ ظلم او تیرئ نکیږي، یعنی هر چاته د هغه لائق سزا ورکوله کیږي او عدالت ور باندې چلیږي.

[٥٥] او [ای خلکو! په دې پوه سی] چې یقینا د ځمکې او د اسمانونو واکمن څښتن؛ یوازې الله دئ [ځکه الله تعالی د ټولو مخلوقاتو واکمن خدای دئ] او یقیناچې د الله وعدې حق دي[یعنی قیامت راتلونکئ دئ] خو ډیر خلک په څه نه پوهیږي! یعنی د سمې لارې نه همداسې ورک دي!

[٥٦] او الله هغه لوی ذات دئ چې خلک پیدا کوي او بیایې مړه کوي او بیا ټول خلک بیرته الله ته ورګرځول کیږي، یعنی د ژوند او مرګ واکمن څښتن یوازې الله تعالی دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې د قیامت ورځې یقیني راتګ په باره کې ډیر ښکلئ تصویر یا انځور مونږ ته وړاندې کړئ دئ، او رسول اللهﷺ او د هغه لارې دعوت کونکو علماوو ته یې ډیرې ارزښتناکه لارښودنې او سپارښتنې کړې دي چې هغه زمونږ لپاره د کافرانو سره په مناظره او استدلال کې تل پاتې ژباړه ده، نو ښایي چې ټول دعات

ورځخه کټه واخلي او د الله دغه لارښودنې ځان ته سر ليک غوره کړي او په رښا کې يې خلکو ته د الله دين ورسوي.

{قرآن د وعظ او پام را اړونې پيغام او د زړونو روغتيا دئ}

ګرانو دوستانو! او د ور پسې مبارکو آيتونو په پيل کې الله تعالى خپل کتاب (قرآن) ستايلئ دئ، ځکه هغه خلکو ته لارښود او وعظونه دئ او د مومنانو زړونو ناروغئ لپاره شفا او روغتيا ده، او بيا الله تعالى خلکو ته د خپل فضل او لوى رحمت او پيرز يې ز يرئ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم مَّوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَشِفَآءٞ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ٥٧ قُلۡ بِفَضۡلِ ٱللَّهِ وَبِرَحۡمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُواْ هُوَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ٥٨ قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزۡقٖ فَجَعَلۡتُم مِّنۡهُ حَرَامٗا وَحَلَٰلٗا قُلۡ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمۡ أَمۡ عَلَى ٱللَّهِ تَفۡتَرُونَ ٥٩ وَمَا ظَنُّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُونَ ٦٠ وَمَا تَكُونُ فِي شَأۡنٖ وَمَا تَتۡلُواْ مِنۡهُ مِن قُرۡءَانٖ وَلَا تَعۡمَلُونَ مِنۡ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيۡكُمۡ شُهُودًا إِذۡ تُفِيضُونَ فِيهِۚ وَمَا يَعۡزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثۡقَالِ ذَرَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصۡغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرَ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ ٦١﴾

[٥٧] ای خلکو! قرآن تاسې ته د ستاسې لوی څښتن الله لخوا وعظ کونکې راغلئ دئ [یعنی قرآن تاسې ښو کړنو ته رابولي او د بدو کړنو نه مو کلک منعې کوي، او تاسې د الله تعالى ثوابونو ته هڅوي او د عذاب نه مو کلک و يروي او ګوابنې] او قرآن د زړونو ناروغۍ شفاء دئ او مومنانو ته [چې دوی الله ته مخلص دي او د قرآن نه کټه اخلي] لارښود او رحمت دئ، يعنى قرآن زړونه د شک، شرک او نفاق نه پاکوي او روغوي يې او مومنانو ته د حق پر لار باندې د تګ لارښود او د الله رحمت پيغام دئ.

[٥٨] نو ته ای پيغمبره! [ټولو خلکو ته اعلان وکړه او ورته] ووايه چې

دا قرآن تاسې ته د الله په فضل او رحمت سره راغلئ دئ، نو ښايي چې په هغه باندې خوښ سې، ځکه قرآن تاسې ته د دنيا هغه مال او دولت نه چې هغه تاسې راغونډوی؛ غوره او ښه دئ، يعنی خلکو ته په قرآن کې خير دئ، ځکه د دوی خو يونه او دودونه اصلاح کوي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د کافران خپل سره حکمونه په حلا لو او حرامو کې کلک غندلي دي، او دوی يې ګوابنلي دي چې د دوی ټولې کړنې د الله څار لاندې دي او هيڅ کم شئ يې د الله نه پټ نه دي، نو د ښو کړنو به ثواب او د بدو کړنو به سزا ورکړي، او فرمايلي دي:

[۵۹] ای پيغمبره! [دغو کافرانو ته چې د ستا پيغمبرۍ نه مني] ووايه: ای خلکو! ما ته ووايي: آيا هغه روزي چې الله تاسې ته راکوزه کړه، نو بيا تاسې د هغې نه ځينې [پر خپلو ځانو باندې] حرام کړه او ځينې نوره مو ځانو ته حلاله وګرځوله، نو آيا د حلالو او حرامو په دې حکم کې تاسې ته الله اجازه کړې ده؟ او که هغه تاسې د خپلو ځانونو نه الله پسې تپلئ دئ؟ يعنی پرته د کم دليل نه تاسې الله پسې دروغ و يلي دي او د حلال او حرام حکم مو الله پسې افترا کړئ او تپلئ دئ؟

[٦٠] او هغه کسان چې الله پسې دروغ تړي [يعنی په دروغو سره الله ته د هغې روزي حرامولو نسبت کړي چې هغه الله پردوی باندې نه ده حرامه کړې، نو آيا دوی څنګه فکر او خيال کړي] چې د قيامت په ورځ به الله د دوی سره څه وکړي؟ او يقينا چې الله پر خلکو د ډيرو پيرزو ينو څښتن دئ [يعنی دوی ته الله ډير نعمتونه ورکړي دي او بيا چې څوک د ناشکرۍ نه ګناه وکړي؛ الله ورته په ګناه باندې په دنيا کې ژر سزا نه ورکوي او د توبې و يستلو ورو نه يې ورته خلاص پرې ايښي دي] خو ډير خلک د الله ورکړو او پيرزو ينو شکر نه باسي، يعنی د الله نعمتونو په قدر نه پوهيږي او همداسې به په غفلت او بې پروايي کې پاتې وي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې د مشرکانو خپل سره حکمونه د روزۍ او دوی ته د ورکړل سوو حلالو نعمتونو په حرامولو

کې غندلي دي، ځکه مشرکانو به ځينې حلال څاروي چې هغه دوی ته حلاله روزي ؤ؛ په نامه ده سايبې، بحيرې او په نورو نومنو نومول او بيا بې هغه پرخپلو ځانو حرامول، او دا حکم دوی د ځان نه الله پسې تاپه، او د کافرانو د دغسې افترا پوره بيان مخکې د الانعام سورې په (١٣٨-١٣٩) آيتونوکې تير سه، او مشرکان د دې لوی تيري سره سره د الله په حکمونو باندې بيا هم همداسې په غفلت او بې پروايي کې ډوب پاتې دي او د الله تعالی نعمتونو شکر نه باسي!

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی رسول اللهﷺ او د هغه امت ټول خلک د خپل کلک څار نه خبر کړي دي، او فرمايلي دي:

[٦١] ای پيغمبره! او ته خپله په هيڅ کم حال کې نه وې [يعنی کم کار نکړي] او يا دا چې کله ته د قرآن ځينې آيتونه لولې، او ای خلکو! تاسې هم هيڅ کم کار نکړی، مګر دا چې مونږ پرتاسې ټولو باندې شاهدان يو، او کله چې تاسې په خپلو کړنو کې لګيا وی؛ مونږ تاسې و ينو [يعنی د زمونږ څار لاندې ياستی، او ای پيغمبره!] د ستا رب نه هيڅ څه شئ پرځمکه او اسمان کې پټ نه دي، که څه هم هغه د يو مثقال يا يوه بڅرکي په اندازه وړو وي، او يا د بڅرکي او مثقال نه هم لږ او يا لږ ډير وي، او د هر چا ټولې کړنې په ښکاره کونکي کتاب (لوح محفوظ) کې ليکل سوي او ساتل سوي دي، يعنی الله ور باندې ښه پوه دئ، نو بيا هر چا ته د قيامت په ورځ د هغه د ښو او بدو کړنو ثواب او سزا ورکوي، يعنی د الله تعالی علم پرخپلو بنده ګانو باندې خور دئ او هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي، او الله عادل ذات دئ، او په هيڅ چا باندې ظلم نکړي.

قدرمنو عز يزانو! د خلکو ښو او بدو کړنو ساتل الله تعالی ته کم سخت يا ستونزمن کار نه دئ، لکه څنګه چې په اوسني وخت کې مونږ د بشر په پرمختللې تکنالوژۍ کې هغه و ينو او ټول په ګوګل کې ساتل کيږي، او هرکله چې مونږ وغواړو هغه راکوزولای او راو يستلای او خورولای سو، او د يادونې وړ بولم چې الحمد لله د زما د دې مبارك لنډ تفسير غګيزه برخه هم په ٣١٦ برخو کې ثبت سوئ او بيا ګوګل ته پورته

سوئ دئ، نو اوس هره اونۍ يؤ يا دؤ حلقې يا برخې په فيسبوک، تلګرام يوتوب، او د واتساپ په دعوتي ګرو پونو کې نشر ته وړاندې کيږي، او الحمد لله د پښتو تفسير مينه وال پې اوري او ګټه ورڅخه اخلي.

{مومنانو ته په دنيا او آخرت کې د ډاډ او اطمئنان زيري}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنانو ته الله تعالى د ډاډ ز يري ورکړي دي، او فرمايلي دي:

﴿أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٦٢ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٦٣ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ لَا تَبۡدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٦٤ وَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ إِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًاۚ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦٥ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَمَا يَتَّبِعُ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُرَكَآءَۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ٦٦﴾

[٦٢-٦٣] [اى خلکو! په دې پوه سې چې] يقينا د الله پر دوستانو د قيامت ورځې سزا نه هيڅ و يره نسته او دوى ده نه غمجن کيږي [يعنى دوى ده هيڅ کله انديښنه نکړي او الله تعالى به خپلې پيرزو ينې چې تل پاتې جنتونه دي دوى ته ورکړي، او دغه د الله دوستان] هغه کسان دي چې ايمان پې راوړ او متقيان ول، يعنى د الله تعالى حکمونه په پوره اخلاص سره مني او په اطاعت او عبادت کړو سره او د حرامو نه په ځان ساتنې سره خپل ځانونه د الله سزا نه کلک ساتي.

[٦٤] او دغو متقيانوته د دنيا په ژوند کې او هم د آخرت په ورځ ز يرئ دئ [يعنى دا چې دوى ده د خپلې راتلونکې نه چې خوښي او د الله تعالى جنتونه دي ډاډمن او مطمئن وي] ځکه د الله په حکمونو کې بدلون نسته [يعنى الله تعالى وعده خلافي نکړي] او هغه لو يه بر يا ده، يعنى

هغه الله تعالى خپلو فرمان وړونکو بنده ګانو ته ورکوي او دوی پر دغسې ورکړو باندې نازوي.

ګرانو دوستانو! نو ښايي چې هر مومن بنده په ښه عمل سره او د الله تعالى په شر يعت باندې پر ټينګيښت سره خپل ځان دغې لويې بر يا ته ورسوي او د الله تعالى ز يري ده لاس ته راوړي، او په دنيا او آخرت کې ده عزتمن او سرلوړئ ژوند وکړي، او د هر ډول خواري نه ده ځان وساتي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول اللهﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٦٥] هو؛ ای پيغمبره! د مشرکانو سپکې سپورې خبرې [يعنى الله پسې دروغ و يل او افترا کړل] تا غمجن نکړي، ځکه يقيناچې ټول عزت او قدرت د الله په واک کې دئ، او الله ښه اور يدونکئ او ښه پوه لوی ذات دئ، يعنى هرڅه اوري او په هرڅه پوهيږي، نو بيا هر چا ته د هغه د ښو او بدو کړنو ثواب او سزا ورکوي.

[٦٦] او ای خلکو! [په دې خبرو ښه پوه سی چې] يقينا ټول مخلوقات پرځمکه او په اسمانو کې د الله واک لاندې دي، او هغه کسان چې د الله نه پرته خدايان شر يکان غواړي او هغو پسې ځي او بنده ګي يې کړي؛ دوی خپلو هوسونو او انګيرنو پسې تللي دي او هغه ټول دروغ دي؛ هيڅ حقيقت نه لري، يعنى دا چې د بتانو عبادت د شيطان وسوسو نه پرته بل څه شئ نه دي، نو هيڅ ارزښت او اعتبار نه لري.

درندو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونوکې رسول اللهﷺ ته او د هغه امت ټولو لارو يانو دعاتو ته چې د الله دين پرځمکه کې خوري ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ چې هيڅ کله ده د کافرانو د توطئيو او دسيسو پروا نکړي، ځکه هغه ټولې يوازې شيطاني وسوسې دي چې يوازې انديښنې ز يږوي او هيڅ کله د حق مخه نيولای نسي.

{د شپې او ورځې بدلون او پرلپسې راتګ د الله قدرتونو نښه

ده}

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مونږ ته د شپې او ورځې بدلون د خپلو لو یو قدرتونو لو یه نښه یاده کړې او ښودلې ده، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا سُبْحَٰنَهُۥ ۖ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ۖ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ إِنْ عِندَكُم مِّن سُلْطَٰنٍۭ بِهَٰذَآ ۚ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾ قُلْ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾ مَتَٰعٌ فِى ٱلدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ ٱلْعَذَابَ ٱلشَّدِيدَ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾﴾

[٦٧] هو؛ ای خلکو! الله هغه څوک دئ چې شپه یې ستاسې د سکون [یعنی د دمې کړو او خوب] لپاره ګرځولې ده [ځکه چې پکې توره تیاره وي] او ورځ الله رڼا کړې ده [ترڅو تاسې پکې کار وکړئ او خپلو ځانو ته روزي وکټئ او خپل رسالت او دنده په ځمکه کې چې د الله خلافت د ځمکې په ودانئ کې دئ ترسره کړئ] او یقیناچې په دې کې د هغه چا لپاره چې خبره اوري[او ور باندې ښه پوهیږي] لویې نښانې او د الله قدرتونو دلیلونه نغښتي او پکې شتون لري.

[٦٨] هو! کافرانو وو یل چې الله ځان ته زوی نیولې دئ! [العیاذ بالله] خو الله د زوی نیولو نه پاک او لوړ دئ او الله غنی ذات دئ [یعنی زوی نیول د اړتیا نښه ده او الله تعالی هیڅ چا ته اړ او محتاج ندئ] او هرڅه چې پرځمکه او په اسمانو کې دي؛ هغه ټول د الله په واک کې دي [یعنی ای کافرانو! تاسې چې وایي الله زوی لری او فرښتې د الله لونه بولئ؛ دا ټول خوسې بې بنسټه تورونه دي] او تاسې پر خپلې دغسې دعوا باندې هیڅ کم دلیل نه لرئ، نو آیا تاسې هغه څه الله پسې وایي چې نه پوهیږئ څه

وایي؟ یعنی د ستاسي دغه و یناوي ټولې دروغ دي او الله پسې ناحقه تورونه پورې کول دي!

[٦٩] [نو ته ای پیغمبره! [خلکوته اعلان وکړه او ورته] ووایه یقینا هغه کسان چې په درغو الله پسې افترا کړي؛ دوی بر یاته نه رسیږي، یعنی دا کافران به همداسې تل په خپلو دروغو کې ډوب خښ سوي پاتې وي، او هیڅکله به خپلو کفري مقصدونو ته ونه رسیږي.

[۷۰] [او دغه کافران چې الله پسې دروغ وایي او تورونه ور پورې تپي] دوی په خپل کفر سره د دنیا ژوند نه لنډ خوند اخلي او بیایې راګرځیدل بیرته مونږ ته دي، نو مونږ به بیا دوی ته د دوی د کفر کلکه سزا ورڅکو!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې لمړۍ رسول اللهﷺ ته تسلیت او ډاډ ورکړئ دئ چې ای پیغمبره! د مشرکانو زورونې تا خفه او بې صبره نکړي، ځکه هرڅه د الله په واک کې دي او الله لوی ځواکمن او زورور ذات دئ، نو مشرکانوته به د دوی د بدو کړنو او د بدو خبرو سزا ورکړي، او بیا الله تعالی خپل عظمت او لو یتیا او ټولواکي پرټولو مخلوقاتو باندې بیان کړې ده، ترڅو مشرکان سر په ګر یوان کړي او د خپل عناد او سر زورۍ نه چې ناپوهۍ پې لوی عامل دئ؛ لاس واخلي او ایمان راوړي او د رسول اللهﷺ پیغمبري ومني.

هو! کله چې مونږ دا مبارك آیتونه چې د مکې مشرکانو در یځ او چلند د رسول اللهﷺ پر وړاندې پکې انځور سوي دئ؛ لولو، نو ښایي چې د خپل عصر زورواکانو در یځ او چلند د هغو حقپا لانو پر وړاندې چې دوی خلک د الله حق دین منلو او ور باندې عمل کړوته رابولي؛ په خپل ذهن کې حاضر کړو، او په ځانګړي ډول په هغو ټولنوکې چې هلته لاتر اوسه د بتانو عبادت کیږي او په ملیونهاوو خلک بتانوته سجده کړی او د حق اواز اور یدلونه لرې او محروم پاتې دي، نو څنګه به دوی خپل باطل دین خوسې کړي او ورڅخه به تیرسي؟ او یوازې د الله تعالی عبادت به وکړي، ځکه دغسې مقایسوي نظر اچول او کتنه مونږ ته د مکې دورې قرآن

باندې پوهيدل ښه اسانه کوي.

{د نوح عليه السلام قصه د مکې او نړۍ کافرانو ته لوی ګواښ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د نوح عليه السلام قصه د خپل سرکښ قوم سره د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم او مومنانو ته د ډاډ ګيرنې په مقصد يادوي، او فرمايلي دي:

﴿*وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةٗ ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ ٧١ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَمَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٧٢ فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ خَلَٰٓئِفَ وَأَغۡرَقۡنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُنذَرِينَ ٧٣ ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ رُسُلًا إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ بِهِۦ مِن قَبۡلُۚ كَذَٰلِكَ نَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ٧٤﴾

[٧١] ای پيغمبره! او د مکې کافرانو ته د نوح قصه ور واورؤ! کله چې نوح خپل قوم ته وو يل: ای د زما عز يزانو! که چيرې د زما [اوږده] اوسيدل ستاسې په منځ کې او تاسې ته د زما در يادونې او وعظ کړل د الله د دين آيتونو او دليلونو په بيانولو سره؛ پرتاسې درانده سوي وي، نو [پوه سی او واوری] چې ما پرالله باندې توکل کړئ دئ [يعنی خپل ځان مه پرالله تعالی سپارلئ دئ] او تاسې خپلو ملګرو سره اتفاق وکړی او بيا خپلې کړنې، فيصلې او پر يکړې د يو بل نه مه پټوی [يعنی هغه ښکاره اعلان کړی] او بيا ما ته راوړاندې سی او ما ته بيا هيڅ وخت او مهلت مه راکوی او پر ما باندې حمله او بر يد وکړی، يعنی دا چې زه نور د ستاسې پروا نه لرم او نه ستاسې نه و يره يرم، ځکه د زما مل او مرستندوی الله دئ.

[٧٢] نو ای کافرانو! که تاسې د زما دعوت نه په شا سوی، نو ما خو

د ستاسې نه هيڅ څه شئ نه دي غوښتي، او د زما ثواب او مزدوري پر الله باندې ده، او ما ته حکم سوئ دئ چې زه د مسلمانانو نه وم، يعنی خپل ځان د الله پر يکړو ته سپارم او ورته تسليم يم.

هو! قدرمنو دوستانو! د نوح عليه السلام دا خبره چې ما ته حکم سوئ دئ [چې زه د مسلمانانو نه وم] پردې حقيقت دلالت کړي چې د ټولو پيغمبرانو دين اسلام دئ، لکه څنګه چې د نوح عليه السلام دا خبره د هغه نه وروسته نورو ټولو پيغمبرانو د ابراهيم عليه السلام نه نيولې تر محمد صلی الله عليه وسلم پورې کړي ده، خو د پيغمبرانو د دين هر يوه عملي حکمونه د هر امت او د هر عصر او وخت د غوښتنو سره برابر؛ يو بل نه بيل ول، ترڅوچې خاتم الانبياء والمرسلين صلی الله عليه وسلم راغئ او د ابراهيمي توحيد په راژوندي کولو سره يې ټول بشر يت؛ يؤ کامل دين او شر يعت ته راو باله.

او په ور پسې مبارك آيت کې د نوح عليه السلام قوم در يځ او چلند د هغه غوښتنې او وړانديځ په باره کې د الله تعالى بيان کړئ دئ، او د هغه بدې پايلې اعلان سره يې فرمايلي دي:

[۷۳] نو بيا د نوح قوم دئ تکذيب که او دروغژن يې و باله، نو بيا نوح ته او ورسره ملګرو ته يې مونږ په بيړۍ که په سپرلې سره نجات ورکه او دوی مونږ يو بل پسې پرځمکه ځای ناستي وګرځول [يعنی د نوح سرکښ قوم ځای يې ونيؤ] او هغه کسان چې مونږ د او بو ژپو طوفان کې غرق او ډوب کړل؛ هغوی د زمونږ کتاب آيتونه او دليلونه دروغ و بلل [يعنی هغه يې ونه منل او ايمان يې رانوړ] نو ای پيغمبره! وګوره چې د هغو کسانو خاتمه او راتلونکې چې دوی د الله عذاب او سزا نه و يرول سوي ول؛ څنګه سؤ؟ يعنی دا چې يقينا دوی هلاك او تباه سول.

هو؛ عزتمنو دوستانو! دا د الله تعالى نه بدليدونکئ نظام او ثابت سنت او کړن لار ده چې د بشر يت په ټول تار يخ کې په پوره باور او يقين سره پلې سوې ده، او د الله تعالې دا سنت او نظام به همداسې تر قيامت ورځې پورې جاري وي، نو اوس د خلکو خوښه چې دوی خپلو ځانونو ته

بر يا او خلاصون غواړي؟ او که د هلاکت خوا ته په دنيا او آخرت کې مخ پر وړاندي ځي، ترڅو د الله تعالى دا قانون ور باندې وچلېږي او نافذ سي؟

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د نوح عليه السلام نه وروسته د نورو پيغمبرانو را ليږلو لنډه يادونه کړې ده چې ټول يې د خپلو ولسونو مخالفت سره مخامخ سول، او په بيان کې فرمايلي دي:

[٧٤] او بيا د نوح نه وروسته مونږ نور پيغمبران خپلو ولسونو ته راوليږل او دوی هر يوه په خپل وار سره خپل امت ته د الله قدرتونو ښېې [يعنى معجزې او دليلونه راوړل چې د دوی د پيغمبرۍ تصديق يې کا ؤ] خو بيا دغو ولسونو پر هغو دليلونو باندې باور ونکه چې هغه دوی مخکې تکذيب کړي او دروغ بللي ول، نو مونږ همداسې د تيرئ کونکو خلکو په زړونو باندې ټاپې وهو، يعنى دا ځکه چې دوی ټولو د الله پرحدودو تيرئ وکه او د الله را ليږل پيغمبران يې ونه منل او د ايمان راوړو نه يې کلکه سرکښي او بغاوت وکه.

درندو دوستانو! او د دغو پيغمبرانو قصې په نورو ډيرو سورو کې په وار وار سره راغلې دي او د دوی نه مقصد په دې مبارك آيت کې؛ هغه ډير پيغمبران دي چې د سام بن نوح د کهول نه پيغمبران را ليږي سوي ول او په عر بانو کې د دوی قصې خوړې وې، لکه: ابراهيم، لوط، هود، صالح، شعيب او تر موسى او عيسى عليهم السلام پورې ټول پخواني پيغمبران چې خپل ولسونه يې د الله تعالى توحيد ته راو بلل.

{فرعون او قوم يې د موسى پيغمبرۍ پرې وړاندې کبر وکه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د موسى عليه السلام د پيغمبرۍ قصه د فرعون سره کړې ده، او هغه د ډيرو کټو او پندونو نه ډکه قصه ده، او پکې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦ بِـَٔايَٰتِنَا فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوٓا۟ إِنَّ هَٰذَا

لَسِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧٦﴾ قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ۖ أَسِحْرٌ هَٰذَا وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ ﴿٧٧﴾ قَالُوٓاْ أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِينَ ﴿٧٨﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ٱئْتُونِى بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿٧٩﴾ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُواْ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٨٠﴾ فَلَمَّآ أَلْقَوْاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُم بِهِ ٱلسِّحْرُ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبْطِلُهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٨١﴾

[٧٥] او بيا د دوی نه وروسته [يعنی د نوح او ابراهيم عليهم السلام د کورنۍ پيغمبرانو نه وروسته] موسی او هارون مونږ د زمونږ قدرتونو نښانو او معجزو سره يوځای فرعون او د هغه قوم مشرانو ته را وليږل، خو دوی چې يو مجرم قوم ؤ کبرجن وکه، يعنی خپل ځانونه يې لوړ و بلل او د موسی او هارون عليهما السلام پيغمبري يې ونه منله او بغاوت يې وکه، او فرعون خپل ځان خلکو ته (العياذ بالله) خدای اعلان که! يعنی ترڅو يې قوم همداسې د ده سرکښې واکمنۍ لاندې پاتې سي.

[٧٦] نو بيا چې کله دوی ته د زمونږ لخوا حق راغئ؛ دوی وو يل: دا خو يقينا چې ښکاره ګوډی دي.

[٧٧] نو موسی ورته وو يل: آيا کله چې تاسې ته حق راغئ بيا وايي: هغه ګوډې دي؟ [نو ښه فکر وکړئ او وګورئ چې آيا دا د الله نه په حق سره راغلې معجزې کوډې دي؟ او په دې هم پوه سی] چې ګوډګر هيڅ کله نه بر يالي کيږي، يعنی که چيرې د الله تعالی دغه معجزې او د قدرتونو نښانې چې هغه تاسې ته ما وړاندې کړې؛ کوډې وي، نو په دې پوه سی او باور وکړی چې کوډګر هيڅکله بر يا ته نه رسيږي!

[٧٨] [نو بيا فرعون او مشاورانويې په ځواب کې موسی عليه السلام ته] وويل: آيا ته ای موسی! مونږ ته راغلې يې چې مونږ د خپلو پلرونو د دين نه واړوي او بيا پرځمکه لو يتيا د ستاسې دواړو وروڼو سي؟ نا! مونږ پر تاسې دواړو باندې باور نکړو، يعنی د ستاسې پيغمبري نه منو، ځکه چې تاسې مونږ د

خپلو پلرونو دين نه اړوي او ستاسې مقصده پر ځمکه واکمني او قدرت او لو يتيا ده!

ګرانو دوستانو! دا هغه منطق او استدلال دئ چې د باطل پلو يان يې د شيطان په لمسون د حقپالانو پر وړاندې تل کاروي، لکه څنګه چې د نن ورځې ټولې تبليغاتي رسنۍ شپه او ورځ د مسلمانانو پرضد همداسې ناروا او زهرجن تبليغات او پرو پاګندې کړي، او هغه حقپالان چې خپل مومن ولسونه د اسلام په ژباړه کې ژوند ته رابولي؛ دوی سياسي قدرت لاس ته راوړو باندې تورنوي؛ حال دا چې دغه ر يښتيني اسلام پالونکي او ورته رابلونکي دعات د خپلو ولسونو خير په دنيا او په آخرت کې غواړي او مقصدې د دوی هوسايي او نيمرغي د اسلامي نظام په سوري کې ده، او دغسې لوی مقصد ته د رسيدو يوازنۍ لار همدا د اسلام منل او عملي ايمان دئ چې ورته د دعوت لپاره الله تعالی پيغمبران راليږلي دي او کتابونه يې رانازل کړي دي او د اسلام پيغمبر محمدﷺ يې خاتم النبين والمرسلين ګرځولئ دئ او د خپل دين او شرعي نظام د پوره کيدلو ز يرئ يې ورکړئ دئ.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې همداسې الله تعالی د فرعون دښمنانه چلند د موسیعليه السلام سره بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٧٩] نو بيا فرعون [خپلو فرمان وړنکو ته] وو يل: هر يو ښه ماهر او پؤ کوډګر را ته را ولې!

[٨٠] نو کله چې بيا د فرعون کوډګر راغلل موسی ورته وو يل: څومره [پړي او لکړې چې تاسې پرځمکه] را اچولای سی؛ هغه راواچوی، يعنی نندارې ته يې را وړاندې کړی.

[٨١] نو بيا چې کله دوی خپل ټول سامان [ډګر ته] راوغورځا ؤ، نو موسی پر دوی باندې غږ وکه او و يو يل: هغه څه چې تاسې دلته راوړل او په ډګر کې مو راواچول؛ هغه ټولې کوډې دي او هغه به يقينا الله لمنځه يوسي او الله د ورانونکو کړنې هيڅکله نه سموي.

{كافران د حق سره دښمني کړي خو الله حق بر ياته رسوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنانو ته د حق بر يا ز يرئ د موسى عليه السلام پرامامت او پيغمبرۍ باندې ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٨٢ فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٞ مِّن قَوۡمِهِۦ عَلَىٰ خَوۡفٖ مِّن فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِمۡ أَن يَفۡتِنَهُمۡۚ وَإِنَّ فِرۡعَوۡنَ لَعَالٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٨٣ وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوۡمِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسۡلِمِينَ ٨٤ فَقَالُواْ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَا رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٥ وَنَجِّنَا بِرَحۡمَتِكَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٨٦﴾

[٨٢] او حق الله پرخپل حکم سره ټينګوي، که څه هم مجرمان (کافران) د هغه نه کرکه ولري.

[٨٣] نو بيا پر موسى باندې د فرعون قوم نه پرته د هغه خپل قوم کهول [يعنى د تنکيو ځوانانو نه پرته بل چا] ايمان رانور، ځکه دوى ټول د فرعون او د هغه سلطنت مشرانو نه په و يره کې ول چې دوى به په ازمايښت سره وزوروي [يعنى سزا به ورکړي او د خپل دين نه بې بيرته واړوي] او يقيناچې فرعون پر ځمکه د لو يو تيرئ کونکو او کبرجنو زور واکانو نه ؤ.

[٨٤] او بيا موسى [عليه السلام پرخپل قوم باندې غږ وکه] او ورته يې وو يل: اى د زما قومه! [او درندو عز يزانو!] که تاسې په ر يښتيا سره ايمان راوړئ وي، نو پر الله توکل وکړئ [يعنى خپل ځانونه پر الله وسپارئ] که تاسې مسلمانان وئ، يعنى که تاسې د الله فيصلې او پر يکړې ته خپل ځانونه تسليم کړئ وي، نو حکم ته يې غاړه کيږدئ.

[٨٥] [نو بيا د موسى قوم هغه ته په ځواب کې] وو يل: هو! مونږ يوازې پرالله باندې توکل وکه، نو ته اى د زمونږ لو يه خدايه! مونږ د

ظالمانو لپاره د ازمايښـــت پلمه مګرځۍ، يعني کافران پر مونږ برلاســي نکړي چې بيا ووايي: که د موســى قوم پرحق واى، نو نه به ماتيدل، يعنى شکست بې نه خوړه؟

[٨٦] او اى لو يه ر به! ته په خپل رحمت ســره مونږ د ظالم قوم نه [يعنى د فرعون او د هغه زورواکانو نه] خلاص کړه او نجات را کړه!

ګرانو دوســتانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د فرعون د کودګرو سيالي موسى عليه السلام د معجزو سره مونږ ته ياده کړې او بيان کړې ده، او بيايې موســى عليه السلام او نورو ټولو مومنانو ته اطمئنان او ډاډ ورکړئ دئ چې حق به د الله تعالى په حکم بر يالئ کيږي، که څه هم کافران او مجرمان هغه نه غواړي او ورڅخه کرکه لري، خو د فرعون زور او ځواک دومره خور ؤ چې د هغه و يرې نه د فرعون قوم قبتيانو نه ډيرو لږو تنکيو زلمکيانو پرموسى باندې ايمان راوړ، او روايت سوئ دئ چې دا زلمکيان د فرعون قوم کهول نه هغه هلکان ول چې ميندې يې د بني اســراييلو لوړ نه وې، نو بيا موسى عليه السلام مومنانو ته ډاډ ورکه او دوى يې په الله باندې توکل ته وهڅول، ځکه يقيناچې الله تعالى د ر ښتيني زور او ځواک څښتن دئ.

درندو دوستانو! نو پوره روښانه سؤ چې حقپالونکي د بشريت په ټول تار يخ کې او په ځانګړي ډول د رســول الله صلى الله عليه وسلم په عصــر او زمانه کې، او همدارنګه اوس د زمونږ په عصر او زمانه کې؛ د لو يو لو يو ګواښــونو او ســتونزو ســره لاس پرګر يوان دي او د خلاصــون او بر يا يوازنى لارې په الله باندې توکل او اعتماد دئ، خو د توکل لپاره اســبابو تيارول او د پيغمبرانو په لار باندې تک شــرط دئ، ځکه توکل يوازې د خولې خبره نه ده، بلکې کلک ايمان او پاخه حکمت او علم او پوهې ته چې د اسبابو لاس ته راوړول ور پورې تړلې دي؛ کلکه اړتيا لري او د اســبابو نه پرته توکل ته په عربي کې (تواکل) وايي او هغه هيڅ ګټه نه لري، ځکه هغه د و يدو ولسونو کار دئ چې د غفلت او ناپوهۍ په درندو خو بونو کې لا تر اوسه و يده پاتې دي او د سرلورۍ، پر مختيا او ترقۍ خو بونه په دنيا کې او د الله جنتونه په آخرت کې و يني، خو ورته رسيدلای نسي.

{د موسی قوم مومنانو ته د خلاصون ز يري}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د موسی او فرعون د اوږدو قصو پايلې يادې سوې دي او پکې الله تعالی موسی او ورور يې هارون عليهما السلام ته لاښودنه کړې ده چې نور خپل قوم (بني اسرائيل) د فرعونيانو نه بيل کړی او د هغوی ځپلو نه يې خلاصون ته؛ تيارسئ ودروی، ځکه د موسی عليه السلام قوم چې پر الله يې توکل وکه او ځان ته يې د کافرانو نه نجات وغوښت دعايې قبوله سؤ، او په بيان کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّـَٔا لِقَوۡمِكُمَا بِمِصۡرَ بُيُوتٗا وَٱجۡعَلُواْ بُيُوتَكُمۡ قِبۡلَةٗ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٧ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةٗ وَأَمۡوَٰلٗا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَۖ رَبَّنَا ٱطۡمِسۡ عَلَىٰٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ وَٱشۡدُدۡ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُواْ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ٨٨ قَالَ قَدۡ أُجِيبَت دَّعۡوَتُكُمَا فَٱسۡتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ٨٩﴾

[٨٧] او موسی او د هغه ورور هارون ته مونږ وحيه وکړه [يعنی دوی ته مونږ پټ وو يل] چې خپل قوم ته په مصرکې بيل کورونه تيار کړی او دا کورونه يو بل ته مخامخ ودان کړی او لمنځونه پکې ودروی، او ای موسی د خپل قوم مومنانو ته ده ز يرئ ورکړه چې فتحه او بر يا او د فرعون زور ځواکی نه خلاصون را لنډ دئ.

د تفسير ځينې علماء وايي چې د دې ځانګړو کورونو نه مقصد د عبادت او د لمونځونو درولو لپاره جوماتونه دي، ځکه فرعون د موسی پيغمبری نه وروسته د بني اسرائيلو د عبادت ځانګړي کورونه رنګ کړل، نو بيا موسی عليه السلام ته الله تعالی سپارښت وکه چې بني اسرائيلو ته د لمونځونو درولو لپاره ځانګړي کورونه چې محرابونه يې قبلې خوا ته وي ودان کړي، ترڅو دوی خپل عبادت پټ پکې وکړي او د فرعونيانو سترګونه

لرې او پټ وي، خو ځيني نور مفسرين بيا وايي چې د قبلې نه دلته مقصد د کورونو جوړول او ودانول يو بل ته مخامخ دي، ترڅو يو د بل سره د څار په پيره کې مرسته وکړي، او د دښمن ناڅاپه بر يد نه په امن کې پاتې سي، او په همدې کورونوکې لمنځونه هم ودروي، ځکه دوی په بيړني حالت کې ول، او راغونډيدل يې په جوماتونوکې دوی ته ګواښل بلل کيده.

[٨٨] نو بيا موسی [د الله تعالی سره په مناجات کې دعاء وکړه او په دعا کې يې] وو يل: ای د زمونږ لو يه ر به! تا فرعون ته او د هغه د در بار مشرانو ته د دنيا ژوند ډير ښايسته کړئ دئ او د دنيا په ژوند کې دوی ته تا ډير مال او دولت ورکړئ دئ، ترڅو دوی د ستا لارې نه خلک ورک او بې لارې کړي، نو ای د زمونږ لو يه ر به! د دوی مال او دولت او زور او ځواک لمنځه يوسه او تباه يې کړه او زړونه يې کلک وتړه [يعنی تاپه ور باندې ووهه] نو بيا به دوی ايمان نه راوړي، ترڅوچې دردونکئ عذاب او کلکه سزا وو يني، يعنی نو بيا به په داسې وخت کې ايمان راوړي چې نور ورته ايمان راوړل څه ګټه نه لري.

[٨٩] نو بيا الله ورته وو يل: د ستاسې دواړو (موسی او هارون) دعاء ما په يقين سره قبوله کړه، نو تاسې دواړه په خپل ايمان کې همداسې سم کلک پاتې سی او د هغو کسانو لارې پسې لاړ نسی چې دوی په څه نه پوهيږي، يعنی د الله وعدو او ګواښونو نه غافل دي او پروايې نکړي او خپل هوس پسې اخستي دي.

قدرمنو دوستانو! کله چې موسی عليه السلام فرعون ته خپل دعوت وړاندې که او فرعون او قوم يې؛ يوازې د الله عبادت ته راو بلل او موسی ته د الله نه ورکړل سوې؛ هغه معجزې يې فرعونيانو ته وښودلې چې د موسی پيغمبری تصديق يې کا ؤ، نو بيا فرعون او د قوم مشرانويې کبر او زورواکی په سر واخستل او د الله زور او کلکو نيولو نه غافل او بې پروا سول، او فرعون د خدايي دعوا وکړه او د بني اسرائيلو ځپلو لړی همداسې اوږده سؤ، او نور نو د موسی عليه السلام او د هغه قوم زغم او صبر کاسه د فرعونيانو پر وړاندې ډکه سؤ، نو بيايې د نوح عليه السلام غوندې د

فرعون نه د نجات او خلاصـــون او د فرعون هلاکت او لمنځه وړلو دعاء وکړه، نو بيا هغه ؤ چې الله تعالى د دوى دعاء قبوله کړه او د خلاصـــون کلک ز يرئ يې ورکه او د نجات لارې اړوند ارزښـتناکه لارښـودنې يې موسى او د هغه ورور هارون ته وکړې، او د مصـــر نه يې د ســـره ســـمندر نه په تيريدلو ســـره د ســـيناء ډاګ ته چې پکې د طور غر او بيا په ور پســـې بيت المقدس ښـــار دئ او پکې د اقصـــا مســـجد پروت دئ؛ نجات ورکه او د فرعوني ظلم نه د تل لپاره خلاص سول.

{فرعون د خپل لښکر سره په سمندر کې ډوب او هلاک سه}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى په سـمندرکې د فرعون او د هغه لوى لښکر د ډو بيدو يادونه کړې ده، او په بيان کې فرمايلي دي چې بيا موسى عليه السلام پسې فرعون د خپلو لښکرو سره مخ پر سمندر ورودانګل او پکې ډوب او هلاک سول:

﴿۞وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَجُنُودُهُۥ بَغۡيٗا وَعَدۡوًاۚ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدۡرَكَهُ ٱلۡغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِيٓ ءَامَنَتۡ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٩٠ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٩١ فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ٩٢ وَلَقَدۡ بَوَّأۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ صِدۡقٖ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ فَمَا ٱخۡتَلَفُواْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ٩٣﴾

[٩٠] او بني اسرائيل مونږ د سمندر نه تير کړل او ور پسې فرعون او د هغه لښکر په پوره بغاوت او تيري سره ور ودانګل، ترڅو چې بيا دوي په سمندر کې ډو بيدو را ونيول او پکې غرق سول او [په دې وخت کې فرعون غږ وکه] او وې و يل: ما په هغه خداى ايمان راوړ چې بني اسرائيلو پر هغه باندې ايمان راوړ، ځکه يقيناچې د الله نه پرته بل په حق ســـره معبود

نسته او زه د مسلمانانو نه يم، يعنى الله ته تسليم سوى يم او د بغاوت نه ما نور لاس اخستئ دئ.

[٩١] نو [بيا الله تعالى په ځواب کې ورته وو يل اى فرعونه!] اوس [چې ته د مرګ او هلاکت پر غاړه ودر يدلې] ايمان راوړي او مسلمانيږې، حال دا چې مخکې تا سرکښي وکړه او ته د مفسدانو او ورانونکو نه وې، يعنى اوس نو تا ته ايمان راوړل او تو به و يستل هيڅ ګټه نه لري.

[٩٢] نو نن به د ستا مړي ته نجات ورکړو [يعنى د سمندر څنډې ته به د ستا مړئ را و باسو] ترڅو ته د ستا نه وروسته سرکښو خلکو ته د عبرت اخستلو نښه وې، او يقيناچې ډير خلک د زمونږ قدرتونو نښانو او معجزو نه غافل او بې پروا دي.

هو؛ عزتمنو دوستانو! د فرعون مړئ چې هغه د دو يم رمسيس په نامه يادیږي او د عيسى عليه السلام ميلاد نه مخکې (١٢١٣نه تر ١٢٧٩ کاله پورې) د مصر پاچا ؤ؛ د سره سمندرکې خورو څپو او بو لوبې ژورې په څنډه کې الله تعالى ډوب او هلاك كه، ترڅو چې بيا په ١٨٩٨م کال د دې لوى کبرجن پاچا جسد چې د خدايي دعوا يې کړې ؤ؛ د سمندر يوې څنډې نه راوايستل سه؛ او تر اوسه پورې يې جسد مومياي سوئ د مصر په لوى تار يخي توکو نندارتون کې ايښودل سوئ دئ او سيلانيان يې نندارې ته ورځي، او په ١٩٧٥م کال د فرانسې نه يو ځيړونکئ تحقيقاتي هيئت د ځيړنې لپاره ورغئ، اود علمي ځيړونکي ډلې مشر ډکتر مورس بوکايي؛ ډير حيران سه چې څنګه د فرعون جسد درې نيم زره کاله په او بو کې روغ پاتې سوئ دئ؟ نو بيا ډکتر مورس د مصر مذهبي علماوو نه مرسته وغوښتله، نو بيا د مصر ازهري علماوو ورته د قرآن کر يم همدا مبارك آيت وژ باړه او تفسريې که، نو د هغه زړه ته د قرآن رنا ننوتله او مسلمان سه او د قرآن پرحقانيت او پردې لوبې معجزې يې باور راغئ.

او د يادونې وړ ده چې په ١٩٧٧م کال چې کله زه او ملګرئ مه مرحوم شيخ/عبد الغفار بن عبدالبصير عرب رحمت الله عليه په افغانستان کې

د کمونستي کودتا په کال د اوړي په رخصتۍ کې د مکې معظمې نه مصر ته تللي وو، نو هلته درانده دکتور مولوي محمد صديق قرشي په لاربښودنه او ملتيا د فرعون مومياپي سوئ جسد مونږ وليده، او دا چې هغه د الله تعالى لوى قدرت معجزه او نښه ؤ، نو په ليدلويې د زما غونئ کلک ز يک سه او و يړې پسې واخستلم!

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې همداسې د بني اسرائيلو قصې په اوږده بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

[٩٣] او يقينا چې بني اسرائيل مونږ د صداقت او عزت په استوګنځي کې ځای پرځای کړل او پاکه حلاله روزي مونږ ور په برخه کړه او د عزت خاوندان مو کړل، نو بيا دوی يو بل سره اختلاف ونکه [يعنی دوی د دين پر سر يو بل نه بيل نسول او اختلاف يې سره ونکه او په ډلو و نه ويشل سول او يو موټئ پاتې سول] ترڅو چې بيا دوی ته پوهه راغله [يعنی تورات دوی ته راغئ او د الله تعالى توحيدي علم او پوهه يې دوی ته راوړه، نو بيا دوی خپل منځ کې سره اختلاف وکه، حال دا چې د الله نه ورته راغلي دين؛ دوی اتحاد او يو والي ته رابلل، خو دوی د يو والي پرځای د بيلتون او ټوته کيدو خوا خپله کړه او د الله نعمتونو شکريې ونه و يست] نو يقيناچې د ستا رب ای پيغمبره! د يهودو په منځ کې د اختلافونو په اړوند د قيامت په ورځ پر يکړه کړي، يعنی د حق پلو يان به جنتونو او د باطل پلو يان به دوزخ ته ځي.[نعوذ بالله منه]

{د قرآن په ر يښتينوالي تورات او انجيل شاهدان دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى خپل استازئ محمدﷺ د تورات او انجيل شاهدی نه د قرآن پر ر يښتينوالي او حقانيت باندې خبر کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ فَسۡـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقۡرَءُونَ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكَۚ لَقَدۡ جَآءَكَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ٩٤ وَلَا

تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٩٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتۡ عَلَيۡهِمۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٩٦﴾ وَلَوۡ جَآءَتۡهُمۡ كُلُّ ءَايَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٩٧﴾

[٩٤] ای پیغمبره! نو که ته په دغو آیتونو کې چې هغه مونږ تا ته رانازل کړل شك لري، نو بیا د هغو کسانو نه و پوښته چې دوی د ستا نه مخکې کتابونه لولي [یعنی د یهودو احبارو او پوهانو نه و پوښته، ترڅو تا د حقیقت نه خبر کړي] او یقیناچې دا د حق پیغام او کتاب (قرآن) تا ته د ستا رب لخوا راغئ، نو ته پکې د شك کونکو نه مکیږه، یعنی دا چې هغه قصې چې په قرآن کې تا ته ای پیغمبره! بیانیږي؛ هغه ټولې ر یښتیا دي او که ته پکې شك لرې، نو د یهودو لوستیالانو پوهانو نه چې دوی تورات لولي و پوښته، ځکه په پخوانیو کتابونو، لکه تورات او انجیل کې د اسلام پیغمبر د راتګ په باره کې آیتونه رانازل سوي دي، او ز یري پې پکې سته، نو د هغوی نه و پوښته چې تصدیق پې کړي او تا ته ای پیغمبره! ډاډ او اطمئنان درکړي چې ته په حق او ر یښیا سره د الله استازئ یې.

عزتمنو دوستانو! په دې مبارک آیت کې که څه هم مخامخ و ینا د اسلام پیغمبر رسول اللهﷺ ته سوې ده، خو مقصد او مرادې د رسول اللهﷺامت دئ، نو که څوک د قرآن را نازلیدو په ر یښتینوالي کې پر رسول اللهﷺ باندې او د هغه په پیغمبرۍ کې شك لري؛ د اهل کتاب علماوو او پوهانو نه ده پوښتنه وکړي، ترڅوپې د تورات او انجیل په آیتونو باندې تایید کړي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې لمړئ الله تعالی رسول اللهﷺ او د هغه امت د الله تعالی د آیتونو دروغ بللو ګناه نه په کلکه سره ګوابلي دي او بیا پې رسول اللهﷺ د مکې کافرانو د زړونو خبرو نه خبر کړئ دئ، او په بیان کې فرمایلې دی:

[٩٥] ای پیغمبره! ته د هغو کسانو غوندې مکیږه چې دوی د الله آیتونه دروغ و بلل، ځکه نو بیا به ته د ز یانمنو نه وي، یعنی دا چې د ستا

امت ده ای پیغمبره! خپل ځانونه د شکونو نه کلک وساتي او د قرآن پرحقانیت او ر یښتینوالي ده ښه پوخ باور وکړي او هغه ده تصدیق کړي.

[٩٦-٩٧] او ای پیغمبره! پرهغو کسانوچې د ستا رب الله تقدیري حکم سوئ دئ چې ایمان رانوړي، نو بیا دوی ایمان نه راوړي، که څه هم دوی ته ټولې معجزې او د الله لو یو قدرتونو ننبې او دلیلونه راسي، ترڅوچې بیا دوی دردونکی عذاب وو ینې!

هو؛ قدرمنو دوستانو! لکه فرعون او هغه ته ورته ځان غوښتونکي او کبرجن او کینه کښ کسان چې حق سره په دښمنۍ کې ترستونو ډوب وي او د خدایي دعوا کړي او خپل ولسونه یې د ځاني ګټو لپاره قر باني ګرځولي وي او پرهغوی باندې ټولې ناخوالې او ظلمونه کړي؛ دوی ته الله تعالی چې لوی ځواکمن ذات دئ؛ ټاکل سوئ وخت ورکوي او زنډوي یې، ترڅو لا ښه ډیر په ګناه او سرکښۍ کې ورلاندې لاړ سي، خو بیا چې کله ټاکل سوې نیټه او د دوی اجل د الله په علم کې پوره سي، نو بیا الله تعالی چې ځواکمن ذات دئ؛ ناڅاپه دوی کلک رانسي او داسي سزا ورکوي چې بیا ورڅخه د خلاصون لار نه لري.

نو ګرانو دوستانو! ښایي چې هر هوښیار بنده خپل ځان ښه و پیژني او هیڅ کله د الله حکمونو نه بغاوت او تیرئ ونکړي، او د الله کتاب آیتونه ومني او ور باندې عمل وکړي.

{د یونس عليه السلام قوم تو به قبوله سؤ او عذاب ورڅخه لرې سه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مونږ د یونس عليه السلام قوم ایمان قبلیدو نه خبر کړي یو، او بیا الله دعاتو ته د دعوت په باره کې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، او په ایمان راوړو کې یې د خلکو پر خپلواکي باندې ټینګار کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ ءَامَنَتْ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُوا۟ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٩٨﴾

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَن فِي ٱلْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا ۚ أَفَأَنتَ تُكْرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٩٩﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تُؤْمِنَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَجْعَلُ ٱلرِّجْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٠﴾ قُلِ ٱنظُرُوا۟ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِي ٱلْـَٔايَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠١﴾ فَهَلْ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثْلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِهِمْ ۚ قُلْ فَٱنتَظِرُوا۟ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿١٠٢﴾ ثُمَّ نُنَجِّي رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ حَقًّا عَلَيْنَا نُنجِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾

[۹۸] نو د هیڅ کم کلي اوسیدونکو ته چې دوی په ورستیو کړ یو یا ساعتونو کې ایمان راوړ؛ د دوی ایمان ګټه ونه رسوله، مګر د یونس [بن متا علیه السلام] قوم ته چې کله دوی [د خپل پیغمبر د خفتیان او ناهیله کیدو نه وروسته پښیمانه سول] او ایمان یې راوړ، نو بیا د دوی نه مونږ د دنیا په ژوند کې خوارونکئ عذاب لرې کړ او د ټاکل سوې نیټې پورې دوی ته مونږ د دنیا متاع نه د خوند اخستلو فرصت ورکه.

هو؛ درندو عز یزانو! الله تعالی په دی مبارك آیت کې خپل تل پاتې قدرتي قانون او سنتو ته په کائناتو کې چې د ظالمانو هلاکت او له منځه وړل دي؛ په اشاري سره د یونس علیه السلام قصه د هغه قوم سره لنډه یاده کړي ده، او فرمایلي دي چې یواز یني قوم ته چې د دوی ایمان راوړو په وروستي فرصت کې ګته ورسوله؛ هغه د یونس بن متا علیه السلام قوم ؤ چې په اوسني عراق کې اوسیدل، او الله تعالی خپل هغه عذاب چې پردوی باندې د راپر یوتلو په حال کې ؤ؛ د دوی نه لرې کړ او دوی یې پر یښودل چې د دنیا ژوند نه د ټاکل سوې نیټې پورې خوند واخلي، علماء وایي چې د دی الهي قانون د بدلون سبب د دوی اخلاص او ډیره زاري او دعاء وه، ځکه روایت سوئ دئ چې دوی ټول د خپل کهول سره د کلي ورشو ډاک ته راووتل او شپه او ورځ یې الله ته زاري وکړه، ترڅو دوی ته د عاجل عذاب او د سختې سزا نه نجات ورکړي، نو بیا الله تعالی د دوی دعاء قبوله کړه

او د عذاب نه يې خلاص کړل، نو يقينا چې په اخلاص سره زاري کړل او دعاء هر مسلمان ته کټه رسوي، او الله تعالى خپل تقديري حکم بدلوي، نو بيا همداسې الله تعالى د دوى د توبې د قبليدو سره يوځاى د يونس عليه السلام تو به هم قبوله کړه او هغه ته يې په سمندر کې د نهنګ په نس کې نجات ورکه، او د هغه د دغې قصې پوره بيان د قرآن په نورو سورو کې راغلئ دئ، او د همدې ځانګړې ورکړې او پيرزو يې د ارزښت له کبله دا مبارکه سوره په يونس نومول سوې ده، نو ښايي چې مونږ مسلمانان د دې قصې نه پوره ګټه واخلو او هيڅکله د الله تعالى رحمت نه ناهيلې نسو.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ډاډ ورکړئ دئ چې هرڅه د الله په واک او د حکم لاندې دي، او الله تعالى چې څنګه وغواړي هغسې کړي، او د ستا رسالت ای پيغمبره! يوازې د الله پيغام رسول دي نه دا چې ايمان راوړل پرخلکو په زور ومني، او فرمايلي دي:

[۹۹] ای پيغمبره! که د ستا رب الله غوښتي واى، نو د ځمکې پر سر ټولو خلکو به ايمان را وړئ ؤ [يعنى ټولو خلکو به، لکه د يونس عليه السلام قوم يوځاى ايمان راوړى ؤ] خو د الله اراده داسې نه ده، او په دې کې د الله لوى حکمت او پټ سر نغښتئ دئ، ځکه الله تعالى خلک د ازمايښت لپاره پيدا کړي دي] نو آيا ته اى پيغمبره! ايمان راوړل پر ټولو خلکو باندې په زور مني، ترڅو دوى مومنان سي؟ يعنى نو ځواب دا چې: نا! دا سمه نه ده او ته نسې کولاى چې ايمان راوړل پر ټولو خلکو باندې په زور ومنې، ځکه ايمان د زړه عقيده او باور دئ اود زړونو مالك الله دئ، او بل هيڅ څوک هغه بدلولاى نسي، نو په دين کې زور واکي نسته.

[۱۰۰] او د الله اجازې او حکم نه پرته هيڅ څوک ايمان راوړاى نسي، او الله خپل عذاب او سزا د هغو کسانو په برخه کوي چې دوى په څه نه پوهيږي، يعنى د الله حکمونه نه پيژني او د الله کلکو نيولو نه غافل وي!

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم حرص او ټينګار د کافرانو پر ايمان راوړو باندې رد کړئ دئ او

بيايې رسـول ﷺ ته لارښـودنه کړې ده چې نه ښـايي هيڅ څوک د الله تقديري حکم نه پرته ايمان راوړي، ځکه ايمان د زړونو تړون او باور دئ او هغه په زور پرهيڅ چا باندې نه منل کيږي، او دا حقيقت بيا مونږ ته الله تعالى روښـانه کړئ دئ او فرمايلي دي چې د ټولو خلکو ايمان راوړل د الله تعالى ارادې او حکم پورې تړئ دئ، او الله چې چا ته توفيق ورنکړي؛ هيڅ څوک ايمان راوړای نسې، نو ښايي چې هرڅوک د الله پرحکمونو ځان ښـه پوه کړي او بيا په عمل کې ورته غاړه کيږدي، نو ځکه الله تعالى مونږ ايمـان راوړ تـه رابللي يو او پيغمبران او کتـابونـه يې راتـه را ليږلي دي، او هرڅوک چې دا پوهه نه لري او نه غواړي چې حق و پيژني، نو پردوی باندې الله په غوصـه دئ، او کلکه سـزا ورکوي، ځکه دوی خپل ځانونه د الله رحمت نه محروم کړي دي، نو دغو کسـانو ته ښـايي خپل نفسـونه ملامت کړي، ځکه دوی يې د الله رحمت نه محروم کړي دي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې بيا الله تعالى کافران کلک ګواښلي دي او خبر کړي يې دي چې د الله تعـالى د لو يو قـدرتونو نښـې، دليلونـه او ګواښـونه دوی ته هيڅ ګټه نه لري او رسول الله ﷺ ته يې فرمايلي دي:

[۱۰۱] ای پيغمبره! [پرکـافرانو غږ وکړه او ورتـه] ووايـه: ای خلکو! وګورئ چې پرځمکـه او اسـمـانوکې څـه شـئ دي؟ [يعنى د الله لو يو قدروتونو نښـانې او دليلولونه پرځمکه او اسـمانوکې خواره واره دي] خو دا د الله قدرتونو نښـاني او دليلونه او د الله ګواښـونه؛ هغو کسـانو ته چې دوی ايمان نه راوړي؛ هيڅ ګټه نه رسـوي، يعنى نو دا ځکه چې دوی د کينو او دښـمني لار خوښـه کړي ده او د حق منلو نه سـرکښ دي او هغه نه مني.

[۱۰۲] نو [دغـه کافران چې ايمـان نـه راوړي او د سـتـا پيغمبري ای محمده ﷺ نه مني] آيا دوی د هغو کسـانو سختو ورځونه پرته چې د دوی نه مخکې تير سـوي دي؛ بل څه ته انتظار باسـي او ورته تم دي؟ نو ته ای پيغمبره ﷺ دوی ته ووايه: نو تاسې تم سی او انتظار و باسی او زه هم په پوره باور ستاسې سره انتظار باسم، يعنى ترڅو د الله هغه عذاب او سزا

چې تاسې ته راځي وو ينم!

[١٠٣] او بيا مونږ خپلو پيغمبرانو ته او ورسره مومنانو ته نجات ورکوو، ځکه د مومنانو خلاصون پرمونږ باندې همداسې حق دئ.

هو! ګرانو دوستان! دا دئ د الله تعالى د نجات هغه ز يرئ چې تل پې خپلو پيغمبرانو او د دوى ملګرو ته ورکړي دئ.

{پيغمبر د الله توحيد ته لارښود دئ د بل چا بنده ګي نکړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خپل پيغمبر محمدﷺ ته سپارښت کړې ده چې کافرانو ته اعلان وکړي زه د الله نه پرته د مشرکانو بتانو عبادت نکړم، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى شَكٍّ مِّن دِينِى فَلَآ أَعْبُدُ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِنْ أَعْبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُمْ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٤﴾ وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٥﴾ وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۖ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٦﴾﴾

[١٠٤] ای پيغمبره! [پر مشرکانو غږ وکړه او ورته] ووايه: ای خلکو! که تاسي د زما په دين کې شک لري، نو زه د الله نه پرته د هغو بتانو عبادت نکړم چې تاسې د هغوى عبادت کړئ، ځکه زه د الله عبادت کړم او الله هغه څوک دئ چې د ستاسې ساه وې اخلي او روح مو قبضوي، او ما ته حکم سوي دئ چې د مومنانو نه وم، يعنى د موحدينو نه وم او د شرک نه پاک وم، او د هغه خداى بنده وم چې د ژوند او مرګ واکمن دئ.

[١٠٥-١٠٦] او ای پيغمبره! ته ده خپل ځان حق دين ته [چې اسلام دئ] سم ودرؤ او هيڅ کله د مشرکانو نه مکيږې، يعنى د بتانو عبادت او بنده ګي مکړه او د الله نه پرته هغه څوک مه غواړه او عبادت يې مکړه، چې هغه تا ته څه ګټه او ز يان رسولاى نسي، نو که چيرې تا ای پيغمبره! د

بتانو عبادت وکه، نو بیا به ته یقینا د ظالمانو نه وي، یعنی تا به پر خپل ځان باندې تیرئ او ظلم کړئ وي، او تا به د الله تعالی حق په بنده ګی کې بتانو ته ورکړئ وي.

ګرانو دوستانو! په دې مبارکو آیتونو کې که څه هم مخامخ مخاطب رسول اللهﷺ دئ، خو مقصد یې یقیناچې ټول امت دئ، نو مونږ ته ښایي چې هیڅ کله د کافرانو غوښتنو ته تسلیم نسو او د الله حق دین نه وانوړو او پر خپل حق دین باندې چې اسلام دئ خپلې منګلې کلکې کړو او کافرانو پسې لاړ نسو او د دوی کبرجنې غوښتنې ونه منو.

هو! قدرمنو عز یزانو! دا خبره دلته د پام وړ ده چې کافران په هر وخت او هر عصر کې خپلې ځانګړې غوښتنې لري، لکه څنګه چې د زمونږ په اوسنی عصر کې غواړي مومنان خپل ثقافت او اسلامي دود او ازښتونه نور پر یږدي او د نړۍ وال خلاص او بې پولو ثقافت او فرهنګ پسې لاړ سي، لکه د ښځو اسلامي حجاب چې هغه د ښځو پت او عزت دئ، او داسې نور ډیر نړۍ وال دودونه او د ژوند څرنګوالي قانون او فرهنګ، نو ښایي چې مومنان خپل عقیدتي دود او ثقافت د پردیو ثقافت نه قر بان نکړي او خپل مذهبي دود او ثقافت د حلالو او حرامو په پولو کې وساتي.

{د خیر او شر ر یښتینئ واکمن څښتن یوازې الله دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی همداسې رسول اللهﷺ ته ډاډ ورکړې دئ چې د خیر او شر رسولو یواز یئ واکمن څښتن الله دئ، نو خپل خیر یوازې د الله نه وغواړه او د شر نه په ځان ساتلو کې یوازې پرالله باندې توکل وکړه او ځان ور باندې وسپاره، او فرمایلي دي:

﴿وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يُرِدۡكَ بِخَيۡرٖ فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهِۦۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ١٠٧ قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِوَكِيلٖ ١٠٨ وَٱتَّبِعۡ مَا

﴿يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَٱصۡبِرۡ حَتَّىٰ يَحۡكُمَ ٱللَّهُۚ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ١٠٩﴾

[١٠٧] او ای پیغمبره! که چیرې تا ته الله کم ز یان او ضرر ورسوي [یعنی که تا الله ناروغ کړي] نو د دی ز یان او مصیبت لرې کونکئ د الله نه پرته بل هیڅ څوک نه دئ، او که الله تا ته خیر وغواړي [یعنی خپله ورکړه او پیرزو ینه پر تا باندې ولوروي] نو بیا هیڅ څوک د الله فضل او ورکړې مخه نیولای نسي، او دغه خیرچې الله د خپلو بنده ګانو نه هرچا ته وغواړي ورکوي یې او الله لوی بښونکې او بښه مهر بان ذات دئ.

قدرمنو لوستونکو! الله تعالی په دې مبارك آیت کې خپل پیغمبرﷺ او د هغه مومن امت ته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ چې د خیر او شر رسولو ر یښتیئ واکمن څښتن الله دئ، او هرڅه د الله په اراده ترسره کیږي، نو بښایي چې مومنان د دغې ګټې لاسته راوړو لپاره او د شر او ز یان نه د خلاصون په مقصد یوازي الله ته مخه کړي، او خپل هدف ته د رسیدو لپاره ده؛ یوازې د حلالو او مشروع لارو نه کار واخلي او بې وسعه بتانو او د مړو ز یارتونو ته ده مخه نکړي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې چې د یونس مبارکې سورې وروستي آیتونه دي الله تعالی مونږ ته دا لاندې لارښودنې او سپارښتنې کړي دي او هغه دا چې هرڅوک چې د الله نه ورته راغلئ حق ومني، نو ګټه یې خپله ده ته رسیږي او د دنیا او آخرت نیکمرغي ګټي، او فرمایلي دي:

[١٠٨] او ای پیغمبره! [خلکو ته] ووایه: دا د حق کتاب قرآن [چې هغه تاسي ته لارښود راغلئ دئ] هغه د ستاسې رب الله لخوا راغلئ کتاب دئ، نو څوک چې حق ته سم سه [یعنی د الله کتاب او د هغه پیغمبر یې ومانه] نو یقیناچې دئ د خپل ځان ګټو ته سم سوئ دئ [یعنی ځان ته یې ګټه رسولې ده] او څوک چې د حق نه ورک سه، نو د ورکتیا ز یان او تاوان یې یقینا چې خپله هغه ته رسیږي او دئ به خپله هغه ګالي، او زه ای خلکو! د ستاسې نماینده او ساتونکی نه یم [یعنی دا چې زه د الله پیغمبر یم او د هغه پیغام تاسې ته رسوم] نو بیا د ستاسې خوښه چې هغه منې او عمل

پرې کړې او که ورځخه ورکېږې او نې مې، نو زه د ستاسې ځواب ورکونکئ نه یم، یعنی په دې پوه سې چې زه د ستاسې مدافع وکیل نه یم.

او په ور پسې مبارك آیت کې چې د یونس سورې وروستئ آیت دئ الله تعالی رسول الله ﷺ ته د الله دین ته په دعوت او تبلیغ کې په صبر او زغم باندې کلک سپارښت کړئ دئ، ځکه هغه د ټولو پیغمبرانو تګ لار ده، او په بیان کې فرمایلي دي:

[١٠٩] او ته ای پیغمبره! د الله وحی یې پسې چې هغه تا ته کیږي؛ لاړ سه [یعنی ور باندې ټینګ سه او د مشرکانو په زورونو او ناخوالو باندې صبر وکړه او هغه وزغمه، ترڅو الله ستاسې په منځ کې خپله پر یکړه او حکم وکړي، او الله د ښو حکم کونکو نه دئ، یعنی دا چې الله تعالی په پوره علم او په پاخه حکمت سره خپل عادل حکم کړي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغسې ارزښتناکه لارښودنو سره د یونس مبارکه سورې پای ته رسولې ده، نو هیله ده چې هرمومن بنده مخصوصاً د پیغمبرانو وارثان او اسلام ته رابلونکي پوهان دعات د الله تعالی دا لارښودنې ښې ژورې ولولي او خپل ځانونه پرهغو ښه پوه کړي، او د رسول الله ﷺ نه په متابعت سره ور باندې عمل وکړي او د رسول الله ﷺ غوندې صبر او زغم ولري او په سړه سینه او لو یه حوصیله د الله دین خلکو ته پوره ورسوي او ورزده یې کړي او مومنان ښه ور باندې وروزي، لکه دا چې دوی ژوندئ قرآن وي او د نړۍ ټولو ولسونو لپاره بیلګه او ښه قدوه وي.

والحمد لله رب العالمین، وصلی الله وسلم علی رسوله الأمین وعلی آله وأصحابه أجمعین، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إلیك.

❁❁❁

د هود سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د هود سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

عزتمنو دوستانو! د هود مبارکه سوره مکي سوره ده، او د یونس سورې نه وروسته را نازله سوې ده، او پکې الله تعالی د ایمان مسئلې په وار وار سره په ډیر ټینګار سره یادې کړې او بیان کړې دي، هو! د الله تعالی توحید د رسول الله ﷺ د پیغمبرۍ حقانیت د قیامت ورځې راتګ او پکې د حساب اخستلو او بیا هرچاته د هغه لائق ثواب او سزا ورکولو؛ ټول دلیلونه یې په ډیر وضاحت او رڼتیا سره بیان کړي دي، او همدارنګه د دې مبارکې سورې بل لوی مقصد مونږ ته سپارښت دئ چې د ژوند پیښو پر وړاندې خپل استقامت او توازن د لاسه ورنکړو او هیڅ کله یو پلو ته ونه ښوو ییږو او د سخت در یځې او باطل ته د تسلیمۍ ښکار نسو، نو ښایي چې اسلام ته رابلونکي علماء او ښوونکي ورځخه ګټه واخلي، ځکه یقینا چې قرآن د الله تعالی کلام دئ او مونږ ته یې لارښود را لیږلئ دئ، هو! د هود په مبارکه سوره کې همدارنګه د هود علیه السلام قصه د خپل امت او ولس سره بیان سوې ده، او د ځینو نورو پیغمبرانو قصې هم د خپلو ولسونو سره پکې یادې سوې دي، او هغه ټولې د رسول الله ﷺ اصلاح غوښتونکو وارثانو دعاتو ته د ډاډ او اطمئنان لوی لارښود پیغامونه دي، نو هیله ده چې دا مبارکه سوره مونږ ته د دعوت په لار کې ښه لارښود سر لیک وي او دعات ورځخه پوره ګټه واخلي.

درندو دوستانو! د هود مبارکې سورې قصې دومره درندې دي چې د رسول الله ﷺ نه روایت سوئ دئ فرمایلي دي: د هود سورې او هغې ته ورته سورو زه سپینږیرئ کړم!

{د هجاء تورو نه جوړسوئ کتاب د قرآن لو یه معجزه ده}

د هود مبارکه سوره د یونس مبارکې سورې غوندې په (ألف، لام، را) هجائي تورو باندې چې په عربي کې ورته مقطعات توري و یل کیږي؛ الله تعالی پیل کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿الٓرۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ١ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ ٢ وَأَنِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُمَتِّعۡكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى وَيُؤۡتِ كُلَّ ذِي فَضۡلٖ فَضۡلَهُۥۖ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ كَبِيرٍ ٣ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤ أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ صُدُورَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ أَلَا حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٥ ﴾

[۱] ألف، لام، را [هو! د دغسې هجائي تورو نه جوړ سوئ کتاب قرآن] هغه کتاب دئ چې آیتونه یې ښه پاخه او کلک سوي دي [یعنی هیڅ ډول کمښت او نقصان ورته لار نه لري] او بیایې آیتونه د الله لخوا چې ښه حکیم او لوی خبیر پالونکئ ذات دئ؛ ښه په تفصیل سره بیان سوي دي، یعنی د الله تعالی ټول حکمونه په دې کتاب کې ښه روښانه بیان سوي دي، او پکې هیڅ ستونزه نسته.

ګرانو دوستانو! (الف، لام، را) هجائي توري چې علماء ورته د یو بل نه پرې سوي حرفونه وایي؛ د تفسیر ډیرو علماوو هغو ته د الله تعالی پټ سر و یلئ دئ، یعنی یوازې الله یې په معنا باندې پوهیږي، خو ځینې نور ډیر پخواني او اوسني مفسرین بیا هغه د عظیم الشان قرآن حقانیت او ر ښتنوالي ښه او لو یه بیاني معجزه بولي، ځکه دا کتاب د الله نه په حق سره رانازل سوئ کتاب دئ او پکې هیڅ شک او شبهه نسته، او هیڅ څوک د قرآن غوندې کتاب راوړو وسعه نه لري، لکه څنګه چې الله تعالی په وار وار سره د عر بانو شاعران او ادیبان ور باندې ننګولي دي، خو دوی یې د ځواب نه عاجز سوي دي، نو یقیناچې قرآن د رسول الله ﷺ د

نبوت ثبوت لو په بياني او ادبي معجزه ده.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د پيغمبر په خوله پر ټولو خلکو غږ کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[۲] [هو! ای خلکو! د دې روښانه او کلک سوي کتاب مقصد دا دئ چې تاسي ته لارښودنه وکړي او درته ووايي چې] د الله نه پرته د بل هيڅ چا بنده کې او عبادت مکړئ [يعنى دا ځکه چې الله واحد ولا شر يك ذات دئ او هيڅ څوک مل او ملګرئ نه لري] او زه تاسې ته ای خلکو! يقينا د الله لخوا د عذاب نه و يرونکئ او د ثواب ز يرئ ورکونکئ يم، يعنى زه تاسې ته الله استازئ را ليږلئ يم، ترڅو تاسې د الله عذاب او سزا نه وګواښم او د جنتونو او ثوابونو ز يرئ درکړم.

[۳] او ای خلکو! د خپل رب الله نه [يعنى د خپل لوی څښتن نه چې هغه په حق سره د ستاسې معبود دئ؛ د خپلو تيرو ګناه وو] بښنه وغواړئ او بيرته الله ته وروګرځئ او تو به و باسئ [يعنى د خپلو تيروتنو نه پيښمانه سئ] ترڅو تاسې ته الله د ټاکل سوي وخته پورې د دنيا ژوند نه ښه خوند اخستل په برخه کړي، او ټولو ښو کړنو خاوندانو ته د دوی ثواب ورکړي، او که چيرې تاسې ای خلکو! مخ واړا ؤ [يعنى د زما خبرې او نصيحت تاسي ونه مانه، نو په يقين سره پوه سئ] چې زه د لويې ورځې سزا نه [چې هغه د قيامت ورځې سزا ده] پر تاسې باندې و ير يږم، يعنى که تاسې تو به ونه باسئ، نو الله به کلکه سزا درکړي!

[٤] او ای خلکو! د قيامت په ورځ د ستاسې بيرته ورتګ الله ته دئ او الله په هرڅه باندې قادر لوی ذات دئ، يعنى هرڅه الله تعالى کړلای سي او د ستاسې بيرته راژوندي کول الله ته اسانه دي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د کافرانو يو ډير پټ خوی رسوا کړئ او بيان کړئ دئ، او هغه دا چې کافران غواړي د الله نه ځانونه پټ کړي خو پټيدای نسي، او فرمايلي دي:

[٥] او ته ای پيغمبره! خبر سه! چې يقينا دغه کافران خپلې سينې

کُو پوي، ترڅو د الله نه پټ سي، یعنی خپل کفر په زړونو کې پټوي او داسې انګیري او ګمان کړي چې الله د دوی د زړونو نه خبر نه دئ، او کله چې دغه کافران خپلې جامې اغوندي او ځانونه ور باندې پټوي، نو ګمان کړی چې الله دوی نه و یني، خو الله د دوی په پټ او ښکاره ټول حال باندې پوهیږي، او یقینا چې الله پر زړونو باندې پوه ذات دئ او ورڅخه خبر دئ، یعنی د الله نه هیڅ څه شئ پټیدای نسي او هرڅه الله ته ښکاره دي، او بنده الله ته ورته نه دئ، لکه څنګه چې یو انسان فکر کړي چې کله دئ جامې واغوندي او ځان پټ کړی، نو بیا وایي: اوس ما څوک نه و یني، نا! بلکې الله دئ و یني! یعنی دا چې د الله نه هیڅ څوک او هیڅ شئ پټ نه دي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دې مبارك آیت کې د زمونږ پوهاوي لپاره په خپل لوی علم چې په پټ او ښکاره هرڅه باندې پوهیږي؛ دغه د تشبیه اسانه الفاظ وړاندې کړي دي، ترڅو مونږ ته دا خبره روښانه سې چې د الله تعالی صفتونه چې یو یې هم علم او پوهه ده؛ هغه د بنده ګانو صفتونو غوندې نه دي، ځکه الله د زمونږ خالق دئ او مونږې پیدا کړي یو او مونږ د الله مخلوق یو او مخلوق هیڅ کله د خالق غوندې نه وي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:(ولیس کمثله شئ) هیڅ څه شئ د الله غوندې نه دي، یعنی الله سیال او بیلګه نه لري او الله د ټولو مخلوقاتو پالونکئ څښتن دئ، لکه څنګه چې یې په ور پسي مبارکو آیتونو کې د خپلې خدایي عظمت او لو یتیا په باره کې فرمایلي:

{د ټولو ژوندیو مخلوقاتو روزي ورکونکئ څښتن الله دئ}

هو! په ور پسې مبارکو آیتونو کې مونږ الله تعالی د خپلو لو یو قدرتونو نه خبر کړي یو؛ او فرمایلي دي:

﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٦ وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ

أَحۡسَنُ عَمَلٗاۚ وَلَئِن قُلۡتَ إِنَّكُم مَّبۡعُوثُونَ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡمَوۡتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٧

[٦] هو! هيڅ ژوندئ شسور يدونکئ مخلوق پر ځمکه نسته، مکر دا چې د هغه روزي پر الله باندې ده [يعنى الله ورته روزي وركوي] او د هغه اسـتوګنځئ په ژوند کې [او بيا د مړ ينې نه وروسـته په آخرت کې] الله ته معلوم دئ او شه ور باندې پوهيږي، او هغه ټول په شکاره کتاب کې [يعنى په لوح محفوظ کې] ليکل سـوي دي، يعني دا چې د ټولو ژوندیو مخلوقاتو رزق او روزي د الله په خزانه کې ده، او الله هرچا ته خپله برخه روزي وركوي، او د روزۍ لاس ته راوړ لاري ورته ورښـيي او ورته اسـانه کوي يې، يعنى دا چې څنګه او د کمې لارې نه خپله روزي لاس ته راوړي او هغه وګټي؟ او بيا په آخرت کې هم د هغه ځای الله ته معلوم دئ چې جنتي دئ که دوزخي؟

[٧] او الله هغه څوک دئ چې اسمانو نه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړل او د الله عرش (څوکۍ) په او بو باندې ولاړ ؤ، ترڅو تاسې ای خلکو! وازمايي چې څوک د ستاسې نه شه کړي؟ [يعنى د الله پر حكمونو عمل کړي، او څوک ورڅخه سـرغړونه کړي؟] او ای پيغمبره! که ته دغو خلکو ته ووايې چې تاسې يقينا د مرګ نه وروسـته بيرته راژوندي کيږي، نو هغه کسان به چې کافران سول [او د ستا پيغمبري يې ونه منله؛ په ځواب کې] په کلکه سـره ووايي: هو! دا کتاب (قرآن) [چې ته يې ای پيغمبره! مونږ ته لولي] شکاره کودې دي!

قدرمنو عز يزانو! دلته د څو ټکو وضـاحت د پام وړ دئ: لمړئ دا چې ځمکه او اسـمانو نه ټول الله پيدا کړي دي او هغه پخوا نه ول، او الله چې خالق دئ، نو د هغه خپل پيدايښت ازلي دئ، او الله هيڅ چا ندئ پيدا کړئ، او دو يم: دا چې د (عرش) نه مقصـد څه شئ دئ؟ نو ځواب دا دئ چې د عرش نه مقصـد هغه تخت او څوکۍ ده چې د الله تعالى لوړ مقام سره شايي او د څرنګوالي علم يې؛ يوازې الله سره دئ، او در يم وضاحت

دا چې د اسمانو او ځمکې د پیدایښت ورځو په مقدار او واټن باندې یوازې الله پوهیږي، او یقیناچې هغه زمونږ د دنیا ورځو غوندې په اوږدوالي او لنډوالي کې نه دي، ځکه اوسنۍ ورځې د افلاکو طبیعي ګڼښت ز یګنده ده، او په هغه وخت کې خو ځمکه او اسمانونه نه ول، نو کیدای سي چې د دې شپږو ورځو نه مقصد دا د زمونږ شپږ ورځې وي او یا هغه شپږ ورځې وي چې د یوې ورځې اوږدوالۍ پې یو زر ورځې دۍ، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:(وإن یوما عند ر بك كألف سنة مما تعدون...الاية ٤٧الحج) ای پیغمبره! د ستا رب سره یوه ورځ، لکه زر کاله د ستاسې په شمیرلو سره ورځ ده.

{د کافر انو نفسي اوروحي بدلیدونکي حالت بیان}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی پیغمبرﷺ د مکې کینه کښو کافرانو روحیاتو او د نفسي بد حالت نه چې د دوی کبرجن در یځ پې شاته پروت دۍ؛ خبر کړۍ دۍ، او فرمایلي دي:

﴿وَلَئِنۡ أَخَّرۡنَا عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِلَىٰٓ أُمَّةٖ مَّعۡدُودَةٖ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحۡبِسُهُۥٓۗ أَلَا يَوۡمَ يَأۡتِيهِمۡ لَيۡسَ مَصۡرُوفًا عَنۡهُمۡ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٨ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ ثُمَّ نَزَعۡنَٰهَا مِنۡهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٞ كَفُورٞ ٩ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ نَعۡمَآءَ بَعۡدَ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٞ فَخُورٌ ١٠ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ١١﴾

[۸] ای پیغمبره! [هغه لوی عذاب او سزا چې کافرانو ته راتلونکې ده] که هغه مونږ تر یؤ شمیرل سوي وخته پوري د دوی نه وزنډوو، نو بیا به دوی چې ورته په تلوسه کې دي وایي: دا عذاب ولي زنډیدلي دۍ؟ [حال دا چې دوی هغه نه مني او دروغ پې ګڼي، خو ته ای پیغمبره خبر سه!] په کمه ورځ چې دا سزا او عذاب کافرانو ته راسي، نو بیا دا عذاب هیڅ څوک د

دوی نه منعې کولای او سپمولای نسي، او هغه عذاب چې کافرانو هغه باندې ملنډې وهلې؛ هغه به د هرې خوا نه پر دوی راګردیږي او کافران به حصاروي او کلا بندوي بې ساتي، یعنی نور به دوی ورځخه د تیښتي لار نه مومي، ترڅو خپلو ځانو ته نجات ورکړي.

[۹] او که چیرې همدې انسان ته مونږ د خپل رحمت نعمت ور وڅکو او بیا هغه بیرته ورځخه واخلو، نو یقینا چې دئ به ناهیلې او د الله ورکړو او د پیرزو ینو او نعمتونو نه منکر سي!

[۱۰] او که بیا هغه ته مونږ د سختۍ او ز یان رسیدلو نه وروسته نعمتونه ور وڅکو، نو بیا به په کلکه سره وایي د زما نه کړاوونه او سختۍ لرې سوې، او یقینا چې دا انسان د نعمتونو په ورکړي سره ډیر خوښیدونکې او فخر کونکی مخلوق دئ!

[۱۱] خو هغو کسانو چې پر سختیو صبر وکه او هغه یې وزغملې او ښه کارونه یې وکړل او د الله نعمتونو شکریې وایست، نو دغو کسانو ته د الله لخوا بښنه او لوی ثواب دئ.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې خپل پیغمبرﷺ او مومنانو ته چې قرآن نه ګټه اخلي؛ د انسان روحي او نفسي حالت او د هغه ژر ژر بدلیدل را بدلیدل بیان کړي دي، ترڅو هر مومن بنده خپل ځان په دغه آینه کې وو یني او د غندل سوو خو یونو نه ډډه وکړي او د الله تعالی پر لارښودنو عمل وکړي او حکمونه یې پرځای کړي، ځکه هر انسان چې دغه الهي بیان لولي او هغه اوري او پکې ځان ته په ګټې رسولو سره ژور فکر کړي، نو هغه په یقین سره مني چې حق دي، ځکه د الله نه پرته چې خالق دئ، او هم د هر بنده نه پرته چې پر خپل ځان یقیني علم لري؛ بل هیڅ څوک پر دغسي پټو حقیقتونو باندې پوهیدای نسي، نو یقینا چې قرآن مجید د هر ډول علومو د زدکړې لپاره لمړنئ معتبر مدرك او مصدر دئ، نو ښایي چې علماء ورځخه ګټه واخلي او په مقصد او مراد یې چې هغه د الله مقصد او مراد دئ ښه پوه سي، او خلک یرې پوه کړي.

{ پيغمبرﷺ الله دکافرانو غوښتنو پروړاندې ډاډمن کړئ دئ}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې رسول اللهﷺ ته د کافرانو سپکو خبرو او غوښتنو پر وړاندې ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ او د قرآن کر يم پر ر ښينوالئ يې چې د الله تعالى نه پيغمبر ته وحيه سوئ کتاب دئ؛ ټينګار کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعْضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَضَآئِقٌۢ بِهِۦ صَدْرُكَ أَن يَقُولُوا۟ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ كَنزٌ أَوْ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌ ۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٌ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ وَكِيلٌ ﴿١٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا۟ بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِۦ مُفْتَرَيَٰتٍ وَٱدْعُوا۟ مَنِ ٱسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٣﴾ فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَكُمْ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلْمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٤﴾﴾

[١٢] نو ای پيغمبره! کيدای سي چې ته ځينې آيتونه چې هغه تا ته رانازليږي پر يږدي او خلکو ته يې ونه رسوي او زړه ده بيا په تنګ وي چې څه پرې وکړي؟ [ځکه د دې نه و يره لري چې بيا به کافران وايي] ولې ور باندې ګنج (مال او دولت) نه را کوز يږي او ولې ورسره فرښته نه ده راغلې [يعنى دا چې ترڅو د هغه پيغمبري تصديق کړي؟] خو ته ای پيغمبره! يقيناچې و يرونکئ را ليږل سوئ يې [يعنى د ستا رسالت او دنده خلکو ته د الله پيغام رسول او تبليغ دئ، او د الله عذاب او سزا نه ګواښول دي] او الله خپله د ټول شيانو څارونکئ او ضامن دئ، يعنى نو ته ای پيغمبره! د قران په تبليغ کې د هيڅ چا پروا مکړه او الله د ستا ساتندوی او حافظ دئ، او تا ته هيڅ څوک ز يان رسولای نسي.

قدرمنو عز يزانو! الله تعالى په دې مبارك آيت کې رسول اللهﷺ ته اطمئنان او ډاډ ورکړئ دئ چې د کافرانو خبرو پروا مکړه او د الله نه پر تا

باندې رانازل ســوي آيتونه خلکو ته ورســؤ او کافران د الله ســزا نه کلک وګوابـه او ورځخه يې وو يرؤ، ځکه ته د الله استازئ يې او د ستا رسالت او دنده تبليغ دئ، او د خلکو عکس العمل پوښتنه د ستانه نکيږي، ځکه هغه د الله کار دئ چې د خپلو بنده ګانو ســره څه کړي؟ او الله د هرڅه ځارن او واکمن ځښــتن دئ، نو ته خپل رســالت پر مخ يوســه او پر الله توکل او پر وسعه وکړه، او د خلکو سپکو خبرو پروا مکړه، ځکه الله دوی ته ځواب ورکونکئ او د ستا ساتونکئ او حافظ لوی ذات دئ، نو ښايي چې د پيغمبرﷺ وارثان، علماء او دعات په هر عصر او هره ټولنه کې د رسول اللهﷺ نه په متابعت سره د الله تعالی دغه لارښودنه عملي کړي او د الله حق دين خلکو ته په ډاډ او اخلاص ســره ورســوي او په دې لار کې د هيڅ چا نه ونه و يرې، ځکه دا د حق پيغام دئ او ټولو خلکو ته پکې ګټه او لو يه سر لوړي ده.

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونو کې د قرآن کر يم په ر يښتينوالي باندې کلک ټينګار کړئ دئ او هغه يې د رســول اللهﷺ د پيغمبرۍ لو يه معجزه ګڼلې ده، او فرمايلي دي:

[۱۳] او آيا کافران وايي چې دا کتاب (قرآن) محمد الله پســي د ځان نه تپلئ او افترا کړي دئ؟ [يعنی هغه يې پر محمدﷺ باندې الله ندئ رانازل کړئ؟ العياذ بالله، نو ته ای پيغمبره! پر دوی غږ وکړه او ورته] ووايه: ای خلکو! که تاسې ر يښتيا و يونکي ياستئ؟ نو د قرآن غوندې لس سورې د ځان نه جوړ کړي راوړئ! او ځومره وسعه چې د ستاسې کيږي؛ د الله نه پرته بل چا نه هم مرســته وغواړئ، يعنی ترڅو په دې کار کې د ستاسې ملاتړ وکړي او دغسې آيتونه راوړئ.

[۱٤] نو که بيا دغو کافرانو تاسې ته ځواب درنکه [يعنی قرآن ته ورته سورې يې رانوړې او ورځخه عاجز او پاتې راغلل] نو بيا ته ای پيغمبره! او درســره مومنان ده په يقين ســره پوه ســئ چې دا کتاب (قرآن) د الله نه په پاخه علم ســره رانازل ســوئ کتاب دئ، او يقينا چې د الله نه پرته بل په حق ســره معبود نســته، نو آيا تاســې ای کافرانو! حق ته تســليميږي او

اسلام منځ کنه؟ یعنی دا چې ښایي حق ومنی او یوازې پر الله باندې ایمان راوړی او د بتانو عبادت پر پرږدی او د محمدﷺ پیغمبرې ومنی او د قرآن په ر یښتینوالي او حقانیت باندې چې د الله نه رانازل سوئ دئ باور وکړی.

{څوک چې دنیا غواړي الله پې ورکوي او آخرت کې برخه نه لري}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی کافران چې د آخرت ورځې نعمتونو نه منکر دي؛ کلک کوښلي دي، او رسول اللهﷺ ته یې ډاډ ورکړئ دئ او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ١٥ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٦ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّهِۦ وَيَتۡلُوهُ شَاهِدٞ مِّنۡهُ وَمِن قَبۡلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامٗا وَرَحۡمَةٗۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۚ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ مِنَ ٱلۡأَحۡزَابِ فَٱلنَّارُ مَوۡعِدُهُۥۚ فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ مِّنۡهُۚ إِنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٧﴾

[١٥] [هوا! ای خلکو!] څوک چې د دنیا ژوند او د هغې ښکلا غواړي، نو مونږ ورته د دوی د کړنو مزدوري په دنیا کې پوره ورکوو او د دوی د برخې نه هیڅ څه شئ نه سپمول کیږي، یعنی الله تعالی عادل ذات دئ، نو د هیڅ چا حق نه ضائع کوي او هر چا ته خپله برخه پوره رسیږي.

[١٦] [او دا د دنیا غوښتونکي] هغه کسان دي چې په آخرت کې پرته د دوزخ اور نه بله برخه نه لري او د دوی ټولې کړنې په دنیا کې ضائع سولې، ځکه هغه باطلې او ناروا کړنې وې، یعنی دوی کافران ول او الله تعالی د کافر عمل نه قبلوي، ځکه د الله پر وړاندې د هرکار منلو لپاره ایمان شرط دئ، نو څوک چې ایمان رانوړي د هغه کړنې ارزښت نه لري.

[١٧] او آیا هغه څوک چې د خپل رب لخوا ورسره حجت او دلیل وي،

او بيا د الله لخوا بل شاهد هم ور پسې وي [چې هغه جبرئيل امين دئ او پيغمبر ته د الله پيغام راوړي] او بل شاهد يې د هغه نه وړاندې د موسى کتاب (تورات) دئ، او تورات خلکو ته رحمت او د الله لارښود کتاب دئ [نو آيا دا کسان او هغه څوک چې د دنيا ژوند مست په سر اخستئ دئ سره برابر دي؟ ځواب: نا! دا دواړه هيڅ کله هم سره برابر نه دي] ځکه دغو کسانو[يعنى رسول اللهﷺ او يارانويې] پر قرآن ايمان راوړئ دئ او ور باندې عمل کړي، خو دغه بله ډله کسان د قرآن نه منکر او کافران دي، نو د دوى سزا د دوزخ اور دئ، نو ته اى پيغمبره! په قرآن کې شک مکړه، او يقينا چې هغه په حق سره پر تا د ستا رب لخوا را نازل سوئ کتاب دئ، خو ډير خلک يې نه مني او ايمان نه را وړي.

عزتمنو دوستانو! په دې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د قرآن حقانيت او ر يښتينوالئ چې د الله نه په حق سره راغلئ لارښود پيغام دئ؛ مونږ ته بيان کړئ دئ، او رسول اللهﷺ او مومنانو ته يې د قرآن حقانيت نه ډاډ ورکړئ دئ، ترڅو دوى پر خپل ايمان او عقيدتي باور باندې ټينګ سي او د الله کتاب په لارښودونو عمل وکړي او د شکونو نه پکې ځان کلک وساتي، او همدارنګه الله تعالى کافران چې ايمان نه راوړي د خپلې تورې راتلونکې نه چې هغه د دوزخ اور ته انتظار و يستل دي؛ کلک ګواښلي دي.

{پرکافر انو چې د الله رحمت نه رټل سوي دي لعنت اوريږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې کافران الله تعالى کلک غندلي دي، او پر دوى باندې د الله لعنت اور يږي، او فرمايلي دي.

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ وَيَقُولُ ٱلْأَشْهَٰدُ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُوا۟ عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ أَلَا لَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٨﴾ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴿١٩﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ لَمْ يَكُونُوا۟ مُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ۘ يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلْعَذَابُ ۚ مَا كَانُوا۟

يَسْتَطِيعُونَ ٱلسَّمْعَ وَمَا كَانُوا۟ يُبْصِرُونَ ﴿٢٠﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٢١﴾ لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ هُمُ ٱلْأَخْسَرُونَ ﴿٢٢﴾

[۱۸] [ای خلکو!] او څوک د هغه چا نه ډیر ظالم او تیرئ کونکئ دئ چې الله پسې دروغ تپي او ور پسې افترا کړي؟ [ځواب: هیڅ څوک د دغسې مفتریانو نه ډیر ظالم نه دئ] او الله پسې دغه دروغژن مفتریان به د قیامت په ورځ الله ته وړاندې کیږي [یعنی ترڅو ورڅخه حساب واخلي] او شاهدان به په هغه ورځ وایي: دغو کسانو خپل رب پسې دروغ وو یل، نو پر ظالمانو ده د الله لعنت وي، یعنی الله تعالی ده دوی د خپل رحمت نه وشړي او ورڅخه محروم دې کړي!

[۱۹] او ظالمان هغه کسان دي چې خلک د الله لارې نه منعې کوي [یعنی ایمان راوړو ته یې نه پر یږدي] او د الله د دین سمه لار کږه بولي، او دا ظالمان د آخرت ورځې نه منکر دي، یعنی کافران دي او پر جنت او دوزخ باندې باور نه لري او ورڅخه منکر دي، او وایي چې ژوند یوازې د دنیا ژوند دئ، او د قیامت ورځې ژوند دوی نه مني.

[۲۰] او دغه کافران [چې د الله تعالی حکم نه سرکښې ول] په ځمکه کې د الله نه خلاصیدلای نسي [یعنی د تیښتې لار نه مومي] او نه دوی د الله نه پرته بل څوک ملګري لري چې[ترڅو د دوی ملتیا او مرسته وکړي او د الله سزاء نه دوی وساتي] او د الله سزا او عذاب کافرانو ته په دوزخ کې څو ځله ډیر یږي [ځکه دوی په دنیا کې دومره ډوب او ستړی ول] چې د قرآن اور یدلو او د حق لیدلو وسعه او وخت یې نه درلود، یعنی دا چې کافرانو نه قرآن اور یده او نه یې لوست، ترڅو پرې پوه سي او عمل پرې وکړي او نجات بیاموميِ.

[۲۱-۲۲] او دغه مشرکان؛ هغه کسان ول چې خپل ځانونه یې بایلودل او کلک ز یانمن سول[ځکه دوی] هغه څه او څوک الله پسې په دروغو ترڅل او و یل یې چې دغه بتان د الله پر وړاندې زمونږ شفاعت او

سپارښت کړي؛ خو دغه بتان اوس د دوی نه ورک سول، او دغه کافران د آخرت په ورځ ډیر بایلونکي او کلک ز یانمن دي، یعنی تاوان یې کړئ او هرڅه یې بایللي دي.

قدرمنو دوستانو! د الله تعالی دا روښانه بیان که څه هم په لمړي ځل کې د مکې کافرانو ته مخامخ متوجه ؤ، خو مقصد او مراد یې عام دئ او د قیامت ورځې پورې ټولو کافرانو ته کلک ګواښ دئ، نو ښایي کافران د کفر نه نور لاس واخلي او د حق لارې ته چې اسلام دئ؛ راواوړي او ایمان راوړي، کنه نو د کافرانو دغسې تورې راتلونکی ته ده انتظار و باسي.

{د مومنانو ځای په آخرت کې تل پاتې جنت دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانو ته د جنت ز یرئ ورکړئ دئ او کافران یې ډندو او کنړو ته ورته ګڼلي دي، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَخۡبَتُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٣ مَثَلُ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ كَٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡأَصَمِّ وَٱلۡبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِۚ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ مَثَلًاۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٢٤﴾

[۲۳] هو! یقینا چا چې ایمان راوړ او ښه عبادتونه یې وکړل او د خپل رب اطاعت ته یې په تواضع سره غاړه کیښودله [یعنی حکمونو ته یې تسلیم سول] نو هغوی جنتیان دي او هلته به پکې تل اوسیږي، یعنی د الله خورو ورو نعمتونو او ورکړو نه به خوند اخلي او سپین مخي به وي.

هو؛ ګرانو دوستانو! الحمد لله چې مونږ مومنانو ته الله تعالی د حق پر لار د تګ توفیق راکړئ دئ او ور باندې یې روان کړي یو او د الله ورکړو ته په آخرت کې سترګې په لاری یو، نو د الله تعالی نه په خپل ایمان باندې همداسې ثبات، استقامت او ټینګښت غواړو.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی کافران او مومنان په بیلګې سره د یو بل نه بیل کړي دي، او فرمایلي دي:

[۲٤] د کافرانو او مومنانو دواړو ډلو مثال او بیلګه، لکه ړندو او کاڼو، او لکه لیدونکو او اور یدونکو ته ورته ده، او آیا دا دواړه سره برابر دي؟ [ځواب انکاري دئ، یعنی دا چې نا! هیڅ کله هم دا دؤ ډلې سره برابرې ندي] نو آیا تاسې ای خلکو! فکر نکړئ او عبرت نه اخلئ؟ یعنی دا چې کافران ړندو او کاڼو ته ورته دي، نه حق و یني او نه یې اوري او نه د الله حق دلیلونو ته غوږ باسي، خو مومنان حق په سترګو و یني او پر غوږونو یې اوري او د پیغمبر په خوله د الله کتاب آیتونه او دلیلونه اوري او مني یې، نو ښایي چې تاسې ای خلکو! دغو دواړو ډلو ته په کتو سره د حق ملتیا وکړئ او پلو یان یې سئ، او کافران د الله پر یکړو ته پر یږدئ چې الله تعالی څه ورسره کړي؟

{نوح علیه السلام خپل ولس د الله توحیدي بنده ګی ته دعوت که}

او په ورپسي مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ ته د نوح علیه السلام قصه یاده کړي ده، ځکه دئ خپل قوم ته چې مشرکان ول؛ د الله تعالی توحید ته رابلونکئ لمړئ پیغمبر ؤ؛ او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ إِنِّي لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ٢٥ أَن لَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ أَلِيمٖ ٢٦ فَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرٗا مِّثۡلَنَا وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمۡ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ ٱلرَّأۡيِۖ وَمَا نَرَىٰ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلِۭ بَلۡ نَظُنُّكُمۡ كَٰذِبِينَ ٢٧ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِهِۦ فَعُمِّيَتۡ عَلَيۡكُمۡ أَنُلۡزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمۡ لَهَا كَٰرِهُونَ ٢٨ وَيَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مَالًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۚ إِنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمٗا تَجۡهَلُونَ ٢٩ وَيَٰقَوۡمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمۡۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٣٠ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي

خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٞ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزۡدَرِيٓ أَعۡيُنُكُمۡ لَن يُؤۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيۡرًاۖ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمۡ إِنِّيٓ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٣١

[٢٥-٢٦] هو! يقينا چې نوح مونږ د هغه قوم ته پيغمبر را ولېږه [يعنى نو بيا هغه پر خپل قوم باندې غږ وکه او ورته يې‌وو يل] زه په يقين سره تاسې ته د الله عذاب نه ښکاره و يرونکئ يم [يعنى تاسې د الله سزا نه ګوابښم او درته وايم] چې د الله نه پرته د بل هيڅ چا عبادت او بنده کي مکړئ، ځکه زه يقينا پر تاسې باندې د سختې او درد ناکه ورځې (قيامت) د عذاب راتګ نه و يرېږم! يعنى څوک چې مشرکان وي او بتان د الله سره په عبادت کې ګډوي؛ دوى ته الله کلکه سزا ورکوي.

[٢٧] نو بيا د نوح قوم کافرانو مشرانو هغه ته [په ځواب کې] وو يل: اى نوحه! مونږ تا خپل ځان غوندې يو سړئ و ينو [يعنى دا چې ته پيغمبر نه يې او د زمونږ غوندې يو عادي سړئ يې] او تا پسې د زمونږ خوار او ساده کسان تللي دي [يعنى پرته د کم فکر کړو نه يې پر تا ايمان راوړئ دئ او د ستا متابعت يې کړئ دئ] او مونږ تاسې پر خپلو ځانو جګ او لوړ نه و ينو چې پر مونږ باندې به څه ز يات وى، بلکه مونږ تاسې دروغژن ګڼو، يعنى تاسې په دروغو د پيغمبرى او پر الله باندې د ايمان راوړو دعوا کړى...العياذ بالله.

[٢٨] [او بيا نوح خپل کافر قوم ته] وو يل: اى عز يزانو! تاسې ما ته ووايي: که زه د خپل رب او لوى څښتن لخوا ښکاره دليل ولرم چې هغه د زما پيغمبرى ر ښتينوالي تصديق کړي، او هغه ما ته الله د خپل ځان نه رحمت را کړئ دئ او د ستاسې نه پټ سوئ دئ [يعنى دا ځکه چې تاسې کبر په سر اخستي ياستى او هغه نه و يئ] نو آيا زه هغه پر تاسې باندې [چې تاسې هغه نه منى او ورځخه کرکه لرى] په زور ومنم؟ [ځواب: نا! زه هيڅ کله پر تاسې باندې په زور ايمان راوړل نه منم، ځکه ايمان عقيده او د زړه خبره ده او د زړونو مالك الله دئ نه زور!]

[۲۹] او ای قومه! زه په خپل دعوت کې د ستاسې نه مال او دولت نه غواړم، د زما تبلیغ او دعوت ثواب او مزدوري پر الله باندې ده [یعنی الله تعالی ما ته د خپل رسالت او د دعوت مزدوري او ثواب راکوي، او ای خلکو! په دې پوه سی] چې زه هغه بې وزره مومنان چې ایمان یې راوړئ دئ [یعنی د زما پیغمبري مني] هغوی د خپل ځنګ نه نه شړم، ځکه یقینا چې دوی خپل خدای سره یوځای کیدونکي دي [یعنی نو بیا د قیامت په ورځ دوی الله پالي او د ایمان ثواب یې ورکوي] هو! زه تاسې ډیر ناپوه قوم یا ډله و ینم، یعنی دا چې تاسې خپل خیر او شر، ګټه او تاوان نه پیژني او د زما نه غواړی چې زه دا بې وزره او بې وسې مومنان د خپل ځنګ نه وشړم!

[۳۰] او ای د زما عز یزانو! که زه دا بې وزره مومنان د ځان نه وشړم، نو د الله سزا نه به بیا ما څوک وساتي او د زما مرسته به څوک وکړي؟ نو آیا تاسې ای خلکو! په دې کې فکر نکړی او خپل ځانونه سبه نه پوه کوی؟ یعنی که زه د ستاسې په خوله ای کافرانو! مومنان د خپل ځنګ نه وشړم، نو الله به را ته سزا راکړي او په هغه ورځ بیا هیڅ څوک د زما مرسته کړای نسي، نو تاسې ته سبایي چې سبه ژور فکر وکړی او خپل خیر په ایمان راوړ کې وغواړی، ترڅو په دنیا او آخرت کې سباد سی.

او په ور پسې مبارك آیت کې نوح علیه السلام خپل ولس ته اعلان وکه چې زما سره د سرو او سپینو زرو ګنج نسته او زه پر پټو شیانو نه پوهیږم او نه زه فرښته یم، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

[۳۱] [او ای د زماعز یزانو! په دې پوه سی چې] زه تاسې ته نه وایم چې زما سره د خدای خزانې دي [یعنی ډیر مال او دولت لرم] هو! زه په غیب او په پټ څه باندې نه پوهیږم، او نه تاسي ته وایم چې زه ملائکه او فرښته یم، او نه زه هغو مومنانو ته چې تاسې ای کافرانو! دوی ته په سپکه سترګه ګورئ؛ وایم چې الله تاسې ته ثواب او خیر نه درکوي، ځکه الله پر هغه څه چې د دوی په زړونو کې دي سبه پوهیږي، او که زه دا کار وکړم، یعنی دغه بې وزره مومنان د ځان نه وشړم، نو بیا به زه د ظالمانو نه یم، یعنی پر خپل ځان باندې به ما تیرئ کړئ وي او زه به د ظالمانو نه وم.

درندو دوستانو! الله تعالی په دی مبارکو آیتونو کې د نوح عليه السلام قصه د خپل قوم مشرانو کافرانو سره د سوال ځواب په ښه کې، لکه مرکه مونږ ته تصو یر کړې ده، او پکې نوح عليه السلام خپل دعوت په پوره روښتیا سره دوی ته ورلاندې کړئ دئ، خو بیا هم د نوح کافر او سرکښ قوم حق ته نه دئ تسلیم سوئ او پر خپل لجاجت او سر زوری کې همداسې کلک پاتې سوئ دئ، ترڅو چې بیا نوح عليه السلام په ور پسې مبارکو آیتونو کې د الله تعالی نه د هغو سزا ګانو عاجله غوښتنه کړې ده چې نوح عليه السلام به دوی ور باندې ګواښل، نو یقینا چې دا قصه د اسلام پیغمبر محمد ﷺ ته لوی تسلیت او ډاډ ؤ، ځکه دئ هم خپل قوم (د قر یشو مشرکانو) د نوح عليه السلام غوندې ډیر وکړا ؤ، نو ښایي چې د نوح عليه السلام قصه چې د الله لمړئ پیغمبره ؤ او بیا ورسره د اسلام پیغمبر ﷺ قصه چې خاتم النبیین والمرسلین دئ په صبر او زغم کې؛ ټولو هغو حقپالانو دعاتو ته چې دوی د الله دین ته خلک رابولي ډیر غوره او ځلاند لارښود وي، نو ښایي چې الله تعالی هر عالم او د الله دین ته رابلونکئ داعي ته؛ د هغوی غوندې صبر وکړي، ترڅو د پیغمبرانو د لارې کړاوونه وزغمي او هیڅ کله بې صبره نسي، او د پیغمبرانو لارې کړاوونو پر ګاللو کې ورخطا نسي او ګام په ګام په کلک استقامت سره په مخ لاړ سي، ترڅو خپل ولس او قوم ته په دنیا او آخرت کې د الله په توفیق سره ښادي او نیکمرغي ور په برخه کړي.

{د نوح قوم پرخپلو ځانو د عذاب راکوز یدل وغوښتل}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې مونږ ته الله تعالی د نوح عليه السلام قوم کبرجنې غوښتنې د نوح نه یادې کړې او بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿قَالُواْ يَٰنُوحُ قَدۡ جَٰدَلۡتَنَا فَأَكۡثَرۡتَ جِدَٰلَنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٣٢ قَالَ إِنَّمَا يَأۡتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ إِن شَآءَ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ٣٣ وَلَا يَنفَعُكُمۡ نُصۡحِيٓ إِنۡ أَرَدتُّ أَنۡ أَنصَحَ لَكُمۡ إِن كَانَ ٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغۡوِيَكُمۡۚ هُوَ رَبُّكُمۡ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٣٤ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ إِنِ ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ

فَعَلَيَّ إِجۡرَامِي وَأَنَا۠ بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُجۡرِمُونَ ٣٥﴾

[٣٢] [او بيا د نوح سرکښې قوم مشرانو پر نوح غږ وکه] او هغه ته يې وو يل: اى نوحه! يقيناچې تا د زمونږ سره استدلال او مناظره وکړه، نو دا مناظره بيا تا زمونږ سره ښه ډيره اوږده کړه، نو که ته د ر ښتيا و يونکو نه يې د عذاب راتګ هغه وعدې چې تا زمونږ سره کړي هغه را ته راوړه!

[٣٣] [نو بيا نوح عليه السلام په ځواب کې ورته] وو يل: که الله وغواړي، نو يقيناچې هغه عذاب يوازې الله تاسې ته راولي او تاسې د هغه مخه نيولاى نسى، يعنى د الله زور نه لرى، ترڅويې د عذاب مخه ونيسى.

[٣٤] او که الله وغواړي چې تاسې د سې لارې نه واړوي [يعنى که تاسې پر کږه لار وخوځوي، نو بيا الله تعالى تاسې بې لارې کوي] او که زه وغواړم چې تاسې ته نصيحت وکړم، نو د زما نصيحت او وعظ تاسې ته څه ګټه نه لري [ځکه الله تعالى چې د ستاسې څښتن دئ؛ هرڅه يې په واک کې دي] او تاسې بيرته الله ته ورګرځول کيږى، يعنى نو الله به تاسې ته سزا درکړى او زه هيڅ څه کړاى نسم!

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارك آيت کې د نوح عليه السلام په قصه کې معترضه جمله ده او يکې د قر يشو کافرانو پر رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې اعتراض کړئ دئ، او په بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

[٣٥] اى پيغمبره! او آيا کافران وايي چې دا قصې محمد د خپل ځان نه الله پسې تپلې او افترا کړي دي؟ [نو ته اى پيغمبره! دوى ته په ځواب کې] ووايه: که دا قصې ما د ځان نه جوړې کړي وي او بيا هغه ما الله پسې په افترا سره تپلې وي؟ نو زه د خپل جرم ګناه پر غاړه اخلم او سزايې ګالم [خو که زه ر ښتيا وايم، نو بيا تاسې مجرمان ياستى] او زه د مجرمانو نه بې زاره يم او خپل براء ت د هغوى نه اعلانوم، يعنى دا ځکه چې دوى د خپل رب نه سرکښي کړې ده او مجرمان دي.

هو؛ ګرانو عز يزانو! نوح عليه السلام وروسته د اوږده بحث او استدلال نه چې سلهاوو کلونه يې واخستل؛ د خپل قوم مشرانو زور واکو کافرانو ته خپل رونې او پر يکنده در يځ اعلان که، او د سې لارې نه د دوى د ورکتيا جرمونو ملامتي يې خپله د دوى پرغاړه واچوله، نو بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې نوح عليه السلام ته وحيه وکړه چې د ستا قوم نور ايمان

نه راوړي او د الله لوی طوفان به پردوی باندې راسي او هلاك بې کړي، نو ښايي چې اسلام ته رابلونکې دعات همدا در یځ خپل کړي او د الله دین ته په پوره صداقت، اخلاص، صبر او زغم سره چې پکې روښتیا او صراحت وي؛ خپل ولسونه رادعوت کړي او را و یبولي،او په دې لار کې ده د هر ډول ځان غوښتنې، نفاق، تلوار او بې صبرۍ نه ځانونه کلک وساتي، ترڅوپې غاړه خلاصه او بر یاپې په برخه سي او په دنیا اوآخرت کې سر لوړي سي.

{نوح ته الله حکم وکه چې د نجات بیړۍ جوړه کړه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې نوح عليه السلام ته الله تعالی د نجات بیړۍ یا کښتۍ جوړولو حکم کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ ءَامَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾ وَٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ۖ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾ وَيَصْنَعُ ٱلْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِۦ سَخِرُوا۟ مِنْهُ ۚ قَالَ إِن تَسْخَرُوا۟ مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ ﴿٣٨﴾ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمْرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلْنَا ٱحْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ ٱلْقَوْلُ وَمَنْ ءَامَنَ ۚ وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٤٠﴾ * وَقَالَ ٱرْكَبُوا۟ فِيهَا بِسْمِ ٱللَّهِ مَجْرٖىٰهَا وَمُرْسَىٰهَآ ۚ إِنَّ رَبِّى لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٤١﴾﴾

[۳۶-۳۷] [هو! کله چې د نوح قوم مشران کافران په خپل کفر باندې کلک پاتې سول او د نوح نه یې پردوی باندې د الله تعالي لوی عذاب راتلو غوښتنه وکړه] نو بیا نوح ته الله وحیه وکړه چې ای نوحه! د ستا قوم نه پرته د هغو کسانو چې مخکې یې ایمان راوړئ دئ؛ نور څوک ایمان نه راوړي، نو ته د دوی په بدو کړنو او بدو خبرو مه خفه کیږه او پروایې مکړه، او ته ای نوحه! د زمونږ سترګو څار لاندې یې، او د زمونږ پټو

لارښودنو په مرسته بيړۍ يا کښتۍ جوړه کړه، او د هغو کسانو په باره کې چې پرخپلو ځانونو ظلم کړئ دئ؛ مونږ ته سپارښت مکړه، ځکه هغوی خامخا غرقيدونکي دي او په طوفان کې دوب بيږي.

[٣٨-٣٩] نو بيا نوح د کښتۍ جوړول پيل کړل او کله چې به د هغه قوم نه يوه ډله کسان پرنوح راتيريدل، نو ور پورې خندل يې او ملنډې يې ور باندې وهلې، نو بيا به نوح دوی ته و يل: که تاسې مونږ پورې خاندئ، نو مونږ د ستاسې په ناپوهۍ پورې خاندو [ځکه چې تاسې د الله وعدو په ر ښتيا کيدو باندې لا تر اوسه نه پوهيږي او ورځخه خبر نه ياستئ!] نو ډير ژر به پوه سئ چې د الله عذاب چا ته راځي؟ ترڅو هغه خوار، ذليل او سپک کړي او تل پاتې عذاب ور باندې راسي.

قدرمنو دوستانو! د نوح عليه السلام قوم مشرانو ناپوهي، بغاوت او کبر دي حد ته ورسيده چې دوی د الله وعدې د عذاب او سزا په راتګ سره دروغ وګڼلې، ترهغو چې بيا د الله عذاب ور باندې راغئ او دوی يې ټول هلاک او په طوفان کې غرق کړل، او د دغسې عذاب په بيان کې الله تعالى په ور پسې مبارک آيت کې فرمايلي دي:

[٤٠] ترڅو چې د زمونږ حکم [او وعده] راغله او ځمکه راوخوټيدله [او او به ورځخه راووتلې، او د هغو تنورونو نه چې اور پکې بل ؤ؛ او به راوخوټيدلې، او نوح ته مونږ وو يل چې د هر ژوندي حيوان نه يوه جوړه نر او ښځه او خپله کورنۍ ده؛ ځان سره واخله او په بيړۍ کې يې سپاره کړه، او هغه کسان هم ځان سره سپاره کړه چې دوی مخکې ايمان را وړئ دئ، او د نوح قوم نه ډيرو لږو کسانو ايمان راوړئ ؤ، خو هغه کسان ځان سره مه سپره ؤ چې د دوی د دوب بيدو پر يکړه مخکې سوي ده، يعنې لکه د نوح زوی او ميرمن يې چې ايمان يې رانوړ.

[٤١] او بيا نوح [مومنانو ته] وو يل: په بيړۍ کې د الله په نامه سپاره سئ، ځکه الله دئ چې دا بيړۍ د او بو پرسر بيايي او دروي يې، او يقينا چې د زما پالونکئ خداى الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

{نوح د الله حکم هیرکه او د زوی نجات پې وغوښت}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې مونږ الله تعالی د نوح عليه السلام د پلرنۍ عاطفې نه د خپل زوی پر وړاندې خبر کړې یو، او فرمایلي دي:

﴿وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ وَنَادَىٰ نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ يَا بُنَيَّ ارْكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ الْكَافِرِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ سَآوِي إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ ۚ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ ﴿٤٣﴾ وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي وَغِيضَ الْمَاءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ ۖ وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤٤﴾﴾

[٤٢] او کله چې بیړۍ د او بو په څپو، لکه غرونه [په جګیدو او ټیټدو سره روانه ؤ] نو نوح پرخپل زوی باندې [چې ځان یې د یوې غونډۍ ډډې ته کړې ؤ] غږ وکه چې ای زوی کیه! رازه زمونږ سره سپور سه او د کافرانو ملګرتیا مکړه.

[٤٣] [نو زوی یې په ځواب کې ورته] وو یل: غره ته به ځان ورسوم او هغه ما د او بو څپونه ساتي [خو نوح بیا پرهغه غږ وکه] او و یو یل: نن د الله حکم نه هیڅ څوک مخنیونکئ او ساتونکئ نسته، مګر دا چې الله پرچا ورحمیږي، او بیا دوی دواړه د او بو څپو یو بل نه بیل کړل او د نوح زوي په طوفان کې ډوب او غرق سه.

[٤٤] [او بیا الله تعالی ځمکې ته امر وکه] او ورته یې وو یل: ای ځمکې! او به ده راوځښینه، او ای اسمانه! اور یدل نور بس کړه، او بیا او به وچې سوې او د الله حکم نافذ سه [یعنی د نوح سرکښ قوم چې ایمان یې رانوړ د او بو په طوفان کې غرق سول او لمنځه لاړل] او د نوح بیړۍ پرجودي باندې ودر یده [یعنی په یؤ جګه غونډۍ باندې ودر یده] او غږ وسه چې پرهغه ظالم قوم باندې مرګ چې ایمان یې رانوړ، یعنی کافران ده هلاك او

تباه سي چې ايمان يې رانوړ.

{نسب د خلاصون ډيرې نه ده بلکې ايمان د نجات ډيرې ده}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى فرمايلي دي چې نسب د خلاصون ډيرې نه ده، بلکې ايمان خلاصونکئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبۡنِي مِنۡ أَهۡلِي وَإِنَّ وَعۡدَكَ ٱلۡحَقُّ وَأَنتَ أَحۡكَمُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ٤٥ قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيۡسَ مِنۡ أَهۡلِكَۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيۡرُ صَٰلِحٖۖ فَلَا تَسۡـَٔلۡنِ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۖ إِنِّيٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ٤٦ قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنۡ أَسۡـَٔلَكَ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ عِلۡمٞۖ وَإِلَّا تَغۡفِرۡ لِي وَتَرۡحَمۡنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٤٧ قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن مَّعَكَۚ وَأُمَمٞ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ٤٨ تِلۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهَآ إِلَيۡكَۖ مَا كُنتَ تَعۡلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِن قَبۡلِ هَٰذَاۛ فَٱصۡبِرۡۖ إِنَّ ٱلۡعَٰقِبَةَ لِلۡمُتَّقِينَ ٤٩﴾

[٤٥] او نوح خپل رب الله [او لوی څښتن خدای ته] په غږ کړو سره وو يل: ای لو يه ر به! د زما زوی خو زما د کورنۍ نه ؤ او [تا را سره وعده کړی ؤ چې د زما کورنۍ ته به نجات ورکوي] او د ستا وعده حق ده او ته د ټولو حکم کونکو نه ښه غوره حکم کونکې او لوی عادل ذات يې!

[٤٦] [نو بيا] نوح ته الله وو يل: ای نوحه! باور وکړه چې هغه د ستا کورنۍ نه نه ؤ، ځکه د هغه کړل سم نه ول، او ای نوحه! د هغه څه چې ته ور باندې نه پوهيږې د زما نه پوښتنه مکړه، او ای نوحه! زه تا ته نصيحت کړم چې د ناپوهانو نه مکيږه، يعنی د هغه چا سپارښت مکړه، چې ته د هغه په زړه نه پوهيږې او ورڅخه خبر نه يې!

[٤٧] نوح په ځواب کې وو يل: ای ر به! زه تا ته د داسې غوښتنې نه پناه در وړم چې زه ور باندې نه پوهيږم، نو که ته ای لو يه څښتنه! ما ونه بښې او راباندې ونه رحميږې؛ زه به د ز يانمنو نه وم، يعنی ما به ګناه کړې وي

او د سزا مستحق به ګرځيدلئ وم!

[٤٨] او بيا نوح ته وو يل ســول چې ای نوحه! اوس د بيړۍ نه زمونږ لخوا په پوره ډاډ او سلامتيا سره را کوز سه، او پرتا او درسره ملګرو ډلو باندې ده د زمونږ سلام او برکتونه وي، او د ځمکې نورې سرکښې ډلې هم ستە چې د دنيا ژوند خوندونه به ورکړو، خو د زمونږ دردونکې سزا به بيا دوی ته رسيږي، يعنی خاماخا به ورته کلکه سزا ورځکل کيږي.

[٤٩] هو! ای پيغمبره! دا [د نوح عليه السلام قصه] د هغو پټو قصونه ؤ چې هغه مونږ تا ته وحيه کوو او ته او قوم ده د دې نه مخکې ور باندې نه پوهيدلی، نو صــبر وکړه [يعنی د خپل قوم زوروني او د دوی د لاســه ستونزې وزغمه] ځکه راتلونکې ښادي او بر يا د متقيانو ده.

ګرنو دوستانو! دا وه د نوح عليه السلام اوږده قصه د خپل سرکښ قوم سره چې ســلهاوو کلونه يې دوی د الله عبادت او بنده ګی ته په توحيد او يوالي سره راو بلل، خو دوی ايمان رانوړ او ډيرو لږو کسانو ايمان راوړ، او دغه کافران بيا د الله سختې سزا راتلو غوښتونکي سول، نو بيا الله تعالی خپله تقديري پر يکړه پردوی باندې جاري کړه او د او بو لوی طوفان په څپو کې يې هلاک کړل، نو دا قصــه چې ډيره پخوا تيره ســوي قصــه ده؛ الله تعالی هغه د اسلام پيغمبر(محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم) ته په دې مقصد وحيه کړه، چې دئ او امت ئ ورځخه ګټه واخلي او د نوح غوندې د خپل قوم ظالمانو پر تيريو صبر وکړی او هغه وزغمي، ترڅوپې بر يا او ســر لوړي او نصرت په برخه سي، نو ښايي چې اسلام ته رابلونکې عالمان او ملايان دغه قرآني قصــې چې د پندونو او عبرتونو نه ډکې دي؛ خپلو ولســونو ته ورســوي، ترڅو هغه واوري او ځانونه پرې پوه کړي او ورځخه وګټه واخلي.

{هود عليه السلام خپل قوم يوازې د الله عبادت ته راو باله}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د هود عليه السلام قصه د خپل قوم عاد ســره چې دوی يې د الله توحيد ته په بنده ګی کې راو بلل؛ يادە کړې ده او دا مبارکه سوره، په هود ځکه نومول سوې ده چې د هود عليه السلام د دعوت

دا قصه خپل قوم سره د عبرتونو نه ډکه قصه ده او قرآن شو د هغوی قصې مخکې اور یدلې وې، نو یقیناچې د دغسې قصو په یادونه کې مونږ ته د نصیحت لوی پیغام پروت دئ، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴿٥٠﴾ يَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٥١﴾ وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا يَا هُودُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِي آلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٥٣﴾ إِنْ نَقُولُ إِلَّا اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ ۗ قَالَ إِنِّي أُشْهِدُ اللَّهَ وَاشْهَدُوا أَنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ مِنْ دُونِهِ ۖ فَكِيدُونِي جَمِيعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُونِ ﴿٥٥﴾ إِنِّي تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمْ ۚ مَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا هُوَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا ۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ﴿٥٦﴾ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ مَا أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَيْكُمْ ۚ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّي قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّونَهُ شَيْئًا ۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿٥٧﴾ وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُودًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَنَجَّيْنَاهُمْ مِنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ عَادٌ جَحَدُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهُ وَاتَّبَعُوا أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٥٩﴾ وَأُتْبِعُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ أَلَا إِنَّ عَادًا كَفَرُوا رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا لِعَادٍ قَوْمِ هُودٍ ﴿٦٠﴾﴾

[۵۰] او د عاد قوم ته مونږ د دوی ورور هود راولیږه [او هود پرخپل قوم عاد باندې غږ وکه] او ورته یې وو یل: ای قومه! د الله عبادت وکړئ [یعنی د هغه بنده کان سئ] ځکه تاسې د الله نه پرته بل په حق سره معبود نه لرئ [خو تاسې بتان د الله سره په عبادت کې شر یکوئ] نو

تاسې مفتريان ياستې او الله پسې دروغ وايي، يعنې الله تعالى ځان سره په خدايي کې هيڅ څوک نه دي شر يك کړي، او الله تعالى هيڅ څوک شر يك او مل نه لري او الله لوى ذات دئ.

[٥١] او اى د زما عز يزانو! زه په دې بلنه او دعوت ستاسې نه څه اجرت يا مزدوري نه غواړم، د زما اجرت او ثواب پرهغه چا باندې دئ چې زه يې پيدا کړم، نو آيا تاسې فکر نکړئ او عقل په کار نه اچوئ؟ يعنې په خبره نه پوهيږي؟ ترڅو نېسه فکر وکړئ او د خپل عقل نه کار واخلئ او حق او باطل و پېژنئ، او يوازې د الله تعالى عبادت او بنده کې وکړئ او د الله تعالى مخلص بنده کان سئ، او ځانونه د شرك نه وساتئ.

[٥٢] او اى د زما قومه! د خپل رب [او لوى څښتن الله] نه بښنه وغواړئ او د خپلو تيروتنو او ګناه وونه الله ته رجوع وکړئ، او تو به و باسئ [او که تاسې دا کار وکه] نو بيا به الله اسمان در باندې پرله پسې راووروي او د ستاسې قوت او زور به لا ډير غښتلئ کړي [يعنې د ستاسې دولت او کهول به لا ډير کړي] او تاسې اى خلکو! زما نه بيرته مجرمان مګرځئ، يعنې پرخپل جرم او ګناه باندې همداسې ټينګار مکړئ، ترڅو د مجرمانو سره حشر نسئ.

[٥٣] [او بيا عاديانو پرهود عليه السلام غږ وکه او ورته يې] وو يل: تا مونږ ته ښکاره دليل او معجزه نه ده راوړې چې د ستا پيغمبرئ تصديق وکړي، نو مونږ خپل خدايان ستا په خبره نه پر يږدو او پرتا باندې باور نکړو، يعنې ستا د پيغمبرئ دعوا نه منو!

[٥٤-٥٥] او مونږ څه نه وايو، مګر دا چې د زمونږ ځينې خدايانو تا ته څه ز يان او ضرر رسولئ وي [يعنې دا چې کيداى سي ته اى هوده! د زمونږ معبودانو آزار وهلئ وي، ځکه ته مونږ د هغوى عبادت نه منع کوي، نو بيا هود عليه السلام دوى ته په ځواب کې] وو يل: زه يقينا چې الله پرځان شاهد نيسم او تاسې هم شاهدان اوسئ چې زه په کلکه سره د ستاسې ناحقه خدايانو نه چې د الله نه پرته يې عبادت کړئ او د الله سره يې شرکوئ؛

بې زاره يم [يعنې خپل براءت ورڅخه اعلانوم، نو تاسې ټول د يو بل په مرسته ما ته د تاوان رسولو او ضرر تګ لاره جوړه کړئ، او بيا ما ته هيڅ وخت مه راکوي او خپل پلان عملي کړئ، يعنې دا چې بيا به وګورو چې تاسې څه کړای سئ کنه؟ هو! هودعليه السلام دا ننګونه، ځکه وکړه چې دئ د الله په مرسته او ساتنه باندې ډاډه او مطمئن ؤ.

[٥٦] [او ای قومه! په پوره باور او يقين سره درته وايم] چې ما پرالله باندې چې د زما او ستاسي رب او خدای دئ؛ توکل کړئ دئ [يعنې خپل ځان مه پرالله تعالی سپارلئ دئ، نو هيڅ مصيبت او ز يان ما ته نه رسيږي، مګر د الله په حکم او پر يکړې سره] ځکه هيڅ ښور يدونکئ مخلوق پر ځمکه نسته مګر دا چې هغه د الله واک لاندې دئ، او يقينا چې د زما رب او لوی ځښتن پرسمه لار او پرحق دئ، يعنې دا چې هغه عادل رب دئ او د حق پالونکئ دئ.

[٥٧] [نو ای قومه! که تاسې د زما دعوت نه] مخ واړا ؤ، نو يقينا چې ما هغه پيغام چې زه يې د تبليغ لپاره تاسې ته را ليږل سوئ يم؛ هغه ما تاسې ته ورسا ؤ [نو که بيا تاسې ايمان را نه وړ] نو بيا به د زما رب الله د ستاسې ځای ناستئ بل قوم وګرځوي، او تاسې الله ته هيڅ ز يان رسولای نسئ، او يقينا چې زما رب د ټولو شيانو ساتندوی دئ، يعنې ما هم الله د ستاسې ضرر او ز يان نه کلک ساتي.

[٥٨] او کله چې د زمونږ حکم د عذاب په راتګ سره راغئ، نو هود ته او هغو کسانو ته چې د هغه سره يې ايمان راوړئ ؤ؛ دوی ته مونږ په خپل رحمت سره نجات ورکه، او دوی ټول د کلک عذاب نه مونږ خلاص کړل.

[٥٩] نو بيا هغه ؤ چې عاد د هود قوم د خپل رب لو يو قدرتونو نښانو او د هغه کتاب آيتونو او دليلونو نه منکر سول او د الله استازو او پيغمبرانو نه يې سرغړونه وکړه، او د هرجابر کبرجن کافر د حکم اطاعت يې وکه، يعنې ور پسې لاړل او د هود نصيحت يې ونه مانه.

[٦٠] نو په دې دنيا کې او د آخرت پر ورځ دوی پسې لعنت دئ [يعنې د

الله رحمت نه شړل سوي دي] او با خبر! چې يقينا عاديان د خپل رب او څښتن نه منکر او کافران سول، او هم خبر سې! چې د هود قوم عاد [چې کله کافران سول او پر الله او د هغه پر پيغمبر هود عليه السلام يې ايمان رانوړ] او مشرد الله رحمت او پاملرنې نه ښه لرې سول! يعنې د الله توفيق نه محروم او ښه لرې ورک سول.

عزتمنو دوستانو! دا ؤ د هود عليه السلام قصه د خپل سرکښ قوم (عاديانو) سره چې د هغه دعوت او بلنه يې د الله عبادت او بنده کې ته ونه منله او پر خپل کفر او شرک باندې يې ټينګار وکه، او هود عليه السلام چې د الله پيغمبر ؤ او دا مبارکه سوره د هغه په نامه نومول سوې ده؛ هغه ډير ز يار وايست چې خپل قوم قانع کړي، ترڅو حق ومني او د باطل نه چې شرک ؤ لاس واخلي، خو دوی چې کبرجن او سر زوري ول؛ همداسې کافران پاتې سول، ترڅو د الله عذاب ور باندې راغئ او هلاک سول، او هود عليه السلام د خپلو هغو ملګرو سره چې ايمان يې راوړئ ؤ؛ نجات بياموند او د الله هغې سزا نه چې يوازې کافرانو ته راغله وساتل سول، نو يقينا چې الله مومنانو ته نجات ورکوی او کافرانو ته کلکه سزا، نو د هود عليه السلام قصه د نورو قصو غوندې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته او بيا وروسته يې لارو يانو دعاتو ته ښه ډاډ او تسليت، او د نجات او خلاصون لوی ز يرئ دئ، نو ښايي چې حق ته رابلونکي دعات ورڅخه تل کټه واخلي.

{صالح عليه السلام الله خپل قوم ثمود ته پيغمبر راولېږه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ ته د صالح عليه السلام قصه د خپل قوم ثمود سره کړي ده، او فرمايلي دي:

﴿*وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَٱسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّى قَرِيبٌ مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾ قَالُوا۟ يَٰصَٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَآ ۖ أَتَنْهَىٰنَآ أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا ۖ وَإِنَّنَا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ

أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي مِنْهُ رَحْمَةً فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِنْ عَصَيْتُهُۥ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ ﴿٦٣﴾

[٦١] او ثمود ته مونږ د دوی ورور صالح پیغمبر راولیږه [او بیا صالح خپل قوم او کلیوالو ته] وو یل: ای قومه! د الله عبادت وکړئ، ځکه تاسې د الله نه پرته بل په حق سره معبود نه لرئ، او تاسې الله د ځمکې نه پیدا کړئ او بیا یې د ځمکې پر ودانۍ وګمارلئ، نو د الله نه بښنه وغواړئ او الله ته وروګرځئ [یعنی د خپل کفر او شرك نه توبه و باسي] او یقینا چې د زما رب ای عز یزانو! تاسي ته لنډ دئ او د ستاسې توبې قبلونکئ دئ؟

[٦٢] [نو بیا ثمودیانو خپل پیغمبر صالح عليه السلام ته په ځواب کې] وو یل: ای صالحه! ته د زمونږ په منځ کې د دې خبرو نه مخکې منل سوئ وې [یعنی مونږ هیلمن وو چې ته د زمونږ مشر سي] خو آیا اوس ته مونږ د خپلو پلرونو خدایانو عبادت نه منعې کوې؟ او یقینا چې مونږ د ستا په دې دعوت کې چې یوازې د یؤ خدای عبادت ته مونږ را بولې شکمن یو.

[٦٣] [نو بیا صالح په ځواب کې پرخپل قوم ثمود باندې غږ وکه] او ورته یې وو یل: ای د زما قومه! ما ته ووایې، که چیرې زه د خپل رب لخوا دلیل او معجزه ولرم [یعنی دا چې هغه زما د پیغمبرئ تصدیق کوی] او پر ما باندې الله خپل رحمت او پیغمبري لورولې ده، نو که بیا زه د الله نه نافرماني وکړم [یعني د الله تعالي پیغام خپل قوم ته ونه رسوم] نو بیا به څوک د زما مرسته وکړي؟ او څوک به ما د الله عذاب نه وساتي؟ [ځواب دا چې هیڅ څوک زما نه د الله عذاب لرې کولای نسي، نو که زه چوپ سم او د ستاسې خبره ومنم] نو د الله نه لا ډیر لرې کیږم، یعني الله به پر ما کلک په غوصه سي او سزا به را کړي!

ګرانو دوستانو! د الله تعالی ټولو پیغمبرانو او بیا د دوی د دین او دعوت وارثانو خپل رسالت ښه پیژندلئ دئ، او هغه دوی ته د الله تعالی لخوا لوی امانت بولي چې دوی یې د هغه تبلیغ لپاره غوره کړي دي، نو ځکه دوی په پوره اخلاص او صبر سره خپل ولسونه د الله بنده ګۍ او

توحيدي عبارت ته رابولي، او د الله تعالى دا لوى امانت چې هغه د دين رسول او ورته دعوت دئ؛ خپلو ولسونو ته رسوي، ترڅو د الله عذاب او کلکې سزا نه په امن کې سي، او خپل دين ته د دعوت ثوابونه وګټي او د قيامت په ورځ سپين مخي او په جګه غاړه د الله په حضور کې ودر يږي.

{د صالح عليه السلام معجزه خپل قوم ته د الله اوښه ؤ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى خپله معجزه د صالح عليه السلام په ژ به خپل قوم ته يادە کړې او بيان کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَيَٰقَوۡمِ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمۡ ءَايَةٗۖ فَذَرُوهَا تَأۡكُلۡ فِيٓ أَرۡضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٞ قَرِيبٞ ٦٤ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُواْ فِي دَارِكُمۡ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٖۖ ذَٰلِكَ وَعۡدٌ غَيۡرُ مَكۡذُوبٖ ٦٥ فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا صَٰلِحٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَمِنۡ خِزۡيِ يَوۡمِئِذٍۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ٦٦ وَأَخَذَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٦٧ كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَاْ كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّثَمُودَ ٦٨﴾

[٦٤] [او کله چې صالح عليه السلام ته الله تعالى د هغه قوم په غوښتنه اوښه معجزه ورکړه، نو بيا هغه پر خپل قوم غږ وکه او ورته يې وو يل] اى د زما قومه ثمودە! دا د الله اوښه ده او هغه تاسې ته د الله د قدرتونو نښه او معجزه ده، نو دا اوښه پر يږدئ چې د الله پرځمکه وڅري او واښه وخوري، او هغې ته څه ز يان ونه رسوئ، کنه نو بيا به تاسې لنډه سزا را ونيسي او لمنځه به مو يوسي!

[٦٥] خو ثموديانو بيا دا اوښه [د چړو په وهلو سره زخمي] او مړه کړه، نو صالح دوى ته وو يل په خپل کلي او کورو کې درې ورځې د ژوند نه خوند واخلئ، او دا تاکل سوې نيټه د الله وعده ده او هغه دروغ نه ده، يعنى درې ورځې وروسته د الله عذاب تاسې ته خامخا راتلونکئ دئ!

[٦٦] نو بيا چې کله د زمونږ حکم ثموديانو په هلاکت راغئ، نو صالح او وسره مومنانو ته مونږ د دې ورځې خواري نه په خپل رحمت سره نجات ورکه، او يقينا چې د ستا رب ای پيغمبره! لوی ځواکمن ذات دئ.

[٦٧] او بيا هغه کسان چې پرخپلو ځانويې ظلم کړئ ؤ يؤ ټکانونکي غږ را ونيول، او کله چې شپه صباح سوه؛ دوی په خپلو کورونو کې پرمخې پرځمکه پراته مړه سوي ول!

[٦٨] او داسې ښکار يدل، لکه چې هلته يې هيڅ ژوند نه ؤ کړئ، هو! ثموديان پر خپل رب او لوی ځښتن الله باندې کافران سول، او يقينا چې دوی د الله رحمت نه شړل سوي دي.

عزتمنو دوستانو! دا ؤ د صالح عليه السلام قصه د خپل قوم ثموديانو سره چې دوی د هغه پيغمبري ونه منله او د صالح عليه السلام نه يې د خپلې خوښې معجزه وغوښتله، او داسې روايت سوئ دئ چې ثموديانو د صالح عليه السلام نه وغوښتل چې د هغه غټ ګټ نه چې هلته پروت ؤ؛ دوی ته اوښه راو باسي، نو بيا به دوی د صالح پيغمبري ومني! نو ځکه بيا صالح عليه السلام دا معجزه د الله تعالى نه وغوښته او الله تعالى دا معجزه هغه ته ورکړه، نو بيا صالح خپل قوم ثمود ته چې دوی د پخوانيو عر بانو کهول نه ول او د حجاز او شام په منځ کې پرتو ډاګو کې اوسيدل؛ وو يل: دا ستاسې د خوښې معجزه اوښه ده، او هغه پر يږدئ چې د الله پرځمکه وخري او هغې ته څه ز يان ونه رسوئ، خو د صالح عليه السلام قوم چې پرخپل رب باندې کافر سه دا اوښه يې په چړو وهلو سره زخمي او مړه کړه، نو بيا الله تعالى پردوی سخت عذاب راووست، او د درې ورځو زنډ او مهلت نه وروسته چې ثموديانو ته و رکړل سوئ ؤ؛ ټاکل سوئ عذاب پری راکوز سه او ټول يې هلاک کړل او ښه خوارسوي او سپک يې له منځه يورل، خو صالح عليه السلام او ورسره مومنانو ته الله نجات ورکه او دوی يې وساتل، نو يقينا دا قصه چې د حق بر يا ز يرئ پکې نغښتئ دئ؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه يارانو ته او د اسلامي دعوت صادقو دعوت کونکو ته پوره تسليت او ډاډ او اطمئنان دئ، نو ښايي چې دوی هيڅکله د الله رحمت نه مايوس نسي او خپل دعوت په

ډاډمن زړه سره پر مخ یوسي.

{د ابراهیم علیه السلام قصه د لارښودنو رڼا او د الله قدرتونو نښه ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د ابراهیم علیه السلام قصه مونږ ته یاده کړي ده، او هغه دعاتو ته د لارښودنو رڼا او د الله تعالی لو یو قدرتونو نښه ده، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوا۟ سَلَٰمًا ۖ قَالَ سَلَٰمٌ ۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَءَآ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۚ قَالُوا۟ لَا تَخَفْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٠﴾ وَٱمْرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَٰهَا بِإِسْحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسْحَٰقَ يَعْقُوبَ ﴿٧١﴾ قَالَتْ يَٰوَيْلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٌ وَهَٰذَا بَعْلِى شَيْخًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عَجِيبٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوٓا۟ أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ۖ رَحْمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيْكُمْ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ ۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ﴿٧٣﴾ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ ٱلرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ ٱلْبُشْرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾ يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَآ ۖ إِنَّهُۥ قَدْ جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَإِنَّهُمْ ءَاتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴿٧٦﴾﴾

[٦٩] او یقینا چې د زمونږ استازي (فرښتې) د ز یرو سره ابراهیم ته راغلل او پرهغه یې سلام واچا ؤ او ابراهیم ورته علیکم السلام و و یل، او بیا ابراهیم پرته د زنډ نه د سوخندر کباب کړې غوښه راوړه او د میلمنو په مخکې یې کیښوده، یعنی دوی یې خوړلو ته راو بلل.

[۷۰-۷۱-۷۲] نو بیا چې کله ابراهیم ولیدل چې د میلمنو لاسونه خوړ ته نه را وړلاندې کیږي [یعنی دوی دا کباب سوې غوښه نه خوري] نو دا کاریې بد وګانه [یعنی ځان ته یې سپکاوئ و باله، ځکه دا څنګه میلمانه دي چې ډوډۍ نخوري؟] او په زړه کې یې د دوی نه و یره ولو یده، نو د الله

استازي [ملائکې چې د سړي یو په څیره کې راغلي ول؛ ور باندې پوه سول] نو ابراهیم ته یې وویل: ته مه و یر یره؛ مونږ د لوط قوم ته را لیږل سوي یو، او د ابراهیم میرمن (ساره) چې هلته ولاړه ؤ هغې وې خندل، نو بیا مونږ هغې ته د اسحاق ز یږ یدلو ز یرئ ورکه او د اسحاق نه وروسته مونږ د لمسي یعقوب ز یرئ ورکه، نو بیا هغې په آه، واو یلا او حیرانتیا سره وو یل: زه خو زړه یم، څنګه به زوی وز یږوم؟ او دا زما میړه (ابراهیم) هم زوړ دئ! نو دا څه حرانتیا ده؟ یعنی دا دؤ زاړه به څنګه زامن راوړي!

[۷۳] نو بیا د الله نه ورته راغلیو فرښتو وو یل: [ای د پیغمبرانو درندي مور!] آیا ته د الله حکم نه تعجب کړي او حیرانه سوې؟ او دا پر تاسې باندې ای درندې کورنۍ! د الله رحمت او برکت دئ [نو د الله تعالی دغه پیرزو ینه پر خپلو ځانو باندې؛ نه کیدونکې مه ګڼئ] ځکه الله یقینا ښه ستایل سوئ او د ښه لوی مقام څښتن دئ، یعنی الله تعالی د لوی قدرت خاوند دئ، هرڅه کړای سي، ځکه الله ته هرڅه اسانه دي.

[۷٤] نو کله چې د ابراهیم نه و یره لاړه او د زوی ز یرئ ورته راغئ، نو بیایې د زمونږ استازو سره د لوط قوم ته د سزا ورکولو په اړه خبرې او استدلال وکه!

[۷۵] او یقینا چې ابراهیم د لویې حوصلې څښتن او خپل رب الله ته ښه عابد او زاړی کونکئ بنده دئ، او تل الله ته مخ اړوي او ورګرځیدونکئ دئ، یعنی ابراهیم په هر کار کې الله تعالی ته رجوع کړي او د خپلو تیروتنو نه په اخلاص سره تو به باسي.

[۷٦] [او بیا د الله استازو فرښتو ابراهیم ته وو یل:] ای ابراهیمه! د دغې خبرې نه تیر سه او د ستا لوی څښتن الله حکم او فرمان نور صادر سوئ دئ، او د لوط قوم ته عذاب راتلونکئ دئ او مخه یې نه نیول کیږي، یعنی دوی خاماخا هلاکیږي او لمنځه ځي، نو ته مه غمجن کیږه.

{لوط علیه السلام چې د الله استازي ونه پیژندل زړه یې په تنګ سه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د لوط علیه السلام قصې نه مونږ

خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا وَقَالَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَصِيبٞ ٧٧ وَجَآءَهُۥ قَوۡمُهُۥ يُهۡرَعُونَ إِلَيۡهِ وَمِن قَبۡلُ كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطۡهَرُ لَكُمۡۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ فِي ضَيۡفِيٓۖ أَلَيۡسَ مِنكُمۡ رَجُلٞ رَّشِيدٞ ٧٨ قَالُواْ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنۡ حَقّٖ وَإِنَّكَ لَتَعۡلَمُ مَا نُرِيدُ ٧٩ قَالَ لَوۡ أَنَّ لِي بِكُمۡ قُوَّةً أَوۡ ءَاوِيٓ إِلَىٰ رُكۡنٖ شَدِيدٖ ٨٠ قَالُواْ يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓاْ إِلَيۡكَۖ فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٌ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمۡۚ إِنَّ مَوۡعِدَهُمُ ٱلصُّبۡحُۚ أَلَيۡسَ ٱلصُّبۡحُ بِقَرِيبٖ ٨١ فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا جَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهَا حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٖ مَّنضُودٖ ٨٢ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَۖ وَمَا هِيَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ بِبَعِيدٖ ٨٣﴾

[٧٧] او بيا چې کله د زمونږ استازي (ملائکې) لوط ته راغلل، دوی پر هغه بد ولږ يدل او پرې خفه سه او زړه يې په تنګ سه [يعنی کلک انديښمن او غمجن سه، ځکه لوط عليه السلام نه پوهيده چې دا ملائکې دي او د الله استازي دي، نو د خپل قوم بدو کړنو نه ور باندې وو يريده او د ډير خفتيان نه يې وو يل:] دا ډيره سخته ورځ ده، يعنی لوی ازمښت دئ چې دئ ورسره مخامخ سوئ دئ.

[٧٨] [نو بيا چې کله د لوط عليه السلام قوم د هغه ميلمنو نه خبر سول او وايې ور يدل چې دوی د تنکيو زلمکيانو په څيره کې دي] نو په منډه ورته راغلل، او دوی لدې نه مخکې بد کارونه کړل [يعنی د نار ينوو نه يې ناروا جنسي خوند اخست، نو لوط پر دوی باندې غږ وکه او ورته يې] وو يل: دا دي د زما لونې! او هغوی ستاسې لپاره ډيرې پاکې او ښې دي، نو د الله نه وو يرئ او د زما پر ميلمنو باندې په تيري کړو سره ما مه رسوا کوئ! او آيا په تاسې کې څوک هوښيار نسته؟ يعنی داچې ترڅو د خپلو ملګرو مخه

ونيسي او دوی دغسې بد کړو ته پر ينږدي!

[۷۹] [او بيا دغو بدو کارانو (بچه بازانو) لوط عليه السلام ته په ځواب کې] وو يل: يقينا ته پوهيږې چې مونږ د ستا په لونو کې څه حق نه لرو، او همدارنګه ته په يقين سره پوهيږې چې مونږ څه غواړو؟

[۸۰] لوط دوی ته وو يل: هو! که ما زور درلودای او يا د زما شا ته کلک ځواک وای، نو بيا به ما يقيناچې [تاسې دغسې بد کار کړنو ته نه وی پرې ايښې!]

[۸۱] [او کله چې ملائکو د لوط عليه السلام دا خفتيان او انديښنه او د خپلو بدو خلکو سره دا اوږده مرکه او استلال وليد، نو بيا دوی پر لوط عليه السلام غږ وکه او ورته يې] وو يل: ای لوطه! تا ته مونږ د ستا رب لخوا استازي يو، او دا [لښې غران] تا ته را رسيدلای نسي، او ته د شپې په تياره کې د خپل کهول سره د کلی نه ووځه او هيڅ څوک ده د ستاسې نه شا ته نګوري [يعنی ترڅو هغه عذاب ونه و يني چې د ستا پر قوم باندې را کوز يږي] خو د ستا ښځه يا ميرمن [چې د ستا سره په چل کې ؤ] هغه د دې عذاب نه خلاصيدای نسي او کم عذاب چې د هغې قوم ته رسيږي هغه دې ته هم رسيږي [يعنی هغه به پکې کړ يږي، او دوی ته د سزا ورکول وخت صباح سحر دئ] او آيا د سحر راختل را لنډ نه دي؟ يعنی ځواب دا چې سحر را لنډ دئ، او د الله لوی عذاب يقينا پر دغو لنډه غرانو باندې راتلونکئ دئ.

[۸۲-۸۳] او بيا چې کله د زمونږ حکم پر دوی د عذاب په راکوز يدو سره راغئ؛ ځمکه مونږ ور باندې په بل مخ راواړوله [يعنی ځمکه لاندې باندې سؤ] او د سرو خښتو پخې کلکې تيږې چې د الله په نزد په نښه سوي وې؛ هغه يې ور باندې راواړولې، او د تيګو دا باران د لوط پر قوم باندې د ظالمانو او کافرانو نه هم لرې نه دئ، يعنی د عذاب دغسې باران کيدای سي پر ټولو کافرانو راوور يږي او پرې راکوز سي.

قدرمنو دوستانو! دا دابراهيم او لوط عليهما السلام قصې چې د الله

تعالى د لو يو قدرتونو څرګندوى دي؛ د رسـول اللهﷺ او د هغه ملګرو مومنانو او د دعوت وارثانو ته؛ د لوى تسـليت او د ډاډ ګيرنې پيغام دئ، نو ښـايي چې هغه مونږ تل ولولو او ورڅخه ګټه واخلو او ژوندي مثالونه او بيلګې يې په خپل ژوندي تار يخ کې سـترګو ته راوړو، مخصـوصـا د افغانونو په ټاټوبي افغانسـتان کې چې د حق او باطل په منځ کې د اوږدي جګړې لوى ناور ين تير سـه او د ظالمانو تور برخليک د دې هيواد تار يخ په پاڼه کې ښـه ځلاند او ښـکاره انځور سـوئ دئ، يعنى دوى ته الله تعالى په دنيا کې ډيرې سـختې سـزاګانې ورکړې، نو ښـايي چې مونږ ټول ورڅخه ښه پند واخلو او هغه راته تل د عبرت اخستلو آينه وي.

{شعيبعليه السلام خپل قوم د الله عبادت ته راو باله}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د شـعيبعليه السلام قصـه د خپل قوم سـره مدين کې يادە کړې ده او دوى يې د الله تعالى عبادت ته په يو والي او توحيد سـره رابللي دي او بيايې دوى ته په راکړه ورکړه کې د تلې او پيمانې په پوره کولو کلک سپارښت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿*وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ وَلَا تَنقُصُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَۖ إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيۡرٖ وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ مُّحِيطٖ ٨٤ وَيَٰقَوۡمِ أَوۡفُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ٨٥ بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَۚ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِحَفِيظٖ ٨٦ قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأۡمُرُكَ أَن نَّتۡرُكَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَآ أَوۡ أَن نَّفۡعَلَ فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ ٨٧ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَرَزَقَنِي مِنۡهُ رِزۡقًا حَسَنٗاۚ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أُخَالِفَكُمۡ إِلَىٰ مَآ أَنۡهَىٰكُمۡ عَنۡهُۚ إِنۡ

أُرِيدُ إِلَّا ٱلۡإِصۡلَٰحَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُۚ وَمَا تَوۡفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ٨٨

[٨٤] او د مدين قوم ته مونږ د دوی ورور شعيب راولیږه [او هغه پر خپل قوم باندې غږ وکه او ورته يې] وو يل: ای د زما قومه! د الله عبادت او بنده ګي وکړی، ځکه تاسې د الله نه پرته بل په حق سره معبود نه لری، او تله او پيمانه مه کموی [يعنی هغه سپکه مه تلی او مې پيمانه کوی] او يقيناچې زه تاسې په خير او هوسايي کې و ينم، او پر تاسې باندې د راګردې سوې ورځې [يعنی د قيامت ورځې] عذاب نه په يقين سره و يرم.

[٨٥] او ای قومه! پيمانه او تله په راکړه ورکړه کې پوره کړی او د خلکو غلې مه کموی او پرځمکه ورانۍ مه خوروی او تاسې پکې ورانونکي مکيږی!

[٨٦] او که تاسې ای خلکو! مومنان ياستی، نو هغه ګټه او خير چې تاسې ته الله په حلاله ګټه کې پاتې کوي؛ هغه درته خير او ښه دئ [يعنی الله به پکې برکت واچوي، خو په دې شرط چې تاسې د الله په ورکړو باندې د زړه له تل نه ايمان ولری] او ای خلکو! زه د ستاسې کړنو څارونکئ او ستانونکي نه يم، يعنی د زما په واک کې څه نسته، ترڅو تاسې د ګواښونو نه وساتم او د خطرونو نه تاسې وژغورم.

[٨٧] [او بيا د شعيب عليه السلام قوم په ځواب کې هغه ته] وو يل: ای شعيبه! آيا د ستا لمونځ [چې ته پرې کلک او ټينګ ولاړيې] تا ته حکم کړي چې مونږ د هغو بتانو عبادت او بنده ګي پر يږدو چې د زمونږ پلرونو د هغو عبادت کا ؤ؟ او يا په خپل مال او دولت کې هغه څه وکړو چې هغه مونږ غواړو؟ [يعنی دا چې په تله او پيمانه کې څه شئ ډير او لږ کړو؟ او بيايې قوم شعيب عليه السلام ته د ډير پسخند او سپکاوي نه وو يل:] ته ای شعيبه! ډير صبرناک او ښه هوښيار سړئ يې!

[٨٨] نو بيا شعيب خپل قوم مدين ته وو يل: ای د زما عز يزانو! ما ته ووايي: که زه د خپل رب لخوا دليل ولرم [چې هغه ما ته د حق لار ښه سمه

روښـــانه کوي] او ما ته د زما رب ښـــه ډيره روزي راکړې ده [نو بيا زه څه وکړم؟ آيا تاسې ته په ښو کړنو نصيحت ونکړم؟ ځواب دا چې] هوا! زه چې د کمو بدو کړنو نه تاسې [ای عز يزانو!] منعې کوم په دې کې د زما مقصد ستاسې سره مخالفت نه دئ، ځکه زما چې څومره وسعه کيږي؛ مقصد مه اصلاح ده او زه اصلاح غوښتونکئ يم [نو الله ده توفيق راکړي] او ما پر الله باندې توکل کړئ دئ او خپل ځان مه پر الله سپارلئ دئ او الله ته مخ اړوم، يعنی د خپلو غلطيو او تيروتنو نه تو به باســـم او د الله نه مرسته، عفوه او بښنه غواړم.

{شعيب عليه السلام خپل قوم د تيرو ولسونو تور برخليک نه وګوابنه}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی مونږ د شعيب عليه السلام پيغام نه خپل قوم ته خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿وَيَٰقَوۡمِ لَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شِقَاقِيٓ أَن يُصِيبَكُم مِّثۡلُ مَآ أَصَابَ قَوۡمَ نُوحٍ أَوۡ قَوۡمَ هُودٍ أَوۡ قَوۡمَ صَٰلِحٖۚ وَمَا قَوۡمُ لُوطٖ مِّنكُم بِبَعِيدٖ ٨٩ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٞ وَدُودٞ ٩٠ قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ مَا نَفۡقَهُ كَثِيرٗا مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَىٰكَ فِينَا ضَعِيفٗاۖ وَلَوۡلَا رَهۡطُكَ لَرَجَمۡنَٰكَۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡنَا بِعَزِيزٖ ٩١ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَهۡطِيٓ أَعَزُّ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِۖ وَٱتَّخَذۡتُمُوهُ وَرَآءَكُمۡ ظِهۡرِيًّاۖ إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ٩٢ وَيَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي عَٰمِلٞۖ سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَمَنۡ هُوَ كَٰذِبٞۖ وَٱرۡتَقِبُوٓاْ إِنِّي مَعَكُمۡ رَقِيبٞ ٩٣ وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا شُعَيۡبٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٩٤ كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّمَدۡيَنَ كَمَا بَعِدَتۡ ثَمُودُ ٩٥﴾

[۸۹] او ای د زما عز يزانو! زما ســره د ســتاســې دښــمني او حق

پروړاندې د ستاسې سر زوري او ایمان نه راوړل؛ تاسې دې ته ونه هڅوي چې بیا پر تاسي باندې هغه عذابونه راسي چې د نوح، هود او د صالح قومونو باندې راغلل او دوی یې هلاك او مړه کړل، او د لوط قوم هلاکت قصه چې [د سرو خښتو او تیګو په راوور یدو سره ؤ] د ستاسې نه لرې نه ده! یعنی د هغوی قصونه ډیر لږ وخت تیر سو ئ دئ، نو ښایي چې تاسې ورڅخه پند واخلی او ځانونه د هلاکت ژورې ته ونه غورځوی!

[٩٠] نو ای قومه! د خپل رب نه وبښنه وغواړی او هغه ته ور وګرځی او تو به و باسی او یقینا چې د زما رب پر تو به و یستونکو باندې ښه ډیر مهر بان دئ، یعنی د دوی تو به قبلوي.

هو! ګرانو عز یزانو! د شعیب علیه السلام قوم د هغه د ډیرې پیرزو ینې او وعظ او نصیحت سره سره؛ د هغه خبرې ونه منلې او شعیب علیه السلام ته یې په ځواب کې وو یل:

[٩١] او ای شعیبه! مونږ د ستا په ډیرو خبرو نه پوهیږو او تا مونږ د زمونږ په منځ کې ضعیفه او بې وسې و ینو او که د ستا تر برونه نه وای، نو ته به مونږ په تیګو و یشتئ وي [یعنی سنګسار کړئ به مو وي، او دا ځکه چې] ته پر مونږ ګران نه یې، یعنی ته زمونږ سره قدر او عزت نه لري.

نو بیا شعیب علیه السلام دوی ته په ځواب کې وو یل:

[٩٢] ای د زما قومه! آیا د زما تر برونه پر تاسې د الله نه ډیر قدر لري او در باندې ګران دي؟ او د الله حکمونه تاسې شا ته غورځولي دي، او یقینا چې د زما رب الله د ستاسې په کړنو باندې ښه احاطه لري او پرې راګرد دئ، یعنی د ستاسې په زړونو باندې الله پوه دئ، نو ډیر ژر او د لږ زنده نه وروسته به سزا درکړي!

[٩٣] او ای د زما عز یزانو! تاسې خپل کار کړی او زه به خپل کار کړم او بیا به ژر پوه سی چې چا ته داسې عذاب راځي چې بیا هغه خوارسوئ سپکوي؟ او څوک دروغژن ول؟ نو څار وکړی او انتظار و باسی، او یقیناچې زه هم د ستاسې سره ښه څار کړم او انتظار باسم، یعنی دا چې ټول به ګورو چې څه کیږي؟ او چا ته به سزا ورکړه سي!

قدرمنو دوستانو! او په دغسې ګوابښ سره شعيب عليه السلام نور خپلې خبرې او استدلال د خپل قوم سره بس که، نو بيا ټول د الله عذاب راتلو ته په انتظار کې پاتې سول، نو بيا چې کله د الله عذاب راغئ؛ يوازې شعيب عليه السلام او ورسره مومنانو نجات بياموند، او نور قوم يې هلاك او تباه سه، او د دغسې عذاب په بيان کې الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې فرمايلي دي:

[٩٤] او کله چې د زمونږ حکم د شعيب قوم پر هلاکت راغئ، نو بيا مونږ په خپل رحمت سره شعيب ته او هغو کسانو ته چې د هغه سره يې ايمان راوړئ ؤ؛ نجات ورکه [يعنى د عذاب نه خلاص سول] او د اسماني سزا لړزونکي غږ هغه کسان را ونيول چې دوى ظلم کړئ ؤ [او د شعيب پيغمبرۍ دعوت دوى ونه ما نه] او کله چې سحر را وخوت دوى پر ګوندو پراته هلاك سوي ول.

[٩٥] لکه دا چې هلته دوى هيڅ څه شئ نه ؤ کړي [يعنى د دوى کورونه ټول کنډوله سوي ول] او د مدين خلک، لکه د ثمود قوم د الله رحمت نه لرې وشړل سول او هلاك سول، يعنى دا دواړه کلي او دواړه قومونه چې په يوه سيمه کې پرا ته ول په يؤ ګناه او په يو ډول سزا باندې هلاك او تباه سول او ر يښې يې وختلې.

درندو عز يزانو! دا ؤ د شعيب عليه السلام قصه د خپل سرکښ او کبرجن قوم سره چې هغه الله تعالى په ډير وضاحت او رونټيا سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته او د هغه امت ته د نوح، هود، صالح او لوط عليهم السلام قامونو قصو غوندې؛ يادە کړې او بيان کړې ده، ځکه په دې قصو کې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته لوى تسليت او قوم او امت ته يې لوى عبرت پروت دئ، او همدارنګه د شعيب عليه السلام دا اوږده حوصيله، صبر، لوى عقل او حکمت په دعوت کې زمونږ لپاره غوره لارښود دئ، نو ښايي چې اسلام ته هر رابلونکئ عالم او اصلاح پال دعوت کونکئ دا قصه په پوره غور سره ولولي او ورڅخه د دعوت په لار کې پوره ګټه واخلي او هغه ځان ته لارښود وګرځوي او په رښا کې يې د الله تعالى حق دين اسلام ته دعوت په مخ يوسي.

{موسى عليه السلام فرعون ته الله پيغمبر را وليږه خو هغه ونه ما نه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى په لنډ ډول د موسى عليه السلام

پیغمبرۍ قصه فرعون سره یاده کړي ده، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ٩٦ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ فِرۡعَوۡنَۖ وَمَآ أَمۡرُ فِرۡعَوۡنَ بِرَشِيدٖ ٩٧ يَقۡدُمُ قَوۡمَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَأَوۡرَدَهُمُ ٱلنَّارَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡوِرۡدُ ٱلۡمَوۡرُودُ ٩٨ وَأُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِۦ لَعۡنَةٗ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ بِئۡسَ ٱلرِّفۡدُ ٱلۡمَرۡفُودُ ٩٩ ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيۡكَ مِنۡهَا قَآئِمٞ وَحَصِيدٞ ١٠٠﴾

[٩٦-٩٧] او یقینا چې موسی مونږ د خپلو معجزو او ښکاره دلیلونو سره فرعون او د هغه وز یرانو او مشاورانو ته را ولیږه، نو بیا دوی د فرعون حکم پسې لاړل [یعنی د موسی پیغمبرۍ نه منکر سول او ایمان یې رانوړ] خو د فرعون په حکم او فرمان کې هوښیاري نه ؤ.

[٩٨] او فرعون به د قیامت په ورځ د خپل قوم مخکښ وي او دوی به د دوزخ اور ته ورننه باسي، او د دوزخ اور ته ورننوتنه؛ ډیره بده ورننوتنه ده، یعنی ټول به پکې کړ یږي.

[٩٩] او فرعونیانو پسې په دنیا کې او د آخرت په ورځ د الله لعنت دئ، او دا هغوی پسې ډیر بد لعنتونه او بده رټنه ده.

[١٠٠] هو؛ ای پیغمبره! دا وې د پخوا تیر سوو کلیو قصې چې هغه تا ته مونږ یادې کړې او د دوی د کلیو ځینې آثار او نښې لا پاتې دي او ځینې نورې بیا ټولې خاورې سوې دي.

{د بشر یت په اوږده تار یخ کې الله پرخلکو ظلم نه دئ کړئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خپل دا لوی فضل او رحمت مونږ ته په ټینګار سره یاد کړئ دئ چې الله هیڅکله پرخپلو بنده کانو باندې ظلم نه دئ کړئ، او فرمایلي دي:

﴿وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن ظَلَمُواْ أَنفُسَهُمۡۖ فَمَآ أَغۡنَتۡ عَنۡهُمۡ ءَالِهَتُهُمُ ٱلَّتِي

يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ لَّمَّا جَآءَ أَمۡرُ رَبِّكَۖ وَمَا زَادُوهُمۡ غَيۡرَ تَتۡبِيبٖ ١٠١ وَكَذَٰلِكَ أَخۡذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلۡقُرَىٰ وَهِيَ ظَٰلِمَةٌۚ إِنَّ أَخۡذَهُۥٓ أَلِيمٞ شَدِيدٌ ١٠٢ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّمَنۡ خَافَ عَذَابَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ ذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّجۡمُوعٞ لَّهُ ٱلنَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّشۡهُودٞ ١٠٣ وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ إِلَّا لِأَجَلٖ مَّعۡدُودٖ ١٠٤

[١٠١] او مونږ پردغو ولسونو باندې ظلم نه دئ کړئ، خو دوی پرخپلو ځانو ظلم وکه، نو بیا چې کله د ستا رب عذاب ای پیغمبره! خلکو ته راغئ، نو د دوی هغو خدایانو چې هغه یې د الله نه پرته غوښتل او عبادت یې کا ؤ؛ دوی ته یې د لا ډیر ز یان رسولو نه پرته؛ بله هیڅ ګټه ونه رسوله، یعنی دوی ده لا ډیرو ستونزو سره مخامخ کړل.

[١٠٢] او ای پیغمبره! د ستا رب نیول چې کله د کم ظالم او کافر کلي خلک را ونیسي؛ همداسې وي [یعنی کلک یې را نیسي او سخته سزا ورکوي] او یقینا چې د الله نیول سخت دردونکي وي.

نو دعا کړو چې الله ده په خپل فضل او رحمت سره مونږ ورځخه وساتي او د نجات پر حق لار باندې ده د تګ توفیق را کړي.

[١٠٣] او یقینا چې [پخوانیو کافرانو ته د الله تعالی په دغسې سزا ګانو کې] د هغه چا لپاره چې د آخرت ورځې عذاب نه و یر یږي؛ د عبرت اخستلو لو یه نښه او دلیل دئ، او د آخرت ورځ هغه ورځ ده چې ټول خلک پکې راټولیږي او بیا په دې لو یه ورځ ټول خلک هغه په سترګو و ینې، یعنی د ټولو نه حساب اخستل کیږي، او مومنانو ته ثواب او کافرانو او ګناه کونکو ته سزا ورکول کیږي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ د دغسې سختې ورځې عذاب نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

[١٠٤] او د قیامت دا ورځ نوره مونږ پرته د ټاکل سوو او شمیرل سوو ورځونه نه زنډوو.

ګرانو دوستانو! دا وې د ځینې پخوانیو هغو ولسونو قصې چې دوی د خپلو پیغمبرانو خبرې او د الله تعالی نه ورته راغلي توحیدي پیغامونه ونه منل او پرخپل کفر او شرک باندې همداسي کلک پاتې سول او ټینګاریې پرې وکه، ترڅو چې بیا د دوی د غوښتنو سره سم د الله سخت عذاب ور باندې راغئ او دوی یې هلاک او تباه کړل، او پیغمبرانو ته یې د مومنانو سره یوځای نجات ورکه، او کافرانو ته د دوی د دروغو خدایانو هیڅ ګټه ونکړه او هیڅ چا د دوی مرسته ونسؤ کړای او ټول خوار او سپک مړه او تباه سول، او د قیامت په ورځ به هم کافرانو ته سخته او تل پاتې سزا ورکړه سي، ځکه په هغه ورځ چې هغه حق ده؛ ټول خلک د حساب ورکولو لپاره د الله حضور ته را ټولیږي او بیا د ټولو بر خلیک هلته اعلانیږي، مومنان جنت ته ننوځي او کافران د دوزخ اور ته ورغورځول کیږي.[العیاذ بالله منها]

قدرمنو عز یزانو! دا قصې مونږ ته الله تعالی په قرآن کې د دې لپاره کړې دي چې ورڅخه پند واخلو او خپلو ځانو ته د قیامت سختې ورځې حساب نه نجات ورکړو، او یقینا چې د نجات او خلاصون لار یوازې ایمان او ښه عمل دئ، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته پر ایمان او ښه عمل باندې توفیق، ثبات او ټینګښت را په برخه کړي، او د آخرت سختې ورځې عذاب نه ده الله تعالی مونږ په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

{ د قیامت ورځې انځور او پکې د خلکو نیکمرغان او بد مرغان }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د قیامت ورځې ژوندئ انځور مونږ ته وړاندې کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿يَوْمَ يَأْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ﴿١٠٥﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُوا۟ فَفِى ٱلنَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٠٧﴾ * وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُوا۟ فَفِى ٱلْجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ إِلَّا مَا

شَآءَ رَبُّكَۖ عَطَآءً غَيۡرَ مَجۡذُوذٖ ١٠٨ فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ مِّمَّا يَعۡبُدُ هَٰٓؤُلَآءِۚ مَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُهُم مِّن قَبۡلُۚ وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمۡ نَصِيبَهُمۡ غَيۡرَ مَنقُوصٖ ١٠٩

[١٠٥] هو! كله چې د قيامت ورځ راسي [يعني قيامت جوړ سي، نو په هغه ورځ د ډيرې و يرې او کلک ډار نه] هيڅ څو ک د الله اجازې او حکم نه پرته خبرې نکړي، او په هغه ورځ ځينې کسان بد مرغه وي او ځيني نور بيا نيک مرغه!

[١٠٦-١٠٧] نو هغه کســان چې بد مرغه ول [يعنى كافران او ګناه ګاران ول] د دوزخ اوريې ځای دئ او دوی به پکې ډيره ســخته واو يلا کړي او ډير اوږده اوږده زګيروي به باسي! او ترڅو چې ځمکه او اسمانو نه پاتې وي دوی به همداســې د دوزخ په اور کې کړ يږي، مګر هغه څوک چې الله وغواړي د دوزخ اور نه يې را و باســي [يعنى دا چې كه الله وغواړي ګناه ګار مومنان د رسول اللهﷺ په شفاعت او سپارښت سره د دوخ نه را باسي] او ای پيغمبره! يقينا د ستا رب چې څه وغواړي هغسې نه کړونکئ دئ او هيڅ څوک يې مخه نيولای نســي، يعنى الله تعالى چې څه غواړي هغســي کړاي سي او څوک يې مخه نيولای نسي.

[١٠٨] او هغه کســان چې نيک مرغه ســول، نو ځای يې جنت دئ او هلته به پکی تل پاتې وي، ترڅو چې ځمکه او اســمانونه پاتې وي، خو هغه څوک چې ای پيغمبره! د ســتا رب وغواړي چې تګ يې جنت ته وزنډوي [لکه د الله ګناه ګاره بنده ګان چې په ايمان سره د دنيا نه تللي وي، نو هغوی به خپله ســزا په دوزخ کې ګالي او بيا به جنت ته ځي] او دغو جنتيانو ته الله لخوا نه قطع کيدونکې يا نه پرې کيدونکې ورکړې دي، يعنى د الله ورکړې به ورته تل پاتې وي!

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى کافرانو سره د چلند څرنګوالي بيان پيغمبرﷺ ته ښودلئ دئ، او فرمايلي دي:

[۱۰۹] نو تـه ای پیغمبره! د دغو کـافرانو پرمعبودانو چې دوی یې عبادت کړي؛ مه شـــکمن کیږه، ځکه دوی د هغو بتانو عبادت کړي چې د دوی پلرونویې مخکې عبادت کا ؤ، او مونږ بـه دوی تـه د کم نقصـــان یـا کمښت نه پرته سزا ورکوو.

عزتمنو دوســـتانو! په دي مبارکو آیتونو کې د قیامت په ورځ مومنانو ته الله تعالی د جنتونو ز یري ورکړي دي او کافران او ګناه ګاران یې د دوزخ اور عذاب نه کلک ګواښـلي دي، او بیا الله تعالی رسـول اللهﷺ او د هغه لارې ملګري چې خلک د الله توحیدي عبادت تـه را بولي د مشـــرکانو په ناحقه معبودانو کې د شـــک کړو نه منعې کړي دي، ځکه مشـــرکانو بـه و یل چې مونږ د بتانو عبادت نکړو، او دا بتان چې د پخوانیو صـالحانو او کلکو مومنانو ځیرې دي؛ د الله تعالی په حضـــور کې د زمونږ ســپارښـــت کړي، ترڅو مونږ الله ته ورلنډ کړي او د لـو یو نعمتونو نه برخمن سـوو!

ګرانو دوســتانو! دا شـبهه د اســلام په اوږده تار یخ کې تل ؤ او تر نن ورځې پورې سته او ځینې کسانو د اهل کتاب پوهانو غوندې خپل ځانونه د خلکو او الله په منځ کې واســطې ګرځولې دي، او نالوســتي مومنان دیته رابولي چې دوی الله ته د رسـیدو لپاره واســطه وګرځوي! خو دا شـبه الله تعالی په دې مبارك آیت کې؛ کلکه رده کړې ده، او همدارنګه په نورو ډیرو آیتونو کې هم الله تعالی په ډیرې رونټیا او وضاحت سره هغه رده کړې ده، او خپل بنده ګان یې ځان ته مخامخ دعاء ته پرته د کم پیر او مرشـــد نه کلک رابللي دي، خو په دې شرط چې ښایي هر مومن بنده د دین حکمونه او مســـئلې او په ځانګړي ډول د توحیدي عقیدې اړوند مســـئلې د خپلو باوري هغـــې علماوو نه زد کړي چې دوی په قرآن او د رســول اللهﷺ په سنتو او احادیثو باندې ښه پوه او کلک پرې ولاړ وي، او هغه خلکو ته په اخلاص سره ورښیي او ورزده کوي یې او دوی ور باندې عملي وروزي.

{د موسی پیغمبری په رنا کې اسلام پیغمبرته د الله لارښودنې}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د موسیعليه السلام د قوم شرك ته

په اشـاري سـره د اسـلام پيغمبرﷺ ته او د هغه دين دعاتو ته؛ ډيرې ارزښتناکه لارښودنې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ فَٱخۡتُلِفَ فِيهِۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّهُمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ١١٠ وَإِنَّ كُلّٗا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمۡ رَبُّكَ أَعۡمَٰلَهُمۡۚ إِنَّهُۥ بِمَا يَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١١١ فَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطۡغَوۡاْۚ إِنَّهُۥ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١١٢ وَلَا تَرۡكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ١١٣ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ١١٤ وَٱصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١١٥﴾

[۱۱۰-۱۱۱] او يقينا چې موسـى ته مونږ توحيد ته رابلونکئ کتاب (تورات) ورکه، خو د هغه قوم پکې اختلاف وکه او په کلکه سـره پکې شکمن سـول [يعنى ځينو کسـانو هغه وما نه او ايمان يې راوړ او يوازې د الله بنده ګان سـول، خو ځينې نور بيا د تورات سـره مشـرکان سـول او د توارت دعوت يې د الله توحيد ته پر يښود او عمل يې ور باندې ونکه، لکه د سـتا قوم اى پيغمبره! چې ځينې موحدين سـول او د شـرك نه يې خپل براءت اعلان که، او ځينې همداسې مشـرکان پاتې سـول او بتان يې د الله سـره په عبادت کې شـر يك کړل] نو اى پيغمبره! که چيرې د سـتا رب پخوانئ حکم او پر يکړه کافرانو ته د سـزا ورکولو زندول نه واى، نو بيا به د دوى په منځ کې فيصله سوى ؤ، يعنى دا چې الله تعالى به دوى په دنيا کې هلاك کړي ول، او د تيرو امتونو کافرانو غوندې به يې له منځه وړي ول، او يوازې مومنانو ته به يې نجات ورکړي ؤ، خو اوس الله دا فيصـله کړي ده چې نور به کافرانو او مشـرکانو ته سـزا ورکول د آخرت ورځې ته زندوي، او دا دئ اى پيغمبره! اوس د سـتا قوم کافران هم په قرآن کې لالهانده

شکمن دي او هغه د الله نه راغلي کتاب نه بولي! خو يقينا [چې د ستا رب به اى پيغمبره!] ټولو خلکو ته د دوى د ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکړي، ځکه يقينا چې الله د دوى د ټولو کړنو نه ښه خبر دئ.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د اسلام پيغمبر حق پالنې او استقامت ته او پکې اعتدال ته رابللئ دئ، او فرمايلي دي:

[۱۱۲] نو ته اى پيغمبره! او هغه څوک چې ستا سره الله ته ور وګرځيدل؛ پرخپل دين باندې هغسې ټينګ سى، لکه څنګه چې تاسې ته حکم سوئ دئ، او د الله حکمونو نه تيرئ مکړى، او يقيتا چې الله د ستاسې پرکړنو ښه بينا دئ، يعنى د ستاسې ټول کړل د الله کلک څار او نظر لاندې دي او بيا درسره حساب کړي او ثواب او سزا درکوي.

[۱۱۳] [او اى پيغمبره! ته او درسره مومنان] ظالمانو او کافرانو ته وروانوړى [يعنى پر کافرانو باور او اعتماد ونکړى، ځکه چې] بيا به نو د دوزخ اور تاسې ته ورسيږي او تاسې به پکې وسوز يږى، او تاسې د الله نه پرته نور څوک ملګري او پلو يان نه لرى، نو بيا به د ستاسې سره مرسته نکيږي، يعنى څوک به د ستاسې ملا تړ نه وي.

[۱۱٤] او اى پيغمبره! د ورځې پردواړو خواوو کې (صباح او بيګاه) او په يؤ برخه د شپې کې لمونځ وکړه، ځکه يقينا چې ښه کارونه او نيکي؛ ګناه وي له منځه وړي، او دا نصيحت هغو کسانو ته چې الله يې په ياد دئ ښه وعظ او ښه لارښودنه او نصيحت دئ.

[۱۱٥] او اى پيغمبره! صبر وکړه [يعنى د خپل قوم د لاسه ستونزې وزغمه] ځکه يقينا چې الله د ښو کړنو خاوندانو ته ثواب ورکوي.

{د مصلحانو په شتون کې الله کلي او ښارو نه نه ړنګوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى خلکو ته ز يرئ ورکړئ دئ چې د مصلحانو په موجوديت کې د دوى کلي اوښارونه نه ړنګوي،او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿فَلَوۡلَا كَانَ مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِن قَبۡلِكُمۡ أُوْلُواْ بَقِيَّةٖ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡفَسَادِ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا قَلِيلٗا مِّمَّنۡ أَنجَيۡنَا مِنۡهُمۡۗ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَآ أُتۡرِفُواْ فِيهِ وَكَانُواْ مُجۡرِمِينَ ١١٦ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ بِظُلۡمٖ وَأَهۡلُهَا مُصۡلِحُونَ ١١٧﴾

[١١٦] ای مومنانو! نو که د ستاسې نه پخوا تیرسوو پیړیو نه پاتې خلکو کې خیر غوښتونکي هوښیاران وای، ترڅویې خلک پرځمکه د فساد کړو او ورانۍ نه منعې کړي وای، نو بیا به دوی نه هلاکیدل، مګر ډیر لږ چې دوی ته مونږ نجات ورکه؛ نو دغسې مصلحان د دوی په منځ کې؛ ډیر لږ ول، او هغو کسانوچې ظلم او ورانئ وکه؛ دوی هغه خوند اخستلو پسې لاړل چې هغه دوی ته د دنیا متاع او مال او دولت نه ورکړل سوي ؤ، او دوی مجرمان ول، یعنی د حق نه سرغړونکي ول، نو ځکه بیا دوی هلاك سول او د الله عذاب ور باندې راغئ او پرې را ګرد سه.

[١١٧] او ای پیغمبره! د ستا رب هغه کلي چې اوسیدونکي یې نیکان او صالحان وي په ناحقه او په تیري او ظلم سره نه هلاکوي، یعنی الله تعالی هیڅ کله پرخپلو بنده ګانو ظلم نکړي، نو دا چې ډیر پخواني کلي او ولسو نه یې هلاك کړل؛ دا د دوی خپل کار ؤ، ځکه دوی پرخپلو ځانو باندې په جرم کړو سره ظلم وکه، نو هلاك سول او ر ینبې یې وایستل سوې او ټول له منځه لاړل.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې رسول اللهﷺ ته د موسیعليه السلام قوم قصې او د هغه نه پخوا پیغمبرانو قصو په یادونې سره ډاډ او تسلیت ورکړئ دئ، او بیایې رسول اللهﷺ او ورسره مومنان د الله پرحکمونو استقامت او ټینګیدو ته رابللي دي او د الله پرحکمونوپې د بغاوت او تیري نه؛ کلک ګواښولي دي، او همدارنګه یې دوی د کافرانو

ملتیا نه کلک منعې کړي دي او ورته يې ګواښ کړئ دئ چې که چيرې د کافرانو سره ملګري سوی، نو بيا به ډيره سخته سزا درکړه سي، او بيا وروسته دوی ته الله تعالی پر لمانځه کړو، صبر او زغم باندې سپارښت کړئ دئ، او هم يې د پخوانيو امتونو د هلاکت او د تباهۍ او له منځه تللو اسباب او عوامل ورته په ښه کړي او بيان کړي دي، او هغه دا چې دغو ولسونو پرخپل کفر او شرک باندې په ټينګار سره پر خپلو ځانو باندې ظلم وکه او د خپلو پيغمبرانو نصيحتونه يې و نه منل او په خپل فساد او وراني کې همداسې مخ پر وړاندې لاړل، او هغه کسان چې د فساد او ظلم مخه نسي او خلک د بدو کړنو نه منعې کوي او ښو کړنو ته يې رابولي؛ ډير لږ ول، نو ځکه دوی پرخپل فساد او ظلم کې همداسي پر مخ لاړل، ترڅو هلاك او تباه سول، کنه نو د ستا رب ای پيغمبره! هيڅ کله يو قوم د مصلحانو په شتون کې نه هلاکوي.

هو؛ درندو عز يزانو! يقينا چې د الله تعالی دا روښانه بيان او ډيرې ارزښتناکه لارښودني رسول اللهﷺ ته د دعوت او اسلام ته را بلنې په لار کې هغه ځلانده رڼا ؤ چې اسلام يې بر يا ته ورسا ؤ، او د رسول اللهﷺ او د هغه ملګرو کمزوري او ضعف يې په قوت او ځواک بدل که، او بيايې پردښمن باندې نصرت او فتحه ور په برخه کړه، او بيا نه يوازې د عر بو جز يره او ټاټوبئ، بلکه ټوله نړۍ د الله حق دين اسلام په رڼا روښانه سؤ، او مظلوم او بې وسعې پښو لاندې ولسونه د بنده ګانو بنده ګۍ، غلامۍ او مر يتوب نه د الله بنده ګۍ ته را وايستل سول او نجات يې بيامونډ.

{ټول خلک يو امت ؤ او د الله په بنده ګۍ کې سره بيل نه ول}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته د خلکو د بيلتون او اختلاف حکمت د الله په بنده ګۍ کې بيان کړئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةً وَٰحِدَةً ۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ﴿١١٨﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١١٩﴾﴾

[۱۱۸-۱۱۹] ای پیغمبره! او که د ستا رب الله غوښتې وای [چې ټول خلک یو امت سي او یو دین ومني او یوازې د یؤ رب عبادت او بنده کې وکړي] نو ټول خلک بې یو امت کړځولئ ؤ [خو داسې ونسول] نو دوی به همداسې په اختلاف کې پاتې وي، مګر هغه څوک چې د ستا رب ای پیغمبره! پرهغه باندې خپل رحم وکړي [یعنی دوی ټول پرحق باندې چې هغه د الله توحید دئ سره را ټول کړي، یعنی ښایي ټول خلک یوازې د الله عبادت او بنده کې وکړي او د هر ډول شرك او کفر نه خپل ځانونه وساتي] او ای پیغمبره! د ستا رب هغه پر یکړه نوره پوره سؤ چې فرمایلي دي: جهنم به د پیریانو او انسانانو ټولونه ډک کړم، یعنی او دا د الله هغه پر یکړه ده چې هغه یې د خپلو بنده ګانو په باره کې په پوره علم سره کړي ده، نو ځکه دوی د خپل خلقت او پیدایښت مقصد په خلاف د شیطان لمسونو پسې ځي، یعنی د سې لارې نه ورکیږي.

{د پخوانیو پیغمبرانو قصو مقصد رسول اللهﷺ ته ډاډ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسول اللهﷺ ته ډاډ او تسلیت ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ فِى هَٰذِهِ ٱلْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عَٰمِلُونَ ﴿١٢١﴾ وَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٢٢﴾ وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ ٱلْأَمْرُ كُلُّهُۥ فَٱعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٢٣﴾﴾

[۱۲۰] ای پیغمبره! او د ټولو پیغمبرانو قصې تا ته کړو [یعنی د دوی خبرو نه درته رسوو] ترڅو د ستا زړه ور باندې کلک کړو [یعنی ته ډاډمن سې] او په دې قصو کې تا ته حق راغئ او مومنانو ته پکې وعظ او عبرت اخستل دي، یعنی ښایي دوی ورڅخه ګټه واخلي!

[۱۲۱] ای پیغمبره! او هغو کسانو ته چې ایمان نه راوړي اعلان وکه:

چې تاسې خپل کار کړئ [یعنی د حق سره همداسې دښمنۍ ته دوام ورکړي] او مونږ به په کلک باور سره؛ خپل کار کړو، یعنی پرخپل دین به همداسې کلک ولاړ یو او هغه به خلکو ته رسوو او پکې خوږوو بې!

[١٢٢] او د زمونږ را تلونکې ته انتظار و باسئ او مونږ به هم د ستاسې راتلونکې ته په انتظار کې یو، یعنی مونږ باور لرو چې حق به خاماخا بر یا ته رسیږي او باطل به له منځه ځی، او الحمد لله چې همداسې سؤ، مکه فتحه سؤ او د اسلام حق دین په ټوله نړۍ کې خور سه او د هغه وخت زور واکې امپراتورۍ (روم او فارس) دواړه ماتې سولې او د دوی واکمنۍ لاندې بې وسې مظلوم ولسونه؛ د بنده ګانو بنده ګۍ او زور ځواکنۍ نه آزاد سول او د الله تعالی واکمنۍ او بنده ګۍ لاندې رانوتل.

[١٢٣] او د اسمانونو او ځمکې په پټ او غیب باندې؛ یوازې الله علم لري [یعنی ورځخه خبر دئ] او د قیامت په ورځ هر څه الله ته ورګرځي [یعنی بیا الله تعالی د هر چا سره حساب کړي] او ای پیغمبره! د الله عبادت او بنده ګي وکړه او پر الله توکل وکړه [یعنی پر الله باندې پوخ باور ولره] چې د ستا رب الله د کافرانو کړنو نه غافل او بې پروا نه دئ، یعنی هر چا ته د خپل بد عمل سزا ورکوي.

عزتمنو وروڼو او خو یندو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې چې د هود مبارکې سورې وروستي آیتونه دي؛ خپل تقدیري حکم او پر یکړې ته په کتو سره د حق او باطل په منځ کې اوږده مبارزه او جګړه منلې او تایید کړي ده، او د باطل، کفر او شرک پلو یان یې په سختو سزاګانو باندې ګواښولې دي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك...❁❁❁

د يوسف سورې پښتو معنا اولنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د يوسف سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدو نه}

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکه سوره کې يوازې د يوسف بن يعقوب عليهما السلام قصه د هغې د لوی ارزښت له امله؛ ډيره په تفصيل سره يادې کړې ده او حق يې پکې مونږ ته د لارښودنې په مقصد بيان کړئ دئ او باطل يې کلک رسوا کړئ دئ، ترڅو دا قصه د قيامت ورځې پورې ټولو خلکو ته پند اخستونکئ پيغام او نه هيريدونکې زده کړه وي، او دوی ورڅخه په خپل ژوند کې ښه ګټه وا خلي.

هو! د يوسف سوره مکي سوره ده، او د يوسف عليه السلام رسالت مقصد هم، لکه نور پيغمبران د شرك او بت پرستۍ نه د خلکو راو يستل د الله تعالى عبادت ته په توحيد او يو والي سره ؤ، ځکه يوسف د ابراهيم عليه السلام توحيدي کاروان په اوږده مزله کې؛ يو ځلانده ستورئ ؤ، او د ډيرو کړاوونو سره مخامخ سه، خو د الله په فضل او توفيق سره د دې ټولو ازمايښتونو نه بر يالئ راووت، او د يؤ لوی ولس د مال او دولت واکمن خزاندار سه، او په دې دنده کې ډير لوړ مسئوليت ته رسيدل د يوسف عليه السلام کار نه ؤ، بلکې هغه د الله تعالى تقدير او تدبير ؤ چې هغه ته يې ليکلئ ؤ، ترڅو دئ د خپلو نيکونو وارث وي او د ابراهيم عليه السلام توحيدي رسالت ته خلک را دعوت کړي، نو يقينا چې د يوسف عليه السلام دا اوږده قصه د سختيو او کلکو ستونزو ټولو پراوونو سره سره؛ د اسلام پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم ته د تسليت او د ډاډ لوی پيغام ؤ، او د هغه امت او اسلام ته رابلونکو دعاتو لپاره پکې د ښې زدکړې ډيرې لارښودنې نغښتې دي چې ښايي ورڅخه ګټه واخلي او د الله تعالى توحيدي عبادت او دين ته په

رابلنه کړي د يوسف غوندې پيغمبرانو پسې لاړ سي او د کړاوونو پر وړاندې د هغوی نه صبر او زغم او کلک تصميم د الله تعالی په توفيق زده کړي.

درندو دوستانو! الله تعالی د يوسف سوره د تيرو مکې سورو غوندې په (الف، لام، را) هجائي تورو باندې پيل کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ١﴾

[۱] (ألف، لام، را) دا د هغه روښانه او بيانونکي کتاب آيتونه دي چې د (ا، ل، ر) غوندې هجائي تورونه جوړ سوئ دئ، يعنی دا کتاب هغسې يؤ کتاب دئ چې د عر بانو ټول اديبان او شاعران هغه ته ورته کتاب راوړو نه عاجز او بې وسې سول، نو يقينا چې هغه د محمدﷺ پيغمبري لو يه معجزه ده.

{قرآن الله په عربي ژبه را نازل که ترڅو قريش پرې پوه سي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د مکې عر بانو ته په و ينا کې فرمايلي دي چې قرآن مونږ د ستاسې ښه پوهاوي په مقصد په عربي ژ به رانازل که، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٢ نَحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ أَحۡسَنَ ٱلۡقَصَصِ بِمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ وَإِن كُنتَ مِن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ٣﴾

[۲] هو! يقينا چې دا کتاب (قرآن) مونږ په عربي ژ به را نازل که، ترڅو تاسې [ای د مکې خلکو! د هغه په لوستلو سره ښه فکر وکړئ] او ښه پوه سئ، يعنی عقل مو سر ته راسي او هغه ومنئ او ايمان راوړئ او په لارښودنو يې عمل وکړئ، ترڅو ښاد او نيکرغه سئ.

[۳] او ای پيغمبره! دا چې تا ته مونږ دا قرآن وحيه کړئ دئ؛ په هغه کې مونږ پر تا باندې ډيرې ښکلې او غوره قصې لولو، که څه هم ته د هغه رانازليدو نه وړاندې د غافلانو نه وې [يعنی دغو قصو ته د ستا پام نه ؤ

او نه ورځخه خبر وې] يعنى رسـول اللهﷺ د پيغمبرى نه پخوا په ليک او لوسـت نه پوهيده، نو د پخوانيو امتونو قصـونه خبر نه ؤ، نو د رسـول اللهﷺ امي توب او نالوسـتي د هغه د پيغمبرى لو يه نښـه او معجزه ؤ، چې ښايي هر منصف کس هغه ومني.

{يوسف عليه السلام ته په خوب کې لمر او سپوږمى سجده وکړه}

او بيا د يوسفعليه السلام قصې په ډير اوږده بيان سره الله تعالى د هغې په پيل کې فرمايلي دي:

﴿إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّى رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِى سَٰجِدِينَ ۝٤ قَالَ يَٰبُنَىَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلَىٰٓ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا۟ لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝٥ وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ وَعَلَىٰٓ ءَالِ يَعْقُوبَ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيْكَ مِن قَبْلُ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝٦﴾

[٤] [نو ته اى پيغمبرهﷺ! خپل قوم ته د يوسـف بن يعقوب عليهما السـلام هغه قصـه ور په ياد کړه] کله چې يوسـف خپل پلار ته وو يل: اى پلارجانه! ما په يقين سـره يولس سـتوري او لمر او سـپوږمى په خوب کې وليدل چې ما ته په سجده پرا ته دي.

[٥] [نو پلار يې يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام په ځواب کې ورته] وو يل: اى زوى کيه! دا خوب ده ورونو ته مه وايه [ځکه چې بيا دوى سـتا سـره کينه اخلي] او تا ته چل جوړوي، او يقينا چى شـيطان د انسـان ښکاره دښـمن دئ، يعنى د خلکو په منځ کې فتنې اچوي او کينې او حسد را پاروي، او د يو بل سره يې دښمنى ته هڅوي.

[٦] او اى زوى کيه! لکه څنګه چې [د سـتا رب الله دا خوب در باندې ليدلئ دئ] همداسـې د سـتا رب او [لوى څښـتن الله] تا غوره کوي او د

خو بونو تفسیر یا تعبیر درزده کوي، او خپل نعمت او ښه پیرزو ینه پر تا او د یعقوب پرکهول باندې پوره کوي، لکه څنګه چې یې هغه د ستا پر نیکونو ابراهیم او اسحاق باندې مخکې پوره کړه [یعنی دوی یې پیغمبران کړل] او یقینا چې د ستا رب الله ښه پوه او د لوی حکمت څښتن دئ، یعنی الله تعالی هرکار په لوی علم او په پاخه حکمت سره کړي، او خپله پیغمبري او استاز یتوب؛ هغه چا ته ورکوي چې هغه د پیغمبرۍ لائق وي او صفتونه او خو یونه یې ولري، نو پیغمبران ټول د الله تعالی غوره بنده ګان ول، او دا الله تعالی لوی پیغام رسول دوی ته سپارل سوئ ؤ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې د یوسف عليه السلام لوړ مقام او هغه ته د نبوت او پیغمبرۍ ز یرئ مونږ ته یاد کړئ او بیان کړئ دئ، او هغه دا چې یوسف عليه السلام به د خپلو نیکونو: ابراهیم او اسحاق علیهما السلام او د خپل پلار یعقوب عليه السلام نه د نبوت میراث وړي، او دا لوی ز یري ټول ر ښتیا سول او یوسف عليه السلام پیغمبر سه، او بیا چې کله یوسف عليه السلام د ډیرو کړاوونو نه وروسته روغ، رمټ او سر لوړئ راووت او خپلې کورنۍ سره یوځای سه، نو مور، پلار او وروڼوپې ورته د درناوي سجده وکړه او دا لوی مقام یوسف عليه السلام وګاټه.

{د یوسف عليه السلام قصه هوښیارانو ته د الله لو یو قدرتو نښه ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالې د خپلو لو یو قدرتو یادونه د یوسف عليه السلام په قصه کې کړې ده، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿۞لَّقَدۡ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخۡوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٞ لِّلسَّآئِلِينَ ٧ إِذۡ قَالُواْ لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰٓ أَبِينَا مِنَّا وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ٨ ٱقۡتُلُواْ يُوسُفَ أَوِ ٱطۡرَحُوهُ أَرۡضٗا يَخۡلُ لَكُمۡ وَجۡهُ أَبِيكُمۡ وَتَكُونُواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ قَوۡمٗا صَٰلِحِينَ ٩ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ لَا تَقۡتُلُواْ يُوسُفَ وَأَلۡقُوهُ فِي

غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّ يَلۡتَقِطۡهُ بَعۡضُ ٱلسَّيَّارَةِ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ﴿١٠﴾

[٧] هو! يقينا چې د يوسف او د هغه وروڼو په قصه کې؛ هغو کسانو ته چې د دغسې قصو پوښتنې کړې؛ د الله لو يو قدرتونو نښانې وې.

[٨-٩] [هو! کله چې د يوسف عليه السلام ميرنيو وروڼو په خپل منځ کې سره] وو يل: يوسف او د هغه سکه ورور زمونږ پر پلار باندې د زمونږ نه ډير ګران دي؛ سره لدې چې مونږ يوه ډله يو [يعنی مونږ ډير يو، نو ښاييدل چې مونږ ور باندې ډير ګران واى] نو يقينا چې د زمونږ پلار په ښکاره ورکتيا کې دئ [يعنی غلط سوئ دئ، ځکه لږ پر ډيرو ګرانوي] نو يوسف مړ کړئ او يا يې د کلي نه لرې په کم ډاک کې وغورځوئ، ترڅو د ابا مخ تاسې ته خلاص سي [يعنی ابا مو يوازې د ستاسې سره مينه وکړي او يوسف ته يې پام نسي، او د دې کار نه وروسته به بيا په تو به و يستلو سره] تاسې ښه سړي سئ، يعنی د ستاسې ګناه به و بښل سي.

[١٠] [او بيا د يوسف عليه السلام د ميړې زامنو نه يؤ] وو يل [که تاسې پر خپل دې تصميم باندې کلک ولاړ ياستئ] او دا کار کړئ، نو يوسف مه وژنئ او د کم کوئي په زوره کې يې واچوئ، ترڅوې ځينې کاروانيان د ځاه نه را و باسي، يعنی نجات ورکړي او بيايې د ځا ن سره يوسي.

{د يوسف عليه السلام ورکولو توطئيه د هغه وروڼو د چل پيلامه ؤ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د يوسف عليه السلام د ورکولو قصه يادە کړې او بيان کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأۡمَنَّا عَلَىٰ يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ﴿١١﴾ أَرۡسِلۡهُ مَعَنَا غَدٗا يَرۡتَعۡ وَيَلۡعَبۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿١٢﴾ قَالَ إِنِّي لَيَحۡزُنُنِيٓ أَن تَذۡهَبُواْ بِهِۦ وَأَخَافُ أَن يَأۡكُلَهُ ٱلذِّئۡبُ وَأَنتُمۡ عَنۡهُ غَٰفِلُونَ ﴿١٣﴾ قَالُواْ لَئِنۡ أَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُ وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّآ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ﴿١٤﴾ فَلَمَّا ذَهَبُواْ بِهِۦ وَأَجۡمَعُوٓاْ أَن يَجۡعَلُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمۡرِهِمۡ هَٰذَا

﴿وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ١٥﴾

[۱۱-۱۲] [او بيا چې کله د يوسف ميرنۍ ورونه د هغه شړلو پر سر په خپل منځ کې سره جوړ سول، نو پلار ته ورغلل او ورته يې] وو يل: ای د زمونږ ابا! ولې د يوسف په سر پر مونږ باور نکړې، مونږ يقينا هغه ته مخلص يو او خيريې غواړو، نو دئ صباح سحر زمونږ سره وليږه، ترڅو خوښ سي او لوبې وکړي [او مونږ په کلکه سره درته وايو] چې مونږ د هغه ساتونکي يو، يعنی يوسف د هر ګواښ او خطر نه مونږ ساتو.

[۱۳] [او پلارې په ځواب کې ورته] وو يل: که يوسف تاسې د ځان سره بوزی، نو زه يقينا غمجن کيږم او و يره يږم چې ستاسې به ورته پام نه وي او دئ به ليؤ وخوري!

[۱٤] [نو زامنويې په ځواب کې ورته] وو يل: که يوسف د زمونږ دې لوبې ډلې سره سره ليؤ وخوړه، نو بيا به مونږ د ز يان منو نه يو، يعنی مونږ به بيا هيڅ سړي نه يو او مونږ به کلک تاوان کړئ وي او ز يانمن سوي به وو او د هرې سزا مستحق به سو.

[۱۵] نو بيا چې کله يوسف دوی د ځان سره بوته او پر خپل منځ کې يې سره پر يکړه وکړه چې يوسف به د کوئي(ځاه) په ژوره کی اچوي، نو بيا په داسې حال کې چې د دوی هيڅ پام نه ؤ؛ يوسف ته مونږ وحيه وکړه چې ته به يقينا دوی يوه ورځ د دې بدو کړنو [يعنی لوی خيانت نه] خبر کړې، يعنی دا چې الله تعالی په پته سره يوسف ته ډاډ او اطمئنان ورکه چې ته ای يوسفه! مه و ير يږه او مه غمجن کيږه، ځکه داسې ورځ به راسي چې ته به خپل دا ناسکه ورونه د دغسې بد کار او لوی خيانت نه خبروي او بيا به دوی شرميدلي او مختورن د ستا پروړاندې ولاړ وي.

{د يوسف عليه السلام کينه کښو ورونو دروغژنه زړا پلار په وړاندې}

او بيا الله تعالی د يوسف کينه کښو ورونو د دروغژنو اوښکو تو يولو انځور د خپل پلار په مخکې مونږ ته وړاندې کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَجَآءُوٓ أَبَاهُمۡ عِشَآءٗ يَبۡكُونَ ١٦ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبۡنَا نَسۡتَبِقُ وَتَرَكۡنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَٰعِنَا فَأَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صَٰدِقِينَ ١٧ وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٖ كَذِبٖۚ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ فَصَبۡرٞ جَمِيلٞۖ وَٱللَّهُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ١٨ وَجَآءَتۡ سَيَّارَةٞ فَأَرۡسَلُواْ وَارِدَهُمۡ فَأَدۡلَىٰ دَلۡوَهُۥۖ قَالَ يَٰبُشۡرَىٰ هَٰذَا غُلَٰمٞۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ١٩ وَشَرَوۡهُ بِثَمَنِۭ بَخۡسٖ دَرَٰهِمَ مَعۡدُودَةٖ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ٢٠﴾

[١٦-١٧] [او بيا د ورځې په تيريدو سره د يوسف ميرني ورونه کور ته ماخستن په زړا او انکلا سره راغلل او و يو يل: ای د زمونږ پلاره! تا ته مونږ په يقين او رښتيا سره وايو چې مونږ لاړو او په منډو کې د يو بل سره په سيالۍ سوو او يوسف مونږ خپلو کاليو يا توکو سره پر ږنبود، نو بيا ډئ ليؤ وخوړه، نو که مونږ د ر ږنبتيا و يونکې هم وو، خو ته پرمونږ باور نکړي، يعنی د زمونږ خبرې دروغ ګڼې!

[١٨] او د يوسف کميس يې د دروغو په و ينو لړلئ هغه ته راوړ، نو يعقوب دوی ته په ځواب کې وو يل: نا داسې نه ده، بلکې د ستاسې ځانو کمه بده کړنه درته ښايسته کړې او خوښه کړې ده، نو زه به ښه صبر وکړم [يعنی شکايت به نکړم] او الله ده د ستاسې په دغسې دروغو کې راسره مرسته وکړي، يعنی الله ده ما ته د زړه صبر راکړي!

[١٩] نو بيا يوه جو په لارو يان راغلل او خپل سړئ يې او بو پسې ولاړه، او کله چې هغه خپله ډولکه په کوئي يا څاه کې ورکته کړه [نو يوسف خپل لاس پکې ونښلا ؤ او د او بو په ځای يې يوسف د څاه نه راوايست او په ليدلو سره يې] وو يل: دا څومره ښه ز يرئ دئ، او دا خو تنکئ زلمکئ هلک دئ! [يعنی نو بيا دوی يوسف پټ که] او و يو يل: دا د سوداګرۍ توکي دي، هو! الله د کاروانيانو په کړنو باندې ښه پوهيږي!

[٢٠] او يوسف چې د کاروانيانو پکار نه ؤ، نو يوسف يې بيا په ډيره لږ بيعه په څو شميرل سوو رو پيو (درهمو) خرڅ که او پرې وې پلوره او ځانونه يې ورڅخه خلاص کړل.

درندو دوستانو! الله تعالى د يوسف عليه السلام قصې په دې برخه کې د هغه د ميړې زامنو پټ چل او توطئيه د يوسف عليه السلام په ضد کلکه رسوا کړې ده، او يقينا چې هغه د دوی د هغې کينې او حسد څرګندويه ده چې دوی د خپل ميرنې ورور يوسف سره درلوده، ځکه دوی خبر نه ول او نه پوهيدل چې الله به يوسف عليه السلام ته په دنيا کې د عزت داسې لوړ مقام ورکړي چې بيا به دوی د هغه په در بار کې خيرات غواړي!

{د يوسف عليه السلام نازونه او پالنه د مصر واکمن پاچا په کور کې}

او بيا الله تعالى د يوسف نازوني تصو ير د مصر واکمن مشر په کور کې مونږ ته وړاندې کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِى ٱشْتَرَىٰهُ مِن مِّصْرَ لِٱمْرَأَتِهِۦٓ أَكْرِمِى مَثْوَىٰهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا ۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُۥ مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ ۚ وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمْرِهِۦ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٢٢﴾﴾

[٢١] او هغه مصري واکمن چې يوسف يې د کاروانيانو نه په بيعه واخست؛ خپلې ميرمنې ته يې [سپارښت وکه] او و يو يل: هغه ښه ونازوئ او عزت يې وکړه، ځکه کيدای سي چې دئ مونږ ته ګټه ورسوي او يا يې زوی ونيسو! هو؛ همداسې يوسف مونږ پرځمکه عزتمن واکمن که، او هغه ته به د خو بونو ليدلو تعبير ورزده کړو! او الله د خپلو پر يکړو په پلې کولو غالب او زورور دئ [يعنى هيڅ څوک د الله تعالى تقديري پر يکړو مخه نيولای نسي، لکه څنګه چې د يوسف عليه السلام ميړې زامن خپل شوم مقصد

ته ونه رسيدل] خو ډير خلک په دې نه پوهيږي، يعنى دا چې هرڅه د الله په واک کې دي او قدرتي حکمونه يې پکې هرومرو چليږي.

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دې مبارك آيت کې د رسول اللهﷺ پام خپلو قدرتونو لو يو نښو ته را اړولئ دئ او هغه ته يې د بر يا ډاډ او ز يرئ ورکړئ دئ، نو ښايي چې ټول مومنان او په ځانګړي ډول د رسول اللهﷺ د دعوت وارثان؛ خپل ځانونه ښه پوه کړي، او پر الله تعالى باندې توکل او اعتماد وکړي، ترڅو د ر يښتينو مومنانو او دعاتو نه وګرځي او ښادي يې په برخه سي او په دنيا او آخرت کې سرلوړي سي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى مونږ يوسف عليه السلام ته د لوى مقام ورکولو نه خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

[٢٢] او کله چې يوسف د خپلې ځوانۍ قوت ته ورسيده [يعنى عقل يې پوخ سه] نو بيا هغه ته مونږ حکمت او هوښياري ورکړه، او د ښو کړنو خاوندانو ته مونږ همداسې د عزت لوړ مقام ورکوو، يعنى داځکه چې دوى سمې لارې ته هدايت سوي دي، او دا د الله تعالى پيرزو ينه ده چې هغه د خپلو نازولو او د ښو کړنو بنده ګانو په برخه کوي، نو يقينا چې دا رسول اللهﷺ ته غوره ز يرئ او د تسليت او ډاډ لوى پيغام ؤ.

{د يوسف پاک لمنى ثبوت د مصر واکمن ميرمني پرورانديې}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مصر واکمن يا د مصر عز يز؛ د ميرمني مکرونه ياد کړي دي چې کله هغه پر يوسف عليه السلام د هغه ډير ښايست او ښکلا لکبله مينه سؤ، خو يوسف عليه السلام الله تعالى ورڅخه پاک او سپين راوايست، او په بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَرَٰوَدَتۡهُ ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيۡتِهَا عَن نَّفۡسِهِۦ وَغَلَّقَتِ ٱلۡأَبۡوَٰبَ وَقَالَتۡ هَيۡتَ لَكَۚ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٣ وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦۖ وَهَمَّ بِهَا لَوۡلَآ أَن رَّءَا بُرۡهَٰنَ رَبِّهِۦۚ كَذَٰلِكَ لِنَصۡرِفَ عَنۡهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلۡفَحۡشَآءَۚ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُخۡلَصِينَ﴾

﴿٢٤﴾ وَٱسۡتَبَقَا ٱلۡبَابَ وَقَدَّتۡ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٖ وَأَلۡفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلۡبَابِۚ قَالَتۡ مَا جَزَآءُ مَنۡ أَرَادَ بِأَهۡلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسۡجَنَ أَوۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِيَ رَٰوَدَتۡنِي عَن نَّفۡسِيۚ وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۡ أَهۡلِهَآ إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٖ فَصَدَقَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٢٦﴾ وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٖ فَكَذَبَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٖ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيۡدِكُنَّۖ إِنَّ كَيۡدَكُنَّ عَظِيمٞ ﴿٢٨﴾ يُوسُفُ أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَاۚ وَٱسۡتَغۡفِرِي لِذَنۢبِكِۖ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلۡخَٰطِـِٔينَ ﴿٢٩﴾

[٢٣] [هوا! د مصر واکمن مشر عز یز میرمنې] چې یوسف یې په کور کې ؤ؛ دئ یې خپل ځان ته راوغوښت [ځکه زلیخا په یوسف باندې د هغه د ډیر ښایست او ښکلا له کبله مَینه سؤ] او د کور ورونه یې کلک وټړل [او پر یوسف یې غږ وکه] او ورته یې وو یل: دا دئ ما تا ته ځان سینګار که، نو یوسف [په ځواب کې ورته] وو یل: الله ده ما د دغسې کار نه وساتي! یقینا چې الله د زما پالونکئ خدای دئ او ما ته یې ډیر ښه استوګنځې راکړئ دئ، او یقینا چې ظالمان هیڅ کله نه ښادیږي، یعنی د نورو پر حقونو تیرئ کونکي هیڅ کله نه ښادیږي.

[٢٤] هوا! یقینا چې د مصر واکمن میرمنې یوسف سره د ملاستې طمعه وکړه او د یوسف په زړه کې هم دا تیره سؤ، نو که یوسف د خپل رب الله د قدرتونو نښې نه وای لیدلې [یعنی که یوسف علیه السلام د الله تعالی د لو یو قدرتونو دلیلونه نه وای لیدلي چې دئ د دغسې بد کار او لوی خیانت نه منع کوي، نو بیا به دا لو یه ګناه ورڅخه پیښه سوې ؤ] هوا! مونږ همداسې [د خپلو قدرتونو نښې ورته وښودلې] ترڅو د یوسف نه بده کړنه او فحشاء لرې کړو، او دا ځکه چې یوسف یقینا د زمونږ غوره سوو بنده ګانو نه دئ، یعنی یوسف علیه السلام الله تعالی د خپل نبوت او پیغمبرۍ لپاره غوره کړئ ؤ، نو د هر هغه بد کار نه یې وساته چې د هغه لوړ مقام او درونده شخصیت ور باندې ز یانمن کیده.

[٢٥] او بیا دوی دواړه (زلیخا او یوسف) د کور وره خوا ته په منډه سول او د مصر عز یز میرمنې د یوسف کمیس چې کله دئ په تیښته کې

ؤ؛ د شـــا نه چيرې کـه، او بيا په وره کې دوی دواړو د هغې خاوند (ميړه) بياموند او ورسره مخامخ سول [او د عز يز ميرمني په ډيرې سپين سترګی سـره پرخپل ميړه غږ وکه] او و يو يل: د هغه چا ســزا څه شـئ ده چې غوښـتل يې د سـتا ميرمني سـره بد کار وکړی؟ هوا! د هغه سـزا دا ده چې بنديي سي او يا دردونکې سزا ورکړه سي.

[۲۶-۲۷] يوســف وو يل: هغې د زما ځان راڅخه وغوښــت، او بيا د هغې کور نه يؤ کس شـاهدي ورکړه چې که د يوسـف کميس د وړاندې نه چيرې سـوئ وي، نو هغه ر يښـتيا وايي او دئ دروغژن دئ، او که د هغه کميس لمن د شـانه څيرې وي، نو بيا هغه دروغ وايي او دئ د ر يښـتيا او حق و يونکو نه دئ!

روايت سوئ دئ چې دا شاهد په زانګو کې پروت يو ماشوم ؤ.

[۲۸] نو بياچې کله د [کور خاوند د مصـر پاچا] وليدل چې د يوسـف کميس د شـا نه څيرې سـوئ دئ؛ خپلې ميرمنې ته يې وو يل: يقينا چې دا د ستاسې ښځو مکر(چل) دئ او ر يښتيا چې د ښځو مکرونه ډير غټ دي! يعنی نو نه ښايي چې څوک ور باندې وغولېږي.

[۲۹] او ته ای يوسـفه! د دې خبرې نه تير سـه، او خپلې ښـځې ته يې وو يل: ته د خپلې ګناه بښـــنه وغواړه، ځکه يقينا چې ته په دې کار کې تيروتې يې، يعنی تا يوسف خپل ځان ته را غوښتئ دئ، خو کله چې يوسف د ستا خوښه ونه منله، نو اوس پر هغه تور لږوي!

{په در بارکې اوازه سؤ چې ملکه په خپل زلمکي مَينه سوې ده}

او په ور پسـې مبارکو آيتون کې الله تعالی د مصـر ښـار شـاهي در بار ميرمنو هغه کنګوسې يادې کړې دې چې دوی وو يل: لومړی ميرمن پر خپل زلمکي مينه سوې ده، او فرمايلي دي:

﴿۞ وَقَالَ نِسۡوَةٞ فِي ٱلۡمَدِينَةِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ تُرَٰوِدُ فَتَىٰهَا عَن نَّفۡسِهِۦۖ قَدۡ شَغَفَهَا حُبًّاۖ إِنَّا لَنَرَىٰهَا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٣٠ فَلَمَّا سَمِعَتۡ بِمَكۡرِهِنَّ أَرۡسَلَتۡ إِلَيۡهِنَّ وَأَعۡتَدَتۡ لَهُنَّ مُتَّكَـٔٗا وَءَاتَتۡ كُلَّ وَٰحِدَةٖ مِّنۡهُنَّ سِكِّينٗا وَقَالَتِ ٱخۡرُجۡ

عَلَيۡهِنَّۖ فَلَمَّا رَأَيۡنَهُۥٓ أَكۡبَرۡنَهُۥ وَقَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّ وَقُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٞ ٣١ قَالَتۡ فَذَٰلِكُنَّ ٱلَّذِي لُمۡتُنَّنِي فِيهِۖ وَلَقَدۡ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ فَٱسۡتَعۡصَمَۖ وَلَئِن لَّمۡ يَفۡعَلۡ مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسۡجَنَنَّ وَلَيَكُونٗا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ٣٢

[۳۰] [او بيا چې کله دا خبر د ښار نورو ښځو غوږو ته ورسيدله، نو دوی وو يل: مشره ميرمن د خپل کور زلمکئ ځان ته را غواړي، او هغه د دې زړه وړئ دئ، نو يقينا چې هغه مونږ په ښکاره ورکتيا کې و ينو!

[۳۱] نو بيا چې کله [د مصر عز يز ميرمنې] د ښار ښځو مکرجنې خبرې واور يدلې؛ دوی يې خپل کور ته را و بللې او ميلمستون يې ورته په ښکلو څوکيو ښايسته سينګار که [او ميوې يې ورته په مخکې کيښودلې] او هرې يوې ته يې چاړه په لاس کې ورکړه، او بيا يې يوسف ته وو يل: پردوی را ننوځه، يعنی ناڅاپه ورښکاره سه! نو بيا چې کله د ښار ښځو يوسف وليده؛ هغه يې ډير غټ او ښکلي وګانه [يعنی د هغه بې ساري ښايست په ليدلو سره جذبې [په سر واخستلې] او خپل لاسونه يې په چړو باندې پر يکړل او و يو يل: هوا! يوازې الله دئ چې د هر عيب نه پاک دئ او دا خو بشر نه دئ، هغه خو يو قدرمن فرښته دئ! يعنی د يوسف عليه السلام ښکلا او ښايست د انسانانو ښکلا نه وچت او پورته دئ!

[۳۲] [نو بيا د مصر عز يز ميرمنې] وو يل: نو همدا تاسې وی چې زه مو د هغه پر وړاندې ملامتولم، هوا! ر يښتيا چې زه پرهغه مينه سوم او دئ ما خپل ځان ته راوغوښت، خو هغه خپل ځان وسا ته، نو که چيرې اوس هم دئ د زما حکم پرځای نکړي، نو کلک به زنداني سي [يعنی په جيل که به واچول سي] او د خوار سوو او سپک سوو نه به وي.

{يوسف عليه السلام جيل د زنا پر سپکاوي باندې غوره که}

او بيا الله تعالی د يوسف عليه السلام لخوا د جيل غورکول د زنا فحشا ګناه په سپکاوي باندې بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿قَالَ رَبِّ ٱلسِّجۡنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِۖ وَإِلَّا تَصۡرِفۡ عَنِّي كَيۡدَهُنَّ أَصۡبُ

إِلَيۡهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱسۡتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ فَصَرَفَ عَنۡهُ كَيۡدَهُنَّۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٣٤﴾

[٣٣] [نو بيا يوسف د دوی د شر نه الله تعالی ته پناه يوړه او] و يو يل: ای لو يه ر به! جيل يا زندان د زما خوښ دئ، نه دا کار چې دوی ما ورته راغواړي، او که ته ای ر به! د ښځو مکر د زمانه وانه ړوي، نو بيا به زه دوی ته ور واوړم او د ناپوهانو نه به وم، يعنی په داسې يوه لو يه ګناه کې به لو يدلئ وم چې د خلاصون لار به بيا نه مومم!

هو! يقينا چې يوسف عليه السلام دا مناجات د الله پر وړاندې د هغه د پاکۍ او سپيڅلتيا لوی دليل دئ، او په دې دعاء سره يوسف جيل يا زندان ته تګ پر فحشاء غوره وګانه، ځکه زنا ډيره لو يه رسوايي او غټه ګناه ده، او د عقل او عزت خاوندان؛ هيڅ کله خپل ځانونه ور باندې نه ککړوي او ځان ورځخه کلک ساتي.

[٣٤] نو بيا د يوسف رب الله د هغه دعاء قبوله کړه، او د ښځو مکر او چل پې د هغه نه لرې که، او يقينا چې الله ښه اور يدونکئ او لوی پوه ذات دئ، يعنی د خپلو مخلصو بنده ګانو دعاء اوري او قبلوي پې، نو ښايي چې هر مومن بنده خپل رب او لوي څښتن ته رجوع وکړي او د انسي او جني دښمن وسوسو، لمسون او چلونو نه د خپل ځان ساتل وغواړي، ترڅو الله دئ وساتي او د خيانت په ګناه کې ونه لو يږي او وساتل سي.

درندو دوستانو! دا د يوسف عليه السلام قصې بل پراو ؤ چې دئ الله تعالی په لوی امتحان کې واچا ؤ، خو بيا دئ الله تعالی ورځخه سپين مخئ راوايست او د مصر عزيز ميرمن د خپل مکر او چل په لوموکې ونښتله او يوسف عليه السلام جيل يا زندان پر نا روا جنسي خوند اخستلو باندې غوره که، او د زندان قصه پې الله تعالی په راتلونکو مبارکو آيتونو کې ښه اوږده يادە کړي ده، نو يقينا چې د دغسې لويې رسوايي نه خلاصون د الله تعالی لو يه پيرزو ينه او توفيق ؤ چې د يوسف عليه السلام په برخه سه، ترڅو دئ د الله تعالی پيغمبری لوړ مقام ته ورسيږي، نو ځکه ښايي چې اسلام ته رابلونکې

عالمان او دعات دا قصه، لکه د نورو پیغمبرانو قصې؛ په پوره دقت سره ولولي او هغه ځان ته لوی لارښود وګرځوي، ترڅو دوی د دغسې بد نامه وونکو توطئیو ښکار نسي، او په ځانګړي ډول د نن ورځې خورې ورې پرمختللې تصویري او ریکاردي ټولنیز ارتباطي تکنالوژۍ په عصر او په بر بنډه زمانه کې چې هرڅه غږ او څیره ډیر ژر او په اسانۍ سره ثبتیږي او ساتل کیږي، نو بیا ورڅخه منکر یدل هیڅ ګټه نه لري.

{ یوسف علیه السلام د زندان پرلوراو د خو بونو تعبیر }

او بیا الله تعالی د یوسف علیه السلام جیل قصې بیان مونږ ته کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا رَأَوُاْ ٱلۡأٓيَٰتِ لَيَسۡجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ حِينٖ ٣٥ وَدَخَلَ مَعَهُ ٱلسِّجۡنَ فَتَيَانِۖ قَالَ أَحَدُهُمَآ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَعۡصِرُ خَمۡرٗاۖ وَقَالَ ٱلۡأٓخَرُ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَحۡمِلُ فَوۡقَ رَأۡسِي خُبۡزٗا تَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِنۡهُۖ نَبِّئۡنَا بِتَأۡوِيلِهِۦٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٣٦ قَالَ لَا يَأۡتِيكُمَا طَعَامٞ تُرۡزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأۡتُكُمَا بِتَأۡوِيلِهِۦ قَبۡلَ أَن يَأۡتِيَكُمَاۚ ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّيٓۚ إِنِّي تَرَكۡتُ مِلَّةَ قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ٣٧ وَٱتَّبَعۡتُ مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۚ مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشۡرِكَ بِٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ عَلَيۡنَا وَعَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ٣٨ يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ٣٩ مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۚ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٤٠﴾

[٣٥] او بیا چې کله د مصر عزیز او د ارګ مشرانو ته د یوسف براءت او د پاکۍ نښې او دلیلونه ښکاره او څرګند سول، نو پر یکړه یې

وکړه چې يوسف تر يؤ وخته پورې بندي کړي، او په جيل يا زندان کې يې واچوي، يعنی دا چې ترڅو پاچايي مانې لا ډيره رسوا نسي.

[٣٦] او د يوسف سره زندان ته دؤ زلمکيان ننوتل او يؤيې وو يل: ما يقينا خوب وليده چې زه د انګورو نه شراب را باسم، او بل يې وويل: ما په يقين سره خوب وليد چې ما پاس پر خپل سر باندې ډوډۍ اينې وې او مرغان هغه خوري، نو ته ای يوسفه! مونږ د خو بونو تعبير نه خبر کړه، ځکه تا مونږ د ښو خلکونه و ينو! يعنی ته به زمونږ خو بونه تعبير کړې.

[٣٧] يوسف [دوی ته په ځواب کې] وو يل: مخکې لدې چې تاسي ته خواړه راسي او هغه وخوری؛ زه به تاسې دواړه د خوړو راتګ نه وړاندې د دې خو بونو تعبير نه چې هغه ما ته الله رازده کړي او ښودلي دي؛ خبر کړم! هو؛ يقينا چې ما د هغه قوم او خلکو دين پر ښود چې دوی پر الله باندې ايمان او باور نه لري او د آخرت ورځې راتګ نه منکر او کافران ول، يعنی دا چې زه خو مومن يم او د آخرت ورځې پر راتګ کلک باور لرم.

[٣٨] او زه د خپلو پلرونو: ابراهيم، اسحاق او يعقوب دين پسې لاړم [يعنی د هغوی پيروي مه وکړه] ځکه مونږ ته نه ښايي چې د الله سره بل څوک شر يك کړو او د الله عبادت پر مونږ او پر ټولو خلکو باندې د الله پيرزو ينه ده [يعنی نو ښايي چې يوازې د الله عبادت او بنده ګي وکړو] خو ډير خلک د الله د دې لوی نعمت شکر نه باسي، يعنی بل څه شئ او بل څوک د الله سره په عبادت کې ګډوي، او د الله تعالی د توحيد پيژندلو لوی نعمت قيمت او ارزښت نه پيژني او نه يې پرځای کوي!

[٣٩] [او بيا يوسف عليه السلام پر دې دواړو زلمکيانو غږ وکه] او و يو يل: ای زما د جيل يا زندان ملګرو! آيا ډير خدايان ښه دي او که يو ځواکمن قهار رب؟ [ځواب دا چې يقينا يو ځواکمن رب! ځکه هغه ټول مخلوقات پيدا کړي دي او دئ يې پالونکئ څښتن دئ، نو هغه ښه او غوره ذات دئ.

[٤٠] او هغه څه چې تاسې يې د الله نه پرته عبادت کړئ [هغه خوسې نومونه دي] چې تاسې او د ستاسې نيکونو او پلرونو ور باندې اينې دي او

هیڅ کم دلیل او حجت د هغوی په خدایۍ باندې الله ندئ را نازل کړئ [ترڅو ور باندې د بتانو خدایي ثابته کړي] او یقیناچې حکم کړل یوازې د الله واک دئ، او ای خلکو! الله امر کړئ دئ چې یوازې د الله عبادت او بنده کې وکړئ [یعنی د الله نه پرته د بل هیڅ چا عبادت مکړئ] او په توحید سره د الله بنده کې؛ سم دین او سمه کړن لار ده، خو ډیر خلک نه پوهیږي، یعنی دوی حق نه پیژني او په جهالت او ناپوهۍ کې ډوب دي، او د غیر الله عبادت کړي!

ګرانو دوستانو! یوسف عليه السلام چې د الله تعالی غوره بنده ؤ، او د خپلو پلرونو پیغمبرانو پر لار روان ؤ او پیغمبري یې د هغوی نه په میراث وړې ؤ، او د الله تعالی دغه لو یه پیرزو ینه یې په برخه سوې ؤ، نو خپل زنداني ملګري یې د الله تعالی توحید ته را و بلل او شرك او کفریې چې د ناپوهانو کار دئ وغاندې، او یقینا چې دا د ټولو پیغمبرانو او د هغوی د وارثانو رسالت او دنده ده، او دوی د هرلاس ته راغلي فرصت نه ګټه اخلي، او خلک توحید ته چې یوازې د الله عبادت او بنده کې ده را بولي او د شرك نه یې کلک ګوابنې، نو ښایي چې د حق لارې را بلونکي او دعوت کونکي پوهان د یوسف عليه السلام غوندې لاس ته ورغلو فرصتونو نه ښه ګټه واخلي او خلک د الله عبادت او د اسلام حق دین لارښودنو ته را و بولي، مخصوصا زندانیان چې زړونه یې نرم سوي وي او د حق منلو ته تیار وي او هغه په اسانۍ سره مني.

{یوسف په زندان کې د زندانیانو خو بونه تعبیرکړل}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د یوسف عليه السلام د قصې د دې پړاو پاتې برخه چې د زندانیانو د خو بونو تعبیر دئ؛ بیان کړې دئ، او فرمایلي دي.

﴿يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسۡقِي رَبَّهُۥ خَمۡرٗاۖ وَأَمَّا ٱلۡأٓخَرُ فَيُصۡلَبُ فَتَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِن رَّأۡسِهِۦۚ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ٱلَّذِي فِيهِ

تَسْتَفْتِيَانِ ﴿٤١﴾ وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٍ مِّنْهُمَا ٱذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيْطَٰنُ ذِكْرَ رَبِّهِۦ فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾

[٤١] اى زما د جيل يا زندان ملګرو! د ستاسې دواړونه به يو کس د خپل بادار ساقي وي او شراب به ورځکې، او بل به په دار کې رازوند سي او مرغان به د هغه سر غوښې خوري، او دا مسئله چې تاسې دواړويې پوښتنه وکړه همداسې فيصله سوې ده!

[٤٢] [او بيا يوسف عليه السلام د دغو دواړو ملګرونه هغه چا ته چې ګمان يې کا ؤ هغه به نجات بيا مومي] وو يل: د خپل بادر يا څښتن په مخکې ده ما ياد کړه! [يعنى پاچا خبر کړه چې يوسف مظلوم بندي دئ] خو شيطان د هغه نه د يوسف يادونه خپل بادار ته هيره کړه [او د يوسف عليه السلام مظلوميت غربيې پاچا ته ونه رسا ؤ] نو بيا يوسف همداسې څو کاله نور هم په جيل کې بندي پاتې سه.

{د مصر پاچا خو بونو په ليدو د ارګ مشرانو نه تعبير وغوښت}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د مصر پاچا د خو بونو يادونه کړې ده، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلْمَلِكُ إِنِّيٓ أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُءْيَٰيَ إِن كُنتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُونَ ﴿٤٣﴾ قَالُوٓاْ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ ٱلْأَحْلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَقَالَ ٱلَّذِي نَجَا مِنْهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِۦ فَأَرْسِلُونِ ﴿٤٥﴾ يُوسُفُ أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ لَّعَلِّيٓ أَرْجِعُ إِلَى ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدتُّمْ فَذَرُوهُ فِي سُنۢبُلِهِۦٓ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تَأْكُلُونَ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ

مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تُحْصِنُونَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ ٱلنَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿٤٩﴾

[٤٣] او پاچا د ارک مشرانو ته وو ېل: ما په خوب کې اوؤ چاغې غواوې ولیدلې چې اوؤ ډنګرې غواوې دغه چاغې غواوې خوري، او په دې خوب کې ما د غنمو اوؤ شنه وړي او نور اوؤ وچ وړي ولیدل! نو که تاسې ای مشرانو! د خو بونو تعبیر کړئ، نو د زما دغو خو بونو تعبیر وکړئ، یعنی د خو بونو مقصد نه ما خبر کړئ؟

[٤٤-٤٦] [نو د ارک مشرانو پاچا ته په ځواب کې] وو ېل: دا خو بونه خوسې د هغو ګډو وډو خو بونو خیالونه دي چې څه تعبیر نه لري، او مونږ د دغسې خو بونو په معنا نه پوهیږو! [نو په دې وخت کې د یوسف علیه السلام د زندان ملګرو نه هغه ملګري] چې نجات یې موندلئ ؤ [او د پاچا په در بار کې ساقي ؤ] د ډیرو کلونو تیریدو نه وروسته یې یوسف را په یاد سه او و ېل: تاسې زه د دې خوب تاو ېل نه خبروم، نو ما ور پسې ولیږئ [ترڅو د پاچا د خو بونو تعبیر درته راوړم نو بیا چې کله دا د پاچا ساقي یوسف ته په جیل کې ورغئ یوسف ته یې] وو ېل ای ملګر یه! د اووو چاغو غواوو [خوب تعبیر نه] چې هغه اوؤ ډنګرې غواوې خوري؛ مونږ خیر کړه او هم د اووو شنو وړو او نورو وچو وړو [د خوب لیدلو تعبیر را ته وکړه او مقصدیې را ته بیان کړه] ترڅو زه بیرته هغو خلکو ته چې په ارک کې زما په انتظارکې دي ور وګرځم، او کیدای سي چې دوی پوه سي، یعنی د ستا لوړ مقام ای یوسفه! و پیژني او بیا تا هلته وغواړي!

[٤٧] [نو بیا یوسف علیه السلام هغه ته د پاچا خوب په تعبیرکې] وو ېل: اوؤ کاله به تاسې پرله پسې کښتونه کړئ، نو بیا چې کله تاسې کرلئ کښت ورابه د هغه نه ډیره لږ غله د خپلو خوړو په اندازه میده او پاکه کړئ [یعنی د وړو نه یې را و باسئ] او نور کښت چې تاسې ر یبلئ دئ؛ همداسې په خپلو وړو کې پر یږدئ او وې ساتئ!

[٤٨] او بیا د هغی نه وروسته اوؤ سخت کلونه راځي [یعنی کلکه

وچکالي به راسي] او په دغو سختو وچو کلونوکې به هغه غلې وخوري چې هغه تاسې همدې ورځو ته ساتلی وې، خو د هغې نه به ډيره لږ څه غله د راتلونکې تخم لپاره وساتئ.

[٤٩] [او د دي وچکالۍ نه] وروسته به بيا داسې کال راسي چې باران به پرځلکو ووور يږي [يعنې د کښتونو حاصلات به ډير سي] او خلک به په جوازونوکې ورځخه شر بتونه را و باسي.

قدرمنو دوستانو! په دې مبارکو آيتونو کې الله تعالی پر يوسف عليه السلام د بل لوی ازمايښت بيان کړي دئ، او هغه دا چې لمړئ يوسف عليه السلام په ناحقه تور باندې د مصر په زندان کې بندي سه او هلته په جيل کې در باري بنديان ورسره يوځای سول او دوی چې يوسف عليه السلام نه سړئ بيامونډ، نو د خپلو خو بونو تعبيريې ورځخه وغوښت، نو بيا يوسف عليه السلام دوی ته ډاډ ورکه چې ډير ژر به د دوی د خو بونو تعبير ورته وکړي، خو مخکې لدې نه چې يوسف عليه السلام د هغوی خو بونه تعبير کړي؛ دغه زندانيان يې د مصر خلکو د دين نه چې د الله توحيد نه انکار او کفر ؤ؛ خبر کړل او خپل دين يې چې د ابراهيم، اسحاق او د يعقوب عليهم السلام غوندې پيغمبرانو او د يوسف پلرونو او نيکونو دين ؤ؛ دوی ته نه ورو پيژاند او دوی يې د الله توحيد ته راو بلل او کفر او شرك يې چې باطل دين دئ وغانده، او بيايې د زندان ملګرو ته د دوی خو بونه تعبير کړل او د خپل هغه ملګري نه يې چې يوسف عليه السلام ګمان کا ؤ چې هغه به نجات مومي؛ وغوښتل چې د يوسف عليه السلام مظلوميت غږ پاچا ته ورسوي، خو دا بندي چې کله د زندان نه خلاص سه او د پاچا در بار ته بيرته ستون سه يوسف عليه السلام يې هير سه، ترڅو چې د مصر ټولواک پاچا خوب وليده او د ارک مشرانو نه يې د خپل خوب تعبير وغوښت، او کله چې دوی لا ځوابه سول، نو د يوسف عليه السلام زنداني ملګري يوسف را په ياد سه چې هغه ته الله تعالی د خو بونو تعبير علم ورکړي ؤ، نو بيا هغه غږ وکه چې ما ته اجازه را کړئ چې زندان ته لاړ سم او د پاچا خوب تعبير تاسې ته راوړم، نو هغه ؤ چې يوسف عليه السلام ته ورغئ او د هغه خولې نه يې د پاچا

خوب تعبير راوړ، نو بيا پاچا يوسف خپل در بار ته وروغوښت چې په ور پسې مبارکو آيتونو کې يې بيان سوئ دئ، نو دا مبارك آيتونه چې د الله تعالى يؤ پيغمبر ر يښتينې قصه پکې انځور سوې ده؛ هغه اسلام ته رابلونکو دعاتو ته ډير غوره لاښودنه او رڼا سوې تک لاره ده، نو ښايي چې هغه په ښه دقت سره ولوستله سي او ورڅخه د دعوت په لار کې کټه واخستل سي.

{يوسف عليه السلام د جيل يا زندان نه تر پاچا در بارپورې}

او کله چې پاچا ته د هغه خو بونو تعبير د يوسف له خولې ورسيده، نو پاچا يوسف خپل در بار ته را وغوښت، او په بيان کې الله فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦۖ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ قَالَ ٱرۡجِعۡ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسۡـَٔلۡهُ مَا بَالُ ٱلنِّسۡوَةِ ٱلَّٰتِي قَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّۚ إِنَّ رَبِّي بِكَيۡدِهِنَّ عَلِيمٞ ٥٠﴾

[٥٠] [او د مصر پاچا چې کله د خپل خوب تعبير واور يده، نو حکم يې وکه] او و يو يل: هغه ژر ما ته راولئ! نو بيا چې کله د پاچا استازئ يوسف ته راغئ؛ يوسف هغه ته وو يل: بيرته خپل بادار ته ور وګرځه او د هغه نه و پوښته هغه ميرمنې چې لاسونه يې په چرو پر يکړل په څه حال کې دي [يعنى يوسف څنګه انګيري؟] او يقينا چې د زما پالونکئ خداى د دوى په مکر ښه پؤ دئ، يعنى دوى ته به د دوى لائقه سزا ورکړي.

درندو دوستانو! يوسف عليه السلام که څه هم په ناحقه تور باندې کلونه کلونه په جيل کې تير کړل، خو د جيل نه يې وتلو ته تلوار نه درلود، نو ځکه د پاچا استازي په خوله په منډه د جيل نه راونووت، او په ځاى د دې چې دئ د جيل نه را ووځي د پاچا استازې نه يې وغوښتل چې پاچا د يوسف عليه السلام مظلوميت نه ځان خبر کړي، ترڅو د يوسف براءت د دغسې ناحقه تور نه ثابت او اعلان سي، نو بيا به يوسف په جګه غاړه او سپين مخ د پاچا در بار ته ورسي، نو د يوسف عليه السلام دا ځواب د هر هوښيار مظلوم لپاره او په ځانګړې ډول د يوسف لارې مخلصو لار يونکو دعاتو لپاره د زدکړې لوى او ښه کټور درس دئ، ځکه د الله لارې ته دعات خلکو ته خير غواړي او د هر ډول ظلم مخنيوئ کړي او دروغژن تورونه د

حقپالانو نه لرې کوي، نو ښـــايي چې د پيغمبرانو صـــادق ميراث وړونکې علماء او دعات د يوســف عليه السلام نه د صـبر او د خپل صـداقت او براء ت سبقونه زده کړي او پر لارې لاړ سي او حق ته په دعوت کې د يوسف عليه السلام غوندې صبر ولري.

{حق څرګند سه او يوسف عليه السلام د ر يښتونکونه ؤ}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د مصر پاچا ميرمنې اقرار د يوسف عليه السلام په پاکۍ او براءت کې اعلان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ قُلْنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِن سُوٓءٍ ۚ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْـَٰٔنَ حَصْحَصَ ٱلْحَقُّ أَنَا۠ رَاوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٥١﴾ ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّى لَمْ أَخُنْهُ بِٱلْغَيْبِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى كَيْدَ ٱلْخَآئِنِينَ ﴿٥٢﴾ * وَمَآ أُبَرِّئُ نَفْسِىٓ ۚ إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةٌۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّىٓ ۚ إِنَّ رَبِّى غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٣﴾﴾

[٥١-٥٢] [او د مصـــر پـاچـا هغو ميرمنو تـه چې د يوســـف عليه السلام د ښـايسـت په نندارە کې يې خپل لاسـونه په چړو غوڅ او پر يکړل] وو يل: [هو! د يوسـف ښـايسـت خو د سـتاسـې زړونه ايووړل] نو اوس د هغه په بارە کې څه وايي؟ [دوى په ځواب کې ورته] وو يل: هو! يوازې الله د ټولو عيبونو نه پاک دئ او مونږ پر يوسف هيڅ بدى باندې پوه نسوو [چې دئ پرې تورن سي] نو بيا د مصر پاچا ميرمني وو يل: هو! اوس حق ښکاره او څرګند سه؛ يوسف ما خپل ځان ته راوغوښت [ځکه د هغه ښايست زما زړه ايووړ] او يقينا چې يوسف د ر يښتينکو او صادقانو نه دئ.

[٥٢] او دغه اقرار په ګناه باندې لدې لپاره کړم، ترڅو زما ميړه پوه سي چې ما په پټه د هغه سره خيانت ندئ کړئ، او يقينا چې الله د خاينانو مکر او چل نه سموي [يعنى هغه ځاى ته نه رسوي] او دوى نه ښادوي.

[٥٣] او زه خپل ځان نه پاکوم او صـــفايي يې نکړم، ځکه هر نفس خپل ځان بدو کړنو او ګناه ته هڅوي، مګر هغه څوک چې د زما رب الله

پرهغه ورحميږي او د بدو کړنو نه يې وساتي [ځکه] يقينا چې د زما لوی رب الله ښه ښونکې او ښه مهربان ذات دئ.

قدرمنو عز يزانو! د دغو دؤ وروستيو مبارکو آيتونو په تفسيرکې علماء اختلاف لري، ځينې هغه د مصر پاچا ميرمني و ينا بولي او دا تفسير د وړاندې آيتونو سياق سره برابر او موافق دئ، او ځينې نور مفسرين بيا وايي چې دا د يوسف عليه السلام خبري دي، خو دا تفسير د قصې د پورتنيو آيتونو سره موافق نه ښکاري، نو ځکه ما په لمړي تفسير باندې دا دؤ آيتونه معنا کړل، والله اعلم بالصواب.

{د مصر پاچا يوسف عليه السلام خپل ځانګړئ مشاور غوره که}

او بيا يوسف عليه السلام د مصر پاچا ځان ته مشاور غوره که، او په بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦٓ أَسۡتَخۡلِصۡهُ لِنَفۡسِيۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلۡيَوۡمَ لَدَيۡنَا مَكِينٌ أَمِينٞ ٥٤ قَالَ ٱجۡعَلۡنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٞ ٥٥﴾

[٥٤] [او کله چې د يوسف عليه السلام براءت او پاکي ثابته سؤ] نو د مصر پاچا حکم وکه او و يو يل: يوسف ما ته راولی، ترڅو دئ زه خپل مشاور وټاکم، نو کله چې يوسف راغئ [او پاچا د هغه لوړ شخصيت و پيژاند او کلک امانت يې ورته څرګنده سه] نو يوسف ته يې وو يل: يقينا چې ته اوس د زمونږ سره پوخ اعتمادي يې، يعنی پر تا باندې پوره باور او اعتماد لرو.

نو بيا يوسف عليه السلام د مصر پاچا ته وړانديځ وکه چې دئ د خزانې واکمن وټاکي، او په بيان کې الله تعالى په ور پسې مبارک آيت کې فرمايلي دي:

[٥٥] [نو بيا يوسف عليه السلام د پاچا په در بار کې خدمت ته تياری ونيسود] او و يو يل: ما د مصر په خاوره کې د خزانې واکمن وټاکه، ځکه زه پوه او د امانتونو ساتونکې يم.

ګرانو دوستانو! يوسف عليه السلام چې د پاچا خوب پوخ تعبير کړئ ؤ، نو بيا دئ الله تعالى د پاچا په در بار کې د اعتماد لوړ مقام ته ورسا ؤ، نو ځکه

يې د مصـــر خاورې ټولې خزانې پالنې امانت وړتيا په ځان کې وليدله او دا وړانديځ يې وکه، نو فقهاء وايي: چې که څوک د يوې دندې د مســـوولیت امانت اخستلو وړتيا په خپل ځان کې وو يني، نو هغه ته روا ده چې دا دنده يا وظيفه ځان ته وغواړي، ترڅو امانت پر خپل ځای وساتل سي او د هغه مستحق لائق شخص ته وسپارل سي.

{د يوسف عليه السلام واکمني د مصر په خاوره کې د الله پيرزو ينه ؤ}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى په مصر کې د يوسف عليه السلام لويې واکمنۍ په باره کې د هيواد پرخزانه [يعنى پر بيت المال يا د مالې وزارت] باندې فرمايلي دي:

﴿وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَتَبَوَّأُ مِنۡهَا حَيۡثُ يَشَآءُۚ نُصِيبُ بِرَحۡمَتِنَا مَن نَّشَآءُۖ وَلَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٦ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٥٧﴾

[٥٦] او لکه څنګه [چې يوسف مونږ د زندان نه راوايست] همداسې د ځ مونږ د مصـــر په ټوله خاوره کې واکمن که او هرچيرته چې د هغه خوښه ؤ؛ هلته اوسيدلای سي او مونږ چې چا ته د خپل رحمت پيرزو ينې وغواړو؛ هغه ته يې ورکوو او د ښـــو کړنو خاوندانو ثواب او مزدوري نه ضائع کوو، يعنى د ښو کړنو خاوندانو کړنې د الله تعالى سره ساتل سوې دي او ګټه يې په دنيا او آخرت کې ورته رسيږي.

[٥٧] او د آخرت ورځې ثواب هغو کســـانو ته ښـــه غوره ځ چې دوی ايمان راوړ او متقيان ول، يعنى دا چې مومنانو ته الله تعالى د دنيا او آخرت دواړو ثوابونه ورکوي.

عزتمنو دوســـتانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونوکې مونږ ته د يوسف عليه السلام را وتل د زندان نه چې پکې مظلوم پروت ؤ، او بيا د مصر پاچا په در بار کې لوړ مقام ته د هغه رسـيدل؛ بيان کړي دي او هغه الله تعالى خپله لو يه پيرزو ينه د يوسـف عليه السلام غوندي متقيانو باندې بللي ده، ځکه

چې دوی پرخپل رب الله باندې کلک ایمان راوړئ دئ او حکمونه یې په پوره اخلاص سره پرځای کوي او د سزا او عذاب نه یې ځانونه ساتي، او بیا چې کله یوسف علیه السلام د پاچا په در بار کې د هغه باور او اعتماد ترلاسه که، نو خپل تیارئ او وړتیایې خدمت ته وښودله، نو د یوسف دا کار چې په قرآن کې د مشروعیت په بڼه کې بیان سوئ دئ او هغه، لکه څنګه چې مخکې وو یل سول پر دې باندې دلیل دئ چې یو مومن بنده ته روا ده چې خپل علم او پوهه او تخصص د چارو چلونکو ته ورلاندې کړي او خدمت ته تیار سي.

{د یوسف میرني ورونه د ولږې نه مصر ته راغلل}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې د یوسف علیه السلام د خو بونو د ر ینبتیا کیدو ز یري ته د رسیدو په لارکې د هغه میرنیو ورونو قصه مونږ ته الله تعالي یاده کړي ده، او هغه دا چې دوی د قحطۍ ولږې په سر اخستي ول، او مصر ته غلې پسې راغلل، او فرمایلي دي:

﴿وَجَآءَ إِخۡوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَعَرَفَهُمۡ وَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ٥٨ وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمۡ قَالَ ٱئۡتُونِي بِأَخٖ لَّكُم مِّنۡ أَبِيكُمۡۚ أَلَا تَرَوۡنَ أَنِّيٓ أُوفِي ٱلۡكَيۡلَ وَأَنَا۠ خَيۡرُ ٱلۡمُنزِلِينَ ٥٩ فَإِن لَّمۡ تَأۡتُونِي بِهِۦ فَلَا كَيۡلَ لَكُمۡ عِندِي وَلَا تَقۡرَبُونِ ٦٠ قَالُواْ سَنُرَٰوِدُ عَنۡهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ ٦١ وَقَالَ لِفِتۡيَٰنِهِ ٱجۡعَلُواْ بِضَٰعَتَهُمۡ فِي رِحَالِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَعۡرِفُونَهَآ إِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٦٢﴾

[۵۸] او د یوسف ورونه [ډیر کلونه وروسته مصر ته غلې پسې راغلل] نو بیا یوسف ته ورننوتل [او یوسف علیه السلام دوي د الله تعالی ورکړې په لوی زکاوت سره] و پیژندل، خو ورونویې یوسف ونه پیژاند.

[۵۹-۶۰] او کله چې دوی ته یوسف د دوی جوالونه په غلو ډک کړي ور بار کړل [یعنی ښه یې ونازول او عزت یې وکه، نو دوی یوسف علیه السلام د

خپل ميرني ورور نه خبر كه، نو بيا يوسف دوى ته] وو يل: په بله پيره كې خپل پلرنۍ ورور ما ته ځان سره راولۍ او ګورى! آيا تاسې نه و يې چې زه يقينا پيمانې ښې پوره كوم او زه ميلمنو ته ښه عزت وركونكۍ يم، نو كه بيا تاسې خپل ميرنۍ ورور ځان سره رانوست، نو بيا د غلو پيمانه كول تاسې ته زما سره نسته او ما ته مه را نزدې كيږئ، يعنى بيا ما ته مه راځئ!

[٦١] [نو بيا دوى يوسف عليه السلام ته په ځواب كې] وو يل: مونږ به دې د هغه پلار نه وغواړو او دا كار يقينا مونږ كړو، يعنى ز يار باسو چې خپل بل ورور ځان سره تا ته راولو او ډيره غله لاس ته راوړو.

[٦٢] يوسف خپلو زلمكيانو [كار كونكو] ته وو يل: د دوى پيسې [يعنى د غلې بيعه] بيرته د ونډيو په سامان كې ورته كيږدئ، ځكه كله چې دوى خپلو كورونو ته وروګرځيدل، نو كيداى سې هغه و پيژني او بيا بيرته راوګرځيږي، يعنى بيا غلو پسې راسي.

نو په ور پسې مباركو آيتونوكې الله تعالى د قصې دا برخه داسې مونږ ته انځور كړې ده، او فرمايلي دي:

[يعقوب عليه السلام د بنيامين ساتل پر الله وسپارل]

﴿فَلَمَّا رَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيهِمۡ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا ٱلۡكَيۡلُ فَأَرۡسِلۡ مَعَنَآ أَخَانَا نَكۡتَلۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٦٣ قَالَ هَلۡ ءَامَنُكُمۡ عَلَيۡهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمۡ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبۡلُ فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظٗاۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ٦٤ وَلَمَّا فَتَحُواْ مَتَٰعَهُمۡ وَجَدُواْ بِضَٰعَتَهُمۡ رُدَّتۡ إِلَيۡهِمۡۖ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا نَبۡغِيۖ هَٰذِهِۦ بِضَٰعَتُنَا رُدَّتۡ إِلَيۡنَاۖ وَنَمِيرُ أَهۡلَنَا وَنَحۡفَظُ أَخَانَا وَنَزۡدَادُ كَيۡلَ بَعِيرٖۖ ذَٰلِكَ كَيۡلٞ يَسِيرٞ ٦٥ قَالَ لَنۡ أُرۡسِلَهُۥ مَعَكُمۡ حَتَّىٰ تُؤۡتُونِ مَوۡثِقٗا مِّنَ ٱللَّهِ لَتَأۡتُنَّنِي بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يُحَاطَ بِكُمۡۖ فَلَمَّآ ءَاتَوۡهُ مَوۡثِقَهُمۡ قَالَ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٞ ٦٦ وَقَالَ يَٰبَنِيَّ لَا تَدۡخُلُواْ مِنۢ بَابٖ وَٰحِدٖ

وَٱدۡخُلُواْ مِنۡ أَبۡوَٰبٖ مُّتَفَرِّقَةٖۖ وَمَآ أُغۡنِي عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٍۖ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ وَعَلَيۡهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ٦٧ وَلَمَّا دَخَلُواْ مِنۡ حَيۡثُ أَمَرَهُمۡ أَبُوهُم مَّا كَانَ يُغۡنِي عَنۡهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٍ إِلَّا حَاجَةٗ فِي نَفۡسِ يَعۡقُوبَ قَضَىٰهَاۚ وَإِنَّهُۥ لَذُو عِلۡمٖ لِّمَا عَلَّمۡنَٰهُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٦٨

[٦٣] نو بيا چې کله [د يوسف ميرني ورونه بيرته خپل پلار ته] وروکړئيدل، نو پلار ته يې [دا پيغام ورسا ؤ او ورته يې] وو يل: ای د زمونږ پلاره! [د زمونږ ډير عزت وسه او د مصر خزانې واکمن مشر ډير ښه ونازولو] خو په راتلونکو پيروکې مونږ ته غله نه راکوي، مګر دا چې د زمونږ هغه بل ورور راسره ملګرئ سي، ځکه د مصر خزانې مشر مونږ د هغه نه خبر که] نو ای پلاره! د زمونږ دا ورور را سره ولیږه، ترڅو غله پوره راوړو، او تا ته ډاډ درکوو چې مونږ په يقين سره د هغه کلک ساتونکي يو.

[٦٤] [نو پلارې يعقوب دوی ته په ځواب کی] وو يل: آيا زه د هغه په ساتنه کې پرتاسې هغسې باور وکړم، لکه څنګه چې ما مخکې د هغه ورور په باره کې پرتاسې باور وکه؟ [خو بيا تاسې هغه ونه ساته، نو زه هيڅ کله پرتاسې او د ستاسې په ساتنه باور نه لرم! او د الله تعالی پرساتنه باور لرم، ځکه] الله ښه ساتونکئ او ډير رحم کونکئ مهر بان ذات دئ!

[٦٥] او بيا چې کله د يوسف ميرنيو ورونو د غلو جوالونه خلاص کړل وليدل چې د دوی هغه پيسې [چې د غلې په بيعه کې يې ورکړې وې؛ هغه بيرته په جوالو کې ورته ايښودل سوې] او ورکړځول سوې دې، نو بيا دوی خپل پلار ته وو يل: ای پلاره! نور نو څه غواړو؟ دا دئ د زمونږ د غلې بيعه بيرته راکړځول سوې ده [يعنی، نو ډاډه اوسه او د زمونږ دا بل ورور راسره ولیږه] ترڅو خپلې کورنۍ ته ډيره ګټه راوړو او خپل ورور به هم وساتو او د يؤ اوښ وندئ به هم ډير سي او دا يو وندئ [د مصر خزانې مشر ته] اسانه دئ، يعنی داځکه چې هغه د لويې خزانې څښتن دئ، نو يو وندئ

خوسې را کوي.

[٦٦] [او پلارې دوی ته په ځواب کې] وو يل: نا! هغه زه هيڅ کله د ستاسې سره نه ليږم، ترڅو چې تاسې ما ته د الله نه کلک ضمانت را نکړئ چې دئ به بيرته ما ته راولئ، مګر دا چې څوک پر تاسې د هرې خوا نه بر يد وکړي او در باندې را ګرد سي، او بيا د خلاصون وسعه ونه لري، نو بيا چې کله دوی خپل پلار[يعقوب عليه السلام] ته دا تعهد ورکه [او پر الله يې لوړه وکړه، چې بنيامين به روغ رمټ بيرته را ولي، نو يعقوب عليه السلام دوی ته] وو يل: الله د زمونږ پرو ينا او هوکړه باندې وکيل او شاهد دئ، يعنی د الله تعالی شهادت او ساتنه زمونږ لپاره بس او کافي ده.

[٦٧] [او بيا يعقوب عليه السلام پرخپلو زامنو غږ وکه او دوی ته يې په نصيحت کړو سره] وو يل: ای د زما زامنو! [د مصر پاچا واک لاندې خاورې ته] په يؤ وره(دروازه) مه ورننوځئ او په بيلو بيلو ورونو ورننوځئ [ترڅو په سترګو نسی، او کله چې زه تاسې ته دا نصيحت کړم، نو دا هم درته وايم] چې زه د الله تقديري حکم او پر يکړه د ستاسې نه لرې کولای نسم، ځکه د هرڅه حکم او فيصله د الله په واک کې ده، نو ما پرالله باندې توکل وکه، نو ټول توکل کونکي بايد پرالله توکل وکړي او خپل ځانونه ور باندې وسپاري او حکمونو ته يې تسليم سي.

[٦٨] او کله چې بيا دوی د خپل پلار سپارښت سره سم د بيلو بيلو دروازو يا ورونو نه ښار ته ورننوتل، نو د يعقوب په زړه کې چې څه اندښنه او تشو يش ؤ؛ هغه پوره سه، نور نو يعقوب د دوی نه د الله حکم او تقديري فيصله چې څه کيږي؛ لرې کولای نسؤ، او يقينا چې يعقوب ته مونږ پوهه او علم ورکړئ ؤ [يعنی دئ پر پوهه سمبال ؤ] خو ډير خلک په دغسې خبرو نه پوهيږي، يعنی دغسې پوهه د الله ځانګړې پيرزو ينه او ورکړه ده او چا ته چې هغه الله وغواړي ورکوي يې، او يعقوب عليه السلام چې نبي ؤ هغه ته دغسې پوهه الله ورکړې ؤ.

ګرانو دوستانو!دا مبارک آيتونه د يعقوب عليه السلام پلرنی عاطفه او زړه

سواندئ پرخپلو زامنو باندې چې هغه د کینه کښو خلکو زهرجنو سترګونه و یره ؤ؛ څرګندوي او هم د یعقوب عليه السلام لوړ علمي مقام چې نبوت ؤ؛ بیانوي او هم کیدای سي دیته اشاره وي چې یعقوب عليه السلام که څه هم خپلو زامنو ته د پام کړو غوره سپارښت وکه او ورسره د هغه زړه ډاډه سه، خو دا چې یعقوب عليه السلام ته الله علم او پوهه ورکړي ؤ، نو د هغه زړه ګواهي دا ؤ چې الله به ورک سوئ یوسف هم بیرته ورته راولي، لکه څنګه چې په ور پسې مبارکو آیتونوکې دا مقصد بیان سوئ دئ.

{یوسف عليه السلام بنیامین په غیږ کې ونیؤ او د ورور نه پې خبر کړ}

او بیا الله تعالی یوسف سره د خپل سکه ورور بنیامین د یوځای کیدو قصه مونږ ته یاده کړې ده، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَخَاهُ ۖ قَالَ إِنِّىٓ أَنَا۠ أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ ٱلسِّقَايَةَ فِى رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا ٱلْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَٰرِقُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا۟ وَأَقْبَلُوا۟ عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾ قَالُوا۟ نَفْقِدُ صُوَاعَ ٱلْمَلِكِ وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا۠ بِهِۦ زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُم مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَٰرِقِينَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا۟ فَمَا جَزَٰٓؤُهُۥٓ إِن كُنتُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٧٤﴾ قَالُوا۟ جَزَٰٓؤُهُۥ مَن وُجِدَ فِى رَحْلِهِۦ فَهُوَ جَزَٰٓؤُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٥﴾ فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ أَخِيهِ ثُمَّ ٱسْتَخْرَجَهَا مِن وِعَآءِ أَخِيهِ ۚ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ ۖ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِى دِينِ ٱلْمَلِكِ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ۗ وَفَوْقَ كُلِّ ذِى عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴿٧٦﴾ * قَالُوٓا۟ إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِى نَفْسِهِۦ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا

وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ٧٧﴾

[٦٩] او کله چې د يعقوب زامن يوسف در بار ته ورننوتل، نو يوسف خپل سکنۍ ورور(بنيامين) ځان ته وروغوښت [او په غيږ کې يې کلک ونيؤ او پټ يې په غوږ کې ورته] وو يل: زه د ستا ورور يم او د هغوی په کړنو مه خفه کيږه، يعنی د زمونږ ميرنيو ورونو هغو بدو کړنو چې پخوا يې زما سره وکړل پروا مکره، او غم يې مخوره او کينه مه ورسره اخله!

هو! د يوسف عليه السلام دا سپارښت چې خپل سکني ورور ته يې وکه؛ هغه د يوسف عليه السلام د عفوې او ښښني لوړ مقام څرګندُوی ؤ، ځکه يوسف عليه السلام ته الله تعالی د عفوی او بدیو نه د تيريدو لوړ مقام ورکړي ؤ، او دا درونده خوی د پيغمبرانو او د دوی د وارثانو ځانګړتيا ده چې رتبې يې ور باندې ښې لوړ يږي او د ټولنې مشرتابه جګ مقام ته چې مشري ده رسيږي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د يوسف قصې بل پړاو په بيان کې فرمايلي دي:

[٧٠-٧١] او بيا چې کله [د يوسف د غلو خزانې کار کونکو] د هغه ورونو ته غلې تيارې کړې؛ د پيمانې ډولکه (جام) يې د يوسف سکه ورور(بنيامين) په وندې کې کيښود او د يوسف جارچي پر کاروانيانو غږ وکه او و يو يل: ای کاروانيانو! تاسې په يقين سره؛ غله ياستی! [او په دې نارې او اعلان سره کاروانيانو] دوی ته مخ راواړه او وې پوښتل: تاسې څه شئ ورک کړي دي؟

[٧٢] [د يوسف جارچي په ځواب کې] وو يل: د پاچا پيمانو جام ورک دئ او هر چا چې هغه راوړ د يؤ اوښ وندې غله ورته انعام ورکوو او زه يې ضامن او ذمه وار يم ا.

[٧٣] [د يوسف ورونو په ځواب کې ورته] وو يل: قسم پر الله دئ او تاسې يقينا پوهيږی چې مونږ د دې لپاره نه يو راغلي چې په ځمکه کې ورانئ او فساد وکړو او هيڅ کله مونږ د غلا کونکو نه نه وو.

[٧٤-٧٥] [او بيا د يوسف د غلو ګودام (ډيپو) کارکونکو و پوښتل] او

و يو يل: كه تاسې دروغژن وئ، نو د غله سزا څه شئ ده؟ [دوی په ځواب کې] وو يل: د غله سزا [د زمونږ په دين کې دا ده چې] غلا سوئ توکئ چې د هر چا سامان په وندې کې وموندل سه، نو هغه يې خپله سزا ده [يعنی د سامان څښتن يا خاوند ور باندې نيول کيږي او بندي کيږي] او مونږ ظالمانو ته [چې دوی غلا کړي]همداسې سزا ورکوو! يعنی ترڅو پند واخلي او بيا دا سې بد ونکړي.

[٧٦] [نو بيا د يوسف عليه السلام لاس لاندې کسانو(مزدورانو) د يوسف سکه ورور [بنيامين] د سامان نه وړاندې د هغه ميرنيو ورونو د سامانو وندېو لټونه پيل کړه] او بيايې د مصر پاچا د پيمانو ورک سوئ جام د يوسف سکه ورور د توکو يا د سامان وندې نه راوايست، هو! مونږ همداسې يوسف ته د هغه ورور د نيولو او ځان سره د ساتلو لار را لنډه کړه، ځکه يوسف د دې نه پرته د مصر په پاچايي قانون کې نسوۀ کولای چې خپل ورور (بنيامين) ونيسي [او د ځان سره يې برمته کړي] مګر دا چې الله وغواړي [او د هغه نيولو قانوني لار ورته جوړه کړي] او مونږ چې چا ته وغواړو د هغه مقام لوړوو [لکه څنګه چې مونږ د يوسف مقام لوړ که] او د هر عالم او پوهاند پر سر بل عالم او پوهاند سته، يعنی دا چې بيا ټول علم الله ته رسيږي او الله تعالی په پټ او ښکاره؛ هرڅه باندې علم لري او پرې پوه دئ، يعنی د الله نه هيڅ کم څه پټ نه دي، نو دغه د بنيامين نيولو او د ځان سره ساتلو قانوني لار يوسف ته الله تعالی وښودله.

[٧٧] [هو! د بشر په فطرت کې پټ کينجن خوی يوځل بيا د يوسف عليه السلام ميرې زامنو ته دا فرصت ورکه چې ترڅو د خپلو زړونو کينه يوسف عليه السلام سره را ښکاره کړي] نو و يو يل: که بنيامين غلا کړي ده، نو د هغه نه مخکې د ده يو ورور [يعنی يوسف] هم غلا کړې ؤ، نو يوسف د دوی دا دروغژنه کينه په زړه کې پټه کړه او دوی ته يې ښکاره نکړه [خو په زړه کې يوسف عليه السلام] د ځان سره وو يل چې تاسې ډير سپک خلک ياستئ او الله د ستاسې د دروغو په تور ښه پوه دئ، يعنی دا چې يوسف عليه السلام هيڅ

کله غل نه ؤ چې دغسې سامان بې غلا کړئ وي.

{د يوسف وروڼو وغوښتل چې د دوی بل ورور برمته کړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د يوسف ميرنيو وروڼو هغه زاری يادە کړي ده چې دوی د يوسف نه وغوښتل چې د بنيامين پرځای ده د دوی يو بل ورور ځان سره برمته کړي، او فرمايلي دي:

﴿قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ إِنَّ لَهُۥٓ أَبٗا شَيۡخٗا كَبِيرٗا فَخُذۡ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٧٨ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأۡخُذَ إِلَّا مَن وَجَدۡنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ إِنَّآ إِذٗا لَّظَٰلِمُونَ ٧٩﴾

[۷۸] [او د يوسف ميړې زامنو د دي و يناوو سره سره بيا هم دوی په ډيرې زاری سره د مصرخزانې مشر يوسف ته] وو يل: ای د مصر عزتمنه مشـــره! باور وکړه چې (بنيامين) يو ډير زوړ پلار لري، نو د هغه پرځای د زمونږ نه يو بل کس ونيسه او يقينا چې مونږ تا د ښو کړنو خلکونه و ينو، يعنی ته ډير ښـــه ســـړئ يې، نو د زمونږ دغه غوښـــتنه ومنه او د بنيامين پرځای د زمونږ بل يو ورور په جيل کې ځان سره وسا ته.

[۷۹] [نو يوســـف عليه السلام دوی ته په ځواب کې وو يل: معاذ الله] زه الله ته پناه وړم چې د هغه چا پرځای چې د زمونږ ســـامان (جام) د هغه ســـره پيدا سوي دئ؛ بل څوک ونيسو او په جيل کې يې واچوو [يعنی که مونږ دا کار وکړو، لکه څنګه چې د ســتاســي غوښـتنه ده] نو بيا به مونږ يقينا چې ظالمان وو، يعنی مونږ به پرحق باندې تيرئ کړئ وي او د ګناه ګار په ځای به مونږ بې ګناه سړئ نيولئ وي!

{کارو انيان شرميدلي خپل پلار يعقوب عليه السلام ته ورستانه سول}

او بيا الله تعالی په ور پســـې مبارکو آيتونوکې د يوســـف عليه السلام وروڼو شرميدلئ انځور مونږ ته وړاندې کړئ او بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿فَلَمَّا ٱسۡتَيۡـَٔسُواْ مِنۡهُ خَلَصُواْ نَجِيّٗاۖ قَالَ كَبِيرُهُمۡ أَلَمۡ تَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ

أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُم مَّوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ وَمِن قَبْلُ مَا فَرَّطتُّمْ فِى يُوسُفَ ۖ فَلَنْ أَبْرَحَ ٱلْأَرْضَ حَتَّىٰ يَأْذَنَ لِىٓ أَبِىٓ أَوْ يَحْكُمَ ٱللَّهُ لِى ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٨٠﴾ ٱرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَبِيكُمْ فَقُولُوا۟ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبْنَكَ سَرَقَ ۖ وَمَا شَهِدْنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا ۖ وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَٰفِظِينَ ﴿٨١﴾ وَسْـَٔلِ ٱلْقَرْيَةَ ٱلَّتِى كُنَّا فِيهَا وَٱلْعِيرَ ٱلَّتِىٓ أَقْبَلْنَا فِيهَا ۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٨٢﴾

[۸۰] [او بیا چې کله د یوسف میرني ورونه د بنیامین خوسي کیدونه ناهیلي سول] نو ځان ته یوازې سره جرګه سول چې څه وکړي؟ نو مشر ورورې وو یل:آیا تاسې نه پوهیږئ چې پلار مو د ستاسې نه د الله په نامه هوډ او پوخ تعهد اخستئ دئ چې خپل دا ورور به بیرته پلار ته ورکړئ، مګر دا چې بې وسې سوئ، او د هغه نه مخکې تاسې د یوسف په حق کې کمښت وکه [یعنی هغه تاسې ونه ساته او خپل پلار ته ملامت سوئ، ځکه د هغه سره تاسې خیانت وکه] نو زه د دې خاورې نه نه ښورېږم او هغه نه پرېږدم، ترڅو چې پلار را ته اجازه وکړي او یا الله ما ته د تګ حکم وکړي [او بیا خپل ورور د ځان سره بوځم] او الله د ښو حکمونو کړونکو نه دئ، یعنی د الله حکم پرحق او انصاف ولاړ دئ.

[۸۱-۸۲] او تاسې خپل پلار ته وروکړئ او هغه ته ووایې: ای د زمونږ اباجا نه! د ستا زوی په یقین سره غلا وکړه او دا خبره مونږ د ځان نه نکړو، ځکه مونږ پر هغه څه شاهدي وایو چې یقینا پرې پوه سو او هغه څه چې پټ او غیب دي مونږې ساتونکي او څارونکي نه وو، او ای پلاره! د هغه کلي خلکو نه و پوښته چې مونږ هلته وو او هم د هغو کاروانیانو نه پوښتنه وکړه چې مونږ ورسره بیرته راغلو، او یقینا چې مونږ صادقان او ر ښتیاو یونکي یو.

{یعقوب علیه السلام مشران ملامت کړل او د ورور اتک ته هیلمن سه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د یعقوب علیه السلام د نبوت نښو ته په اشارې سره فرمایلي دي:

﴿قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِيَنِى بِهِمْ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٨٣﴾ وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ ٱلْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٨٤﴾ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ تَفْتَؤُا۟ تَذْكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوْ تَكُونَ مِنَ ٱلْهَٰلِكِينَ ﴿٨٥﴾ قَالَ إِنَّمَآ أَشْكُوا۟ بَثِّى وَحُزْنِىٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾ يَٰبَنِىَّ ٱذْهَبُوا۟ فَتَحَسَّسُوا۟ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَا۟يْـَٔسُوا۟ مِن رَّوْحِ ٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ لَا يَا۟يْـَٔسُ مِن رَّوْحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨٧﴾ فَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَيْهِ قَالُوا۟ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا ٱلضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَٰعَةٍ مُّزْجَىٰةٍ فَأَوْفِ لَنَا ٱلْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَجْزِى ٱلْمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾﴾

[٨٣] [د يوسف عليه السلام ميرې زامنو ته د دوی پلار يعقوب عليه السلام په ځواب کې] وو يل: [نا! حقيقت دا سې نه دئ، لکه څنګه چې تاسې وايي] بلکې د ستاسې کينه کښو نفسونو او زړونو د کم بد کار کړل درته ښايسته کړل [يعنی تاسې يې ورته وهڅولې] خو زه صبر کړم [يعنی څه نه وايم او هيلمن يم] چې کيدای سي الله دوی ټول را ته راوړي، او يقينا چې الله ښه پوه او لوی حکيم پالونکئ ذات دئ.

[٨٤] او بيا يعقوب د خپلو زامنو نه بيرته وګرځيده او په آه او افسوس سره يې وو يل: ای يوسفه! څه سوي؟ او د يعقوب سترګو تور د ډير خفتيان نه سپين سول او دئ ډير غمجن او خفه ؤ، يعنی خو چا ته يې شکايت نه کا ؤ.

[٨٥] او زامنويې يعقوب ته وو يل: پلاره! قسم پرخدای دئ! چې ته تراوسه يوسف يادوي [يعنی هغه پسې خفه او غمجن يې] او لنډه ده چې د ډير غم او خفتيان نه مرګ ته ورلنډ سې او يا به د ډيرې ضعيفۍ نه د

مړو او هلاک سوو نه وي!

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې بيا الله تعالى د يعقوب عليه السلام هغه حکم ياد کړئ دئ چې هغه خپلو زامنو ته وو يل: لاړسئ او ورکو ورونو پسې مو وګرځئ، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

[٨٦] [نو بيا يعقوب عليه السلام د زامنو په ځواب کې] وو يل: هو! زه خپل لوی غم او خفتيان الله ته وايم، ځکه زه د الله لخوا په هغه څه پوهيږم چې تاسې ور باندې نه پوهيږي!

[٨٧] [او بيا يعقوب عليه السلام خپلو زامنو ته حکم وکه او و يو يل] ای زامنو! بيرته مصر ته لاړ سئ او د يوسف او د ورور پلټنه يې وکړئ او هغه پسې وګرځئ او د الله رحمت نه مه ناهيلې کيږئ، ځکه د الله رحمت نه يوازې کافران ناهيله کيږي!

درندو دوستانو! مومنان چې د الله تعالى پر لو يو قدرتونو او ورکړو باندې کلک باور لري؛ د الله رحمت نه هيڅ کله نه ناهيلې کيږي، خو کافران چې د الله توحيد او لو يو قدرتو نه منکر دي؛ ډير ژر ناهيلې کيږي او مقصد ته د رسيدو مزل په نيمه لار کې پر يږدي، نو د يعقوب عليه السلام دا سپارښت د الله وحيه ؤ چې هغه ته سوي ؤ او تاييديې په قرآن کې په وار وار سره راغلئ دئ.

[٨٨] [نو بيا چې کله د يوسف ورونه بيرته مصر ته لاړل او د ښار واکمن ارګ ته] ورننوتل، نو وو يل: ای عزتمنه! مونږ او د زمونږ کورنۍ ولږې او قحطۍ ځپلي يو او مونږ د ځان سره د غلې ډيره لږ بيعه راوړي ده، نو ته مونږ ته پوره غله را کړه او د زمونږ سره د بسپنې مرسته وکړه او يقينا چې الله خيرات ورکونکو ته ثواب ورکوي.

هو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې د يعقوب عليه السلام د بل زوی چې د يوسف عليه السلام مورنئ سکه ورور ؤ؛ د ورکيدو او په مصر کې د غلا په تور د بندي کيدو قصه مونږ ته کړی ده، او هغه دا چې، کله يعقوب عليه السلام د

يوسف سکنئ ورور(بنيامين) د تګ سره مصر ته د هغه هيواد د خزانې مشر په غوښتنه موافقه وکړه، او دوی مصر ته لاړل، نو بيا يوسف عليه السلام خپل سکنئ ورور ځان ته وروغوښت او ويې ويل ځان هغه ته ورو پيژاند او هغه يې ډاډمن که او بيايې د ميرنيو ورونو د کاروان نه د هغه ستنولو قانوني پلمه جوړه کړه، ترڅو په دې ډول دوی ټول د خپل غمچن پلار او ټولې کورنۍ سره مصر ته راسي او د قحطې ولږې نه نور خلاص سي، نو کله چې د يوسف ورونه بيرته خپل پلار ته ورستانه سول او پلارې د بنيامين غلا تور نه خبرکه، نو يعقوب عليه السلام ډير خفه او غچمن سه او د زامنو خبرې يې د هغه زړه ته ورننه نه وتلې او زړه يې ورته کواهي ورکړه چې الله به ان شاءالله دوی ټول بيرته ورته را ولي، نو هغه ؤ چې خپلو زامنو ته يې حکم وکه چې ټول بيرته مصر ته لاړ سی، ترڅو هلته په مصر کې د خپلو ټولو ورکو ورونو پوښتنه وکړی او ور پسې وګرځی، او ورته يې وو يل هيڅ کله د الله رحمت نه مه ناهيلې کيږی، نو بيا همداسې سؤ او يوسف عليه السلام دوی ته خپل ځان ورو پژاند، نو دوی وو يل ته يوسف يې؟

{الله د متقيانو او صابر انو ثواب نه ضائع کوي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې د همدې قصې پاتې بيان کې الله تعالى فرمايلي دي چې يوسف عليه السلام خپل ورونه؛ کلک ملامت کړل او ځان يې ورو پيژاند او و يو يل:

﴿قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُم مَّا فَعَلۡتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذۡ أَنتُمۡ جَٰهِلُونَ ٨٩ قَالُوٓاْ أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِيۖ قَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَآۖ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٩٠ قَالُواْ تَٱللَّهِ لَقَدۡ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَإِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ ٩١ قَالَ لَا تَثۡرِيبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَۖ يَغۡفِرُ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ٩٢ ٱذۡهَبُواْ بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلۡقُوهُ عَلَىٰ وَجۡهِ أَبِي يَأۡتِ بَصِيرٗا وَأۡتُونِي

أَجْمَعِينَ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا فَصَلَتِ ٱلْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ ۖ لَوْلَآ أَن تُفَنِّدُونِ ﴿٩٤﴾ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ إِنَّكَ لَفِى ضَلَٰلِكَ ٱلْقَدِيمِ ﴿٩٥﴾ فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلْبَشِيرُ أَلْقَىٰهُ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ فَٱرْتَدَّ بَصِيرًا ۖ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّىٓ أَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾ قَالُوا۟ يَٰٓأَبَانَا ٱسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَآ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ ﴿٩٧﴾ قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّىٓ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾

[٨٩] [او بيا چې کله يوسف عليه السلام د دوی دا زاری واور يده، نو بيا د هغه زړه پردوی وسوز يده او خپل ځان يې ورو پيژاند] او و يو يل: آيا اوس په دې پوه سوی او هغه وخت د ستاسې راپه ياد سه چې تاسې د يوسف او د هغه ورور سره څومره بد وکړل؟ او دا ځکه چې تاسې په هغه وخت کې په هيڅ څه نه پوهيدلی او پر نا پوهۍ کې ورک وی!

[٩٠] [نو بيا د يوسف ناسکه ورونه هک پک سول او ناڅاپه دوی وو يل: آيا ته په يقين سره يوسف يې؟ [يوسف عليه السلام په ځواب کې هغوی ته]وو يل: هو! زه يوسف يم او دا زما سکه ورور دئ، او يقينا چې دغسې پيرزو ينه پرمونږ باندې الله وکړه او د کلونو کلونو بيلتون نه وروسته يې بيرته سره يوځای کړو، نو ر ښتيا چې څوک تقوا وکړي [يعنی د الله تعالی حکمونو په چلولو سره د الله عذاب نه ځان وساتي] او ستونزې وزغمې او صبر وکړي، نو الله د محسنانو او د ښو کړنو خاوندانو ثواب نه ضائع کوي، يعنی ستونزې يې پراسانتيا بدلوي او عزت او سرلوړي ورکوي.

[٩١] [او بيا د يوسف دغو ورونو پرالله لوړه وکړه] او و يو يل قسم پرالله دئ چې ته يې پرمونږ باندې غوره کړي [يعنی عزتمن او لوړې کړي] او دا چې [مونږ د ستا سره بد وکړل] نو مونږ تيروتي وو، يعنی نو مونږ پرخپلو بدو کړنو باندې؛ کلک پښيمانه يو او مونږ و بښه.

[٩٢] [نو بيا يوسف عليه السلام په ځواب کې ورته] وو يل: اوس پرتاسې څه

ملامتي نسته [یعنی زه ستاسي سره حساب نکړم او دعا کړم چې] الله ده ستاسي ګناه درته و بښي او الله د ټولو رحمت لرونکو نه ډیر مهر بان دئ.

[٩٣] او تاسي لاړ سی او د زما دغه کمیس درسره یوسی او هغه د زما پلار پر مخ را واچوی، ترڅو په رڼو سترګو را سي او خپله ټوله کورنۍ ما ته راولی، یعنی ترڅو تاسي ټول د زما په پالنه عزتمن سی.

[٩٤] او کله چې د دوی [یعنی د یوسف کینه کښو ورونو] کاروان د مصر نه راووت پلارپې وو یل: که تاسي ما پر پرته و یلو تورن نکړی [نو زه وایم] یقینا چې زه د یوسف بوی مومم، یعنی بوی پې د زما سوړمو ته راځي!

[٩٥] خو د کورنۍ غړوپې ورغبرګه کړه او و یو یل: پر الله قسم دئ چې ته لا تر اوسه په خپله زړه ورکتیا کې پې، یعنی د یوسف علیه السلام مینه ده په زړه کې پخه ده او هغه نه هیروې.

عزتمنو دوستانو! او همداسي ورو ورو د یعقوب علیه السلام ارمان د یوسف علیه السلام په میندلو کې مخ په ر یښتیا کیدو سه او کورنۍ ته پې د یوسف علیه السلام ز یرئ په یقین سره راغئ، او په بیان کې پې الله تعالی په ور پسې مبارك آیت کې فرمایلي دي:

[٩٦] نو بیا چې کله یعقوب ته ز یرئ ورکونکئ راغئ او د یوسف د ژوند ز یرئ پې ورکه او د یوسف کمیس پې د هغه پر مخ ورواچا ؤ، نو یعقوب بیرته بینا سه [یعنی سترګې پې رڼې سوې او وغوړ یدلې او غړپې وکه او کورنۍ غړو ته پې] و یو یل: آیا تاسي ته ما ونه و یل چې یقینا زه د الله له لخوا په هغه څه ښه پوهیږم چې تاسي ور باندي نه پوهیږئ، یعنی زه د الله په فضل او رحمت باندې د ستاسي نه ښه پوهیږم، خو تاسي پې نه منې!

[٩٧-٩٨] [نو بیا د یعقوب زامنو خپل پلار یعقوب علیه السلام نه وغوښتل چې دوی ته د الله نه بښنه وغواړي] او و یو یل: ای د زمونږ پلاره! یقیناچې مونږ تیروتي وو[یعنی ګناه ګار یو او د یوسف علیه السلام او د هغه سکه ورور سره مونږ بد وکړل] نو ته د الله نه مونږ ته بښنه وغواړه، نو بیا یعقوب دوی ته وو یل ښه ده زه به د خپل رب نه تاسي ته بښنه وغواړم، او یقینا

چې الله ښه ښوونکئ او ښه مهربان لوی ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! د یعقوب عليه السلام دا زړه سواندئ پرخپلو زامنو باندې د دوی د ټولو بدو کړنو سره سره د پلار لور ینه، عفوه او ښښنه د خپلو زامنو تیروتنو نه څرګندوي، نو ښایي چې ټول زامن د خپلو پلرونو پردغسې لو یه حوصیله، صبر او زغم باندې ښه پوه سي او د دوی د لوی مقام قدر وکړي او خوښي یې تل وغواړي او د دوی حق په خوښۍ سره تل پرځای کړي، او خدمت یې تل تیار سئ چمتو ولاړ وي.

{د یوسف مور او پلار دواړو یوسف ته د درناوي سجده وکړه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د یوسف عليه السلام خوب ر ښتیا کیدل یاد کړي دي، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿فَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ وَقَالَ ٱدْخُلُوا۟ مِصْرَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ ﴿٩٩﴾ وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى ٱلْعَرْشِ وَخَرُّوا۟ لَهُۥ سُجَّدًا ۖ وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَىَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّى حَقًّا ۖ وَقَدْ أَحْسَنَ بِىٓ إِذْ أَخْرَجَنِى مِنَ ٱلسِّجْنِ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلْبَدْوِ مِنۢ بَعْدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيْطَٰنُ بَيْنِى وَبَيْنَ إِخْوَتِىٓ ۚ إِنَّ رَبِّى لَطِيفٌ لِّمَا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٠٠﴾﴾

[٩٩] [نو بیا چې یعقوب عليه السلام او کورنۍ یې د یوسف عليه السلام لیدلو ته مخ په مصر وخوځیدل] او مصر ته ورننوتل، نو یوسف خپل مور او پلار په غېږکې ونیول [او هرکلئ او ستړي مسي یې ورسره وکړل، نو بیایې دوی ته وو یل: دا دئ تاسې د الله تعالی په مرسته او اراده دلته راغلی] او د الله په حکم په پوره ډاډ سره ښار ته ورننوځئ، یعنی خوښ او ډاډه پکې واوسیږئ.

[١٠٠] او بیا یوسف خپل مور او پلار د [پاچایي] په تخت باندې جګ کړل [او پاس یې پرې کینول] او دوی دواړو د یوسف مخکې الله ته د شکر په سجده پر یوتل [نو په دې وخت کې یوسف عليه السلام غږ وکه] او و یو یل: ای پلار جانه! دا دئ زما د پخواني خوب تعبیر او ر ښتیا چې هغه د زما

رب حق وګرځا ؤ، او زما سره زما رب ډيرښه وکړل، زه يې د جيل نه راوايستلم او تاسې يې د ډاګو باندو نه را ته را وستلې [يعنې نو دا پيرزو ينه الله تعالى د کلنو کلنو بيلتون نه وروسته؛ زمونږ په برخه کړه] هو! کله چې شيطان د زما وروڼو په زړونو کې زما سره کينه واچوله [يعنې مونږپې سره بيل کړو، خو دا دئ اوس الله تعالى را باندې خپل رحمت ولورا ؤ] او يقينا چې د زما رب الله خپلو بنده ګانو سره چې څه غواړي په ډيرې مهر بانۍ لطف ورسره کړي، او يقيناچې الله ښه پوه او حکيم ذات دئ، يعنى د ټولو مخلوقاتو چارې الله په لوى علم، پوه او حکمت سره سمبالوي.

{ يوسف عليه السلام د الله پيرزو يې او د ښو خلکو ملتيا وغوښته }

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې د يوسف عليه السلام د شکر و ستلو يادونه کړې ده ا و په بيان کې فرمايلي دي:

﴿*رَبِّ قَدْ ءَاتَيْتَنِي مِنَ ٱلْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِۚ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَنتَ وَلِيِّۦ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِۖ تَوَفَّنِى مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِى بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠١﴾﴾

[١٠١] [او بيا يوسف عليه السلام خپل رب سره په مناجات کې دعا وکړه او په دعاء کې يې وو يل:] اى د زما ر به او لو يه څښتنه! يقينا چې ما ته تا پاچايې را کړه او د خو بونو تعبير ده رازده که، او ته د اسمانونو او ځمکى پيدا کونکې څښتن يې، او په دنيا او آخرت کې ته د زما مل يې، نو ته ما د دنيا نه مسلمان بوزه او د صالحانو سره ما يوځاى کړه!

روايت سوئ دئ چې الله تعالى د يوسف دا دعا قبوله کړه، او بيا د اوږده عمر نه وروسته مړ سه او د خپل رب ملاقات ته خپلو پلرونو پسې ورغئ، ځکه دوى پيغمبران او صالحان ول.

ګرانو دوستانو! دا ؤ د يوسف عليه السلام اوږده قصه چې هغه يقينا هر هوښيار او صابر بنده ته، مخصوصا د پيغمبرانو د لارې صبرناکه او د کلک عزم او قوي تصميم او پخې ارادى خاوندانو ته؛ ډيرې ازرښتناکه

لارښودنې دي، نو ښايي چې دا قصه په وار وار سره ولولو او هغه د الله دين ته د دعوت او رابلنې په لار کې ځان ته د بر يښنا چراغ وګرځوو، ترڅو لار را ته ژباړه کړي او هغه خندونه چې د دعاتو مخې ته راځي هغه د علم او د صبر په وسيله د دوی د لارې نه لرې کړي.

{يوسف عليه السلام ته د الله پټې خبرې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته د ډاډ پيغام دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د اسلام پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم باندې غږ کړي دئ او د يوسف عليه السلام د قصې په ژباړه کې يې ورته ښې غوره سپارښتنې کړې دي، او فرمايلې دي:

﴿ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۖ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ أَجْمَعُوٓا۟ أَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُونَ ﴿١٠٢﴾ وَمَآ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾﴾

[١٠٢] ای پيغمبره! دا قصه د هغو پټو قصونه ؤ چې هغه تا ته مونږ وحيه کوو، او ته په هغه وخت کې د دوی سره نه وې، کله چې د يوسف ورونه سره را ټول سول [او په کوئي يا ځاه کې يې د يوسف غورځول فيصله کړل او د هغه پر ضديې دغه بې رحمه توطئه جوړه کړه] هو؛ ته ای پيغمبره! هلته د دوی سره نه وې، يعنی نو دا قصه د ستا پيغمبرۍ پر حقانيت او ر يښتينوالي او صدق باندې؛ لوی دليل دئ، ځکه ته الله د پټو قصونه خبر کړې، لکه د يوسف عليه السلام د مظلوميت دغه اوږده غميزه!

[١٠٣] [خو د دې سره سره بيا هم] ډير خلک مومنان نه دي، که څه هم ته ای پيغمبره! د دوی پرايمان راوړو باندې حرص وکړې، يعنی نو ته ای پيغمبره! مه خفه کيږه، ځکه تا خپل رسالت په ځای که او د الله تعالى دين ده خلکو ته په پوره اخلاص او امانت سره ورسا ؤ.

[١٠٤] او ته ای پيغمبره! د دين په تبليغ او خلکو ته د هغه په رسولو باندې د دوی نه اجرت او مزدوري نه غواړې، او دا پيغام چې ته يې استازئ يې؛ خلکو ته الهي لارښودنې دي، يعنی هغه د ټول عالم او نړۍ خلکو ته د الله تعالى لخوا وعظ او ارشاد او د ګټې اخستلو بلنه ده، نو که څوک

هوښـــيار وي؛ هغه اوري او ايمان راوړي او تا پســې ځي او كه ناپوه او د محرومانو نه وي، نو په دنيا او آخرت كې به مختورن وي.

{كافران په كائناتو كې د الله قدرتونو نښانو نه مخ اړوي}

او په ور پسې مباركو آيتونو كې مونږ الله تعالى د كافرانو هغو كركجنو خو يونو نه خبر كړي يو چې دوى د الله تعالى لوى قدرتونه په ځمكه او اســمانو كې په ســترګو و يني، خو ورځخه منكر دي او ايمان نه راوړي، او په بيان كې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَكَأَيِّن مِّنْ ءَايَةٍ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ ﴿١٠٥﴾ وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴿١٠٦﴾ أَفَأَمِنُوٓاْ أَن تَأْتِيَهُمْ غَٰشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ ٱللَّهِ أَوْ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٠٧﴾﴾

[١٠٥-١٠٦] او په اسمانو او ځمكه كې د الله د قدرتونو ډيرې نښانې خورې وړې پرتې دي، او خلك ور باندې تيريږي را تيريږي [يعنى هغه په سترګو و يني] خو ورځخه مخ اړوي، يعنى هغه نه مني او پرالله تعالى ايمان نه راوړي، او د دوى نه ډير كسان د الله په يو والي او توحيد ايمان نه لري [كه څه هم په خوله وايي چې مونږ الله پيدا كړي يو او خالق او رازق مو الله دئ] خو دوى مشــركان دي، يعنى بتان د الله ســره په عبادت كې كډوي!

[١٠٧] نو آيا دغه كافران د الله هغه عذاب نه په ډاډ او امن كې دي [چې كيداى سي] هغه پر دوى راسي او لاندې كړي؟ او يا دا چې ناڅاپه به پر دوى باندې قيامت راســي چې دوى به هيڅ فكر نكړي؟ يعنى دا چې نه ښــايي خلك د الله تعالى ســزا نه بې پروا او په ډاډ كې ســي، ځكه د الله عذاب او د قيامت ورځ كيداى سي ناڅاپه پر دوى باندې راسي!

هو؛ درندو عز يزانو! د الله تعالى لو يو قدرتونو نښې په اسمانو او په ځمكه كې او د زمونږ په ځانو كې خورې وړې نښــې څرګندې ځليږي، خو

مونږ او په ځانګړي ډول کافران پکې هیڅ فکر نکړي او په ډیرې بې غورۍ سره ورڅخه تیریږي، او کافران ایمان نه راوړي، لکه څنګه چې کله په تیره شلمه پیړۍ کې یو لمړنۍ روسۍ هوانورد په فضایي پیړۍ کې سپور د ځمکې پولو نه بهرنۍ فضا ته ووت؛ او د الله تعالی دا ټول لوی مخلوقات پې هیر کړل او په خپله کبرجنه خوله یې وو یل: خدای چیر ته دئ؟ ما خو ونه لیده؟ (العیاذ بالله) او دغسې کبرجن ځلانده کفر په اوسني الحادي عصر کې د ډیرو کافرانو نه اور یدل سوئ دئ!

{رسول الله خپله تګ لاره چې په پوهاوي ولاړه ده اعلان کړه}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مونږ د خپلې هغې ارزښتناکه لارښودنې نه خبر کړي یو چې خپل استازي ته یې کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ أَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِى ۖ وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٨﴾﴾

[١٠٨] [نو بیا الله تعالی د یوسف علیه السلام اوږدې قصې په پای کې د اسلام پیغمبر محمد ﷺ ته سپارښت وکه چې خپله دعوتي تګ لاره خلکو ته اعلان کړي او ورته یې وو یل:] ای پیغمبره! خپل قوم او نورو ټولو خلکو ته خبر ورکړه او ورته ووایه: دا ده د زما تګ لار! او زه او پر ما پسې [په پاخه یقین سره روان کسان ؛ ټول خلک د الله توحید ته] په ښه پوهه رابولو او الله د شر یکانو نه پاک دئ، او زه د مشرکانو نه نیم، یعنی هیڅ څوک د الله سره په عبادت او بنده ګۍ کې نه شر یکوم او په وحدانیت یا توحید سره یې عبادت او بنده ګي کړم.

{ټول پیغمبران الله تعالی د کلیو او ښارونه نار ینه غوره کړل}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی هغه لوی حقیقت یاد کړئ او بیان کړئ دئ چې پکې ټول پیغمبران الله تعالی په خپل لوی علم او حکمت سره نار ینه غوره کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِىٓ إِلَيْهِم مِّنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰٓ ۗ أَفَلَمْ

يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۗ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْۗ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٠٩ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُۖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُنَا عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ١١٠ لَقَدۡ كَانَ فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ مَا كَانَ حَدِيثٗا يُفۡتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ١١١

[١٠٩] او ای پیغمبره! ستا نه پخوا ټول پیغمبران مونږ د همدې کلیو او ښارونو نار ینوو نه غوره کړي دي، او دوی ته مونږ وحیه کړې ده [یعنی مونږ خپل کتابونه پر دوی باندې رانازل کړي دي، ترڅو هغه خپلو امتونو او ولسونو ته ورسوي، او د پیغمبرانو نه هیڅ څوک ملائکې نه وې] نو آیا دا کسان [چې د ستا پیغمبري نه مني] په ځمکه کې نګرځي او تار یخ نه لولي؟ ترڅو وو یې چې د دوی نه مخکې [هغو ولسونو چې ایمان یې رانوړ] عاقبت او راتلونکې یې څنګه سؤ؟ [ځواب دا چې هغوی ټول هلاك سول او لمنځه لاړل] او آخرت هغو کسانو ته ډیر غوره اوښه ځای دئ چې دوی خپل ځانونه د الله عذاب نه وساتل او ایمان راوړ، نو آیا تاسي ای خلکو! عقل نه لرئ؟ یعنی د تیرو ولسونو نه پند او عبرت نه اخلي؟ او پرځپل پیغمبر ایمان نه راوړی او حق نه مني، او خپلو هغو غوښتنو نه چې وایي ولې فرښته یا ملائکه تاسي ته پیغمبر نه دئ راغلئ؛ لاس نه اخلی؟ یعنی ښایي حق ومنو او په قر یشي پیغمبر محمد ﷺ باندې ایمان راوړی.

[١١٠] [هو! ای پیغمبره! پخواني پیغمبران دومره ډیر وزور یدل] چې ترڅو ناهیلي سول او داسې یې وانګیرله چې دوی دروغژن وګڼل سول [یعنی، لکه دا چې امتونویې دوی تکذیب کړل] نو بیا په دې وخت کې د زمونږ مرسته ورته راغله، نو بیا چې څوک مونږ وغوښت هغه نجات بیاموند، او د زمونږ عذاب او سزا د هغو مجرمانو نه [چې دوی د الله او پیغمبرانو سره دښمني کړي ده] هیڅ څوک سپمولای نسي!

هو! ګرانو دوستانو! الله تعالى په دې مبارك آيت کې رسول الله ﷺ ته تسلیت او ډاډ ورکړئ دئ، او دا تسلیت او اطمئنان ټولو دعاتو ته د ډاډ پیغام دئ، او ښایي چې دوی هیڅ کله د الله نصرت نه ناهیلي نسي او هدف ته د رسیدو لپاره تلوار او عجله ونکړي.

او بیا د یوسف مبارکې سورې په وروستي مبارك آیت کې د پخوانیو پیغمرانو قصې د اسلام پیغمبر ﷺ او د هغه دعوت وارثانو ته الله تعالى د زدکړې او عبرت اخستلو پیغام بللئ دئ، او فرمایلي دي:

[۱۱۱] او یقینا چې د پخوانیو پیغمبرانو په قصوکې هوښیارانو ته لوی لوی عبرتونه او زد کړې دي، او قرآن دروغ خبرې نه دي چې افترا سوې وي، بلکې هغه د مخکنیو کتابونو تصدیق کوي، یعنی پخواني کتابونه په کلکه سره تاییدوي او قرآن د هرڅه بیانونکئ کتاب دئ او مومنانو ته لارښود او د الله رحمت پیغام دئ.

قدرمنو وروڼو خو یندو! الله تعالى په دې پاڅه ز یري سره مومنانو ته د یوسف عليه السلام سوره پای ته رسولې ده، نو ښایی چې مومنان د قرآن لارښودنو نه پوره ګټه واخلي، ترڅو د الله تعالى رحمت او مهر بانی نه برخمن سي او د دنیا او آخرت نیکمرغي یې په برخه سي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إاليك.



د الرعد سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الرعد مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

عزتمنو دوستانو! د الرعد مبارکه سوره د یوسف او هود سورو غوندې مکې سوره ده، او آیتونویې د مکې دورې آیتونو ته ورته د الله تعالى هغه لو یتیا او عظمت یاد کړئ او بیان کړئ دئ چې نښې یې په اسمانو او پرځمکه څرګندې او ښې خورې ځلیږي، او همدارنګه د ایمان نورې ډیرې مسئلې، لکه د قیامت په ورځ د خلکو بیرته راژوندي کیدل او د حق بر یا پر باطل باندې په تل پاتې اوږده جګړه کې، او داسې نورې عقیدتي مسئلې په دې مبارکه سوره کې؛ یادې سوې او بیان سوې دي، او په ځینې مصحفونو کې بیا د الرعد سوره مدني سوره بلل سوې ده، خو هغه د دې مبارکې سورې آیتونو معنا سره همغږې نه ښکاري.

او د الرعد دا مبارکه سوره، لکه د هغې نه وړاندې سورې؛ د هجاء په تورو باندې چې په مقطعاتو او پر یکړل سوو حرفونو باندې یادیږي؛ پیل سوې ده، او مقصد او غرض یې -والله اعلم بالصواب- د قرآن مجید بیاني اعجاز څرګندول دي، یعنی عظیم الشان قرآن چې د الله تعالى نه په حق سره راغلئ کتاب دئ؛ د همدې عربي ژبې په تورو لیکل سوئ او لوستل کیږي، نو که د عر بانو شاعران، ادیبان او پوهان پکې شك لري، نو هغه ته ورته کتاب او یا د هغه آیتونو غوندې آیتونه ده راوړي، خو د عر بانو پوهان بیا د دغسې ننګونې پر وړاندې عاجز او بې وسې سول، نو د قرآن مجید حقانیت او ر یښتینوالئ ټولو ته په یقین سره څرګند او ثابت سه، نو ښایي چې هیڅ څوک پکې شکمن نسي او په یقین سره یې ومني او ایمان راوړي.

او په دې لاندې کرښوکې د الرعد سورې مبارکو آیتونو پښتو معنا او لنډ تفسیر وړاندې کیږي، او په پیل کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

{قرآن حق دئ خو ډیر خلک باور نکړي او د الله توحید نه مني}

﴿الٓمٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِۗ وَٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ١ ٱللَّهُ ٱلَّذِي رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ٢ وَهُوَ ٱلَّذِي مَدَّ ٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۡهَٰرٗاۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٣ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٤ ۞وَإِن تَعۡجَبۡ فَعَجَبٞ قَوۡلُهُمۡ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدٍۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِيٓ أَعۡنَاقِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٥﴾

[۱] ای پیغمبره! د (الف، لام، را) [نه جوړ سوي آیتونه] د قرآن هغه آیتونه دي چې پر تا باندې په حق سره را نازل سوي دي، خو ډیر خلک ایمان نه راوړي، یعنی قرآن چې د الله حق کتاب دئ نه مني!

[۲] او الله [هغه ځواکمن او لوی قادر ذات دئ] چې اسمانونه یې د ستنو نه پرته چې هغه تاسې وو یې پورته جګ کړي دي، او بیا الله پاس پر عرش باندې [هغسې چې د الله تعالی لوړ مقام سره لائق ؤ] استوا وکړه [یعنی پرعرش داسې مستوي سه چې د ټولو مخلوقاتو واکمن پاچا او د چارو چلونکئ او سمبالونکئ دئ] او لمر او سپوږمی الله [خپلو ټولو

مخلوقاتو ته د ګټې رسولو لپاره تسخیر او تابع کړل] او لمر او سپوږمۍ دواړه د ټاکل سوې نیټې پورې [چې هغه د قیامت ورځ ده؛ همداسې د خپل څرخ په دائره کې سره ګرځي را ګرځي] او الله د ټولو مخلوقاتو چارې خپله چلوي او دلیلونه یې په ډیر تفصیل سره بیانوي، ترڅو تاسې ای خلکو! د خپل رب الله سره د قیامت په ورځ په یوځای کیدو او پر ملاقات باور وکړئ، یعنی ایمان راوړئ او ځانونه د الله تعالی سره ملاقات ته تیار کړئ!

[٣] او الله هغه څوک دئ چې ځمکه یې اوږده خوره کړه او غرونه یې ور باندې میخ کړل او سیندونه یې پکې جاري کړل، او ټولې میوې یې دؤ دؤ جوړې وګرځولې [خوږې تروې، سپینې توري، دانه دارې او بې دانې او داسې نورې ډول ډول میوې] او الله شپه پر ورځ او ورځ پر شپه پټوي [یعنی یؤ بلې پسې راځي] او یقینا چې په دې کې د هغو خلکو لپاره چې ښه فکر کړي د الله قدرتونو لویې نښانې او دلیلونه نغښتي دي، یعنی دا دلیلونه ډیر ښکاره او روښانه دي او هر څوک هغه و یني او پرې پوهیږي.

[٤] او ټول پټې پردې ځمکه څنګ پرځنګ سره پراته دي، او ډول ډول کښتونه او باغونه پکې شنه دي، لکه انګور، کجورې یا خرما، او د غلو کښتونه چې ځینې یې په یؤ ر یښه او کُنده کې راشنې سوې دي، او ځینې نورې په بیلو بیلو ر یښوکې، او هغه ټول په یوو او بو خړوبیږي، خو ځینې یې مونږ پرځینې نورو باندې په خوړوکې خوندورې غوره کړې دي، او یقینا چې په دې کې هوښیارانو ته چې ښه فکر کړي؛ د الله قدرتونو لویې نښانې ښکاره ځلیږي، یعنی هغه د الله په لو یتیا او عظمت باندې څرګنده نښه او کلک دلیل دئ، نو ښایي چې یوازې د الله تعالی بنده کې وسي.

[٥] او ای پیغمبره! که ته [د دې ټولو ښکاره دلیلونو او نښانو سره سره د الله تعالی په شتون او په توحید کې] د کافرانو په خبره [چې دوی ورځخه انکار کړي او ایمان نه راوړلې] تعجب وکړي او ورته حیران سي، نو لدې نه ډیر د کافرانو هغه و ینا وې؛ د تعجب او حیرانتیا وړ دي چې وایي: آیا مونږ وروسته لدې چې خاورې سو بیرته را ژوندي کیږو، او بیا به نوي

را پیدا سو؟ [یعنی دا چې خاورې سوي مړي بیرته نه راژوندي کیږي، نو ته ای پیغمبره! په دې پوه سه چې] کافران هغه کسان دي چې پر خپل رب الله باندې کافران سول [یعنی د الله نه منکر دي او هغه نه پیژني، او لوی قدرتونه یې نه مني] او د قیامت په ورځ به د دوی په غاړو کې زنز یرونه پراته وي، ځکه دوی دوزخیان دي او د دوزخ په اور کې به تل پاتې کړ یږي!

ګرانو دوستانو! په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د قرآن حقانیت او ر ښتینوالئ چې هغه د الله نه پر پیغمبرﷺ باندې په حق سره را نازل سوئ کتاب دئ او هغه رسول اللهﷺ د ځان نه ندئ راوړئ؛ بیان کړئ دئ، او بیا الله تعالی د خپلو لو یو قدرتونو نښې پرځمکه او اسمانو کې یادې کړې دي او د خپل لوړتیا صفت یې چې پاس پر عرش باندې استوا ده؛ هغسې بیان کړئ دئ چې د الله تعالی لوړ مقام سره ښایي او پکې هیڅ څوک سیال نه لري، او یقینا چې دغه د الله تعالی لو یو قدرتونو ټولې نښې هغو هوښیارانو ته چې دوی ښه فکر کړي؛ پر الله باندې د ایمان راوړلو؛ غوره دلیلونه دي، خو د دې سره سره بیا هم د ستا قوم قر یش ای پیغمبره! ورځخه منکر دئ او ایمان نه راوړي، نو یقینا چې دوی دوزخیان دي او تل به د جهنم په سره اور کې کړ یدلي سوز یږي!

هو! دا د هغو کافرانو او شیطان پسې تللو لښکرو د ناپوهۍ او د کبر او کینو ځلاند انځور او ژوندئ تصو یر دئ چې د بده مرغه د بشر یت اوږد تار یخ ور باندې تل ډک دئ، او دا لړۍ به د قیامت ورځې پورې همداسې روانه وي، نو حقپالانو ته چې دوی خپله مومنان دي او نور خلک حق ته او په الله باندې ایمان را وړو ته رابولي؛ ښایي چې هیڅ کله خفه او بې صبره نسي، ځکه د دوی رسالت یوازې تبلیغ او په دې لار کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې او کوښښ دئ، او د خلکو کفر او اسلام د دوی په واک کې نه دئ، ځکه هغه یوازې د الله په واک کې دئ، او څوک چې د اسلام لائق وي، نو بیا هغه ته الله تعالی د ایمان را وړو توفیق ورکوي.

{ د مکې خلکو پخوانیو کافرانو غوندې عذاب وغوښت }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی همداسې د کافرانو ناسم او

ناروا چلند د حق سره یاد کړئ او بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِمُ الْمَثُلَاتُ ۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ ۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٦﴾ وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۗ إِنَّمَا أَنتَ مُنذِرٌ ۖ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴿٧﴾﴾

[٦] ای پیغمبره! او[دغه کافران چې حق نه مني او د ستا پیغمبري دروغ بولي] دوی د نیکۍ نه مخکې د بدۍ غوښتونکي دي [یعنی غواړي د الله هغه سزا پر دوی باندې را نازله سي چې ته دوی د هغې نه ګوابنې] او د دوی نه پخوا امتونو کې د دغسې جاهلانو او کبرجنو کافرانو مثالونه او بیلګې ښې ډیرې تیرې سوې دي، خو یقینا چې د ستا رب الله ای پیغمبره! دغو خلکو ته د دوی د کفر او ظلم سره سره بیا هم بښونکئ دئ او د ستا رب کبرجنو کافرانو ته چې د زور ځواکۍ نه ایمان نه راوړي یقینا کلک سزا ورکونکئ لوی خدای دئ.

[٧] او دغه د مکې کافران وایي چې ولې پر محمد باندې د هغه خدای لخوا [په سترګو لیدلې] معجزه نه را نازلیږي؟ [خو ای پیغمبره! دا د ستا کار ندئ] ته یوازي و یرونکئ او ګوابنوونکئ یې [یعنی کافران د الله عذاب او سزا نه و یروي او ایمان راوړو ته یې را بولي او د جنتونو ز یري ورکو] او د هر قوم خپل لارښود دئ، یعنی د ټولو پیغمبرانو معجزې یو ډول او په یو شان نه وي، نو ته ای پیغمبره! د کافرانو د دغسې غوښتنو پروا مکړه.

{الله په پټ او ښکاره پوهیږي او هرڅه د الله سره په اندازه دي}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې مونږ الله تعالی د خپل لوی علم نه په پټو او ښکاره ټولو شیانو باندې خبر کړي یو، او فرمایلي دي:

﴿اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ۖ وَكُلُّ

شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ ۝٨ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ ۝٩ سَوَآءٞ مِّنكُم مَّنۡ أَسَرَّ ٱلۡقَوۡلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنۡ هُوَ مُسۡتَخۡفِۭ بِٱلَّيۡلِ وَسَارِبُۢ بِٱلنَّهَارِ ۝١٠ لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٞ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ سُوٓءٗا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٖ ۝١١

[٨] [ای خلکو!] الله د هرې بلاربې(حامله) ښځې په نس کې حمل باندې پوهیږي چې هغه څه شئ دئ؟ [یعنی په ښه او بد او په نور ټول حال باندې یې الله پوه دئ، او الله تعالی په دې هم پوهیږي چې دا نسونه به کم حمل د وخت نه مخکې واچوي؟ او کم حمل به د خپلې مور په نس کې غټ سي او بیا به په خپل وخت کې وز یږ یږي؟] ځکه هرڅه د الله سره په ټاکل شوې اندازه دي، یعنی نه هغه ډیر یږي او نه لږ یږي، او دا ټول مخلوقات د الله پر ډیر دقیق نظام باندې چلیږي، او د الله واک نه څه شئ وتلي نه دي.

[٩] او الله پرخپلو ټولو مخلوقاتو باندې لوړ او پورته دئ، او په پټو او ښکاروو ټولو باندې پوه دئ، او الله لوی او لوړ ذات دئ، یعنی الله د خپل مقام سره لائق لوی او لوړ دئ.

[١٠] او ای خلکو! هرڅوک چې د ستاسې نه خپل غږ پټ کړي [یعنی پټې خبرې وکړي او ځان سره څه ووایي] او یا په جګ غږ خبرې وکړي [الله یې اوري] او هرڅوک چې د شپې په تیاره کې څه کړي او یا د ورځې په رڼا کې ښکاره څه کړي، یعنی په دي ټولو باندې الله علم لري او پرې پوهیږي، او دا ټول الله تعالی سره برابر دي، ځکه دوی الله پیدا کړي دي او الله یې پالونکئ او څارونکئ لوی څښتن دئ، نو پر ټول حال یې الله پوه دئ او ورڅخه خبر دئ او بیایې پوښتنه کړي.

[١١] او الله څارونکي ملائکې لري او هغوی هر بنده د ورلاندې او وروسته نه څاري او د الله په امرې د ګوابنونو نه ساتي، او یقینا چې الله

د هیڅ قوم په حالت کې بدلون نه راولي، ترڅو چې دوی په خپلو ځانو کې بدلون راولي [یعنی د خلکو ژوند په چارو کې ښـــه او بد بدلون د دوی خپل کار دئ، نو که څوک ښـــه وکړي په دنیا او آخرت کې بې ګټه خپله وي، او که څوک بد وکړي سـزا بې ګالي]خو کله چې الله کم قوم ته د سـزا ورکولو او ز یان رسـولو اراده، قصـد او پر یکړه وکړي، نو بیایې هیڅ څوک مخه نیولای نســي، او دوی د الله نه پرته بل هیڅ څوک ملګرئ نه لري، یعنی دا چې ترڅو بیا دا ملګرئ دوی و پالي او ورسره مرسته وکړي.

ګرانو دوسـتانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونوکې خپل خور وور لوی قدرت په ډیره رونټیا سره خلکو ته ښودلئ او بیان کړئ دئ، ترڅو هرڅوک خپل ځان سره کلک حساب وکړي، او ځان د الله تعالی سختو نیوکو او د درندې سـزا نه وسـاتي، او بیا الله تعالی د هرچا خلاصـون او په خپل ژوند کې بدلون؛ خپله هغه پورې تړلئ دئ، نو که څوک غواړي چې د بد حال نه ښـــه حال ته راواوړي، نو په خپل ځان کې ده بدلون را ولي او د کفر او فسق نه ده ایمان او نیک عمل ته را واوړي!

{د الله تعالی قدرتونو لوپې نښانې په اسمانو کې رڼې ځلیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې همداسې الله تعالی مونږ ته په اسمان کې خپل لوی قدرتونه یاد کړي دي، او هغه دا چې الله مونږ ته د بر یښـــنا او د تندر را لیدونکئ او د وورو پیدا کونکئ لوی خدای دئ، او فرمایلي دي:

﴿هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ﴿١٢﴾ وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ بِحَمْدِهِۦ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِۦ وَيُرْسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ وَهُمْ يُجَٰدِلُونَ فِى ٱللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ ٱلْمِحَالِ ﴿١٣﴾ لَهُۥ دَعْوَةُ ٱلْحَقِّ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَىْءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦ وَمَا دُعَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ ﴿١٤﴾﴾

[۱۲] ای خلکو! الله هغه څوک دئ چې د و یرې او یا د طمعې او هیلو بر یښنا په وورو کې تاسې ته درو یني او درښئ یي، او درانده ووره په اسمان

کې راپیدا کوي، یعنی ترڅو د خپل رحمت باران پرخپلو بنده ګانو باندې راووروي او دوی شاد کړي.

[۱۳] [او بر یښنا سره په ور یځو کې ګړزهار(رعد) د الله ستاینې تسبیح وایي او ملائکې یا فرښتې د الله و یرې نه تسبیح وایي او الله په پاکۍ سره یادوي، او الله د وورو سره تندرونه را لیږي، او هغه چې الله پر چا باندې وغواړي لږ یږي، خو د الله د دې ټولو لو یو قدرتونو سره سره بیا هم کافران د الله په توحید او د هغه پر لوی قدرت کې بحثونه او استدلال کړي او هغه نه مني، خو کافران ده په دې پوه سي چې الله ډیر کلک نیونکئ او سزا ورکونکئ لوی ذات دئ.

[۱٤] او په حق او ر یښتیا سره غوښتنه [یعنی عبادت او بنده ګي] یوازې د الله حق دئ، نو هغه کسان چې د الله نه پرته بل څوک غواړي او بنده ګي یې کړي؛ شایي پوه سي چې دا [ناحقه خدایان یا بتان] د دوی غوښتنو ته هیڅ ځواب نه ورکوي [ځکه دوی هغې ترې ته ورته دي] چې لپې یې او بو ته د لرې نه خلاصې نیولې وي، ترڅویې د لپې او به خولې ته ورسیږي، خو دا او به د هغه خولې ته نه رسیږي، نو د کافرانو غوښتنې خپلو ناحقه معبودانو نه ورکتیا او بې لار یتوب دئ، یعنی دوی ته هیڅ ګټه رسولای نسي.

درندو عز یزانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې د کافرانو بې ځایه سر زوري او ناپوهي غندلې ده، ځکه دوی د الله توحید نه په عبادت کې او د الله لو یو قدرتونو نه منکر دي او هغه نه مني او ایمان نه راوړي، نو ځکه الله تعالی په ډیر وضاحت او رونټیا سره خپل قدرتونه او واکمني پرځمکه او اسمانوکې یاده کړي او بیان کړي ده، نو شایي چې ټول مخلوقات د رعد غوندې [چې د وورو ټکر او د یو بل سره د لږ یدلو نه راپیدا سوئ ګړزهار دئ او دا سوره ور باندې نومول سوې ده] د الله تسبیح ووایي او هم هغه فرښتې چې د الله تعالی حکمونه پلې کوي؛ د ډیرې و یرې نه حمد او ثنا وایي او الله ستایي، نو هوښیاران ده شه پوه سي او د الله تعالی په عظمت، لو یتیا او قدرتونو کې ده شه ژور فکر وکړي، او

الله ته ده پرمخې په سجده ولو يږي او د کبر نه ده لاس واخلي، لکه څنګه چې په راتلونکو مبارکو آيتونوکې د ټولو مخلوقاتو د سجدې يادونه او بيان سوئ دئ، او پکې الله تعالى فرمايلي:

{پرځمکه او اسمانو کې ستە مخلوقات الله ته سجده کړي}

او بيا الله تعالى په خبرې بلنې سره مونږ خبر کړي يو چې ټول مخلوقات يوازې الله تعالى ته سجده کړي او ورته تابع دي، نو تاسې ته هم ای خلکو! ښايي چې يوازې د الله چې د ستاسې خالق او پالونکئ څښتن دئ؛ عبادت وکړئ او حکمونو ته يې تسليم سئ او د شرك او کفر نه ځانونه کلک وساتئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَظِلَٰلُهُم بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْآصَالِ ۩ ﴿١٥﴾ قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ قُلِ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُ ۗ أَمْ جَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوا۟ كَخَلْقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿١٦﴾﴾

[۱۵] هو! ټول هغه مخلوقات چې پرځمکه او په اسمانوکې دي په خوښه او ناخوښه؛ يوازې الله ته [چې د لوړو صفتونو او لو يو قدرتونو څښتن دئ] سجده کړي [يعنى د بنده ګى سر الله تعالى ته ټيټوي او د الله حکمونه ور باندې نافذ او جاري دي] او د ټولو مخلوقاتو سورئ په سحر او په بيګاه کې د الله په حکم او اراده ختيځ او لو يديځ خوا ته اوړي را اوړي، يعنى دا چې ټول کائنات د الله تعالى په حکم او فرمان چې دئ يې خالق او پيدا کونکئ او پالونکئ څښتن دئ چليږي!

هو! دلته دا خبره د پام وړ ده چې د دې مبارك آيت لوستل او اور يدل د تلاوت سجده واجبوي.

[۱٦] ای پيغمبره! [د مشرکانو نه و پوښته او ورته] ووايه چې د ځمکې او اسمانو څښتن (خالق او پالونکئ) څوک دئ؟ [او بيا په ځواب کې ورته]

ووايه: الله د ځمکې او د اسمانونو پالونکئ څښتن دئ! خو تاسې د الله نه پرته نور ناحقه خدايان نيولي دي! حال دا چې دا خدايان خپلو ځانو ته ګټه او ز يان رسولای نسي [نو ای کافرانو! تاسې څنګه د الله سره بتان په عبادت او بنده ګي کې شر يکوي؟ يعنی د ستاسې دا کار ښکاره ناپوهي ده!] او ای پيغمبره! د کافرانو نه و پوښته چې آيا ږوند او بينا سره برابر دي؟ او آيا تيارې او ژړا سره برابرې دي؟ ځواب دا چې: نا ! هغه دواړه هيڅ کله سره برابرې نه دي، نو کفر او ايمان، شــرك او توحيد هيڅ کله ســره برابر نه دي] او يا دا چې مشـرکانو د الله سـره داسې څوک شـر يکان ګرځولي دي چې دوی د الله نورو مخلوقاتو غوندې پيدا سوي دي، نو د الله مخلوقات يو بل ســره پر مشــرکانو ګډ ســول [يعنی مشــرکان مخلوق خالق بولې او ګمان کړي چې بتان د عبادت وړ دي! نو ته ای پيغمبره! مشــرکان په خبره ښــه پوه کړه او ورته] ووايه چې يوازې الله د ټولو مخلوقاتو پيدا کونکئ خدای دئ، او الله يو او لوی ځواکمن څښتن دئ [نو يوازې الله د عبادت او بنده ګي لائق دئ، ځکه الله يو دئ او بل هيڅ څوک شــر يك نه لري او ټول عالم د الله واک لاندې دئ، نه د هغو بتانو واک لاندې چې هغه تاسې د الله سره په خدايي کې ګډوی.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی رسول الله ﷺ ته د کافرانو سره په مرکه او بحث کې د اســتدلال ډير پر يکنده ســر ليک مونږ ته ښــودلئ دئ چې پرمشرکانويي نور د بحث او دليل و يلو لارې ټرلې دي، نو د رسول الله ﷺ د دعوت وارثانو ته ښــايي چې کافرانو ته د اســلام په تبليغ کې همدا د اســتدلال او د کلکې مناظرې لار خپله کړې، ترڅو په پاخه منطق ســره دوی حق منلو تــه راواړوي، او دا خبره هم دلتــه د يــادونې وړ ده چې پــه اوســني وخت يا عصــرکې دغســې مناظرې شــيخ احمد ديدات رحمت الله عليه او بيا ور پسې ډکتر ذاکر نايک لوی هندي عالم خوښې کړې دي، او مشرکان توحيد ته را بولي، ترڅو په کلک منطق او قوي دليل سره د شرك نه توحيد ته را واواړي او موحدين سي.

{ د حق او باطل په منځ کې د بيلتون ژوندۍ بيلګه }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مونږ ته الله تعالى د حق او باطل په منځ کې د بيلتون ښه ځلانده بيلګه يا مثال ياد کړئ دئ چې ښايي مومنان هغه تل په پام کې ولري او ورڅخه ګټه واخلي، او فرمايلي دي:

﴿أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتۡ أَوۡدِيَةُۢ بِقَدَرِهَا فَٱحۡتَمَلَ ٱلسَّيۡلُ زَبَدٗا رَّابِيٗاۚ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيۡهِ فِي ٱلنَّارِ ٱبۡتِغَآءَ حِلۡيَةٍ أَوۡ مَتَٰعٖ زَبَدٞ مِّثۡلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ وَٱلۡبَٰطِلَۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءٗۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ ١٧ لِلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُۥ لَوۡ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡحِسَابِ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٨﴾

[١٧] [الله تعالى چې د ټول جهان واکمن څښتن دئ] د اسمان نه يې او به راوورولې او ناوونه او تالې ور باندې هر يو په خپله اندازه وبهيدل او او به پکې جاري سوې او د سيلابونو او بو پرخپل سر باندې جګ ځګ ځان سره ايوړ [يعنى همداسې د ابو د سر ځګ غوندې] د هغو وسپنو په سر هم ځګ را وځي چې په اورکې يې کړوي، ترڅو ګانې او لوښي ورڅخه جوړ کړي، او الله حق او باطل همداسې بيانوي [يعنى د حق او باطل په منځ کې د بيلتون لپاره دغسې مثالونه او بيلګې راوړي، ترڅو تاسې اى خلکو! ښه پوه سى او پکې ژور فکر وکړى] او بيا دغه د او بو سر ځګونه همداسې بې ګټې ځي او لرې کيږي، او هغه څه چې خلکو ته ګټه رسوي؛ هغه پرځمکه پاتې کيږي، او دا مثالونه تاسې ته اى خلکو! الله همداسې بيانوي، ترڅو حق او باطل سره بيل کړي، يعنى ترڅو تاسې حق پسې لاړ سى او د باطل نه خپل براءت او بېزاري اعلان کړى.

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونوکې دلا ډير وضاحت لپاره د حق او باطل، د کفر او ايمان او د شرك او توحيد په منځ کې دا مثالونه ياد کړي او بيان کړي دي، ترڅو مشرکان په خپل کفر او شرك کې چې د باطل لار ده؛ ښه فکر وکړي او خپل براءت او بيلتون ورڅخه

اعلان کړي، او حق پسې چې د الله پېژندل په توحید سره دي لاړ سي.

او دغه مثالونه او بیلګې که څه هم د اسلام پیغمبرﷺ ته د هغه وخت کافرانو او مشرکانو سره را وړل سوي دي، خو هغه همداسې د بشر یت ټولو مشرکانو او کافرانو ته د پند او عبرت اخستلو ګټورې زدکړې دې، ځکه دوی ټول د بتانو عبادت کړي، لکه بودایان، هنداون او یا هغه کسان چې د عقل او علم عبادت کړي، لکه د غرب اوسنۍ صنعتي ټولنې، او همدارنګه د نوې تکنالوژۍ را پسېره کونکي پوهان او څېړونکي، ځکه دا کسان او پر دوی مینان او مقلدین یې د طبیعي علومو تکنالوژۍ مستۍ دومره په سر اخستي دي چې نه الله تعالی په حق سره پېژني او نه خپلو مادي ګټو ته د رسیدو په لار کې د انساني حقوقو او ازربستونو پروا کړي، نو ښایي چې دوی د الله تعالی نه را نازل سوئ محفوظ کتاب قرآن په پوره دقت سره ولولي او ور باندې باور وکړي او ایمان راوړي، ترڅو ر یښتینه نیکمرغۍ په دنیا او په آخرت کې وګټي او بیا د الله تعالی په حضور کې سپین مخې او سر لوړي ودر یږي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د مومنانو او کافرانو راتلونکې او برخلیک په آخرت کې اعلان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[۱۸] او هغو کسانو چې د خپل رب بلنه ومنله او ایمان راوړ، نو انعام او جائزه یې جنت او پکې نیکمرغه ژوند دئ، او چاچې د الله فرمان ونه مانه او د الله توحید نه منکر سول، نو که د دوی سره ټوله دنیا او د هغې غوندې نور مال او دولت هم وي او هغه دوی د کلک عذاب نه د خپلو ځانو خلاصون لپاره په نذرانه کې ورکړي [هغه ورته هیڅ ګټه نه رسوي] او د دوی حساب ډیر بد دئ او ځای یې د جهنم اور دئ او هغه ډیر کرکجن استوګنځئ دئ، نو دعا کړو چې الله تعالی ده مونږ ورڅخه وساتي.

{د هوښیارانو او حق پالونکو ښه خو یونه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د هوښیارانو او د مومنو حقپالانو ښه خو یونه او ځانګړتیاوې مونږ ته په نښه کړي او بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿*أَفَمَن يَعۡلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ كَمَنۡ هُوَ أَعۡمَىٰٓۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ

ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩﴾ ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ ٱلْمِيثَٰقَ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلْحِسَابِ ﴿٢١﴾ وَٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِٱلْحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾ سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ ۚ فَنِعْمَ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٤﴾ وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٢٥﴾

[١٩] نو ای پیغمبره! آیا هغه څوک چې په دې پوهیږي چې تا ته د ستا رب لخوا را نازل سوئ کتاب (قرآن) یقینا حق دئ [یعنی هغه مني او ایمان ور باندې راوړي] آیا داکس، لکه هغه څوک دي چې د حق لیدلو نه ړوند دئ؟ [یعنی آیا دا دواړه سره برابر دي؟ ځواب دا چې: مومن او کافر هیڅ کله سره برابر نه دي] خو یقینا چې یوازې هوښیارن پند اخلي، یعنی یوازې د روغ عقل څښتن پند اخلي، ځکه د دوی خپل هغه هوډ او تعهد د الله سره را په یادیږي چې پر ایمان راوړویې کړئ دئ، او د دې تعهد نه مقصد هغه تعهد او هوډ دئ چې خدای پې ورڅخه د پیدایښت نه مخکې اخستی دئ او هغه ایمان راوړ او د الله او پیغمبرﷺ اطاعت او فرمان وړل دي چې په یاد کې یې الله تعالی د الاعراف سورې په (١٧٢) آیت کې فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِىٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ شَهِدْنَآ ۛ أَن تَقُولُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَٰذَا غَٰفِلِينَ ﴿١٧٢﴾﴾ (الأعراف:١٧٢) د د ې مبارکو آیتونو د ژ باړې معنا دا ده: ای پیغمبره! او هغه وخت را په یاد کړه کله چې د ستا رب الله د آدم علیه السلام کهول نه چې دوی د خپلو پلرونو په شاووکې ول؛ هوډ او تعهد واخست او دوی یې پر خپلو ځانو

باندې شاهدان وګرځول او ورته يې وويل: آيا زه د ستاسې پالونکئ څښتن نه يم؟ دوی ځواب ورکه و يو يل: هو! ته د زمونږ څښتن يې، نو بيا تاسې د قيامت په ورځ ونه وايي چې مونږ د دې ورځې راتګ او پکې د حساب ورکولو نه يقينا غافل او بې پروا وو، يعنی مونږ ورته خپل ځانونه نه دي تيارکړي!

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونو کې فرمايلي دي:

[٢٠] [هو! هوښياران] هغه کسان دي چې د الله سره پر خپلو وعدو وفاء کړي او خپل هوډ او تړون نه ماتوي.

[٢١] او د خپلوانو او بې وزرو کسانو سره چې الله د هغوی سره په صله رحم امر کړي دئ؛ ښه کړي [يعنی ورسره مرسته کړي] او د خپل رب سزا نه و يرې يږي، او د قيامت په ورځ د سخت حساب نه بيم لري او ورځخه په ډار کې دي، کلک و يرې يږي.

[٢٢-٢٤] [او هوښيارانو په ستونزو او سختيو کې] د الله رضا او خوښۍ لپاره صبر وکه [او هغه يې وزغملې او د الله په لار کې يې ستونزې وګاللې] او خپل لمنځونه يې په اخلاص سره ودرول او د هغې روزۍ نه چې دوی ته مونږ ورکړې ده په پټه او ښکاره يې خيرات ورکه، او بد کړل په ښو کړنو سره د ځان نه لرې کوي، نو د دغو کسانو را تلونکې په آخرت کې ډيره ښه اوعزتمنه ده او هغه تل پاتې جنتونه دي چې دوی ورننوځي [يعنی هلته به يې تل اوسيږي] او د دوی سره جنت ته د دوی ښه پلرونه او ښې ښځې او کهول ملګري ورننوځي [يعنی دوی ټول به يوځای د جنت نيکمرغه ژوند نه خوند اخلي] او ملائکې به د هر ورنه ورننوځي او پر دوی باندې به سلام اچوي او ورته وايي به: د هغه صبر او زغم په عوض کې چې تاسې د سختيو پر وړاندې وګاله؛ اوس پر تاسې باندې د هرې ستونزې نه سلامتې او امنيت دئ، او دا ډير ښه کور او ښه استوګنځئ دئ، يعنې دا جنتونه تاسې ته الله درکړي او ډالۍ کړي دي.

ګرانو عز يزانو! دا دي د الله ز يري چې هغه يې خپلو مومنو او صالحو بنده ګان ته ورکړي دي او پوره ډاډ او اطمئنان يې ورکړئ دئ چې

دوی جنتیان دي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ د مومنانو او صالحانو نه وګرځوي او پر خپل حق دین باندې ده را ته ټینګښت او استقامت را په برخه کړي او د الله تعالی اطاعت او بنده ګۍ په لار کې ده صبر او زغم راکړي، ترڅو د الله بنده ګي په اخلاص سره وکړو.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې د بد بختو او الله سره د هوډ ماتونکو کسانو برخلیک او بده راتلونکې مونږ ته الله تعالی یاده کړې او بیان کړې ده، او فرمایلي دي:

[٢٥] او هغه کسان چې د الله سره خپل ټرلي تعهدونه او هوکړې ماتوي [یعنی هغه د پښو لاندې کوي او د خپلوانو سره] هغه اړ یکې چې الله یې پر ټرلو امر کړئ دئ؛ پر یکوي او په ځمکه کې فساد او ورانئ کړي پردوی ټولو باندې لعنت دئ [یعنی د الله رحمت نه رټل سوي او شړل سوي دي] او د دوی استوکنځئ په آخرت کې ډیر بد ځای دئ، یعنی د دغسې کسانو ځای د دوزخ سور اور دئ.

{د روزۍ ډیرولو او لږولو واکمن څښتن الله دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د خلکو روزۍ د ډیرولو او لږولو حقیقي مالك چې خپله الله دئ مونږ ته را پیژندلی دئ، ترڅو خپل رازق ښه و پیژنو او بیاې هغسې بنده ګي وکړو چې د هغه لوی مقام سره ښایي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ ٢٦ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَنۡ أَنَابَ ٢٧ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ٢٨ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَـَٔابٖ ٢٩﴾

[٢٦] [هو! د رزق او روزۍ واکمن څښتن الله دئ] نو الله چې چا ته وغواړي روزي یې ډیروي او چا ته چې وغواړي روزي یې تنګوي [او هغو

خلکو چې د الله سره خپلې هوکړې ماتې کړې] او د دنیا په ژوند خوښ سول؛ دوی ته ښایي چې د دنیا ژوند د آخرت په پرتله ډیر لږ خوند اخستل دي، یعنی د دنیا ژوند ډیر ژر تیریږي، نو ښایي چې هوښیاران هیڅ کله د دنیا په ژوند ونه غولیږي!

[٢٧] او هغه کسان چې کافران سول [یعنی د محمد رسول الله ﷺ پیغمبرۍ نه منکر سول دوی] و یو یل: ولې پرمحمد باندې د هغه څښتن الله لخوا [په سترګو لیدلو] معجزه نه را کوز یږي؟ نو ته ای پیغمبره! دوی ته په ځواب کې ووایه: هو! یقینا الله چې څوک وغواړي هغه د سمې لارې نه ورکوي او چې څوک وغواړي هغه سمې لارې ته [یعنی خپل حق دین ته] سموي، یعنی حق ته د هدایت او ورځخه د ورکتیا او ضلالت توفیق د الله تعالی په واک او اختیارکې دئ، نو د مادي معجزو را نازلیدل کافرانو ته هیڅ ګټه نه رسوي، ځکه دوی د الله تعالی په تقدیري علم کې محروم دي او د حق پیژندلو او ایمان راوړو لیاقت او وړتیا نه لري.

[٢٨-٢٩] او هغو کسانو چې ایمان راوړ [دوی الله هدایت کړي دي او په سمه لارې د تګ توفیق ورکړئ دئ] او د هغوی زړونه د الله په ذکر ډاډمن کیږي، یعنی اطمئنان ورته حاصلیږي او ډاډ مومي [او د ډاډمنو زړونو خاوندان] هغه کسان دي چې [دوی پر الله او پیغمبر باندې] ایمان راوړ او ښه عبادتون یې وکړل، نو دوی ته د ښادۍ خوښي ده، ځکه د الله جنتونو ته ورننوځي او هغه دوی ته د استوګنې ښه کور او تل پاتې استوګنځئ دئ.

قدرمنو دوستانو! دا د الله تعالی لخوا د خوښۍ او ښې راتلونکې ز یرئ دئ چې خپلو مخلصو بنده ګانو ته یې ورکړئ دئ، ځکه د دوی د زړو او خولو او د ټولو غړو لار یؤ ده او د الله پر دین باندې کلک ولاړ دي او په اخلاص او صداقت سره د الله عبادت او بنده ګي کړي، او د خپل دین پرټولو حکمونو ټینګ دي او د هرې ګناه نه ځانونه کلک ساتي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده دا نیکمرغي د ټولو مومنانو په برخه کړي او جنتونه دې ځای کړي او هم دعا کړو چې مونږ ده الله تعالی د هغو مومنانو نه وګرځوي چې زړونه یې د الله تعالی په ذکر باندې تل ډاډمن دي.

{محمد ﷺ خپل امت ته د الله نه را لیږل سوئ پیغمبر دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته ډاډ او اطمئنان ورکړي دئ او پر خپل رسالت او پیغام باندې یې ټینګار ته رابللئ دئ، ترڅو د قرآن مقصد چې خلکو ته لارښودنه او هدایت دئ؛ بیان کړي او هغه ورته ورسوي، او فرمایلي دي:

﴿كَذَٰلِكَ أَرۡسَلۡنَٰكَ فِيٓ أُمَّةٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهَآ أُمَمٞ لِّتَتۡلُوَاْ عَلَيۡهِمُ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ ٣٠ وَلَوۡ أَنَّ قُرۡءَانٗا سُيِّرَتۡ بِهِ ٱلۡجِبَالُ أَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ ٱلۡأَرۡضُ أَوۡ كُلِّمَ بِهِ ٱلۡمَوۡتَىٰۗ بَل لِّلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ جَمِيعًاۗ أَفَلَمۡ يَاْيۡـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَهَدَى ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۗ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُواْ قَارِعَةٌ أَوۡ تَحُلُّ قَرِيبٗا مِّن دَارِهِمۡ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ وَعۡدُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ٣١﴾

[۳۰] ای پیغمبره! [لکه څنګه چې مونږ مخکې پیغمبران را لیږلی ول] همداسې ته هم مونږ یو داسې امت ته پیغمبر را ولیږلې چې یقینا د هغه نه مخکې ډیر امتونه تیر سوي دي، ترڅو ته دوی ته د قرآن هغه آیتونه چې تا ته مونږ وحیه او را نازل کړل؛ ولولې، او دا په داسې حال کې چې د ستا قوم د الرحمن خدای الله نه منکر دئ [یعني د الله تعالي توحید او یو والئ په عبادت کې نه مني] نو ته ای پیغمبره! دوی ته ووایه: الرحمن [خدای الله چې پرخپلو ټولو بندګانو باندې ډیر مهربان ذات دئ] هغه د زما څښتن دئ او د هغه نه پرته بل په حق سره معبود نسته او ما پر الله توکل کړئ دئ او د زما بیرته ورګرځیدل الله ته دي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارک آیت کې په حق سره د خپل استازي محمد ﷺ پیغمبري باوري کړي ده، خو کله چې یې قوم قر یشو د هغه پیغمبري ونه منله، نو بیا الله تعالی هغه ته تسلیت ورکه چې د ستا

امت نه مخکې امتونو او ولسونو هم د الله نه ورته راغلي پيغمبران دروغژن و بلل او ايمان رانوړ، نو ته مه بې صبره کيږه او خپل دعوت ده چې د الله تعالى توحيد ته په بنده ګۍ کې را بلنه ده؛ په پوره صبر او کلک تصميم سره په مخ يو سه، ځکه د ستا رسالت او دنده پيغام رسول دي نه د خلکو هدايت او ايمان راوړل.

او بياالله تعالى په ور پسې مبارك آيت کې د مکې کافرانو پلمې او د دوی بې ځايه غوښتنې د رسول الله ﷺ نه غندلي دي او رسول الله ته يې اطمئنان ورکړئ دئ چې که الله د مشرکانو غوښتنو او وړلانديځونو ته ځواب هم ورکړي او پر تا باندي مادي معجزې هم را نازلې کړي؛ بيا هم ستا د پيغمبرۍ ثبوت معنوي معجزه قرآن درته بس دئ، او فرمايلي دي:

[۳۱] او ای پيغمبره! که چيرې قرآن داسې کتاب وي چې غرونه وخوځوي [يعنى د خپل ځای نه يې بې ځايه کړی] او يا ځمکه پرقرآن چيرې او ټوټه سې [يعنى د او بو چينې او و يالې پکې وبهيږي] او يا مړې پر قرآن را ژوندي سې، ترڅو خبرې وکړي، خو د ستا قوم مشرکان ای پيغمبره! بيا هم ايمان نه راوړي [يعنى د کافرانو دا غوښتنې خوسې پلمې دي او ستا د پيغمبرۍ ثبوت لپاره د قرآن معنوي اعجاز لوی او پوخ دليل دئ] او هرڅه د الله په واک کې دي [او قرآن الله خلکو ته لارښود را ليږلئ دئ نه دا چې ور باندې مادي معجزې را ښکاره کړي] نو آيا مومنان د کافرانو ايمان راوړو نه نه دي ناهيلې سوي؟ [يعنى په دې نه پوهيږي] چې که الله غوښتي وای، نو ټولو خلکو به ايمان راوړي ؤ [يعنى حق لارې ته د خلکو هدايت او د دوی ايمان راوړل د الله غوښتنې او ارادې پورې تړلې دي او هغه په معجزو نکيږي، او قرآن يوازې د حق ر يښتينوالي او صداقت لپاره ښکاره او قاطع دليل دئ] نو کافران ده په دې پوسې چې دوی ته د دوی د بدو کړنو سزاګانې تل ټکانونکې رسيږي، او يا به ډير ژر دا سزاګانې پر دوې باندې د دوی په کورونوکې را پر يوځي، ترڅو د الله وعدې [د کافرانو په هلاکت او د مومنانو په نصرت او بر يا باندې ر يښتيا او ثابتې سې] او يقينا چې الله د خپلو وعدو خلاف نکړي، يعنى د الله تعالى

وعدې د مومنانو په فتحه او بر يا او د کافرانو په ماته او زوال باندې حتمي راتلونکې دي، لکه څنګه چې الله تعالى د مکې مشرکانو ته د بدر په غزا کې کلکه سزا ورکړه او بيايې د مکې فتحه د مومنانو په برخه کړه، او دا الهي وعدې به همداسې د حق او باطل په منځ کې تر قيامت ورځې پورې ر ينښتيا کيږي، لکه څنګه چې د اسلام و يارلږ تار يخ ور باندې ځلانده دليل او شاهد دئ، خو په دې شرط چې مسلمانان د قرآن پر لارښودنو کلک عمل وکړي، نه لکه د ډيرو مسلمانو اوسنۍ حالت چې نيمګړتياوې پې د شمار نه وتلې دي او دوی د ډيرو لو يو ستونزو سره مخامخ دي.

{د پخوانيو پيغمبرانو تار يخ رسول الله ﷺ ته د ډاډ پيغام ؤ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د اسلام پيغمبر ﷺ ته ډاډ او تسليت ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَأَمۡلَيۡتُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ثُمَّ أَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ٣٢ أَفَمَنۡ هُوَ قَآئِمُۢ عَلَىٰ كُلِّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡۗ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلۡ سَمُّوهُمۡۚ أَمۡ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَم بِظَٰهِرٖ مِّنَ ٱلۡقَوۡلِۗ بَلۡ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ مَكۡرُهُمۡ وَصُدُّواْ عَنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ٣٣ لَّهُمۡ عَذَابٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَقُّۖ وَمَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٖ ٣٤﴾

[٣٢] ای پيغمبره! او يقينا چې د ستا نه مخکې پيغمبرانو سپکاوئ هم وسه، نو بيا هغو کسانو ته چې کافران سول [او ايمان پې رانه وړ] ما وخت ورکه [او دوی ما وزنډول، ترڅو پښيمانه سي او الله ته مخ واړوي] او بيا دوی ما را ونيول [يعنى سزا مه ورکړه] نو بيا پؤ سول چې عذاب او سزا څنګه ؤ؟ يعنى دا چې د دوی سزا ډيره دردونکې ؤ، نو ته ای پيغمبره! هيڅ کله د کافرانو په خبرو مه خفه کيږه او پروا پې مکړه، ځکه د ستا رب دوی پسې دئ او کلکه سزا ورکوي!

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د کافرانو شرك او کفر

غندلئ دئ، او فرمايلي:

[۳۳] نو آيا هغه څوک چې [د عبادت او بنده کې حق لري] د هر چا کړلې د هغه څار او پام لاندې دي؟ [او حساب ورسره کړي؟ او يا د دې بې وسعو جوړ کړل سوو بتانو د واک لاندې؟] خو کافرانو د ډيري ناپوهۍ نه بتان د الله سره په خدايي کې شريك کړل، نو ته اى پيغمبره! د مشرکانو نه و پوښته چې د ستاسې خدايانو نومونه څه شئ دي؟ [يعنى د هغوى نومونه واخلې او بيا وګورې چې آيا دوى د عبادت او بنده کې وړ دي کنه؟ ځواب دا چې: د دې بتانو نومونه او صفتونه هيڅ کله هم د عبادت او بنده کې وړ او مستحق نه دي!] نو آيا تاسې اى مشرکانو! الله د هغه څه نه خبروې چې دئ ور باندې په ځمکه کې علم نه لري او خبر نه دئ؟ او يا تاسې دا بتان په خوله خدايان بولئ؟ [خو دوى په حقيقت کې هيڅ څه شئ نه دي، خو خبره داسې نه ده، لکه څنګه چې تاسې انګيرئ!] او کافرانو ته خپلو توطئيو او چلونو[د دوى دا ناحقه و ينا وي او باطلې دعوا وي ښايسته کړې] نو بيا دوى د الله لارې نه خلک منعې کړل، او هرڅوک چې الله د سمې لارې نه ورک کړي او پر سمه لار د تګ توفيق ورنکړي، نو بيا دئ بل لارښود نه لري چې پر سمه لارې وخوځوي، يعنى په حقيقت کې هرڅه د الله علم او تقديري پر يکړې سره سم ترسره کيږي!

[۳٤] او کافرانو ته د دنيا په ژوند کې عذاب دئ او د آخرت ورځې سزاء لا ډيره سخته ده او هيڅ څوک دوى د الله عذاب نه ساتلاى نسي.

هو! درندو دوستانو: دا يادونه دلته د پام وړ ده چې د مکې کافرانو معبودان بې روحه بتان ول، او د دوى د درې مشرانو بتانو نومونه دا ول: (لات، مناة، عزا) نو الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې په وار وار سره رسول اللهﷺ ته ډاډ او اطمئنان ورکړي دئ چې د کافرانو پر زَورونو او سپکاو يو ده نه خفه کيږي، ځکه د هغه نه مخکې تير سوي پيغمبران هم وزورول سول او امتونوې د دوى کلک سپکاوئ وکه، خو بيا الله تعالى د هغوى ټولې شيطاني توطئې او چلونه شند کړل او په دنيا کې يې کلکه سزا ورکړه او په آخرت کې د دوى ځاى د دوزخ اور دئ او کافران هلته هيڅ

څوک مل او مرستندوی نه لري چې دوی د الله سزا نه وساتي.

{متقیانو ته په آخرت کې د جنتونو انځور ز یري}

قدرمنو دوستانو! او کافرانو ته د سزا ورکولو بیان نه وروسته بیا په ور پسې مبارك آیت کې د مومنانو ثوابونه الله تعالی بیان کړي دي او دوی ته یې د جنتونو انځور وړاندې کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿۞مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا ۚ تِلْكَ عُقْبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ ۖ وَّعُقْبَى ٱلْكَٰفِرِينَ ٱلنَّارُ ﴿٣٥﴾﴾

[۳۵] او د هغه جنت انځور یا بیلګه چې د متقیانو سره یې وعده سوې ده؛ داسې دئ چې د او بو و یالي پکې بهیږي او سورئ او خواړه یې تل وي، او هغه د الله عذاب نه ځان ساتونکو متقیانو راتلونکې برخه او ثواب دئ، او د کافرانو را تلونکئ استوګنځئ د دوزخ اور دئ، یعنی تل به پکې کړ یږي.

{اهل کتاب پر محمد ﷺ د قرآن پر را نازلیدو خوښ سول}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ چې د اهل کتاب مخلص مومنان پر تا باندې د قرآن په را نازلیدو خوښ دي، او فرمایلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَفْرَحُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ ۖ وَمِنَ ٱلْأَحْزَابِ مَن يُنكِرُ بَعْضَهُۥ ۚ قُلْ إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ وَلَآ أُشْرِكَ بِهِۦٓ ۚ إِلَيْهِ أَدْعُوا۟ وَإِلَيْهِ مَـَٔابِ ﴿٣٦﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾﴾

[۳٦] او هغو کسانو ته چې مونږ کتاب ورکړئ دئ [یعنی دوی په حق او ر ښتیا سره اهل کتاب دي او ایمان یې راوړئ دئ] نو دوی تا ته ای پیغمبره! پر را نازل سوي کتاب (قرآن) باندې خوښیږي [یعنی دا ځکه چې قرآن د دوی د کتابونو تصدیق کوي او هغه مني] خو د احزابو ډلو نه

ځينې کسـان د قرآن ځينې برخې نه مني او ورڅخه منکر دي، نو ته ای پيغمبره! [د کافرانو دغو ډلو ته] ووايه: د زما هغه رسـالت چې ما ته پرې امر سـوئ دئ؛ هغه دا دئ چې زه يوازې د الله عبادت او بنده کې وکړم او هيڅ څوک د الله سـره په عبادت کې شـر يك نکړم، او خلک يوازې د الله عبادت ته راو بولم او زه الله ته ورتلونکې يم، يعنی نو بيا حساب ورکوم.

[۳۷] ای پيغمبره! [او لکه څنګه چې مونږ خپل کتابونه پر نورو پيغمبرانو باندې د دوی په ژ به را نازل کړل، ترڅوپې په لارښودنو عمل او پر يکړې وکړي] همداسې قرآن مونږ په عربي ژ به يؤ پر يکړه کونکئ کتاب را نازل که، خو که ته! وروسـته لدې چې په حق سـره درته علم او پوهه راغله؛ بيا هم د کافرانو خوښـو پسـې لاړ سـې، نو بيا الله د سـتا مل او ساتونکئ نه دئ، يعنی دا چې پر پيغمبرﷺ او د هغه د دين او علم وارثانو باندې لازمه ده چې قرآن زده کړي او بيا پر هغه باندې عمل او پر يکړې وکړي، او د کافرانو تقليد ونکړي او هغو پسـې لاړ نسـې، کنه نو د الله تعالی مرستې او ملتيا نه محرومېږي، او دا حکم عام دئ او ټول مسلمانان چې د رسول اللهﷺ امت دي او ايمان يې پرې راوړئ دئ؛ ور باندې مکلف دي.

{ پيغمبران ټول نار ينه ول او ميرمنې او کهول يې درلود }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د مشرکانو هغه شبهې ردې کړې دي چې و يل بې: که محمدﷺ پيغمبر وای، نو ښـځې او کهول به يې نه درلودل او مونږ ته بې مادي معجزې راوړې وي، نو په ځواب کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَذُرِّيَّةٗۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ لِكُلِّ أَجَلٖ كِتَابٞ ٣٨ يَمۡحُواْ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثۡبِتُۖ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ٣٩ وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُ وَعَلَيۡنَا ٱلۡحِسَابُ ٤٠ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا نَأۡتِي

ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ أَطۡرَافِهَاۚ وَٱللَّهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٤١﴾ وَقَدۡ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَلِلَّهِ ٱلۡمَكۡرُ جَمِيعٗاۖ يَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٖۗ وَسَيَعۡلَمُ ٱلۡكُفَّٰرُ لِمَنۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ﴿٤٢﴾ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسۡتَ مُرۡسَلٗاۚ قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ ﴿٤٣﴾

[٣٨] ای پیغمبره! او د ستا نه وړاندې پیغمبران مونږ په یقین سره را ولیږل او دوی ته مونږ ښځې او کهول ورکړئ ؤ، او هیڅ پیغمبر د الله اجازې او حکم نه پرته معجزې را وړلای نسي، او هر ټاکل سوئ وخت لیکل سوې نیټه لري، یعنی د الله تعالی حکمونه د ټاکل سوې نیټې سره سم ترسره کیږي او هیڅ څوک یې مخه نیولای نسي.

[٣٩] او الله چې څه وغواړي هغه لرې کوي او څه چې وغواړي هغه پر یږدي او کلکوي یې، ځکه د کتاب مور د الله سره ده، یعنی لوح محفوظ چې د الله تعالی د پر یکړو د لیکلو مور بلل کیږي د الله ټول حکمونه او تقدیرې پر یکړې پکې لیکل سوي دي، او هر څه د الله په حکم، علم او په اراده چې مخکې په لوح محفوظ کې ثبت ده ترسره کیږي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ چې د کافرانو نه خامخا حساب اخلي، او د ستا رسالت ای پیغمبره یوازې تبلیغ او خلک د الله توحیدي عبادت ته را بلل دي، او فرمایلي دي:

[٤٠] ای پیغمبره! او د هغو وعدو او سزاګانو نه چې هغه مونږ کافرانو ته اعلان کړې دي؛ ځینې یې تا ته د دنیا په ژوند کې درښیو[یعنی هغه کافرانو ته په دنیا کې عاجله سزا ده] او یا د ستا برخه د دنیا ژوند نه در پوره کوو [یعني ته به مړ سې او د کافرانو سزا به ونه و یني] او د ستا دنده او پیغام خلکو ته د دین تبلیغ او رسول دي، او کافرانو سره حساب کړل د زمونږ کار دئ، یعنی دا چې الله تعالی خپلې ټولې وعدې پوره کوي.

درندو دوستانو! نو ښایي چې د پیغمبرﷺ د دین هر مبلغ او دعوت کونکئ په دې لارښودنو ځان ښه پوه کړي او عمل پرې وکړي، او کافرانو

ته د الله تعالی سزا را تلو ته سترګې په لار او یوازې لاس په دعاء نه وي، بلکې خپل رسالت چې د الله دین بیانول او خلکو ته رسول دي پرځای کړي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی کافران کلک ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

[٤١] او آیا کافرانو ونه لیدل چې مونږ یقینا ځمکې ته راځو او هغه د هرې خوا نه را لنډوو [یعنی دا چې د کافرانو په کلیو او باندو کې اسلام خور یږي او هغه د مسلمانانو واک لاندې کیږي او د کافرانو ولکې نه وځی] او الله خپل حکم او پر یکړې کړي او هیڅ څوک د الله حکمونو مخه نیولای نسي، او الله ډیر ژر حساب اخستونکې او ښه پالونکي ذات دئ.

[٤٢] او یقینا چې د مکې کافرانو نه مخکې امتونو خپلو پیغمبرانو پسې ډیرې توطئې جوړې کړې، یعنی نو بیا هغه ټولې شندې سوې، ځکه الله تعالی په ټولو توطئیو پوهیږي او هغه شندوي.

هو! ګرانو دوستانو! االله تعالی د هر چا په ښو او بدو کړنو پوره علم لري او پرې پوهیږي او بیا هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي او د قیامت په ورځ به بیا کافران پوه سي چې ښه را تلونکې د چا ده؟ او یقینا چې د قیامت په ورځ ښه را تلونکې د هغو کسانو ده چې دوی ایمان راوړي دئ او د پیغمبرانو خبرې او دعوت یې منلئ دئ.

او د الرعد مبارکې سورې په وروستي آیت کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته ډاډ ورکړی دئ چې د ستا پیغمبرۍ تصدیق لپاره د الله شاهدی درته بس او کافي ده، او فرمایلي دي:

[٤٣] هو! ای پیغمبره! کافران وایي چې ته پیغمبر نه یې [نو ته دوی ته په ځواب کې] ووایه: د زما او ستاسې په منځ کې د زما پیغمبرۍ تصدیق لپاره د الله شاهدي او د هغو کسانو شاهدي بس ده چې د دوی سره د اسماني کتابونو علم دئ، یعنی دوی اهل کتاب دي، لکه یهود او نصارا، نو د الله شاهدۍ پر وړاندې د مشرکانو کفر او انکار د رسول اللهﷺ پیغمبرۍ نه؛ هیڅ ارزښت او اعتبار نه لري، نو پیغمبرﷺ او د هغه ملګري صحابه او اسلام ته ټول را بلونکي دعات ده نه خفه کیږي او خپل

دعوت او اسلام ته رابلنه ده؛ په پاخه ډاډ او اطمئنان سره پر مخ يوسي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين. سبحانك اللهم و بحمدك، وأشهد أن لا إله إلا انت، واستغفرك وأتوب إليك...



د ابراهيم عليه السلام سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د ابراهيم عليه السلام سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو عز يزانو! دا مبارکه سوره د ابراهيم خليل الله عليه السلام په نامه نومول سوې ده، ځکه چې الله تعالى د ابراهيم عليه السلام دعاء د مکې مکرمې امنيت لپاره قر يشو ته چې داسلام ستر پيغمبر بعثت په وخت کې هلته ميشت ول؛ ور په ياد کړې ده، او د ابراهيم دا مبارکه سوره مکې سوره ده، او پر رسول الله عليه السلام باندې د پيغمبرۍ په لومړ يو کلونوکې را نازله سوې ده او پکې د الله تعالى د توحيد مسئلې په بنده ګۍ کې او د ايمان نورې ډيرې اړ ينې او ضروري مسئلې بيان سوې دي، او د پيغمبرانو پيغامونو اصلي مقصدونو يادونه باندې چې په يو والي او توحيد سره د الله عبادت او بنده کې ؤ؛ کلک ټينګار سوئ دئ، او د اسلام پيغمبر صلى الله عليه وسلم نه مخکې د ځيني نورو پيغمبرانو قصې هم پکې يادې سوې دي، ترڅو هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره د دعوت په لار کې ښه رون ځلاند لارښود او د ډاډ او اطمئنان پيغام وي، ترڅو د اسلام پيغمبر صلى الله عليه وسلم خپل پيغام په پاخه عزم او کلک تصميم سره، لکه پخواني پيغمبران؛ خپل امت ته ورسوي، او همدارنګه په دې مبارکه سوره کې د نعمتونو شکر و يستلو لوی ارزښت بيان سوئ دئ، او دا مبارکه سوره د هغې نه وړاندې مکي سورو غوندي د هجاء په تورو چې ورته مقطعات يا پر يکړل سوي حرفونه وايي؛ پيل سوې ده او مقصديې د قرآن بياني اعجاز ته اشاره ده، ځکه د عر بو ټول شاعران او اديبان د قرآن آيتونو ته ورته آيتونو د راوړو نه عاجز او بې وسې سول، او همدارنګه دا مبارکه سوره د رسول الله صلى الله عليه وسلم د نبوت په پيغام او د قرآن کر يم د لو يو اهدافو او مقصدونو په بيان باندې پيل

سوې ده، او پکې الله تعالى فرمايلي دي:

{قرآن خلک د کفر تيارو نه د ايمان رڼا او توحيد ته را باسي}

د ابرهيم مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى رسول الله ﷺ ته ز يرئ ورکړئ دئ چې قرآن پرتا باندې مونږ لدې لپاره را کوز کړ چې ترڅو ته خلک د کفر تورو تيارو نه د ايمان او توحيد رڼا ته را و باسي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿الٓرۚ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ١ ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَوَيۡلٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٖ شَدِيدٍ ٢ ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ ٣ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡۖ فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٤﴾

[١] (ألف، لام، را) ای پيغمبره! دا کتاب قرآن [چې د همدې عربي تورو نه جوړ سوئ کتاب دئ او ور باندې لوستل کيږي] هغه تا ته مونږ رانازل کړئ دئ، ترڅو ته خلک د دوی لوی څښتن په حکم د کفر تيارونه د ايمان رڼا ته راو باسي او د الله په لارې چې لوی ځواکمن او ښه ستايل سوئ ذات دئ؛ روان کړي او پرې وې خوځوې، يعنی الله تعالى چې د ټولو مخلوقاتو څښتن دئ، او په لوړو صفتونو او ښکليو نومونو ستائل سوئ دئ؛ دئ يوازې د بنده ګی او عبادت لائق لوی څښتن دئ.

[٢-٣] هو! الله هغه څوک دئ چې اسمانونه او ځمکه يې د واک لاندې دي [يعنی نو يوازې الله د عبادت او بنده ګی لائق دئ] او کافرانو ته د الله لخوا ډير کلک عذاب او درنده سزا ده، ځکه کافران هغه کسان دي چې د دنيا ژوند د آخرت ژوند پر پرتله خوښوي او خلک د الله لارې نه منعې

کوي او غواړي چې د الله لار خلکو ته کړه وښـــي، نو کافران په ډيره لرې ورکتيا او د سمې لارې نه په کلک ګڼـت کې دي!

او بيا په ور پســـي مبارك آيت کې الله تعالى اعلان کړئ دي چې ټول پيغمبران الله د خپلو ولسونو به ژ به را ليږلي دي، او فرمايلي دي:

[٤] هو! هيڅ پيغمبر مونږ نـه دئ را ليږلئ مګر د خپل قوم په ژ بـه، ترڅو خپل قوم ته د الله دين بيان کړي، او څوک چې الله وغواړي بې لارې يې کړي، نو بيايې [الله تعالى د خپلې تقديري پر يکړې ســره ســم] د ســمې لارې نه ورکوي، او څوک چې وغواړي حق لارې ته يې ســموي، او الله لوی عزتمن او پوخ حکيم ذات دئ، يعنى د خپلو بنـده ګانو چـارې پـه پوره واکمنۍ او په لوی حکمت سره چلوي.

قـدرمنو دوســـتانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې لمړئ د قرآن حقانيت او ر ښتينوالئ چې هغه خلکو ته لارښود کتاب دئ او دوی د کفر تيارو نه د ايمان رڼا ته راباســي بيان کړئ دئ، او بيايې رســول اللهﷺ ته اطمئنان او ډاډ ورکړئ دئ چې دئ الله تعالى د پخوانيو پيغمبرانو غوندې د خپل قوم په ژ به اســـتازئ را ليږلئ دئ، او دا د الله تعالى نظام او نافذ قانون دئ، نو ځکه يې ټول پيغمبران د خپلو ولســـونو نه د دوی په ژ به غوره کړي او را ليږلي دي، خو په دي تو پير سره چې د اسلام پر دين او پر پيغمبر باندې؛ نور د الله تعالى اسماني پيغام ختم سوئ دئ، نو ځکه يې محمدﷺ ټول بشر يت ته لارښود غوره کړئ دئ، نو پر هغه باندې ايمان راوړل او پيغمبرۍ يې منل پر ټولو خلکو فرض دي، ځکه د اسـلام نه پرته د نورو ټولو اديانو پيروان چې اسلام نه مني په کافرانوکې شميرل کيږي، او دا ځانګړتيا الله تعالى په وار وار ســره د قرآن کر يم په ډيرو نورو مبارکو آيتونو کې بيان کړې ده، او فرمايلي دي:(قل يا أيها الناس إني رســـول الله إليكم جميعا)"الأعراف: ١٥٨"ای پيغمبره! خلکو ته ووايه چې زه تاسې ټولو ته په يقين ســره د الله اســـتازئ يم! او همدارنګه يې فرمايلي دي:(وما أرسـلناك إلا كافة للناس بشـيرا ونذيرا ولكن أكثر الناس لايعلمون)"سـبأ :٢٨"ای پيغمبره! ته مونږ ټولو خلکو ته ز يرئ ورکونکئ او و يرونکئ را ليږلئ

يې، خو ډير خلک نه پوهيږي! او همداسې الله تعالى د الانبياء سورې په ٢١ آيت کې فرمايلي دي:(وما أرسلناك إلا رحمة للعالمين) اى پيغمبره! ته مونږ ټول عالم ته رحمت را ليږلئ يې.

هو؛ قدرمنو عز يزانو! او دغه خصوصيت او ځانګړتيا الله تعالى يوازې پرخپل نازولي پيغمبر خاتم الأنبياء والمرسلين محمدﷺ باندې پيرزو کړې ده، او بيا رسول الله ﷺ د دې لوى تکليف او افتخار يادونه مونږ ته په يوه صحي حديث کې کړې ده، او فرمايلي يې دي:"أعطيت خمسا لم يعطهن أحد من الأنبياء قبلي...الخ " او ز يا ته کړې يې ده:" وكان النبي يبعث إلى قومه خاصة و بعثت إلى الناس عامة " هو! ما ته پنځه شيان را کړل سوي دي چې هغه د زما نه وړاندې پيغمبرانو نه بل هيڅ چا ته ندي ورکړل سوي، او د دغو پنځو شيانو نه يو دا دئ چې پيغمبران به يوازې خپل قوم ته را ليږل کيدل، خو زه ټولو خلکو ته را ليږل سوئ يم"متفق عليه" او بيا د اسلام ټولو علماوو په دې مسئله باندې اجماع کړې ده چې د اسلام پيغمبرﷺ ټول بشر يت ته ترقيامت ورځې پورې پيغمبر را ليږل سوئ دئ، او د محمدﷺ پيغمبري د نړۍ ټولو خلکو ته رحمت دئ، نو ښايي چې ټول خلک پرهغه باندې ايمان راوړي، ترڅو نجات بيامومي او په دنيا او آخرت کې ښاد سي.

{موسىعليه السلام يهود د تيارو نه رڼا ته راو ايستل}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د موسىعليه السلام پيغمبرئ مقصد بيان کړئ دئ او په ډير قاطع او پر يکنده حکم سره يې فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنۡ أَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرۡهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ۝٥ وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ أَنجَىٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ

أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ٦ وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكُمۡ لَئِن شَكَرۡتُمۡ لَأَزِيدَنَّكُمۡ وَلَئِن كَفَرۡتُمۡ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٞ ٧ وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكۡفُرُوٓاْ أَنتُمۡ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ٨

[٥] او یقینا چې موسی مونږ د خپلو معجزو سره ولیږه، او هغه ته مونږ حکم وکړ چې خپل قوم ده د کفر او شرک تورو تیارو نه د الله توحید رڼا ته راوباسه، او د الله عذاب او سزا ورکولو سختې ورځې موسی ته مونږ ور په یاد کړې، او یقینا چې په دغه یادونه کې هر لوی زغمونکي او شکر و یستونکي صبرناکه بنده ته د پند او عبرت اخستلو دلیلونو او نښانې نغښتې دي، یعنی نو ښایي چې هر څوک ورڅخه ګټه واخلي.

[٦] [او ای پیغمبره! هغه وخت را په یاد کړه کله چې موسی علیه السلام پر خپل قوم بني اسرائیلو باندې غږ وکړ او ورته یې] وویل: ای خلکو! د الله هغه نعمتونه او پیرزو یې پرخپلو ځانو را په یاد کړئ کله چې تاسې الله د فرعونیانو سخت زورونو او سزا ګانو نه خلاص کړئ، ځکه هغوی تاسې ته ډیر بد عذاب درځاکه او د ستاسې زامن یې وژل او ښځې یې [د خپلو ځانو خدمت لپاره] ژوندۍ پرې ښودلې او په دغسې عذاب کې تاسې ته د ستاسې رب الله لخوا ډیر لوی امتحان او ازمایښت ؤ! یعنی دا چې آیا تاسې پر دغسې ظلم باندې سکوت کړئ او چوپ پاتې کیږئ او که پر وړاندې یې درپرئ او مقاومت کړئ؟ حال دا چې د الله تعالی حکم او سنت د ظلم سره مقابله ده، نه سکوت او خاموشي!

[٧] ای پیغمبره! [هغه وخت هم را په یاد کړه، کله چې موسی خپل قوم ته] وویل: ای بني اسرائیلو! تاسې د خپل رب الله هغه اعلان را په یاد کړئ، کله چې یې وویل: ای بني اسرائیلو! که تاسې د زما نعمتونو شکر وایست، نو زه به خپلې پیرزې یې در باندې نښې ډیرې کړم، او که ورڅخه منکر سوئ [یعنی د زما نعمتونو کفران مو وکړ] نو یقینا چې د زما عذاب

او سزا ډيره سخته او کړوونکې ده!

[٨] [او بيا موسى خپل قوم ته وو يل:] که تاسې او په ځمکه کې ټول خلک کافران سى [يعنى د خپل رب نعمتونو نه منکر سى] نو يقينا چې الله غنې او ښه ستايل سوئ لوى ذات دئ، يعنى الله تعالى هيڅ چا ته اړ او محتاج ندئ، نو د ستاسې شکر و يستلو کټه خپله تاسې ته رسيږي.

{د پيغمبرانو بر يا او د کافرانو ماتې انځورپه تاريخ کې}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ ته د تار يخ په رڼا کې د پيغمبرانو او حقپالانو د بر يا او د کافرانو ماتې ز يري را کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا ٱللَّهُ ۚ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَرَدُّوٓاْ أَيْدِيَهُمْ فِىٓ أَفْوَٰهِهِمْ وَقَالُوٓاْ إِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ وَإِنَّا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ۝٩ قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِى ٱللَّهِ شَكٌّ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ قَالُوٓاْ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ۝١٠ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ۝١١ وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنَا سُبُلَنَا ۚ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ ءَاذَيْتُمُونَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ۝١٢ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم مِّنْ أَرْضِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِى مِلَّتِنَا ۖ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١٣ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ ٱلْأَرْضَ مِنۢ

بَعۡدِهِمۡۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ١٤ وَٱسۡتَفۡتَحُواْ وَخَابَ
كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ١٥ مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسۡقَىٰ مِن مَّآءٖ صَدِيدٖ ١٦
يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأۡتِيهِ ٱلۡمَوۡتُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَمَا
هُوَ بِمَيِّتٖۖ وَمِن وَرَآئِهِۦ عَذَابٌ غَلِيظٞ ١٧

[٩] [او همداسې موسی خپل قوم بني اسرائیل د پخوانیو پیغمبرانو امتونو ته په ورکړل سوو کلکو سزاګانو باندې وګواښه او دوی ته یې وو یل] ای قومه! آیا تاسې ته د هغو کسانو قصې رانغلې چې دوی د ستاسې نه مخکې تیر سول؟ لکه د نوح قوم او د عاد او ثمود قومونو قصې، او بیا د هغو کسانو قصې چې د هغوی نه وروسته ول، او د الله نه پرته بل هیڅ څوک ور باندې پوه نه دي؟ هو! دوی ته یې پیغمبران د معجزو سره راغلل [خو دوی د خپلو پیغمبرانو سپکا وئ وکه او هغوی یې دروغژن و بلل او ور پورې یې وخندل او د ډیرې خندا نه یې] خپل لاسونه په خولو کې کیښودل او پیغمبرانو ته یې وو یل: مونږ د ستاسې پیغمبرۍ نه منکر یو او هغه نه منو، ځکه مونږ یقینا په هغه څه کې چې تاسې مونږ ورته رابولئ؛ شکمن یو او مونږې اندیښمن کړي یو!

[١٠] [نو بیایې پیغمبرانو په ځواب کې ورته] وو یل: آیا د الله په خدایې کې شک دئ؟ الله خو د اسمانونو او د ځمکې پیدا کونکې لوی څښتن دئ او تاسې ځان ته را بولي، ترڅو د ستاسې ګناه درته و بښي او د ټاکل سوي نیټې پورې تاسې وزغدوي [یعنی عذاب در باندې رانازل نکړي] نو بیا دوی خپلو پیغمبرانو ته په ځواب کې وو یل: تاسې د زمونږ غوندې سړي یاستئ او غواړې چې مونږ د خپلو پلرونو معبودانو عبادت او بنده ګۍ نه منع کړئ، نو مونږ ته د خپلې پیغمبرۍ ثبوت لپاره ښکاره دلیل او معجزه راوړئ، یعنی دا چې ترڅو د ستاسې نبوت او پیغمبري تصدیق کړي!

[١١] [نو بیا د دوی پیغمبرانو په ځواب کې ورته] وو یل: هو! مونږ د ستاسې غوندې سړي یو، خو الله چې د خپلو بنده ګانو نه پر چا باندې

وغواړي احسان کړي [يعنى هغه خپلې پيغمبرى لپاره خوښوي] او مونږ د الله اجازې او حکم نه پرته تاسې ته دليل او معجزه راوړای نسو، نو مومنان ده يوازې پرالله باندې توکل وکړي او خپل ځانونه ده ور باندې کلک وسپاري.

[١٢] [او بيا پيغمبرانو ز ياته کړه او و يو يل:] ولې به مونږ پر الله توکل نکړو؟ حال دا چې مونږ ته الله [د زمونږ خلاصون او نيکمرغۍ] لارې راښودلې دي او مونږ به په کلکه سره د ستاسې پر هغو زورونو باندې چې مونږ به مو ور باندې ځپلو؛ صبر وکړو او هغه به وګالو، او توکل کونکي کسان چې مومنان دي پر الله ده اعتماد وکړي او ځانونه ده پرې وسپاري.

[١٣-١٤] او بيا دغو کسانو چې کافرانو سول خپلو پيغمبرانو ته يې و و يل: تاسې به د زمونږ کلي خاورې نه خاماخا باسو او يا به تاسې خاماخا بيرته د زمونږ دين ته راګرځئ، نو بيا پيغمبرانو ته د دوی رب الله وحيه وکړه [يعنى پټ يې ډاډمن کړل او ورته يې وو يل:] يقينا چې مونږ به ظالمان هلاك او تباه کړو او تاسي به اى پيغمبرانو! د هغوي نه وروسته پر ځمکه ځای پرځای کړو [يعنى واکمن به مو کړو او قدرت به درکړو] او دا ورکړه هغه چا ته ده چې هغه د زما مقام او د سزا ګواښونو نه و يرې يرې، يعنى ايمان يې راوړئ دئ او يوازې د الله عبادت او بنده ګي کړي او د الله عبادت نه پرته يې د بل هر چا بنده ګى نه خپل براءت او بيزاري اعلان کړې ده، خکه دئ يوازې د الله بنده دئ.

[١٥-١٧] او بيا پيغمبرانو پر کافرانو باندې فتحه او بر يا وغوښتله، نو بيا هر کبرجن، باغي زورواکئ او د حق پر وړاندې سرکښ سړئ مختورن، خوار او سپک سه، او بيا ور پسې د جهنم اور دئ او هلته د زوونه ډکې او به ورځکل کيږي او هغه به په زور تيروي، خو د ستونې نه يې نه تيريږي او د هرې خوا نه به د مرګ ګواښونه ور باندې کيږي، خو دئ به نه مري او ور پسې کلک عذاب دئ!

ګرانو دوستانو! دا ؤ د تار يخ هغه پاڼه چې ښه رونړ او ځلاند انځور يا

تصو يرې الله تعالى مونږ ته د كافرانو او مومنانو او د حقپالانو او باطل پلو يانو په مخامخ جګړه كې وړاندې كړئ دئ، او بيا يې د مومنانو د بر يا او فتحې ز يرئ او د كافرانو د ماتې او هلاكت ز يرئ راكړئ دئ، نو ښايي چې د حق پلو يان او حق ته رابلونكي دعات هيڅ كله د الله تعالى نصرت او فتحې نه ناهيلي او مايوس نسي او پر الله تعالى توكل وكړي او په مخ لاړ سي او خپل دعوتي رسالت سر ته ورسوي.

{د كافر انو كړنې كلک باد لكه د اور ايرې اړوي را اړوي}

قدرمنو عز يزانو! د كافران بدو كړنو كرغيړن انځور په دې لاندې مباركو آيتونوكې ياد سوئ او بيان سوئ دئ، او پكې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿مَّثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ أَعۡمَٰلُهُمۡ كَرَمَادٍ ٱشۡتَدَّتۡ بِهِ ٱلرِّيحُ فِي يَوۡمٍ عَاصِفٖۖ لَّا يَقۡدِرُونَ مِمَّا كَسَبُواْ عَلَىٰ شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ ١٨ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ١٩ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ٢٠﴾

[١٨] هو! هغه كسان چې پرخپل رب باندې كافران او ورڅخه منكر سول؛ د دوى ښې كړنې چې مخكې يې كړي وې؛ هغو ايرو ته ورته دي، لكه چې د كلک شمال يا باد پر ښكې په ډيره سخته طوفاني ورځ ور باندې راوالوزي او دا ايرې هرې خوا ته د ځان سره يوسي، او بيا دوى د خپلو لاس ته راوړنو او كړنو د راغونډولو وسعه نه لري او هيڅ څه كړاى نسي [يعنى كفر د دوى ټولې كړنې ضائع كوي او هر څه يې د لاسه وځي او دوى ته هيڅ ګټه نه رسوي] او هغه د سمې لارې نه ډيره اوړده ورکتيا ده.

عزتمنو دوستانو! د كلک او تيز شمال پر ښكې دغه بيلګه چې د اور ايرې هرې خوا ته شيندي او وړي يې؛ دا بيلګه د حق نه د ورکتيا ډيره بده پايله او نتيجه ده، نو كه څوک عقل لري او هوښيار وي ورته ښايي چې ښه ژور فكر وكړي او خپل ځان د دغسې بد راتلونكې نه كلک وساتي.

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې پر خپلو دغسې بې پروا او غافلو بنده ګانو باندې غږ کړئ دئ او د دوی پام يې خپل لوی ځواک ته را اړولئ دئ او دوی يې په هلاکت باندې کلک ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

[١٩-٢٠] ای پيغمبره! او آيا ته اسمانونو او ځمکې ته نه ګورې او هغه په سترګو نه وينې؟ او يقينا چې هغه ټول الله پرحق سره پيدا کړي دي [او د الله په لو يو قدرتونو دلالت کړي، نو ای خلکو! که الله وغواړي تاسې له منځه وړي او د ستاسې پرځای نوي کسان راولي او بيا به دا نوي خلک د الله سره بنده ګي او اطاعت کړي] او دا کار الله ته سخت نه دئ، يعنی دا ځکه چې الله لوی ځواکمن ذات دئ او څه چې وغواړي هغسې کړای سي.

{په قيامت کې کشران مشران د الله سزا نه خلاصولای نسي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د قيامت په ورځ د زورورو او کمزورو کافرانو خپل منځي سوال ځواب ژوندئ انځور يا تصوير مونږ ته وړاندې کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَبَرَزُوا۟ لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ ٱلضُّعَفَٰٓؤُا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ ۚ قَالُوا۟ لَوْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيْنَٰكُمْ ۖ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَآ أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ ﴿٢١﴾ وَقَالَ ٱلشَّيْطَٰنُ لَمَّا قُضِىَ ٱلْأَمْرُ إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ ٱلْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ ۖ وَمَا كَانَ لِىَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَٰنٍ إِلَّآ أَن دَعَوْتُكُمْ فَٱسْتَجَبْتُمْ لِى ۖ فَلَا تَلُومُونِى وَلُومُوٓا۟ أَنفُسَكُم ۖ مَّآ أَنَا۠ بِمُصْرِخِكُمْ وَمَآ أَنتُم بِمُصْرِخِىَّ ۖ إِنِّى كَفَرْتُ بِمَآ أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ ۗ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٢﴾﴾

[٢١] او د قيامت په ورځ ټول کافران بيرته راژوندي کيږي [يعنی د الله

پر وړاندې حساب ورکولو ته در ږغوي، نو بيا ې وسعې او لاس لاندې کافران خپلو مشرانو بادارانو ته [چې زورور ول او د الله بنده ګې نه ې سرغړونه او کبر کړئ ؤ] وايي: يقينا چې مونږ په دنيا کې تاسې پسې وو، نو آيا اوس تاسې زمونږ نه د الله عذاب نه څه شئ لرې کولای سی؟ [نو مشران يې په ځواب کې ورته وايي:] که مونږ الله په سمه لار بيولي وای، نو تاسې به هم مونږ سې لارې ته سم کړي وی [خو الله مونږ ته پر سمه لار د تګ توفيق رانکه او حق ته هدايت نسوو] نو اوس که مونږ او تاسې زړا او انګولا وکړو او يا صبر او زغم وکړو او دا ټولې سختۍ او ستونزې وګالو، نو دا دواړه سره برابر دي، ځکه د خلاصون او تيښتې لار نه لرو!

[٢٢] او بيا چې کله هر څه فيصله سي [يعنی الله خپلې پر يکړې وکړي او جنتيان جنتونو ته او دوزخيان دوزخ ته ورننه باسي] نو بيا رټل سوئ شيطان غږ کړي او نعرې وهي وايي: ای خلکو! د الله وعدې ستاسې سره حق او ر يښتيا وې، او کمې وعدې چې ما درسره کړې وې؛ هغه ما پرځای نکړي [يعنی ما درسره وعده خلافي وکړه] او دا ځکه چې ما پر تاسې باندې څه واک او زور نه درلود، خو تاسې ما يوازې خپلې لارې ته راو بللی، نو بيا د زما بلنه تاسې ومنله او را پسې لاړی، نو اوس ما مه ملامتوی او خپل ځانونه ملامت کړی [يعني دا چې تاسې په خپله خوښه د زما پيروي وکړه او راپسې لاړی او د زما شيطاني وسوسې تاسې ومنلې] نو اوس زه تاسې د الله عذاب او سزا نه خلاصولای نسم او نه تاسې ما خلاصولای سی، خو زه مخکې د الله سره خپل شرک نه چې تاسې ورسره شر يك کړم؛ منکر سوم، او يقينا چې د ظالمانو سزا دردونکئ عذاب دئ، يعنی دا ځکه چې دوی کافران سول او د الله پر بنده ګې يې تيرئ وکه!

درندو دوستانو! دا ؤ د کافرانو د تورې او بدې راتلونکې ځلانده او باوري تصو ير چې هغه الله تعالی د دوی مخې ته ايښئ دئ، نو هوښيارانوته ښايي چې ورڅخه پند واخلي او خپل ځانونه د الله دردونکي عذاب نه د قيامت په ورځ وساتي، ځکه د الله نه پرته بل هيڅ څوک هغه عذاب د دوی نه لرې کولای نسي!

{په جنت کې مومنان په سلام اچولو سره د يو بل هرکلئ کړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنانو ته د جنتونو ز يرئ ورکړئ دئ او د توحيد کلمې بيلکه يې چې د مومنانو ژبې ور باندې تل لندې دي او زړونه يې ور باندې رښا دي؛ هغې خوږې مبارکې وني ته ورته بللې ده چې ر يښې يې په ځمکه کې خښې دي او نودې يې پورته په اسمان کې لوړې ځليږي، او فرمايلي دي:

﴿وَأُدۡخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡۖ تَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٌ ٢٣ أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا كَلِمَةٗ طَيِّبَةٗ كَشَجَرَةٖ طَيِّبَةٍ أَصۡلُهَا ثَابِتٞ وَفَرۡعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ ٢٤ تُؤۡتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۭ بِإِذۡنِ رَبِّهَاۗ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ٢٥ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٖ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ٱجۡتُثَّتۡ مِن فَوۡقِ ٱلۡأَرۡضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٖ ٢٦ يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ وَيَفۡعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ٢٧﴾

[٢٣] او هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وکړل؛ دوی داسې جنتونو(باغونو) ته ورننه و يستل سول چې و يالې پکې بهيږي او دوی هلته پکې د خپل رب په اجازه او رحمت سره تل اوسيږی، او يو بل ته خپل هرکلئ په سلام اچولو سره ورلاندې کوي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د توحيد کلمه يوې هغې خوږې پاکې وني ته ورته بللې ده چې ر يښې يې په ځمکه کې خښې دي او نودې يې اسمان ته پورته جګې سوې ځليږي او خپله ميوه په هر وخت کې ورکوي، خو د کفر کلمه، لکه هغه خبيثه چټله ونه ده چې ر يښې يې په ځمکه کې نه ننوځي ترڅو پکې ونښلي، او فرمايلي دي:

[٢٤-٢٥] ای پيغمبره! او آيا ته نه و يې؟ [يعنی نه پوهيږې؟] چې الله د

خوږې او پاکې کلمې او خبرې [یعنی د توحید لا اله الا الله محمد رسـول الله کلمې] مثال او بیلګه؛ هغې پاکې او خوږې ونې تـه ورتـه بللې او یـاده کړې ده چې ر یښې یې په ځمکه کې کلکې خښې دي او نودې او شاخونه یې په اســمان کې دي، او خپلې د خوږا میوې هر وخت د الله په حکم او پر یکړه ورکوي، او دا مثالونه الله خلکو تـه د دې لپاره بیـانوي، ترڅو دوی ورڅخه پند او ګټه واخلي.

[٢٦] او خپیثه او ناولې سپکه کلمه یا خبره [یعنی سپکه کلمه چې هغه د کفر کلمه ده] هغې ناولې او چټلې ونې ته ورته ده چې د ځمکې ســر نه را و یسـتل سـوې او نا کراره وي، یعنی مومنانو ته الله تعالی داسې اطمینان او روحي اســتقرار ورکړئ او ورو ښــلئ دئ چې ګټه او خیري یې تل جاري وي، خو کافر هیڅ ارامښـت او اسـتقرار نه لري، بلکې په کلک ناقرار ژوند کې شپې صباح کوي، یعنی تل په و یره او اندیښنه کې وي.

[٢٧] او هغو کسانو چې ایمان راوړئ دئ؛ دوی ته الله د دنیا او آخرت په ژوند کې په حق کلمـه بانـدې ثبـات او ټینګښــت ورکوي، او ظالمـان (کافران) الله د ســمې لارې نه ورکوي، او الله چې څه غواړي هغســې کړي، یعنی د الله کړنې په لوی علم او په پاخه حکمت ترسره کیږي.

قـدرمنو دوســتـانو! روایـت ســوئ دئ چې د دې مبـارك آیـت مراد او مقصـد د مومنانو ټینګښـت او ثبات د توحید پرکلمه په دنیا کې په قبر کې او د قیامت په ورځ د الله تعالی پر وړاندې دئ، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته په خپل فضــل او رحمت ســره دغســې ثبات او اســتقامت د توحید پرحق کلمه باندې چې د (لا إله إلا الله محمد رسـول الله) کلمه ده راکړي او مونږ ده الله تعـالی د قیـامـت پـه ورځ پـه ســپینو مخونو خپـل حضور کې ودروي. اللهم آمین یارب العالمین.

{هغو مشر انو چې ایمان پرکفربدل که خپل قوم یې هلاك که}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خلکوته ګواښ کړئ دئ چې د مشــرانو اوښــتل د ایمان ســمې لارې نه د کفر کړې لارې ته؛ ولســونه

هلاکوي او د تباهۍ کندو ته يې ور پور يوهي، او فرمايلي دي:

﴿۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ كُفۡرٗا وَأَحَلُّواْ قَوۡمَهُمۡ دَارَ ٱلۡبَوَارِ ٢٨ جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَاۖ وَبِئۡسَ ٱلۡقَرَارُ ٢٩ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِهِۦۗ قُلۡ تَمَتَّعُواْ فَإِنَّ مَصِيرَكُمۡ إِلَى ٱلنَّارِ ٣٠ قُل لِّعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خِلَٰلٌ ٣١﴾

[٢٨-٣٠] ای پیغمبره! آیا تا هغه کسان ونه لیدل چې کافران سول او د الله نعمتونه يې په کفر باندې بدل کړل او خپل قوم يې د هلاکت کندو ته وروغورځا ؤ؟ نو د هغوی ځای جهنم دئ او هلته به پکې کړ يږي، او هغه د استوګنې ډیر بد ځای دئ [استفهام دلته تقر يري دئ، يعنی دا چې تا ای پیغمبره! دا کسان ولیدل چې په خپل لاس يې ځانونه تباه او هلاک کړل] او کافرانو بتان د الله سره سیالان وګرځول، ترڅو خلک د الله لارې نه ورک او بې لارې کړي [نو ته ای پیغمبره!] دغو کافرانو ته ووایه: اوس نو د دنیا ژوند نه خوند واخلی! او د ستاسې راتلونکې یقینا د دوزخ اور ته ده، يعنی نو بیا به هلته په جهنم کې کړ يږئ.

ګرانو دوستانو! دا ده د کافرانو بد مرغه او توره راتلونکې چې هغه دوی په کافر يدلو سره خوښه کړه.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې مومنانو ته الله تعالی لارښودنه کړې ده چې د لمانځه په درولو او د زکات او خیرات په ورکولو سره خپل ځانونه د جهنم په اور کې د کړ يدلو نه وساتي، او فرمايلي دي:

[٣١] ای پیغمبره! د زما هغو بنده ګانو ته چې ایمان يې راوړ سپارښت وکه او ورته ووایه چې ای مومنانو! [مخکې د قیامت ورځې راتګ نه] چې په هغه ورځ بیا نور خرڅول او اخستل یا (پلورل او را پلورل) او ملګرتیا او دوستي نه وي؛ لمنځونه وکړی او د هغې روزي او مال نه چې هغه دوی ته مونږ ورکړی دئ؛ په پټه او ښکاره سره خیرات وکړی، يعنی ای رسول

الله ﷺ پرمومنانو باندې په ټينکار سره غږ وکړه چې په خپل ايمان او پرښو کړنو باندې ټينګ پاتې سي او ښه عبادت او بنده ګي وکړي، ځکه د قيامت ورځ د عمل او د ښو کړنو ورځ نه ده، هغه د حساب ورکولو ورځ ده، نو مخکې لدې چې قيامت راسي ښايي ښه وکړو او ډير عبادت وکړو، ترڅو د الله تعالى پر وړاندې په جګو غاړو او سپينو مخونو ودر يږو!

{االله په لو يو قدرتونو او په ډيرو پيرزوينو پيژندل کيږي}

او په دې لاندې مبارکو آيتونوکې الله تعالى خپل لوى ذات مونږ ته د هغه په لو يو قدرتونو سره را پيژندلئ دئ، او فرمايلي:

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْفُلْكَ لِتَجْرِىَ فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْأَنْهَٰرَ ﴿٣٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴿٣٣﴾ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾﴾

[٣٢-٣٤] هو؛ اى خلکو! الله هغه لوى واکمن ذات دئ چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړل او د اسمان نه يې او به راوورولې [يعنى ځمکه يې ور باندې او به کړه] او بيايې په او بو باندې تاسې ته ځمکې نه د ميوو روزي راوايستله او بيړى يې چې د سمندر او بو پرسر باندې د الله په حکم ګرځي؛ د ستاسې واک لاندې تسخير کړې او سيندونه او نهرونه يې تاسې ته مسخر کړل او هغه يې ستاسې واک لاندې وګرځول، او لمر او سپوږمى چې په نه ستړي کيدونکي ګښت کې ګرځي راګرځي؛ تاسې ته الله تسخير کړل؛ او شپه او ورځ تاسې ته الله تسخير کړي دي [ترڅو تاسې اى خلکو! ورڅخه ګټه واخلى] او هر څه چې تاسې غوښتي دي؛ هغه الله درکړي دي، نو که تاسې د الله دا نعمتونه او ورکړې پرخپلو ځانو باندې وشمیرى؛ هغه شمیرلاى نسى [يعنى مننه يې کړلاى نسي، ځکه هغه ښه ډير دي او د شمير نه وتلي دي] نو يقينا چې انسان ډير ظالم او د ورکړو او پيرزو ينو

نه منکر يدونکئ مخلوق دئ، يعنى د خپل پالونکي لوى څښتن د نعمتونو نه منکر دئ او شکريې نه باسي او د الله بنده کې په توحيد سره نکړي او حکمونو ته يې غاړه نږدي.

{د ابراهيم عليه السلام مناجات او غوښتنې د خپل لوى رب الله نه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د ابراهيم عليه السلام مناجات او دعاء وې او غوښتنې د خپل رب الله نه چې ټولې قبولې سوې دي؛ مونږ ته يادې کړې دي، ترڅو د ابراهيم عليه السلام پرتوحيدي لار باندې روان سو او د هر ډول شرك او کفر نه ځانونه کلک وساتو، او فرمايلى دي:

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا وَٱجْنُبْنِى وَبَنِىَّ أَن نَّعْبُدَ ٱلْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِى فَإِنَّهُۥ مِنِّى ۖ وَمَنْ عَصَانِى فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَّبَّنَآ إِنِّىٓ أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِى بِوَادٍ غَيْرِ ذِى زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ ٱلْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجْعَلْ أَفْـِٔدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهْوِىٓ إِلَيْهِمْ وَٱرْزُقْهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴿٣٧﴾ رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِى وَمَا نُعْلِنُ ۗ وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴿٣٨﴾ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى وَهَبَ لِى عَلَى ٱلْكِبَرِ إِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ ۚ إِنَّ رَبِّى لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٩﴾ رَبِّ ٱجْعَلْنِى مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِى ۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لِى وَلِوَٰلِدَىَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ ٱلْحِسَابُ ﴿٤١﴾﴾

[٣٥] [اى پيغمبره! د خپل غور نيکه ابراهيم عليه السلام] هغه وخت راپه ياد کړه [يعنى کله چې ابراهيم عليه السلام خپل زوى اسماعيل عليه السلام د هغه مور(هاجر) سره په مکه کې ميشت کړل، نو بيا الله تعالى ته ابراهيم عليه السلام په مناجات کې لاس په دعاء سه] او و يو يل: اى د زما لو يه څښتنه! دا ځاى (مکه) د امنيت او ډاډ کور وګرځوۀ او ما او د زما زامن د بتانو بنده

ګڼ نه وساته.

[٣٦] او ای د زما لو یه ر به! دغو بتانو ډیر خلک [د ستا بنده ګڼ او توحیدي عبادت نه] ورک او ورځخه کاږه کړل، نو هر څوک چې ما پسې لاړل [یعنی د زما پیروي یې وکړه او الله یې په توحید سره ښه و پیژاند او بنده ګي یې وکړه] نو هغه زما د لارې مل دئ، او چا چې د زما خبره ونه منله او د زما نه یې سرغړونه وکړه، نو یقینا چې ته ښه بښونکئ او ښه مهر بان لوی څښتن یې، یعنی دا چې ابراهیم علیه السلام د خپل رب توحیدي دعوت نه سر غړونکو کسانو ته د الله تعالی د سزا او عذاب غوښتونکئ نسه، ځکه الله ډیر لوی بښونکئ او مهر با ن پالونکئ ذات دئ، او هر چا سره د هغه لائق چلند کړي او ثواب او سزا ورکوي، نو د ابراهیم علیه السلام دا تګ لاره د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته تل پاتې تګ لاره ده، نو ځکه یې د مکې په فتحه کې د هیڅ چا نه انتقام وانخست او ټولو خلکو ته یې وو یل:(اذهبوا وأنتم الطلقاء) لاړ سی تاسې ټول ازاد یاستی او د هیڅ چا سره په تیرو کړنو حساب نکیږي، یعنی سزا نه ورکول کیږي او سر او مال یې خوندي دي!

هو! ګرانو دوستانو! ابراهیم علیه السلام چې د پیغمبرانو پلار او غور نیکه ؤ او ټول بشر یت ته د توحید لارښود دئ؛ د هغه د عفوې او ترحم نه ډکه دغه و ینا خپلو مخالفینو ته؛ د الله توحید ټولو رابلونکو دعاتو ته په هر وخت او هر عصر کې؛ ډیر غوره درس او زده کړه ده، نو ښایي چې ځانونه ښه ور باندې پوه کړو او خپلو مخالفینو ته د هدایت دعاء وکړو.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې مونږ ته الله تعالی د ابراهیم علیه السلام هغه دعاګانې او زاري الله ته په مکه کې د خپل کهول میشتولو په باره کې رایادې کړې دي او دعائې کړې ده، او فرمایلي دي:

[٣٧] ای د زمونږ لو یه ر به! یقینا چې ما د خپل کهول نه ځینې کسان په یو وچ ناو کې چې کښت پکې نسته؛ د ستا حرام سوي کور په څنګ کې میشت کړل [یعنی دا ځکه چې په مکه کې په یو بل باندې تیرئ حرام دئ] ترڅو دوی ای د زمونږ لو یه ر به! هلته لمونځ ودروي [یعنی تا ته د بنده

ګې سجدې وکړي] نو ته اى ر به! د ځينې خلکو زړونه هغې خواته ورمات کړه، ترڅو دوى د زما کهول خواته ورسي، او اى لو يه ر به! دوى ته د ميوو روزي ورکړه، ترڅو دوى د روزي شکر و باسي، يعنى په اخلاص سره د ستا بنده کې او عبادت وکړي.

[٣٨-٣٩] او اى د زمونږ لو يه ر به! يقينا چې ته د زمونږ په پټو او ښکاره ټولو کړنو باندې پوهيږې او هيڅ کم څه په ځمکه او اسمان کې د الله نه پټ نه دي، نو ټوله ستاينه او حمد او ثناء يوازې الله لره ده، ځکه الله په لوى عمر کې ما ته اسماعيل او اسحاق راو ښښل، نو يقينا چې د زما رب زما دعاء اورې، يعنى نو د قبلدو هيله پې لرم.

[٤٠] او اى لو يه ر به! ما پر لمانځه کړو باندې کلک وګرځۀ [يعنى ترڅو هغه په ښه طر يقه تل ودروم او لمونځ وکړم] او د زما کهول هم پرلمانځه باندې ټينګ کړه، او اى لو يه ر به! د زما دعاء قبوله کړه.

[٤١] او اى د زمونږ لو يه څښتنه! ما او د زما مور او پلار او مومنان په هغه ورځ و ښه چې کله د حساب ورکولو ورځ در يږي، يعنى د قيامت په ورځ مونږ و ښه.

عزتمنو دوستانو! دا وضاحت د پام وړ دئ چې ابراهيم عليه السلام خپلې مور او پلار ته د هغې وعدې سره سم دعا وکړه چې مخکې يې د دوى سره کړې ؤ، خو بيا چې کله د ابراهيم عليه السلام پام سه چې دوى ايمان نه راوړي او مشرکان پاتې کيږي او مشرکان الله نه ښې، نو بيايې خپل براءت او بيزاري د دوى نه اعلان کړه، او دا وضاحت د التوبې سورې په ١١٤ آيت کې ياد سوئ دئ، او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٞ ١١٤﴾ التوبة:١١٤."هو! د ابراهيم استغفار او پلار ته د ښې دعاء کړل؛ د هغې وعدې سره سم ول چې هغه يې د خپل پلار سره کړې ؤ [يعنى هغه ته يې و يلي ؤ چې د الله نه به درته ښه وغواړم] خو بيا چې کله ابراهيم ته ښکاره

سؤ، چې پلارې د الله دښمن دئ [او مشرك مړ سه] نو ورځخه بې زاره سه او يقيناچې ابراهيم خپل رب ته ښه زاري كونكئ او صابر بنده دئ."

{الله ځيني كافر انو ته سزا وركول د قيامت ورځې ته زنډوي}

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى خپل پيغمبر محمدﷺ ته او د هغه امت مومنانو ته ډاډ او تسليت وركړي دئ او د كافرانو تورې راتلونكې نه يې خبر كړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا عَمَّا يَعْمَلُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ ٱلْأَبْصَٰرُ ﴿٤٢﴾ مُهْطِعِينَ مُقْنِعِى رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْـِٔدَتُهُمْ هَوَآءٌ ﴿٤٣﴾ وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ ٱلْعَذَابُ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ رَبَّنَآ أَخِّرْنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَ ۗ أَوَلَمْ تَكُونُوٓا۟ أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمْ فِى مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ ٱلْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدْ مَكَرُوا۟ مَكْرَهُمْ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ ٱلْجِبَالُ ﴿٤٦﴾ فَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِۦ رُسُلَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٤٧﴾﴾

[٤٢-٤٣] او اى پيغمبره! هيڅ كله د ظالمانو بدو كړنو نه [چې كله دوى كافران سول او ايمان يې رانور] الله غافل، بې پروا او بې خبره ونه ګڼي، او يقينا چې دوى ته سزا وركول الله هغې ورځې راتګ ته زنډوي چې په هغه ورځ به د دوى سترګې رډې ختلې وي [يعنى د ډيرې سترپا نه به نه پټيږي!] او كافران به ډير ګړندي او سركوزي د خپلو ګورونو نه راجګيږي او د ډير هول نه به بيرته شا ته نه ګوري او زړونه يې د هر څه نه خالي وي، يعنى د قيامت ورځې كلكې و يرې به كافران پسې اخستي وي!

[٤٤] اى پيغمبره! خلک د هغې ورځې عذاب نه چې دوى ته راتلونكئ دئ

وګواښــه، او ظالمان په هغه ســخته ورځ الله ته دعاء کړي او وايي: ای د زمونږ لو يه ر به! مونږ ته لږ وخت را کړه او مونږ د څه لنډې نيټې پورې وزنډۀ، او مونږ د ســتا بلنه منو او پيغمبرانو پســې ځو [يعنی فرمان يې ورو، نو بيا پردوی باندې غيبي غږ کيږي او ورته و يل کيږي:] آيا هغه تاسې نه وی؟ چې د مخکې نه مو لوړې کړې او قســمونه مو خوړل چې تاســي د دنيا نه نۀ! يعنی تل به ژوندي وی، او که مړه هم سوی، نو د خاورو سره به خاورې کيږی او بيرته نه راژوندي کيږی؟

[٤٥] [ای پيغمبره! کافرانو ته ووايه:] تاسې د هغو کسانو په کورو کې ميشت سوی چې هغوی پرخپلو ځانو باندې ظلم وکه [يعنی د الله نه ورته راغلي کتابونه او پيغمبران يې ونه منل] او بيا تاســې ته ښــکاره او معلومه ســؤ چې مونږ د هغوي ســره څه وکړل؟ [يعنی دا چې الله تعالی پخوا تير سوي هغه امتونه او ولسونه چې د الله او د هغه پيغمبرانو نه يې سرغړونه وکړه او ايمان رانوړ هلاك کړل] او ای خلکو! تاســې ته مونږ د عبرت او زدکړې ډير مثالونه او بيلګې بيان کړل، ترڅو تاسې پند واخلی، خو تاسې پند وانخست او د حق منلوته تيار نسوی!

درندو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د بشــر يت هغه اوږده تار يخ ته اشــاره کړې ده چې پاڼې يې د حق او باطل په منځ کې د اوږدې جګړې په قصــو ډکې دي او دا لړی به همداســې تر قيامت ورځې پورې جاري وي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې حقپالانو ته الله تعالی د باطل پلو يانو د توطئيو او چلونو شنډولو ز يرئ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٤٦] ای پيغمبره! يقينا چې کافرانو خپلې ډيرې توطئې او چلونه جوړ کړل [ترڅو د الله دعوت له منځه يوســي، خو الله د دوی پر مکر او توطئيو پۀ ۀ، نو د دوی ټولې توطئې يې شنډې کړې او پيغمبران يې د دوی د شــر نه خلاص کړل] که څه هم د کافرانو چلونه او توطئې دومره غټې وې چې غرونه يې ولې کول!

[٤٧] نو ته ای پیغمبره! په دي پؤ سه چې الله هیڅ کله په خپلو وعدو کې د خپلو پیغمبرانو سره مخالفت نکړي او هغه نه ماتوي [یعنی دا وعدې د پیغمبرانو ملتیا او نصرت او د دوی د دښمنانو ماتول دي] او یقینا چې الله لوی ځواکمن او د دښمنانو نه غچ اخستونکئ لوی ذات دئ.

ګرانو دوستانو! دا مبارك آیتونه رسول اللهﷺ او د هغه لارې ملګرو او وارثانو ته پوخ ډاډ او تسلیت دئ، نو دوی ته ښایي چې په پاخه یقین او باور سره خپل رسالت پر مخ یوسي او خلکو ته يې ورسوي، او هر کله چې د دښمن سره مخامخ کیږي او یا ځپل کیږي، نو بیا الله تعالی دوی یوازی نه پر ږدي او خاماخايې مرسته کړي، او دښمن يې ماتوي او انتقام ورڅخه اخلي، لکه څنګه چې د حق او باطل اوږدې مبارزې ژوندئ تار یخ د آدمعليه السلام نه نیولې تر خاتم النبیین والمرسلین محمدﷺ پورې ور باندې ژوندئ شاهد دئ، او ټول پیغمبران د شیطان په وسوسو باندې خلکو ته د ډیرو غټو توطئیو سره مخامخ سوي دي، لکه د ابراهیمعليه السلام پر وړاندې د نمرود په لاس توطئیه، او د محمدﷺ پر ضد د وژلو لو یه توطئیه د ابوجهل علیه لعنت په لاس، خو الله تعالی هغه ټولې په خپل علم او لوی قدرت او ځواک سره شندې کړې، او دلته دا لوی حقیقت هم د پام وړ دئ چې دا دئ د زمونږ په عصر کې مخلصو مومنانو سره د الله تعالی مرستو ژوندی بیلګه د افغان مجاهد ولس بر یاوې د کفري ښکیلاکګرو پر وړاندې وي چې په نیمه پیړۍ کې الله تعالی د دوی دؤ ز برځواک دښمنان(شوروي اتحاد او پلو یان په وارسو کې، او امر یکا او متحدین يې په ناتو کې) مات کړل.

{د قیامت په ورځ کافر انو ته د سزا ورکولو ژوندئ تصو یر}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د آخرت په ورځ کافرانو ته د سزا ورکول ز یري بیان کړي دي او هغه حالت يې ډیر ځلانده او رونړ مونږ ته تصو یر کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿يَوْمَ تُبَدَّلُ ٱلْأَرْضُ غَيْرَ ٱلْأَرْضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ ۖ وَبَرَزُوا۟ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ

﴿٤٨﴾ وَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِى ٱلْأَصْفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ وَتَغْشَىٰ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴿٥٠﴾ لِيَجْزِىَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٥١﴾ هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا۟ بِهِۦ وَلِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٥٢﴾

[٤٨-٥٠] ای پیغمبره! هغه ورځ چې دا ځمکه او اسمانونه بدل سي او هر څه په بل مخ را واوړي او د ځمکې زړه نه ټول خلک د الله حضور ته راښکاره سي او د الله پر وړاندې چې الله واحد ولا شر یك ځواکمن او واکمن لوی ذات دئ؛ ودر یږي، نو ته ای پیغمبره! مجرمان په هغه ورځ په زنز یرونو کې ترلې زولانه کړي و یې او جامې یې په تورو تیلو لړي وي او مخونه یې د اور په سرو لمبو کې کړ یږي!

[٥١] ترڅو الله هر چا ته د هغه د بدو کړنو سزا ورکړي، او یقینا چې الله ژر حساب اخستونکئ لوی ذات دئ.

[٥٢] ای پیغمبره! دا کتاب (قرآن) خلکو ته د الله پیغام رسونکئ کتاب دئ او ښایي چې خلک ور باندې د الله سزا نه وګوابښل سي، ترڅو دوی ښه پوه سي چې الله په حق سره یواز ینئ معبود دئ او هیڅ څوک شر یك نه لري، نو هوښیاران ده قرآن ښه زده کړي او پند ده ورڅخه وا خلي!

عزتمنو دوستانو! د الله تعالی په دې پر یکنده اعلان سره چې قرآني لارښودنو ته یې بلنه او کلک دعوت ورکړئ دئ؛ دا مبارکه سوره چې په ابراهیم عليه السلام نومول سوې ده پای ته ورسیده، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته او نورو ټولو خلکو ته پر سمه لار د تګ توفیق راکړي او د قیامت ورځې مختورنی نه ده الله مونږ په خپل فضل او کرم سره وساتي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين الذي بلغ الرسالة وأدى الأمانة ونصح الأمة، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د الحجر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الحِجر مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوړ اهداف}

قدرمنو دوستانو! د الحجر مبارکه سوره د هغې نه وړاندې سورو غوندې مکي سوره ده، او د لیک او لوست په پر یکړل سوو تورو یا حرفونو باندې پیل سو ده چې پکې د قرآن بیاني اعجاز ته اشاره ده، او دا مبارکه سوره چې پر رسول الله ﷺ باندې د هجرت نه مخکې په مکه معظمه کې را نازل سوې ده؛ د الله تعالی توحید باندې یې په عبادت کې ټینګار کړئ دئ او هغه یې په ډیرو پخو دلیلونو سره بیان کړئ دئ، او پکې کافران د الله تعالی سخت سزاګانو نه کلک ګواښل سوي دي، او همدارنګه په دې مبارکه سوره کې الله تعالی مومنان ډاډمن کړي دي او هغه دا چې الله تعالی د خپل دین حافظ او ساتونکئ دئ، نو مومنانو ته ښایي چې په کلک تصمیم سره خپل دعوتي مسوولیتونه، دندې او خوزښتونه پر مخ یوسي او د هیڅ چا پروا ونکړي، خو دا ډاډ هیڅ کله په دې معنا نه دئ چې دعوتي اصول او د رسول الله ﷺ هغه تګ لاره چې په قرآن کې او د رسول الله ﷺ په سنتو او احادیثو کې بیان سوې ده؛ په پام کې ونه نیول سي، او دا سوره په الحجر چې معنایې سمځې ده، ځکه نومول سوې ده چې د ثمود قوم په سمخوکې میشت ول، او د دوی لنډه قصه په همدې مبارکه سوره کې راغلې ده، او دغه د الحجر سیمه د مدینې منورې په شمال غرب کې پرته ده او د العلاء ولایت کې په مدائن صالح باندې یادیږي او سیلانیان یې لیدلو ته ورځي.

{کافران په آخرت کې د مسلمانۍ ارمان کړي}

قدرمنو عز یزانو! د الحِجر مبارکه سوره الله تعالی په پر یکړل سوو تورو باندې پیل کړې ده او په لمړ یو مبارکو آیتونو کې یې الله فرمایلي دي:

﴿الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ ١ رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ كَانُواْ مُسۡلِمِينَ ٢ ذَرۡهُمۡ يَأۡكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٣ وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ ٤ مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ٥ وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ ٦ لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٧ مَا نُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا مُّنظَرِينَ ٨ إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٩﴾

[١] (ألف، لام، را) هغه توري دي چې د دې کتاب (قرآن) مبارك آیتونه [ور باندې لیکل سوي او لوستل کیږي] او دغه آیتونه د روښانه کونکئ کتاب قرآن آیتونه دي، یعنی دا کتاب (قرآن) لوستل سوئ ښکاره کتاب دئ او الله تعالی پر حق او ر یښتیا سره خپلو بنده ګانو ته لارښود را لیږلي دئ، او هغه ته ورته کتاب د راوړو وسعه هیڅ څوک نه لري، خو د دې سره سره کافران قرآن نه مني او ورڅخه منکر دي.

[٢] او هغه کسان چې کافران سول او ایمان یې رانور، نو کیدای سي چې دوی ډیرځل هیله وکړي چې کاشکې مونږ مسلمانان وای، یعنی پر قرآن او پیغمبر باندې مونږ ایمان راوړئ وای، خو دغسې هیلې نورې دوی ته څه ګټه نکري، ځکه دوی په داسې حال کې دا هیلې کړي چې د دوی نه نور وار تیر سوئ دئ او د ایمان راوړو فرصت یې د لاسه وتلئ دئ، نو یوازې هیلې هیڅ ګټه نه لري.

درندو دوستانو! روایت سوئ دئ چې دا هیلې کافران په دوزخ کې کړي،

ځکه دوی ګناه ګار مسلمانان په سترګو و یې چې د الله سزا ګاللو نه وروسته بیا د دوزخ اور نه را و یستل کیږي، نو بیا کافران وایي: کاشکې مونږ هم مسلمانان وای او د دوزخ نه وتلي وای!

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته په و ینا کې فرمایلي دي:

[٣] ای پیغمبره! کافران [چې نه حق اوري او نه یې مني] همداسې په خپل حال کې پر یږده، ترڅو خواړه وخوري او خوند ورڅخه وا خلي، ځکه د دنیا ژوند طمعې دوی د الله اطاعت او بنده ګۍ نه غافل او بې پروا کړي دي! خو بیا به دغه کافران پوه سي [چې دوی دنیا او آخرت دواړه بایللي دي، او د دنیا ژوند خوندونه تل نه وي او هغه ژر پای ته رسیږي او کافران هرومرو ورڅخه تلونکي دي، او په آخرت کې به د خپل کفر سزا چې د دزوخ اور دئ وګالي او کلک به پکې وکړ یږي!

[٤-٥] [او ای پیغمبره! که کافران د ستا نه د ګرځندي عذاب راتلو غوښتونکي وي، نو په دي ده پوه سي] چې مونږ د هیڅ کلي او ښار خلک نه دي هلاک کړي؛ مګر دا چې د دوی د هلاکت نیټه په ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کې ټاکل سوې ده، او د هیڅ امت ټاکل سوئ اجل وړاندې او ورسته نکیږي، یعنی د الله عذاب په خپل ټاکل سوي وخت کې راتلونکئ دئ او د کافرانو غوښتنو ته پکې اړتیا نسته!

ګرانو دوستانو! په دې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د کافرانو هغه کبرجنې غوښتنې ځواب کړې دي چې هغه به دوی د رسول اللهﷺ نه کړې او و یل یې چې ای پیغمبره! په هغه عذاب چې ته مونږ ګوابنې؛ ژر ده راسي!

[٦-٧] او [کافرانو پر رسول اللهﷺ باندې غږ وکه او و یو یل:] ای هغه سړ یه چې پر تا باندې قرآن را نازل سوئ دئ؛ آیا ته یقینا لیونئ یې او که ته ر یښتیا وایي؟ نو ولې ملائکې (فرښتې) مونږ ته نه راولې؟ یعنی ترڅو د ستا پر پیغمبرۍ باندې شاهدي ووایي!

[٨] [نو بیا د کافرانو په ځواب کی الله تعالی وفرمایل:] هو! مونږ

ملائکې پر حق ســره درلیږو [یعنی دا ملائکې پیغمبر تــه وحیــه راوړلې او پرکافر قوم باندې د الله عذاب را کوزوي، او په هر هغه قوم باندې چې عذاب رانازلیږي] دوی ته وخت نه ورکول کیږي، یعنی عذاب نه زنډیږي.

[۹] [او دغه د ور یادولو او د وعظ کړو کتاب قرآن چې کافران هغه نه مني او ورڅخه منکر دي] هغه مونږ پر رســول الله باندې یقینا رانازل کړئ دئ، او مونږ یقیناچې د قرآن ســاتونکي یو، یعنی الله تعالی خپله د قرآن ساتونکئ دئ او قران د هر ډول بدلون، تحر یف او ضائع کیدلو نه تل ساتي او د ساتلو ټول اسباب یې ورته تیار کړي دي.

ګرانو دوســتانو! قرآن چې الله تعالی دلتــه په ذکر نومولئ دئ؛ هغه یقینا لوی ســتایل ســوئ مقدس کتاب دئ او هغه الله تعالی د هر ډول بدلون او تحر یف نه ســاتلئ دئ، او په زرهاوو علماء یې د قرآن خدمت لپاره په هر عصر کې ګمارلي دي، او دوی ټولو په خپل وار سره او په پوره صداقت او اخلاص سره د قران خدمت کړئ دئ، او دوی د ژبې او ادبیاتو پوهانو نه نیولې تر شــر یعت او ســاینس تجر بوي علم علماوو پورې؛ علماء او پوهان دي او دوی ټولو د قرآن خدمت کړئ دئ او په زرهاوو کتابونه یې پکې لیکلي دي، او د مخالفینو ټولې شــبهې یې پکې ځواب کړې دي، او د قرآن اعجازیې په هره برخه کې بیان کړئ دئ، او دا ځکه چې قرآن وروستئ اسماني لارښود کتاب دئ او د قرآن نه پرته بشر یت هیڅ کله د دنیا او آخرت حقیقي ښــادۍ او نیکمرغۍ ته رســیدلای نــي او د ګټلونه بې تل محروم پاتې وي.

{رسول الله ﷺ ته الله تعالی د ډاډ او اطمئنان ز یرئ ورکړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې رســول الله ﷺ ته الله تعالی د ډاډ او اطمئنان ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي شِيَعِ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٠ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ

إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿١١﴾ كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُۥ فِى قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٢﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّوا۟ فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴿١٤﴾ لَقَالُوٓا۟ إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَٰرُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ ﴿١٥﴾

[١٠-١١] هو؛ ای پیغمبره! یقیناچې د ستا نه مخکې په ډومبنیو ولسونو کې مونږ پیغمبران راولیږل، خو دوی ته هیڅ کم پیغمبر نه را ته، مګر دا چې دوی به د هغه سپکا وئ کا ؤ، یعنی د هغه پیغمبرې یې نه منله، او دغسې سپک چلند د پیغمبرانو سره او ورڅخه منکر یدل؛ د ډیرو هغو خلکو خوی دئ چې د الله توفیق نه محروم وي او زړونه یې تور وي، مګر دا چې بیا الله تعالی د چا زړه رڼا کړي او حق ومني، نو ته ای پیغمبره! د کافرانو سپکاوي پروا مکړه او خپل دعوت ده په پوره ډاډ او کلک تصمیم سره په مخ یوسه.

ګرانو عز یزانو! دا اطمئنان او تسلیت پیغمبرﷺ ته همداسې د رسول الله وارثانو ته د قیامت ورځې پورې؛ د ډاډ ورکولو او د اطمئنان ډیر غوره پیغام دئ، نو ښایي چې دوی هیڅ کله د کافرانو او فاسقانو بدو او سپکو تبلیغاتو چې تل یې حقپالانو پسې کړي؛ پروا ونکړي او پر الله تعالی باندې ده توکل وکړي او خپل پیغام ده خلکو ته په یقین سره ورسوي!

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې کافران د الله تعالی تل پاتې قانون سره سم په کلکه سزا ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

[١٢-١٣] ای پیغمبره! [او لکه څنګه چې د تیرو سرکښو ولسونو په زړونو کې کفر او د پیغمبرانو تکذیب ځای پرځای سوئ ؤ] همداسې به مونږ د مکې مجرمانو په زړونو کې د حق سره دښمني او تا ته دروغژن و یل ورننه باسو [یعنی ترڅو مجرمان د ډیرې کلکې سزا مستحق وګرځي] ځکه دوی پر پیغمبر باندې ایمان نه راوړي، او یقینا چې د دوی نه پخوا په

تیرو سرکښو ولسونو کې زمونږ د چلند او سزا ورکولو دا کړن لاره تیره سوې ده، یعنی نو د هغوی غوندی به دوی ته هم کلکه سزا ورکړه سي او قر یش به، لکه پخواني سرکښ ولسونه کلک وځپل سي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د کافرانو کبرجنو زړونو نه پرده لري کړي ده او د دوی پټه توره خیره پې پیغمبرﷺ ته رسوا کړې ده، او په بیان کې فرمایلي دي:

[١٤-١٥] ای پیغمبره! که مونږ د مکې کافرانو پر مخ اسمان ته یو ور راخلاص کړو، نو بیا به دوی همداسې ورځیږي [یعنی دا چې ترڅو د الله د قدرتونو نښانې په اسمان کې وو یني، خو بیا به هم هغه نه مني] او وایي به چې د زمونږ سترګې وترل سوي، بلکې پر مونږ کودې سوې دي، یعنی داسې څه مونږ ولیدل، لکه چې په خوب او خیال کې یو!

عزتمنو دوستانو! دغسې و یناوې د کافرانو د تورو کبرجنو زړونو؛ هغه پټ حقیقت دئ چې هغه الله تعالی مونږ ته راښکاره کړئ او رسوا کړئ دئ، نو ښایي چې د پیغمبرانو د دعوت بیرغ پورته کونکي علماء او دعات تل و یښ وي او د حق لارې دښمنان ښه و پیژني او هیڅ کله پرهغوی باندې ونه غولیږي او د دوی د تورو کرغیړنو توطئیو ښکار نسي.

{الله پر ځمکه او اسمان کې د خپلو قدرتو نښې خورې کړې دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونه کې الله تعالی د خپلو لو یو قدرتونو نښانې او دلیلونه په اسمان او ځمکه کې یاد کړي او بیان کړي دي، ترڅو کافران پکې ښه ژور فکر وکړي او الله تعالی په توحید سره و پیژني او ایمان راوړې او د الله تعالی بنده کې په توحید سره وکړي، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٦﴾ وَحَفِظْنَٰهَا مِن كُلِّ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ ﴿١٧﴾ إِلَّا مَنِ ٱسْتَرَقَ ٱلسَّمْعَ فَأَتْبَعَهُۥ شِهَابٌ مُّبِينٌ ﴿١٨﴾ وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسْتُمْ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ﴿٢٠﴾ وَإِن مِّن شَيْءٍ

إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢١﴾ وَأَرْسَلْنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَسْقَيْنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمْ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ ﴿٢٢﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْىِۦ وَنُمِيتُ وَنَحْنُ ٱلْوَٰرِثُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَـْٔخِرِينَ ﴿٢٤﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾

[١٦-١٨] ای خلکو! او یقینا چې په اسمانونو کې مونږ برجونه جوړ کړي او ودان کړي دي، او هغه مونږ لیدونکو او نندارې کونکو ته؛ په ستورو ښایسته کړي دي، او هغه مونږ د هر رټل سوي شیطان نه ساتلي دي، مګر دا چې د شیطانانو نه کم یو پټ غوږ و باسي [یعنی داچې وغواړي پټې خبرې واوري، خو دا شیطان هم الله نه پر یږدي] او یو ځلانده سوزونکئ ستورئ ور پسې ورتوغولکیږي، یعنی ترڅو دغه شیطان وسوزوي او پرې یې نږدي چې څه واوري.

[١٩-٢١] او ځمکه مونږ خوره کړه او غرونه مو ور باندې راواچول [یعنی ځمکه الله تعالی کلکه میخ کړي ده او خوښت یې درولئ دئ] او بیا ډول ډول کښتونه او ونې مونږ یو بل سره برابر په ځمکه کې راشنه کړل [ترڅو ژوندي مخلوقات ورڅخه کټه واخلي] او ای خلکو! تاسې ته د ژوند ټولې اړتیاوي مونږ په ځمکه کې پیدا کړې [یعنی لکه، ځاروي او نور ډیر حیوانات او مرغان، او د ژوند اسانتیاوو نور ډیر هغسې وسائل چې الله په ځمکه کې پیدا کړي دي] او تاسې ای خلکو! هغو ته روزي نه ورکوي، او هر څه چې په ځمکه کې دي؛ د هغوی ټولو خزاني زمونږ سره دي، او بیا مونږ د هر څه نه معلومه سوې اندازه خلکو ته راکوزوو، یعنی هر چا ته الله تعالی د هغه برخه روزي ورکوي، او د هر چا روزۍ مالك او څښتن الله دئ او په خپله اندازه روزي ورکوي.

[٢٢] او ای خلکو! شمالونه یا بادونه مونږ بلار بونکي را لیږلي دي، نو بیا او به مونږ د اسمان نه راوورولې دي او هغه تاسي ته مونږ در وڅکلې [او ځارو یو هم هغه وڅکلې او کښتونه او باغونه هم ور باندې او به

سول] او دغه او به نه تاسې ډنډه ولای سی او نه یې ساتلای سی، یعنی هغه تاسې ته الله د ځمکې په زړه کې ساتي او ذخیره کوي یې، او بیا د هغو نه چینې، کو یان او کار یزونه راوځي او تاسې ورڅخه ګټه اخلی.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی ټولو خلکو ته اعلان کړئ دئ چې ژوند او مرګ د الله تعالی په واک کې دئ او د مرګ نه وروسته ټول خلک الله ته ورغونډیږي او د ټولو وارث الله دئ، او الله تعالی هر چا سره حساب کړي، او فرمایلي دي:

[٢٣] او ای خلکو! یقینا یوازې مونږ یو چې ژوندي مخلوقات مړه کوو او مړه راژوندي کوو، او بیا ځمکه مونږ په میراث وړو، یعنی د ځمکې سر نه ټول ژوندي ګرځندوی مخلوقات د الله په حکم مړه کیږي او ځمکه یوازې الله ته په میراث پاتې کیږي، او د قیامت په ورځ بیا الله تعالی مړي بیرته راژوندي کوي او ورسره حساب کړي.

[٢٤] هو؛ ای خلکو! یقینا چې مونږ د ستاسې نه پخوا تیر سوي خلک و پیژندل، او هم د ستاسې نه وروسته راتلونکي خلک مونږ یقینا پیژنو، یعنی د الله علم پر ټولو خلکو باندې یقیني دئ، ځکه الله تعالی د زمونږ خالق او پیدا کونکئ خدای دئ.

[٢٥] ای پیغمبره! او یقینا چې د ستا رب الله ټول خلک د قیامت په ورځ حساب ورکولو ته راغونډوي، ځکه د ستا رب الله یقینا لوی حکیم او ښه پوه ذات دئ، یعنی الله تعالی هر څه په ښه علم او په پاخه حکمت او تدبیر سره تر سره کوي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی ښه پوه او لوی حکیم او کلک ځواکمن او قادر ذات دئ، او پر ځمکه او اسمانو کې ټول ستە مخلوقات؛ الله تعالی پیدا کړي دي، او هغه ټول د الله په علم او حکم سره سمبالیږي او پالل کیږي، نو ځکه د الله په ټولو مخلوقاتو کې ښه پوخ نظم او کلک توازن او برابري قائمه ده، او ځمکه او اسمان او پکې ستە ټول کائنات هر یو د همدې الهي نظام او قانون په چوکاټ کې خپل ورسپارل سوئ رسالت،

دنده او مامور يت د الله تعالى لوى غيبي قوت او څار لاندې ســمبالوي پرته لدې چې پکې کمه کډوډی يا بې نظمي رامنځ ته ســي، نو يقينا چې د الله تعالى دا لوى نظام په اسمانو او ځمکه کې؛ د هغه لو يو قدرتونو ښه ښکاره او ځلانده نښه ده، نو ښايي چې هوښيارانو خپل ځانونه ور باندې ښه پوه کړي او د الله تعالى لو يو پيرزو ينو نه کټه او خوند واخلي.

{آدم عليه السلام ته ملائکو سجده وکړه خو ابليس يې دښمن سه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د لمړني انسان (آدم عليه السلام) د پيدايښــت قصــه مونږ ته کړې ده چې بيا هغه ته ملائکو د الله په حکم د درنښــت ســجده وکړه، خو ابليس چې په جنت کې ؤ آدم عليه السلام تــه يې د سجدې کړو نه سرغړونه وکړه او ځان يې پر آدم عليه السلام باندې لوړ او پورته وګانه او بيايې دښمنۍ ته کلکه ملا وترله، او د دغسې لويې پيښې قصې يا داستان په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ٢٦ وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ٢٧ وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرٗا مِّن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ٢٨ فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ٢٩ فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ٣٠ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ٣١ قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ٣٢ قَالَ لَمۡ أَكُن لِّأَسۡجُدَ لِبَشَرٖ خَلَقۡتَهُۥ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ٣٣﴾

[٢٦-٢٧] هوا! يقينا چې انســان [يعنى آدم عليه السلام] مونږ د وچې خوســا سـوې خټې نه پيدا که، او د هغه نه وړاندې پيرئ مونږ د اور سـره انکار نه پيدا که، يعنى ملعون ابليس د پيريانو پلار الله تعالى د آدم عليه السلام نه مخکې د اور سره انکار نه پيدا که.

[٢٨-٢٩] نو اى پيغمبره! هغه وخت راپه ياد کړه کله چې د ســتا رب الله ملائکو ته وو يل: زه انسـان د وچې خوسـا سـوې خټې نه پيدا کوم، نو

بيا چې کله هغه ما جوړکه او د خپل روح نه ما د هغه په کالبوت کې روح پوکه، نو بيا تاسې ای فرښتو؛ آدم ته د درناوي په سجده پرمخې ولو يږی، يعنی آدم عليه السلام ته د درناوي سجده وکړی.

[۳۰-۳۱] نوبيا ټولو ملائکو د الله په حکم آدم ته سجده وکړه [يعنی د الله حکم يې پرځای که او د آدم عليه السلام درناوئ او قدريې وکه] خو ابليس ملعون د سجده کونکو نه نه ؤ، يعنی د ملائکو سره يې آدم عليه السلام ته سجده ونکړه، بلکې د الله تعالی حکم نه يې سرغړونه وکړه، ځکه هغه کبر په سر واخست او د بغاوت لارې خپله کړه.

[۳۲-۳۳] [او بيا الله تعالی پر ابليس غږ وکه] او و يو يل: ای ابليسه! ته ولې د سجده کونکو نه نوې؟ ابليس [په ځواب کې] وو يل: زه داسې يو چا ته سجده نکړم چې هغه تا د توړې خوسا سوې خټې نه پيدا که او زه ده د اور نه، يعنی دا چې زه پرآدم لوړ يم، نو ځکه هغه ته ما سجده ونکړه.

قدرمنو دوستانو! دا ځواب د ابليس کبر او غرور او پر آدم عليه السلام باندې د خپل ځان پورته کړو ښکاره دليل ؤ، نو ځکه علماء وايي چې ابليس عليه اللعنة د فاشستی بنسټ ايښودونکئ او مؤسس دئ، نو هر څوک چې په ټولنه کې قومي، سمتي او ژ بنې تو پيرونه را پاروي؛ هغه د شيطان ملګرئ او د هغه لښکرو استازئ دئ.

{شيطان الله وراته نو بيايې د آدم کهول غولو ته ملاوتړله}

هو! شيطان الله تعالی وراته، نو بيا هغه کينه واخسته او د آدم کهول غلولو ته يې کلکه ملا وتړله، او په بيان کې الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونونو کې فرمايلي دي:

﴿قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ ٣٤ وَإِنَّ عَلَيۡكَ ٱللَّعۡنَةَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٣٥ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ٣٦ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ٣٧ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ٣٨ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٣٩ إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ٤٠ قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ

عَلَيَّ مُسۡتَقِيمٌ ﴿٤١﴾ إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ﴿٤٢﴾ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوۡعِدُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبۡعَةُ أَبۡوَٰبٖ لِّكُلِّ بَابٖ مِّنۡهُمۡ جُزۡءٞ مَّقۡسُومٌ ﴿٤٤﴾

[٣٤-٣٥] [نو بيا الله تعالى ابليس ته حكم وكه او ورته ټپ] وو يل: نو ته د جنت نه ووځه! ځكه ته لعنتي رټل ســـوی يې، او يقينا چې د قيامت ورځې پورې پر تا باندې د زمونږ لعنت دئ، يعنی ته د زمونږ رحمت نه نور شړل سوئ محروم يې!

[٣٦] [نو ابليس ملعون په ځواب کی د الله نه وغوښــتل] او و يو يل: ای لو يه ر به! ما د قيامت ورځې پورې وزنډۀ او مهلت راكړه، يعنی دا چې ترڅو ابليس ښه ډير خلک د الله لارې نه واړوي او د سمې لارې نه يې ورک کړي او بيا په آخرت کې ابليس سره يوځای په دوزخ کې وکړ يږي !

[٣٧-٣٨] او بيا ابليس ته الله وو يل: ځه! ته نور د ټاكل ســـوي وخته پورې د زنډول ســـوو نـه يې، يعنی د هغې ورځې پورې بـه ژونـدئ وې چې اســـرافيل لمړئ ســـورنئ پۀ كړي او ټول خلک مړه ســـي، او د ســـتا ټول شيطاني ارمانو نه پوره سي او ښه ډير خلک وغولوي او د الله لارې نه يې واړوي او په كږه لارې چې د شيطان لار ده روان كړي.

[٣٩-٤٠] نو بيا رټل ســـوي ابليس وو يل: ای ر به! نو دا چې زه تاكوږ كړم او د سمې لارې نه ده واړولم، نو قســم دئ چې زه به د آدم كهول ته د دوی كړنې په ځمكه كې ښـايسـته او ښـكلې كړم [يعنی ترڅو دوی په ګناه كې په خپله خوښـه ورننوځي] او دوی به ټول پرته د مخلصـو مومنانو نه د ســـمې لارې نـه ورک كړم، يعنی يوازې د الله مخلص بنده ګان بـه نجات بياموميي، ځكه دوی الله تعالى د شيطان وسوسـو نه په خپل رحمت سره خلاص كړي دي او نجات يې ورکړئ دئ.

[٤١-٤٢] نو بيا الله وو يل: دا زما د دين ســمه لار ده [يعنی هر څوک چې په ســـمه لار ځي نجات مومي] او ای ابليســـه! يقينا چې ته د زما پر

مخلصــو بنده ګانو باندې واکمن نه يې، او د ســتا زور پر دوی باندې نه رسيږي، مګر هغه ورک سوي کسان چې تا پسې په کړه لار تللي دي، يعنی د شيطان ملګرتيايې د الله په ملتيا باندې غوره کړې او خوښه کړې ده.

[٤٣-٤٤] او يقينا چې د ټولو کافرانو سره وعده سوئ ځای جهنم دئ او هغه ته د ورننوتلو ورونه اوؤ ورونه دي او د هر وره برخه و يشل سوې ده، يعنی د هر وره يا دروازې نه هغې ته ټاکل سوي کسان د کافرانو او د ګناه ګارانو نه ورننوځي.

درندو دوستانو! دا هغه پر يکنده ښکاره در يځ، سپينې خبرې او توده مرکه ؤ چې الله تعالی د ملعون ابليس سره کړې ده، او بيا الله تعالی هغه پر خپل پيغمبر محمدﷺ باندې په قرآن کر يم کې رانازله کړې ده، ترڅو دا قصه د قيامت ورځې پورې خلکو ته ورسول سي او دوی ښه پرې پوه سي، نو بيا د هر چا خپله خوښه چې ابليس پسې ځې او جهنم خوښوي، او که ايمان راوړي او پر سمه لار خوځيږي او جنت ته ورننوځي، او د الله تعالی دا مرکه او خبرې د شيطان سره مونږ ته په مرکو او جرګو باندې سپارښت دئ، ترڅو د حق نه منکر او بې لارې کسان په قوي منطق او پاخه استدلال سره قانع سي، او حق د زړه له کومې په اخلاص سره ومني او ورسره د دښمنۍ نه لاس واخلي، او بيا د خلکو په منځ کې د تودو جګړو مخه ونيول سي او د دوی اختلافات په جرګو کې سره حل سي.

{مومنان په جنت کې ورونو غوندې ژوند کړي او کينې نکړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د متقيانو ثوابونه چې لوی جنتونه دي؛ مونږ ته ياد کړي او بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ۝٤٥ ٱدۡخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ ۝٤٦ وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلٍّ إِخۡوَٰنًا عَلَىٰ سُرُرٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ۝٤٧ لَا يَمَسُّهُمۡ فِيهَا نَصَبٞ وَمَا هُم مِّنۡهَا بِمُخۡرَجِينَ ۝٤٨ * نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝٤٩ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلۡعَذَابُ ٱلۡأَلِيمُ ۝٥٠﴾

[٤٥-٤٨] هو! یقینا چې د متقیانو ځای هغه لوی باغونه دي چې چینې پکې بهیږي او دوی ته و یل کیږي چې په پوره ډاډ او اطمینان سره ورننوځئ، او د جنتیانو زړونو نه کینې مونږ وایستلې، او دوی به یو بل ته مخامخ پرکټو سره ناست وي، او د جنت په باغونو کې دوی ته هیڅ ستړیا نسته او نه ورڅخه و یستل کیږي، یعنی تل به د الله نعمتونو نه په جنت کې خوند اخلي او هلته به په نعمتونو کې ښه خوښ اوسیږي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې پیغمبر محمدﷺ ته الله تعالی حکم کړئ دئ چې د الله مخلصو بنده ګانو ته ز یرئ ورکړي چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ، او فرمایلي دي:

[٤٩-٥٠] ای پیغمبره! [او د زما بنده ګانو ته ز یرئ ورکړه] او خبرې کړه چې یقینا زه ښه بښونکئ او ښه مهر بان یم، خو د زما عذاب یقینا ډیر کړونکئ عذاب دئ، یعنی دا چې نه ښایي هیڅ څوک د الله په بښنه او مهر بانۍ باندې داسې ډاډه سي چې هر څه یې هیر سي او د الله بنده ګي او عبادت پر یږدي او ګناه ته مخه کړي، او که څوک دغسې غافل سي، نو ښایي پوه سي چې د الله عذاب ډیر دردونکئ دئ، او بیا ده خلک یوازې د خپلو ځانونو نه ګیله وکړي!

{ابراهیم ته د الله استازو ملائکو د زوی زیږ یدلو زیرئ ورکه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې بیا الله تعالی د ابراهیمعليه السلام هغو میلمنو قصه کړې ده چې دوی ابراهیمعليه السلام ته د زوی ز یږ یدلو ز یرئ او د لوط قوم د هلاکت خبر ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَنَبِّئْهُمْ عَن ضَيْفِ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٥١﴾ إِذْ دَخَلُوا۟ عَلَيْهِ فَقَالُوا۟ سَلَٰمًا قَالَ إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا۟ لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ﴿٥٣﴾ قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِى عَلَىٰٓ أَن مَّسَّنِىَ ٱلْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾ قَالُوا۟ بَشَّرْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْقَٰنِطِينَ ﴿٥٥﴾ قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا

ٱلضَّآلُّونَ ﴿٥٦﴾ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٥٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥٩﴾ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ قَدَّرْنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٦٠﴾

[٥١-٥٢] او ای پیغمبره! ته ده خپل قوم (قر یش) د ابراهیم میلمنو قصې نه خبر که، کله چې دوی ناڅاپه ابراهیم باندې راننوتل او و یو یل: سلام! نو ابراهیم [دوی ته د هرکلي نه وروسته ښه خواړه وړاندې کړل او بیا چې کله میلمنو ډوډۍ ته لاس وړاندې نکه] نو ابراهیم دوی ته وو یل: مونږ یقیناچې د ستاسې نه و یر یرو!

[٥٣] میلمنو په ځواب کې ابراهیم ته وو یل: ته مه و یر یره مونږ تا ته د یو ښه پوه ماشوم ز یرئ درکوو، یعنی ای ابراهیمه! تا ته به الله تعالی زوی(اسحاق عليه السلام) در و ښې.

[٥٤] نو ابراهیم ورته وو یل: آیا تاسې ما ته په داسې وخت کې د زوی ز یرئ را که چې زه نور زوړ یم، نو پر څه ما ته ز یري راکوی؟ یعنی دا چې زه او میرمن مه زاړه یو او د زوی پیدایښت او ز یږولو وخت نور تیر سوئ دئ.

[٥٥] [او بیا دغو میلمنو چې ملائکې ول ابراهیم ته] وو یل: مونږ پر هغه حق سره [چې هغه مونږ ته الله ښودلئ دئ] تا ته ز یرئ درکه، نو ته د ناهیله سوو کسانو نه مکیږه!

[٥٦] ابراهیم [په ځواب کې] وو یل: د الله رحمت نه د ورک سوو کسانو نه پرته بل هیڅ څوک د خپل رب الله رحمت نه نه ناهیلې کیږي.

[٥٧] او بیا ابراهیم پوښتنه وکړه وو یل: نو ای استازو د ستاسې پیغام څه شئ دئ؟ یعنی تاسې زمونږ نه څه غواړئ؟

[٥٨-٦٠] [میلمنو چې د الله استازي ول په ځواب کې] وو یل: مونږ د یو مجرم قوم هلاکت لپاره را لیږل سوي یو [یعنی هغه د لوط عليه السلام قوم دئ] او د لوط کورنۍ ټولو غړو ته پرته د هغه میرمنې نه مونږ نجات ورکوو، خو د هغه میرمنې په باره کې مونږ پر یکړه کړې ده چې هغه خاماخا

په عذاب کې د پاتې سوو نه ده، یعنی الله تعالی د لوط عليه السلام میرمنې د هلاکت پر یکړه کړې ده، ځکه هغه د خپل سرکښ قوم په څنګ کې ولاړه ؤ، او د لوط عليه السلام پیغمبري یې ونه منله او ایمان یې رانوړ.

درندو دوستانو! الله تعالی د خپلو استازو ز یرئ ابراهیم عليه السلام ته ر یښتیا که او په زاړه عمرکې یې هغه او میرمنې ته یې زوی ورکه او هغه زوی اسحاق عليه السلام ؤ، او بیا اسحاق د خپل پلار نه پیغمبري په میراث یوړه، او همدارنګه الله تعالی د لوط عليه السلام قوم هلاك که، ځکه دوی د ښځو نه پرته د نار ینو نه؛ جنسي خوند اخست، نو الله تعالی د اسمان نه د سرو سوو تیرو باران ور باندې راوورا ؤ، او ځمکه یې پردوی باندې پر بل مخ راواړوله، ترڅو د دوی د دې بد عمل او لوی جرم سزا ټولو خلکو ته تر قیامت ورځې پورې؛ د زدکړې او د عبرت اخستلو لوی درس او زده کړه وي.

{د لوط مجرم قوم ته الله تعالی کلکه سزا ورکړه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د لوط عليه السلام قوم ته د هغوی د بدو کړنو سزا ورکول یاد کړي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٦٢﴾ قَالُواْ بَلْ جِئْنَٰكَ بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٦٣﴾ وَأَتَيْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٦٤﴾ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ وَٱتَّبِعْ أَدْبَٰرَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ وَٱمْضُواْ حَيْثُ تُؤْمَرُونَ ﴿٦٥﴾﴾

[٦١-٦٢] نو بیا چې کله د لوط کورنۍ ته د الله را لیږل سوي استازي راغلل، نو لوط میلمنو ته وو یل: تاسې یقینا چې نا اشنا خلک یاستی، یعنی زه تاسې نه پیژنم؟

[٦٣-٦٥] [نو بیا استازو لوط عليه السلام ته په ځواب کې] وو یل: بلکې مونږ تا ته د هغه حق سره چې د ستا قوم پکې شک درلود؛ راغلي یو [یعنی حق د الله هغه عذاب دئ چې د لوط قوم نه مانه او پکې شکمن ول، او باوریې ور باندې ونکه] او دا حق تا ته ای لوطه! مونږ د الله نه راوړئ دئ او مونږ

په يقين سره د ر ښځتيا و يونکو نه يو، نو ته اى لوطه! د خپلې کورنۍ مومنو غړو سره د شپې په پخه تياره کې د کور نه ووځه، او ته د خپلې کورنۍ غړو شا پسې ورځه [يعنى دا چې ترڅو څوک پاتې نسي] او پام کوى چې د ستاسې نه هيڅ څوک شا ته ونه ګوري، او په کمه خوا چې درته حکم کيږي لاړ سى، يعنى ترڅو تاسې د امن ځاى ته ورسيږى او د کړونکي عذاب نه د الله تعالى په فضل او رحمت سره وساتل سى.

{لوط الله تعالى د خپل سرکښ قوم هلاکت نه خبر کړ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې لوط عليه السلام الله تعالى د خپل سرکښ قوم د هلاکت نه خبر کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذَٰلِكَ ٱلْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ أَهْلُ ٱلْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٦٧﴾ قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِى فَلَا تَفْضَحُونِ ﴿٦٨﴾ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ ﴿٦٩﴾ قَالُوٓا۟ أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِىٓ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴿٧١﴾ لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِى سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٢﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ ﴿٧٣﴾ فَجَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾﴾

[٦٦] او بيا لوط مونږ د هغه قوم ته د سزا ورکولو نه خبر که [يعنى هغه ته مونږ وحيه وکړه] چې د دغو سرکښو خلکو ر ښې د صباح په راختلو سره و يستل کيږي.

[٦٧] [او د الله عذاب راتلو نه مخکې د لوط عليه السلام قوم د ميلمنو نه خبر سول] او د ښار اوسيدونکې لوط خوا ته په خوښۍ سره راغلل، يعنى دا چې غوښتل يې د لوط عليه السلام ميلمانه بې عزته کړي او بد کار ورسره وکړي!

[٦٨-٦٩] نو لوط دوى ته وو يل: يقينا چې دا کسان د زما ميلمانه دي، نو ما مه شرموى او د الله نه وو يرى [يعنى د زما ميلمونو ته لاس اوږد

نکړئ] او ما سپک نکړئ!

[٧٠] [نو بیا دغو بې شرمو خلکو لوط عليه السلام ته په ځواب کې] وو یل: آیا ته مونږ د لارو یو میلمستیا نه نوې منع کړئ؟ یعنی د لوط عليه السلام قوم مجرمانو به لارې نیولې او مسافر لارو یان بې بې عزته کول او زورول.

[٧١] [او بیا لوط عليه السلام د خپل قوم په دغو مجرمان باندې غږ وکه او ورته یې] وو یل: دا دي د زما لونې، نو که تاسې شوق لرئ د هغوی سره وا ده وکړئ، یعنی لوط عليه السلام وغوښتل چې میلمانه په هره ممکنه پلمه د دوی د رسوایي نه وساتي.

[٧٢-٧٣] او ای پیغمبره! د ستا په ژوند ده قسم وي چې دا د لوط قوم همداسې په خپله مستۍ کې لګیا او ډوب ؤ [یعنی د الله نه ورته راغلي لارښود پیغمبر خبرې یې نه منلې، نو بیا د سحر راختلو په وخت کې د الله عذاب] سختو چیغو دوی پسې راوخستل او کلک یې راونیول!

[٧٤] نو بیا ځمکه مونږ ور باندې راواړوله [یعنی لاندې باندې مو کړه] او په اور کې سرو سوو تیګو یا د ډبرو باران مونږ ور باندې راوورا ؤ.

[٧٥-٧٧] او یقینا چې په دغسې سزا ورکولو کې عبرت اخستونکو ته د الله لو یو قدرتونو نښې نغښتې دي، ځکه د لوط قوم کلي د لو یو لارو پر سر پرا ته ول، او لار یو مسافرو به هغه لیدل، نو مجرمانو ته دغسې سزا ورکول یقینا چې مومنانو ته د دوی د ر ښتینولۍ تصدیق پیغام ؤ.

ګرانو دوستانو! د لوط عليه السلام قوم د شاذو جنسي اړ یکو دا شرمونکې قصه او بیا د لوط عليه السلام قوم ته کلکه سزا ورکول؛ ټولو هغو کسانو ته سخت ګوابنې دئ چې دوی په دغسې چټل جرم رودي وي، او دا بد فعل نه یوازې چې حرام دئ، بلکې د بشر یت په تار یخ کې لوی جرم بلل کیږي.

{ په مدین کې د شعیب عليه السلام قوم ته الله لوی عذاب ورکه }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې د شعیب عليه السلام قوم ته الله تعالی د خپل لوی عذاب نه مونږ خبر کړي یو، او فرمایلي دي:

﴿وَإِن كَانَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ لَظَٰلِمِينَ ٧٨ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٖ مُّبِينٖ ٧٩﴾

[۷۸-۷۹] هو! د ایکه کلیو اوسیدونکي [چې د ګنبو ونو په باغونو کې پټ ول] کلک ظالمان ول [یعنی دا خلک چې د مدین ښارګوټي اوسیدونکي ول؛ دوی د شعیب علیه السلام قوم ؤ او پرالله باندې دوی په کفر سره پرخپلو ځانو باندې ظلم کړئ ؤ] نو بیا د هغوی نه مونږ کلک غچ او انتقام واخست، او هغه دواړه کلي [د لوط او شعیب قوم کلي] په لو یه ښکاره لار باندې پراته ؤ، یعنی دوی لار و یو مسافرو په سترګو لیدل.

قدرمنو عز یزانو! د لوط او شعیب علیهما السلام د سرکښو او ظالمو خلکو کلي او باندې د عر بستان لوی ټاټوبي یا جز یرې په شمال کی د لویې لارې په سر پراته ؤ، نو کله چې پر دوی باندې د الله لوی عذاب درنده سزا راپر یوتله او دوی یې د خاورو لاندې کړل او د اسمان نه پردوی باندې د سرو تیګو یا ډبرو باران وسه، نو ټولو مسافرو لارو یانو دوی ولیدل، او دغه سیمه لا تر اوسه همداسې پاتې ده او نړ یوال سیلانیان یې ننداړې ته راځي، ترڅو دا د الله تعالی عذاب پاتې نښې وګوري.

{د الحجر تنګي قصه او د صالح قوم مینه د عبرتونونه ډکه ده}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې د الحجر یا د تنګي اوسیدونکو قصه مونږ ته الله تعالی کړې ده، او دا مبارکه سوره ور باندې نومول سوې ده، او دوی د ثمود قوم ول، اودوی ته صالح علیه السلام الله تعالی پیغمبر را لیږلي ؤ، او دا سوره په الحجر چې معنایې تنګئ دئ، ځکه نومول سوې ده چې پکې تل پاتې عبرتونه دي، او دا سیمه د شعیب علیه السلام قوم سیمې (مدین) په خیرمه د عر بانو لویي جز یرې په شمال کې پرته ده، او د قر یشو سوداګرۍ کاروانو نه به شام ته ور باندې په خپلو جو پو کې تیریدل را تیریدل، او په بیان کې الله فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡحِجۡرِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٨٠ وَءَاتَيۡنَٰهُمۡ ءَايَٰتِنَا فَكَانُواْ عَنۡهَا

مُعۡرِضِينَ ﴿٨١﴾ يَنۡحِتُونَ مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ ﴿٨٢﴾ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُصۡبِحِينَ ﴿٨٣﴾ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٨٤﴾

[٨٠] او يقينا چې د الحجر اوسيدونکو د الله پيغمبران دروغژن و بلل، يعنى دوى صالح عليه السلام چې د ثمود قوم ته پيغمبر را ليږل سوي ؤ؛ تکذيب کوه، يعنى يقينا د يؤ پيغمبر تکذيبول د ټولو پيغمبرانو تکذيب معنا لري.

[٨١] او ثموديانو ته مونږ د خپلو قدرتونو نښې او معجزې وښودلې، خو دوى ورڅخه مخ واړا ؤ، يعنى هيڅ ګټه يې ورڅخه وانخسته!

هو؛ قدرمنو دوستانو! صالح عليه السلام خپل ولس ثمود ته د هغوى په غوښتنه د الله تعالى نه وغوښتل چې د هغه لوى ګټ نه چې هلته پروت ؤ؛ دوى ته اوښه راپيدا کړي، خو ثموديانو بيا د دغې لويې معجزې نه ګته وانخسته، ترڅو چې بيا دوى تباه او هلاك سول.

[٨٢] او ثموديانو په غرونو کې د سمڅو نه ځانو ته ډاډمن کورونه جوړ کړي ول، يعنى دوى په دغو کلکو سمڅو کې اوسيدل.

[٨٣-٨٤] نو بيا دوى لوى کړزونکي تندر د سحر په راختلو سره راونيول او هلاك يې کړل، نو دوى خپلو تيرو کړنو ونسول ساتلاى، يعنى د دوى پخوانيو کلکو کورونو ورته هيڅ ګټه ونکړه او هلاک او تباه سول.

ګرانو عز يزانو! دا وې د مدين په حجر يا تنګې کې د لوط، شعيب او د صالح عليهم السلام د قومونو سرکښۍ او د دوى لو يو ظلمونو ژوندئ انځور او د عبرتونو نه ډکې قصې، او بيا دوى ته د الله تعالى د کلکو سزاګانو او لو يو عذابونو ورکولو نښاني چې هغه بيت المقدس ته د تګ په مزلو کې ټولو خلکو ليدلې، او دغه کنډواله سوي کلي لا تر اوسه د سيلانيانو لپاره د الله تعالى د لو يو قدرتونو نښو په څير پاتې دي، نو ښايي چې دغسې قصې په وار وارسره ولولو او خلکو ته يې ورسوو، ترڅو هر څوک ورڅخه پند او عبرت واخلي او په سمه لار لاړ سي.

{الله پيغمبرﷺخپل قوم پر وړاندې عفوې ته رابللئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د خپلو قدرتونو لو يو نښو يادونه په اسمانو او ځمکه کې کړې ده او د قيامت ورځې راتګ يې مونږ ته باورې کړئ دئ، او رسول اللهﷺ يې د کافرانو نه تيريدلو او عفوې ته رابللي دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۗ وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَءَاتِيَةٌ ۖ فَٱصْفَحِ ٱلصَّفْحَ ٱلْجَمِيلَ ﴿٨٥﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلْخَلَّٰقُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٨٦﴾﴾

[٨٥-٨٦] او [اى پيغمبره!] اسمانو نه او ځمکه او د دوى په منځ کې سته مخلوقات مونږ په حق سره پيدا کړي دي [يعنى ځمکه اوسمانو نه يوازې الله پيدا کړي دي، نو يقيناچې يوازې الله تعالى د بنده کې او د عبادت مستحق لوى رب دئ، نو ښايي چې يوازې د الله عبادت وسي او ټول خلک د شرك او کفر نه لاس وا خلي] او قيامت راتلونکئ دئ، نو ته اى پيغمبره! د کافرانو تيروتنو نه په ښه وجه تير سه، يعنى د ستا سره د دوى بد کړل په زړه کې مه ساته! او يقينا چې د ستا رب اى پيغمبره! ښه لوى پيدا کونکئ او ښه پوه لوى څښتن دئ.

عزتمنو لوستونکو! دا مبارك آيتونه چې پکې رسول الله عليه السلام ته د ځينې تيرو سرکښو ولسونو قصې سوې دي او بيا الله تعالى پردوى باندې خپل لوى لوى عذابونه را نازل کړي دي، او بيا الله تعالى د ځمکې او اسمانو په پيدايښت او د قيامت ورځې په راتګ سره خپل قدرتونه مونږ ته ښودلي دي، نو هغه ټول داسلام ستر پيغمبر محمدﷺ لپاره او د هغه دين ته دعوت کونکو علماوو لپاره د پاخه اطمئنان او د ډاډ ز يرئ دئ، نو ځکه بيا الله تعالى رسولﷺ د خپل قوم نه تيريدلو او عفوې ته رابللئ دئ، ترڅو د هغه قوم د تيرو امتونو په تور برخليک باندې ونه ازمايل سي او ر ښېي يې ونه و يستل سي او فرصت ورکړل سي، ترڅو ايمان راوړي او حق لاړې ته رابلونکئ امت وګرځي، او الحمدلله همداسې سؤ، او يقينا چې په دې کې د پيغمبر د پيغام رسولو وارثانو ته د زدکړې لوى درس

دئ، نو ښايي چې دعات تل د عفوې او تيري نه کار واخلي او هيڅ کله خپل قوم او ولس ته د شر غوښتونکي نه وي.

{لوی قرآن او د(الفاتحې)سوره الله رسول اللهﷺ ته ډالۍ کله}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی خپلې لويې پيرزو ينې پر رسول اللهﷺ باندې يادې کړې او بيان کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ سَبۡعٗا مِّنَ ٱلۡمَثَانِي وَٱلۡقُرۡءَانَ ٱلۡعَظِيمَ ٨٧ لَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٨ وَقُلۡ إِنِّيٓ أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلۡمُبِينُ ٨٩﴾

[٨٧] ای پيغمبره! يقينا چې د الفاتحې سوره او وؤ آيتونه [چې په وار وار سره په لمانځه کې لوستل کيږي] سره د لوی قرآن تا ته مونږ درکړل، په دې معنا چې هغه تا ته ډير لوی درناوئ او د پيرزو ينو ارزښتناکه ډالۍ ده، نو ښايي چې ته او امت ده د دې لوی نعمت شکر و با سی.

[٨٨-٨٩] او ای پيغمبره! خپلې دواړه سترګې ده هيڅکله د خلکو دنيا متاع ته وراوږدې نکړې، ځکه د دنيا دغسې خوندونه دوی ته مونږ د جوړه جوړه نعمتونو سره ورکړي دي، او ای پيغمبره! د خلکو په کفر مه غمجن کيږه او خپل وزرونه ده مومنانو ته را ټيټ کړه، يعنی د مومنانو سره په ډيره تواضع او مينه وچلوه، او خلکو ته اعلان وکړه او ورته ووايه: يقينا چې زه تاسې ته د عذاب نه ښکاره و يرونکئ او ګواښونکئ استازئ يم، نو تاسې ته ښايي چې ايمان راوړی او د الله اطاعت وکړی او د عذاب نه پې ځانونه کلک وساتی!

درندو دوستانو! د قرآن را نازليدل پر رسول اللهﷺ باندې؛ لوی امانت دئ او تبليغ پې امت ته د رسول اللهﷺ په غاړه کې درونډ مسئوليت ؤ، او هغه په لوی صبر سره د کلک تصميم او لوړ همت غوښتنه ؤ، نو ځکه پيغمبرﷺ او د هغه وارثان الله تعالی لوړ همت او زغم او صبر ته رابللي دي، نو دوی ته ښايي چې هيڅ کله د سوال او ګدايي

لاس بډيانو او او سواداګرو ته اوږد نکړي، ترڅو د دوی رسالت د دين په تبليغ کې هغې ترسره سي چې دوی الله تعالی ور باندې ګمارلي دي!

{د قرآن آيتونو عملی کول د خلکو په خوښه نه دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی مومنان د قرآن سره د پخوانيو اهل کتابو چلند نه کلک ګوابلي دي، او فرمايلي دي:

﴿كَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَى ٱلۡمُقۡتَسِمِينَ ٩٠ ٱلَّذِينَ جَعَلُواْ ٱلۡقُرۡءَانَ عِضِينَ ٩١ فَوَرَبِّكَ لَنَسۡـَٔلَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٩٢ عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٣ فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٩٤ إِنَّا كَفَيۡنَٰكَ ٱلۡمُسۡتَهۡزِءِينَ ٩٥ ٱلَّذِينَ يَجۡعَلُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٩٦ وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدۡرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ٩٧ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ٩٨ وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ ٩٩﴾

[٩٠-٩١] [ای پيغمبره! قرآن مونږ پر تا باندې هغې رانازل کړئ دئ] لکه څنګه چې پر تيرو تقسيم کونکو ولسونو (يهودو او نصاراوو) باندې چې مونږ کتابونه رانازل کړي ول، او دغه اهل کتاب هغه کسان ول چې قرآن يې برخې برخې که، يعنی په قرآن کې دوی، لکه په تورات او انجيل کې ډول ډول خبرې وکړې، او هغه آيتونه چې د دوی خوښو سره برابر ول؛ هغه يې ومنل، او کم آيتونه چې د دوی خوښ نه ول؛ هغه يې د پام نه وغورځول، ترڅو نور خلک پر رسول الله ﷺ د ايمان راوړو نه منع کړي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې چې د الحجر مبارک سورې وروستي آيتونه دي؛ الله تعالی رسول الله ﷺ ته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ چې الله تعالی به خامخا د دغو ټولو کافرانو نه پوښتنه کړي او هر چا ته به د هغه لائق سخته سزا ورکوي، او فرمايلي دي:

[٩٢-٩٣] نو ای پيغمبره! د ستا پر لوی رب الله باندې قسم دئ چې د دوی ټولو نه به پوښتنه کړو او د کړنو نه بې حساب اخلو، يعنی الله تعالی

د قیامت په ورځ ټولو خلکو سره حساب کړي او هر چا ته د هغوی د بدو کړنو کلکه سزا او د ښو کړنو ثواب ورکوي.

[٩٤] نو ته ای پیغمبره! هغه څه چې تا ته امر کیږي هغه په لوړ غږ خلکو ته اعلان کړه او دوی ته یې ورسوۀ او د کافرانو نه مخ واړوۀ، یعنی پروایې مکړه، ځکه ته الله د دوی د ناحقه تورونو نه پاک کړئ یې!

[٩٥-٩٦] او ای پیغمبره! یقینا چې تا ته مونږ د کافرانو سپکاوي پر وړاندې بس او کافي یو! [یعنی کافرانو ته مونږ سزا ورکوو او د ستا غچ او انتقام ورڅخه اخلو] او دغه سپکونکي کسان؛ هغه څوک دي چې دوی د الله سره په خدایي کې بل ناحقه خدای شر یکوي، نو دوی به د خپلې بدې راتلونکې سزا باندې په دنیا او آخرت کې پوه سي!

[٩٧-٩٩] او ای پیغمبره! مونږ په دې پوهیږو چې د ستا زړه د کافرانو هغو سپکو خبرو نه چې تا پسې یې کړي؛ په تنګ کیږي، نو ته خپل رب الله په پاکۍ سره وستایه [یعنی د الله حمد او ثناء ووایه] او د سجده کونکو نه سه او د خپل رب الله عبادت او بنده ګي ترهغو وکړه چې یقین درته حاصل سي، یعنی ترمړ یني پورې د خپل رب عبادت او بنده ګي وکړه.

قدرمنو دوستانو! رسول اللهﷺ د الله تعالی دا ټولې لارښودنې پرخپل ځان عملي کړي او شپه او ورځ به د الله په تسبیح، تحمید او تکبیر و یلو باندې لګیا ؤ او ټول توکل، پر وسعه او اعتماد یې؛ یوازې پر الله تعالی باندې ؤ، ترڅو چې یې خپل رسالت خلکو ته پوره ورسا ؤ او امانت یې پرځای که او فتحه او بر یا یې په برخه سوۀ، او د الله تعالی دین کامل او تمام سه او د خلکو ژوند په ټولو برخو ګې حاکم او جاري سه او بتان او بتخانې لرنګې سوي، او د رسول اللهﷺ سره الله تعالی خپلې ټولې وعدې چې حق وې ر یښتیا کړې او دښمنانو ته یې سزاګانې په دنیا ګې ورکړې.

هو؛ دوستانو! نو دا الهي لارښودنې رسول اللهﷺ ته او همداسې د هغه لارې رابلونکو دعاتو ته ځلانده چراغونه دي او د بر یا او عزت لار دوی ته د قیامت ورځې راتګ پورې ژباړه کوي، نو ښایي چې په پوره دقت سره هغه

ولوستل سي او عمل ور باندې وسي او خلکو ته ورسول سي.

والحمدلله رب العالمين والعاقبة للمتقين وصلى الله وسلم على رسوله الآمين الذي بلغ الرسالة وأدى الأمانة، وعلى آله وأصحابه أجمعين، وعلى من دعا بدعوته إلى يوم الدين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك... ۞ ۞ ۞

د النحل سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د النحل مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

عزتمنو دوستانو! د النحل مبارکه سوره مکي سوره ده او پر رسول الله ﷺ باندې د هجرت نه مخکې په مکه معظمه کې رانازله سوې ده، او پکې الله تعالی د توحید مسئلې مونږ ته په خپل ر بو بیت او الوهیت کې یادې کړې او ښې روښانه بیان کړې دي، او خپل لوی قدرتونه یې په ټولو مخلوقاتو کې او پر بنده ګانو باندې په خورو ورو نعمتونو وورول سره؛ ښودلې او په ښه کړې دي، او بیایې خپل بنده ګان د دغو ټولو نعمتونو د شکر نه و یستلو او بې ځایه کارولو نه کلک ګوابنلي دي، او دا مبارکه سوره د النحل په نامه، ځکه نومول سوې ده چې د شاتو مچۍ قصه پکې مونږ ته الله تعالی یاده کړې ده، او دا قصه د الله تعالی د قدرتونو لو یه ښه ده، او د النحل مبارکې سورې لمړ یو آیتونو په پیل کې الله تعالی کافرانو ته په و ینا کې فرمایلي دي:

{قیامت ژر راتلونکئ دئ او پیغمبر د الله په خوښه غوره کیږي}

هو! ګرانو عز یزانو! د النحل مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی خلک د قیامت ورځې ژر راتګ نه خبر کړي دي او ورته یې د تلوار نه کلک منع کړي دي ، او فرمایلي دي:

﴿أَتَىٰٓ أَمْرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ۝١ يُنَزِّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦٓ أَنْ أَنذِرُوٓا۟ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ۝٢ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ

تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣

[١] ای خلکو! دا دئ د الله حکم تاسې ته [د سزا درکولو لپاره] راغئ، نو تاسې یې په راتلو کې تلوار مکړئ، او الله د کافرانو شرك نه پاک او لوړ لوی ذات دئ، یعنی تاسې ای خلکو! د پیغمبرﷺ هغو خبرو پورې چې هغه تاسې د الله سزا نه قیامت په ورځ و یروي؛ مه خاندئ او ور باندې ملنډې مه وهئ، ځکه د الله تعالی عذاب کافرانو ته په ټاکل سوې نیټه خاماخا راتلونکئ دئ.

[٢-٣] ملائکې الله د خپلې وحې یې سره را کوزوي او هغه چې الله د خپلو بنده ګانو نه پر هر چا وغواړي پر هغه یې را نازلوي [یعنی بیا الله تعالی خپلو پیغمبرانو ته حکم کړي] چې خلک د الله سزا نه وو یروئ، او یقینا چې د زما نه پرته بل په حق سره معبود نسته، نو ای خلکو! د الله نه وو یر یرئ [یعنی ایمان راوړئ او یوازې د الله عبادت او بنده ګي وکړئ او فرمان ته یې غاړه کیږدئ، ځکه] اسمانونه او ځمکه الله په ر ښتیا او حق سره پیدا کړل [یعنی دا چې هغه د الله تعالی د لو یو قدرتونو ځلانده نښې دي] او الله د مشرکانو هغو معبودانو نه چې د الله سره یې په عبادت کې شر یکوي؛ لوړ او پاک دئ!

ګرانو دوستانو! د النحل سورې په پیل کې دا مبارك آیتونه د مکې کافرانو هغو سرکښیو ته ځواب دئ چې دوی به د رسول الله ﷺ ګواښونو پورې خندل او ملنډې یې ور باندې وهلې او و یل بې دا لوی عذاب چې ته ای محمده! مونږ په هغه ګواښې؛ هغه ده ژر راسې! نو بیا الله تعالی په ډیر قاطع او پر یکنده پیغام سره دوی ته وو یل: دا دئ د الله حکم راغئ! نو د ستاسې تلوار ته اړتیا نسته، ځکه د الله حکمونه په ټاکل سوې نیټه جاري کیږي او راځي، او الله تعالی د هر مل او شر یك نه پاک او لوړ دئ، او الله لوی ځواکمن ذات دئ.

{انسان چې کله خپل پیدایښت هیرکه نو د خالق دښمن سه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د خپلو لو یو قدرتونو په

یادونې سره د انسان کبرجن خوی د خپل خالق او لوی څښتن پر وړاندې غندلې دی، او فرمایلي دي:

﴿خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ٤ وَٱلۡأَنۡعَٰمَ خَلَقَهَاۖ لَكُمۡ فِيهَا دِفۡءٞ وَمَنَٰفِعُ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ٥ وَلَكُمۡ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسۡرَحُونَ ٦ وَتَحۡمِلُ أَثۡقَالَكُمۡ إِلَىٰ بَلَدٖ لَّمۡ تَكُونُواْ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ ٱلۡأَنفُسِۚ إِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٧ وَٱلۡخَيۡلَ وَٱلۡبِغَالَ وَٱلۡحَمِيرَ لِتَرۡكَبُوهَا وَزِينَةٗۚ وَيَخۡلُقُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٨ وَعَلَى ٱللَّهِ قَصۡدُ ٱلسَّبِيلِ وَمِنۡهَا جَآئِرٞۚ وَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ ٩﴾

[٤] انسان الله [د نار ینه او نښې کډی مني] د نطفې څاڅکو نه وز یږا ؤ او پیدایې که، نو بیا دئ ډیر ژر د خپل خالق الله سره نښکاره دښمن سه، یعنی دا چې د خپل رب الله تعالی لوی نعمت یې پر خپل ځان باندې هیر سه، نو خپل خالق نور نه پیژني او ایمان نه راوړي، بلکې ورسره استدلال او جدال کړي، ځکه انسان نور د خپل پیدایښت هغه پیل هیر کړئ دئ چې الله تعالی دئ د نار ینه او نښې منیو څاڅکو نه پیدا کړئ دئ!

روایت سوئ دئ چې دا سپین سترګئ کافر انسان ابئ بن خلف الجمحي القرشي نومیده، او د هغه په قصه کې و یل سوي دي چې دئ یؤ ورځ د پیغمبر ﷺ مجلس ته راغئ او په لاس کې یې یو وروسته هډوکئ ؤ او په ډیرې سپین سترګی سره یې و یو یل: آیا الله دا وروست سوئ هډوکئ بیرته راژوندئ کوي؟ نو په ځواب کې یې د یس سورې (٧٨) مبارك آیت او د هغه نه روسته آیتونه رانازل سول چې پکې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَضَرَبَ لَنَا مَثَلٗا وَنَسِيَ خَلۡقَهُۥۖ قَالَ مَن يُحۡيِ ٱلۡعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٞ ٧٨﴾

معنا دا چې دې سرکښ سړي د خلکو بیا راژوندي کیدلو نه په انکار سره؛ مونږ ته بیلکه او مثال وړاندې که او و یو یل: څوک دا شړ یدلي اډوکي بیرته

را ژوندي کوي؟ او خپل پيدايښت يې هير که!

خو البته مقصـــد دلته يوازې ابۍ بن خلف نه دئ، بلکې الله تعالى مونږ ته هغه سـرکښ انسـان چې په ښـکاره د حق سـره دښـمني کړي؛ په ګوته کړئ او راپيژندلئ دئ، نو ښـــايي هر څوک خپل ځان ته کلک پام وکړي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى پر ځمکه او اسمانو کې خپل خواره واره نعمتونه خلکو باندې ياد کړي، او فرمايلي دي:

[٥-٦] ای خلکو! څاروي الله سـتاسـې ګټو لپاره پيدا کړل، ترڅوی يې په وړ يو خپل ځانونه تاوده کړی او غوښې يې وخوری، او په دې څارو يو او رموکې چې سـحر وخته هغه تاسـې څر ته را باسی او شـپې يې بيرته خپل پند غالي ته راولی؛ تاسې ته پکې لوی ښايست، ښکلا او خوښي ده.

[٧] او دا څاروي ستاسې درانده پيټي د يوۍ ځای نه بل ځای ته وړي، او که څاروي نه وای، نو تاسې به د خپلو توکو په ليږدولو کې ډير ستړي وی، نو يقينا چې د ستاسې پالونکئ خدای الله پر تاسې مهر بان دئ.

[٨] ای خلکو! [او همدارنګه] اسـان، کچرې او خره الله تاسې ته پيدا کړل، ترڅو ور باندې سـپاره سـی او هغه تاسـی ته په ژوند کې ښـکلا او ښايست دئ [يعنی په ليدلو او ننداره يې خوښيږی] او نور داسې د ليږد او د حمل او نقل وسائل به هم الله پيدا کړي چې تاسې لا تر اوسه ور باندې علم نه لری او هغه نه پيژنی، يعنی لکه دا د اوســـني وخت ډول ډول نقليه وسائل، موټر، الوتکې، بيړی او توغندي چې دا دئ انسان يې اوس د ځمکې جاذبې نه وتلې بهر فضا ته رسولئ دئ، او ساينس پوهان په فضا کې څيړنې او علمي تحقيقات کړي، ترڅو پوه ســي چې آيا ســپوږمی کې ژوند کيدای سي کنه؟ او داسې نورې علمي څيړنې.

[٩] ای خلکو! د سـمې لارې بيانول تاسې ته پر الله باندې فرض دي او بيا د ســـمی لارې نه ځينې خلک اوړي او ورڅخه کږ يږي، خو که الله غوښتي وای تاسې ټول به الله پر سمه لار روان کړي وی، يعنی پر سمه لار

د تک توفیق به الله تعالی تاسي ته درکړئ ؤ، خو د الله نظام او سنت د حق بیانول او ورته بلنه ده او د باطل نه چې کفر او ظلم دئ؛ و یرول او ګواښل دئ، نو بیا د خلکو خوښه چې په کمه لار ئې؟ یعنی دا چې حق پرخلکو په زور نه منل کیږي، بلکې دوی ازمایل کیږي.

{د الله لوی قدرتونه او نعمتونه پرځمکه او اسمان کې ځلیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی همداسې پرځمکه او اسمانو کې د خپلو لو یو قدرتونو او نعمتونو یادونه کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ۝١٠ يُنۢبِتُ لَكُم بِهِ ٱلزَّرْعَ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلنَّخِيلَ وَٱلْأَعْنَٰبَ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ۝١١ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ۖ وَٱلنُّجُومُ مُسَخَّرَٰتٌۢ بِأَمْرِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ۝١٢﴾

[١٠-١١] ای خلکو! الله هغه څوک دئ چې تاسي ته یې د اسمان نه او به راوورولي، او هغه تاسي څکئ، او په او بو وني، باغونه یا بڼونه راشنه سول، او تاسي په وښو کې خپل څاروي څروئ، او په او بو سره تاسي ته الله کښتونه، او د ز یتون، خرما، انګور او د نورو ټولو میوو وني راشني کوي، هو! یقینا چې په دې کې هغو کسانو ته چې ښه فکر کړي؛ د الله قدرتونو نښې څرګندې ځلیږي، یعنی دا چې ښایي تاسي ای خلکو! د الله تعالی لو یو قدرتونو په دغو نښو کې ژور فکر وکړئ او ایمان راوړئ او ښه وکړئ، ترڅو د د نیا او آخرت ښادي ستاسي په برخه سي او د جنتونو خوندونه وڅکئ او پکې نیکمرغه ژوند وکړئ.

[١٢] ای خلکو! [او همدارنکه] الله تاسي ته شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ او ستوري په خپل حکم سره تسخیر کړل [یعنی هغه یې تاسي ته تابع وګرځول، ترڅو تاسي ورڅخه ګټه واخلئ] او یقینا چې په دې ټولو

کې هوښيارانو ته چې عقل لري د الله لو يو قدرتونو نښې نغښتې دي.

هو! دوستانو! الله تعالى د مکې خلکو ته د خپلو دغو لو يو نعمتونو يادونه کړې ده، ترڅو دوی خپل سرونه په کر يوان کې ښکته کړي او ښه ژور فکر وکړي او د خپل لوی رب په پيرزو ينو اقرار وکړي او ايمان راوړي.

عزتمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې همداسې الله تعالى خپل خواره واره نعمتونه پرخلکو باندې چې هغه د الله تعالى د لو يو قدرتونو نښې دې؛ ياد کړي دي او فرمايلي دي:

﴿وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي ٱلْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥٓ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى سَخَّرَ ٱلْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا۟ مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا۟ مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۖ وَتَرَى ٱلْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٤﴾ وَأَلْقَىٰ فِي ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥﴾ وَعَلَٰمَٰتٍ ۚ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾ أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨﴾﴾

[١٣] ای خلکو! او د هغو بيلو بيلو رنګونو کانې او بوټي الله په ځمکه کې شـيندلي دي [يعنى هغه ټول يې تاسې ته تابع کړي دي] او په هغو کې پند اخستونکي قوم ته؛ د الله قدرتونو يوه لو يه نښه ده.

[١٤] او ای خلکو! الله هغه څوک او لوی ذات دئ چې سمندريې تاسې ته تسخير کړئ دئ، ترڅو پکې ښکار وکړئ او تازه غوښې يې وخورئ او ګانې ورڅخه د اغوستلو لپاره راو باسئ، او تاسې ای خلکو! بيړۍ و ينۍ چې په سمندر کې په ګډښت سره ګرځي راګرځي، ترڅو تاسې پکې سپاره سئ او د ښکار او سوداګرۍ لپاره پکې وګرځئ او مزلونه پکې وکړئ او د الله فضل او ورکړو نه حلاله روزي لاس ته راوړئ، نو بيا د الله د دغو نعمتونو شکر و باسئ، يعنى د الله سره بل هيڅ څوک په بنده ګۍ کې شر يك

نکړی!

[١٥] او غرونه الله پر ځمکه کې میخ کړي دي، ترڅو ځمکه پر تاسې باندي ای خلکو! بې ځایه نســي [یعنی ونه ښــور یږي] او په ځمکه کې سیندونه او و یالي الله جاري کړي دي او لارې یې پکی راو یستلې دي، ترڅو تاسې پر سمه لار مزل وکړی، یعنی خپل مزلونه پکې په اسانۍ سره ووهی او خپل مقصد ځای ته په اسانۍ سره ورسیږی.

[١٦] [او پرځمکه د ورځې او شــپې مزلونو لپاره الله تعالی] نښــې او ســتوري ښــودلي دي، نو لاروي یا مســافر د خپل مزله لار په همدې نښــو سره پیدا کوي، یعنی پرته لدې چې سر ګردانه سي او لار ورکه کړي.

[١٧] نو ای خلکو! آیا هغه څوک چې دا ټول کائنات یې پیدا کړي دي؛ دئ د هغه چا غوندې دئ چې هیڅ شئ نه پیدا کوي؟ نو آیا تاسې د الله دا لوی قــدرت نــه راپــه یــادوی؟ یعنی ترڅو یوازې د اللــه تعــالی بنــده ګي او عبادت وکړی او د بتانو عبادت نه لاس واخلی او ځانونه ورڅخه کلک وساتی!

[١٨] او ای خلکو! که تاسې د الله نعمتونه او پیرزویني پر خپلو ځانو باندی وشمیرئ؛ هغه شمیرلای نسی [ځکه هغه د شمیرلو نه وتلې او ښې ډیرې دي] او یقینا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

ګرانو دوســتانو! په دې مبارکو آیتونو کې د الله توحید په بنده ګی او په عبادت کې د الله تعالی توحید ســره په ر بو بیت کې ډیر روښــانه ترڅې ســوئ دئ، او هغه په توحید ســره د الله تعالی پیژندنې؛ ډیره معقول او اســانه لار ده او هر څوک پکې ښــه فکر کړلای سي او پرې پوهیدای سي، نو ټولو قرآن پوهانو دعاتو او توحید ته رابلونکو علماوو ته ښــایي چې د الله توحید پیژندلو ته د رابلنې دغه اســانه او روښــانه لار خلکو ته بیان کړي، او دوی ته یې ورســوي، او خلک د شــرکي او بدعتي فکرونو نه په کلکه سره منع کړي او ورڅخه یې وژغوري.

{د مشرکانو بتان چې دوی يې خدايان بولي بې شعوره دي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى خپل علم د خلکو په ښکاره او پټو کړنو باندې باوري کړئ دئ، او هغه بتان يې غندلي دي چې هغه به مشرکانو د الله نه پرته خدايان بلل او عبادت بې کا ؤ، او په بيان کې داسې فرمايلي دي:

﴿وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ ١٩ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ ٢٠ أَمۡوَٰتٌ غَيۡرُ أَحۡيَآءٖۖ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ٢١ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ فَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٞ وَهُم مُّسۡتَكۡبِرُونَ ٢٢ لَا جَرَمَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡتَكۡبِرِينَ ٢٣﴾

[١٩] ای خلکو! او هغه څه چې تاسې د خپلو کړنو نه پټوي او څه چې ښکاره کوی؛ الله پر هغو ټولو باندې پوه دئ، يعنی نو ښايي چې هر بنده د خپل رب لوړ مقام او لوی قدرتونه ښه و پيژني او يوازی د الله بنده کې وکړي، او بل هيڅ څوک د الله سره په خدايي کې شر يك نکړي.

[١٩-٢١] او هغه څوک چې د الله نه پرته غوښتل کيږي [يعنی بنده کې يې کيږي او خلک خپل حاجتونه ورڅخه غواړي، لکه بتان] هغه هيڅ شئ پيدا کولای نسي، بلکې هغه پيدا کيږي [يعنی هغه خپله پيدا سوي مخلوقات دي] او مړه دي ژوندي نه دي، او نه پوهيږي چې کله به بيرته راژوندي کيږي؟

[٢٢] ای خلکو! په حق سره د ستاسې معبود يو خدای دئ، نو هغه کسان چې د آخرت په ورځ باور نه لري او هغه نه مني؛ د دوی زړونه د حق نه کبرجن منکر دي، يعنی خدای نه پيژني او د عذاب نه يې نه و ير يږي او حق نه مني او د الله بنده کې ته نه تسليميږي.

[٢٣] هو! خامخا او د شك نه پرته الله د کافرانو په پټو او ښکاره

کړنو باندې پوهیږي، او یقیناچې کبرجن کسـان پر الله ګران نه دي او نې خوښـیږي، یعنی هر هغه څوک چې د الله بنده ګی نه سـرغړونه کړي؛ الله هغه نه خوښوي او د آخرت په ورځ کلکه سزا ورکوي.

{د مړو بدعتي ز یارت په باره کې ناپوهو کسانو ته نصیحت}

قدرمنو دوستانو! د نولسم آیت نه تر یو و یشتم آیت معنا ته په کتو سـره؛ ښـایي مومنان د مړوو ز یارت په ګورونو کې؛ هغوی ته د دعا په مقصد وکړي، نا دا چې د مړوو نه څه شئ وغواړي، نو دا لاندې نصیحت د قبرونو ز یارت کونکو ته ډیر اړ ین او ګټور دئ:

ګرانو وروڼو او خو یندو! په حضـیرو کې د مړوو ز یارت کونکو! هیله ده چې د ستاسې پام وي چې دا په ګورونو کې پراته مړي بې وسـې دي او هیڅ څه شـئ پې په واک کې نسـته، نو څنګه تاسـې د دوی نه خپل حاجتونه غواړی؟ او یقینا چې دا کار لو یه ګناه ده، نو ښـایي چې تاسـې په سـمه شرعي طر یقه ز یارت باندې خپل ځانونه ښه پوه کړي، او په حضیرو کې د مړوو ز یارتونو ته یوازې په دې قصد لاړ سی چې مړي ته دعاء وکړی او د هغه ز یارت نه پند واخلی، ځکه د دنیا ژوند تل پاتې ژوند نه دئ او مونږ ټول ورځخه تلونکي یو او د زمونږ ټولو کور د دنیا ژوند نه وروسته د مړوو په حضیره کې په ډیر تنګ ګورکې دئ.

هو! رسـول الله ﷺ به خپله د البقیع حضـیرې ته او د احد شـهیدانو ګورونو ز یارت ته ورته او دوی ته بې دعاء کړه او سلام بې ور باندې اچا ؤ، او همدارنګه رسـول الله ﷺ د مړوو قبرونو ز یارت ته بلنه ورکړې ده او فرمـایلي دي:(کنـت نهیتکم عن ز یـارة القبور ألا فزورهـا فـإنهـا تـذکر الأخرة...الحدیث.) ای مومنانو تاسـې ما د مړوو ز یارت نه منع کړي وی؛ خو اوس د مړوو ز یارت وکړی، ځکه هغه تاسې ته آخرت در په یادوي.

خو رسـول الله ﷺ هر ډول مرسـته غوښـتنه د مړي نه په کلکه سـره رده کړې ده او مسـلمـانـان یې ورځخـه منع کړي دي او فرمـایلي دي:(واذا اسـتعنت فاسـتعن بالله..الحدیث) یعنی یوازې د الله نه مرسـته او مدد

وغواړه، نو دعا کړو چې الله تعالى ده مونږ په سمه لار وخوځوي او د زمونږ زړونه ده الله په قرآن او د پيغمبر په سنتو او حديثونو رڼا کړي.

{کافر انو ته په دنيا او آخرت کې سزا ورکول کيږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خلکو ته خپل توحيد په الوهيت او عبادت کې ښه روښانه بيان کړئ دئ او کافران يې چې ايمان نه راوړي؛ کبرجن بللي دي او په کلکه سزايې ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾ لِيَحْمِلُوٓاْ أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَمِنْ أَوْزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾ قَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنْيَٰنَهُم مِّنَ ٱلْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ ٱلسَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تُشَٰٓقُّونَ فِيهِمْ قَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ إِنَّ ٱلْخِزْىَ ٱلْيَوْمَ وَٱلسُّوٓءَ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٧﴾ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ فَأَلْقَوُاْ ٱلسَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن سُوٓءٍ بَلَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ فَٱدْخُلُوٓاْ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا فَلَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٢٩﴾﴾

[٢٤] او هر کله چې دغو کبرجنو کافرانو ته وو يل سي [يعنى ورځخه و پوښتل سي] چې د ستاسې رب الله [پر محمدﷺ باندې] څه شئ را نازل کړي دي؟ [نو دوى په ځواب کې] وو يل:[هغه څه چې محمديې لولي] هغه د پخوانيو امتونو ليکلې سوې قصې دي! يعنى کافران د قرآن نه منکر سول او هغه يې د پخوانيو ولسونو ليکل سوې قصې و بللې! بې خبره لدې چې د اسلام پيغمبر په ليک او لوست نه پوهيده.

[٢٥] ترڅو دا [کبرجن کافران په خپلو دغسې دروغژنو خبرو سره] د قيامت په ورځ خپله ټوله ګناه پشا کړي او ورسره د هغو کسانو ګناه هم

پښا کړي چې دوی يې په ناپوهۍ سره د سمې لارې نه ورکول [يعنی په ژانده تقليد سره يې دوی د سمې لارې نه ورک کړي ول] او دوی ډيرې کرکجنې ګناه وې کړې.

[٢٦] هو! يقيناچې د مکې کافرانو نه مخکې پخوانيو کافرانو د خپلو پيغمبرانو سره ډير مکرونه [يعنی چلونه وکړل او د دوی د دعوت په لار کې يې خنډونه او توطئې جوړې کړې] نو بيا الله د دوی ودانه د بيخ نه لړنګه کړه او د کورونو چتونه يې پر دوی باندې د پاسه راوغور يځيدل او پرې رانسکور سول، او دا عذاب پردوی باندې د داسې خوا نه راغئ چې هيڅ فکر او احساس يې نکا ؤ!

[٢٧] او بيا د قيامت په ورځ دغه کافران الله رسوا کوي او ورته وايي: د زما سره شر يکان چې هغه به تاسې زما سره په عبادت کې شر يکول؛ اوس څه سول؟ او هغه [يعنی دغه نا حقه خدايان] هغه کسان ول چې تاسې به د دوی پر سر پيغمبرانو سره دښمني کړه او جګړې به مو ورسره کړې! [نو بيا په دې وخت کې هغه کسان] چې الله دوی ته سم علم او ښه پوهه ورکړې ؤ؛ در يږي او وايي: نن ټوله خواري او سپکا وئ او مختوري پرهغو کافرانو باندې ده [چې دوی د الله او پيغمبر نه منکر سول] او دغه کافران هغه کسان ول چې په کافر يدو سره يې پرخپلو ځانو ظلم وکه.

[٢٨] نو بيا ملائکو د دوی ساه وې واخستله او د دوی د ژوند برخې يې ور پوره کړې او مړه سول، نو بيا دوی د الله حکم ته تسليم سول او د خپل کفر او بدو کړنو نه منکر سول [يعنی نو بيا همدا ملائکې ورته وايي: هو! تاسې دروغژن ياستی او دا ټولې بدې کړنې تاسې کړي دي] او يقينا چې الله د ستاسې پر بدو کړنو ښه پوه دئ، يعنی نو کلکه سزا به درکړي.

[٢٩] نو ای کافرانو! د دوزخ په اور کې ورننوځی او هلته به تل پکې پاتې وی، او دغه د کبرجنو خلکو اسټوګنځئ؛ ډير بد ځای دئ، يعنی دا ځکه چې دوی کبر وکه او د الله توحيد نه منکر سول او د هغه پيغمبر بلنه يې ونه منله، نو دا سخته سزاء ورکړه سؤ.

ګرانو دوســتانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې مونږ د اســلام پيغمبر محمدﷺ د کافر قوم کبرجن چلند نه او د رسول الله سره د دوی د کينه کښې سر زورۍ نه خبر کړي يو، او بيايي د قيامت په ورځ دوی ته د سختی سزا او د درانده عذاب تصو ير زمونږ مخې ته ايښئ دئ، ترڅو هر څوک ورڅخه پند وا خلي او د کفر او شــرك نه کلکه ډ ډه وکړي او د عناد او سر زورۍ نه لاس په سر سي او الله تعالى ته چې د دوی خالق او لوی څښتن دئ رجوع وکړي او تو به و باسي او ايمان راوړي.

{مومنانو ته الله په دنيا او په آخرت کې نعمتونه ورکوي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالي د مومنانو ښه صفتونه او خو يونه مونږته ياد کړي او بيان کړي دي، او دوی ته يې د ښې راتلونکې او د ثوابونو ز يري ورکړي دي، او فرمايلي دي:

﴿*وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡۚ قَالُواْ خَيۡرٗاۗ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۚ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞۚ وَلَنِعۡمَ دَارُ ٱلۡمُتَّقِينَ ٣٠ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ لَهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَۚ كَذَٰلِكَ يَجۡزِي ٱللَّهُ ٱلۡمُتَّقِينَ ٣١ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٣٢﴾

[٣٠] او هغو کسانو ته چې متقيان سول [يعنى د خپل رب عذاب نه يې ځانونه په ايمان راوړو او ښه عمل سره وساتل] دوی ته وو يل سول چې د ستاسې رب الله [پر خپل پيغمبر محمدﷺ باندې] څه شئ رانازل کړي دي؟ [نو بيا دوی په ځواب کې] وو يل: الله پر هغه باندې خير [يعني لارښود کتاب (قرآن) رانازل کړئ دئ] او هغو کسانو ته چې په دې دنيا کې يې ښه وکړل [يعنى ايمان راوړ] نيکي، عزت او سرلوړي ده، او د آخرت ژوندې د دنيا ژوند نه ډير ښه دئ، او د متقيانو کور او استوګنځئ په آخرت کې ډير ښه کور دئ، يعنى دا ځکه چې دوی ايمان راوړئ ؤ او د خپل رب سزا نه و ير يدل، نو په ښو کړنو سره يې ورڅخه ځانونه وساتل.

[٣١] [او د متقيانو کورونه] هغه تل پاتې جنتونه يا باغونه دي چې پکې لوبې و يالې يا سيندونه بهيږي او دوی ته پکې چې څه غواړي سته، او متقيانو ته الله همداسې نعمتونه ورکوي.

[٣٢] او متقيان هغه کسان دي چې ملائکې دوی وفاتوي او ساه ګانې يې په خوښۍ سره ورځخه اخلي او ورته وايي: پر تاسې ده سلام وي او جنت ته د خپلو ښو کړنو په ثواب کې ورننوځئ.

قدرمنو عز يزانو! دا دئ هغه لوی ز يرئ چې الله تعالی پر مومنانو باندې کړئ دئ، ترڅو دوی په ډير شوق او خوښۍ سره دغسې لوړ مقام ته د رسيدلو لپاره ز يار و باسي او د الله تعالی په دين ټينګ سي او ښه وکړي او د بدو کړنو او د کفر او ګناه نه ځانونه کلک وساتي.

{کافرانو پر خپلو ځانو ظلم وکه او تقديري پر يکړې پټې دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د کافرانو بدې کړنې کلکې غندلې دي او په تقدير باندې يې د دوی استدلال چې د پخوانيو سرکښو امتونو ړوند تقليد ؤ؛ کلک رد کړئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ أَمۡرُ رَبِّكَۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٣٣ فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٣٤ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖ نَّحۡنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ٣٥﴾

[٣٣] ای پيغمبره! [او دغه کافران چې پرخپل کفر همداسې کلک ولاړ دي او پيغمبر محمد ﷺ دروغژن بولي] دوی د څه لپاره انتظار باسي؟ مګر دا چې ترڅو ملائکې دوی ته راسي [او بيايې ساه ګانې په داسې حال کې ورځخه واخلي چې همداسې کافران پاتې وي؟] او يا دا چې دوی انتظار

باسي، ترڅو چې د ستا رب ای پیغمبره! حکم دوی ته په عاجل عذاب ورکولو سره راسي [یعنی دا چې بیا دوی هلاك کړي؟] لکه څنګه چې د دوی نه مخکې کافرانو دا کار وکه [او بیا هغوی الله تعالی هلاك او تباه کړل] او الله پردوی باندې ظلم ونکه، بلکې دوی خپله پرخپلو ځانو باندې ظلم وکه، یعنی پرخپل کفر همداسې کلک ولاړ پاتې ول، او ایمان یې نه راووړ او د پیغمبرانو نه یې معجزې غوښتلې.

[٣٤] نو بیا پردوی باندی د دوی د بدو کړنو او ګناهونو عذاب رانازل سه او هغه سزا او عذاب پردوی راګرد سه چې دوی یې سپکاوئ کا ؤ او ملندې یې پرې وهلې!

درندو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې د کافرانو هغه ننګونه رده کړې ده چې دوی به رسول اللهﷺ ته د ډیر سپکاوي نه و یل: که ته ر یښتیا وایې، نو ملائکې ده مونږ ته راسي او د ستا پیغمبرې ده تصدیق کړي او شاهدي ده ور باندې ووایي!

[٣٥] او هغه کسان چې مشرکان سول [یعنی د بتانو عبادت یې وکه او هغه یې د الله سره په خدایي کې شر یك کړل] دوی وو یل: که الله غوښتې وای، نو مونږ او د زمونږ پلرونو به د الله نه پرته د بل هیڅ چا عبادت نه ؤ کړئ، او مونږ به د الله حکم نه پرته هیڅ څه شئ پرځانو نه ؤ حرام کړې، هو! د دوی نه پخوا تیر سوو کافرانو هم همداسې وکړل [یعنی د الله تعالی په تقدیري پر یکړویې استدلال وکه، خو دوي دروغژن ول، ځکه دوی ته الله پیغمبران راولیږل او دوی یې د الله بنده ګی ته په یو والي او توحید سره راو بلل، خو پیغمبران دوی ونه منل] نو آیا پر پیغمبرانو باندې پرته د روښانه بیان او تبلیغ نه [چې هغه خلکو ته ورسوي] بل څه تکلیف ستاسو؟ ځواب: نا! او دا ځکه چې د پیغمبرانو او د دوی وارثانو رسالت د الله پیغام رسول دي، او بیا د خلکو خوښه چې هغه مني او ځان ته نجات ورکوي او یا یې نه مني او ځانونه هلاکوي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارك آیت کې د کافرانو استدلال

په قضاء او قدر باندې؛ کلک رد کړئ دئ، ځکه د تقديري پر يکړو علم او پوهه پته ده او يوازې الله ور باندې پوهيږي، او خلک د الله تعالى په هغو حکمونو باندې مکلف دي چې هغه پيغمبرانو دوی ته راوړي او رسولي دي، خو د دې سره سره و ينو چې لا تر اوسه ځينې ناپوه کسان په قضاء او قدر استدلال کړي او غواړي ځان د مسئوليت نه خلاص کړي، خو هيڅکله خلاصيدای نسي، ځکه د قضا او قدر پر يکړه د دوی نه پته ده!

{ ټولو ولسونو ته الله پيغمبران راولېږل او توحيد ته يې راو بلل }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د پيغمبرانو دنده او رسالت په نښه کړئ او بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ هَدَى ٱللَّهُ وَمِنۡهُم مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ ٱلضَّلَٰلَةُۚ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٣٦ إِن تَحۡرِصۡ عَلَىٰ هُدَىٰهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَن يُضِلُّ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٣٧﴾

[٣٦] او يقيناچې په هر امت او ولس کې مونږ پيغمبر راولېږه [ترڅو دا پيغمبر خپل امت ته ووايي:] د الله عبادت او بنده کي وکړئ او د طاغوت بنده کې نه ځانونه وساتي! [يعنى د الله نه پرته د بل هيڅ چا عبادت مکړئ، او هغه څه چې د الله په واک کې دي هغه د بل هيڅ چا نه مه غواړئ] نو بيا څوک الله حق ته هدايت کړل [يعنى چا چې د خپلو پيغمبرانو بلنه ومنله] او څه نور کسان بيا د دوی نه ورکتيا لاندې کړل [يعنى حق ورڅخه ورک سه، او هر چا چې ضد او کبر وکه، نو د سمې لارې نه ورکتيا ور باندې مسلطه سؤ او دوی يې لاندې کړل او ايمان يې رانوړ او د پيغمبرانو بلنه يې ونه منله] نو ای خلکو! لاړ سئ او پرځمکه ورکړئ [او

په خپلو ستركو وګورى] چې د هغو خلکو راتلونکې چې خپل پيغمبران يې تکذيب کړل؛ څنګه سؤ؟ يعنى ځواب دا چې هغو کسانو چې خپل پيغمبران دروغژن وګڼل او دعوت يې ونه مانه او پر خپل کفريې ټينګار وکه او کلک ور پورې ونښتل، دوى ټول الله هلاك کړل له منځه يې يوړل.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د تسليت په مقصد پرپيغمبرﷺ باندې غږ کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٣٧] ای پيغمبره! که ته د کافرانو په هدايت او په سمه لار تک باندې هرڅومره حرص وکړې [خو په دې پؤ سه] چې يقينا هغه څوک چې د سمې لارې نه ورک سي الله يې نه هدايت کوي [يعنى هغه ته په سمه لار د تګ توفيق نه ورکوي] او کافران هيڅ څوک مرستندوى نه لرى.

ګرانو عز يزانو! دا مبارك آيت د رسول اللهﷺ او د هغه وارثانو علماوو ته ډاډ، اطمئنان او ښه روښانه لارښودنه ده، او هغه دا چې ښايي دوى پوه سي چې د خلکو هدايت او ضلالت د الله تعالى کار دئ، او د پيغمبر او د هغه لارو يانو دعاتو رسالت او دنده؛ يوازې تبليغ او دعوت دئ، نو دا چې څوک يې مني او که نې مني؛ دوى دې پروا نکړي.

{کافران د قيامت په ورځ د مړوو بيرته راژوندي کيدل نه مني}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ الله تعالى د مکې کافرانو هغو لوړو نه خبر کړي يو چې دوى به ور باندې د مړوو په بيرته نه راژوندي کيدو باندې ټينګار کا ؤ، او فرمايلي دي:

﴿وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَا يَبْعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُ ۚ بَلَىٰ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ كَٰذِبِينَ ﴿٣٩﴾ إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَىْءٍ إِذَآ أَرَدْنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٠﴾﴾

[٣٨] او دغو کافرانو په خپل ټول زور پر الله لوړې وکړې [او

قسمونه يې وخوړل او و يو يل:] څوک چې مړ سي، نو بيا الله مړئ بيرته نه راژوندئ کوي! [خو خبره داسې نه ده لکه دوی چې انکيري] بلکې د مړوو بيرته راژوندیکول پر الله باندي؛ هغه وعده ده چې الله په حق سره کړي ده، خو ډير خلک نه پوهيږي، يعنی د الله تعالی لوی قدرتونه نه پيژني، نو ځکه ورځخه انکار کړي او هغه نه مني.

[٣٩] [هو! مړي الله بيرته راژوندي کوي ترڅو] مړوو ته هغه څه ور په ياد کړي او هغه ور وښيي چې دوی پکې اختلاف درلود [او هغه د مړوو بيرته راژوندي کول ول] ترڅو هغه کسان چې کافران سول [او د قيامت په ورځ د مړوو بيرته راژوندیکولو نه منکر سول] هغوی په دې پوه سي چې دوی دروغژن ول، يعنی په پټو پيښو نه پوهيدل او د خپلو کيډو نه يې خبرې کړې.

[٤٠] او يقينا چې د زمونږ و ينا او حکم يو څه ته چې کله وغواړو هغه پيدا سي؛ دا دئ چې ورته وايو: پيدا سه، نو بيا هغه پيدا کيږي، يعنی کله چې الله د کم څه پيدا کولو قصد وکړی، نو په يوه خبره يې پيدا کوي چې هغه د (کن فيکون) کلمه ده، او يقينا چې دا کار د الله تعالی پر لوی قدرت باندې ښکاره او قاطع دليل دئ.

{د الله لارې مهاجر ينو ته د لو يو پيرزو ينوز يري}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مهاجر ينو او هغو کډ والو ته ډاډ او د لو يو ثوابونو ز يرئ ورکړي دئ چې دوی د الله په لار کې هجرت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْ لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٤١ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٤٢﴾

[٤١] او هغو کسانو چې د مظلوميت او زور يدلو نه وروسته د الله په لار کې هجرت وکه [يعنی د خپلو کورونو نه کډې کړو ته اړ سول] دوی ته به مونږ په دنيا کې خامخا ښه استوګنځي ورکړو، او که دوی پوهيدای، نو

د آخرت ورځې ثواب يې ډير غټ دئ! يعنى دا چې ټول هغه مومنان چې د الله په لار کې د خپلو کورونو نه هجرت ته اړ کيږي؛ دوى ته ښايي د هجرت په لوى ثواب باندې ښه پوه سي، ترڅو هيڅ څوک د دښمن زورونو او ګواښونو ته تسليم نسي او په تيښته او هجرت سره ځان ته نجات ورکړي، ځکه په هجرت کې لوى عزت او ښه راتلونکې ده، او هغه په دنيا کې د امن ښه کور او پکې ډيره روزي ده، او په آخرت کې د الله جنتونه دي.

[٤٢] [او دغه د الله تعالي لارې مهاجر ين] هغه کسان ول چې دوى د ستونزو پر وړاندې صبر وکه [يعنى هغه يې وګالې] او پر الله باندې يې توکل وکه [نو ځکه دوى دا لوړ مقام وګاټه] او ژوندئ مثال يې اوس اوس د افغان ولس هجرت د شلمې پيړۍ په وروستي نيمايي کې ؤ، کله چې د دوى هيواد په (١٩٧٨م) کال چې د هـ ش(١٣٥٨) کال سره سمون خوري د شوروي اتحاد ملحدې امپراتورۍ سرو لښکرو لخوا د ښکيلاک لاندې راغئ او روسانو پر افغانستان باندې تيرئ وکه او افغانستان يې لاندې که، او بيا افغانان ټول هجرت ته اړ سول، نو بيا الله تعالى مهاجر ين عزتمن کړل او د څوارلس کاله هجرت، جهاد او مقاومت نه وروسته بيرته خپل هيواد ته سر لوړي راستانه سول، خو د بده مرغه مجاهدين يو لاس او متحد نه ول، نو بيا لسهاوو کاله نور په جګړو کې ښکيل پاتې سول، او هيواد د دو يم ځل لپاره د لو يديځ وحشي لښکرو لخوا د ښکيلاک لاندې راغئ او لکهاوو زره افغانان په دغسې جګړو کې ووژل سول، او دا دئ اوس اوس د هـ ق(١٤٤٣) محرم مياشتې پاى او د هـ ش(١٤٠٠) کال چې د وړې برج سره سمون خوري؛ ټولې جګړې د ناټو يرغلګرو ماتې سره يوځاى پاى ته ورسيدلې، نو دعاء کړو چې الله تعالى د دې لويې بر يا او فتحې نه وروسته تل پاتې اسلامي نظام د اسلامي امارت په مشرتابه سره ده پرز يدلې شوروي خلاف ټولو مجاهدينو صالحو زامنو پر ملاتړ جوړ او ټينګ کړي، ترڅو د شهيدانو ارمانونه پوره کړي او خپل هيواد په پرمختګ او عدالت کې د نړۍ وتلو هيوادونو سيال وګړي، او افغان مجاهد ولس سرلوړئ او عزتمن کړي، اللهم آمين يارب العالمين.

{د حق پېژندنې غوره لارد پوهانو او علماوو نه پوښتل دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته په ډاډ ورکولو سره د مکې پرکافرانو غږ کړئ دئ چې که د محمد ﷺ په پیغمبرۍ باندې د ستاسې باور نه راځي چې هغه یو نار ینه ؤ، نو د اهل کتاب پوهانو نه چې دوی په تورات او انجیل باندې علم لري او پرې پوهیږي و پوښتی، ترڅو تاسې خبر کړي چې پخواني پیغمبران ټول نار ینه ول او فرښتې نه وې، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٤٣ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِۗ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ٤٤ أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخۡسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ ٤٥ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ فِي تَقَلُّبِهِمۡ فَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ٤٦ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ عَلَىٰ تَخَوُّفٖ فَإِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٌ ٤٧ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ يَتَفَيَّؤُاْ ظِلَٰلُهُۥ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَٱلشَّمَآئِلِ سُجَّدٗا لِلَّهِ وَهُمۡ دَٰخِرُونَ ٤٨ وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن دَآبَّةٖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ٤٩ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ٥٠﴾

[٤٣] ای پیغمبره! او د ستا نه پخوا ولسونو ته مونږ نار ینه پیغمبران راولیږل او دوی ته مونږ په پیغمبري وحیه وکړه [یعنی پخواني پیغمبران ټول سړي ول او فرښتې نه وې، نو ای د مکې کافرانو که تاسې په دې نه پوهیږئ او باور نکړئ] نو د اهل کتاب علماوو نه و پوښتی! یعنی ترڅو تاسې پوه کړي چې پخواني پیغمبران هم ټول سړي ول او ملائکې نه وې!

[٤٤] [هو! پخواني پیغمبران ټول مونږ] د روښانه دلائلو او اسماني کتابونو سره راولیږل، او تا ته ای پیغمبره! مونږ قرآن رانازل کړ، ترڅو ته هغه مسئلې او حکمونه خلکو ته بیان کړې چې دوی ته رانازل سوي او

راغلي دي، ترڅو دوی پکې ښه فکر وکړي، یعنی سمه لار بیاموميِ.

ګرانو دوســتانو! دا مبارك آیتونه همدارنګه ټولو ناپوهانو ته ښــه لارښـود دئ، نو ښـایي په هغو مسـئلو کې چې تاسـې ور باندې نه پوهیږي د علماوو او پوهانو نه چې اهل ذکر دي او تخصص لري و پوښتې او ځانونه ښــه پرې پوه کړي، او په ناپوهۍ او ســر زورۍ ســره د حق منلو نه ســر غړونه ونکړي، او همدارنګه په دې مبارکو آیتونوکې د مشرکانو هغې شبهې ته هم ځواب و یل ســوئ دئ چې دوی به و یل: الله مونږ ته ولې ملائکې پیغمبران نه دي رالیږلي؟

او بیا الله تعالی په ور پســې مبارکو آیتونو کې کافران د الله تعالی سختو سزاګانو نه و یرولي او کلک یې ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

[٤٥] نو آیا هغه کســان چې ډیر بد مکرونه یې وکړل او توطئې جوړې کړې، آیا دوی د دې نه په امن او ډاډ کې دي چې الله به دوی په ځمکه کې ننه نه باسـي او پکې خښ یې نکړي؟ او یا به د داسـې خوا نه چې د دوی به هیڅ پام نه وي عذاب ور باندې رانسـي؟ یعنی نو ځواب دا چې: هو! پردوی باندې به د الله تعالی لوی عذاب او ناڅاپي کلکه سـزا هرومرو راسـي، لکه څنګه چې په ور پسې مبارکو آیتونو الله تعالی فرمایلي دي:

[٤٦] او یا به په داسـي حال کې دوی الله را ونیسـي چې په خپلو کارونو کې به لګیا وي او بیایې هیڅ وســعه نکیږي، یعنی د الله ســزا نه ځانونه خلاصــولای نســي، ځکه الله لوی ځواکمن زورور ذات دئ او څه چې وغواړي هغسې کړلای سيِ.

[٤٧] او یا به دا کافران الله په داســې حال کې راونیســي چې و یري به پسې اخستي وي، نو یقینا چې د ستاسې رب ای خلکو! ښه زړه سواندئ او ډیر مهربان ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! په دې ټولو پوښتنو کې استفهام تقر یري دئ، یعنی دغســې کســانو ته الله تعالی کلکه ســزا ورکوي او په دنیا او آخرت کې یې مختوري په برخه کوي، لکه څنګه چې الله تعالی د مکې مشــرکان خوار او

مختورن کړل او ورسره يې په مدينه کې ميشت يهود رسوا سوي مختورن د مدينې نه وشړل، او بيا مهاجر ين الله تعالى د رسول اللهﷺ په مشرۍ فاتحان مکې مکرمې ته بيرته راستانه کړل او خپل دين يې پوره او کامل که، والحمد لله الذي نصر عبده هزم الأحزاب وحده وأتم دينه وأكمله.

[٤٨] [او آيا د دغو کافرانو سترګې ړندي دي؟] او د الله دغو لو يو لو يو مخلوقاتو ته، لکه غرونو او ونو ته نه ګوري چې سوري يې د ښي خوا او کين خوا نه [يعنى يوې او بلې خوا نه] الله ته په سجده کړو سره اوړي را اوړي، او دوی ټول الله ته تسليم دي، يعنى دا چې دا لوی کائنات، ځمکه، اسمانو نه او پکې پراته ټول کائي او بوټي، جګ غرونه او خواره واره ښونه يا باغونه؛ د الله تعالى لوی نظام ته په افلاکو کې تسليم دي او ورڅخه هيڅ سرغړونه نکړي!

[٤٩] او ټول متحرك او ګرځندوی مخلوقات پرځمکه او ملائکې په اسمانو او ځمکه کې؛ الله ته تسليم دي او د بنده ګی سجدې کړي او د الله اطاعت نه کبر نکړي.

[٥٠] او د دوی پر سرونو باندې پاس ملائکې د خپل رب نه و يرې، او هغه څه کړي چې دوی ته ور باندې امر او حکم کيږي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالى په دې ګواښونکي اعلان سره کافران ايمان راوړو او د حق منلو ته کلک رابللي دي، او هم پکې الله تعالى ځان ته د لوړتيا او فوقيت صفت د ټولو مخلوقاتو پرسر ثابت کړئ دئ، نو ځکه د تلاوت سجده د دې آيت په لوستلو او اور يدلو سره واجب ده.

{يوازې د يؤ خداى بنده ګي پرټولو خلکو فرض ده}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې پرکافرانو غږ کړي دئ چې د شرك نه او د دؤ خدايانو نيولو نه لاس واخلئ او يوازې د هغه يؤ خداى عبادت او بنده ګي وکړئ چې د اسمانونو او ځمکې خالق او واکمن څښتن دئ، او فرمايلي دي:

﴿*وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ٥١ وَلَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًاۚ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَتَّقُونَ ٥٢ وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ ٥٣ ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ٥٤ لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٥٥ وَيَجۡعَلُونَ لِمَا لَا يَعۡلَمُونَ نَصِيبٗا مِّمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡۗ تَٱللَّهِ لَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمۡ تَفۡتَرُونَ ٥٦ وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ ٱلۡبَنَٰتِ سُبۡحَٰنَهُۥ وَلَهُم مَّا يَشۡتَهُونَ ٥٧ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلۡأُنثَىٰ ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٞ ٥٨ يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓۚ أَيُمۡسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمۡ يَدُسُّهُۥ فِي ٱلتُّرَابِۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ٥٩ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ مَثَلُ ٱلسَّوۡءِۖ وَلِلَّهِ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٦٠﴾

[٥١] [او الله تعالى د مکې مشــرکانو او نورو ټولو خلکو ته اعلان او حکم وکه او ورته يې] وو يل: ای خلکو! دۀ خدايان په خدايي مه نيســئ، ځکه د ستاسې ر يښتينۍ معبود يۀ خدای دئ، نو يوازې د زمانه ښه کلک وو ير يرئ! يعنی د الله حکم ومنئ او فرمان يې يوسئ.

[٥٢] او ټول هغه مخلوقات چې په اســمانو او په ځمکه کې دي؛ هغه د الله ملك دئ [ځکه دوی ټول الله پيدا کړي دي او الله يې واکمن څښتن او پالونکئ خدای دئ، او دوی] تل د الله اطاعت او بنده ګي کړي او پکې ستړي دي، نو ای خلکو! آيا تاسې د الله نه پرته د بل چا نه و ير يرئ او د عذاب نه يې ځانونه ساتئ او عبادت يې کړئ؟

درندو دوســتانو! اســتفهام دلته انکار دئ، يعنی د الله نه پرته د بل هيڅ چا نه مه و ير يرئ او بنده ګي يې مکړئ!

[٥٣] او ای خلکو! ټول هغه نعمتونه چې تاسې ته درکړل ســوي دي؛ هغه د الله لخوا دي، او کله چې څه ستونزه او تاوان تاسې ته ورسيږي، نو

بیا یوازې الله ته مخ اړوی او ورځخه خلاصون غواړی!

[٥٤] خو کله چې دا ستونزه، ضرر او دردونه ستاسې نه لرې سي، نو بیا ناڅاپه د ستاسې نه ځینې کسان بتان د الله سره په عبادت او ورته په بنده ګۍ کې شر یکوي!

[٥٥] ترڅو دا کافران د هغو نعمتونو او ورکړو نه منکر سي چې هغه دوی ته مونږ ورکړې دي، نو ای کافرانو! د دنیا دغو نعمتونو نه خوند واخلی، نو بیا به ډیر ژر تاسې په خپلو تیروتنو او بدو کړنو پوه سی!

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې د کافرانو جاهلي دورې شرکي دودونه الله تعالی کلک غندلی دی، او فرمایلي دي:

[٥٦] او مشرکان هغو بتانو ته چې په هیڅ څه نه پوهیږي د خپلې هغې روزي نه چې هغه دوی ته مونږ ورکړې ده؛ برخه بیلوي! او پر الله لوړه ده چې تاسې به ای کافرانو! خاماخا د خپلو دغو ناحقه تورونو نه پوښتل کیږی، یعنی دا ځکه چې تاسې د الله سره بتان په خدایي کې شر یکوی!

[٥٧] او مشرکان ملائکې د الله لونې بولي، خو الله د دې نه پاک دئ [یعنی د لونې درلو نه الله تعالی پاک دئ!] او مشرکان چې خپلو ځانو ته څه غواړي؛ همغه خوښوي، یعنی د مکې مشرکانو به ملائکې د الله لونې بللې او ځانو ته بې زامن غوښتل، حال دا چې الله تعالی د لور او زوی نیولو نه پاک او لوړ دئ او الله زوی او لور ته محتاج نه دئ، ځکه اولاد درلودل د احتیاج ښکاره نښه ده او الله بی نیازه او مستغني دئ، چا ته اړ نه دئ.

[٥٨] او د مشرکانو نه چې کله چا ته د جلی ز یرئ ورکړل سي [یعنی خبر سي چې په کور کې یې لور ز یږ یدلې ده] نو مخ یې تور شین سي او دئ ډیر کلک غمجن وي.

[٥٩] او د دې شرمناک ز یری له کبله د خپل قوم نه پټیږي [ترڅو څوک پیغور ورنکړي او بیا به حیران وي چې په دې لور څه وکړي؟] آیا دا ماشوم ژوندئ پر یږدي او که په خاوره کې یې ومنډي! نو پام کړی چې د

كافرانو دا حكمونه او پر يكړې؛ ډيرې بدې او كركجنې دي! يعنى څنكه دوى پرخپلو لونو شرميږي، خو ملائكى د الله تعالى لونه بولي! يعنى د مكې مشركانو به لور درلودل څانو ته شرم كاڼه، خو فرښتې بې د الله لونه بللې!

[٦٠] د هغو كسانو بيلګې او مثالونه ډير بد مثالونه دي چې دوى د آخرت په ورځ ايمان نه راوړي [يعنى هغه نه مني او د الله تعالى سزا او عذاب نه په آخرت كې نه و ير يږي، نو د دوى بيلګې او خو يونه ډير بد دي، ځكه دوى خپلې لونه ژوندى خښوي؛ حال دا چې ښځې د دوى مندې او ميرمنې دي] او الله د لوړو صفتونو څښتن، بيلكه او مثال دئ [يعنى دا ځكه چې الله تعالى واحد او لاشر يك ذات دئ، نه يې څوك ز يږولې دي او نه دئ د چا نه ز ير يدلئ دئ، او الله نه لونه لري او نه زامن] او الله لوى ځواكمن او پوخ حكيم ذات دئ.

قدرمنو دوستانو!دا ؤ د رسول اللهﷺ د قوم قر يشو كافرانو كرغيړن تصو ير چې هغه مونږ ته الله تعالى په دغو مبارك آيتونو كې وړاندې كړئ دئ، خو د بده مرغه اوس هم دغسې جاهلان په نړۍ كې ستە چې د ډيرې ناپوهۍ نه بتان او ناحقه معبودان د الله تعالى سره په خدايي كې شر يكوي او د بتانو عبادت كړي، او همدارنګه د زمونږ په ټولنه كې لا تر اوسه دغسې ناپوه كسان ستە چې د لور ز ير يدل په خپل كور كې ننګ بولي او په لور شرميږي، نو د علماوو او پوهانو وظيفه ده چې دغسې كسان سم پوه كړي، ترڅو دوى د اسلام نه پخوا د جاهليت دورې خو يونو نه ځانونه خلاص كړي، او ښځه خپله خوږه مور، درنده ميرمن او نازولې لور و بولي، او هيڅ كله ور باندې ونه شرميږي.

{كافران الله ژر نه رانيسي د ټاكل سوې نيټې پورې زنډوي}

او په ور پسې مباركو آيتونوكې الله تعالى كافرانو ته ډاډ وركړئ دئ چې دوى په ګناه ژر نه رانيسي او زنډوي يې، ترڅو تو به و باسي او ايمان راوړي، او فرمايلي دي:

﴿وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلۡمِهِمۡ مَّا تَرَكَ عَلَيۡهَا مِن دَآبَّةٖ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ٦١ وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكۡرَهُونَۖ وَتَصِفُ أَلۡسِنَتُهُمُ ٱلۡكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ وَأَنَّهُم مُّفۡرَطُونَ ٦٢﴾

[٦١] هو! که الله ټول خلک د دوی د ظلم او کفر په ګناه راونیسي، نو بیا ېې د ځمکې په سر هیڅ ګرځیدونکئ نه ؤ پرې ایښئ، خو کافران الله د ټاکل سوې نیټې پورې زنډوي، او نیټه چې کله پوره سي او اجل یې راسي، نو بیا دوی یو ساعت وړاندې او وروسته نکیږي، یعنی بیا ټول خلک هلاکیږي او لمنځه ځي او ټول کافران خپله سزا ګالي.

[٦٢] او کافران الله ته هغه څه منسو بوي چې دوی خپله ورڅخه کرکه لري [یعنی هغه خپلو ځانو ته نه غواړي، لکه لونې] خو د دوی ژبې په دروغو سره وایي چې دوی ته یقینا ښه راتلونکې ده، نا! داسې نه ده د کافرانو راتلونکې خامخا د دوزخ اور دئ او دوی به پکې تل پاتې کړ یږي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې د مکې کافرانو پر یوتي اخلاق او خو یونه غندلي دي او هغه دا چې دوی ملائکې د الله تعالی لونې بللې، خو پر خپلو لونو به شرمیدل او هغه یې نه غوښتلې، او خپلې وړې ماشومې لونې بې د ډیرې ناپوهۍ او جهالت نه ژوندۍ خښولې، نو ځکه الله تعالی دوی په ډیره توره کرغیړنه راتلونکې باندې چې د دوزخ اور دئ او هلته به خامخا پکې د تل لپاره سوزول کیږي؛ ګوابسلي دي، ترڅو دوی په اوښ راسي او ښه پوه سي چې کفر او شرك دوی په دغسې لو یه ګناه او ظلم کې ښیکیل کړي او اچولي دي، نو دوی ته ښایي چې د ورکړل سوو فرصتونو نه ګټه واخلي او مخکې له هغې چې د سزا ورکولو وخت راسي او اجل یې پوره سي؛ ایمان راوړي او تو به و باسي، ځکه چې هغه بیا یؤ ساعت وړاندې او وروسته نکیږي، او دوی به بیا دا فرصت د لاسه ورکړئ وي او په هغه ورځ بیا پښیماني نوره ګټه نه لري.

{د محمد ﷺ پيغمبري مومنانو ته د رحمت زيرئ ؤ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې رسـول الله ﷺ ته الله تعالى ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ چې د سـتا رسـالت او پيغمبري مومنانو ته رحمت او لاښـودنه ده، نو ته د کافرانو په خبرو مه خفه کيږه؛ ځکه هغه ټولې د شيطان وسوسې دي، او د ستا امت نه پخوا تير سوو ولسونو هم د خپلو پيغمبرانو مخالفت وکه او د شيطان ملګري سول، او فرمايلى دي:

﴿تَٱللَّهِ لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٦٣ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٦٤﴾

[٦٣] هو؛ ای پيغمبره! پر الله قسم او لوړه ده چې يقينا د ستا امت نه مخکې امتونو ته هم مونږ پيغمبران راولېږل، نو بيا شيطان دوی ته د دوی بدې کړنې ښايسته او ښکلې کړې او دوی يې د سمې لارې نه ورک کړل، او شـيطان نن هم د کافرانو ملګرئ دئ [يعنى دوی د حق نه اړوي] او په قيامت کې بيا دوی ته دردونکئ عذاب دئ.

[٦٤] او ای پيغمبره! دا کتاب قرآن پر تا باندې مونږ لدې لپاره رانازل کړئ دئ چې ترڅو ته هغه مسئلې خلکو ته ښې روښانه بيان کړې چې دوی پکې اختلاف لري [يعنى حق د باطل سـره ګډوي، نو ته به هغه دوی ته روښانه بيان کړې او حق به د باطل نه بيل کړې] او يقينا چې قرآن لارښود دئ او مومنـانو تـه لوی رحمـت او د اللـه ورکړه ده، يعنى دوی يې د کړې لارې نه ساتلي دي او پر سمه لارې خوځولي دي، ځکه قرآن ټولو خلکو ته او په ځانګړي ډول مومنانو ته د الله لخوا لارښود کتاب دئ او د ورکتيا او بد مرغيو نه د خلاصون او نجات يوازنئ لارښود پيغام دئ.

{د الله لوی قدرتونه په کائناتو کې خلکو ته پيغامونه دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د خپلو لو يو قدرتونو نښانې په اسمان او ځمکه کې خلکو ته يادی کړي دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ٦٥ وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةٗۖ نُّسۡقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيۡنِ فَرۡثٖ وَدَمٖ لَّبَنًا خَالِصٗا سَآئِغٗا لِّلشَّٰرِبِينَ ٦٦ وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرٗا وَرِزۡقًا حَسَنًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٦٧ وَأَوۡحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحۡلِ أَنِ ٱتَّخِذِي مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتٗا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعۡرِشُونَ ٦٨ ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسۡلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلٗاۚ يَخۡرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٞ لِّلنَّاسِۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٦٩﴾

[٦٥] [ای خلکو!] او او به د اسمان نه الله را وورولې [یعنی ترڅو چې بیا ور باندې بوټي او کښتونو راشنه سول او ځمکه را ژوندۍ او زرغونه سۍ] او یقینا چې په دې کې هغه چا ته چې حق اوري [یعنی پکې ښه ژور فکر کړي] د الله قدرتونو نښې نغښتې دي، یعنی نو ښایي چې خلک ورڅخه ځه زدکړي او د الله تعالی د دې خورو ورو نعمتونو شکر و باسي.

[٦٦] ای خلکو! او یقینا چې په څارو یو کې (اوښانو، غو یو، میږو او وزو کې) تاسې ته زده کړه، پند او عبرت اخستل دئ، ځکه مونږ د دې څارو یو د کیدو نه د اینې او لړښن له منځ نه تاسې ته پاکې سپینې شودې درڅکو او هغه په ډیرې اسانې سره د څکونکو مړۍ نه تیریږي.

[٦٧] او ای خلکو! د خرما یا کجورو او د انګورو میوو نه تاسې خواږه شر بتونه راباسۍ او هغه تاسې ته ډیره ښه روزي ده، او هوښیارانو ته چې عقل لري؛ په دې کې د الله لو یو قدرتونو نښانې پرتې دي.

درندو دوستانو! دا خبره دلته د پام وړ ده چې د شرابو جوړول او څکل د اسلام په لمړ یو کلونو کې روا ول، او د النحل سوره مکي سوره ده، نو ځکه الله تعالی په دې مبارك آیت کې د کجورو او انګورو نه د شرابو جوړول د خپلو نعمتونو نه پرخپلو بنده ګانو باندې؛ یاد کړي دي او حرمت ته یې څه اشاره نه ده کړي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى همداسې د خپلو لو يو قدرتونو يؤ بله نښه چې هغه د شاتو مچې ته د الله تعالى لخوا وحيه او الهام دئ؛ يادە کړي ده، او فرمايلي دي:

[٦٨] د ستا رب ای پيغمبره! د شاتو مچيو ته په زړو کی ورواچول چې په غرونوکې او په ونوکې او د خلکو د جونګړو په څنډوکې ځان ته د جالو کورونه جوړ کړي، ترڅو پکې ميشت سوې ؤ اوسيږي.

[٦٩] او بيا [تاسې ای مچيو!] د ټولو ميوو او به وز بيښی او هغه وخوری او د خپل څښتن پر ټولو هغو لارو پسې لاړې سی چې هغه د ستاسې روزی لپاره اسانه سوې دي او ور پسې وګرځی، او د شاتو مچيو د نسونو نه ډول ډول شر بتونه راوځي او په دې شر بت کې خلکو ته شفاء ده [يعنی د مچيو عسل يا شات ناروغان د الله په قدرت سره روغوي] او يقينا چې د شاتو په مچيوکې د هغه چا لپاره چې ژور فکر کړي؛ د الله د قدرتونو لويې نښې نغښتې دي، يعنی ښايي چې خلک ورڅخه ګته واخلي.

{ټول خلک الله پيدا کړي او ساه ګانې اخلي او برخې پوره کوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى خپل ډير نعمتونه پر خلکو باندې شميرلي او ياد کړي دي، او بيايې دوی شکر و يستلو ته په ايمان راوړ سره رابللي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ ثُمَّ يَتَوَفَّىٰكُمۡۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡ لَا يَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٖ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٞ قَدِيرٞ ٧٠ وَٱللَّهُ فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلرِّزۡقِۚ فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُواْ بِرَآدِّي رِزۡقِهِمۡ عَلَىٰ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَهُمۡ فِيهِ سَوَآءٌۚ أَفَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ٧١ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةٗ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِۚ أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ وَبِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ هُمۡ يَكۡفُرُونَ ٧٢ وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا

لَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ رِزۡقٗا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ٧٣ فَلَا تَضۡرِبُواْ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡثَالَۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٧٤

[٧٠] ای خلکو! او تاسې الله پیدا کړی او بیا تاسې الله وفاتوي [یعنی روح مو درڅخه اخلي او ساه مو باسي نو بیا مړه کیږی] او د ستاسې نه ځینې کسان ډیر زاړه او ارزل عمر ته (کودن) عمر ته رسیږي، ترڅو چې بیا پر هغه څه چې پخوا ور باندې پوهیدل؛ هیڅ پوه نسي [یعنی هرڅه پې هیریږي] او یقینا چې الله ښه پوه او قادر ذات دئ، یعنی ژوندي په خپل علم او لوی قدرت سره مړه کوي او مړي بیرته راژوندي کوي.

[٧١] او همداسې ای خلکو! تاسې الله پر یو بل باندې په روزی کې باندې کړي او لوړ کړي یاستی [یعنی ځینې مو ماړه او ځینې وړي دي] نو هغه کسان چې الله په رزق او روزي کې پر نورو کسانو لوړ کړي دي؛ دوی د خپلې روزي نه هیڅ څه شئ خپلو لاس لاندې مر یانو ته نه ورکوي، ترڅو ټول سره برابر سي [یعنی نو کله چې خبره داسي ده او مالداران خپل مال بې وزرو مسکینانو ته نه ورکوي، ترڅو هغوی د دوی سره برابر سي، نو بیا دا ماړه او بډای کسان ولې خپل بتان د الله سره په عبادت کې برابروي او ورسره پې شر یکوي؟ حال دا چې بتان د دوی غوندې پیدا سوي مخلوقات دي!] نو آیا کافران د الله نعمتونو او ورکړو نه انکار کړي؟ یعنی نو د مشرکانو دا کار لوی ظلم او د حق نه منکر یدل دي، ځکه دوی خپل خالق او رازق رب او لوی څښتن د مخلوق سره برابر وي! او دا ضعیف مخلوق د الوهیت مقام ته رسوي او دا لوړ مقام ورکوي!

قدرمنو دوستانو! په دې مبارك آیت کې الله تعالی په ډیر قوي الزامي دلیل سره د مشرکانو کفر او د خپلو ناحقه خدایانو ګډول د الله سره په خدایي کې رد کړي دي.

[٧٢] او ای خلکو! تاسې ته الله د خپلو ځانونو نه [یعنې د خپل جنس نه] د ستاسې میرمنې (د ژوند ملګرې) پیدا کړې دي او بیایي د ستاسې ښځو او میرمنو نه درته زامن او لمسیان وز یږول او د پاکو خوړونه پې

روزي درکړه، نو آيا کافران د الله ټولو پيرزو ينو او ورکړو سره سره بيا هم پر باطل چې بتان دي ايمان راوړي؟ [يعنى بتان د الله ســره په خدايي کې ګډوي؟] او د الله نعمتونو کفران کړي او ورڅخه منکر يږي، يعنى شکريې نه باسي؟ حال دا چې ښايې دوی يوازې د الله عبادت او بنده ګي وکړي او د شرك نه خپل براءت په کلکه سره اعلان کړي.

[٧٣] او کافران د الله نه پرته د هغه چا عبادت او بنده ګي کړي چې هغوی دوی ته د اســمانو او ځمکې نه د هيڅ ډول روزۍ مالکان نه دي او وسعه يې نه لري، يعنى هيڅ څه شئ کړلای نسي، نو د دوی دا خدايان د خدايي مستحق نه دي، او خدای ګنډ يې لوی تيرئ او ظلم بلل کيږي!

[٧٤] [او ای خلکو! کله چې روښانه سؤ چې بتان هيڅ څه شئ کړلای نسي او بې روحه توکي دي] نو بتان د الله ســره ســيالان مګرځوی [يعنى خپل بتان د الله تعالى ســره په خدايي کې مه ګډوی] ځکه يقينا چې الله پوهيږي او تاسې نه پوهيږی!

ګرانو دوســتانو! الله تعالى په دي مبارکو آيتونو کې د خپلو بې شــميره نعمتونو يادونه کړې ده او هغه يې د مشرکانو مخ ته ايښې دي، ترڅو دوی د شــرك او کفر نه لاس واخلي او يوازې د الله تعالى عبادت او بنده ګي وکړي، او يقينا چې دا لارښــودنه ټولو خلکو ته؛ تل پاتې لارښــودنه ده او دوی سعادت او نيکمرغۍ خوا ته رابولي.

{خير رسونکئ سړئ بل چا ته ورپشا سړي سره بر ابر نه دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى څو داسې مثالونه ياد کړي دي چې پکې ضعيف او قوي، ګټه رسونکئ او نورو ته ور پشا کسان د يو بل نه بيلوي، ترڅو خلک په دې مثال او بيلګه کې ژور فکر وکړي او مخلوقات چې بې وسې او ضعيف دي؛ د الله سره چې خالق او ځواکمن لوی ذات دئ؛ برابر نکړي، ځکه د دوی دا مصنوعي بتان هيڅ کله د الله سره چې د ټولو مخلوقاتو پيدا کونکئ رب دئ؛ برابر نه دي، او فرمايلي دي:

﴿۞ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا عَبۡدٗا مَّمۡلُوكٗا لَّا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَمَن رَّزَقۡنَٰهُ مِنَّا رِزۡقٗا حَسَنٗا فَهُوَ يُنفِقُ مِنۡهُ سِرّٗا وَجَهۡرًاۖ هَلۡ يَسۡتَوُۥنَۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٧٥ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا رَّجُلَيۡنِ أَحَدُهُمَآ أَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوۡلَىٰهُ أَيۡنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأۡتِ بِخَيۡرٍ هَلۡ يَسۡتَوِي هُوَ وَمَن يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٧٦﴾

[٧٥] الله مشـــرکانو ته د هغه مريي مثال او بيلکه يـاده کړې ده چې هغه هيڅ څه کړلای نـــي، او بل هغه څوک دئ چې هغه ته مونږ ښـــه روزي [يعنی ډير مال او دولت] ورکړئ دئ او دئ د ورکړل ســـوې روزی او مال نه پټ او ښـکاره هر چا ته خيرات ورکوي، نو آيا دا دواړه ســره برابر دي؟ [ځواب دا چې: نا! دا دواړه هيڅ کله د يو بل ســره برابر نه دي، نو همداســې الله تعالی چې ټول خلک پې پيدا کړي دي او د دوی د چـارو پالونکئ ځواکمن رب دئ؛ هيڅ کله د مخلوقـاتو ســره برابر نـه دئ، نو څنګه تاســې ای کافرانو الله د هغه مخلوق ســره برابروی؟] نو ټول حمد او ستاينه الله لره ده، خو د مشرکانو نه ډير کسان په دي نه پوهيږي چې يوازي الله د ستايني وړ مستحق لوی ذات دئ! يعنی نو ښايي يوازې د الله تعالی عبادت وسـي او بل هيڅ څوک او هيڅ څه شئ ورســره په خدايي کې ګډ او شر يك نسي.

[٧٦] او مشـرکانو ته بل مثال او بيلکه الله هغه دوۀ سړي ياد کړل چې يۀې ګونګ دئ او د هيڅ څه وســعه نه لري او نه څه و يلای ســي او خپل بادار ته ور پشا دئ، او هرې خوا ته چې يې وليږي؛ کټه راوړلای نسي، نو آيا دا [کوڼ او ګونګ سړئ] د هغه بل سړي ســره برابر دئ [چې روغ او جوړ دئ او ځان ته يې ګټه رســيږي] او نور خلک ســې لارې ته رابولي او دئ خپله هم په سـمه لار روان دئ؟ [اســتفهام يا پوښـتنه دلته انکاري ده، او ځواب يې دا دئ چې نا! دا دواړه سـره برابر نه دي، نو ای مشـرکانو! څنګه

تاسې کاڼه، ړاندې او ګونګان بتان د الله سره برابروی؟ حال دا چې الله په هرڅه قادر دي او تول مخلوقات الله پیدا کړي دي او د هغوی د چارو واکمن چلونکئ او پالونکئ څښتن الله دئ؟ یعنی ای مشرکانو! یقینا چې د ستاسې دا کار حق او انصاف نه دئ او هیڅ هوښیار سړئ هغه نه مني.

عزتمنو دوستانو! په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مشرکانو ته دؤ ډیر روښانه مثالونه د انسانانو د منځ او عملي ژوند نه مونږ ته یاد کړي او بیان کړي دي، او په هر مثال یا بیلګه کې دؤ خواوې دي، او یوه خوا د بلې سره برابره نه ده، او هیڅ هوښیار سړئ هغه دواړه سره برابرې نه بولي، خو مشرکان چې زړونه یې تیاره دي په څه نه پوهیږي او کینو په سر اخستي دي او الله تعالی په هر څه قادر او ټولواک ذات دئ، هر څه اوري، هر څه و یني، او هر څه کړلای سي؛ خو مشرکان دا لوی څښتن خپلو هغو بتانو سره برابروي چې نه څه اوري او نه څه و یلای سي؟ او له بلې خوا الله تعالی په دې مثالونو سره چې هغه عیني واقعیتونه دي؛ هغه کسان غوره بللي دي چې دوی ته الله تعالی لوړ همت ورکړئ دئ او په خپلو هلو ځلو سره ځان ته او خپلې ټولنې ته ګټه رسوي.

او همدارنګه دا قرآني بیلګې اسلام ته رابلونکو دعاتو ته د خلکو په دعوت کې ډیر ګټور لارښود سرلیکونه دي چې ښایي دعات دا د استدلال روښانه او معقوله تګ لاره په خپل دعوت کې په پام کې ونیسي، او په ښه منطقي، منل سوې مناظره او په خوږه مرکه خلک اسلام ته راو بولي، او د هر ډول راپارونکو جدلي بحثونو نه ډ ډه وکړي او ځان ورڅخه وساتي.

{د اسمانو او ځمکې علم الله سره دئ او قیامت راتلونکئ دئ}

قدرمنو دوستانو! او د پورته یاد سوو منطقي مثالونو او بیلګو نه وروسته بیا الله تعالی خپل لوی قدرتونه بیان کړئ دئ او د قیامت ورځې پر ژر راتګ یې ټینګار کړئ دئ او خلک یې ایمان راوړو ته رابللي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَآ أَمْرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ

ٱلۡبَصَرِ أَوۡ هُوَ أَقۡرَبُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٧٧ وَٱللَّهُ أَخۡرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٧٨ أَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ مُسَخَّرَٰتٖ فِي جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٧٩

[٧٧] په ځمکه او اسمانو کې د پټ علم خښتن الله دئ [یعنی الله د ځمکې او اسمانو په پټ او ښکاره هر څه باندې پوهیږي] او د قیامت ورځې ژر راتګ د سترګو په ر پیدو سره دئ او یا د دې نه هم را لنډ دئ، او یقینا چې الله په هر څه قادر لوی ذات دئ، یعنی د قیامت درول الله ته اسانه دي.

[٧٨] ای خلکو! او تاسی الله د خپلو میندو نسونو نه په داسي حال که راوایستلی چې په هیڅ څه نه پوهیدلی، او الله سترګې، غوږونه او زړونه درکړل [یعني داچې هر څه ور باندې اوری او هر څه و یني او په هر څه پوهیږی] ترڅو د الله شکر و باسی، یعنی ښایي بل هیڅ څوک د الله سره په خدایي کې کډ او شر یك نکړی.

[٧٩] او آیا دغو خلکو مرغان د اسمان په فضا کې ونه لیدل چې هغه دوی ته تسخیر سوي الوزي او د الله نه پرته بل چا دا مرغان نه دي نیولي؟ [یعنی دا مرغان یوازي د الله په قدرت سره په اسمان کې الوزي او پر ځمکه نه الویږي] نو یقینا چې په دې کې مومنانو ته د الله قدرتونو لویې ښې دي، یعنی دا چې هغه هر څوک په سترګو و یني.

درنډو عز یزانو! د تجر یبوي علومو ستر پوهان وایي د اوسنی تکنالوژي پوهانو د الوتکو په جوړولو کې د الله تعالی صنعت او خلقت نه په مرغانو کې پوره ګته اخستې ده.

{د ژوند اسانتیاوې د الله پیرزو ینې او قدرتونو نښې دي}

هو! الله تعالی خپل خواره واره نعمتونه او لویې پیرزو ینې خپلو بنده ګانو ته په دې لاندې مبارکو آیتونوکې همداسې یادې کړې دي، ترڅو شکر و باسي او الله په ر یښتیا سره و پیژني او بنده ګي یې وکړي، او فرمایلی دي:

﴿وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمۡ سَكَنٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ بُيُوتٗا تَسۡتَخِفُّونَهَا يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ وَيَوۡمَ إِقَامَتِكُمۡ وَمِنۡ أَصۡوَافِهَا وَأَوۡبَارِهَا وَأَشۡعَارِهَآ أَثَٰثٗا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ٨٠ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡجِبَالِ أَكۡنَٰنٗا وَجَعَلَ لَكُمۡ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلۡحَرَّ وَسَرَٰبِيلَ تَقِيكُم بَأۡسَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُسۡلِمُونَ ٨١ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ٨٢ يَعۡرِفُونَ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكۡثَرُهُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨٣﴾

[٨٠] ای خلکو! او الله د ستاسې کورونه درته [په کلیو او ښارو کې] د دمې او ارامتیا مینې ګرځولي دي، او د څارو یو پوستکو نه یې [چې وړل راوړل یې په مزلو کې اسانه دي] تاسې ته په مینو کې د کیږدیو کورونه ګرځولي دي، او د پسو او اوښانو وړې او د وزو وجغونې یې تاسې ته د کور سامان ګرزولې دي [ترڅو هغه په غولي کې خواره کړې او خپل ځانونه په هغو پټ کړې] او د دې ټولو نه تر ټاکل سوې نیټې پورې ګټه واخلی.

[٨١] او ای خلکو! الله د خپلو ځینې مخلوقاتو نه [لکه غرونه او وني] تاسې ته سورې ګرځولې دې [یعنی چې څویې ترلاندې کینې او دمه وکړې] او په غرونو کې یې تاسې ته سمځې پیدا کړې دي [چې د اړتیا په وخت کې ورڅخه ګټه اخلی] او د پومبې او وړ یو نه یې جامې درته پیدا کړې دي چې هغه اغوندې او تاسې د سړو او تودوخې نه ساتي، او زغرې یې درته پیدا کړې دي چې د دښمن تورو نه تاسې وساتي [او ای خلکو! لکه څنګه چې

الله تاسي ته دا خواره واره نعمتو درکړي دي] همداسي الله پر تاسي باندې [د خپل حق دين] نعمت پوره کوي، ترڅو تاسي د خپل رب الله حکم ته تسليم سی، يعنی هغه ومنی او غاړه ورته کيږدی او يوازې د الله عبادت او بنده کي وکړی او بل هيڅ څوک د الله سره په عبادت کې شريك نکړی.

[٨٢] نو ای پيغمبره! [که د دې ټولو دلائلو سره سره] بيا هم د مکې خلکو ستا نه مخ واړا ؤ[يعنی د ستا دعوت يې ونه مانه، نو ته مه خفه کيږه] ځکه ستا رسالت د ښکاره پيغام رسول دي!

[٨٣] او دغه د مکې کافران د الله پيرزو ينه پردوی باندې[چې هغه د محمدﷺ پيغمبري ده] پيژني، خو بيا ورڅخه انکار کړي، او د دوی ډير کسان ورڅخه منکر دي، يعنی د رسول اللهﷺ پيغمبري نه مني.

درندو دوستانو! دا د الله تعالی هغه لوی نعمتونه او ورکړې دي چې خپل بنده ګان يې په ژوند کې ور باندې نازولي دي او هغه همداسي د الله تعالی د لو يو قدرتونو نښې دي، نو ښايي چې په قدرې ښه پوه سي او خپل لوی رب ښه و پيژنی او ايمان راوړي او د کفر نه لاس واخلي.

او د يادوني ور ده چې دغه سامانو نه ټول درسول اللهﷺ د پيغمبری په وخت کې د خلکو د ژوند هغه وسائل او سامانو نه ول چې په کليو او باندو کې لا تر اوسه ځينې خلک ورڅخه ګټه اخلي، او هغه نوي نعمتونه چې په اوسنې پرمختللي ژوند کې د خلکو په برخه سوي دي؛ هغه هم د الله تعالی ورکړې دي او په ځمکه کې يې پيدا کړي دي، او مونږ يې په اسماني لارښودنو سره کلک هڅولي يو، ترڅو په علمي څيړنو او تجربو سره هغه کشف او و پيژنو او بيا د ژوند هوسايي لپاره ورڅخه کار واخلو، او د دې مبارکو آيتونو په پای کې الله تعالی د کافرانو سرغړونو ته په اشاره سره فرمايلي دي چې دوی د الله دا ټول نعمتونه پيژني، خو د ډير کبر نه هغه نه مني، نو بيا الله تعالی رسول اللهﷺ ته لارښودنه کړې ده چې د ستا رسالت او دنده ای پيغمبره! تبليغ او پيغام رسول دي، او ته نور د کافرانو

ایمان راوړو نه مسؤول نه یې، نو پروایې مکړه، او دا لارښود نه یقینا چې ټولو دعاتو ته د الله تعالی لوی پیغام دئ، نو ښایي چې دوی د کافرانو سرکښۍ پروا ونکړي، او خپل دعوت په سړه سینه په مخ یوسي.

{قیامت په ورځ د پیغمبر انو شاهدي او د کافر انو تور برخلیک}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مونږ د کافرانو تور برخلیک نه د قیامت په ورځ خبر کړي یو، او فرمایلي دي:

﴿وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٨٤﴾ وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ٱلْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٥﴾ وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ شُرَكَآءَهُمْ قَالُوا۟ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا ٱلَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوا۟ مِن دُونِكَ ۖ فَأَلْقَوْا۟ إِلَيْهِمُ ٱلْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿٨٦﴾ وَأَلْقَوْا۟ إِلَى ٱللَّهِ يَوْمَئِذٍ ٱلسَّلَمَ ۖ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٨٧﴾ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ زِدْنَٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ ٱلْعَذَابِ بِمَا كَانُوا۟ يُفْسِدُونَ ﴿٨٨﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِى كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ ۖ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿٨٩﴾﴾

[٨٤] [ای پیغمبره! دغو کافرانو ته د قیامت هغه ورځ ور په یاد کړه] کله چې مونږ په هغه ورځ د هر امت نه یو څوک شاهد کړځوو [یعنی هر امت ته رالیږل سوئ پیغمبر پر دوی باندې شاهد کړځوو] او بیا نورو کافرانو ته د عذر غوښتنې اجازه نه ورکول کیږي او نه ورته د توبې و یستلو او پښیمانۍ او د ښو کړنو فرصت ورکول کیږي، یعنی ترڅو دوی خپل خدای په ښو کړنو سره خوښ او راضي کړي.

[٨٥] او هغه کسان چې کافران دي او پرخپلو ځانو باندې یې ظلم

کړئ دئ؛ دوی چې کله د قیامت په ورځ د الله عذاب وو یني، نو ګورې چې هغه د دوی څخه نه سپکیږي او نه دوی زندول کیږي، یعنی د مهلت ورکولو او زندولو وخت او فرصت نور تیر سوئ دئ.

[٨٦] او کافران چې کله د قیامت په ورځ خپل هغه ناحقه معبودان چې د الله سره یې په عبادت کې شر یك کړي ول؛ وو یني، نو وایي: ای د زمونږ ر به! هغوی د زمونږ شر یکان دي او هغه څوک دي چې د ستا نه پرته مونږ د هغوی عبادت کا ؤ، نو بیا دا ناحقه معبودان د مشرکانو خبرې بیرته وراړوي او ورته وایي: یقینا چې تاسې دروغژن وی، یعنی تاسو مونږ د الله سره په عبادت او بنده ګی کې شر یکولی، نو د ستاسې دا کارونه دروغ ول، ځکه بتان هیڅ کله د الله سیالان نه ول.

[٨٧] او په هغه ورځ بیا مشرکان الله ته سلامي کیږي او خپل ځانونه تسلیموي، او هغه څوک چې دوی الله پسې په دروغو تپل [او و یل یې چې د زمونږ دغه خدایان د الله په مخکې را ته شفاعت کړي] هغوی ټول د مشرکانو نه ورکیږي، یعنی کافران یوازې او لاس په زنه ناست پاتې کیږي؟

[٨٨] او دغه مشرکان هغه کسان ول چې کافران سول او نور خلک یې هم د الله لاري نه او د ایمان راوړو نه منعې کړل، نو ځکه د دوی عذاب مونږ ډیر که او دا عذاب مونږ پر یو بل باندې پسیره واچا ؤ، ځکه دوی ډیر ورانئ کړئ ؤ.

[٨٩] ای پیغمبره! او د قیامت په ورځ چې کله هر قوم ته مونږ د دوی د منځ نه پر دوی باندې شاهد راجګوو، نو بیا تا پر دغو کافرانو باندې شاهد درووا! او قرآن مونږ پر تا باندې د هر څه لپاره بیانونکئ لارښود رانازل کړئ دئ او قرآن مسلمانانو ته د رحمت ز یرئ دئ.

ګرانو دوستانو! نو یقینا چې مسلمانان نیکمرغه دي، ځکه ایمان یې راوړئ دئ او د قرآن په لارښودنویې عمل کړئ دئ او د اسلام ستر پیغمبرﷺ امت دي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته استقامت پر حق باندې راپه برخه کري او د هر ډول انحراف او ښو یدلو نه ده مونز

الله تعالى په خپل فضل او رحمت سره وساتي او د رسول الله ﷺ شفاعت ده د قيامت په ورځ زمونږ په برخه کړي! آمين يا رب العالمين!

{الله په عدالت امر کړي او د منکر اتو نه خلک منع کوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى په ټولنه کې عدالت قائمول فرض کړي دي او خلکو ته يې حکم کړئ دئ چې د الله سره ده په خپلو هوکړو او لوړو کلک ودر يږي او د ماتولو مخنيوئ دې وکړي، او همدارنګه ده د منکراتو مخه ونيسي، او فرمايلي دي:

﴿*إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٩٠ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ إِذَا عَٰهَدتُّمۡ وَلَا تَنقُضُواْ ٱلۡأَيۡمَٰنَ بَعۡدَ تَوۡكِيدِهَا وَقَدۡ جَعَلۡتُمُ ٱللَّهَ عَلَيۡكُمۡ كَفِيلًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ٩١ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّتِي نَقَضَتۡ غَزۡلَهَا مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ أَنكَٰثٗا تَتَّخِذُونَ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرۡبَىٰ مِنۡ أُمَّةٍۚ إِنَّمَا يَبۡلُوكُمُ ٱللَّهُ بِهِۦۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ٩٢ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَلَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٩٣﴾

[٩٠] [هو؛ ای خلکو! يقينا چې الله په عدالت او په ښو کړنو او خپلوانو سره په مرسته حکم او امر کړي، او د زنا، فحشاء، بدو کړنو او پر يو بل باندې د تيري نه الله خلک منع کوي، او تاسې ته الله وعظ او نصيحت کړي، ترڅو تاسې د الله دا حکومونه را په ياد کړئ، يعنى عمل پرې وکړئ او د سرغړونې نه يې خپل ځانونه کلک وساتئ!

[٩١] ای خلکو! او تاسې چې کله د الله سره تعهد وکه، نو پرخپله هوکړه او تعهد باندې وفاء وکړئ [يعني په هغو هوکړو چې تاسې په خپل

منځ کې د يو بل سره کړې دي؛ ټينګ سې او هغه پرځای کړې] او خپل قسمونه او لوړې د ټينګيدلو نه وروسته مه ماتوئ، ځکه تاسې الله پر خپلو ځانو باندې ضامن ګرځولوئ دئ، او يقينا چې الله د ستاسې په کړنو باندې پوهيږي، يعنی نو هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[٩٢] [او ای د خپلو هوکړو نه په شا کيدونکو کسانو تاسې] د هغې ښځې غوندې مکيږئ چې دې خپلې وړې ښه څرخ کړي، نو بيايې دا کلک تاوسوئ څرخ بيرته وسپاړه! [يعنی دا چې تاسې ای خلکو! په دغسې کار سره خپل قسمونه او لوړې] د يو بل غولولو لپاره کاروئ، او کله چې يو قوم [يعنی يؤ ډله او يو ګوند وو يئ] چې دوی د هغه چا نه [چې تاسې ورسره هوډ او ټرون کړئ دئ] ډير مال او دولت لري [او ګټه يې پکې ډيره وي، نو بيا خپل ټرون ماتوي او د پښو لاندې يې کوي، نو تاسې هغسې مکړئ] او يقينا چې الله تاسې په دغسې حکمونو باندې ازمايي [يعنی ای خلکو په هغو خبرو او کړنوکې چې تاسې] د يو بل سره په دنيا کې اختلاف درلود؛ هغه به الله د قيامت په ورځ تاسې ته روښانه کړي، يعنی حق او باطل به سره بيل کړي، او د قيامت په ورځ به ټول خلک پؤ سي چې د الله توحيدي عبادت او د اسلام پيغمبرﷺ حق ول، او کفر او شرك او د الله او پيغمبر نه منکر يدل باطل ول.

[٩٣] ای خلکو! او که الله غوښتي وای، نو تاسې ټول به يې يو امت ګرځولئ وی [يعنی په يؤ لارې روان کړي وی] خو الله چې څوک وغواړي د سمې لارې نه يې ورکوي او څوک چې وغواړي سمې لارې ته يې هدايت کوي [يعنی الله تعالی د خپل هغه علم او پوهې سره سم چې پر خپلو بنده ګانو باندې يې لري؛ ځيني په سمه لار روانوي او ځيني نور چې د هدايت وړتيا نه لري؛ هغوی د سمې لارې نه ورکوي] او ای خلکو! ستاسې ټولو نه به د هغو کړنو پوښتنه خاماخا کيږي چې په دنيا کې تاسې کړل! يعنی بيا به هرڅوک د خپل ځان لائق ثواب لاس ته راوړي، او يا به يې سزا ګالي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونوکې مونږ ته ډيرې ګټورې سپارښتنې کړې دي، او په ځانګړې ډول په عامو چاروکې چې پايلې

يې ټولنې پورې تړلي دي، نو د ولسونو استازو او سياسي ډلو او ګوندونو ته ښايي چې پرخپلو پر يکړو او پرخپلو هوکړو او تعهداتو باندې ښه کلک ودر يږي، او هغه مات نکړي او نه ورته په سپکه سترګه ګوري، ځکه چې د دوی د عهد شکنې پايلې ټولنه تباه کوي، لکه څنګه چې يې بيلګې په اوسنۍ نړۍ واړه ټولنه کې ښکاره دي.

{په دروغو لوړه لويه ګناه ده او دروغژن ته الله سزا ورکوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مومنان په دروغو سره د لوړو کړو نه کلک ګواښولي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ فَتَزِلَّ قَدَمُۢ بَعۡدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُواْ ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَكُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٩٤ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٩٥ مَا عِندَكُمۡ يَنفَدُۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٖۗ وَلَنَجۡزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓاْ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٦ مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٧﴾

[٩٤] ای مومنانو! خپلې لوړې او قسمونه د يو بل سره د غولولو پلمه مګرځوی، ځکه چې بيا به د ستاسي کلکې پښې وښو يږي او د هغو بدو کړنو سزا به وځکی چې نور خلک تاسي د الله لارې نه منعې کول، او بيا د قيامت په ورځ تاسي ته لوی عذاب دئ.

[٩٥] او ای مومنانو! خپل تعهد د الله سره په لږ بيعه مه خرڅوی، او که تاسي پوهيږي، نو هغه ثواب چې د الله سره دئ؛ هغه يقينا چې تاسي ته ښه غوره ثواب دئ، يعنی د الله تعالى ثواب هيڅ کله هم د دنيا ګټو سره مه برابروی.

[٩٦] او هغه څه چې د دنیا ګټونه ستاسې سره دي؛ هغه خلاصیږي، او هغه ثواب چې د الله سره دئ هغه پاتې دئ، او هغو کسانو چې صبر وکړه [یعنی پر خپلو تعهدونو او هوکړو باندې کلک ودر یدل] دوی ته به مونږ د دوی ثواب د دوی د کړونو نه ښه ډیر ورکړو.

[٩٧] او ای مومنانو! هر نارینه مومن او هره مومنه ښځه چې ښه وکړي، نو مونږ به دوی ته په دنیا کې خوږ ژوند ورکړو او د آخرت په ورځ به هم د دوی ثواب د دوی د ښو کړنو نه په دنیا کې ښه ډیر وي، یعنی مومنان د خپل ښه عمل ګټونه په دنیا او آخرت کې برخمن کیږي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې خپلو بنده ګانو ته ښې ډیرې ارزښتناکه او ګټورې لارښودنې کړي دي او دوی یې په خپل ځانګړي او په ټولینز ژوند کې ښو کړنو ته رابللي دي او د بدو کړنو نه یې کلک منعې کړي دي، او همدارنګه الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې خپل بنده ګان خپلو تعهداتو او هوکړو باندې وفاء کړو ته راغوښتي دي او د هوکړو ماتولو نه یې کلک ګواښلي دي، او د ایمان او د ښو کړنو پایلو ښه ز یرې یې په دنیا او آخرت کې ورکړي دي.

{د قران تلاوت په اعوذ بالله من الشیطان الرجیم پیل کیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته سپارښت کړئ دئ چې د رټل سوي شیطان د شر نه خپل ځان پر الله وسپاره، او فرمایلي دي:

﴿فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾ إِنَّهُۥ لَيْسَ لَهُۥ سُلْطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا سُلْطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشْرِكُونَ ﴿١٠٠﴾﴾

[٩٨] ای پیغمبر! نو کله چې تا قرآن لوست، نو د رټل سوي شیطان وسوسو نه ځان پر الله وسپاره، یعنی الله ته پناه یوسه او ورځخه مرسته وغواړه چې تا د شیطان شر نه په خیل فضل او رحمت سره وساتي، او

(اعوذ بالله من الشيطان الرجيم) ووايه، او دا حكم او دغه لارښودنه ټولو مومنانو ته ده، او ښايي د قرآن لوستل او تلاوت په اعوذ بالله من الشيطان الرجيم باندې پيل کړي، او معنايي د رټل سوي شيطان وسوسو نه پر الله تعالى باندې ځان سپارل دي.

[٩٩-١٠٠] او په دې کې شك نسته چې د شيطان زور پرهغو کسانو نه رسيږي چې دوی مومنان دي او پرخپل رب يې توکل او اعتماد کړئ دئ، بلکې د شيطان زور پرهغو کسانو باندې رسيږي چې دوی د شيطان ملګري دي، او هم د شيطان زور پرهغو کسان رسيږي چې دوی مشرکان دي، يعنى بتان الله تعالى سره په خدايي کې شر يکوي.

نو درندو دوستانو! دعاء کړو چې الله تعالى ده مونږ او ټول مومنان د شيطان ملګرتيا او زور ځواکې او د هغه خورو ورو لښکرو وسوسو او شر نه؛ په خپل فضل او رحمت سره وساتي او ثبات او استقامت ده الله تعالى د زمونږ په برخه کړي.

{ قرآن چې د الله خبرې دي جبرئيل پر پيغمبر ر انازل کړې دي }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د ځينې آيتونو د منسوخيدلو په باره کې د مشرکانو سپکې سپورې خبرې او دروغژن تورونه رد کړي دي، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مُفْتَرٍۭ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ١٠١ قُلْ نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ١٠٢ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٌ لِّسَانُ ٱلَّذِى يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِىٌّ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِىٌّ مُّبِينٌ ١٠٣ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَا يَهْدِيهِمُ ٱللَّهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ١٠٤ إِنَّمَا يَفْتَرِى ٱلْكَذِبَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ

ٱلۡكَٰذِبُونَ ١٠٥

[١٠١] [ای پیغمبره! د قرآن څومره آیتونه چې الله] رانازلوي؛ نسه ور باندې پوه دئ، او مونږ چې کله یو آیت د بل آیت پرځای بدل کړو، نو کافران تا ته وایي چې ته یقینا مفتري یې [یعنی دا آیتونه تا د خپل ځان نه الله پسې تپلي دي] خو د کافرانو نه ډیر کسان په هیڅ څه نه پوهیږي، یعنی د الله تعالی د شر یعت حکمونو نه خبر نه دي، نو د ځان نه دغسې سپکې سپورې خبرې کړي!

[١٠٢] او ته ای پیغمبره! دغو مشرکانو ته ووایه: دا قرآن روح القدس (جبرئیل الأمین) د ستا رب الله لخوا نه پرحق سره رانازل کړئ دئ، ترڅو د هغو کسانو زړونه ور باندې کلک او ډاډمن کړي چې ایمان یې راوړئ دي، او دا قرآن مسلمانانو ته ز یرئ ورکونکئ لارښود دئ، یعنی دوی ته په دنیا او په آخرت کې د بر یا او د نیکمرغۍ ز یرئ دئ او په سمه لار ورته د تک لارښودنه کړي.

[١٠٣] هو؛ ای پیغمبره! مونږ په یقین سره پوهیږو چې کافران وایي: قرآن محمد ته بل سړئ ورزده کوي [یعنی العیاذ بالله قرآن پرمحمدﷺ باندې د الله لخوا نه دئ رانازل سوئ، او یو رومئ معلم هغه ورزده کوي، خو دې ته د مشرکانو پام نه دئ] چې د هغه چا ژ به چې دوی قرآن هغه ته منسو بوي عجمي ده او قرآن په روښانه عربي ژ به را نازل سوئ کتاب دئ، یعنی نو څنګه ممکنه ده چې یؤ عجمي چې په عربي نه پوهیږي د عربي سړي معلم سي.

[١٠٤] او یقینا هغه کسان چې د الله کتاب پر آیتونو باندې ایمان نه راوړي او هغه نه مني؛ الله دوی حق ته نه هدایت کوي، او دوی ته دردونکئ عذاب او کلکه سزا ده، یعنی کافران د هدایت لائق نه دي او په آخرت کې دوی ته سبه کړونکئ عذاب دئ.

[١٠٥] او یقینا څوک چې دروغ وایي او افترا کړي؛ دوی هغه کسان دي چې د الله پرآیتونو باندې ایمان نه راوړي او دوی درغژن دي، یعنی رسول

اللهﷺ پسې په دروغو ناحقه افترا کړي او تورونه ور پورې لږوي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى د دغو مبارکو آيتونو په پيل کې د قرآن تلاوت او لوستلو په شروع او پيل کې د (اعوذ بالله من الشيطان الرجيم) سپارښت کړئ دئ، او بيايې د قرآن ځينې آيتونو منسوخيدو په باره کې چې هغه الله تعالى د خپل علم او حکمت سره سم ترسره کوي؛ د کافرانو تورونه او افتراکاني غندلې او کلکې ردې کړې دي، او رسول اللهﷺ ته يې داډ او اطمئنان ورکړئ دئ او تورن کونکي کافران يې په کلکو عذابونو او سزاګانوو باندې ګواښلي دي.

{ څوک چې مرتد سي د الله کلکې سزا مستحق ګرځي }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مرتدان په کلک عذاب او سزا باندې ګواښلي دي، او فرمايلى دى:

﴿مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرٗا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ١٠٦ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٠٧ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ١٠٨ لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٠٩ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا فُتِنُواْ ثُمَّ جَٰهَدُواْ وَصَبَرُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١١٠ يَوۡمَ تَأۡتِي كُلُّ نَفۡسٖ تُجَٰدِلُ عَن نَّفۡسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ١١١﴾

[١٠٦] هو! څوک چې د ايمان رواړونه وروسته بيرته پرالله کافر سه [يعنى د اسلام نه منکر سه او په شا واوښت] او زړه يې پر کفر ولږ يده او

په خوښۍ سره، نو پر دوې باندې د الله لخوا قهر او لوی عذاب دئ، او که کم مومن د کفر کلمې په و یلو مجبور سره، خو زړه یې مطمئن او ډاډه ؤ، یعنی نو پر هغه باندې ملامتي او څه ګناه نسته.

[١٠٧] [او مرتدان په دې سزاګانو څکه ګوابنل کیږي] چې دوی یقینا د دنیا ژوند د آخرت پر ژوند باندې خوښ که [نو دا ده د دوی سزا او بده راتلونکې] او یقینا چې الله کافرانو ته پر سمه لار د تګ توفیق نه ورکوي.

[١٠٨] هغوی [یعنی کافران هغه کسان دي] چې الله یې پر زړونو، غوږونو او پر سترګو باندې ټاپې وهلې دي [یعنی نه حق اوري او نه یې و یني او نه ور باندې پوهیږي] او دا کافران د الله نه بې پروا او غافل دي، یعنی الله یې په یاد نه دئ او نې پیژني!

[١٠٩] او یقیناچې کافران به د آخرت په ورځ خاماخا د ز یانمنو نه وي او کلک تاوان بې کړئ وي، یعنی په آخرت کې به دوی ته د بدو کړنو سزا ورکول کیږي او د دوزخ په اور کې به کړ یږي!

[١١٠] ای پیغمبره! او بیا د ستا رب یقینا پر هغو کسانو باندې ښه مهر بان دئ چې دوی د ډیرو زور یدلو او ازمایښتونو نه وروسته هجرت وکه او بیایې جهاد او صبر وکه، او الله د دوی ښه لوی بښونکئ څښتن دئ، یعنی دوی بښي او خپل رحمت ور باندې ووروي، څکه دوی په مکه کې ډیر وزورول سول او د کلک ازمایښت لاندې راغلل، نو بیا دوی د مکې نه یثرب ته (مدینې منورې ته) هجرت وکه او د کافرانو نه پټ په تیښته کډه سول او بیایې د الله په لار کې جهاد او مقاومت وکه او د کافرانو یرغلګرې لښکرې یې په بدر، احد، احزاب او په نورو ګنو غزاګانو کې د الله تعالی په مرسته او اسماني نصرت مات او یا پر شا وتنبول، او په دې لار کې یې کلک صبر وکه او ډیرې ستونزې یې وګالې، نو بیا الله تعالی دوی و بښل او خپل رحمت یې ور باندې را ووړا ؤ، او په دې اوږده مزله کې د دوی د تیروتنو نه الله تعالی تیر سه او هغه یې ورته و بښلې، څکه الله لوی بښونکئ او ښه پالونکئ څښتن دئ.

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې لمړۍ د اسلام نه وتلې مرتد کسان غندلي دي او په سخته سزاګانوې ګواښلي دي، ځکه دوی د دنيا ګټونه د خوند اخستلو لپاره خپل دين پر يږدي او ورځخه وځي، نو بيا الله تعالى د مرتدينو زوړونه، غوږونه او سترګې داسې ټاپه کوي چې نور د حق لارى نه همداسې غافل او بې پروا سي او د آخرت په ورځ د لو يو ز يانمنو په قطار او ليکه کې حشر سي، او بيا الله تعالى هغو مومنانو ته ډاډ او اطمئنان ورکړۍ دئ چې د هغوى د خولونه د کافرانو ظلمونو او زور واکۍ پر وړلاندي د کفر کلمه ووتله، خو دوى په خپلو زړونو کې مطمئن ول، او د کافرانو نه يې هجرت وکه او بيايې د الله په لار کې جهاد وکه، نو يقينا چې الله پر دوى ښه مهر بان او بښونکئ دئ.

او په ور پسې مبارك آيت کى الله تعالى د قيامت ورځې لنډ انځور يا تصو ير مونږ ته وړلاندې کړئ دئ، او فرمايلى دي:

[١١١] [اى پيغمبره! او امت ته ده د قيامت هغه ورځ ور په ياد کړه] کله چې په هغه ورځ هر څوک راځي او يوازې د خپل ځان نه دفاع کړي، يعنى د خپلو تيروتنو عذرو نه او پلمې وړلاندې کوي] او په هغه ورځ هر چا ته د خپل عمل ثواب او سزا ورکول کيږي، او پر دوى ظلم او تيرئ نکيږي، يعنى د قيامت په ورځ الهي عدالت چليږي او هر چا ته خپله برخه ثواب او سزا ورکول کيږي؛ پرته لدې چې پر چا ظلم او تيرئ وسي او حق يې د پښو لاندې او ضائع سي.

{نعمت په شکر و يستلو ډير يږي او په ناشکرى ورکيږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د يوې بيلګې په يادولو سره خلک د الله خورو ورو نعمتونو شکر و يستلو ته رابللي دي او د دغو نعمتونو کفران نه يې کلک ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ ءَامِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَاقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلْجُوعِ

وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ١١٢ وَلَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡهُمۡ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَهُمۡ ظَٰلِمُونَ ١١٣﴾

[١١٢] او د هغه کلي مثال او بيلګه الله خلکو ته ور په ياد کړه، کله چې د دې کلي خلکو په پوره امنيت او ډاډ کې ژوند کا ؤ او ښــه پر يمانه روزي د هري خوا نـه ورتـه راتلـه، نو بيـا د دې کلي خلکو د اللـه نعمتونو کفران وکه [يعنی ورځخه منکر سـول او بتان يې د الله سـره په خدايي کې شـر يك کړل] نو بيا الله دوی ته د دوی د بدو کړنو په سزا کې د ولږې او د و يرې جامه ورواغوسته، يعنی د دوی د شرك او کفر په سزا کې يې مړښت په ولږه او ډاډ يې په و يره بدل سه.

[١١٣] او يقينا چې بيا د همدې مکې خلکو ته د دوی د منځ نه پيغمبر راغئ، خو دوی هغه دروغژن و بالـه، نو بيا دوی سـخت عذاب راونيول، ځکه دوی ظالمان ول، يعنی په شرك او کفر سره يې پرخپلو ځانو باندې ظلم او کلک تيرئ کړئ ؤ.

عزتمنو دوسـتانو! د دې کلئ نه مقصـد همدا د مکې اوسـيدونکي ول چې د دغســې لـوی ازمـايښـــت ســره مخـامخ ســول، ځکـه دوی د ابراهيم عليه السلام توحيد لارې نه واوښـتل او مشـرکان سـول او د بتانو عبادت يې د بيت الله شـر يف په لمن کې وکه، نو بيا الله تعالی دوی ته کلکه سـزا ورکړه او د خپل لوی رحمت نـه يې وشـــړل او ورځخـه يې محروم کړل، نو يقيناچې دا ټولو خلکو ته ښکاره ګوابښ دئ.

{حلال او حرام د الله حکمونه دي بل څوک پکې حق نه لري}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی مومنانو ته په خوړوکې حلال او حرام په لنډ ډول بيان کړي دي او دوی يې الله پســې د افترا نه کلک ګوابښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿فَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَٱشۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ١١٤ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ

ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١١٥ وَلَا تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلۡسِنَتُكُمُ ٱلۡكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٞ وَهَٰذَا حَرَامٞ لِّتَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُونَ ١١٦ مَتَٰعٞ قَلِيلٞ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١١٧ وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا مَا قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُۖ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ١١٨ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١١٩

[١١٤] [نو ای مومنانو! که تاسې یوازې د الله عبادت کړی، یعنی په خپل ایمان کې مخلص یاستی] نو بیا د هغې روزی نه چې الله درکړې ده؛ حلاله او پاکه روزي وخوری او د الله خوروړو نعمتونو شکر و باسی.

[١١٥] او ای مومنانو! یقینا چې الله پرتاسې باندې؛ یوازې په خپل مرګ مړو سوو څارو یو غوښه او د څارو یو شا رګونو نه را وتلې اینه او د خوک غوښه حرامه کړې ده، او هم پرتاسې باندې الله د هغو حلالو حیواناتو یا څارو یو غوښه حرامه کړې ده چې د حلالولو په وخت کې د الله نوم نه پرته د بل چا نوم ور باندې و یل سوي وي، خو که یو څوک د دغو حرامو غوښو خوړلو ته اړ او کلک محتاج سه او بیایې دغه غوښه د ضرورت اندازې نه په نه تیریدو سره وخوړه[یعنی یوازې د خپل ضروت په اندازه یې وخوړه] نو یقینا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ، یعنی د دغې حرامې غوښې خوړل ورته د ضرورت له کبله او د ضرورت په اندازه بښي، ترڅو د ولږې نه مړ نسي!

[١١٦] او ای مومنانو! هغه څه ته چې تاسې د ژبې پر دروغو سره وایي: دا حلال دئ او هغه حرام دئ؛ دغسې مه وایي [ترڅو په دغسې و یناوو سره] الله پسې تاسې دروغ ونه تړی! [یعنی د حلال او حرام نسبت الله ته په بې علمی سره مکړی] او یقینا هغه کسان چې الله پسې دروغ وایي او افترا ور پسې کړي؛ دوی نه بر یالي کیږي، یعنی نه بریادیږي.

[١١٧] [او ای مومنانو! په دې پوه سې] چې د دنیا نه د خوند اخستلو وخت ډیر لږ دئ او دروغژنو کسانو ته سخت عذاب تیار سوئ دئ.

[١١٨] ای پیغمبره! [او لکه څنګه چې پرمومنانو باندې مونږ دا پورته یاد سوي خواړه حرام کړل، نو همداسې] پر یهودو باندې هم هغه خواړه مونږ حرام کړل چې هغه مخکې مونږ تا ته[ای پیغمبره!] یاد او بیان کړل [یعنی د الانعام سورې په (١٤٨) آیت کې الله تعالی فرمایلي دي: د هر نوک لرونکي څاروي غوښه او د غوا‌ږ یو او میږو هغه وازده چې د اډوکو سره نه وي نښتې؛ هغه مونږ پر یهودو حرام کړل] اود دغو خوړو په حرامولو سره مونږ پر یهود باندې ظلم نه دئ کړئ، خو دوی په کفر سره پرخپلو ځانو باندې ظلم وکه، نو محروم سول او سزا ورکړه سؤ.

درند ودوستانو! الله تعالی مونږ ته د حلالو خوړو نه ښه ډیره حلاله روزي راکړي ده او ډیر لږ خواړه یې پرمونږ حرام کړي دي، نو ښایي چې د الله تعالی پرحکمونو باندې په حلالو او حرامو کې کلک ودر یږو او د خپل ځان نه د حلالو او حرامو نسبت الله ته ونکړو او په ناحقه او دروغژنو خبرو او و یناو سره؛ خپل ځانونه ګناه ګار نکړو او د الله تعالی شر یعت پر پولو باندې په حلالو او حرامو کې؛ هیڅ ډول تیرئ ونکړو.

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارك آیت کې ټولو خلکو ته اعلان کړئ دئ چې د توبې و یستلو ورونه او دروازې خلاصې دي او کافرانو او ګناه ګارانو ته الله د خپل لوی رحمت او د ښې ښښې ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

[١١٩] ای پیغمبره! او د ستا رب الله پر هغو کسانو باندې چې دوی په ناپوهۍ سره بد او ګناه وکړه، خو بیایې وروسته د ګناه نه تو به وایستله او اصلاح سول، نو یقینا چې د ستا رب ای پیغمبره! د بنده ګانو د توبې و یستلو نه وروسته لوی ښښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

ګرانو دوستانو! دا مبارك آیت ټولو هغو ګناه ګارانو ته چې په ناپوهي سره یې ګناه کړې وي، خو بیا پښیمانه سوي وي او په اخلاص سره یې

تو به و يستلې وي؛ د بښنې او مغفرت لوی ز يرئ دئ، نو ښايي چې هر ناپوه ګناه ګار بنده د خپل ځان سره ښه حساب وکړي او بيا ډير ژر تو به و باسي، ترڅو دئ الله و بښي او خپل لوی رحمت ور باندې راکوز کړي.

{ابراهيم عليه السلام د الله سم دين مخکښ امام د مشرکانو نه نه ؤ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د کافرانو هغه بې بنسټه و يناوې ردې کړې دي چې دوی به ځانونه د ابرهيم عليه السلام ملت پيروان بلل، لکه څنګه چې يهودو او نصاراوو هم مخکې دغسې دعوا کړه، او همدارنګه الله تعالى د ابراهيم عليه السلام پيغمبرۍ ځلانده ځيره مونږ ته ښه روښانه باده کړې او راپيژندلې ده، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةٗ قَانِتٗا لِّلَّهِ حَنِيفٗا وَلَمۡ يَكُ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٢٠ شَاكِرٗا لِّأَنۡعُمِهِۚ ٱجۡتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٢١ وَءَاتَيۡنَٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٢٢ ثُمَّ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ أَنِ ٱتَّبِعۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٢٣﴾

[١٢٠] [هو؛ ای پيغمبره!] يقينا چې ابراهيم الله ته غاړه ايښودونکئ مخکښ امام ؤ [يعنى د الله حکمونو ته تسليم سوي] او حق ته يې مخ اړولئ ؤ او د مشرکانو نه نۀ، يعنى يوازې د الله عبادت او بنده ګى ته رابلونکئ لارښود پيغمبر ؤ.

[١٢١] او ابراهيم د الله نعمتونو شکر و يستونکئ ؤ، او دئ الله خپلې پيغمبرې ته غوره که او سمې لارې ته يې هدايت که.

[١٢٢] او ابراهيم ته مونږ په دنيا کې ښه د ستاينې لوړ مقام ورکه [يعنى ابراهيم په توحيد کې ټولو پيغمبرانو ته لارښود ؤ] او يقينا چې په آخرت کې به ابراهيم د صالحانو سره په لوړ مقام کې ولاړ وي.

[١٢٣] او بيا تا ته ای پيغمبره! مونږ وحيه وکړه چې د ابراهيم دين پسې چې[هغه د شرك نه اسلام ته را اوښتل ؤ] اقتدا وکړه [يعنى د ابراهيم عليه السلام پر سمه لار لاړ سه او د سمې لارې نه بلې خوا ته مه اوړه] او

ابراهيم د مشـــرکانونه نۀ، يعنی ابراهيم عليه السلام د الله تعالی بنده کی توحيد غږ په مکه معظمه کې د بيت الله شـــر يف ودانولو نه وروســـته؛ ټولو خلکوته ورســـا ۀ او د الله کوربې طواف کونکو، اعتکاف کونکو او لمونځ کونکو ته پاک او تيار که او د بيت الله ودانی لوړ مقام يې وګاټه.

قـدرمنو عز يزانو! د الله تعالی دا حکم رســـول الله صلی الله عليه وسلم تـه د مکې مشـــرکانو هغه شـــرکي عقيده کلکه ردوي چې دوی دا مبارکه کعبه او د ابراهيم عليه السلام په لاس ودان سوئ کور د بتانو نه ډک کړي ۀ او دا بتان به يې د الله سـره په خدايي کې [العياذ بالله] شـر يکول او داسې يي انکيرله چې دوی ابراهيم عليه السلام پسې روان دي، حال دا چې ابراهيم يوازي د الله عبادت کا ۀ او بوت شکن ۀ؛ نه د بتانو عبادت کونکئ.

{ د يهودو او نصاراوو اختلاف به الله په قيامت کې حل کړي }

او بيا الله تعالی په ور پســـې مبارك آيت کې د يهودو او نصـــاراوو هغه افترا رده کړې ده چې دوی به و يل: يهودو خالي يا د هفتې ورځ او نصـاراوو د يکشـــنبې ورځ په دی خاطر خپلو ځانو ته اختر ګرځولئ دئ او پکې د الله عبادت کړي چې هغه دوی ته د ابراهيم نه راپاتې دين دئ، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبۡتُ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١٢٤﴾

[١٢٤] د هفتې يا خالي ورځې [تعظيم او پالنه] هغو کسانو ته [مقدسه ورځ وګرځول سـؤ] چې دوی پکې اختلاف وکه [يعنی يهودو او نصارا په دې ورځ کې د يو بل سره اختلاف وکه او سره بيل سـول، نو بيا يهودو د هفتې ورځ او نصـاراوو د يکشـنبې ورځ خوښـه کړه، او د جمعې ورځ چې پکې الله تعالی ټول عالم پيدا کړئ دئ؛ هغه الله تعالی مسـلمانانو ته غوره کړه، او بيا به د قيامت په ورځ د يهودو او نصـاراوو په منځ کې په هغو مسـئلو کې] چې دوی پکې د يو بل نه بيل سـول او اختلاف يې وکه؛ د سـتا رب الله ای پيغمبره! يقيني حکم وکړي، يعنی هر چا ته به د هغه لائق ثواب او ســـزا

ورکړي، ځکه د قیامت ورځ د ثواب او سزا ورکولو ورځ ده.

{الله دین ته دعوت د حکمت نه ډکې خوږې خبرې غواړي}

او بیا د النحل مبارکې سورې په وروستیو مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته الله تعالی د دعوت لارې څرنګوالي په اړوند چې ښایي خلک څنګه د الله دین اسلام ته راو بولي او څنګه ورسره وچلیږي؟ ښې ډیرې اړینې او ارزښتناکه لارښودنې او سپارښتنې کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ١٢٥ وَإِنۡ عَاقَبۡتُمۡ فَعَاقِبُواْ بِمِثۡلِ مَا عُوقِبۡتُم بِهِۦۖ وَلَئِن صَبَرۡتُمۡ لَهُوَ خَيۡرٞ لِّلصَّٰبِرِينَ ١٢٦ وَٱصۡبِرۡ وَمَا صَبۡرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُ فِي ضَيۡقٖ مِّمَّا يَمۡكُرُونَ ١٢٧ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ ١٢٨﴾

[۱۲۵] ای پیغمبره! او د خپل رب الله لارې ته په حکمت [یعنی په لوی تدبیر] او په خوږو خبرو او په وعظ او نصیحت سره خلک راو بوله [یعنی د الله تعالی ثوابونو ز یري ورکړه او د سزا نه یې کلک وو یرؤ] او په ښه خوږه ژ به ورسره استدلال او مرکه وکړه، او یقینا چې د ستا رب ای پیغمبره! د الله لارې نه ورک سوو خلکو باندې ښه پوه دئ او ښه یې پیژني، او سې لارې ته هدایت سوو کسانو باندې هم الله ښه پوه دئ، یعنی دوی ښه پیژني، نو ته ای پیغمبره! دوی ته په ښه او سمه طریقه چې هغه په قرآن کې او د ستا په سنتو او سیرت کې بیان سوي ده؛ بلنه ورکړه.

ګرانو دعاتو او حق ته رابلونکو دوستانو! دا مبارک آیت چې پکې الله تعالی پیغمبر ﷺ ته د دعوت او اسلام ته د را بلنې اصول او لوی بنسټونه او اساسات بیان کړي دي؛ هغه ټولو دعوت کونکو لپاره ښه ځلانده کړن لاره ده، نو ښایي چې ور باندې عمل وکړي او په پاخه حکمت او پوره

هوښیارۍ او تدبیر سره او په خواږه وعظ او نصیحت سره او په ښه غوره استدلال او قوي منطق سره؛ خلک د الله دین ته راو بولي، او د اسلام مقدس دین ګټې په دنیا او آخرت کې دوی ته وړاندې او بیان کړي، او دې مبارك آیت ته ورته نورو آیتونو باندې چې په وار وارسره په قرآن مجید کې راغلي دي؛ عمل وکړي او د رسول الله ﷺ عملي او قولي لارښودنې او سپارښتنې د دعوت په ډګر کې ځان ته چراغ وګرځوي او په رڼا کې یې د اسلام حق دین چې د بشر یت نیکمرغۍ ضامن دئ خور کړي.

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې همداسې رسول الله ﷺ ته ډیرې ارزښتناکه لارښودني او ګټورې سپارښتنې کړي، او فرمایلي دي:

[١٢٦] ای مومنانو! [او که چیرې پر تاسې باندې چا تیرئ وکه] او بیا تاسې وغوښتل چې هغه ته سزا ورکړئ، نو د هغه تیري ته ورته سزا ورکړئ [یعنی په قصاص کې تیرئ مکړئ] خو که تاسې صبر وکه [او قصاص مو وانخست] نو دا درته په دنیا او آخرت کې؛ ډیره ښه ده، یعنی تاسې ته به الله تعالی په دنیا کې بر یا او عزت درکړي او په آخرت کې به لوی ثواب چې جنت دئ وګټئ.

[١٢٧] ای پیغمبره! او د کافرانو د زورونو پروړاندې صبر وکړه [یعنی هغه وزغمه] او د ستا صبر پر الله باندې دئ [یعنی الله به تا ته ای پیغمبره! د صبر او زغم توفیق او ثواب درکړي] او د ستانه د کافرانو پر مخ اړونه مه غمجن کیږه او د دوی په مکرونو او چلونو خپل زړه مه په تنګۍ، یعنی کافران پر الله تعالی باندې وسپاره او الله به دوی ته کلکه سزا ورکړي چې هغه په دوزخ کې کړ یدل دي!

[١٢٨] ځکه یقینا چې الله د هغو کسانو مل او مرستندوی دئ چې دوی متقیان دي او د ښو کړنو کړونکي دي، یعني یقینا چې رسول الله ﷺ د متقیانو او د ښو کړنو خاوندانو مخکښ امام ؤ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې لمړي په قصاص اخستلو او انتقام کې؛ عدالت او برابرۍ ته بلنه ورکړی ده او مومنان یې

عفوې او ښښې ته هڅولي دي، ځکه ښښه او دښمن ته د الله رضا لپاره عفوه کړل يقيناچې ډير لوی ثواب لري او پايلې يې په دينا او آخرت کی ډيرې ښې وي، او په ځانګړي ډول که دا قصاص د مسلمانان په منځ کې په شخصي دښمنيو کې وي، نو هر څوک چې خپل دښمن ته عفوه وکړي او قصاص وانخلي او صبر وکړي؛ الله تعالی ورته لوی ثواب ورکوي، او بيا الله رسول اللهﷺ ته د صبر او زغم سپارښت کړئ دئ او ز يرئ يې ورکړئ دئ چې الله تعالی د متقيانو او د ښو کړنو خاوندانو مل دئ، او د دوی مرسته کړي، نو څوک چې ورسره دښمني کړي الله به هغه خامخا خواروي او مختورن برخليک بې په برخه کيږي.

هو! عزتمنو دوستانو! دا خبره هم دلته د پام وړ ده چې ډير مفسر ين وايي: دا مبارک آيتونه د احد غزا نه وروسته په مدينه منوره کې رانازل سوي دي او رسول اللهﷺ ته په صبر او عفوې توصيه سوې ده، او ز يرئ ورکړل سوئ دئ چې الله د متقيانو مل دئ او رسول اللهﷺ د متقيانو مخکښ امام دئ.

قدرمنو دعاتو او علماوو! او همدارنګه دا وړلاندې ياد سوي ز يري او ټولې سپارښتنې تاسې ته چې د الله لارې دعات ياستی؛ د پام وړ ډير ښه ګټور ز يري او سپارښتنې دي، نو ښايي چې تاسې د خپل دعوت په لار کې؛ هغه ځان ته څراغ وکړځوي او په رښا کې يې د الله دين خلکو ته ورسوی، او دوی ته يې ورزده کړي او دوی ور باندې ښه په اخلاص سره وروزی.

والحمدلله الذي بنعمته تتم الصالحات، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين الذي بلغ الرسالة وأدى الأمانة ونصح الأمة وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الإسراء سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{اسراء او معراج د رسول الله ﷺ پیغمبرۍ لو ی پیغام ؤ}

الحمد لله الذي أسرى بعبده(محمد رسول الله ﷺ) ليلا من المسجد الحرام إلى المسجد الأقصا الذي باركنا حوله لنريه من آياتنا إنه هو السميع العليم، و بعد: د الإسراء مباركه سوره مکې سوره ده، او پکې الله تعالى خپل بنده او پیغمبر محمد ﷺ ته د اسراء او معراج د لوي پیغام ورکولو بیان کړي دئ، او دا سوره څه لږ یا ډیر یو کال مخکې د هجرت نه پر رسول الله ﷺ باندې په مکه معظمه کې رانازله سوې ده، او یو لوی مقصدیې رسول الله ﷺ ته د اوږدو کلونو ستونزو او د خپل مشرك قوم قر یشو په لاس د زورلو نه وروسته؛ د بر یا ز یرئ او ډاډ ؤ، او بیا الله تعالى مونږ ته په دې مبارکه سوره کې د توحید او ایمان ډیرې مسئلې او نور ښه ډیر شرعي حکمونه او اخلاقي آداب بیان کړي دي، او د رسول الله ﷺ اسراء او معراج باندې، ځکه ټینګار سوئ دئ چې دا مسئله د ایمان او د عقیدې ډیرو مهمو مسئلو نه یؤ مسئله ده او ایمان راوړل او باور کړل ور باندې فرض دي، او د دې مبارکې سورې په پیل کې الله تعالى رسول الله ﷺ ته او د هغه امت ته د اسراء دا لوي پیغام د زړه په ستړکو لیدلې رؤ یا پیغام یاد کړئ او بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١﴾

[١] هو! پاک دئ هغه څوک [یعني هغه لوی ذات الله جل جلاله] چې خپل بنده (محمد ﷺ) یې په شپه کې د مسجد الحرام نه [په مکه معظمه

کې] د اقصا مسجد ته [چې هغه ډیر لرې د شام بیت المقدس په ښار کې پروت دئ] بوته، او مونږ د اقصا مسجد پرشا وخوا څیرمو کې برکتونه اچولي دي، ترڅو محمد ته مونږ د خپلو قدرتونو ځینې نښانې ور وو ینو، او یقینا چې الله ښه اور یدونکئ او ژور لیدونکئ ذات دئ، یعنی هرڅه اوري او هرڅه و یني او هیڅ څه شئ د الله نه پټ نه دي، نو ځکه الله تعالی بیا د قیامت په ورځ هر چا سره د هغه لائق چلند کړي او ثواب او سزاء ورکوي، مومنان جنتونو ته ورننه باسي او کافران د دوزخ په انګارکې کړوي.

درندو دوستانو! د یادونې وړ ده چې د رسول اللهﷺ حسي یا روحي بیول په یؤ شپه کې د مکې نه بیت المقدس ته چې هغه د څلو یښت شپو مزل دئ، او بیاپې معراج ته په اسمان کې پورته کول او جګول، او بیاپې په همدې شپه بیرته مکې ته راستنول؛ دا ټول د رسول اللهﷺ پیغمبرۍ د تصدیق لوی پیغام او معجزه ؤ، نو ځکه د تفسیر ډیر علماء او څیړونکي پوهان وایې چې د اسراء او معراج مزل د رسول اللهﷺ پر روح او جسد دواړو ترسره سوئ دئ، یعنی هغه یوازې روحي سفر نه ؤ، لکه څنګه چې د مومنانو نه ځینو ضعیف الایمانو کسانو د مشرکانو غوندې پر هغه باندې باور ونکه او د اسلام نه بیرته ووښتل او مرتدان سول، خو لوی مومن ابو بکرصدیقرضی الله عنه چې کله خبر سه پرته د کمې پوښتنې پې ور باندې باور وکه او د رسول اللهﷺ د اسراء او معراج خبرې تصدیق که، نو ځکه پې د صدیق لقب وګاټه، خو د دې سره سره ځینې نور مفسر ین بیا د الاسراء سورې د (٥٩ _ ٦٠ _ ٩٣) آیتونو تفسیر په رنا کې او ځینو متعارضو روایتونو ته په کتنې سره د اسراء او معراج سفر جسماني نه، بلکې یوازې روحاني رؤ یا بولي، او د دغو مفسر ینو نه؛ ځینې پښتنو مفسر ینو هم په خپل تفسیرونو او په نورو اړوند کتابونو کې دا مسئله ډیره اوږه څیړې ده او ښه روښانه پې بیان کړې ده، خو لکه څنګه چې وړاندې یادونه وسؤ؛ پخواني او ځینې معاصر مفسر ین بیا وایي چې د اسراء او معراج مزل حسي ؤ، ځکه د اسراء او معراج نه مقصد د

پیغمبرﷺ نبوت ثبوت او تصدیق ؤ، نه رسول اللهﷺ ته یوازې ز یرئ او پر خپل رسالت باندې د زړه ډاډ او اطمئنان.

{موسیعليه السلام ته الله لارښود کتاب تورات ورکه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی پر بني اسرائیلو باندې د خپلو لو یو پیرزو ینو یادونه کړې ده او دوی یې د الله تعالی حکمونو د سرکښۍ نه کلک ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَٰهُ هُدٗى لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُواْ مِن دُونِي وَكِيلٗا ٢ ذُرِّيَّةَ مَنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٍۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا ٣ وَقَضَيۡنَآ إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ لَتُفۡسِدُنَّ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَّتَيۡنِ وَلَتَعۡلُنَّ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ٤ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثۡنَا عَلَيۡكُمۡ عِبَادٗا لَّنَآ أُوْلِي بَأۡسٖ شَدِيدٖ فَجَاسُواْ خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِۚ وَكَانَ وَعۡدٗا مَّفۡعُولٗا ٥ ثُمَّ رَدَدۡنَا لَكُمُ ٱلۡكَرَّةَ عَلَيۡهِمۡ وَأَمۡدَدۡنَٰكُم بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ أَكۡثَرَ نَفِيرًا ٦ إِنۡ أَحۡسَنتُمۡ أَحۡسَنتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡۖ وَإِنۡ أَسَأۡتُمۡ فَلَهَاۚ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ لِيَسُٓـُٔواْ وُجُوهَكُمۡ وَلِيَدۡخُلُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَلِيُتَبِّرُواْ مَا عَلَوۡاْ تَتۡبِيرًا ٧ عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يَرۡحَمَكُمۡۚ وَإِنۡ عُدتُّمۡ عُدۡنَاۘ وَجَعَلۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ حَصِيرًا ٨﴾

[۲] [ای خلکو! لکه څنګه چې مونږ خپل پیغمبر محمد ﷺ د اسراء او معراج په لوی مقام ونا زا ؤ همداسې] موسی ته مونږ د تورات کتاب ورکه او دئ مونږ بني اسرائیلو ته لارښود وګرځا ؤ، ترڅو تاسې ای خلکو! د زما نه پرته بل څوک خپل ملګرئ او معبود ونه نیسی، یعنی خپل واک بتانو ته ونه سپاری!

[۳] او ای د هغه چا کهوله چې دوی مونږ د نوح سره په بیړۍ کې سپاره کړل [ترڅو په طوفان کې د ډو بیدو نه خوندي پاتې سي، نو تاسي د دی

لوی نعمت شکر و باسی او یوازې د الله عبادت او بنده کې وکړی او نوح عليه السلام پسې لاړ سی، ځکه] یقینا چې نوح شکر و یستونکئ او مننوکئ بنده ؤ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې لمړئ د اسراء او معراج معجزه بیان کړې ده او رسول الله ﷺ پې پرې نازولئ دئ او ډاډ پې ورکړئ دئ، او همدارنګه پې ور باندې پر موسی عليه السلام باندې د تورات رانازلیدلو ته اشاره کړ ده چې یقینا تورات بني اسرائیلو ته لارښود کتاب او د ژوندانه دستور ؤ، او په دې ډول الله تعالی مکه مکرمه چې قرآن پکې پر محمد رسول الله ﷺ رانازل سوئ دئ؛ د شام بیت المقدس ښار سره تړلې ده، ځکه بیت المقدس د بني اسرائیلو پیغمبرانو کور به ؤ، او د دوی نه پې دلته یوازې د موسی عليه السلام چې تورات ور باندې بني اسرائیلو ته لارښود رانازل سوئ ؤ؛ یادونه کړې ده، ترڅو ټول خلک او په ځانګړې ډول د مکې مشرکان د الله نه پرته بل څوک ځان ته معبودان ونه نیسي او هغه څه چې د الله واک او حق دئ بتانو ته پې ورنکړي او د بتانو نه، لکه دا چې دوی خدایان دي؛ څه شئ ونه غواړي!

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې بیا الله تعالی د بني اسرائیلو د فساد او د الله اطاعت او بنده ګۍ نه د سرغړونې درې پرا وه یاد کړي دي، او بیایې دوی ته د سختې سزا ورکولو ګواښ کړئ دئ، او په بیان کې فرمایلي دي:

[٤] بني اسرائیلو ته په تورات کې مونږ حکم وکه [یعنی دوی مونږ د خپلې تقدیري پر یکړې نه خبر کړل] چې تاسې به ای بني اسرائیلو! دوه ځله په ځمه کې ورانئ کړئ او د کبر نه ډکه لو یتیا به پکې کړئ، یعنی د الله تعالی پیغمبرانو باندې به تیرئ کړئ او دوی به وژنئ!

[٥] ای بني اسرائیلو! او کله چې د ستاسې لمړي بغاوت وخت راغئ [یعنی تاسې ظلمونه وکړل او د الله تعالی حکمونه مو د پښو لاندې کړل او د موسی عليه السلام دین مو تحریف که] نو بیا تاسې ته مونږ خپل زورور بنده

ګان را ولیږل[یعنی دا زورو بنده ګان مونږ پر تاسې باندې واکمن مسلط کړل] او د ستاسې کورونه یې په کلي کې ښه ولټول [یعنی چې یې کړل او تاسې یې مړه کړی او د زورواکۍ نه یې راوغورځولی] او دا هغه وعده وه چې خامخا کیدونکې وه، یعنی یهودو په خپل لاس ځان ته د تباهۍ او سزا ورکولو اسباب او پلمې برابرې کړې، نو بیا د الله عذاب پر دوی باندې راکوز او راپر یوت!

هو! روایت سوئ دئ چې دا زورور لښکر د بابل مجوسانو نه د بخت نصر په مشري راغلئ لښکر ؤ او بني اسرائیل یې کلک وځپل او د دوی ځواکمنه او کبرجنه واکمني یې ړنګه کړه.

[٦] او ای بني اسرائیلو! د دې نه وروسته بیا مونږ تاسې ته وار درکه او پر دښمن باندې تاسې مونږ زورور کړی، او ډیر مال، دولت او زامن مونږ درکړل او د ستاسې لښکرې مونږ ډیرې کړې.

ګرانو دوستانو! د یهودو بر یا په باره کې روایت سوئ دئ چې د دې نصرت او بر یا نه مقصد او مراد د داوودعليه السلام واکمني ده چې د جالوت پاچا لښکریې مات که او دئ یې مړکه او د بني اسرائیلو واکمني یې بیرته لاس ته راوړه، او د داوودعليه السلام بر یا قصه مخکې د البقرې سورې په (٢٤٦-٢٥٢) آیتونو کې تیره سوه.

او همدارنګه یهود پر عیسیعليه السلام باندې کافران سول او د وژلو ناکامه هڅه یې وکړه، خو الله تعالی بیا عیسیعليه السلام اسمان ته پورته که او د یهودو شر نه یې نجات بیاموند.

ګرانو عز یزانو! په ور پسې مبارکو آیتونو کې پر بني اسرائیلو باندې الله تعالی غږ کړي دئ او فرمایلي دي:

[٧] ای بني اسرائیلو! او که چیرې تاسې ښه وکړل [یعنی خپل ځانونه مو اصلاح کړل او پر سمه لار چې د الله تعالی د عبادت او اطاعت لار ده لاړی] نو تاسې خپلو ځانو سره ښه کړي دي، او که چیرې تاسې بد وکړل، نو د خپلو ځانو سره مو بد کړي دي [یعنی نو د خپلو بدو سزا ګالی] او که

بيا ای بني اسرائيلو! د ستاسې پاچايي وروستي وراني وخت راغئ [يعنی د در يم ځل لپاره د الله اطاعت نه ووتلی، نو بيا به دښمنان در باندې مسلط او واکمن کړم] ترڅو د ستاسې مخونه تور کړي [يعنی تاسې خوار او سپک کړي] او د الاقصی مسجد ته به داسې درننوځي، لکه مخکې چې درننوتي ول، او د ستاسې برجونه او مانې به ړنګ کړي.

[٨] ای بني اسرائيلو! [او که تاسې تو به و باسی او ځانونه اصلاح کړی] نو کيدای سي چې د ستاسې لوی څښتن الله در باندې ورحميږي [يعنی د تيرو ګناهوونو نه مو تير سي] خو که بيا بيرته خپلې سرکښی ته وروګرځيدلی، نو بيا مونږ هم بيرته درګرځو [يعنی سزا درکوو] او دوزخ مونږ کافرانو ته جيل (زندان) ګرځولئ دئ، يعنی کله چې کافران پکې واچول سي، نو بيرته ورڅخه راوتلای نسي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې مونږ ته د بني اسرائيلو تور تار يخ چې د ظلمونو، سرکښيو او د کفر نه ډک دئ؛ ياد کړئ او بيان کړئ دئ، او دوی يې د لا ډير بغاوت او سرغړونو نه کلک ګواښلي دي، خو بني اسرائيلو د الله تعالی ګواښونه په پام کې ونه نيول او د اسلام پر وړاندې يې د ډول ډول چلونو او توطئيو نه کار واخست او د خاتم النبيين والمرسلين محمد ﷺ او د هغه امت مومنانو سره يې کلکه دښمني وکړه، نو بيا الله تعالی دوی ته کلکه سزا ورکړه او د مدينې منورې او خيبر نه وشړل سول، او الله تعالی ظالمانو او هوډ ماتونکو کسانو ته تل کلکه سزا ورکوي، او هغه ورځ بيا هم ان شاء الله راتلونکې ده چې الله تعالی مومنان پر خپل دين کلک کړي او د اقصا مسجد يهودو ښکيلاک نه بيرته خلاص کړي او د توحيد کلمه يې په سر ور پوي او بيا به د نړۍ ټول مومنان د اقصا په مسجد کې لمونځونه وکړي.

او همدارنګه دا خبره د پام ور ده چې دا مبارك آيتونه ټولو مومنانو ته کلک ګواښ دئ، نو ښايي ځانونه د ګناه کړو او د فساد نه کلک وساتي، او ښايي هر څوک د بني اسرائيلونه پند واخلي او خپل ځان اصلاح کړی، لکه څنګه چې کله مسلمانانو د امير المومنين عمر بن خطاب رضي الله

عنه په خلافت کې بيت المقدس فتحه کړه او د اسلام واک لاندې يې راوست او امير المومنين خپلو فاتحو لښکرو ته په ليکل سوی پيغام کې وصيت او سپارښت وکړ چې د ګناه نه خپل ځانونه په کلکه سره وساتي او داسې ونه وايي چې دښمن د زمونږ نه ډير بد دئ، نو بيا به پر مونږ باندې نه مسلط کيږي، ځکه ډير کله پر يو قوم باندې د دوی نه بد خلک واکمنان سوي دي، لکه څنګه چې کله بني اسرائيلو د الله دين پرحدودو باندې تيرئ وکړ، نو بيا مجوس ور باندې مسلط سول او دوی يې تباه او هلاک کړل، او په ځانګړي ډول دا خبره افغانانو ته کلکه د پام وړ ده، ځکه د کمونستي دورې پيل نه په ۱۳۵۷هـ ش کال کې تر ۱۴۰۰هـ ق کال وړي برجه پورې چې د ۱۹۷۷-۲۰۲۱م کلونو سره سمون لري؛ دوی په اوږدو جګړو کې ښکيل سول او بيا دوه ځله د لو يو نړۍ والو ځواکونو د ښيکلاک لاندې راغلل، نو ورته ښايي چې تو به و باسي او پند واخلي او پر سمه لار روان سي او په خپل دين اسلام باندې منګلې کلکې کړي او ټول افغانان سره ورونه سي او خپله اسلامي ټولنه او اسلامي نظام جوړ کړي.

{قرآن سمې لارې ته لارښود او مومنانو ته د ثواب زيرئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د خپل لارښود کتاب قرآن ستاينه کړي ده او هغه يې مومنانو ته د ثوابونو ز يرئ ورکونکئ پيغام اعلان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ۝٩ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ۝١٠ وَيَدْعُ ٱلْإِنسَٰنُ بِٱلشَّرِّ دُعَآءَهُۥ بِٱلْخَيْرِ ۖ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ عَجُولًا ۝١١ وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيْنِ ۖ فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ وَجَعَلْنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوا۟ فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ۚ وَكُلَّ شَىْءٍ فَصَّلْنَٰهُ تَفْصِيلًا ۝١٢﴾

[۹] هو! يقينا دا قرآن [چې هغه مونږ پرخپل بنده محمد ﷺ باندې

رانازل کړي دئ] خلکو ته پرسمه لار د تک لارښودنه کړي، او هغو مومنانو ته چې ښه عبادتونه کړي ز یرئ ورکوي چې یقینا دوی ته لوی ثوابونه برابر سوي دي، یعنی الله به دوی ته جنتونه ورکړي.

[١٠] او هغه کسان چې په آخرت باندې ایمان نه راوړي؛ دوی ته مونږ یقینا دردونکئ عذاب تیار کړئ دئ، یعنی د آخرت په ورځ باندې ایمان راوړل فرض دي او انکار ورځخه کفر دئ او د کافرانو ځای په آخرت کې دوزخ دئ، او یقیناچې هغه ډیر بد استوګنځئ دئ.

[١١] [ای خلکو! تاسي انسانان دومره بیړنی او د تلوار مزاج لری چې کله کله ځیني] انسانان شر د خیر غوندې ځانو ته غواړي، ځکه د انسان مزاج عجله او تلوار دئ، یعنی خو الله تعالی چې ډیر مهر بان او ښه پوه لوی څښتن دئ؛ د بنده شر غوښتنې دعاء نه قبلوي.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی خپل لوی قدرت د شپې او ورځې په بدلون کې یاد کړئ دئ او هغه یې د کلونو حساب کړو وسیله ګڼلې ده، او فرمایلي دي:

[١٢] شپه او ورځ مونږ د خپلو قدرتونو دوه نښې وګرځولې، نو بیا د شپې نښه مونږ لرې کړه [یعنی رنا یې مونږ محوه کړه] اود ورځې نښه [چې لمر دئ] هغه مونږ ځلانده وګرځوله، ترڅو تاسې [ای خلکو! په ورځ کې] د خپل څښتن نه د هغه ورکړې وغواړی [یعنی ځان ته پکې روزي او د ژوند چلولو خرڅ پیدا کړی] او د شپې او ورځې په بدلیدلو را بدلیدلو سره د کلونو په شمیر او د ورځو او میاشتو په حساب باندې؛ پوه سی [یعنی د خپل ژوند چارې پکې سمبال کړی] او هرڅه مونږ په پوره تفصیل سره بیان کړي دي، یعنی ژوند په ځمکه کې په یوه حال نه دئ او هغه الله تعالی پرخپل لوی علم او په پاخه حکمت سره په شپه او ورځ تقسیم کړئ دئ، ترڅو خلک شپې دمه وکړي او و یده سي او د ورځې بیا کار وکړي او د خپل ژوند چارې سمبال کړي.

{د هر چا بخت په تقدیر کې لیکلئ او په غاړه کې یې رازوند دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی هرانسان ته خپل بخت رسیدل چې په تقدیر کې لیکل سوئ دئ په ګوته کړئ، او فرمایلي دي:

﴿وَكُلَّ إِنسَٰنٍ أَلْزَمْنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِى عُنُقِهِۦ ۖ وَنُخْرِجُ لَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ كِتَٰبًا يَلْقَىٰهُ مَنشُورًا ﴿١٣﴾ ٱقْرَأْ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ ٱلْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا ﴿١٤﴾ مَّنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا ﴿١٥﴾﴾

[١٣] او هر انسان ته مونږ د هغه بخت د هغه غاړې غړوندئ ګرځولئ دئ [یعنی ور پورې ترلئ مو دئ] او د قیامت په ورځ به د هغه [د ټولو کړنو او و یناوو] لیکل سوئ کتاب ورته راباسو او هغه به دئ غوږ یدلئ مومی.

[١٤] [او بیا ورته و یل کیږي:] اوس ده خپل کتاب ولوله او نن پر تا باندې خپل ځان حساب اخستونکئ بس دئ، یعنی دا چې ای انسانه! اوس ته خپل حساب د خپل ځان نه واخله، نو یقینا چې دا د لوی عدالت ژوندئ مثال او بیلګه ده چې هغه الله تعالی پر خپلو بنده ګانو پیرزو کړې ده، نو مونږ ته ښایي چې پر دغسې تله خپلې کړنې په دنیا کې وتلو او هر څوک خپل ځان پر خپلو کړنو باندې څارنوال او قاضي وګرځوي، او منتظر نه وي چې پولیس یې لاس ترلئ څارنوالۍ ته وسپاري.

[١٥] او هر څوک چې پر سمه لار روان سه [یعنی حق یې ومانه] نو یقینا چې ګټه یې خپل ځان ته رسیږي او څوک چې د سمې لارې نه ورک او کوږ سه، نو د ورکتیا ز یان او تاوان یې خپل ځان ته رسیږي، او هیڅ څوک د بل چا ګناه پرغاړه نه وړي [یعنی هر څوک د خپلو کړنو مسئوول دئ او یو د بل پر ګناه نه نیول کیږي] او مونږ ای خلکو! هیڅ چا ته په ګناه کړو سره تر هغې سزا نه ورکوو، ترڅو دوی ته استازئ را ولیږو، یعنی نو بیا دا استازئ دوی ته حق او باطل، حلال او حرام، سمه لار او کږه لار ورښي او هغه ورته ښه روښانه بیانوي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې مونږ ته ښې ډیرې

ارزښتناکه مسئلې ښې روښانه ښودلې او بیان کړی دي او هغه دا دي:

۱.ښايي په دې پوه سو چې هر څوک د خپل عمل او د خپلو کړنو او د خپلو و يناوو مسئوول دئ او هغه به پر خپله غاړه وړي، او د هر چا کړنې او يناوې؛ د هغه سوانحو سجل په ځانګړې پانه کې ليکل کيږي او د قيامت په ورځ يې مخې ته غوړول کيږي، ترڅو هر څوک د خپل ځان نه حساب واخلي!

۲-د هر چا ښه او بد عمل ثواب او سزا خپله د هغه ده او هيڅ څوک د بل چا په ګناه نه نيول کيږي، يعنی د هر چا مسئووليت شخصي دئ، زوی د پلار په ګناه او پلار د زوی په ګناه، ميړه د ميرمنې او ميرمن د ميړه په ګناه نه نيول کيږي، او هر څوک به خپل حساب ورکوي.

۳-الله تعالی هيڅ چا ته د پيغمبرانو را ليږلو او د کتابونو رانازليدلو نه مخکې سزا نه ورکوي، او يقينا چې دا د الله تعالی د عدالت لوی دليل دئ، نو ښايي مونږ هم په خپل ژوند کې مخکې د بيان نه چا ته سزا ورنکړو، ښايي لمړئ د الله حکمونه او قانون خلکو ته ورسوو او بيان يې کړو او بيا د دوی نه حساب واخلو.

{د ولسونو بډيان په خپله سرکښۍ ولسونه هلاکوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د کافرانو د هلاکت اسباب او عوامل په نښه کړي دي، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿وَإِذَآ أَرَدۡنَآ أَن نُّهۡلِكَ قَرۡيَةً أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيۡهَا ٱلۡقَوۡلُ فَدَمَّرۡنَٰهَا تَدۡمِيرٗا ١٦ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِنۢ بَعۡدِ نُوحٖۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ١٧﴾

[١٦] [ای خلکو!] او هر کله چې مونږ د يوه کلي [او ښار اوسيدونکو] د هلاکت قصد او اراده وکړو، نو بډيانو، مړوو او زورواکو مشرانو ته يې حکم کړو [چې د زمونږ بنده کې او اطاعت وکړی] خو بيا دوی د الله اطاعت او فرمان ورو نه وئې [او په خپل کلي او ښار کې سرکښي کړی] نو

بيا [د الله عذاب او سزا ورکولو] حکم پر دوی باندې لازميږي او د دوی دا کلئ مونږ ښه ړنګوو! يعنی الله تعالی يې له منځه وړي او تباه کوي يې، لکه څنګه چې تار يخ ور باند شاهد دئ او مونږ الله تعالی په قرآن کې ورڅخه په وار وار سره خبر کړي او ګواښلي يو.

[١٧] هو! د نوح نه وروسته ښه ډير ولسونه او قومونه مونږ هلاک کړل [ځکه دوی حق ونه مانه او خپل پيغمبران يې دروغژن وګڼل] او د ستا رب ای پيغمبره! د خپلو بنده ګانو ګناه وو نه خبريدلو اوليدلو ته بس دئ، يعنی الله تعالی د خپلو بنده ګانو ګناه وو نه ښه خبر دئ او هغه ښې و يې، نو بيا الله تعالی هر چا ته د هغه لائق سزا ورکوي.

درندو دوستانو! د الله تعالی دا قانون يا نظام تل پاتې نظام او سنت دي، نو دا دئ مونږ هره ورځ په ډيرو اسلامي هيوادونو کې او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د جګړو لوی خونړي سيلابونه وليدل چې په هره دره او کلي او ښار کې په تيرو پنځه ځلو يښتو کلونو کې وښيدل، نو ښکاره عامل او سبب يې همدا زورواکي وه، او ځينو خپل سرو د قدرت وړو مشرانو؛ د الله تعالی په تقديري حکم سره خپل ځانونه او ولسونه هلاک کړل، او يوازې په افغانستان کې په تيرو دري ځلو يښتو کلونو کې (١٣٥٢-١٤٠٣هـ ش) نه(٩) کسان زورواکي مشران چې ځينې يې جمهور رئيسان بلل کيدل په خپل منځي اختلافاتو کې ووژل سول او يا وتښتيدل او قدرت يې له منځه لاړ، او تار يخي عار او بد نامي يې د دوی پر غاړو رازونډه وې.

{د الله روزي په دنياکې خوره ده او د آخرت برخه د مومنانو ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مونږ د خپلې خورې روزۍ نه ټولو خلکو ته په دنيا کې خبر کړي يو، خو دا روزي په آخرت کې يوازې مومنانو ته ورکول کيږي، او د شرک نه يې مونږ ګواښلي يو او فرمايلي دي:

﴿مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصْلَىٰهَا مَذْمُومًا مَّدْحُورًا ﴿١٨﴾ وَمَنْ أَرَادَ ٱلْآخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُو۟لَٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُورًا ﴿١٩﴾ كُلًّا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ

وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنۡ عَطَآءِ رَبِّكَۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحۡظُورًا ﴿٢٠﴾ ٱنظُرۡ كَيۡفَ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ وَلَلۡأٓخِرَةُ أَكۡبَرُ دَرَجَٰتٖ وَأَكۡبَرُ تَفۡضِيلٗا ﴿٢١﴾ لَّا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومٗا مَّخۡذُولٗا ﴿٢٢﴾

[۱۸] [ای خلکو!] څوک چې دا عاجله او ژر تیریدونکې دنیا غواړي، نو هغه ته مونږ په دنیا کې چې څه شئ غواړي هغه ډیر ژر ورکوو او بیا ورته د دوزخ اور داسې ګرځوو چې پکې رټل سوي مخټورن کسان کړ یږي.

[۱۹] او چاچې آخرت وغوښت او د هغه ګټلو لپاره یې منډه ووهله او دئ مومن ؤ، نو د دوی منډې او هلې ځلې مونږ ته د منلې او قدر وړ دي، یعنی ثواب یې ورکول کیږي.

[۲۰] ای پیغمبره! او دغو دواړو ډلو ته ورکړې [یعنی د دنیا او آخرت پیرزو یې] د ستا رب الله لخوا ورکړي او پیرزو یې دي، ځکه د ستا رب الله ورکړي [چې هغه په دنیا کې رزق او روزي ده] د هیڅ چا نه منعې نه دي، یعنی الله کافر او مومن ټولو ته روزي ورکوي او د هیڅ چا برخه نه سپموي.

[۲۱] ای پیغمبره! وګوره چې مونږ څنګه ځینې خلکو ته پرځینې نورو باندې ډیره روزي ورکړه او دوی مونږ پر یو بل باندې لوړ او وچت کړل، او د آخرت ورځې رتبه او مقام ډیر غټ دئ او غور یاپې ډیره لوړه ده، یعنی د آخرت په ورځ د مومنانو مقام پر کافران ډیر لوړ وي، او دا لوړتیا او ښکلا ټول د الله ورکړه او پیرزو ینه ده.

[۲۲] ای پیغمبره! نو د الله سره بل خدای په عبادت او بنده ګۍ کې مه ګرځوه[یعنی یوازې د الله بنده ګي وکړه او د کافرانو غوندې بتان الله سره په خدایي کې مه ګډه ؤ] کنه نو بیا به رټل سوی او خوار ناست وې.

ګرانو دوستانو! ښایي دلته مو پام وي چې په دې مبارك آیت کې د الله تعالی حکم مخامخ مخاطب رسول الله ﷺ دئ، خو مقصدیې د هغه ټول امت دئ، ځکه پیغمبر ﷺ د الله توحید ته رابلونکئ استازئ ؤ.

قدرمنو عز يزانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې خپلې ډيرې خورې ورې پيرزو يې او لوی نعمتونه پر خپلو بنده ګانو باندې ياد کړې دي او دوی يې د الله توحيد ته رابللي دي او د شرک نه يې ګواښلي دي.

{د الله تعالى او د مور او پلار پر حقونو کلک سپارښت}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې په توحيد کې د خپل حق نه وروسته؛ د مور، پلار او د نورو خپلوانو پر حقوقو باندې کلک سپارښت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿*وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ﴿٢٣﴾ وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا ﴿٢٤﴾ رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِى نُفُوسِكُمْ ۚ إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلْأَوَّٰبِينَ غَفُورًا ﴿٢٥﴾ وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِ ۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ﴿٢٧﴾ وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا ﴿٢٨﴾ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾ إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴿٣٠﴾﴾

[٢٣] ای پيغمبره! او د ستا ر ب الله خپلو بنده ګانو ته حکم کړئ دئ چې د الله نه پرته د بل هيڅ چا عبادت او بنده ګي مکړئ، او د مور او پلار سره مو ښه وکړئ، او د دوی نه به يې او يا به دوی دواړه د ستاسې سره زاړه سي، نو دوی ته اف او وای ونه وايي او ترخه خبره ورته ونکړئ، يعنی پټکه او په جګ غاړ ورسره خبرې ونکړئ، دوی ته خوږه ورو خبره وکړئ.

[٢٤] ای مومنه بنده! او خپلې مور او پلار ته ده د زړه سوانديي او د

تواضع نه ډک؛ خپل وزرونه راټيټ کړه [او ورته دعاء وکړه] او ووايه: ای لو يه ر به! د زما پر مور او پلار باندې خپل رحمت راوور ؤ، لکه څنګه چې دوی دواړو زه وروزلم او را لوی يې کړم، يعنی دا چې ښايي مونږ د خپلې مور او خپل پلار حق ښه و پيژنو او بيا د دوی پالنه او خدمت هغسې وکړو، لکه څنګه چې دوی د زمونږ پالنه او روزنه په وړکتوب کې کړې ؤ، او د زمونږ په را لو يولو او روزنه کې شپه او ورځ ستړي ول.

درندو عز يزانو! په دې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د مور او پلار پر حقوقو او ورسره په احسان کړو باندې کلک سپارښت خپل توحيد ته د رابلنې سره يوځای ياد کړئ دئ، او يقيناچې دا د مور او پلار حق په فرضيت باندې لوی دليل دئ، ځکه د الله تعالی پر توحيد باندې ايمان فرض دئ، نو همداسې مور او پلار سره احسان او د دوی خدمت پر اولادونو باندې فرض دئ او غفلت ورځخه لو يه ګناه ده.

[٢٥] ای مومنانو! او که تاسې صالحان وی [يعنی د مور او پلار په خدمت کې ر ښتيني او مخلص ياستی، نو ډاډه اوسی چې] د ستاسې رب الله په هغه څه چې د ستاسې په زړونو کې دي؛ ښه پوهيږی او يقينا چې الله هغو کسانو ته ښونکئ دئ چې دوی الله ته ورګرځيدونکي دي، يعنی الله تعالی د هر چا سره د هغه زړه په تله چليږي، نو څوک چې د مور او پلار په خدمت کې مخلص وي؛ الله ثواب ورکوي، خو که مخلص نه ؤ، نو د ثواب نه محروم دئ او د خپل غفلت سزا به په دنيا او آخرت کې ګالي.

[٢٦] ای مومنه بنده! او خپلوانو ته ده د دوی د خپلوی حق ورکړه او بې وزره مسکينانو سره مرسته وکړه او د مسافر او لاروي سره [چې کله محتاج وي] مرسته وکړه، او د خپل مال په لږښت کې اسراف مکړه، يعنی هغه بې ځايه مه لږ ؤ.

[٢٧] او يقيناچې اسراف کونکي د شيطان وروڼه دي [يعنی د شيطان وسوسې مني] او شيطان د خپل رب نعمتونو او پيرزوينو نه منکر ؤ، يعنی نو ښايي چې مومنان شيطان پسې لاړ نسي او نه يې د وسوسو ښکار سي

او نه ور باندې وغولیږي.

[٢٨] ای پیغمبره! او که چیرې ته د خپلو بې وزرو محتاجو ملګرو نه چې دوی د ستا نه د څه ورکړې په هیله ول؛ مخ اړوي [یعنی دا په هغه وخت کې چې کله د ستا سره څه شئ نه وي ترڅویې دوی ته ورکړې] او د خپل رب رحمت او ورکړې په هیله وې [یعنی منتظر وې چې که تا ته څه شئ چا درکړل، نو بیا به هغه خپلو دغو محتاجو ملګرو صحابوو ته ورکړې] نو دوی ته ښه خبره وکړه چې پکې اسانتیا وي، یعنی دعاء ورته وکړه، ترڅو الله دوی ته د خپل رحمت نه اسانه روزي ورکړي، او ډاډه یې کړه چې کله څه شئ راغلل، نو دوی ته بې ورکړې، ترڅو مطمئن سي او ستا نه خوښ بیرته ستانه سي.

عزتمنو دوستانو! دا مبارك آیت ټولو هغو مشرانو ته سپارښت دئ چې د خلکو ستړکې ورته اوړي، او دوی د خپلو ولسونو هوسایي او د ژوند اړتیاوو تیارولو مسئولیت پر غاړه اخستئ وي؛ نو یقیناچې دا سپارښت دوی ته ډیره غوره لارښودنه ده، او همدارنګه ښایي په کورني ژوند کې هم عمل ور باندې وسي، او دکورنۍ فقیر او مسکین مشر چې د کورنۍ خرڅ او نفقه نسي پوره کولای خپله کورنۍ په خوږو خبرو ډاډه کړي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول الله ﷺ او د هغه امت ته د مال او دولت د خرڅ او د مناسب مصرف په باره کې لارښودنه او سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[٢٩] ای مومنه بنده! [او د مال او دولت په مصرفولو او لږښت کې] خپل لاس د ستوني پورې تړلئ مه نیسه او مه خپل ټول لاس خلاصه ؤ، ځکه بیا به لاس تر زنې ناست وې او آه او افسوس به کړې! یعنی ځان به ملامتوې چې ولې ما اسراف وکه او خپل ټول مال او دولت ما یوځل مصرف او بې ځایه خرڅ که او اوس په خزانه کې څه شئ پاتې نه دي! نو ښایي قدرمنو عز یزانو! چې په مالي خرڅ او لږښت کې تل د اعتدال نه چې هغه یوه غوره اقتصادي تګ لاره ده؛ کار واخستل سي او د

يوسف عليه السلام سپارښت د مصر پاچا ته د هغه خوب په تعبير کې؛ تل په پام کې ونيول سي.

[٣٠] ای پيغمبره! او يقينا چې کله د ستا رب الله چا ته وغواړي روزي يې ډيروي او چا ته چې وغواړي؛ روزي يې لږوي، ځکه يقينا چې الله د خپلو بنده ګانو حال نه ښه خبر دئ او دوی و يني، نو په لوی حکمت سره چا ته ډيره او چا ته لږ روزي ورکوي.

درندو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونوکې خپل مومن بنده ګان د اسراف نه چې هغه د شيطان وسوسه ده؛ کلک منعې کړی دي او د بدو پايلو نه يې ګواښلي دي، او بيايې اعتدال او منځ لارې ته چې ډيره غوره اقتصادي تګ لاره ده؛ را بللي دي او د اسراف نه يې کلک منعې کړي دي.

{ د ټولنې ژوند په چاروکې د الله تعالی اړين آداب او نظام }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د ټولنيز ژوند د اړ يکو اړوند نظام مونږ ته ښه روښانه بيان کړئ دئ، او فرمايلی دي:

﴿وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَٰدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَٰقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ ۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَقْرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً ۖ وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا تَقْتُلُواْ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۗ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلْطَٰنًا فَلَا يُسْرِف فِّى ٱلْقَتْلِ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورًا ﴿٣٣﴾ وَلَا تَقْرَبُواْ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ ۚ وَأَوْفُواْ بِٱلْعَهْدِ ۖ إِنَّ ٱلْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔولًا ﴿٣٤﴾ وَأَوْفُواْ ٱلْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُواْ بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٣٥﴾﴾

[٣١] ای خلکو! [او کله چې تاسې پوه سوی چې رزق او روزي د الله په لاس او واک کې ده] نو خپل کهول د ولږې و يرې نه مه وژنئ، ځکه مونږ تاسې او دوی ته روزي ورکوو او يقينا چې د دې ماشومانو وژل لو يه تيروتنه او غټه ګناه ؤ.

قدرمنو دوستانو! ځینې کسانو په مکه معظمه کې د اسلام نه مخکې خپل ماشومان د ولږې اندیښنې نه وژل، او بیا چې کله پر رسول الله ﷺ باندې قرآن را نازل ســه، نو الله تعالی دوی د دغــې بدو کړنو نه کلک منعې کړل او ورته یې د روزي ورکولو ضــمانت او ډاډ ورکه، او دا حکم همداسې اوس هم د هغو کســانو په حق کې پاتې او جاري دئ چې دوی د نفوس او د نسل ډیر یدلو مخنیوئ کړي، او کله چې د چا میرمن یا ښځه بلار بــه او حاملــه ســي، نو دوی د جنین اچولو هڅــه کړي، ځکــه دوی اندیښــمن وي او و یر یږي چې صــباح به دې ماشــوم ته څنګه روزي پیدا کوي؟ حال دا چې ټولو خلکو ته روزی ورکونکې څښتن الله دئ، او د روزی ګټلو ټول اسباب پر ځمکه مونږ ته الله تعالی پیدا کړي او ښودلي دي، نو که څوک لوړ همت لري ورته ښــایي لاس په زنه کینه ني او کار وکړي او زحمت و یستلو ته کلکه ملا وتړي، ترڅو خپل کهول ته حلاله روزي وګټي.

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د زنا او د ناحقه قتل او د یتیمانو د مال خوړلو نه خپل بنده ګان؛ کلک منعې کړي، او فرمایلي دي:

[۳۲] ای مومنانو! او زنا ته ورنزدې نسی، ځکه چې زنا یقینا فاحشه او بد کار او بده لار ده، یعنی زنا نسلونه سره ګډوي او بیا د هیڅ چا پلار نه پیژندل کیږي، ترڅو هر څوک د خپل زوی روزنې مسئولیت په غاړه واخلي، او دا بد کار همداسې نسلونه ختموي او ټولنه د کار کړو نوي ځوان نسل کمښــت ســره مخامخ کوي، لکه څنګه چې یې په نني غربي ټولنه کې بیلګې مخ په خور یدو دي او د ختیځ نه ورغلو ځوانانو ته یې غیږې پرانستې دي.

[۳۳] او ای مومنانو! د هغه چا و یني تو یول چې هغه الله حرام کړي دي؛ تاسې هغه پرته له حق او قصــاص نه مه تو یوی او مې وژنی، او هر څوک چې مظلوم او ناحقه ووژل ســه، نو مونږ د هغه خپلوانو ته [چې د مړي و ینې وارثــان دي] واک ورکړئ دئ چې د خپــل وژل ســوي خپلوان قصــاص واخلي او قاتل مړ کړي، خو په قتل کې ده تیرئ نکړي، یعنی د مقتول لاس، پښــې، پوزه او غوږونه دې نه پر یکوي او نس دې نه څیرې کوي، او یقینا چې د ناحقه مقتول وارث ســره مرســته کیږي، ترڅو خپل

حق په قصاص سره واخلي.

[٣٤] او ای مومنانو! د یتیم مال ته د ښې لارې نه پرته [چې په هغه کې د یتیمانو ګټه وي، لکه د یتیم مال ساتنه او وده ورکول] مه ورنزدیکیږئ، ترڅو یتیم هوښیارۍ ته ورسیږي [یعنی کله چې یتیم غټ او هوښیار سه، نو بیا د هغه میراث ورته وسپاری] او ای مومنانو! پر خپلو هوکړو او تعهدونو باندې وفاء وکړئ، ځکه یقینا چې د تعهد پوښتنه کیږي، یعنی د قیامت په ورځ د تعهد کونکو نه الله پوښتنه کړي او ورڅخه حساب اخلي.

[٣٥] او ای مومنانو! په را کړه ورکړه او معامله کې (په اخستلو او خرڅولو کې) پیمانه پوره کړئ او په سمه ټله تلل وکړئ، او دغه برابري په ټله او پیمانه کې تاسې ته په دنیا او آخرت کې؛ ښه ده او درته ګټه لري، یعنی د ستاسې غاړې خلاصیږي او د الله تعالی حساب نه ډاډمن کیږي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې مومنانو ته په ټولینیزو چارو کې ډیرې ارزښتناکه لارښودنې او سپارښتنې کړي دي او عملي کول یې یقینا د ټولنې وګړي ښادوي او نیکمرغي ور په برخه کوي.

{قیامت په ورځ د هرچا حواسو او مدارکو نه الله پوښتنه کړي}

ګرانو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی همداسې خپل پیغمبرﷺ او د هغه امت مومنانو ته د اسلام لوړ اخلاقي نظام او قانون ټکئ په ټکئ وړاندې کړئ او بیان کړئ دئ، او کلک سپارښت او ټینګاریې پرې کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُو۟لَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾ وَلَا تَمْشِ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ ٱلْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ ٱلْجِبَالَ طُولًا ﴿٣٧﴾ كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوْحَىٰٓ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلْحِكْمَةِ ۗ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلْقَىٰ فِى

جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدْحُورًا ﴿٣٩﴾

[٣٦] ای مومنه بنده! او په هغه څه پسې مګرځه چې ته ور باندې نه پوهیږي [یعنی بې علمه خبرې مکړه او فتوا مه ورکه وه، بلکې په هره مسئله کې ښه تحقیق او څیړنه کړه او خپل باور راوله او بیا حکم، فیصله او پر یکړه کړه] ځکه یقینا چې د قیامت په ورځ د غوږونو، سترګو او د زړونو نه الله پوښتنې کړي، یعنی دا چې د زمونږ ټولو حواسو او مدارکو نه الله تعالی پوښتنه کړي، او بیا پر غلطه خبره، غلط حکم او پر غلطه فتوا هر و یونکي او مفتي ته کلکه سزا ورکوي.

[٣٧] او ای مومنه بنده! پر ځمکه مست کبرجن [یعنی په ډیر خیال کې] مګرځه، ځکه چې ته یقینا ځمکه سوری کولای نسې او نه د غرونو اوږدو څوکو ته [په خپل کبرجن خوی سره] رسیدلای سې!

[٣٨] او هغه ټول بد خو یونه [چې وړاندې یاد سول او ته ای د الله مومنه بنده ورڅخه منعې سوئ یې؛ د هغوی نه] د ستا رب کرکه لري، یعنی ځان ساتنه د دغسې بدو خو یو نو نه پر مونږ فرض ده.

[٣٩] ای پیغمبره! او ټول هغه حکمونه چې تا ته د ستا رب وحیه کړل؛ هغه د الله حکمونه دي، او د الله سره بل خدای په خدایې کې مه ګرځه ؤ [یعنی ای پیغمبره! خپل امت ده سپارښت وکړه چې بتان ده د الله سره په خدایی کې نه ګډوي] کنه نو بیا به د دوزخ په اور کې ملامت سوي او رټل سوي وغورځول سي.

عزتمنو دوستان! په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د اسلامي اخلاقو ډیر ضروري آداب او احکام خپل پیغمبرﷺ او د هغه مومن امت ته بیان کړي دي او دوی یې د ډیرو ناروا کړنو نه منعې کړي دي، نو په دغسې آدابو باندې عمل کړل پر مونږ باندې فرض دي او سرغړونه ورڅخه ښه لو یه ګناه ده، ځکه د دغو حکمونو په پام کې نه نیول؛ د ټولني ژوند د ډیرو لو یو خطرونو او ګواښونو سره مخامخ کوي، نو ښایي چې هر مسلمان او مومن بنده خپل ځان په دغو ارزښتناکه قرآني آدابو او احکام

باندې ښــه پوه کړي او بيا عمل پرې وکړي او خپل ځان او خپله اســلامي ټولنه د دغسې بدو کړنو نه کلکه وساتي او د الله تعالى شکر ده و باسي چې دغســې کتور حکمونه او آداب يې ورته ښــودلې او بيان کړي دي، او همدارنګه مومن بنده ته ښايي د شرك او کفر نه ډډه وکړي او خپل ځان د شېهونه وساتي.

{الله پسې افترا لويه ګناه ده او ځان ساتنه ورځخه فرض ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مکې کافرانو سپک تورونه کلک غندلي او رد کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿أَفَأَصۡفَىٰكُمۡ رَبُّكُم بِٱلۡبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًاۚ إِنَّكُمۡ لَتَقُولُونَ قَوۡلًا عَظِيمٗا ٤٠ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِيَذَّكَّرُواْ وَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا نُفُورٗا ٤١ قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٞ كَمَا يَقُولُونَ إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ سَبِيلٗا ٤٢ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ٤٣ تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ٤٤﴾

[٤٠] ای د مکې کافرانو! او آيا د ستاسې رب الله تاسې ته زامن غوره کړل او ځان ته يې د فرښتونه لونې ونيولې؟ [يعنى هغه يې ځان ته خوښې کړې] هو! يقينا چې تاسې [ای د مکې کافرانو! الله پسې ډيره] لو يه خبره کړې! يعنى د ستاسې دا سپکه خبره الله تعالى پسې يوه لو يه غندل سوې افترا او دروغژن تور دئ.

ګرانو دوستانو! د مکې کافران به د لونې په ز يږ يدلو سره په خپلو کورنيو کې شرميدل، خو ملائکې يې د الله لونې بللې، نو ځکه الله تعالى د دوی دا دروغژن تور کلک غندلئ دئ او هغه يې لو يه ګناه بللې ده چې ســزايې د توبې و يستلو نه پرته د دوزخ کړونکئ اور دئ.

او په ور پســې مبارکو آيتونو کې الله تعالى قرآن کر يم د زدکړې کتور

پیغام بللئ دئ، خو د بده مرغه کافران هغه نه مني او ورځخه تښـــتي، او په بیان کې فرمایلي دي:

[٤١] او یقینا چې په دې قرآن کې مونږ هر څه بیان کړي دي، ترڅو خلک ورڅخه پند وا خلي [یعنی هغه څه وکړي چې دوی ته ګټه رسوي] خو د کافرانو کرکه او دښـــمني د قرآن ســـره لا ډیر یږي، یعنی دا چې دوی د قرآن نصیحتونو او وعظونو نه هیڅ ګټه نه اخلي او عمل ور باندې نکړي!

[٤٢-٤٤] نو ته ای پیغمبره! دغو کافرانو ته ووایه: که د الله ســره نور خدایان وای، لکه څنګه چې مشــرکان وایي، نو بیا به دغو خدایانو د الله ســره چې د لوی عرش څښـتن دئ؛ د ســیالي لار نیوله ؤ [یعنی ترڅو پر الله باندې (العیاذ بالله) زورور سي، خو الله د مشـرکانو خبرو نه پاک او ډیر لوړ دئ، او ځمکه او اوؤ اســمانو نه او هغه څوک چې پکې میشــت دي؛ هغوی ټول الله په پاکۍ ســره ســتایي [یعنی ټول مخلوقات د الله تســبیح وایي او د هر عیب، کمښـت او بې وســۍ نه الله پاک بولي او ســتاینه پې کړي] خو تاســې ای کافرانو! د دوی پر تســبیحاتو باندې نه پوهیږی، او یقینا چې الله د لویې حوصـیلې څښـتن او ډیر حلیم او بښـونکئ ذات دئ، یعنی نو ځکه کافرانو ته ژر ســزا نه ورکوي او ګوري چې دوی څه کړي؟ او که بیا څوک د کافرانو نه ایمان راوړي؛ بښــي پې او د ســـزا ورکولونه پې تیریږي.

قدرمنو دوســتانو! د الله تعالی دا د لوی حلم او حوصـیلې، بښـنې او د عفوې صــفتونو بیان مونږ ته د زدکړې ډیرې ارزښــتناکه لارښــودنې او ســپارښــتنې دي، نو ښــایي چې هغه زده کړو او په خپل ژوند کې او په اجتماعي اړ یکو کې پې خپل ورځنۍ دود وکړځوو!

{کافران د قرآن پروړاندې کبرجن در یئ او تګ لاره لري}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رســول الله ﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ او د قرآن کلک تاثیرپې د هغه په ساتنه کې د کافرانو شـر نه په ډاګه کړئ او بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِى ٱلْقُرْءَانِ وَحْدَهُۥ وَلَّوْا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَـٰرِهِمْ نُفُورًا ﴿٤٦﴾ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰٓ إِذْ يَقُولُ ٱلظَّـٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٤٧﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا۟ لَكَ ٱلْأَمْثَالَ فَضَلُّوا۟ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴿٤٨﴾﴾

[٤٥-٤٦] هو؛ ای پیغمبره! او کله چې ته قرآن ولولي، نو مونږ د ستا او هغو کسانو په منځ کې چې د آخرت په ورځ باور نه لري او ایمان نه راوړي؛ پرده خوره کړې ده [یعنی دا چې دغه پرده کافران نه پر یږدي چې تا ته څه ز یان ورسوي] او د دوی پر زړونو باندې مونږ پوښونه را اچولي دي، نو د قرآن په معنا نه پوهیږي، او په غوږونو کې یې درونـد والئ دئ او قرآن نه اوري، او ای پیغمبره! ته چې کله خپل خدای په قرآن کې یوازې یاد کړې؛ مشـرکان د ډیرې کرکې نه بیرته پر شـا اوړي، یعنی کافران د قران تلاوت غوږ و یسـتلو او اور یدلو ته تیار نه دي، ځکه پکې د الله توحید ته بلنه ده او دوی چې مشرکان دي، نو د الله تعالی بنده کې په یو والي سره نه مني.

[٤٧] هو؛ ای پیغمبره! مشرکان چې کله تا ته غوږ باسي، نو مونږ ښه پوهیږو چې دوی څه شئ اوري او مقصدیې څه شئ دئ؟ او د یو بل سره پر خپلو منځو کې پټ څه وایي؟ هو! دا ظالمان (مشرکان) په خپلو منځو کې یو بل سره وایي: تاسي په داسي سړي پسې ځی چې پر هغه کودې سوې دي، یعنی[العیاذ بالله] رسول الله ﷺ پر خپل ځان نه پوهیږي چې دئ څه وایي؟ خو دا خبرې ټولې درغژن تورونه دي!

[٤٨] نو ته ای پیغمبره! وکوره چې کافرانو تا ته څنګه بیلکې یادې کړې دي؟ [یعنی ته یې چا ته ورته بللې یې؟ هو! کافرانو پیغمبر لیونئ وکاڼه او

دوی وو یل چې پر هغه باندې کوډې سوې دي او پر خپلو خبرو نه پوهیږي چې دئ څه وایي؟ [العیاذ بالله!] نو ځکه مشرکان د سمې لارې نه ورک سول او پر هغه تلای نسي، یعنی دوی د الله توفیق نه محروم دي او د الله تعالی پیژندلو سمه لارې په توحید سره ورکه کړې ده.

{د قر یشو کافران د قیامت ورځې ژوند نه منکر ول}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مونږ الله تعالی د مکې کافرانو انکار نه د قیامت په ورځ بیرته ژوند نه خبر کړي یو، او د دوی د سر زورۍ او ضد کړو په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدٗا ٤٩ قُلۡ كُونُواْ حِجَارَةً أَوۡ حَدِيدًا ٥٠ أَوۡ خَلۡقٗا مِّمَّا يَكۡبُرُ فِي صُدُورِكُمۡۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَاۖ قُلِ ٱلَّذِي فَطَرَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖۚ فَسَيُنۡغِضُونَ إِلَيۡكَ رُءُوسَهُمۡ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَۖ قُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبٗا ٥١ يَوۡمَ يَدۡعُوكُمۡ فَتَسۡتَجِيبُونَ بِحَمۡدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا ٥٢﴾

[٤٩] [او کافرانو چې د محشر ورځې نه منکر ول؛ دوی په تعجب سره] وو یل: کله چې مونږ خاورې سوي اډوکي سو، نو آیا یقینا بیا بیرته نوي راپیدا کیږو؟ یعنی بیرته به را ژوندي کیږو؟ هو! د مکې مشرکان د قیامت په ورځ د بیرته ژوند نه کلک منکر ول او هغه یې نه مانه.

[٥٠-٥١] نو ته ای پیغمبره! [کافرانو ته په ځواب کې] ووایه: هو! ای خلکو! نو تاسې تیګه او یا وسپنه سی او یا د هغه مخلوق غوندې غټ سې چې د ستاسې په زړونو کې ګرځي! نو بیا به دوی وایي: څوک مونږ بیرته راګرځوي؟ [یعنی څوک مونږ بیرته را ژوندي کوي؟] نو ته ای پیغمبره! ورته ووایه: تاسې هغه څوک بیرته را ژوندي کوي چې په لمړي ځل کې یې تاسې پیدا کړی [یعنی الله تاسې بیرته را ژوندي کوي، ځکه تاسې الله په لمړي ځل کې پیدا کړی] نو بیا به کافران خپل سرونه تا ته ای پیغمبره! وښوروي

او وايي به چې هغه به کله وي؟ [نو ته په ځواب کې ورته] ووايه: کيداي سي چې هغه ورځ ډيره را لنډه وي!

[٥٢] هو! د قيامت ورځ هغه ورځ ده [چې پکې تاسې ای خلکو! الله راغواړي] نو بيا تاسې د الله په ستاينې سره د هغه بلنه منې [يعنی د خپلو ګورونو نه راجګيږی] او داسې انګيږی او ګمان کړی چې تاسې هلته ډير لږ وخت پاتې سوي ياستی!

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې د مکې مشرکانو کينه کښ در يځ د رسول اللهﷺ او د الله تعالی د کتاب (قرآن) پر ورلاندې بيان کړئ دئ، او بيايي خپل پيغمبرﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ فرمايلي دي چې ته د مشرکانو په خبرو او د ستا پيغمبری نه د دوی په انکا ر او د قرآن نه په انکار باندې؛ مه خفه کيږه، ځکه الله تعالی د دوی د تورو زړونو نه خبر دئ او سبه پرې پوهيږي، نو دوی يې د حق اور يدلو نه محروم کړي دي او غوږونه يې کاڼه دي او پر زړونو باندې يې داسې تورې پردې راخورې کړې دي چې نه قرآن اور يدلای سي او نه ور باندې پوهيږي، نو ځکه ايمان نه راوړي او پيغمبرﷺ پسې سپکې سپورې وايي، او د قيامت ورځې حساب نه کلک منکر دي او هغه نه مني او نه يې راتلونکې بولي، نو بيا الله تعالی رسول الله ﷺ ته لارښودونه کړي ده چې کافرانو ته ووايي: ای خلکو! الله به ډير ژر تاسې بيرته را ژوندي کړي او خپل حضور ته به مو راغونډ کړي، او تاسې به بيا د الله په ستاينې سره د هغه بلنه ومنی او الله ته به ورسی.

{مومنانو ته ښايي خپل اختلافات په خوږه ژبه حل کړي}

ګرانو عزيزانو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته لارښودنه کړې ده چې مومنانو ته د خپل منځې اړ يکو اختلافاتو په لړې کولو باندې سپارښت وکړي، ترڅو د يو بل سره ښې او خوږې خبرې وکړي، او فرمايلي دي:

﴿وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ ٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ يَنزَغُ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ

ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ٥٣ رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِكُمۡۖ إِن يَشَأۡ يَرۡحَمۡكُمۡ أَوۡ إِن يَشَأۡ يُعَذِّبۡكُمۡۚ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ وَكِيلٗا ٥٤ وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ فَضَّلۡنَا بَعۡضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعۡضٖۖ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ٥٥

[۵۳] ای پیغمبره! [او د زما هغو بنده ګانو ته چې مومنان دي لارښودنه وکړه او ورته] ووایه: د یو بل سره په ښه خوږه ژ به خبرې وکړي، او یقینا چې رټل سوئ شیطان د ستاسې په منځ کې دښمني اچوي، ځکه شیطان د ستاسې ښکاره دښمن دئ، یعنی نو ځکه د ستاسې په منځ کې فساد او ورانئ کړي او فتنې راولاړوي، او تاسې یو بل سره وروری ته نه پریږدي.

[۵۴] ای خلکو! د ستاسې رب پر تاسې باندې ښه پوه دئ [یعنی تاسې ښه پیژني] نو که وغواړي پر تاسې باندې رحم کړي [یعنی تاسې ښې او که وغواړي چې تاسې ته سزا درکړي] نو بیا سزا درکوي، او ته ای پیغمبره! مونږ پر خلکو باندې څارونکئ استازئ نه یې را لیږلئ، معنا دا چې د پیغمبر رسالت او دنده خلکو ته لارښودنه او د الله پیغام رسول دي، نور نو د الله خوښه چې د خپلو بنده ګانو سره څه کړی؟

[۵۵] او ای پیغمبره! د ستا رب الله پر هغه چا چې په ځمکه او اسمانو کې دي ښه پوهیږي [یعنی نو بیا د هر چا سره چې څنګه ښایي هغسې چلند کړي] او یقینا چې ځینې پیغمبران مونږ پر ځینې نورو باندې لوړ کړي دي او داوود ته مونږ ز بور ورکه.

ګرانو دوستانو! د الله تعالی تله د خپلو بنده ګانو په باره کې پر عدالت ولاړه ده او هر چا ته یې د هغه لائق مقام ورکړئ دئ، ځکه الله تعالی خپل بنده ګان ښه پیژني، نو بیا صالحانو او د الله لارې اتلانو ته لوړ مقام ورکوي، او څوک چې کافر سي او د الله اطاعت نه سرغړونه وکړي؛ هغه ته کلکه سزا ورکوي، نو ښایي چې مونږ مومنان د خپلې دنیا چارې د الله تعالی همدې لوی نظام په رنا کې په مخ یو سو او هر چا ته د هغه علم

او لیاقت په تله مقام او منصب چې هغه لوی امانت دئ ورکړو او د هر ډول تعصب او خپل ولې او اندیوالې نه ځانونه کلک وساتو.

{ د مشرکانو خدایان بنده ګانو نه ستونزې لرې کولای نسي }

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته حکم کړئ دئ چې دئ ده مشرکانو سره د هغوی دروغژنو خدایانو په باره کې استدلال وکړي، ترڅو ټولو خلکو ته ښکاره او څرګنده سي چې دا بتان هیڅ کله د خدایي لائق نه دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمۡلِكُونَ كَشۡفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمۡ وَلَا تَحۡوِيلًا ٥٦ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورٗا ٥٧ وَإِن مِّن قَرۡيَةٍ إِلَّا نَحۡنُ مُهۡلِكُوهَا قَبۡلَ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَوۡ مُعَذِّبُوهَا عَذَابٗا شَدِيدٗاۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا ٥٨ وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَۚ وَءَاتَيۡنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبۡصِرَةٗ فَظَلَمُواْ بِهَاۚ وَمَا نُرۡسِلُ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّا تَخۡوِيفٗا ٥٩ وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ٦٠﴾

[٥٦] ای پیغمبره! [مشرکانو ته] ووایه: هغه کسان چې تاسې د الله نه پرته خدایان بولې او خپلو ځانو ته یې راوغواړې [یعنی چې ترڅو دوی ستاسې نه درته رسیدلې ستونزې او سختۍ لرې کړي، خو] دغه خدایان د ستاسې نه ستونزې او سختۍ لرې کولای نسي او نه هغه بلې خوا ته اړولای سي، یعنی د ستاسې دغو کاذبو معبودانو او خدایانو په واک کې هیڅ څه شئ نسته!

[٥٧] او کافران هغه کسان دي چې [د پخواینو پیغمبرانو ښو خلکو، صالحانو، متقیانو او ملائکو پسې ځي، نو دوی مشرکان دي، ځکه تیر

سوي ښه خلک د الله سره په خدايي کې شر يکوي، حال دا چې] هغوی خپله غواړي چې خپل رب الله ته بل څوک وا سطه پيدا کړي [يعنی ښه عمل وکړي، ترڅو څرګنده سي] چې څوک د دوی نه الله ته ورلنډ او د الله رحمت او مهر باني ته هيلمن دي، او د الله عذاب نه کلک و ير يږي؟ ځکه ښايي ای پيغمبره! چې د ستا رب الله عذاب نه خلک په يقين سره ښه کلک وو ير يږي، يعنی ښايي د الله تعالی هر بنده په خپله د الله نه وو ير يږي او يوازي د الله تعالی بنده ګي وکړي او بل هيڅ څوک الله ته وا سطه ونګرځوي.

او بيا په ور پسي مبارکو آيتونو کې الله تعالی کافران په دنيا کی مخکې د قيامت ورځې راتګ نه په کلکه سزا ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

[٥٨] هو! هيڅ کلئ [يعنی هيڅ قوم د خپل پيغمبر نه منکر سوئ نه دئ] مګر دا چې هغه مونږ د قيامت ورځې راتلو نه وړاندې هلاکوو او يا کلکه سزا ورکوو، او دا [پر يکړه دوی ته د تقدير لوح محفوظ] کتاب کې ليکلی سوي ده، يعنی د هغې جاري کيدل حتمی دي، لکه څنګه چې د کافرانو ژوندئ تار يخ ور باندې شاهد دئ، ځکه دوی خپل پيغمبران تکذيب کړل او ايمان را نوړ، نو بيا دوی الله تعالی هلاک کړل او کلي يې ړنګ کړل او سختې سزا ګانې يې ورکړې، نو د مکې اوسيدونکي ده عذاب ته تلوار نکړي، ځکه که هغه دوی ته ليکل سوی وي؛ هرومرو را تلونکئ دئ.

[٥٩] او مونږ د مادي معجزو را نازليدو نه [چې هغه د مکې کافرانو وغوښتلې] هيڅ چا منعې نکړو، مګر دا چې کله پخوانيو ولسونو هغه دروغ و بللی [نو بيا دوی هلاک سول او لوی لوی عذابونه ور باندې رانازل سول، لکه د ثمود قوم او نور...] چې کله دوی ته مونږ په سترګو ليدلې ښکاره معجزه اوښه ورکړه، نو بيا دوی په دې اوښه تيرئ او ظلم وکه [يعنی اوښه يې زخمي او مړه کړه، نو بيا دوی الله تعالی د اوښې په سزا کې هلاک کړل] او مونږ معجزې او د خپلو لو يو قدرتونو نښې د دې لپاره را ليږو ترڅو خلک ښه کلک وو ير يږي او ايمان راوړي، يعنی حق ته غاړه کيږدي او پيغمبران ومني، ترڅو په دنيا او آخرت کې ښاد او نيکمرغه سي.

قدرمنو دوستانو! نو له همدې کبله چې ترڅو پر قر يشو باندې د الله عذاب راکوز نسي؛ الله تعالى د قرآن معنوي معجزه د اسلام ستر پيغمبرﷺ لپاره چې د عر بانو ټول اديبان او شاعران يې د سيالۍ نه عاجز سول؛ کافي و بلله، او د مادي معجزو نه يې يوازې پر شق القمر او پر ځينو نورو وړو معجزو باندې يې بسنه وکړه.

[٦٠] هو؛ ای پيغمبره! [او هغه خبره راپه ياد کړه] کله چې ته مونږ [ډاډه کړې] او تا ته مونږ وو يل چې يقينا د ستا رب الله پر ټولو خلکو باندې [په خپل علم او واکمنۍ سره] راتاو دئ [يعنى تا د دوى د شر نه ساتي، نو ته د خپل پيغام په رسولو کې د هيڅ چا نه مه و ير يږه] ای پيغمبره! او هغه د اسراء او معراج خوب چې مونږ پر تا وليده [هغه ټول د دې لپاره ؤ] چې خلک وازمايل سي! [يعنى دا چې ټولو ته ښکاره او معلوم سي چې څوک يې مني او څوک يې نه مني، نو بيا به کافر د مومن نه بيل سي، او ای پيغمبره! همدارنګه] هغه د زقوم رټل سوې ترخه ونه چې په قرآن کې ياده سوى ده [هغه يوه ترخه ونه يا بوټئ دئ چې رسول الله ﷺ هغه د معراج په شپه وليده او بيايې خلکو ته وو يل چې ما په اسمان کې جنت او دوزخ وليدل، او هغه رټل سوې ونه ما وليدله چې په دوزخ کې راشنه سوې وه او د دوزخيانو خواړه ول، او د دې ټولو نه مقصد د خلکو ازمايښت ؤ] او کافران مونږ [په ډول ډول عذابونو او د خپلو قدرتونو نښانو پر ښودلو سره ګواښو او ور باندې يې] و يروو، خو دا معجزې کافران لا په ډير بغاوت او سرکښۍ کې غورځوي، يعنى ضديې په سر اخلي او دغه ښکاره معجزې او د الله تعالى د لو يو قدرتونو نښانې نه مني!

درندو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې د خپلو مادي يا حسي معجزو لوى مقصد او غرض مونږ ته ياد کړئ او بيان کړئ دئ، ځکه هغه د الله تعالى د لو يو قدرتونو ښکارندوى دئ، او يقينا چې اسراء او معراج د دغو معجزو يوه لو يه برخه وه، خو د دې سره سره بيا هم مشرکان ورڅخه منکر سول او رسول اللهﷺ يې دروغژن و باله، او د حق پر وړاندې دغسې د ضد اخستلو کرکجن خوى الله تعالى د ټولو انسانانو

په خټه کې ایښئ دئ، ترڅو د حق او باطل پلو یان یو بل نه ښه سره بیل سي او هر څوک ښه و پیژندل سي، او بیا الله تعالی حق بر یالي کړي او باطل رسوا کړي او لمنځه یې یو سي، او د الله تعالی دغسې تقدیري نظام بیلکې مونږ په تار یخ کې لولو او په ستر کویې و ینو، نو ښایي چې خلک ورڅخه ګټه واخلي، ترڅویې د دنیا او آخرت ښادي په برخه سي.

{ملائکو آدم ته سجده وکړه خو سرکښ شیطان سجده ونکړه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی یوځل بیا د لعنت سوي شیطان کینه کښه او کبرجنه ځیره او د هغه پټې توطئې مونږ ته رسوا کړې او بیان کړې دي، ترڅو خپل ځانونه د هغه وسوسو نه وساتو او په لومو کې یې ونښلو، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِـَٔادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ قَالَ ءَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا ﴿٦١﴾ قَالَ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِى كَرَّمْتَ عَلَىَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٢﴾ قَالَ ٱذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُورًا ﴿٦٣﴾ وَٱسْتَفْزِزْ مَنِ ٱسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِى ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾ إِنَّ عِبَادِى لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ ۚ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴿٦٥﴾﴾

[٦١] [ای پیغمبره!] او هغه وخت را په یاد کړه، کله چې ملائکو ته مونږ [حکم وکه] او دوي ته مونږ وو یل چې آدم ته [د درناوي او عزت] سجده وکړئ، نو بیا دوی سجده وکړه، مګر ابلیس سجده ونکړه [یعنی هغه ملعون چې هلته د ملائکو سره ؤ؛ کبریې وکه او سجده یې ونکړه]او و یو یل: آیا زه داسې چا ته سجده وکړم چې هغه تا د خټې نه پیدا کړئ دئ؟ یعنی داچې د اور نه پیدا سوي رټل سوي شیطان خپل ځان پر آدم عليه السلام باندې لوړ او پورته و باله او سجده یې ونکړه!

[٦٢] [او بيا ملعون ابليس په ډيرې سپين سترګې سره الله ته] وو يل: آيا دا کس و يې چې تا دئ پر ما باندې جګ او عزتمن کړه! نو که زه تا ای ر به! تر قيامت ورځې پورې پر يې ښــودلم، نو قســم دئ چې زه به د هغه کهول د ستوني نه کلک رانيسم [او د سمې لارې نه بې اړوم] مګر داچې ډير لږ کســان به راڅخه خلاص ســي، يعنی د لعنت ســوي شــيطان نه يوازې هغه کسان خلاصيږي چې د زړه نه په اخلاص سره مومنان نه دي.

[٦٣] [نو بيا الله تعالی ابليس ته ګواښ وکه او ورته يې] وو يل: ځه ورک سه! او هر څوک چې د آدم کهول نه تا پسې لاړه [يعنی د ستا شيطانی وغولا ؤ، نو په يقين سره پوه سې چې] دوزخ د ستاسې ټولو سزا ده او هغه به پوره درکول کيږي!

[٦٤] ای شيطانه! او د آدم کهول نه چې پر هر چا د ستا زور رسيږي، ترڅويې په خپل غږ او خبرو سره راو پاروي [يعنی سپک يې کړي او د الله بنده ګی نه يې وشړي] نو هغه وهڅوه او خپل سپاره او پياده لښکرې ده ور باندې راغونډې کړه او د دوی په مال، دولت او په کهول کې ورســره ورګډ سه او وعدې ورکړه! هو؛ شيطان خلکو ته غولونکې وعدې ورکوي، يعنی د شيطان ټولې وعدې او ز يري خپلو پلو يانو ته غولونکي دروغ دي، لکه په اوســنۍ ميکياو يلي ديمکراســۍ کې کانديدان چې په دروغژنو لاپو سره واک ګټلو ته در يږي او ولسونه غولوي.

[٦٥] ای شــيطانه! [او په يقين ســره پوه ســه چې] د زما پر مخلصــو بنده ګانو باندې د ستا زور نه رسيږي، او ای پيغمبره! تا ته د ستا رب بس او کافي دئ، يعنی تــه ای پيغمبره! ډا ډه اوســه چې د شــيطان غولونکو وسوسو نه تا ته او د زما مخلصو بنده ګانو ساتلو ته؛ د ستا لوی رب کافي او بس دئ، نو دوی به هيڅ کله د شيطان په لومو کې ونښلي.

قدرمنو دوســتانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې مونږ د شــيطان کينه کښــو چلونو او پټو دسيســو نه د مومنانو پر وړاندې خبر کړي يو، ترڅو تل تيار ســۍ وو او د خپل رب په حکمونو باندې په اخلاص ســره

عمل وکړو او کلک ور باندې ودر یږو او پرې ټینګ سوو، او د الله تعالی په مرسته او توفیق؛ د انسي او پیري شیطان وسوسو نه ځانونه وساتو.

{د الله لو یو نعمتونو شکرویستل پر بنده ګانو فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خپلې خورې ورې پیرزو یني پر مونږ باندې رایادې کړې او بیان کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿رَّبُّكُمُ ٱلَّذِى يُزْجِى لَكُمُ ٱلْفُلْكَ فِى ٱلْبَحْرِ لِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٦٦﴾ وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِى ٱلْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُ ۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ ۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾ أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ ٱلْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَىٰ فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغْرِقَكُم بِمَا كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِۦ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾ ۞ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِىٓ ءَادَمَ وَحَمَلْنَٰهُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿٧٠﴾﴾

[٦٦] ای خلکو! د ستاسې رب الله هغه څوک دئ چې تاسې ته بیړۍ په سمندرکې چلوي، ترڅو تاسې د الله ورکړو فضل نه خپله روزي لاس ته راوړۍ [یعنی ترڅو په سمندرونوکې د مایانو یا کبانو شکار وکړۍ] او یقینا چې د ستاسې خدای ای خلکو! پر تاسې ډیر مهر بان دئ، یعنی خپل فضل او رحمت او ورکړي پر تاسې باندې لوروي.

[٦٧] او کله چې تاسې ته ای خلکو! په سمندرکې څه ز یان او ستونزه ورسیږي [یعنی د ستاسې بیړۍطوفاني سي او د او بو څپانده څپې تاسې پسې وا خلي] نو بیا هغه څوک چې تاسې د الله نه پرته غوښته او د هغه بنده ګی مو کړه؛ هغه د ستاسې نه ورک سي او یوازې الله [د ستاسې حقیقي او ر یښتین څښتن] ستاسې را په یاد سي [یعنی بیا تاسې د الله نه غواړۍ چې د هلاکت نه او د سمندر په ابوکې د ډو بیدو نه نجات درکړي]

خو کله چې بيا تاسې الله وچې ته راو باسي، نو د الله نه مخ اړوئ! او انسان د ناشکرانو نه دئ، يعنى د خپل خداى نعمتونو نه ډير ژر هيروي.

[٦٨] اى كافرانو! [او كله چې تاسې وچې ته راووتلئ] نو آيا تاسي د الله سزا نه په ډاډ او امن كې ياستئ؟ نو كه بيا الله يوه خوا د ځمكې وچې نه پر تاسې راواړوي او پكې ډوب سئ، او يا د اسمان نه تيګې يا ډبرې در باندې راوور يږي [او تاسي مړه كړي] نو بيا به [د الله نه پرته] بل هيڅ څوک مرستندوى استازئ بيا نه مومئ، ترڅو تاسې د سخت عذاب نه وساتي!

[٦٩] اى كافرانو! او آيا تاسي ډاډه ياستئ؟ [كه چيرې د ستاسې لوى رب الله] يوځل بيا تاسې بيرته سمندر ته وروګرځوي او بيا كلک بړبنكونكئ طوفان(باد يا شمال) در باندې را والوزوي، نو بيا به تاسې بيرته په سمندركې ډوب كړي، ځكه تاسې كافران سوئ؟ [يعنى تاسې د الله خلاصون نعمت نه منكر سوئ او د هغه وركړو شكر مو ونه و يست] نو بيا به تاسې اى خلكو! پر مونږ كمه بله دعوا او غوښتنه نه لرئ، يعنى دا ځكه چې الله پر تاسې باندې څه ظلم او تيرئ نه دئ كړئ، او هر څه چې تاسې ته راپيښيږي؛ هغه د ستاسې خپلو كړنو پايله او نتيجه ده.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونوكې خپلې ډيرې وركړې او لوى نعمتونه پر خپلو هغو بنده ګانو باندې ياد كړي او بيان كړي دي، چې دوى كافران سول او بتان يې د الله سره په عبادت كى شر يك كړل، او همدارنګه دوى الله تعالى پر لو يو كلكو سزاګانو ګواښلي دي، ترڅو دا كافران ښه فكر وكړي او د كفر او شرك نه لاس وا خل، او يقينا دغسې كركجن او كينه كښ خو يونه چې مشركانو درلودل؛ هغه د ملعون شيطان هغه پټې او ښكاره وسوسې او توطئې دي چې الله تعالى تل خلک ورڅخه كلک و يرولې او ګواښلي دي، ځكه دغه شرغوښتونكي خو يونه د هغو شيطان صفته انسانانو په ناروغو زړونوكې هم ننوتي دي او دوى په خپلو دغسې شيطاني وسوسو سره تل انساني ټولنې د ډيرو ناخوالو او ستونزو سره مخامخ كړي دي، نو ښايي د علم، ايمان او ښه عمل په

روزني سره د دغسې بدو خو يونو مخنيوئ وسي، ترڅو ټولنه د دوی د شر نه په امن کې سي او رټل سوئ شيطان دوی ونسي غلولاي.

او په ور پســې مبارك آيت کې الله تعالى د آدمعليه السلام کهول لوړ مقام او دوی ته د عزت ورکولو يادونه کړې ده او د دې لوی عزت ســاتل يې په دنيا او آخرت کې بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

[٧٠] او يقيناچې د آدم کهول مونږ عزتمن کړل [يعنی دوی تــه مونږ عقل او پوهــه ورکړه او پيغمبران او کتابونــه مو ورتــه راولېږل] او د ځمکې وچه او لنده مونږ دوی ته تسخير کړه [يعنی دوی پکې واکمنان سول] او د ټولو پــاکو خوړو نــه دوی تــه مونږ روزي ورکړه او د زمونږ پر ډيرو نورو مخلوقاتو باندې دوی مونږ غوره کړل، يعنی ترڅو دوی خپل محســن او لوی پالونکئ څښــتن الله سـبحانه وتعالى؛ ښــه و پيژني او په اخلاص ســره يې بنده کې وکړي او نور هيڅ څوک ورســره په عبادت کې شـر يك نکړي، او خپل حاجتونه او اړتيا وې د الله نه پرته بل چا نه ونه غواړي.

{ د قيامت په ورځ خلکو ته د دوی کړن ليکونه سپارل کيږي }

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ د آدام کهول برخليک نه د قيامت په ورځ خبر کړی يو، او فرمايلي دي:

﴿يَوْمَ نَدْعُوا۟ كُلَّ أُنَاسٍۭ بِإِمَٰمِهِمْ ۖ فَمَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَٰبَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧١﴾ وَمَن كَانَ فِى هَٰذِهِۦٓ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ أَعْمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٧٢﴾﴾

[٧١] [ای پيغمبره! د قيامت هغه لو يه ورځ راپه ياد کړه] کله چې هر امت د خپل مخکښ مشر(پيغمبر) سره [حساب ورکول ته] راغواړو او بيا چې چا ته د هغه کړنو برئ ليک په ښي لاس ورکړل سي، نو دوی خپل برئ ليک [په خوښۍ سره] لولي او پر دوی باندې د يوه ايښته په اندازه ظلم او تيرئ نکيږي.

[٧٢] او څوک چې په دې دنيا کې روند ؤ [يعنی زړه يې د حق په ليدلو

او د ايمان په راوړو نه ؤ رښا سوي] نو هغه به د آخرت په ورځ هم ړوند وي او د سمې لارې نه به کلک ورک وي، يعنى جنت ته د ننوتلو لار به نه مومي، ځکه دئ ورځخه محروم دئ.

{ د پيغمبر ﷺ پرورا ندې د مکې کافرانو دکوابښونو انځور }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د مکې کافرانو لو يو توطئيو لنډ انځور د رسول الله ﷺ سره په دښمنۍ کې وړاندې کړئ دئ، او بيايې د پيغمبر ﷺ کلک تصميم د دوى پر وړاندې ياد کړئ او بيان کړئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَإِن كَادُواْ لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُۥ ۖ وَإِذًا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَٰكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ إِذًا لَّأَذَقْنَٰكَ ضِعْفَ ٱلْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ ٱلْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ وَإِن كَادُواْ لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلْأَرْضِ لِيُخْرِجُوكَ مِنْهَا وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٧٦﴾ سُنَّةَ مَن قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِن رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا ﴿٧٧﴾﴾

[٧٣-٧٤] اى پيغمبره! او لنده وه چې کافران تا د هغه قرآن نه چې هغه تا ته مونږ وحيه کړه؛ بلې خوا ته واړوي او په لوى ازمايښت کې ده واچوي، ترڅو ته د وحى پې نه پرته بل څه چې هغه کافرانو غوښتل افترا کړې [يعنى هغه په دروغو الله تعالى پسې وترې] او بيا دوى تا خپل ملګرئ ونيسي! نو که چيرې ته اى پيغمبره! مونږ نه واى کلک کړئ، نو لنډه وه چې ته لږ څه کافرانو ته ورواوړې، يعنى ته به د دوى غوښتنى ومنې، نو بيا به ته دوى خپل مخلص ملګرئ نيولې وي! خو الله تعالى خپل پيغمبر ﷺ د مشرکانو سپکاوي نه وساته او د دوى پټو توطئيو په لوموکې وننښت.

[٧٥] هو! اى پيغمبره! [او که ته کافرانو خوا ته لږ وراوښتئ واى او د دوى غوښتنې ده منلې واى] نو بيا به تا ته مونږ په دنيا او په آخرت کې دوه

برابره سزا درڅکلې وه، او تا به بيا پر مونږ باندې د سزا په لړې کولوکې؛ هيڅ څوک مرستندوی نه ؤ موندلۍ!

[٧٦] او ای پيغمبره! لنډه وه چې کافران په راپارونکو هلوځلو او کړنو سره تا وزوروي او د مکې خاورې نه ده و باسي [يعنی که دا کار سوئ وای او پيغمبرې د مکې نه شړلئ وای] نو بيا به دوی هم ډير لږ وخت هلته پاتې سوي ول، يعنی د الله تعالی عاجل عذاب به ور باندې راغلي ؤ او کافران به يې، لکه پخواني امتونه هلاک کړي ول، خو الله تعالی رسول اللهﷺ وساته، ترڅو چې په منا کې د العقبې د دو يم ټرون نه وروسته د اوس او خزرج پلاوي سره د الله په حکم مدينې منورې(يثرب) ته مهاجر سه او د مکې کافرانو شر نه په امن او ډاډ کې سه.

[٧٧] هو؛ ای پيغمبره! او د زمونږ دا نظام او قانون د هغو پيغمبرانو سره ؤ چې دوی مونږ د ستا نه مخکې پيغمبران راولېږل، او ته د زمونږ په نظام کې(کړن لاروکې) هيڅ بدلون نه مومې، يعنی دا چې هغه حتمي دي، او پر هر چا باندې خاماخا جاري کېږي او نافذيږي!

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونوکې رسول اللهﷺ ته په و ينا کې؛ هغه لوی ازمايښت ته اشاره کړي ده چې مشرکانو غوښتل رسول اللهﷺ په دې ازمايښت سره د حق نه واړوي او د دوی خبرې ومني، خو الله تعالی چې د رسول اللهﷺ ساتندوی ؤ؛ دئ يې پر حق کلک که او د مشرکانو توطئيو نه يې وساته، نو بيا د مکې مشرکانو د رسول اللهﷺ زورولو ته کلکه ملا وترله، ترڅو چې يې بيا رسول اللهﷺ د خپل کور او پلرني کلي او مينې نه وتلو او تيښتې يا هجرت ته اړکه، خو د کينه کښو کافرانو دا ارمان هم پوره نسه، ځکه الله تعالی پيغمبرﷺ ته د يثرب نه د اوس او خزرج انصارو زړونه رامات کړل او دوي ايمان راوړ او خپل استازي يې مکې ته را وليږل او رسول اللهﷺ ته يې د دوی کلي يثرب ته د هجرت بلنه ورکړه، ترڅو رسول اللهﷺ په مدينه منوره کې د لمړنۍ اسلامي ټولنې بنسټ کېږدي، او بيا په ډاډمنه واکمنۍ سره د الله دين ته خلک راو بولي او د الله تعالی توحيدي پيغام هغوی ته ورسوي او دوی

نیکمرغه ژوند ته په دنیا او آخرت کې رادعوت کړي، خو د مکې ډیر مشرکان د الله توفیق نه محروم ول او همداسې په کفر او شرک کې هلاک او تباه سول.

{پر رسول الله ﷺ لمړئ د صباح او بیګاه لمنځونه فرض سول}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی خپل پیغمبر محمد ﷺ په شپه او ورځ کې څو وخته لمونځ کړو ته رابللئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ٧٨ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا ٧٩ وَقُل رَّبِّ أَدۡخِلۡنِي مُدۡخَلَ صِدۡقٖ وَأَخۡرِجۡنِي مُخۡرَجَ صِدۡقٖ وَٱجۡعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلۡطَٰنٗا نَّصِيرٗا ٨٠ وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ٨١ وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٞ وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارٗا ٨٢ وَإِذَآ أَنۡعَمۡنَا عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ أَعۡرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسٗا ٨٣ قُلۡ كُلّٞ يَعۡمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦۖ فَرَبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَنۡ هُوَ أَهۡدَىٰ سَبِيلٗا ٨٤﴾

[۷۸] ای پیغمبره! د لمر سترکې زوال نه وروسته (ماسپښین) او د شپې تیارې پورې لمونځ ودروه [یعنی لمونځ وکړه] او د سحر لمونځ د قرآن په تلاوت سره په جګ غږ ودروه، ځکه یقینا چې د سحر په لمانځه کې د قرآن تلاوت اور یدلو ته د شپې او ورځې ځارونکي ملائکې حاضر یږي، یعنی هغه ملائکې چې د خلکو څار لپاره الله ګمارلې دي، او د سحر په لمانځه کې سره یوځای کیږي، او د شپې پیره د ورځې په پیره بدلیږي، او دا خبره هم دلته د یادونې وړ ده چې مفسرین وایي: دا مبارک آیت په شپه او ورځ کې د پنځه وخته لمنځونو د فرضیت ښکاره دلیل دئ.

[٧٩] او ای پیغمبره! د شپې په یوه برخه کې د تهجد په لمانځه کې قرآن ولوله، او د تهجد لمونځ تا ته ای پیغمبره! نفل دئ، او یقینا چې تا ته به د ستا رب الله ستایل سوئ مقام درکړي، یعنی د قیامت په ورځ ستایل سوئ لوړ مقام چې د لوی شفاعت او سپارښتنې مقام دئ؛ رسول الله ﷺ ته الله تعالی ورکوي، او دغه د شفاعت عظمی ورکړه رسول الله ﷺ ته د محشر په ورځ په ښو ډیرو صحیحو احادیثو کې روایت سوې ده، نو د لوی شفاعت و یاړ رسول الله ﷺ ته یقیني دئ او دئ به د الله په حضور کې د ټولو پیغمبرانو امتونو ګناه ګارانو ته شفاعت کړي چې الله یې و ښني.

[٨٠] ای پیغمبره! او [دعاء وکړه] او ووایه: ای د زما لو یه ر به! ما د ر ښتیا پر وره [چې پکې را ته خیر وي] ورننه باسه او د ر ښتیا پر وره ما د شر نه و باسه، او د خپلې خوا نه را ته د مرستې او بر یا دلیل او ځواک راکړه، یعنی ترڅو پر دښمن باندې برلاسئ او زورور سم او مقصد ته ورسیږم او فتحه او بر یا مه په برخه سي.

قدرمنو دوستانو! دا دعاء الله تعالی رسول الله ﷺ ته د مکې نه مدینې ته د هجرت په مقصد وښودله، ترڅو پیغمبر ﷺ د الله تعالی په مرسته په خیر سره د کافرانو شر نه په مکه کې خلاص سي او بیا په خیر سره روغ رمټ مدینې منورې ته د انصارو په مرسته ورننوځي او خپل دعوت پر مخ یوسي، او د دغې دعاء په وروستۍ برخه کې رسول الله ﷺ د الله تعالی نه د بر یا لپاره قدرت او ځواک غوښتئ دئ، ځکه یقیناچې د زور واک دښمن پر وړاندې زور او قدرت ته اړتیا ده، او هغه په ژوند کې د الله نظام او تل پاتې قانون دئ، او هر ډول غفلت ورڅخه لو یه ګناه او تباهي ده، الله ده مومنان د غفلت خوب نه راو ښې سوي وساتي.

[٨١] ای پیغمبره! [کافرانو ته اعلان وکړه او ورته] ووایه: دا دئ اوس حق راغئ او باطل لمنځه لاړه او یقینا چې باطل [یعنی کفر او شرك] لمنځه تلونکئ دئ.

ګرانو دوستانو! روایت سوئ دئ چې رسول اللهﷺ د مکې په فتحه کې همدا مبارك آیت په جګ غږ وایه او بتان یې په خپله توره وهل او راغورځول یې، ځکه توحید نور پر شرك زورور سه، نو ښایي بتان مات سي او ځای یې یوازې توحید ډک کړي.

[۸۲] او د قرآن آیتونو نه مونږ داسې آیتونه رانازلوو چې هغه د مومنانو زړونو ته شفاء وي [یعنی د نفاق او شك ناروغۍ نه دوی ته شفاء ورکوي] او ظالمانو او کافرانو ته لا ډیر ز یان او تاوان رسوي، یعنی دا چې د قرآن آیتونه د مومنانو زړونه روغوي او ایمان یې کلکوي، او کافران چې کینو په سر اخستي دي؛ لا ډیر کبرجن کیږي او ګناه یې ډیر یږی.

درندو دوستانو! په دې مبارکو آیتونو کې رسول اللهﷺ الله تعالی شپه او ورځ لمونځ کړو ته هڅولئ دئ، او بیایې د شپې په وروستۍ برخه کې د تهجدو نفلي لمانځه ته رابللئ دئ، ځکه چې دا لمونځ دئ د قیامت په ورځ د لوی شفاعت مقام ته رسوي، نو یقینا هغه څوک چې دې لوړ مقام ته د رسیدو مستحق دئ؛ هغه څوک دئ چې د الله تعالی په عبادت کې، لکه د شپې لمونځ په تهجدوکې تکړه سي، او د الله تعالی سره په مناجات کې دغه لوړ مقام او عزت وغواړي، او همدارنګه الله تعالی رسول اللهﷺ ته ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي: مشرکانو ته اعلان وکړه او ورته ووایه: دا دئ د حق دین اسلام! او هغه راغئ او کفر او شرك چې باطل دئ مات سه او د لمنځه لاړه، او بیا الله تعالي رسول اللهﷺ ته ز یرئ ورکړئ دئ او فرمایلي دي: هو! قرآن مونږ د مومنانو زړونو ته شفاء رانازل کړئ دئ، او هغه دوی ته روغتیا، ښادي او نیکمرغي ور ښني.

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی لمړئ د انسان په مزاج کې د ناشکري ناروغي یاده کړې ده او بیایې د هر چا ځانګړتیا په خپلو کړنوکې بیا ن کړې ده، او فرمایلي دي:

[۸۳] [هو؛ ای خلکو!] کله چې مونږ پر انسان خپل نعمتونه پیرزو کړو، نو دئ مخ اړوي او ځان لرې کوي [یعنی د نعمت شکر نه باسي] خو

چې کله ورته څه ز يان او ستونزه ورسيږي، نو بيا ناهيلې او مايوس وي، يعنی د الله تعالی پر وړلاندې سپين مخ نه لري، ترڅو ورته هيلمن سي چې الله به ورته نجات ورکړي.

هو! دا د ناشکرۍ خوی په انسان کې زښت ډير دئ، نو ځکه دغه خوی په قرآن کر يم کې په وار وار سره غندل سوئ دئ او ټول خلک الله تعالی د خپل محسن شکر و يستلو ته کلک رابلل دي.

[٨٤] ای پيغمبره! خلکو ته ووايه: هر څوک ده په خپله خوښه کار کړی، خو د ستاسی رب الله په دې ښه پوهيږي چې څوک په سمه لار روان دئ؟ يعنی الله تعالی خپل بنده ګان ښه پيژني، نو بيا د سمې لارې لارو يانو ته ثواب او د کږې لاري لارو يانو ته سزا ورکوي!

{روح د الله پټ قوت او قرآن يې معجزه ده خلک پرې ښادیږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د کافرانو ځينې پوښتنې د روح او د قرآن په باره کې ځواب کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٥﴾ وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّ فَضْلَهُۥ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴿٨٧﴾ قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٨٩﴾﴾

[٨٥] ای پيغمبره! کافران ستا نه د روح يا ساه پوښتنه کړي چې هغه څه شئ دئ؟ [نو ته په ځواب کې ورته] ووايه: روح(ساه) زما د رب الله حکم دئ، او هغه علم او پوهه چې تاسې ته درکړل سوې ده؛ هغه ډيره لږ ده، يعنی الله تعالی مونږ انسانان او ټول ژوندي مخلوقات په خپل پوکي يا روح سره ژوندي کړي يو او ساه يې په مونږ کې چلولې ده، خو دا روح يا

پوځ څه شئ دئ؟ جواب دا چې د روح په حقیقت باندې د الله نه پرته بل هیڅ څوک نه پوهیږي، ځکه روح د الله د پټو اسرارو نه دئ او د انسان علم او پوهه ډیره لږ ده، یعنی په ډیرو شیانو نه پوهیږي.

[٨٦-٨٧] او ای پیغمبره! که مونږ وغواړو هغه قرآن چې تا ته مونږ وحیه کړئ دئ؛ هغه د ستا زړه نه محوه او لرې کړو، نو دا کار کړلای سو، او بیا به ته هیڅ څوک ونه مومې چې دئ زمونږ پر ضد د ستا استازئ او نماینده سي [یعنی ترڅو د ستا مرسته وکړي او د زمونږ مخه ونیسي، او هغه قرآن چې مونږ محوه که؛ هغه بیرته درکړي] خو دا ستا د رب رحمت دئ چې قرآن یې ستا په زړه کې کلک کړئ دئ [یعنی هغه بیرته نه درڅخه اخلي] او یقینا چې د ستا رب الله پیرزویني پر تا باندې ای پیغمبره! ښې ډیرې او خورې دي.

قدرمنو دوستانو! په دې مبارکو آیتونوکې الله تعالی دا حقیقت بیان کړئ دئ چې د انسان عقل او پوهه محدوده او ډیره لږ ده، نو ښایي چې د هغو شیانو په حقیقت باندې چې نه پوهیږي او عقل یې د هغو درک نه عاجز دئ؛ ونه غږ یږي او د خپل ځان نه پکې څه ونه وایي، لکه د الله تعالی د ذات کنه او حقیقت او نورې ډیرې پټې مسئلې چې الله مونږ ورڅخه نه یو خبر کړي، او لکه روح چې مونږ الله ور باندې ژوندي کړي یو، خو مونږ روح نه پیژنو او د ماهیت نه یې خبر نه یو، نو همدا ناپوهي د انسان د ناپوهۍ کچې لپاره بس ده، او نه ښایي چې څوک د خپلې پوهې نه ډیره دعوا وکړي او ځان په هر څه باندې پوه و بولي، هوا! مونږ په روح ژوندي یو او هغه د زمونږ په ځانوکې الله چلولئ او پکې پوه کړئ دئ، خو مونږ د دې الهي سر په حقیقت باندې نه پوهیږو، یعنی دا چې روح څه شئ دئ؟ او څنګه د زمونږ په ځانونوکې پوه سوئ دئ؟ او بیا څنګه بیرته راوځي؟ او مخکې هغه چیرته ؤ؟ او بیا چیرته ځي؟ او کله چې به رسول اللهﷺ ته څه وحیه کیدله، نو دئ به په ټولو شیانو باندې نه پوهیده، نو نور خلک به څنګه پوه سي؟

نو ځکه الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د خپل لوی رحمت او

د ډيرو پيرزو ينو يادونه پر رسـول الله ﷺ باندې کړې ده او قرآن يې هغه ته وحيه کړئ دئ، او که پيغمبر د الله حکم مخالفت وکړي، نو وحيه سوئ قرآن به بيرته ورځخه وا خلي، خو الله تعالى قرآن د رسـول الله ﷺ په زړه کې کلک کړئ دئ او پکې محفوظ دئ، نو يقينا چې دا د الله تعالى لو يه پيرزو ينه ده چې پر خپل پيغمبر او اسـتازي محمد ﷺ باندې يې کړی ده، او د قرآن راټولو او ساتلو ضمانت يې د هغه په زړه کې کړئ دئ.

او په ور پسـې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د قرآن کر يم بياني اعجاز اړوند د ځينې کافرانو ننګونې ردې کړې دي او بيايې په قران کې د زمونږ ژوند په ټولو برخوکې ګټورو لارښودنو ته اشاره کړې ده، او فرمايلي دي:

[٨٨] [ای پيغمبره! او هغو کافرانو ته چې د ستا پر پيغمبرۍ او د قرآن په ر يښـتينوالي کې شـک لري؛ اعلان وکه او ورته] ووايه: که انسـانان او پيريان ټول سره يوځای سي چې د دې قرآن غوندې بل قرآن راوړي؛ د هغه غوندي کتاب راوړای نسي، که څه هم دوی ټول د يو بل شا ته ودر يږي او لاسونه سره ورکړي!

[٨٩] هو! مونږ په دې قرآن کې خلکو ته هر ډول بيلګې او مثالونه بيان کړل [يعنی کافرانو ته مونږ ډير دليلونه راوړل، ترڅو حق ومني] خو ډيرو خلکو د کفر نه پرته بل څه ونه منل، يعنی پر خپل کفر او د حق نه په انکارکې همداسې کلک پاتې سـول او د الله تعالى ټولو دليلونو نه په قرآن کې منکر سول او هغه يې ونه منل.

{رسـول الله ﷺ يوازې پيغمبر دئ او د ځان نه څه واک نه لري}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د کافرانو هغه کلکې غوښتنې يادې کړې دي چې دوی پکې د پيغمبر ﷺ نه د مادي معجزو راوړو په باره کې وکړې، او فرمايلي دي:

﴿وَقَالُوا۟ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ ٱلْأَرْضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ ٱلْأَنْهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفْجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوْ تُسْقِطَ

ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِىَ بِٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَىٰ فِى ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَٰبًا نَّقْرَؤُهُۥ ۗ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّى هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤْمِنُوٓا۟ إِذْ جَآءَهُمُ ٱلْهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٤﴾ قُل لَّوْ كَانَ فِى ٱلْأَرْضِ مَلَٰٓئِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُولًا ﴿٩٥﴾ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴿٩٦﴾

[۹۰-۹۳] [او بیاچې کله قرآن په خپلو روښانه دلیلونو سره کافران چوپ او بې ځوابه کړل، نو دوی د خپلې خوښې معجزو غوښتونکې سول او رسول الله ته یې] وو یل: ای پیغمبره! مونږ د ستا په خبره باور نکړو، ترڅو ته د ځمکې نه مونږ ته د او بو چینې راو باسې؟ او یا ته د خرماوو یا کجورو او د انګورو باغ ولرې او پکې د او بو و یالې را وخوځوې او پکې وی بهوې؟ او یا لکه څنګه چې تا ګمان وکه اسمان پر مونږ باندې ټوټه سوئ راوغورځوي؟ او یا الله او ملائکې را ته راولې، ترڅویې مخامخ په سترګو وو ینو؟ او یا پر سرو او سپینو زرو باندې ښکلې سوې کوټه (کور) ولرې؟ او یا ته اسمان ته وخیژې؟ خو بیا هم پر تا باندې ای محمده! مونږ باور نکړو، ترڅو ته پر مونږ باندې داسې کتاب راکوز کړې چې په هغه کې مونږ ستا د پیغمبرۍ خبرې ولولو؟ [نو ای پیغمبره! ته کافران ته د دوی د دغسې عناد او کلکې سرکښۍ نه راپورته سوو پوښتنو په ځواب کې په ډیر تعجب سره] ووایه: سبحان الله! آیا زه د الله بنده ګانو نه یو بنده نه یم؟ او زه یې خلکو ته استازئ را لیږلئ یم، یعنی نو څنګه به د ستاسې غوښتنې پرځای کړم؟ او زه د معجزو راوړو وسعه نه لرم، ځکه زه یو عاجز او بې وسې بنده یم او د خپل ځان نه هیڅ څه کړای نسم!

عزتمنو دوستانو! د مکې کافرانو په دغسې پر یوتې منطق سره د قرآن او د رسول الله ﷺ مقابله وکړه، که څه هم دوی د قرآن غوندې لویې او

ښکاره معجزې د رواړو نه عاجز او بې وسې سول، نو بيا رسول اللهﷺ د الله تعالى په حکم يوځل بيا خپله عاجزي د مادي معجزو راوړ نه ورته اعلان کړه او ورته يې وو يل: زه د الله پيغمبر او استازئ يم او تاسې ته د الله حکمونه او فرمانونه رسوم نه مادي يا حسي معجزې.

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې د کافرانو د ايمان نه راوړو ځيني عوامل او اسباب ياد کړي او بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

[٩٤] او کله چې د مکې خلکو ته د الله لارښود پيغام راغئ، نو بيا دوی پر رسول الله باندې د ايمان راوړو نه؛ څه شي منع کړل [چې ايمان را نوړي او پر خپل کفر باندې ټينګار وکړي؟] مګر دا چې دوی [اعتراض وکه] او و يو يل: آيا الله مونږ ته يو انسان پيغمبر را ليږلي دئ؟ يعنی د الله دا پيغمبر خو د زمونږ غوندې انسان دئ، نو ځکه مونږ ايمان نه راوړو!

[٩٥] [نو ته ای پيغمبره! [کافرانو ته په ځواب کې] ووايه: هو! که په ځمکه کې ملائکې وای او په ډاډ سره يې پکې تګ راتګ کړای، نو بيا به مونږ دوی ته د اسمان نه ملائکې پيغمبر را ليږلي ول، خو داسې نه ده، يعنی په ځمکه کې انسانان ژوند کړي، نو ښايي چې پيغمبر هم د دوی د جنس نه وي، ترڅو ورسره په خبرو اسانه او ښه پوه سي.

[٩٦] او ای پيغمبره! مشرکانو ته ووايه: الله د زما او ستاسې په منځ کې د شاهدي لپاره بس دئ، او يقينا چې الله د خپلو بنده ګانو پر حال ښه خبر دئ او د دوی پر ټولو کړنو باندې ښه بينا دئ او هر څه و يې، يعنی دا چې بيا به الله تعالى د زمونږ په منځ کې د قيامت په ورځ چې د حساب ورکولو ورځ ده؛ حکم او پر يکړه وکړي، ترڅو روښانه سي چې آيا زه پر حق سره تاسې ته د الله لخوا پيغمبر را ليږل سوئ يم او کنه؟ نو بيا به کافرانو ته چې د رسول اللهﷺ پيغمبرۍ نه منکر سول سزا ورکړه سي.

{د قيامت په ورځ د کافرانو بد حال لنډ انځور}

درندو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د کافرانو د بد حال تصوير يا انځور زمونږ په مخکې ايښئ دئ، ترڅو هوښياران

ورځخه پند او کټه واخلي او ایمان راوړي او ښـــه وکړي، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلْمُهْتَدِ ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُمْ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِهِۦ ۖ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا ۖ مَّأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَٰهُمْ سَعِيرًا ﴿٩٧﴾ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿٩٨﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ أَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيهِ ۖ فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورًا ﴿٩٩﴾ قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّىٓ إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ ٱلْإِنفَاقِ ۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ قَتُورًا ﴿١٠٠﴾﴾

[٩٧ - ٩٨] ای پیغمبره! [او ته ډاډه او مطمئن اوســه] هر څوک چې الله هدایت کړي او پر سمه لار د تک توفیق ورکړي، نو هغه هدایت سوئ دئ او د حق پر ســمه لار باندې روان دئ، خو هغه څوک چې الله د حق لارې نه ورک کړي، نو بیا ته ای پیغمبره! دغو ورکو کســانو ته د الله نه پرته بل څوک ملګري نه مومې، ترڅو د دوی مرسته وکړي [یعني بیا دغه د حق لارې نه ورک ســوي کســان چې ایمان یې رانوور او کافران د دنیا نه لاړل] دوی مونږ د قیامت په ورځ پرمخې پراته ړلانده، کانه او ګنګان راغونډوو او د دوی اســتوګنځئ به د دوزخ اور وي، او کله چې د دې اور ســرې لمبې لږ کیږي، نو بیا بیرته د دې اور ســرې لمبې راډیروو او هغه د کافرانو ســزا ده، ځکه دوی د زمونږ کتاب آیتونو نه منکر ســول او د پیغمبرانو خبرې یې ونه منلې او دغو کافرانو په دنیا کې و یل: کله چې مونږ اډوکې او ایره ســوو، نو آیا بیا بیرته مونږ نوي راژوندي کیږو؟ یعنی دا چې د مرګ نه وروســته بیا ژوند نســته، نو حســاب، ثواب او عذاب هم العیاذ بالله نسته!

نو بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د کافرانو حيرانتيا د مړ ينې نه وروسته بيرته د قيامت ورځې په باره کې ځواب کړې ده، او فرمايلي دي:

[٩٩] او آيا کافرانو ونه ليدل چې يقينا هغه الله چې ځمکه او اسمانونه يې پيدا کړل؛ هغه کولای سي چې د دوی غوندې خلک نور هم پيدا کړي، او دغو خلکو ته الله د دوی د اجل داسې نيټه ټاکلې ده چې په هغه کې هيڅ شك نسته، خو دغو ظالمانو د کفر نه پرته بله خبره ونه منله، يعنی د حق منلو نه منکر سول او په خپل کفرکې همداسې پاتې سول!

[١٠٠] [نو ته ای پيغمبره! [کافرانو ته] ووايه: که تاسې د زما رب رحمت خزانو څښتن وای، نو بيا به تاسې د دغو خزانو لږ يدلو يا خلاصيدلو د و يرې خپل لاسونه د ورکړې نه کلک نيولې ول، ځکه انسان ډير بخيله او ممسك مخلوق دئ!

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونوکې د کافرانو ټولې خبرې ردې کړې دي، او بيايې رسول الله ﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ چې حق ته هدايت د الله کار دئ او الله چې چا ته د هدايت توفيق ورکړي، نو هغه پر سمه لار روانيږي، او په پای کې بيا الله تعالى کافران د آخرت په ورځ د خپلو سختو سزا ګانو نه خبر کړي دي او کلک يې ور باندې ګواښلي دي.

{موسی د نهو معجزو سره پيغمبر ؤ خو فرعون کوډګر و باله}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د موسی عليه السلام قصه په لنډو الفاظوکې مشرکانو ته د پند او عبرت اخستلو په مقصد ياده کړی ده، ځکه موسی عليه السلام د ډيرو مادي معجزو سره فرعون ته راوليږل سه، خو فرعون د هغه معجزې ونه منلې او موسی ته يې کوډګر وو يل او پر خپل کفر باندې يې همداسې ټينګار وکه، ترڅو الله تعالى دئ په سمندرکې هلاك سوئ ډوب که، نو د مکې مشرکانو ته ښايي چې د فرعون پيښې او تقليد ونکړي او د مادي معجزو غوښتونکي نسي، او بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ فَسْـَٔلْ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ لَهُۥ فِرْعَوْنُ إِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسْحُورًا ﴿١٠١﴾ قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا ﴿١٠٢﴾ فَأَرَادَ أَن يَسْتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ فَأَغْرَقْنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعًا ﴿١٠٣﴾ وَقُلْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ لِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱسْكُنُوا۟ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْءَاخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا ﴿١٠٤﴾﴾

[١٠٠] او يقينا چې موسى ته مونږ نه معجزې ورکړې [يعنى دغو ټولو مادي معجزو د موسى پيغمبرى تصديق کا وه] نو ته اى پيغمبره! د بني اسرائيلو نه د دغو معجزو پوښتنه وکړه [ترڅو دوى تا ته اى پيغمبره! د دې خبرې تصديق وکړي، او دغه نه معجزې موسى ته مونږ هغه وخت ورکړې] چې کله موسى بني اسرائيلو ته راغئ، نو بيا فرعون ورته وو يل: اى موسى! زه داسې ګمان کړم چې پر تا باندې کودې سوې دي!

[١٠٢] [موسى فرعون ته په ځواب کې] وو يل: ته خو يقينا پوهيږې [چې دا نه معجزې] د اسمانو او ځمکې څښتن الله لاږسود دليلونه رانازل کړي دي [يعنى ترڅو هوښياران ور باندې د الله پر توحيد باندې په ر بو بيت او الوهيت کې؛ استدلال وکړي او د موسى پيغمبري ومني] او زه يقينا ګمان کړم چې ته اى فرعونه! هلاك سوئ يې، يعنى دا چې ته به هرومرو مختورن هلاك سې.

[١٠٣] نو فرعون وغوښتل چې بني اسرائيل د مصر خاوري نه وشړي، نو بيا مونږ فرعون او ورسره ټول لښکريې په سمندرکې ډوب سوي هلاك کړل، يعنى بني اسرائيل نور د فرعون شر نه خلاص سول.

[١٠٤] او د فرعون [هلاکت]نه وروسته بيا مونږ بني اسرائيلو ته [اعلان وکه او ورته مو] وو يل چې پر دغه ځمکه (سينا) کې ميشت سى، او کله چې د قيامت ورځ راغله، نو بيا به تاسي ټول يوځاى حساب ورکولو ته راولم، يعنى د قيامت په ورځ بيا الله تعالى ظالم او مظلوم ټول سره

يوځای کوي، او ظالمان به د جهنم په اورکې وکړوي، او مظلومان به چې پر الله او پيغمبرانويې ايمان راوړ په جنتونو ونازوي.

{قرآن د الله نه را نازل سوئ حق پيغام او د اسلام تګ لاره ده}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې چې د الإسراء مبارکې سورې وروستي آيتونه دي رسـول اللهﷺ ته الله تعالى په ډاډ ورکولو سـره د قرآن مجيد په حقانيت او ر يښـتينوالي باندې ټينګار کړئ، او د ا پيغام يې رسـول دئ چې اعتدال او منځ در يځی ته بلنه د اسلام تګ لار ده، او فرمايلې دي:

﴿وَبِٱلۡحَقِّ أَنزَلۡنَٰهُ وَبِٱلۡحَقِّ نَزَلَۗ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ١٠٥ وَقُرۡءَانٗا فَرَقۡنَٰهُ لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٖ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلٗا ١٠٦ قُلۡ ءَامِنُواْ بِهِۦٓ أَوۡ لَا تُؤۡمِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهِۦٓ إِذَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ يَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ سُجَّدٗا ١٠٧ وَيَقُولُونَ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعۡدُ رَبِّنَا لَمَفۡعُولٗا ١٠٨ وَيَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ يَبۡكُونَ وَيَزِيدُهُمۡ خُشُوعٗا ١٠٩﴾

[١٠٥-١٠٦] ای پيغمبره! او قرآن مونږ په حق او ر يښـتيا سـره رانازل که او هغه په حق سـره رانازل سـه، او ته ای پيغمبره! مونږ خلکو ته پر جنتونو ز يرئ ورکونکئ او د دوزخ نه ګواښـونکئ را ليږلئ يي، او قرآن مونږ پر تا باندې بيل بيل [آيتونه آيتونه، سـورې سـورې] را نازل که، ترڅو ته هغه خلکو ته په دمې دمې سـره ولولې، نو هغه مونږ په څو کلونوکې [د حالاتو غوښتنې سره سم] را نازل که، يعنی د قرآن ډير آيتونه او سورې د نزول ځانګړي اسباب او د رانازليدو خپل عوامل او شأن نزول لري.

عزتمنو دوسـتانو! د قرآن نزول پر رسـول اللهﷺ باندې په مکه کې بيل بيل پيل سـه او بيا د ټول قرآن نزول په درو يشـتو کلونوکې په مدينه منوره کې پوره سه، ترڅو رسول اللهﷺ هغه خلکو ته په دمه دمه ولولي، نو ښـايي چې مونږ هم قران په دمه دمه تلاوت کړو او په لوسـتلوکې يې تلوار ونکړو، او په فکر کړو او کلک تدبر سـره او د معنا په پوهيدو سـره

يې ولولو، ترڅو د هر آيت کلمو په معنا او مراد ښه پوه سو او پکې ژور فکر وکړو او بيا ور باندې عمل کړو ته تيار او چمتو سو.

هو! په قرآن کې د عقيدې، عبادت، شر يعت، او د را کړې ورکړې معاملاتو، اخلاقو او د ژوند ټولو چارو پوره حکمونه او آداب بيان سوي دي، او هم پکې د آخرت ورځې مسئلې جنت، دوزخ، او نور احکام ښه روښانه بيان سوی دي، ترڅو مونږ پرې پوه سو او ور باندې عمل وکړو.

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى کافران ننګولي دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

[۱۰۷-۱۰۹] ای پيغمبره! [کافرانو ته اعلان وکړه او ورته] ووايه: تاسې که پر قرآن ايمان راوړی او که ايمان را نوړی [يعني د ستاسې ايمان او کفر قرآن ته هيڅ ز يان او تاوان رسولای نسی] او يقينا هغو کسانو ته چې د قرآن نه وړاندې علم او پوهه ورکړل سوي ده، نو بيا چې کله پر دوی باندې قرآن تلاوت کيږي؛ دوی پرمخې پرځمکه لو يږی او الله ته سجده کړي او وايي: د زمونږ هغه لوی څښتن ته پاکي ده چې خپلې وعدې پې خلکو ته ر ښتيا ړ کړي، يعنی د اهل کتابو هوښياران په ډيرې خوښی سره د شکر سجدې کړي او پر ځمکه پرا ته الله ته په زړا سره زاري کړي او د قرآن تلاوت د دوی زاري لا ډيروي.

قدرمنو ورونو او خو يندو! د پام ور ده چې د دې مبارك آيت په تلاوت او اور يدلو سره د تلاوت سجده واجب ده.

{الله او الرحمن ټول د الله تعالى ښکلي نومونه دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى پر خپلو ښکلو نومونو باندې ټينګار کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا ١١٠ وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّ

﴿وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا ﴿١١١﴾﴾

[١١٠] ای پیغمبره! [خلکو ته] ووایه: د ستاسې خوښه که خدای د الله په نامه یاد کړی او یایې د الرحمن په نامه، په هر نامه چې الله یاد کړی او خپلو ځانو ته یې راوغواړی، نو د الله نومونه ټول ښکلي دي، او ته ای پیغمبره! قرآن په خپل لمانځه کې مه ډیر په جګ غږ لوله او مه یې په ډیر ورو غږ او په دې دواړوکې منځنۍ لار غوره کړه!

قدرمنو دوستانو! دلته د الله تعالی مقصد او مراد پر مشرکانو رد او انکار دئ،ځکه کله چې پیغمبرﷺ خپل خدای الله تعالی په الرحمن یاد که، نو دوی نیوکه وکړه، نو په ځواب کې یې دا آیت رانازل ســه، معنا دا چې الرحمن د الله ښکلو نومونو نه یو نوم دئ او الله تعالی پرې یادیږي.

[١١١] ای پیغمبره! ووایه: ټول حمد او ســتاینه د الله لره ده او الله هغه څوک دئ چې نه یې ځان ته څوک زوی نیولئ دئ او نه ورسره په خپله ټولواکۍ کې څوک شــر یك دئ، او نه یې څوک مل او ملګرئ دئ، ترڅو د الله مرسته وکړي، او ای پیغمبره! الله په ډیره لو یتیا سره یاد کړه.

درندو عز یزانو! د الاسـراء مبارکه سـوره د الله تعالی عظمت، لو یتیا او د ستاینې په یادونې سره پیل سوې ده او بیا ور باندې پای ته رسیدلې ده، نو ښایي چې مونږ خپل رب الله سبحانه وتعالی تل همداسې وستایو او په لو یتیا او عظمت او د هر عیب او نقصــان نه یې په پاکۍ ســره یاد کړو، لکه څنګه چې رسـول اللهﷺ د الله تعالی په حمد، تسـبیح او تکبیر و یلو باندې تل مونږ ته په ډیر ټینګار سره سپارښت کړئ دئ.

ګرانو عز یزانو! د الله تعالی ټول نومونه (أسـماء الله الحسـنى) دي، لکه څنګه چې یې همدلته فرمائلي دي(فَلَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ)او د ټولو أسـماء الحسـنى شـمیر نه نوي دئ(٩٩) لکه څنګه چې رسـول الله ﷺ فرمائلي دي:(إن لله تسـعة وتسـعون اسـما؛ مائة إلا واحدا من أحصـاها دخل الجنة)متفق علیه.معنا دا چې: یقینا الله تعالی نه نوي یا یو کم سـل نومونه لري، نو چاچې هغه وشــمیرل جنت ننووت یا جنت ننوځي، نو

مومن بنده چې کله الله تعالى د اسماء الله الحسنى نومونو نه په هر نامه یاد کړي؛ لوی ثواب کېږي، او د یادونې وړ ده چې د اسماء الله الحسنى نه یوازې اوولس نومو نه د الحشر مبارکې سورې په آخرکې یاد سوي دي او پکې الله تعالى فرمائلي دي:(هو الله الذي لا إله إلا هو عالم الغيب والشهادة هو الرحمن الحيم...الأيات)

والحمد لله الذى بنعمته تتم الصالحات، وصلى الله وسلم على رسوله المصطفى المختار الذي بلغ الرسالة، وأدى الأمانة، ونصح الأمة.

سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



﴿د الکهف سورې پښتو معنا اولنډ تفسیر﴾

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

الحمد لله الذي أنزل على عبده الكتاب ولم يجعل له عوجا، وصلى الله وسلم على رسوله المبعوث مبشرا ونذيرا.

{د الکهف سورې ثواب اوپه ازمایښتونو کې د ایمان بیلګې}

قدرمنو وروڼو او خو یندو! د الکهف مبارکه سوره مکي سوره ده او لوړ مقام او ډیر فضیلتونه او ثوابونه لري، امام مسلم په خپل صحیح کې روایت کړئ دئ چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:"څوک چې د الکهف سورې پیل او پای نه لس لس آیتونه زده کړي او هغه ولولي، نو دئ الله د دجال فتنې او د لوی ازمایښت نه ساتي"او همداسې ابو عبدالله الحاکم نیشاپوري په المستدرك کې روایت کړئ دئ چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:"څوک چې د الکهف سوره د جمعې په ورځ ولولي، نو هغه ته الله د دوه جمعو په منځ کې شپه او ورځ رڼا کوي" معنا دا چې لوستونکئ یې الله تعالی د خطرنو او ازمایښتونو نه ساتي او ورته د تک سمه لار رڼا کوي، ځکه په دې مبارکه سوره کې الله تعالی مونږ ته هغه څلور قصې ډیرې روښانه یادې کړې او بیان کړې دي چې په تیرو امتونو کې پېښې سوې دي، او پکې مومن بنده الله تعالی د څلورو غټو فتنو او ازمایښتونو ګواښ نه سر لوړئ را و یستلئ دئ، لکه د دین لو یه فتنه چې اصحاب الکهف الله ورڅخه وساتل، او د مال فتنه چې مومن بنده الله ورڅخه وساته، او در یمه د علم فتنه چې خضر علیه السلام الله ور باندې وساته، او څلورمه د ځواک فتنه چې ذو القرنین الله پرې وساته.

{د الكهف مبارکې سورې لوړ اهداف او مقصدونه}

درندو دوستانو! د الكهف مباركه سوره مكي سوره ده، او په پيل او په پای کې يې الله تعالى مونږ ته خپل توحيد په ر بوبيت، الوهيت او عبادت کې بيان کړئ دئ او مونږ يې ورته رابللي يو، او همدارنګه په دې مباركه سوره کې الله تعالى د بشر يت تير تار يخ نه دا پورته يادې سوې قصې يادې کړې او بيان کړې دي، او هغه د مکې کافرانو رسول اللهﷺ نه د اهل کتابو په لمسون د ازمايښت په مقصد و پوښتلې او په ځواب کې يې د الكهف مبارك آيتونه را نازل سول، نو په دې قصو کې د رسول اللهﷺ د پيغمبرۍ کلک تصديق سوئ دئ، ځکه رسول اللهﷺ په ليک او لوست نه پوهيده چې کيداى سي دا قصې يې په پخوانيو کتابونو کې لوستې وي، نو د دې قصو ماخذ او مدرك د وحى يې نه پرته بل څه شئ نه ول، او همدارنګه د دغسې ارزښتناکه لارښودنو نه پرته په دې مباركه سوره کې نورې ډيرې ګټورې لارښودنې هم مونږ ته الله تعالى يادې کړې او ښودلې دي، او يقيناچې په عملي کولو سره يې مومنان د دنيا او آخرت ښادئ او نيکمرغۍ ته رسيږي.

{قرآن مومنانو ته د الله ز يرئ ورکونکئ پيغام دئ}

هو! د الكهف مبارکې سورې په پيل کې د قرآن عظمت او رسالت په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ۝١ قَيِّمٗا لِّيُنذِرَ بَأۡسٗا شَدِيدٗا مِّن لَّدُنۡهُ وَيُبَشِّرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرًا حَسَنٗا ۝٢ مَّٰكِثِينَ فِيهِ أَبَدٗا ۝٣ وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗا ۝٤ مَّا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٖ وَلَا لِأٓبَآئِهِمۡۚ كَبُرَتۡ كَلِمَةٗ تَخۡرُجُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡۚ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبٗا ۝٥ فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ إِن لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَسَفًا ۝٦﴾

[١-٣] ټول حمد او ستاینه د الله حق دئ چې پرخپل بنده (محمد ﷺ) باندې یې قرآن رانازل که، او په قرآن کې هیڅ ډول ککښت نسته [یعنی قران د حق نه پرته بلې خوا ته پام نه دئ اړولئ] او دا کتاب (قرآن) سمې لارې ته لارښود دئ، ترڅو کافران د الله سختې سزا نه کلک وګوابنې او مومنانوته ز یرئ ورکړي، ځکه دوی هغه کسان دي چې ښه کړي [یعنی په توحید سره د الله بنده کې کړي] او مومنانوته ښه ډیر ثواب دئ [یعنی هغه د الله تل پاتي جنت دئ] او دوی به پکې تل اوسیږي، یعنی مومنان به د الله نعمتونو نه په جنت کې خوند ا خلي.

[٤-٥] او قرآن هغه کسان ګوابنې [یعنی د الله سزا نه یې و یروي چې دوی الله پسې تور ولږا وه] او و یو یل: الله ځان ته زوی ونیوه او دا کافران او د دوی پلرونه په دغسې تور هیڅ پوهه او دلیل نه لري [یعنی دا خبرې دوی الله تعالی پسې د خپلې ګیډې نه کړي] او دغه دروغژنه خبره چې د دوی خولونه را ووتله؛ ډیره لو یه ناروا خبره وه او دوی دروغ وایي، یعنی دا ځکه چې الله تعالی یو دئ او هیڅ څوک شر یك نه لري او نه د چانه پیدا سوئ دئ او نه بل څوک د الله نه پیدا سوي دي، لکه څنګه چې په قل هو الله احد سوره کې ور باندې ټینګار سوئ دئ! او دا ګوابنې ځینو هغو مشرکانوته دئ چې دوی ملائکې د الله لونه و بللې، او دا ګوابنې اهل کتابو (یهودو او صاراوو) ته هم متوجه دئ.

[٦] نو ای پیغمبره! لکه چې ته ډیر خفه یې چې دغو کافرانو ولې د الله کلام (قرآن) پسې سپکې خبرې وکړې او ایمان رانوړ، او کیدای سي چې ته د ډیر خفتیان نه ځان مړ کړي! [نا؛ ای پیغمبره! د کافرانو په کفر مه خفه کیږه، ځکه تا خپل رسالت چې د الله د دین تبلیغ دئ پرځای که، نو اوس د دوی خپله خوښه] یعنی هرڅوک چې قرآن نه مني هغه به د خپلې ګناه هغه سزا ګالي چې کافران الله ور باندې ګوابلي دي.

ګرانو دوستانو! د الله تعالی دا لارښودنه رسول الله ﷺ ته؛ یو ډیر ضروري پیغام اسلام پالو دعاتوته رسوي، او هغه دا چې د دوی دا رسالت او دنده یوازې دعوت او خلکوته د اسلام رسول دي، نور نو د خلکو خپله

خوښـــه چې هغه مني او کنه؟ او دعاتوته نه ښـــايي چې ځانونه د ډير خفتيان نه وزوروي او بيا کافران د دوی سپکا وئ وکړي.

{د ځمکې په سر مخلوقاتو ښکلا د دوی د کړنو تله ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د خلکو ازمايښت بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى ٱلْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۝٧ وَإِنَّا لَجَٰعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا ۝٨﴾

[٧] هو! د ځمکې پر ســر ټول مخلوقات مونږ هغې ته يقينا ښــکلا ګرځولي دي، ترڅو خلک مونږ وازمايو چې څوک [د زمونږ نه په اطاعت ســره او د ګناه نه په ځان ســاتنې ســره] ښــه کړی؟ يعنی د دنيا ژوند ټولو خلکوته د ازمايښــت ډګر دئ، ترڅو په ځمکه کې د ښــو کړنو خاوندان (مومنان) د بدو خلکو او کافرانو نه بيل ســي، او بيا هرچاته الله د هغه ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکړي.

[٨] او يقينا چې د ځمکې پرســر ټول مخلوقات مونږ وچه خاوره ګرځوو، يعنی داسې چې هيڅ شئ به پکې نه راشنه کيږي، او يقيناچې د دنيا ژوند ټول د ازمايښت او لوی امتحان تيريدونکئ ژوند دئ، ترڅو ښه او بد سره بيل سي او بيا هرچاته د هغه ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکړه سي، او په دنيا کې هيڅ څوک تل پاتې ژوند نه لري، نو نه ښايي چې څوک د دنيا ژوند نه په خوند اخستلو سره وغولېږي!

{ په سمڅ (کهف) کې د پټ سووزلمکيانو قصې لوی ازمايښت }

او بيا په ور پســې مبارکو آيتونو کې په کهف يا ســمڅ کې د پټ ســوو هغو زلمکيانو قصــه مونږ ته الله تعالی ياده کړې ده چې د دوی پوښــتنه د مکې مشرکانو د رسول اللهﷺ نه وکړه، او دا قصه د لوی ازمايښت قصه

ده، او په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُوا۟ مِنْ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا ۝٩ إِذْ أَوَى ٱلْفِتْيَةُ إِلَى ٱلْكَهْفِ فَقَالُوا۟ رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ۝١٠ فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ فِى ٱلْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا ۝١١ ثُمَّ بَعَثْنَٰهُمْ لِنَعْلَمَ أَىُّ ٱلْحِزْبَيْنِ أَحْصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓا۟ أَمَدًا ۝١٢﴾

[۹] ای پیغمبره! آیا تا په یقین سره دا ګومان وکه چې په سمځ کې پټ سوي زلمکیان او د دوی د نومونو لیکل سوې لوحه؛ د زمونږ قدرتونو یوه حیرانونکې نښه وه؟ [ځواب: نا! داسې خیال او ګمان مکړه، ځکه د زمونږ قدرتونو لویې نښې د ځمکې او اسمانو په پیدایښت کې ځلیږي] یعنی نو دا نښې په ر یښتیا سره د حیرانتیا وړ نښې دي، ځکه هغه په حق سره د الله تعالى پیژندنې او عبادت ته دعوت او بلنه ده.

[۱۰] [ای پیغمبره!] او هغه وخت را په یاد کړه کله چې دا مومن زلمکیان په سمځ کې پټ سول [یعنی د خپل کافر قوم و یرې نه یې ځانونه ورک کړل] نو بیا یې دعاء وکړه او و یو یل: ای د زمونږ ر به او لو یه خدایه! مونږ ته خپل رحمت راکړه او د زمونږ تک لار را ته رڼا او اسانه کړه، یعنی ترڅو مونږ سم ور باندې لاړ سو او ورک نسو او خپل مقصد ته په اسانۍ سره پرته له کمې اندیښنې او ګوابښ نه ورسیږو.

[۱۱] نو بیا مونږ د دوی غوږونه په سمځ کې درانده کړل او ښه ډیر کلنو په سمځ کې په خوب کې و یده پاتې سول.

[۱۲] او بیا دوی مونږ د اوږده خوب نه راو یښ کړل، ترڅو مونږ یوه سو [یعنی خپله ازلي پر یکړه خلکوته ښکاره کړو] چې د خلکو نه کمې ډلې د دوی د اوسیدلو شپې او ورځې په دې سمځ کې ښې شمیرلې دي؟ یعنی دا چې دغو زلمکیانو څومره شپې او ورځې په غار کې تیرې کړې دي؟ ځکه د خلکو په منځ کې اختلاف وه چې دوی په غار کې څومره وخت تیر کړئ دئ؟

{ د اصحاب الکهف قصې بې مخنۍ انځور }

او په ور پسي مبارکو آيتونو کې الله تعالى همداسي دغه د کهف مومنو زلمکيانو قصه په ر ښتيا سره رسول الله ﷺ او ټول امت ته انځور کړې ده، او په پوره بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿نَّحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِٱلْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ءَامَنُوا۟ بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَٰهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾ وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا۟ فَقَالُوا۟ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَا۟ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهًا ۖ لَّقَدْ قُلْنَآ إِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾ هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً ۖ لَّوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِم بِسُلْطَٰنٍۭ بَيِّنٍ ۖ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ﴿١٥﴾ وَإِذِ ٱعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأْوُۥٓا۟ إِلَى ٱلْكَهْفِ يَنشُرْ لَكُمْ رَبُّكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَيُهَيِّئْ لَكُم مِّنْ أَمْرِكُم مِّرْفَقًا ﴿١٦﴾ *وَتَرَى ٱلشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ ٱلْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ وَهُمْ فِى فَجْوَةٍ مِّنْهُ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ۗ مَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلْمُهْتَدِ ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ وَلِيًّا مُّرْشِدًا ﴿١٧﴾ وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ ۚ وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ ٱلْيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِ ۖ وَكَلْبُهُم بَٰسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِٱلْوَصِيدِ ۚ لَوِ ٱطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا ﴿١٨﴾﴾

[١٣] هو! ای پيغمبره! مونږ تاته د دغو زلمکيانو قصه په حق او ر ښتيا سره کړو، او يقينا چې دوی زلمکيانو ول او پرخپل رب پې ايمان راوړ [يعنى الله تعالى پې په توحيد سره و پيژاند] او د دوی ايمان او په سمه لار تګ مونږ ښه ډير غښتلئ کړ.

[١٤] او کله چې دوی [د خپل کافر پاچا پر وړاندې] ودر يدل، نو د دوی زړونه مونږ وتړل [يعنى دوی مونږ ډاډه کړل] نو بيا يې وو يل: زمونږ رب د اسمانونو او ځمکې څښتن او لوی ذات دئ، او مونږ د الله نه پرته بل خدای نه غواړو! [يعنى دا ځکه چې که چيرې مونږ د بل چا عبادت او

بنده ګې وکړه، نو بيا به د حق نه ډير لرې سوي وو] او د زمونږ خولو نه به پرته خبرې وتلې وي.

[۱۵] او دا خلک د زمونږ خپل قوم او ټبر دئ، خو دوی د الله نه پرته نور خدايان ځانوته نيولي دي، نو ولې دوی د دغو خدايانو په عبادت باندې روښانه دليل نه راوړي؟ نو بيا څوک د هغه چا نه ډير ظالم دئ چې الله پسې دروغ وايي، يعنی بل څوک د الله سره په خدايي کې شر يکوي؟ ځواب دا چې بل هيڅ څوک د دغو مفترياتو نه ډير ظالم نه دئ.

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونو کې دغو زلمکيانوته چې د الله تعالی توحيد په سر د خپل قوم نه بيل سول لارښودنه کړي ده او ورته يې فرمايلي دي:

[۱۶] هو! کله چې تاسې ای مومنو زلمکيانو! د خپل کافر قوم نه بيل سوی او د دوی ناحقه معبودان تاسې پر ښودل او يوازې د الله عبادت او بنده ګي کړی، نو په هغه غار او سمڅ کې پټ سی چې هغه په غره کې ده، او الله به د خپل رحمت سورئ پر تاسې باندې خوروي او تاسې ته د ستاسې چاري [په دنيا او آخرت کې] سموي، يعنی عزت او سرلوړي به د ستاسې په برخه سي او ښاد به سی.

[۱۷] [او بيا چې کله دغو مومنو زلمکيانو دا کار وکه او د خپل کافر قوم او د دوی خدايانو نه بيل سول او په غار يا سمڅ کې ميشت سول] نو بيا به ته ګورې چې کله د سحر ورځې لمر راخيځي، نو د دوی د سمڅې خولې نه ښې خوا ته اوړي، او بيا چې کله لمر پر يوځي، نو د دوی مينې نه کين خوا ته اوړي او دوی ورځخه لرې کوي [يعنی دوی به په خپل تم ځای کې په خلاصه هوا کې همداسې پرا ته پاتې وي او د لمر سترګې وړلانګې پردوی باندې مخامخ نه لږيږي] او هغه د الله قدرتونو يوه نښه ده، او الله چې څوک هدايت کړي [يعنی په سمه لار د تګ توفيق ورکړي] نو بيا هغه هدايت سوئ دئ [ځکه د الله توفيق يې په برخه سوئ دئ] او څوک چې الله ورک او د سمې لارې نه کوږ کړي، نو ته ای پيغمبره! هغه ته [د

الله نه پرته]هیڅ څوک ملګرئ او لارښـــود نه مومي، یعنی دا ځکه چې توفیق ورکول په هدایت او یا د چا پر یښـــودل د ســـې لاړې نه په ورکتیا کې؛ د الله کار دئ او الله خپل بنده ګان ښه پیژني چې څوک د مرستې لائق دئ چې پرســمه لار لاړ ســي، او څوک یې لائق ندي چې د حق لارې نه ورک سي.

قدرمنو دوستانو! دا د الله تعالی هغه تل پاتې سنت او کړن لاره ده چې هغه یې د خپلو بنده ګانو د چارو چلول اسبابو سره تړې ده او هیڅ کار په خپل ســـر نکیږي، او کله چې د الله پیغمبران او د دوی وارثان او د لارې لارو یان د دښـمنانو لخوا د ګواښـونو سـره مخامخ کیږي، نو ښـایي چې د هغه دښـمن نه چې زور یې نه لري بیل او مهاجر سـي او په یو ډاډمن ځای کې پټ ســي، ترڅو ګواښـــونه د دوی نه لرې ســي، او بیا ده په مناســـب فرصت کې راښکاره سي او د دعوت انګړ ته ده راووځي او خپل رسالت او پیغام ده خلکوته ورســوي، نو د کهف اصـحابو مومنو زلمکیانو دا کار د الله تعالی نه په الهام ســره تر ســره که، لکه څنګه چې د اســلام پیغمبر محمد ﷺ د هجرت په کال د مشــرکانو ګواښ نه د ثور غره په څوکه کې پرا ته لوی ګټ لاندې ســوړه کې د ابوبکر صـدیق رضی الله عنه په ملګرتیا ســره پټ ســه، او بیا چې کله د مشــرکانو پلټنه او څار ودر یده، نو بیا رســول الله ﷺ خپل صادق یار ابو بکر صدیق سره مل د سمڅې یا غار نه راووت او مخ په یثرب یې خپل اوږد مزل پیل که، ترڅو چې د الله تعالی په توفیق سره ســلامت مدینې منورې ته ورســیدل، او بیایې د الله تعالی دین په مدینه منوره کې او د هغې په شــاوو خوا کلیو او باندو کې خور که او د اســلام لمړنۍ اســلامي ټولنه او پیغمبرۍ دولت یې جوړ که، ترڅو چې بیا د الله تعالی دین د ټول قرآن په رانازلیدو سره کامل او پوره سه او مکه هم فتحه سوه، او د عر بانو لویې جز یرې ټول کلي د اسلام واکمنۍ لاندې راغلل او حق ســر لوړئ او بر یالئ ســه، او د کفر او شــرك بیرغ الحمد لله په ټوله جز یرة العرب کې سر کوزئ او مات سوئ مختورن سه.

[۱۸] [او ته ای لیدونکیه!] دا په ســمڅ کې پرا ته زلمکیان و یښ ګڼې،

خو حقیقت دا دئ چې دوی په درانده خوب و یده دي، او مونږ دوی ښـي خوا او کین خوا ته اړوو را اړوو، یعنی ترڅو د دوی د ډډې ځمکه ونخوري او د دوی سپي خپلې څنګلې د غار په وره کې خورې کړې دي او هلته پروت دئ، او کـه تـه [ای ننـداره کونکیـه!] کلـه وغواړي چې د کهف اصـحـاب وو یې، نو د و یرې به ورڅخه بیرته را وګرځې او په تیښته به سي، او د ستا ټول ځان به د و یرې نه ډک سي او غونډ بده ز یږ سي.

قـدرمنو عز یزانو! دا وضـــاحت دلتـه د یادونې وړ بولم چې هو! د دې مبارك آیت معنا کولو سره سم زما غوښې کلک ز یږه سـول او دغسې حالت ماته دې ته ورته قصو په اور یدلو سره تل پیښیږي، نو یقیناچې تفسیر یې د دغسې قصو د تصدیق ښکارندوی دئ.

ګرانو دوســتانو! الله تعالی په دي مبارکو آیتونو کې مونږ ته د دغو مومنو زلمکیانو چې د خپل کافر قوم نه بیل سـوي ول او په یوه سـمڅ کې پټ ول؛ ځانګړئ تصـو یر یا انځور وړاندې کړئ دئ، او هغه د الله تعالی د لو یو قدرتونو ښـکارندوی دئ، ترڅو دوی په همدې ډول سـلهاوو کلونه په ســمڅ کې ژوندي په خوب کې پاتې ســي او هیڅ څوک د دوی خوا ته د ورتګ جرأت ونکړي، او بیا چې کله الله تعالی دوی راو یښ کړل او د اوږده خوب نه راجګ سـول، نو د یو بل نه یې پوښـتنې پیل کړي چې بیان یې الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې کړئ دئ.

{د الکهف مومنو زلمکیانو و یره د اوږده خوب نه وروسته}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د الکهف اصحابو لو یه معجزه چې د الله لوی قدرت ښه وه؛ مونږ ته یاده کړې او بیان کړې ده، او داسې یې فرمایلي دي:

﴿وَكَذَٰلِكَ بَعَثْنَٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوا۟ بَيْنَهُمْ ۚ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ ۖ قَالُوا۟ لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۚ قَالُوا۟ رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ فَٱبْعَثُوٓا۟ أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِۦٓ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ فَلْيَنظُرْ أَيُّهَآ أَزْكَىٰ طَعَامًا

فَلْيَأْتِكُم بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا ﴿١٩﴾ إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِي مِلَّتِهِمْ وَلَن تُفْلِحُوا إِذًا أَبَدًا ﴿٢٠﴾

[١٩-٢٠] [او لکه څنګه چې دا مومنه ډله زلمکیان سلهاوو کلونه مونږ په خوب کې همداسې و یده پر یښودل] همدارنګه دوی مونږ بیرته روغ رمټ د خوب نه راجګ کړل، ترڅو یو د بل نه و پوښتي چې څومره وخت په خوب کې و یده پاتې سوي دي؟ نو بیا ځینو وو یل: یوه ورځ او یا د یوې ورځې نه څه برخه و یده پاتې سوي یو، خو نورو بیا وو یل:[دا خبره الله ته وسپاری] ځکه الله د ستاسې څښتن دلته په خوب کې د ستاسې پاتې کیدو پر وخت باندې ښه پوه دئ، او یو کس د ستاسې نه د دې سپینو زرو سکو سره ښارته ولیږی، نو بیا ده دئ ښو پاکو خوړو پسې وګرځي او د هغو نه ده تاسی ته خواړه راوړي، او د سوداګرو سره ده ښه پوست او خوږ چلند وکړي او هیڅ څوک ده پرتاسې نه پوه کوي [ترڅو تاسې څوک ونه پیژني] ځکه یقینا که دا خلک پرتاسې پوه سول او وې پیژندلی، نو بیا تاسې یقینا په تیګو ولي [ترڅو مړه سی] او یا به تاسې بیرته خپل دین ته [چې کفر دئ] وروګرځوي، نو بیا به تاسې هیڅ کله بر یالي نه وی، یعنی خپل مقصد ته چې جنت دئ نه رسیږی!

قدرمنو دوستانو! دا مبارك آیتونه مومنو زلمکیانوته د دعوت او اسلام ته د رابلنې په لار کې د هوښیارۍ پاخه حکمت او پام کړو او زدکړی ډیر ګټور درسونه دي، نو ښایي چې پرې ځانونه ښه پوه کړو، او بیا د کافرانو ظلم نه د ځان ساتنې په لار کې دا ځانګړې قصه ځانوته لارښود وګرځوو او په رښا کې یې اسلامي دعوت پرمخ یوسو.

{د الکهف اصحابو قصه د قیامت ورځې پر راتګ شاهد دئ}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د الکهف اصحابو قصې لوی مقصد چې د قیامت ورځې یقیني راتګ دئ؛ مونږ ته یاد کړئ او بیان

کړي دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَكَذَٰلِكَ أَعۡثَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ لِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ لَا رَيۡبَ فِيهَآ إِذۡ يَتَنَٰزَعُونَ بَيۡنَهُمۡ أَمۡرَهُمۡۖ فَقَالُواْ ٱبۡنُواْ عَلَيۡهِم بُنۡيَٰنٗاۖ رَّبُّهُمۡ أَعۡلَمُ بِهِمۡۚ قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِمۡ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِم مَّسۡجِدٗا ٢١﴾

[٢١] [هو! لکه څنګه چې کلونه کلونه مونږ دغه زلمکيان په اوږده خوب کې و يده پر يښودل او بيا دوی مونږ راو يښ کړل] همدارنګه د هغه وخت خلک مونږ د دوی نه خبر کړل، ترڅو دوی په دې پوسې چې د الله وعدې د مړ ينې نه بيرته د راژوندي کيدو په باره کې ر يښتيا دي او د قيامت په راتلو کې يقيناچې هيڅ شك نسته [يعنی دغه د الکهف زلمکيان، لکه مړه (٣٠٩) کاله په خواږه خوب کې و يده پاتې سول او بيا دوی الله په داسې حال کې راو يښ کړل چې هيڅ باور يې نکا وه چې دوی به په دې سمڅ کې سلهاوو کلونه تير کړي وي، نو ځکه يې د سپينو زرو هغه زړه سکه چې د دوی سره وه؛ خپل يوه ملګري ته ورکړه، ترڅو دوی ته خواړه پرې واخلي او هغه ورته راوړي، خو کله چې سوداګر(دکاندار) دا زړه سکه وليدله، نو ور باندې کلک شکمن سه او نور سوداګر يې خبر کړل، ترڅو د الله تعالی د قدرتونو دا لو يه نښه خلکوته ښکاره سي او ايمان راوړي او د قيامت ورځې په راتګ يې يقين او باور راسي[نو بيا الله تعالی دا مومن زلمکيان بيرته په خپل ځای کې په کلک خوب و يده کړل] او د ښار خلکو د دوی پرسر په خپل منځ کې اختلاف وکه چې څه ور باندې وکړي؟ نو ځينو وو يل: وداني ور باندې جوړه کړی [چې دوی وساتي او بيا يې همداسې پر يږدي] ځکه د دوی خدای ور باندې ښه پوه دئ، خو د ښار زورورو مشرانو وو يل: مسجد به ور باندې جوړ کړو، يعنی د هغوی قبرونه به يو مقدس ځای سي او خلک به پکې لمونځ او عبادت کړي! خو قدرمنو عزيزانو! ښايي پام مو وي چې دا کار په اسلام کې روا نه دئ، ځکه رسول الله ﷺ مومنان د پيغمبرانو، صالحانو او ښو خلکو پر قبرونو باندې د مسجد جوړولو نه کلک منع کړي دي او په ګورو باندې يې مسجد

جوړول په دين کې ډيرول او بدعت بللئ دئ، ځکه کيدای سي د وخت په تيريدو سره عام خلک د قبر عبادت وکړی او خپل حاجتونه په قبر کې د خښ سوي مړي نه وغواړي، نو بيا به د شرك په لو يه ګناه کې ولو يړي، لکه څنګه چې يې ژوندي مثالونه يا بيلګې همدا اوس د اسلامي نړۍ په ډيرو هيوادونو کې يه سترګو و ينو او د دې شرکي بدعت بيلګې په تار يخ کې هم موجودې دي.

{د کهف ملګرو شمير الله ته معلوم دئ او جدال پکې روا ندئ}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د الکهف يارانو په شمير کې د ځينې اهل کتابو پوهانو اختلاف ياد کړئ دئ او رسول الله ﷺ او مومنانوته يې پکې ضروري لارښودنه کړې ده چې په دې مسئله کې ده بحث، مناظره او د يو بل سره جدال نکړي، او فرمايلي دي:

﴿سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًۢا بِٱلْغَيْبِ ۖ وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ ۬ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَآءً ظَٰهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا ﴿٢٢﴾ وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْىْءٍ إِنِّى فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَٱذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلْ عَسَىٰٓ أَن يَهْدِيَنِ رَبِّى لِأَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾ وَلَبِثُوا۟ فِى كَهْفِهِمْ ثَلَٰثَ مِاْئَةٍ سِنِينَ وَٱزْدَادُوا۟ تِسْعًا ﴿٢٥﴾ قُلِ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا۟ ۖ لَهُۥ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ أَبْصِرْ بِهِۦ وَأَسْمِعْ ۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِى حُكْمِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾﴾

[٢٢] هو! ځينې کسان به وايي چې د الکهف ملګرې درې کسان ول او څلورم يې سپئ ؤ، او ځينې به وايي چې دوی پنځه کسان ول او شپږم يې سپئ ؤ، دوی په پټو شيانو کې د ځان نه خبرې کړي، او ځينې نور بيا وايي چې د الکهف اصحاب او وه کسان ول او اتم يې سپئ ؤ، نو ته ای پيغمبره!

ووايه: د زما رب الله د دوی په شمير شپه پوه دئ او ډير لږ کسان پر دوی پوهيږي، او ته ای پيغمبره! د الکهف اصحابو په باره کې د چا سره پرته د لږ څه ظاهري او لنډ بحث نه؛ ژور بحث مکړه او د دوی په باره کې د اهل کتابو پوهانو نه د هيڅ چانه پوښتنه مکړه، يعنی هغه معلومات چې ترلاسه سوي دي؛ هغه بس دي، ځکه اهل کتاب هم په څه نه پوهيږي او د ځان نه غږ يږي!

[٢٣-٢٤] ای پيغمبره! [او هرکله چې تا د کم کار کړو قصد وکه] نو بيا په کلکه سره مه وايه چې زه صبا دا کار کړم، مګر دا چې [ان شاء الله ورسره] ووايې [يعنی که الله وغواړي] او کله چې دا د [ان شاء الله کلمه] د ستا هيره سوه، نو بيا ده خپل رب الله راپه ياد کړه [يعنی ان شاء الله ووايه] او هم ووايه: کيدای سي چې د زما رب الله ما د دې نه پرته د کمې بلې لنډې لارې نه حق ته حتما ورسوي، يعنی د هر کار پايله د الله مشيت او خوښې سره وتړه.

ګرانو دوستانو! دا هغه الهي ادب او لارښودنه ده چې هغه الله تعالی رسول اللهﷺ ته او د هغه امت مومنانوته کړي ده، نو ښايي هيڅ کله الله تعالی هير نکړو او څه چې کړو هغه د الله ارادې او غوښتنې سره وتړو، ځکه د الله ارادې او پر يکړې نه پرته هيڅ کار نکيږي، او روايت سوئ دئ چې کله قر يشو دا پوښتنې د رسول اللهﷺ نه وکړې، نو رسول اللهﷺ د وحی رانازليدو په هيله پرته د ان شاء الله و يلو نه؛ د قر يشو استازي ته په ځواب کې وو يل: صبا به ځواب درکړم، نو بيا وحيه وزنډيدله، او بيا چې کله وروسته د الکهف سوره رانازله سوه؛ په هغه کې دغه اسماني ادب او تعليم هم موجود ؤ، ترڅو د رسول الله ﷺ پام وي چې دئ هيڅ کله يو کار د الله تعالی مشيت او ارادې نه پرته کړای نسي، او دا لارښودنه د رسول اللهﷺ امت مومنانوته ډير پوخ درس او ضروري زدکړه ده.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کی الله تعالی داصحاب الکهف پاتې کيدلو کلونه (٣٠٩) کاله ياد کړي دي، او فرمايلي دي:

[٢٥] هو! د الكهف اصحاب درې سوه كاله چې نه كاله نور هم ور ز يات سول په سمځ كې پاتې سول، يعنى (٣٠٩) قمري كاله يې په خوب كې و يده په دې غار يا سمځ كې تير كړل.

[٢٦] اى پيغمبره! [او كه د ستانه چا د دغو زلمكيانو د پاتې كيدو كلونو وخت نه په سمځ كې پوښتنه وكړه، نو په ځواب كې ورته] ووايه: الله د دوى د پاتې كيدو په وخت يا موده باندې ښه پوه دئ [يعنى دا چې دوى په دې سمځ كې څومره وخت پاتې سول؟ الله ور باندې ښه پوهيږي] ځكه په اسمانو او ځمكه كې د پټو شيانو علم يوازې د الله سره دئ، او الله هغه ښه و يني او ښه يې اوري او هغوى د الله نه پرته بل څوك ملكرئ نه لري او نه دوى بل څوك د الله سره په حكم كې شر يكوي، يعنى الله تعالى يو لوى واكمن ذات دئ او هيڅ څوك شر يك نه لري.

{د الله حكمونه څوك بدلولاى نسى او الله د دين ساتونكئ دئ}

او د ور پسې مباركو آيتونو په پيل كې الله تعالى رسول الله ﷺ ته ډاډ وركړئ دئ چې د الله خبرې په قرآن كې هيڅ څوك بدلولاى نسي، ځكه د دين ساتونكئ الله دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَۖ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدٗا ٢٧ وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ٢٨ وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقٗا ٢٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا ٣٠ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَنَّٰتُ

عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَيَلۡبَسُونَ ثِيَابًا خُضۡرٗا مِّن سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۚ نِعۡمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتۡ مُرۡتَفَقٗا ٣١

[٢٧] ای پیغمبره! او د قرآن آیتونو نه هغه څه ولوله چې هغه تاته ستا د رب کتاب نه وحیه کیږي، او د قرآن خبرې څوک بدلولای نسي، او ته ای پیغمبره! د الله نه پرته بل څوک نه مومې چې تا وساتي، یعنی دا چې ته ای پیغمبره! په پوره ډاډ او اطمئنان سره د الله کتاب او په هغه کې د الله حکمونه خلکوته ورسوه، ځکه د پیغمبر او د هغه وارثانو دنده او رسالت دا دئ چې د الله دین ته خلک راو بولي او د الله کتاب خلکوته ورسوي او تبلیغ یې کړي او بیا دوی ور باندې وروزي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته سپارښت کړئ دئ چې پر مخلصو بنده ګانو باندې په خپل مجلس کې صبر وکړه او دوی ته لوړ مقام ورکړه او دوی ته د پاملرنې نه مه بې پروا کیږه، او په بیان کې فرمایلي دي:

[٢٨] او ای پیغمبره! خپل ځان ده هغو کسانو سره صبر کړه [یعنی دوی وزغمه] چې دوی صبا او بیګاه د خپل رب عبادت کړي او د الله رضا او خوښي غواړي [یعنی دوی وزغمه] او ته ده سترګې او پام د هغوی نه بل چاته مه اړوه! او ای پیغمبره! آیا ته د دنیا ژوند ښکلا غواړي؟ [یعنی دا چې ته خپل ملګري پر یږدي او یوازي د کافرانو سره د هغوی پرخوښه مرکه کړې، ځکه کافران نه غواړي چې بې وزره مومنان په مجلس کې درسره کیني، نو دا لکه چې ته ای پیغمبره! د دنیا ژوند خوښوي؟ خو دا کار د ستا نبوت سره لائق نه دئ] او ای پیغمبره! د هغه چا خبرې مه منه چې د هغه زړه زمونږ د یاد نه مونږ غافل کړئ دئ [یعنی الله د هغه په یاد نه دئ، ځکه] هغه خپلې خوښې پسې ځي، خو د هغه دا کړنې ټولې ضائع دي او هغه ته هیڅ ګټه نه لري!

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دې مبارک آیت کې رسول اللهﷺ ته او

د هغه لارې او د دین علماوو او دعاتوته کلک سپارښت کړئ دئ چې هیڅ کله ده خپل مخلص ملګري د کافرانو په خوله د خپل ځنګ نه؛ نه لرې کوي او کافران ده خپل ځان ته پردوی باندې نه وړلاندې کوي، او یقینا چې دا سپارښت دوی ته یو کلک ګواښ هم دئ او په دنیا او آخرت کې بدې پایلې لري، او د دي مبارك آیت د رانازلیدو سبب او عامل د مکې کافرانو هغه غوښتنه وه چې د رسول الله نه یې وکړه او هیله یې درلوده چې رسول الله ده هغه بې وزره مومنان، لکه حبشي بلال، او رومئ صهیب او فارسئ سلمان، او دوی ته ورته نور بې وزره صحابه رضی الله عنهم چې تل به د رسول الله سره ول؛ د خپل مجلس نه و باسې، نو اوس اسلام پالو مشرانو ته ښایي چې دا سپارښت تل په پام کې ولري او هیڅ کله خپل مخلص ملګري د ځان نه خفه نکړي، او دغه سپارښت چې په نورو مبارکو آیتونوکې هم په تکرار سره راغلئ دئ؛ د هغه پر اهمیت لو یه نښه ده.

[٢٩] او ای پیغمبره! [کافرانوته اعلان وکړه او ورته]ووایه: دا د حق پیغام[چې هغه تاسې ته ما راوړئ دئ] هغه د ستاسې پالونکي څښتن لخوا تاسې ته پیغام دئ، نو څوک چې خپل خیر غواړي؛ ایمان ده راوړي او څوک چې کفر غواړي کافر ده سي، او یقینا چې ظالمانوته مونږ د دوزخ اور تیار کړئ دئ، ځکه دوی کافران دي او د دې اور سرو لمبو دیوال به پردوی باندې راګرد وي، او کله چې دوی د ډیرې تندې نه او به وغواړي، نو د غوړو تیلو غوندې او به به ورکړل سي او دا او به د ډیر سوروالي نه د دوی مخونه، لکه کباب سوزي او هغه د څکلو ډیرې بدې او به دي[یعنی د دوی تنده نه ماتوي] او دوزخ د استوګنې ډیر بد ځای او مینه ده. نعوذ بالله منه ومن و یلات الجحیم.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانوته ز یرئ ورکړی دئ، او فرمایلي دي:

[٣٠] هو! یقینا هغو کسانو چې ایمان راوړ او ښه یې وکړل [یعنی عبادتونه یې وکړل، نو دوی ته مونږ په کلکه سره ډاډ ورکوو] چې هرچا ښه کړي دي مونږ د دوی ښه عمل نه ضائع کوو، یعنی هغه له منځه نه وړو

او ثواب يې پوره ورکوو!

[٣١] او مومنانوته تل پاتې جنتون او ښکلي باغونه دي چې و يالې پکې بهيږي او د جنتيانو په لاسونو کې د سرو زرو برنګي اچول کيږي او شنې ور ښمينې نرۍ او پيړې جامې اغوندي او په پستو کټونو باندې يې تکيه ژلې وي او پرې ناست وي، او دا ښه کور او ښکلئ استوګنځئ دئ.

درندو دوستانو! الله تعالى په دې مبارکو آيتونو کې د قرآني تلې په ژبا کې لمړئ د کافرانو توره راتلونکې او دوی ته کلکې سزاګانې يادې کړې دي، او بيا يې مومنانوته د لو يو انعامونو او د ښې راتلونکې ز يرئ ورکړئ دئ.

{ د ايمان بر يا په آخرت کې ځلانده ستورئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د يوه ماړه کافر او د يوه مسکين مومن په منځ کې د مرکې او خبرو انځور د زمونږ مخې ته ايښئ دئ، ترڅو پکې ژور فکر وکړو او کټه ورڅخه واخلو، او دا قصه د دنيا مال او دولت د لوی امتحان او فتنې پر وړاندې د ايمان بر يا ځلانده ستورئ او تل پاتې بيلګه ده، او فرمايلي دي:

﴿*وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلٗا رَّجُلَيۡنِ جَعَلۡنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيۡنِ مِنۡ أَعۡنَٰبٖ وَحَفَفۡنَٰهُمَا بِنَخۡلٖ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمَا زَرۡعٗا ٣٢ كِلۡتَا ٱلۡجَنَّتَيۡنِ ءَاتَتۡ أُكُلَهَا وَلَمۡ تَظۡلِم مِّنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ وَفَجَّرۡنَا خِلَٰلَهُمَا نَهَرٗا ٣٣ وَكَانَ لَهُۥ ثَمَرٞ فَقَالَ لِصَٰحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَنَا۠ أَكۡثَرُ مِنكَ مَالٗا وَأَعَزُّ نَفَرٗا ٣٤ وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدٗا ٣٥ وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةٗ وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيۡرٗا مِّنۡهَا مُنقَلَبٗا ٣٦ قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرۡتَ بِٱلَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلٗا ٣٧ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ٣٨ وَلَوۡلَآ إِذۡ دَخَلۡتَ جَنَّتَكَ قُلۡتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالٗا وَوَلَدٗا ٣٩ فَعَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يُؤۡتِيَنِ خَيۡرٗا مِّن جَنَّتِكَ وَيُرۡسِلَ عَلَيۡهَا حُسۡبَانٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَتُصۡبِحَ صَعِيدٗا زَلَقًا ٤٠ أَوۡ

يُصۡبِحَ مَآؤُهَا غَوۡرٗا فَلَن تَسۡتَطِيعَ لَهُۥ طَلَبٗا ﴿٤١﴾ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ فَأَصۡبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيۡهِ عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُشۡرِكۡ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ﴿٤٢﴾ وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ فِئَةٞ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مُنتَصِرٗا ﴿٤٣﴾ هُنَالِكَ ٱلۡوَلَٰيَةُ لِلَّهِ ٱلۡحَقِّۚ هُوَ خَيۡرٞ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ عُقۡبٗا ﴿٤٤﴾

[٣٢-٣٣] ای پیغمبره! او کافرانوته د پخوانیو ولسونو نه د هغو دوه کسانو مثال او بیلکه رایاده او بیان کړه چې یو یې مومن او بل یې کافر وه، او کافرته مونږ د انګورو دوه داسې باغونه ورکړي ول چې هغه مونږ د کجورو یا خرما پر ونو پټ کړي ول او په منځ کې یې ډول ډول کښت مونږ راشین کړئ وه، او دې دواړو باغونو نږدې میوې راوړي او هیڅ څه شئ پکې لږ نه ول، او د دغو دواړو باغونو په منځ کې د خوږو او بو په راخوتیدو سره و یاله مونږ جاري کړه، یعنی د چینې په خوږو او بو دا باغونه او به کیدل.

[٣٤] او د دغو باغونو څښتن نورې میوې او دولت هم درلود، نو بیا یې خپل ملګري ته چې بې وزره ؤ؛ په ډیر فخر سره وو یل: زه د ستانه ډیر مال او دولت او ډیر پلو یان لرم، یعنی دا چې پرتا باندې په ډیر مال، دولت او په ډیرو سړو یو یا میږو زورور یم!

[٣٥-٣٦] او بیا [دا کبرجن سړئ] په ډیر فخر سره په داسې حال کې خپل باغ ته ورننوت چې د الله قدرتونو نه منکر ؤ، او په کفر سره یې پر خپل ځان تیرئ کړئ ؤ؛ او و یو یل: زه هیڅ ګمان نکړم چې دا باغ به لمنځه لاړ سي او نه باور لرم چې قیامت به ودر ږیږي او هغه به راسي [یعنی که چیرې قیامت راسي، لکه څنګه چې ته فکر کړې ای مومنه!] او زه خپل رب ته وروګرځول سم، نو بیا به هلته هم د دې باغ نه ښه باغ بیامومم.

[٣٧] نو مومن ملګري یې په داسې حال کې چې دوی دواړو د یو بل سره تود بحث کا ؤ؛ وو یل: آیا ته د هغه خدای نه منکر سوي چې هغه ته د خاورې نه پیدا کړې او بیا یې د انسان نطفې (منۍ) نه وز ږوولې او بیا یې

سړئ درڅخه جوړ که؟

[٣٨] [خو زه د ستا غوندې خبره نکړم] او وایم: د زما رب الله دئ او د خپل رب سره بل څوک په خدایي کې نه شر یکوم.

[٣٩-٤١] [او بیا مومن بنده پرخپل نا شکره ملګرې باندې غږ وکه او و یو یل] کله چې ته خپل باغ ته ورننوتې [او هغه ده خوښ سه، نو ولې ده ونه و یل: ماشاء الله لا قوة إلا بالله، هو! دا ټول د الله پیرزو ینه او ورکړه ده، او د الله نه پرته بل هیڅ څوک د دې لوی نعمت او ورکړې زور نه لري] او ای ملګر یه! که ته ما د خپل ځان نه په مال، دولت او زامنو کې لږ و یې، نو یقینا چې کیداسي د زما رب ماته د ستا باغ نه ډیر ښه نعمت راکړي او د ستا پرباغ باندې د اسمان نه داسې تندر راکوز کړي چې کله ته سحر ورسې هغه ښو یه سوې خاوره بیامومې، او یا هغه او به چې تا دا باغ ور باندې او به کا ؤ؛ د ځمکې په زړه کې ننوتې وي، او ته به یې د بیرته راو یستلو وسعه نه لري!

[٤٢] [هو! د مومن خبره ر یښتیا سوه او د کافر باغ پرمیوو باندې د هرې خوا نه تندر راپر یوت او پرې ولږ یده او باغ یې راګرد که او هرڅه لمنځه لاړل] او کله چې صبا سه کافر څښتن یې آه او افسوس په سر واخست، او په هغه مال او دولت پسې یې چې هغه ده په دې باغ کې لږولئ ؤ؛ خفتیان ښوده او لاسونه یې اړول را اړول او د یو بل سره یې ټکول او باغ یې په بل مخ اوښتئ نسکور ؤ او ده چیغې وهلې او و یل یې: کاشکې ما د خپل رب سره بل څوک نه وای شر یك کړئ؟ [خو دا پښیماني اوس ورته هیڅ کټه نلري]

[٤٣] او دا سړئ اوس د الله نه پرته نور څوک پلو یان نه لري چې مرسته یې وکړي او په یوازي ځان یې بر یالئ کړي.

[٤٤] او په دغسې سخت وخت کې واکمن مرستندوی؛ یوازې الله دئ [یعنی الله پرحق سره ټولواک دئ] او الله خپلو مومنو بنده ګانوته ثواب او ښه راتلونکې ور په برخه کوي.

ګرانو دوستانو! دا مثال یا بیلګه چې په تیرو امتونو کې تیره سوې ده؛ زمونږ لپاره د زدکړې او د پند اخستلو ډیر روښانه او پر یکنده مثال دئ، ځکه په دې لوی ازمایښت کې پر آخرت باندې د ایمان بر یا د دنیا پرمال او دولت باندې، لکه د ستوري رڼا ځلیږي، نو ښایي چې هرڅوک پکې ښه فکر وکړي او هیڅ کله د الله تعالی لو یو نعمتونو او د ډیرو پیرزو ینو ناشکري ونکړي، او په دنیا کې په خپل مال، دولت او ډیر لښکر ونه غولیږي او ور باندې ډوکه نسي!

{د دنیا ژوند ژرتیریدونکئ او د آخرت ژوند تل پاتې دئ}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د دنیا بې اعتباره ژوند مثال مونږ ته یاد کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ فَأَصۡبَحَ هَشِيمٗا تَذۡرُوهُ ٱلرِّيَٰحُۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقۡتَدِرًا ٤٥ ٱلۡمَالُ وَٱلۡبَنُونَ زِينَةُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ أَمَلٗا ٤٦﴾

[٤٥] ای پیغمبره! او د دنیا ژوند مثال خلکوته بیان کړه او هغه دا چې د دنیا ژوند هغو او بوته ورته دئ چې هغه مونږ د اسمان نه راوورو، نو بیا د ځمکې بوټي او واښه ورسره ګډ سوې راشنه سي [یعنی ځمکه پرې ښایسته او ښکلې سي او بیا به دا شنه واښه او بوټي] وچ سوي مات پرځمکه پراته وي او د هوا شمالونه او بادونه یې هرې خوا شندي، او یقیناچې الله په هرڅه قادر لوی ذات دئ، یعنی هرڅه چې الله وغواړي هغسې کړلای سي، ځکه الله د هیڅ کار کړو نه بې وسې او عاجز نه دئ.

[٤٦] او مال، دولت او زامن ټول د دنیا ژوند ښکلا دي او څه چې پاتې کیږي هغه ښه کړل دي، او ای مومنه! ښه کړل د ستا رب پر وړاندې ډیر ښه دي او ثواب لري او ښه هیله ورته کیږي، یعنی الله تعالی مومن بنده ته د هغه ښو کړنو په عوض کې؛ ډیر ثوابونه ورکوي.

قدرمنو دوستانو! نو ښايي چې د دنيا په ژوند څوک ونه غوليږي، ځکه د دنيا ژوند غولونکې او ژر تيريدونکې ښکلا ده او بقاء نه لري، او هغه څه چې مومن بنده ته کټه رسوي؛ هغه د الله ذکر، ستاينه او ښه عمل دئ او ثوابونه يې بنده ته الله ورکوي، نو ښايي چې هرڅوک خپل ښه عمل ته هيلمن وي، يعنى دا ځکه چې الله د هغه ثوابونه ورکوي.

{ د قيامت ورځې پند اخستونکي ژوند ځلانده تصوير }

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې د آخرت ورځې پند اخستونکي ژوند ځلاند انځور مومنانوته وړاندې کړئ، او فرمايلي دي:

﴿وَيَوْمَ نُسَيِّرُ ٱلْجِبَالَ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ بَارِزَةً وَحَشَرْنَٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا ﴿٤٧﴾ وَعُرِضُوا۟ عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا لَّقَدْ جِئْتُمُونَا كَمَا خَلَقْنَٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍۭ ۚ بَلْ زَعَمْتُمْ أَلَّن نَّجْعَلَ لَكُم مَّوْعِدًا ﴿٤٨﴾ وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيْلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلْكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحْصَىٰهَا ۚ وَوَجَدُوا۟ مَا عَمِلُوا۟ حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴿٤٩﴾﴾

[٤٧] ای پيغمبره! [او کافرانو ته هغه ورځ ور په ياد کړه] کله چې غرونه مونږ د خپلو ځايونه خوځوو او بياته ځمکه لوڅه و يې [يعنى پرغرو باندې پټه نه وي] او مونږ ټول خلک د حساب اخستلو لپاره راغونډ کړي وي او هيڅ څوک نه پر يږدو چې د حساب ورکولو نه لاړ سي، يعنى د حساب ورکولو نه پرته خلاص سي!

[٤٨] او بيا ای پيغمبره! ټول خلک د ستا رب حضورته په قطارنو او ليکو کې در يدلي وړاندې کيږي [او الله ور باندې غږ کړي] ورته وايي: دا دئ اوس تاسې هغسې ماته راغلى، لکه څنګه چې په لمړي ځل کې تاسې مونږ پيدا کړي وى [يعنى يوازې او لوڅ د الله پروړاندې در يږى] او ای خلکو! بلکې تاسې خيال کا ؤ چې زه به تاسې ته دا ځای د حساب اخستلو لپاره نه ټاکم! يعنى دا چې کافرنو په دنيا کې د قيامت ورځې په ژوند او د الله په حضور کې په راغونډيدلو، حساب ورکولو او په ثواب او سزا باندې باور

او عقیده نه درلوده!

[٤٩] او بیا هلته د هرچا په مخ کې د دوی د خپلو کړنو لیکل ســوئ لیک ایښــودل کیږي، او ته به ای پیغمبره! مجرمان (کافران) و ینې چې د خپلو بدو کړنو نه چې په دې لیک کې لیکل سـوي دي؛ ډیر په و یره کی وي او خپلو ځانو سره به وایي: دا د زمونږ بد مرغي او هلاکت دئ! او دې لیک خو د زمونږ کړنو نه هیڅ وړ او غټ عمل نه دئ پرې ایښــئ او ټول یې لیکلي دي! او دا دئ دوی اوس خپل ټول کړل په خپل مخکې حاضر و یني، او ای پیغمبره! د ستا رب الله پرهیڅ چا باندې ظلم نکړي، یعنی د محشـر په ورځ د خلکو ټولې کړنې د الله تعالی عدالت په تله تلل کیږي.

ګرانو دوســتانو! دا دئ د قیامت ورځې هغه ژوندئ ځلانده انځور او ښکاره بیلګه چې هغه الله تعالی د زمونږ مخ ته ایښئ ده، نو اوس د هرچا خوښـه چې څه شئ غواړي؟ آیا غواړي چې په هغه ورځ سپین مخئ په جګه غاړه د خپل رب په حضور کې ودر یږي او بیا د خپلو کړنو عملنامه په ښي لاس وا خلي او په خوشحالۍ سره مخ په جنت لاړ سي؟ او یا دا چې (العیاذ بالله) مختورن ودر یږي او د بدو کړنو لیک یې په کین لاس ورکړل سي، او بیا د دوزخ په اور کې وکړ یږي؟

نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ د دغــې مختورنۍ نه په خپل رحمت سره وساتي او په خپل فضل سره ده مونږ ته د بد او تور برخلیک نه نجات راکړي، اللهم آمین یارب العالمین!

{د ابلیس نه ځان ساتنه ځکه فرض ده چې دښمن دئ}

او بیا په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی آدم علیه السلام ته د ملائکو یا فرښتو د سجدې کړو او د ملعون شیطان د سرکښۍ او د آدم علیه السلام کهول سره یې د هغه ملعون د کلکې دښمنۍ بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُواْ لِأَدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِۦٓ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِى وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّۢ بِئْسَ

لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلًا ﴿٥٠﴾ مَّآ أَشۡهَدتُّهُمۡ خَلۡقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَا خَلۡقَ أَنفُسِهِمۡ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلۡمُضِلِّينَ عَضُدٗا ﴿٥١﴾ وَيَوۡمَ يَقُولُ نَادُواْ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُمۡ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُم مَّوۡبِقٗا ﴿٥٢﴾ وَرَءَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٱلنَّارَ فَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمۡ يَجِدُواْ عَنۡهَا مَصۡرِفٗا ﴿٥٣﴾

[٥٠] [ای پیغمبره! او هغه وخت راپه یاد کړه کله چې] ملائکوته مونږ حکم وکه چې آدم ته د[درناوي] سجده وکړئ، نو بیا دوی ټولو سجده وکړه، خو ابلیس لعین [چې د ملائکو سره هلته په جنت کې ؤ او ځان یې الله ته مطیع باله] آدم ته یې سجده ونکړه، او دئ د پیریانو نه ؤ او د خپل رب فرمان نه ووت [یعني کبر او کینې په سر واخست او د الله امر یې پرځای نکه او سجده یې ونکړه] نو آیا تاسې ای خلکو! دغه رټل سوئ شیطان او د هغه کهول او لښکرې د زمانه پرته په دوستئ نیسئ او د ځان ملګرئ بولئ؟ حال دا چې شیطان او د هغه لښکرې د ستاسې ښکاره دښمنان دي، او ظالمان او کافران تاسې ته ای مومنانو! د ملګرتیا [او د الله پرځای د شیطان اطاعت نه] ډیر بد بدل دئ، یعنی ښایي مومنان د شیطان وسوسو نه ځانونه کلک وساتي.

[٥١] او ای خلکو! پام کړئ چې شیطان او د هغه کهول او لښکرې ما د اسمانو او ځمکې د پیدایښت په وخت کې نه ؤ رابللي او دوی هلته حاضر نه ول او نه شیطانان د خپل پیدایښت پرسر حاضر ول، او کله چې دوی خلک د حق لارې نه ورکوي؛ زه یې خپل ملګري نه نیسم، یعنی الله تعالی ځمکه او اسمانونه ټول پرخپل لوی قدرت سره پیدا کړي دي او د هیڅ چانه یې مرسته نه ده غوښتې، نو خلک څنګه شیطان او د هغه

لښکرې د الله نه پرته په دوستۍ نیسي او د ځانو ملګري يې بولي او حکمونه يې مني؟ يعنی دا کار د عقل او پوهې نه لرې دئ.

[٥٢] ای پیغمبره! او هغه ورځ خلکوته ور په یاد کړه، کله چې د قیامت په ورځ الله پر مشرکانو باندې غږ کړي او ورته وایي: ای مشرکانو! هغو کسانوته چې دوی تاسي د زما شر یکان بلل؛ غږ وکړئ او راوبې غواړئ، ترڅو د ستاسي مرسته وکړي، نو بیا دوی د دغو معبودانو نه مرسته غواړي، خو څوک ځواب نه ورکوي [یعنی مرستې ته يې نه راځي] ځکه د دوی په منځ کې مونږ د هلاکت لو یه ژوره جوړه کړي ده، یعنی دوی به پکې غورځول کیږي او د جهنم په اور کې به کړ یږي.

[٥٣] او دغو مجرمانو(کافرانو) د دوزخ اور په سترګو ولیده او پوځ باور يې وکه چې دوی به په دې اور کې هرمرو اچول کیږي او بیا به ورڅخه د وتلو او تیښې لار نه مومي!

درندو وروښو او خو یندو! یقینا چې شیطان د آدم عليه السلام د کهول ښکاره دښمن دئ، او دا دښمني رټل سوي شیطان په هغه ورځ اعلان کړه، کله چې هغه د الله امر ونه مانه او آدم عليه السلام ته يې د درناوي سجده ونکړه او ځان يې پرآدم باندې لوړ و باله او په ډیر کبر سره يې وو یل: ای ر به! زه تا د اور نه او آدم ده د خاورې نه پیدا کړئ دئ، نو زه هغه ته سجده نکړم! یعنی زه د هغه نه لوړ یم، نو ځکه الله تعالی په دې مبارکو آیتونو او په نورو ډیرو آیتونو کې مونږ د شیطان دښمنۍ او د هغه پټو توطئیو نه کلک ګواښلي یو، ترڅو د شیطان په لومو کې ونښلو او د حق نه چې یوازې د الله بنده کې ده وانوړو او بیا د الله تعالی ثوابونو نه محروم نسو!

{ قرآن هرڅه روښانه کړي دي خو انسان جنجالي مخلوق دئ }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خلک په دې ملامت کړي دي چې په قرآن کې د ټولو مسئلو پوره وضاحت او بیان سره؛ بیا هم دوی ایمان نه راوړي، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ﴿٥٤﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤْمِنُوٓا۟ إِذْ جَآءَهُمُ ٱلْهُدَىٰ وَيَسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّهُمْ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ ٱلْعَذَابُ قُبُلًا ﴿٥٥﴾ وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۚ وَيُجَٰدِلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ لِيُدْحِضُوا۟ بِهِ ٱلْحَقَّ ۖ وَٱتَّخَذُوٓا۟ ءَايَٰتِى وَمَآ أُنذِرُوا۟ هُزُوًا ﴿٥٦﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِىَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۚ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ فَلَن يَهْتَدُوٓا۟ إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾ وَرَبُّكَ ٱلْغَفُورُ ذُو ٱلرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُوا۟ لَعَجَّلَ لَهُمُ ٱلْعَذَابَ ۚ بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُوا۟ مِن دُونِهِۦ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ ٱلْقُرَىٰٓ أَهْلَكْنَٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا۟ وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾﴾

[٥٤] او یقینا چې په دې قرآن کې مونږ خلکوته د هرڅه مثالونه او بیلکې بیان کړي دي، ترڅو خلک ښه پوه سي او ایمان راوړي، خو انسان د ټولو مخلوقاتو نه ډیر سر زورئ مخلوق دئ، یعنی ډیر بحث، استدلال او جنجال کړي او حق ته ژر غاړه نږدي او نه تسلیمیږي، مګر دا چې الله یې زړه پوست کړي او ایمان راوړي او یوازې د الله بنده کې وکړي.

[٥٥] هو! کله چې خلکوته لارښود کتاب (قرآن) راغئ [او هغه رسول الله ﷺ دوی ته ورسا ؤ] نو بیا څه شي خلک پر ینښودل چې ایمان راوړي او د خپل رب نه بښنه وغواړي؟ مګر [دا چې دوی د پیغمبر سره ضد وکه او هغه یې وننګا ؤ] ترڅو دوی ته د پخوانیو ولسونو قانون سره سم عذاب راسي، ځکه هغوی د خپلو پیغمبرانو په خوله ایمان رانه وړ [نو د پخوا تیر سوو ولسونو قانون ده پردوی باندې هم جاري سي] او یا ده د الله ښکاره عذاب د دغو کافرانو مخې ته راسي، یعنی دا چې د مکې کافران په حقیقت کې ضد کړو، سیالیو او کینو ایمان راوړوته پر ینښودل، نو

بيا د دوی دا غوښتنې الله تعالی ر ښتيا کړې او د بدر په غزا کې د مشرکانو ډير مشران ووژل سول او ډير نور يې ژوندي برمته سول.

[٥٦] او پيغمبران مونږ خلکوته ز يرئ ورکونکي او کوانښونکي راليږلي دي [يعنی مومنانوته د جنتونو او نيکمرغۍ ز يري ورکوي او کافران د دوزخ اور نه و يروي] خو هغه کسان چې کافران سول او د پيغمبر خبره يې ونه منله؛ دوی په ناروا او باطل سره استدلال او جدال کړي، ترڅو پردغسې ناحقه خبرو حق لمنځه يوسي [يعنی د پيغمبر په خوله ورته راغلئ قرآن ونه مني] او دغو کافرانو زما د کتاب هغو آيتونو سپکاوئ وکه چې دوی ور باندې [حق ته راو بلل سول او د دوخ عذاب نه وګوانښل سول]

[٥٧] نو څوک د هغه چانه ډير ظالم او پرحق باندې تيرئ کونکئ دئ چې کله هغه ته د ده د رب الله په خبرو او آيتونو وعظ او نصيحت وسي او د الله لوي قدرتونه ور په ياد سي، خو بيا هم دئ ورڅخه مخ واړوي او پرخپلو لاسونو کړې ګناه وې هيرې کړي؟ ځواب: دا چې هيڅ څوک د هغه نه ډير ظالم نه دئ، او يقينا چې د کافرانو پر زړونو باندي مونږ پردې راخورې کړې دي او غوږونه يې کاڼه دي، نو نه حق اوري او نه ور باندې پوهيږي، نو که ته ای پيغمبره! دغه مشرکان پرالله باندې ايمان راوړو ته را و بولې بيا هم دوی ايمان نه راوړي او د ستا خبره هيڅ کله نه مني، يعنی نو ته ای پيغمبره! نور د دوی پر کفر مه خفه کيږه او د کافرانو د ضد کړو پروا مکړه او خپل دعوت ده په مخ يوسه.

[٥٨] او د ستا رب ای پيغمبره! لوی بښونکئ او د رحمت څښتن او مهر بان ذات دئ، او که چيرې دا کافران د دوی پرکفر او پرکړو ګناهوو باندې الله راونيسي، نو ډير ژر به عذاب او سزا ورکړي، خو الله ډير حليم او حوصله لرونکئ ذات دئ او ژر چاته سزا نه ورکوي، او د دغو کافرانو نه د حساب اخستلو نيټه ټاکل سوي ده او هيڅ کله د هغې نه د تيښتې لار نه لري، يعنی هغه ټاکل سوئ وخت خامخا راتلونکئ دئ او بيا د ټولو خلکو نه حساب اخستل کيږي او هرڅوک به د خپل بد عمل سزا ګالي.

[٥٩] او ای د مکې خلکو! هغه کلي چې تاسي ته لنډ پراته دي [لکه مدائن صالح] دا هغه کلي دي چې اوسیدونکو یې ایمان رانه وړ او د الله پیغمبران یې ونه منل او په دې کار سره دوی پرخپلو ځانو باندې ظلم وکه، او بیا د دوی هلاکت لپاره مونږ نیته وتاکله، او کله چې یې اجل راغئ او وخت یې پوره سه، نو بیا د الله عذاب دوی ته راغئ او ټول هلاك سول او لمنځه لاړل، یعنی نو تاسې ته ای مومنانو! ښایي چې د سرکښو امتونو د تور برخلیک نه پند واخلی.

قدرمنو دوستانو! دا دئ د الله تعالی لوی رحمت او د هغه خورې ورې پیرزو ینې چې هغه یې خپلو بنده ګانوته د حق لاښود پیغام رالیږلئ دئ او بیا ورته ګوري چې دوی څه کړي؟ نو که څوک ظلم وکړي او د الله تعالی لارښود کتاب او پیغام ونه مني، نو بیا هغه ته الله تعالی سخته سزا ورکوي او لمنځه یې وړي، لکه څنګه چې تار یخ ور باندې شاهد دئ.

هو! ګرانو عز یزانو! دا وضاحت هم دلته د پام وړ دئ چې دغه مبارك آیتونه رسول الله ﷺ ته او د هغه امت دعاتوته؛ کلکه ډاډګیرنه او اطمئنان دئ، نو دوی ده هیڅ کله د کافرانو په سر کښې او زورونو باندې نه خفه کیږي او پرالله ده توکل وکړي او خپل پیغام ده د خلکو نیکمرغۍ په هیله په مخ یوسي او خپل ولسونه ده د دنیا او آخرت سعادت ته په اخلاص سره راو بولي.

{د موسی ازمایښت خضر پرورانديې د علم بریا څرګندوی ؤ }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د موسی علیه السلام د ازمایښت قصه په علم کې یاده کړې ده او په هغه کې د علم بر یا ډیره پر یکنده او څرګنده ثابته سوې او ځلیدلې ده، او د دغې قصې په باره کې روایت سوئ دئ چې د موسی علیه السلام نه پوښتنه وسوه چې څوک د خلکو نه اوچت عالم او لوی پوهاند دئ؟ موسی په ځواب کې وو یل چې زه، نو بیا الله تعالی پرهغه باندې غوصه سه او ورته یې وحیه وکړه چې د دوو سمندرونو (د هند سمندر او د سره سمندرکې) او بو د کډیدلو په څیرمه میشت د زما یو

بنده ستانه لوی عالم دئ، نو ته ورسه او د هغه نه هغسې علم زده کړه چې ته ور باندې نه پوهیږې، او د دغې اوږدې قصې د پیل په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبْرَحُ حَتَّىٰٓ أَبْلُغَ مَجْمَعَ ٱلْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى ٱلصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ ٱلْحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ ۚ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۚ فَٱرْتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾﴾

[٦٠] [هو! ای پیغمبره! هغه وخت راپه یاد کړه] کله چې موسی خپل زلمکي خادم (یوشع بن نون) ته وو یل: زه به ترهغو مخ پر وړاندې ځم، ترڅو د دوو سمندرونو د او بو د یوځای کیدو [یعنی یو بل سره د ګډیدلو صفر ټکي یا نقطې ته ورسیږم] او یا اوږد مزل ووهم، یعنی دا چې ترڅو د نبه سړي سره ملاقات ته ورسیږم، او بیا د هغه نه هغه څه زده کړم چې زه ور باندې نه پوهیږم.

[٦١] او بیا چې کله دوی د دوو سمندرونو د یوځای کیدو صفري نقطې ته ورسیدل؛ دواړو خپل [په نښه کړئ] نهنګ هیرکه او هغه په سمندر کې همداسې په خپله مخه لاړه.

[٦٢] نو بیا چې کله موسی او خادم یې د هغه ټاکل سوي ځای نه تیر سول؛ موسی خپل ملګري خادم ته وو یل: زموږ د غرمې خواړه راوړه چې وې خورو، ځکه په دې مزله کې ډیر ستړي سوو.

[٦٣] نو د موسی سره ملګري یې ورته وو یل: آیا وده لیدل او راپه یاد دي چې، کله مونږ هغه غټ کټ سره دمه وکړه، نو بیا نور نهنګ د زما هیر سه، او شیطان هغه د زمانه هیرکه او راپه یاد مه نسه او نهنګ په

حیرانونکې خوښۍ سره خپله لار ونیوله او په سمندر کې پر مخ لاړه، یعنی د زما سترګو نه پناه او ورک سه.

[٦٤] نو بیا موسی وو یل: دا هغه ځای ؤ چې مونږ غوښت، نو بیا دوی دواړه بیرته راوګرځیدل او خپل پل پې پسې واخسست، یعنی بیرته په شا ستانه سول، ترڅو ټاکل سوي ځای ته وروګرځیدل.

{ موسی خضر بیاموند او شاګرد سه ترڅو نوئ علم زده کړي }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د خضر موندل او د هغه نه د موسی علیه السلام لنډې زدکړې قصه یاده کړې او بیان کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿فَوَجَدَا عَبۡدٗا مِّنۡ عِبَادِنَآ ءَاتَيۡنَٰهُ رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَا وَعَلَّمۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلۡمٗا ٦٥ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلۡ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمۡتَ رُشۡدٗا ٦٦ قَالَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٦٧ وَكَيۡفَ تَصۡبِرُ عَلَىٰ مَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ خُبۡرٗا ٦٨ قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرٗا وَلَآ أَعۡصِي لَكَ أَمۡرٗا ٦٩ قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعۡتَنِي فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي عَن شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرٗا ٧٠ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِي ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَاۖ قَالَ أَخَرَقۡتَهَا لِتُغۡرِقَ أَهۡلَهَا لَقَدۡ جِئۡتَ شَيۡـٔٗا إِمۡرٗا ٧١ قَالَ أَلَمۡ أَقُلۡ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٧٢ قَالَ لَا تُؤَاخِذۡنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرۡهِقۡنِي مِنۡ أَمۡرِي عُسۡرٗا ٧٣ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا لَقِيَا غُلَٰمٗا فَقَتَلَهُۥ قَالَ أَقَتَلۡتَ نَفۡسٗا زَكِيَّةَۢ بِغَيۡرِ نَفۡسٖ لَّقَدۡ جِئۡتَ شَيۡـٔٗا نُّكۡرٗا ٧٤ * قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٧٥ قَالَ إِن سَأَلۡتُكَ عَن شَيۡءِۭ بَعۡدَهَا فَلَا تُصَٰحِبۡنِيۖ قَدۡ بَلَغۡتَ مِن لَّدُنِّي عُذۡرٗا ٧٦ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهۡلَ قَرۡيَةٍ ٱسۡتَطۡعَمَآ أَهۡلَهَا فَأَبَوۡاْ أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارٗا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُۥۖ قَالَ لَوۡ شِئۡتَ لَتَّخَذۡتَ عَلَيۡهِ أَجۡرٗا ٧٧﴾

[٦٥] نو بیا دوی دواړو (موسی او ملګري) د زمونږ بنده ګانو نه هغه

بنده بيا موند چې هغه ته مونږ خپل رحمت ورکړي ؤ او د زمونږ علم نه هغه ته مونږ علم او پوهه ورزدکړي وه، يعنی بيا موسی او ملکري يې يوشع بن نون عليهما السلام د الله صالح بنده خضر عليه السلام چې نبي ؤ؛ بياموند او سره يوځای سول، ترڅو موسی عليه السلام د هغه نه د الله ورکړې ځانګړئ علم زدکړي او په دې پوه سي چې د موسی نه پرته بل اوچت او لوی عالم او پوهاند هم سته!

[٦٦] نو بيا موسی خضر ته وو يل: آيا خوښه ده ده [يعنی اجازه راکوې] چې زه د ستا شاګرد سم؟ ترڅو ته ماته هغه علم را زده کړي چې هغه تاته الله د خپل ځانګړي علم (غيب) نه درزده کړئ دئ، يعنی ترڅو زه ورڅخه ګټه واخلم او پرسمه لار لاړ سم.

[٦٧-٦٨] خضر په ځواب کې په کلکه سره ورته وو يل: ته د زما سره صبر کړلای نسي، ځکه څنګه به ته ای موسی! هغه کارونه وزغمې او صبر به پرې وکړې چې ته د هغو نه هيڅ چا نه يې خبر کړئ؟ يعنی دا چې ته به ای موسی! هغه پټ کارونه څنګه تحمل کړې او صبر به پرې وکړې، ځکه هغه په ښکاره ظلم او شر دئ، خو پټ پکې خير او لوی حکمت دئ.

[٦٩] موسی په ځواب کی ورته وو يل: که خدای وغوښتل، نو ته به ما صبر کونکئ بيا مومي او د ستا حکم نه به سرغړونه ونکړم، يعنی په خپل هوډ به ټينګ پاتې سم.

[٧٠] نو بيا خضر موافقه وکړه او موسی ته يې وو يل: نو کله چې تا د زما ملګرتيا وکړه، نو د زما کړنو نه پوښتنه مکړه [يعنی دا چې ما ولې داسې او هغسې وکړل] ترڅو چې بيا زه د دغو کړنو د پټ حکمت او مقصد نه چې ته ور باندې نه پوهيږي تا خبر کړم، يعنی د ستا اعتراض به بيا ځواب سي او ډاډه به سي.

[٧١] نو بيا دوی دواړه وخوځيدل، ترڅو چې په يوه بيړۍ کې سپاره سول او خضر دا پيړي سوری کړه، نو موسی ژر هغه ته وو يل: آيا دا بيړی ده سوری کړه، ترڅو يې سپرلی په سمندر کې ډوبې کړې؟ او يقينا چې ډير

بد کار ده وکه! یعنی موسی خضر په دې کار کلک ملامت که.

[٧٢] خضر موسی ته وو یل: آیا تاته ما په کلکه سره نه ؤ و یلي چې ته زما سره صبر کړلای نسې؟ یعنی د زما کړنو په اسرارو پوهیدای نسې.

[٧٣] [بیا موسی د بښنې په غوښتني سره خضر ته] وو یل: ما په هغه څه باندې مه نیسه چې هیر مه سول، یعنی په دې زده کړه کې ما مه ستړئ که وه او لږ پوست راسره وچلیږه.

[٧٤] نو بیا همداسې دواړه وخوځیدل، ترهغو چې یې یو ووړ هلک مخې ته راغئ او بیا هغه خضر راوني ؤ او مړ یې که [خو موسی دا کار کلک وغانده] او و یو یل: دا معصوم هلک ده پرته لدې چې هغه بل څوک وژلئ وي مړه که! نو یقینا چې ډیر بد کار ده وکه!

[٧٥] [خضر په ستوغ غږ موسی ته] وو یل: آیا ما نه وه درته و یلي چې ته هیڅ کله د زما سره صبر کړلای نسې! یعنی د زما کړنې نسې زغملای.

[٧٦] [موسی په ځواب کې ورته] وو یل: که ما لدې نه وروسته بیا د کم څه پوښتنه د ستانه وکړه، نو بیا ما د خپل ځان سره مه ملګرئ که وه، ځکه د ستا عذر زما سره نور آخرته ورسید، یعنی تا خپله غاړه پر ما خلاصه کړه.

[٧٧] نو بیا دوی دواړه همداسې سره وخوځیدل او خپل مزل یې په مخ یوړ، ترڅو چې یوه کلي ته ورسیدل او د کلي اوسیدونکو نه یې خواړه وغوښتل، خو کلیوالو دوی میلمانه نکړل، نو په دې وخت کې دوی دواړو یو دیوال د ړنګیدو په حال کې بیاموند، نو خضر او موسی دا دیوال بیرته ودرا ؤ او ودان یې که، او موسی وو یل: ښه به دا وي چې ورڅخه مزدوري او اجرت واخلو، یعنی بیا به خواړه پرې واخلو، ځکه کلیوالو خو مونږ ته ډوډۍ رانکړه او میلمانه یې نکړو.

{خضر نورد موسي ملګرتیا نه ستړئ سه او سره بیل سول}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د خضر عليه السلام کړنو شاته پټ

علم موسی علیه السلام ته راپسیره کړئ او اعلان کړئ دئ، او پکې د علم بر یا پر ناپوهی باندې ښه رنه ځلیږي، او فرمایلي دي:

﴿قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾ أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَاءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَا أَن يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَأَرَدْنَا أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَاةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي ۚ ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾﴾

[٧٨] خضر موسی ته وو یل: دا نو نور زما او ستا په منځ کې بیلتون دئ او زه به تا د هغه څه نه چې تا ور باندې صبر ونسه کړلای خبر کړم، یعنی پټ مقصد بې درته ښکاره او بیان کړم.

[٧٩] هو! هغه بیړۍ [چې ما سوری کړه] هغه د بی وزرو مسکینانو بیړۍ وه او دوی په سمندر کې پرهغې مزدوري کړه، نو بیا دا بیړۍ ما عیبجنه کړه [یعنی سوری مه کړ] ځکه د دوی شاته یو پاچا ؤ او هره روغه بیړۍ یې په زور نیوله، یعنی نو کله چې دا بیړۍ ما سوری کړه؛ هغه عیبجنه سوه او د پاچا غصب نه هغه ما خلاصه کړه.

[٨٠] او هغه زلمئ هلک چې ما مړکه د هغه مور او پلار مومنان ول، نو مونږ وو یر یدلو چې کله دا هلک زلمئ سي؛ خپله مور او پلار به په ډیره سرکښۍ او کفر سره وزوروي او ستړي بې کړي.

[٨١] نو مونږ وغوښتل چې د دوی دواړو رب الله هغه هلک دوی ته پر بل ښه زوی باندې بدل کړي چې د ګناه او بدو کړنو نه پاک وي او دوی دواړو ته به په زړه سواندي کې ډیر ورلنډ وي.

[٨٢] او هغه کور ديوال چې مونږ بيرته سم ودان کړ؛ هغه په دې ښار کې د دوو يتيمانو وه، او د هغه لاندې د دوی هغه خزانه خښه وه چې پلار يې ورته پرې ايښې وه او پلار يې ډير ښه سړئ وه، نو د ستا رب ای موسی! وغوښتل چې دا ديوال کلک ودروو، ترڅو چې دا يتيمان رازلميان سي او بيا د خپل پلار ګنج راو باسي، او دا د ستا رب لخوا پردوی باندې رحمت او مهر باني وه، او ما دا کارونه د خپل ځان نه ونکړل، يعنی هغه ټول د الله په حکم ترسره سول، او دا وه ای موسی! زما د دغو کړنو تفسير او د پټو اسرارو حکمتونه چې تا پرې صبر ونسه کړای او کلک اعتراضونه ده وکړل.

ګرانو دوستانو! دا د موسی او خضر عليهما السلام قصه د هغو قصو نه يوه قصه وه چې مشرکانو د يهودو پر لمسون، لکه د الکهف اصحابو قصه چې مخکې تيره سوه، او د ذو القرنين قصه چې وروسته راځي؛ د رسول الله ﷺ نه و پوښتله، او بيا الله تعالی رسول الله ﷺ ته د دغسې قصو په ر يښتيني بيان کې دغه مبارک آيتونه رانازل کړل، نو يقينا چې د موسی او خضر عليهما السلام قصه د ډيرو حکمتونو او ګټو نه ډکه قصه ده او ځينې ګټې يې په لنډ ډول دا دي:

١ - الله تعالی د خپلو بنده ګانو په پټ او ښکاره ټول حال باندې ښه پوه دئ او په ښه او بد، خير او شر يې الله تعالی پوره علم لري، نو کله چې د موسی عليه السلام په زړه کې دا خبره تيره سوه چې دئ په هرڅه باندې پوهيږي، نو بيا دئ الله تعالی خضر پسې ولاږه چې ملګرتيايې وکړي او د هغه نه د الله تعالی د پټو اسرارو حکمتونو نه چې موسی ورڅخه خبر نه وه؛ څه زده کړي، ځکه الله خپل دغسې علم او پوهه يوازې خپلو ځينې انبياووته ورکوي نه ټولو خلکوته، نو دا علم چې په لدنّي علم باندې يادیږي؛ هغه د الله تعالی ځانګړې ورکړ ده او خپلو خاصو انبياووته يې ورکړې ده نه هر چاته، او ځينې پيغمبران، لکه موسی عليه السلام ورڅخه خبر نه ولو، او د انبياوو نه پرته بل چاته الله تعالی دا لدنّي علم نه ورکوي، نو بل هرهغه څوک چې د لدنّي علم دعوا کړي؛ هغه کاذب او دروغژن دئ.

٢ -او دو يمه ګټه دا چې: دا قصه چې پکې پټو ګټوته لمړ يتوب ورکړل

سوئ دئ؛ مونږته په دين کې د لمړۍ پالنې پوهه سره ده پرتلې پوهه د مصالحو او مفاسدو په منځ کې راښيي او رازده کوي يې، او يقينا چې مسلمانان په اوسني عصر کې دغسې پوهاوي ته کلک ضرورت لري او ورته اړ دي، نو ورته پکار ده چې ځانون ښه پوه کړي او پام ورته وکړي.

{ذوالقرنين په تاريخ کې لوی عادل او مومن پاچا تير سوئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالي د ذوالقرنين قصه مونږته يادە کړی ده، ځکه مشرکانو به د ذو القرنين په باره کې د رسول الله ﷺ نه پوښتنې کړې، او ذو القرنين که څه هم په تاريخ کې يو لوی عادل مومن پاچا تير سوئ دئ، خو دا چې رسول الله ﷺ په ليک او لوست نه پوهيده، نو د ذو القرنين تاريخ يې نه وه لوستئ، ترڅو وکولای سي؛ د مکې خلکو پوښتنوته ځواب ووايي، نو د وحي يې راتک ته په انتظارکې پاتې سه، ترڅو چې بيا وحيه ور باندې رانازله سوه او د ذوالقرنين قصه پکې بيان سوه، او په دې بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾ إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾ فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِى عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾ قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلْحُسْنَىٰ ۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾ ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾ كَذَٰلِكَ ۖ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾ ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ ٱلسَّدَّيْنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا ﴿٩٣﴾ قَالُوا۟ يَٰذَا

ٱلْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي ٱلْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلَىٰٓ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلْحَدِيدِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ ٱلصَّدَفَيْنِ قَالَ ٱنفُخُوا۟ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارًا قَالَ ءَاتُونِيٓ أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾ فَمَا ٱسْطَٰعُوٓا۟ أَن يَظْهَرُوهُ وَمَا ٱسْتَطَٰعُوا۟ لَهُۥ نَقْبًا ﴿٩٧﴾ قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي ۖ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُۥ دَكَّآءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا ﴿٩٨﴾ * وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ ۖ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَجَمَعْنَٰهُمْ جَمْعًا ﴿٩٩﴾

[٨٣] ای پیغمبره! او کافران به د ستانه د ذوالقرنین په باره کې پوښتنې کړي، نو ته ورته ووایه: د هغه په باره کې به څه یادونې درته ولولم، یعنی قصې بې درته وکړم، ترڅو ورڅخه ګټه واخلې او تاسې ته به په ژوند کې ښه سر لیک جوړ سي.

[٨٤] [هو! ای پیغمبره!] ذو القرنین مونږ پرځمکه واکمن کړ او د هرڅه کړلو اسباب او وسائل هغه ته مونږ ورکړل، یعنی نو هرڅه چې یې غوښتل هغه یې کړای سول او د هرکار کړلو وسعه یې درلوده او په دښمن تل برلاسئ وه.

[٨٥-٨٦] نو بیا ذوالقرنین همدا وسائل په کار واچول او لو یدیځ خوا ته په مخ لاړه، ترڅو د لمر پر یوتو څوکې ته ورسیده [یعنی د ځمکې غرب یا لو یدیځ هغې څنډې ته ورسیده چې د لمر سترګه نوره پر یوځي او غروب کړي] د لمر سترګه یې هلته په داسې حال کې بیامونډله چې د سرو او بو په چینه کې پر یوځي او یکې ډو بیږي، او د لمر سترګې غروب ترڅنګ یې یو قوم بیامونډ [یعنی چې دوی هلته میشت دي، نو بیا ذوالقرنین ته] مونږ وو یل: ای ذو القرنینه! دغو خلکوته به سزا ورکوي او یا به ورسره ښه کړي، یعنی دا چې که دوی الله په یو والي سره نه پیژانده او کافران ول، نو سزا به ورکوي او یا به سمه لار ورته ښیي.

[۸۷] ذو القرنین وو یل: هغه چاچې پرحق تیرئ کړئ وه [یعنی کافر وه] نو هغه ته به سزا ورکړو او بیا به د قیامت په ورځ خپل رب ته وروګرځول سي، نو بیا به ورته الله سخته سزا ورکړي، یعنی د دوزخ په سره اور کې به یې وسوزوي!

[۸۸] او چاچې ایمان راوړ او ښه یې وکړل [یعنی د الله حکمونه یې ومنل او پرې ټینګ سه] نو د هغه ثواب ډیر ښه دئ او مونږ به هم ورته ښه خبره وکړو او چارې بې اسانه کړو، یعنی دا چې مومن به د دنیا نه لاړ سي او د آخرت ورځې نیکمرغي به لاس ته راوړي او د قیامت په ورځ به د الله تعالی پروړاندې سپین مخئ ودر یږي.

درندو دوستانو! د ذو القرنین دا ځواب د هغه لوی عاقل او د علم څرګندوی وه، نو ښایي چې د امت امامت ته هرڅوک زړه ښه نکړي، او د خپل ذهني طاقت او عیني شرایطو سره سم باید یو څوک مشرتابه ډګرته وړلاندې سي، نه، لکه د اوسني عصر اسلامي بې تعلیمه هیواونو ولسواکۍ چې د جمهور یت ترنامه لاندې غربي دودیزه دیمکراسي په دغسې بیرته پاتې اسلامي هیوادونو کې خوره سوې ده، او یا هغه ولسي پاڅونو نه چې پکې هرڅوک د واکمنۍ دعوا کړي او ولسونه په و ینو کې لمبوي، او یا هغه فوزي کودتاګانې چې په ځینې بیرته پاتې هیوادونو کې د فوز ځینې واړه ضابطان یې ترسره کوي او بیا کلونه کلونه ولسونه کړوي!

[۸۹-۹۱] او بیا ذوالقرنین د الله نه ورکړل سوو وسائلو په مرسته بیرته راوګرځیده [یعنی مخ په شرق یا ختیځ لاړه] ترڅو د لمر راختلو ځای ته ورسیده او هلته یې د لمر سترګه په داسې حال که بیامونډله چې په داسې یو قوم [یعنی په یوه ډله خلکو] باندې راخیژي چې د لمر سترګې او د دوی په منځ کې مونږ هیڅ کم شئ پټونکې پرده نه ده ګرځولې، یعنی د لمر وړانګې مخامخ پردوی راپر یوځي او هیڅ څه شئ دوی د لمر وړانګو نه پټولای نسي، او همداسې مونږ د ذوالقرنین ټول حال نه خبر یو، یعنی دا چې ذوالقرنین د الله تعالی علم او څار لاندې ؤ.

[۹۲-۹٤] او بیا ذو القرنین د خپلو وسائلو په کار اچولو سره په مخ لاړه، ترڅو چې د دوه ټرلې سوو غرنو منځ ته ورسیده، او هلته یې یوه داسې ډله خلک بیا موندل چې د بل چا په خبره په سختۍ سره پوهیدل [یعنی نو بیا هغوی ذو القرنین ته] وو یل: ای ذو القرنینه! یقین وکړه چې یاجوج او ماجوج په ځمکه کې ورانۍ کړي، او تاته به مونږ څه خرڅ درکړو، ترڅو ته د زمونږ او یاجوج او ماجوج په منځ کې دیوال ودان کړې، یعنی ترڅو مونږ د هغوی فساد او وراني نه په ډاډ او امن کې سو!

[۹۵] [ذو القرنین ورته په ځواب کې وو یل:] هغه څه چې ماته د زما رب او لوی څښتن په واک کې راکړي دي؛ هغه را ته ښه دي او تاسې یوازې په زور سره د زما مرسته وکړئ او زه به د ستاسې او د یاجوج او ماجوج په منځ کې کلک دیوال ودان کړم او ښه پوخ بې ودروم.

[۹٦] [او بیا ذو القرنین ز یاته کړه او و یو یل:] تاسې د وسپنې تختې ما ته راوړئ، او بیا چې کله ذو القرنین د دغو دوو غرونو په منځ کې د وسپنو دیوال ودراوه او ودان یې که، نو بیایې دغو خلکوته وو یل: اوس پکې تاسې اور بل کړئ او هغه پو کړئ! او کله چې د دیوال ټوله وسپنه ولې سوه [نو بیا ذو القرنین حکم وکه] او و یو یل: اوس نو ماته مس راوړئ چې په دې اوسپنیز دیوال کې یې واچوو، یعنی داچې ترڅو دا وسپنې سره ونښلي او دیوال ښه کلک ودر یږي او پوخ ودان سي.

[۹۷] نو بیا د دې جګ [پاخه]دیوال نه یاجوج او ماجوج راوښتلای نسي او نه یې سورئ کولای سی.

[۹۸] او بیا ذوالقرنین وو یل: دا [کار چې ما وکه او د یاجوج او ماجوج مخنیوي لپاره تاسې ته ما دا دیوال ودان که] دا د زما رب الله نه راباندې لوی رحمت او پیرزو ینه وه، نو کله چې بیا د زما رب الله وعدې سره سم د یاجوج او ماجوج د را وتلو وخت راسي، نو دا دیوال به دړې وړې کړي او دوی به راووځي او د زما رب الله وعده حق ده، یعنی دا چې په آخره زمانه کې یاجوج او ماجوج راوځي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ د قیامت ورځې

راتګ نه مخکې؛ د قیامت راتګ ورځو لو یو نښو نه مونږ خبر کړي یو او د یاجوج او ماجوج راوتل یې د قیامت راتګ د لو یو نښو نه ښودلې دي.

[۹۹] [او په هغه ورځ چې د یاجوج او ماجوج د راوتلو نیټه راورسیږي] نو بیا دوی پر یږدو چې په یو بل باندې اوړي راوړي او په همدې وخت کې سورني پوکیږي[یعنی د قیامت ورځ راځي] نو بیا به ټول خلک مونږ حساب ورکولو ته راغونډ کړي وي!

قدرمنو دوستانو! د ذو القرنین قصه د الکهف په دې مبارکه سوره کې د هغو قصو نه ده چې د مکې مشرکانو د اهل کتابو(یهودو او نصاراوو) په لمسون د رسول الله ﷺ نه و پوښتله، او دا دئ ځواب یې په ډیر وضاحت سره د الله تعالی لخوا په دې مبارکو آیتونو کې پر رسول الله ﷺ باندې رانازل سوئ دئ، او بیا هغه رسول الله ﷺ مشرکانوته ورسا وه، او په دې قصه کې د ذو القرنین چې یو مومن او عادل واکمن پاچا وه؛ ټولې تار یخې کړنې بیان سوې دي او د هغه په هره کړنه کې مونږ ته ډیرې لارښودنې نغښتې دي، نو ښایي چې پکې ښه ژور فکر وکړو او ورځنه ګټه واخلو، مخصوصا دا چې د ذوالقرنین ټولې کړنې په اسبابو او وسائلو باندې ولاړې وې، نو مومنانوته ښایي چې د خپل ژوند چارې د وسائلو په کار اچول سره په مخ یوسي او هیڅکله پکې غفلت ونکړي، لکه د مادي علومو زده کړه چې مادي تمدن ورته کلکه اړتیا لري او نن تکنالوژي یې ژوندۍ او د پام وړ بیلګه ده، او پرته له هغې د ژوند ماشیني خوزښت ټپ در یږي، لکه نقلیه وسائل او رسنیزې اړ یکې، نو ښکاره ده چې د طبیعي علومو او ساینس زدکړه پرمسلمانانو فرض ده، ځکه چاره ورځنه نسته.

{د قیامت په ورځ د کافرانو راتلونکې نندارتون انځور}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د قیامت په ورځ د کافرانو تورې راتلونکې روښانه تصو یر نندارې ته وړاندې کړئ، او فرمایلي دي:

﴿وَعَرَضۡنَا جَهَنَّمَ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡكَٰفِرِينَ عَرۡضًا ١٠٠ ٱلَّذِينَ كَانَتۡ أَعۡيُنُهُمۡ فِي غِطَآءٍ عَن

ذِكۡرِي وَكَانُواْ لَا يَسۡتَطِيعُونَ سَمۡعًا ١٠١ أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن يَتَّخِذُواْ عِبَادِي مِن دُونِيٓ أَوۡلِيَآءَۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ نُزُلًا ١٠٢ قُلۡ هَلۡ نُنَبِّئُكُم بِٱلۡأَخۡسَرِينَ أَعۡمَٰلًا ١٠٣ ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعۡيُهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّهُمۡ يُحۡسِنُونَ صُنۡعًا ١٠٤ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ وَلِقَآئِهِۦ فَحَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فَلَا نُقِيمُ لَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَزۡنٗا ١٠٥ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُمۡ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُواْ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِي وَرُسُلِي هُزُوًا ١٠٦

[١٠٠] او په همدا ورځ [یعنی د قیامت په ورځ] کافرانوته مونږ دوزخ ښکاره ورښیو، یعنی چې ترڅو د خپلو بد کړنو او کفر بده راتلونکې وو یې.

[١٠١] او دغه کافران هغه کسان ول چې په سترګو یې پردې پرتې وې، او د زمونږ قدرتونو نښې یې لیدلای نسوې او نه یې د زمونږ یادونې غږ او پیغام اور یدلای سه.

[١٠٢] نو آیا هغو کسانو چې کافران سول؛ ګمان وکه چې دوی به د زما نور بنده ګان زمانه پرته په خدایي او ملتیا ونیسي؟ [یعنی بیا به هغوی د دوی دوستان سي او ګټه به ورته ورسوي؟ ځواب انکار دئ، یعنی دا ملګرتیا دوی ته هیڅ ګټه نه رسوي] او یقینا چې د دوزخ اور مونږ کافرانو ته استوګنځئ تیار کړئ دئ.

[١٠٣-١٠٤] هو؛ ای پیغمبره! [او ټولو خلکوته] ووایه: آیا تاسي زه د هغو کسانو د کړنو نه خبر کړم چې دوی تاوان کړئ دئ او ز یانمن دي؟ [ځواب] هو! دا ز یانمن او تاوایان هغه کسان دي چې د دوی د دنیا ژوند ټولې هغه لاس ته راوړنې چې دوی ګمان کا وه ډیر ښه کړي! خو د آخرت په ورځ به هغه ورڅخه ورکې سي.

[١٠٥] او دوی هغه کسان ول چې د خپل رب د قدرتونو نښانو او د الله کتاب آیتونو نه منکر سول او د قیامت په ورځ د الله سره په ملاقات او یوځای کیدوپې ایمان رانوړ، نو ځکه د دوی ټولې کړنې ضائع سوې او بیا د قیامت په ورځ د دوی کړنوته مونږ هیڅ ارزښت نه ورکوو، یعنی هغه زمونږ پروړاندې اعتبار نه لري او دوی ته ګټه نه رسوي.

[١٠٦] او كله چې دوی كافران سـول او د زما كتابونو آيتونو او د زما پيغمبرانو سپكا وئ وكه، نو د دوزخ اور د دوی سزا ده.

{د قيامت په ورځ مومنانوته د تل پاتې جنتونو ز يري}

او بيا مومنانوته الله تعالى د قيامت په ورځ د دوی د ثوابونو او په جنت الفردوس كې ورته د تل پاتې نعمتونو ز يري وركړي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَانَتۡ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلۡفِرۡدَوۡسِ نُزُلًا ١٠٧ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يَبۡغُونَ عَنۡهَا حِوَلٗا ١٠٨ قُل لَّوۡ كَانَ ٱلۡبَحۡرُ مِدَادٗا لِّكَلِمَٰتِ رَبِّي لَنَفِدَ ٱلۡبَحۡرُ قَبۡلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَٰتُ رَبِّي وَلَوۡ جِئۡنَا بِمِثۡلِهِۦ مَدَدٗا ١٠٩ قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا ١١٠﴾

[١٠٧-١٠٨] او يقينا هغو كسانو چې ايمان راوړ او ښه عبادتونه يې وكړل؛ د دوی ميلمستيا فردوس په جنتونو كې استوكنه ده او دوی به پكې تل اوسيږي او بلې خوا ته اوښتل به ورځخه نه غواړي.

[١٠٩] ای پيغمبره! [او خلكوته اعلان وكه او ورته] ووايه: د زما رب الله خبرې، علم او حكمت دومره ډير دي، كه چيرې د سمندر ټولې او به رنګ واى، نو دا د بحر او به به د زما رب خبرو ليكلو نه مخكې خلاصې سوې وې، كه څه هم مونږ هغه ته ورته رنګ نور راوړئ واى.

[١١٠] او ای پيغمبره! خلكوته ووايه: زه د ستاسې غوندې يو انسان (سړئ) يم او ماته وحيه كيږي او د ستاسې ر ښتينئ او په حق سره معبود يو ذات الله دئ، او هرڅوک چې د خپل پالونكي څښتن الله ملاقات ته هيلمن وي، نو ښه ده وكړي او بل هيڅ څوک ده د الله سره په عبادت كې او هغه سره په بنده كې نه كډوي، يعنى د شرك نه ده ځان وساتي.

كرانو وروڼو او خو يندو! الله تعالى په دغو مباركو آيتونو سره چې پكې

د الله تعالى توحيد ته په عبادت کې بلنه ده؛ د الکهف مبارکه سوره پای ته رسولې ده، لکه څنګه چې د الله تعالى توحيد ته په دعوت او بلنې سره دا مبارکه سوره پيل سوې وه، والحمد لله الذي بفضله ورحمته تتم الصالحات، وصلى الله وسلم على رسوله الآمين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك...



د مر يم سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا مبارکه سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان ذات دئ پیل کیږي]

الحمد لله الذي أنعم برحمته على عبده زكر يا الذي عني بتربية مر يم البتول عليهما السلام، وصلى الله وسلم على المبعوث رحمة للعالمين نبينا محمد وعلى آله وأصحابه و إخوانه أجمعين، وبعد:

{د مر يم سورې لنډه پيژندنه او لوی مقصدو نه}

عزتمنو دوستانو! د مر يم بنت عمران عليها السلام مبارکه سوره مکې سوره ده او په پيل کې الله تعالی مونږ ته د زکر يا عليه السلام قصه کړې ده او بيا ور پسې د مر يم او د هغې زوي عيسی عليهما السلام قصه يادې سوې ده، نو ځکه دا مبارکه سوره ور باندې نومول سوې ده، او دا دواړه قصې د دې مبارکې سورې په پيل کې راغلې دي او هغه دواړه د الله تعالی د قدرتونو لويې نښې دي، ځکه کله چې زکر يا عليه السلام د بني اسرائيلو يو عزتمن نبي ؤ د هغه دعاء الله تعالی قبوله کړه او په زړ بودی کې الله ورته زوی ورکه او نوم يې(يحيی) کيښود چې په دې نامه بل څوک نه ؤ نومول سوي، او بيا يحيی عليه السلام د خپل پلار نه نبوت په ميراث يوړ، او همدارنګه مر يم بنت عمران عليها السلام ته چې يوه عابده پيغله وه او د خپلې خاله ميړه زکر يا عليه السلام تر پام لاندې يې ژوند او د الله عبادت کا ؤ؛ الله تعالی هغې ته د واده نه پرته زوی ورکه او هغه (عيسی عليه السلام) ؤ چې پيغمبر سه، او يقينا چې په دې دواړو قصو کې د الله تعالی د لو يو قدرتونو وړانګو بيلګې رڼې ځليږي، نو ښايي چې پکې ژور فکر وکړو او د الله تعالی په عظمت او لو يتيا باندې چې لوی واکمن ذات دئ اقرار وکړو او يوازې د الله تعالی عبادت او بنده کې وکړو او بل هيڅ څوک د الله تعالی سره په الوهيت کې شر يك نکړو.

هو! درندو دوستانو! د مر يم سوره، لکه نورې ډيرې سورې؛ د هجاء

پرځان ځان ته پر يکړ سوو تورو يا حرفونو باندې پيل سوې ده او پکې دی ته اشاره ده چې دغه راتلونکې قصې چې د عربي ژبې په تورو يادې سوې او بيان سوي دي؛ هغه د الله نه راغلې قصې دي او رسول الله ﷺ ته وحيه سوې دي، نو هغه د الله تعالى حق کلام دئ، او پکې هيڅ شک او شبهه نسته، بلکې ټولې حق او د رښتيا پيغامونه دي.

{د هجاء پرتورو پيل سوو سورو کې د قرآن ادبي اعجاز ځليږي}

د مر يم مبارکه سوره چې د عربي ژبې هجاء په پر يکړل سوو تورو باندې پيل سوې ده؛ الله تعالى پکې فرمايلي دي:

﴿كٓهيعٓصٓ ١﴾

[١] (کاف، هاء، ياء، عين، صاد) دا توري د عربي ژبې هجاء هغه توري دي چې د ټولو شمير يې (٢٨) اته و يشت تورو ته رسيږي او د عربي ژبې خبرې د همدې تورو نه جوړې سوې او ترکيب سوې دي، او دا د الله تعالى نه راغلئ اسماني کتاب قرآن په عربي ژ به دئ، او پکې هيڅ شک نسته، نو په دې کې د قرآن ادبي اعجازته ښکاره اشاره ده، ځکه د رانازليدو په وخت کې يې د عر بانو ټول شاعران او اديبان هغه ته ورته کتاب د راوړو نه بې وسې او عاجز سول.

{ د الله تعالى سره د زکر يا مناجات د زوی په غوښتنه کې }

او ور پسې مبارکو آيتونو پيل کې الله تعالى مونږ د زکر يا عليه السلام مناجات نه الله تعالى سره د ميراث خور زوی غوښتنې نه خبر کړي يو، فرمايلي دي:

﴿ذِكۡرُ رَحۡمَتِ رَبِّكَ عَبۡدَهُۥ زَكَرِيَّآ ٢ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ٣ قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ ٱلۡعَظۡمُ مِنِّي وَٱشۡتَعَلَ ٱلرَّأۡسُ شَيۡبٗا وَلَمۡ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيّٗا ٤ وَإِنِّي خِفۡتُ ٱلۡمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا فَهَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا ٥ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَۖ وَٱجۡعَلۡهُ رَبِّ رَضِيّٗا ٦﴾

[٢-٣-٤] ای پیغمبره! دا د ستا رب الله رحمت او پیرزو ینې یادونه خپل بنده زکر یا ته ده، کله چې هغه په ورو غږ سره خپل رب الله ته دعاء وکړه او ورته یې نعرې کړې و یو یل: ای د زما لو یه ر به! زما د بدن اډوکې د زړ بودی نه ضعیف او کمزوري سول او د سر ایښتان مه د زړ بودی لمبو سپین کړل، او زه هیڅ کله د ستانه [ای لو یه څښتنه] په خپلو غوښتنو او دعاګانو کې محروم نه وم [یعنی دا چې الله تعالی تل د زکر یاعليه السلام دعاء منلې او قبوله کړې ده] او زه تا ای لو یه رب! د خپل رحمت پیرزو ینو نه محروم کړئ نیم، یعنې د ستا لوی رحمت سورئ تل پرما باندې خور دئ.

[٥-٦] هو؛ ای لو یه ر به! زه د خپلوانو نه وو یر یدلم چې د زما نبوت میراث به ضائع کړي [یعنی د زما پر پله به لاړ نسي] او د زما میرمن شنډه ده، نو ای لو یه ر به! ته د خپل ځان [یعنی د خپل لوی فضل او رحمت نه] ماته داسې زوی او ملګرئ را کړه چې د زما نبوت میراث او د یعقوب د کورنۍ میراث یوسي [یعنی د زما دا زوی د ستا او د خلکو خوښی او رضایت مستحق وګرځي] او ته ای ر به! ورڅخه خوښ او راضي سي!

{زکر یاعليه السلام ته الله د یحیی په نامه زوی ز یږ یدلو زیرئ ورکه}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی پر زکر یاعليه السلام باندې په زړ بودی کې د زوی ز یرئ کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسْمُهُۥ يَحْيَىٰ لَمْ نَجْعَل لَّهُۥ مِن قَبْلُ سَمِيًّا ۝٧ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِى عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ ٱلْكِبَرِ عِتِيًّا ۝٨ قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَىَّ هَيِّنٌ وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِن قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ۝٩ قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّىٓ ءَايَةً قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ۝١٠ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنَ ٱلْمِحْرَابِ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا۟ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ۝١١﴾

[۷] ای زکر یا! [اوس ته باور وکړه او ډاډه سه، ځکه] تاته مونږ د زوی ز یږئ درکوو او نوم یې یحیی دئ او په دې نامه مونږ پخوا هیڅ څوک نه دي نومولي، یعنی یحیی یوازی د زکر یا علیه السلام زوی نوم دئ او بل څوک الله په دې نامه نه دي نومولي.

[۸] [نو بیا زکر یا علیه السلام د ډیرې خوښۍ نه په حیرانیتا سره] وو یل: ای لو یه ر به! څنګه به زه زوی ولرم حال دا چې ښځه مه شـنډه ده او زه د ډیر لوی والي نه وچتیا ته رسـیدلئ یم، یعنی زه دومره زوړ یم چې هرڅه را پکې وچ سوي دي.

[۹] نو بیا د الله او زکر یا په منځ کې اسـتازې ملکې وو یـل: هو! همداسې ده ای زکر یا! خو د ستا رب الله وو یل چې دا کار مونږ ته اسانه دئ، ځکه ته مخکې هیڅ څه شئ نه وې او بیا ته مونږ پیدا کړې.

[۱۰] نو بیا زکر یا وو یل: ای ر به! ما ته یو څه نښه وګرځوه، ترڅو زه پرې ډاډه سـم [نو الله ورته په ځواب کې] وو یل: د سـتا اطمئنان او ډاډ نښـه دا ده چې پوره درې شـپې او ورځې به خلکو سـره خبرې نکړې! یعنی ته به روغ جوړ وې خو د چا سره به خبرې کړلای نسي او په اشارو به خلکوته ځواب ورکوي چې داسې او هغسې وکړی.

[۱۱] نو بیا زکر یا د محراب نه خپل ولس ته راووت او دوی ته یې په پټه خوله اشاره وکړه چې صبا او بیګاه لمنځونه وکړی او الله په پاکۍ سره یاد کړی، یعنی د الله تعالی حمد او ثناء ووایي او سـتاینه یې وکړی او د نعمتونو شکریې و باسی!

{یحیی ته په ورکتوب کې الله حکم وکه چې تورات کلک ونیسه}

او بیا په ور پسـې مبارکو آیتونوکې یحیی علیه السلام ته چې لا ماشـوم ؤ الله تعالی نبوت و بانښه او ورته یې وفرمایل:

﴿يَٰيَحۡيَىٰ خُذِ ٱلۡكِتَٰبَ بِقُوَّةٖۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحُكۡمَ صَبِيّٗا ١٢ وَحَنَانٗا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةٗۖ وَكَانَ تَقِيّٗا ١٣ وَبَرَّۢا بِوَٰلِدَيۡهِ وَلَمۡ يَكُن جَبَّارًا عَصِيّٗا ١٤ وَسَلَٰمٌ

عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ وَيَوۡمَ يَمُوتُ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيّٗا ١٥﴾

[١٢-١٣-١٤] [نو کله چې يحيى د زکر يا عليهما السلام زوى وز يږ يده او بيا را لوى ســه، نو الله تعالى ورته حکم وکه چې] اى يحيى دا کتاب (تورات) کلک ونيسه او هغه زده کړه او په لارښودونو يې عمل وکړه، يحيى چې لا ووړ ماشــوم ؤ هغه ته مونږ پوهه او حکمت (هوښــيارې) ورکړه، او هغه ته مونږ د خپل ځان نه رحمت او مينه او د ګناه نه پاکوالئ ور په برخه که، او دئ متقي ؤ [يعنى پرهيزګار ؤ او د خپل رب عذاب نه يې ځان سا ته] او د خپلې مور او پلار سره يې ښه کړل او جابر او سرکښ نه ؤ او يحيى د الله فرمان ته مطيع فرمان ورنکئ بنده ؤ.

[١٥] نو پر يحيى باندې ده په هغه ورځ سلام وي چې دئ نوئ وز يږ يده، او بيا ده پر يحيى باندې په هغه ورځ سلام وي چې دئ مړ کيږي او بيا ده پر هغه ورځ ور باندې سلام وي چې بيرته ژوندئ راجګيږي، يعنى په دنيا او آخرت کې ده پر يحيى عليه السلام باندې سلامتيا وي او د الله لخوا ده ورته امنيت او ډاډ وي.

قدرمنو دوســتانو! دا وه د زکر يا زوى يحيى عليهما السلام د ز يږ يدلو لنډه قصه چې پکې د الله تعالى قدرتونو لويې نښې ښې روښانه ځليږي.

{د عيسى بن مر يم بې پلاره ز يږ يدل د الله قدرتونو نښه وه}

او په ور پســې مبارکو آيتونو کې د مر يم بنت عمران او د عيســى عليه السلام بې پلاره ز يږ يدنې او پيدايښــت قصــه الله تعالي مونږ ته کړي ده چې هغه يقينا د الله د لو يو قدرتونو نښه او معجزه وه، او فرمايلي دي:

﴿وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتۡ مِنۡ أَهۡلِهَا مَكَانٗا شَرۡقِيّٗا ١٦ فَٱتَّخَذَتۡ مِن دُونِهِمۡ حِجَابٗا فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرٗا سَوِيّٗا ١٧ قَالَتۡ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيّٗا ١٨ قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمٗا زَكِيّٗا ١٩ قَالَتۡ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَلَمۡ

يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿٢١﴾

[١٦] ای پیغمبره! او په دې کتاب قرآن کې مر یم را یاده کړه، کله چې هغه د خپلې کورنۍ نه لرې ختیځ خواته بیله سوه، یعنی د بیت المقدس ختیځ یا شرقي اړخ کې یې په لرې جومات (اقصی مسجد) کې ځان ته د الله تعالی سره د مناجات او عبادت په مقصد په محراب کې ځای ونې ؤ.

[١٧] نو بیا د خپلې کورنۍ نه د پردې شا ته پټه اوسیدله، او بیا هغې ته مونږ خپل روح (جبرائیل) ورولاړه او جبرائیل مر یم ته د روغ سړي (انسان) په څیره کې راښکاره سه.

[١٨] نو مر یم جبرائیل ته په کتو سره چې د انسان په څیره کې ؤ وو یل: که ته متقي یې او د الله نه و یر یږې، نو زه د ستانه الله ته پناه وړم، یعنی الله ده ما د ستانه وساتي.

[١٩] جبرائیل ورته وو یل: یقینا چې زه د ستا رب الله استازئ یم، ترڅو تاته یو پاک زوی درو ببښم، یعنی چې ترڅو د ستا زلمکې خادم سي.

[٢٠] مر یم وو یل: څنګه به زه زلمکئ زوی ولرم او پرما باندې د هیڅ سړي لاس نه دئ لږ یدلئ او نه زه زنا کونکې یم!

[٢١] [جبرائیل ورته په ځواب کې] وو یل: هو! همداسې ده [یعنی ته پاکه یې او د هیڅ چا لاس پر تا ندئ لږ یدلئ] خو د ستا رب الله وایي: دا کار ماته اسانه دئ، او د ستا ماشوم به خلکوته معجزه وکړځوو، او هغه د زمونږ لخوا تاته رحمت دئ او دا کار نور فیصله سوئ دئ، یعنی همداسې به تاته بې پلاره زوی الله معجزه درکړي!

درندو دوستانو! دا ؤ مر یم علیها السلام ته د هغې حیرانونکې قصې پیل، او دا چې دا قصه د زکر یا او د هغه زوی یحیی علیهما السلام قصې ته ورته وه، نو ځکه هغه دواړه قصې الله تعالی د آل عمران په سوره کې او دلته د مر یم په سوره کې یوځای یادې کړې دي، او مر یم علیها السلام چې

نسب يې داوودعليه السلام ته رسيږي؛ يوه پاک لمنې او عابده پيغله وه او هغه الله تعالى د هغې مورته و ښښله او د هغې د پيدايښت قصه الله تعالى د هغې مور له خولې په آل عمران سوره کې يادې کړې ده، او هغه دا چې مر يم يې مور نذر کړي وه او و يلي يې وه چې د خپل نس دا ماشوم بيت المقدس (مسجد الأقصى) خدمت ته نذر کوم، خو دا ماشوم جلې وز يږ يدله، نو کله چې بيا هغه غټه سوه، نو د الله تعالى په تقديري پر يکړه او د مور خوښې سره يې سم؛ د بيت المقدس په اقصى مسجد کې عابده خدمت ګاره سوه، ترڅو چې بيا الله تعالى د عيسى المسيحعليه السلام غوندې زوى باندې ونازوله او الله تعالى بې پلاره زوى ورکه.

{مر يم ته د ماشوم ز يږ يدلو په وخت کې الله کلک ډاډ ورکه}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ ته د مر يم عليها السلام د حمل او بيا د عيسىعليه السلام د ز يږدلو قصه چې هغه د الله تعالى د لوى قدرت معجزه وه؛ يادې کړې ده او فرمايلې دي:

﴿*فَحَمَلَتْهُ فَٱنتَبَذَتْ بِهِۦ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَأَجَآءَهَا ٱلْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ قَالَتْ يَٰلَيْتَنِى مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادَىٰهَا مِن تَحْتِهَآ أَلَّا تَحْزَنِى قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّىٓ إِلَيْكِ بِجِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ تُسَٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِى وَٱشْرَبِى وَقَرِّى عَيْنًا ۖ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِىٓ إِنِّى نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ ٱلْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴿٢٦﴾*﴾

[٢٢-٢٣] نو بيا مر يم په عيسى بلار به يا حامله سوه او بيا د خپل نس ماشوم سره خلکو نه لرې ځاى ته لاړه [يعنى د عيسى ز يږ يدلو دردونو هغه د کجورو يا خرما وني لاندې سوري ته ورسوله] او بيا هلته مر يم د خپل ځان سره وو يل: اى کاشکې لدې نه وړاندې مړه واى او د هرچا هيره سوې واى، يعنى دغسې لوى تور نه واى راپسې ترڅ سوئ!

[٢٤-٢٦] نو بيا [جبرائيل] ور باندې د لاندې نه غږ وکه چې مه خفه کيږه د ستا پالونکي څښتن الله د ستا لاندې د او بو و يااله جاري کړې ده او د کجورې يا خرما وڼې نوده وښـــوروه، نو ښـــه پخه ميوه به در باندې راولو يږي، نو دا تازه خرما وخوره او او به وڅکه او په ز يږ يدلي ماشـــوم ده ســترګې يخې کړه [يعنى په خوښـــه ســه] او که تا د خلکونه څوک وليدل چې غواړي ستانه څه و پوښتي، نو ورته ووايه: ما د الله رضا لپاره د خبرو نه روژه نيولې ده او زه نن د هيڅ چا سره خبرې نکړم.

{عيسى عليه السلام په زانګو کې خپله پيغمبرې خلکوته اعلان کړه}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ د عيسى عليه السلام نبوت نه په يوې لويې معجزې ســره چې هغه د ماشـــوم خبرې دي؛ خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿فَأَتَتْ بِهِۦ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُۥ ۖ قَالُوا۟ يَٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يَٰٓأُخْتَ هَٰرُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ قَالُوا۟ كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِى ٱلْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾ قَالَ إِنِّى عَبْدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِىَ ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلَنِى نَبِيًّا ﴿٣٠﴾ وَجَعَلَنِى مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَىٰنِى بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾ وَبَرًّۢا بِوَٰلِدَتِى وَلَمْ يَجْعَلْنِى جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾﴾

[٢٧-٢٨] نو بيا مر يم ماشوم په غيږکې خپل قوم ته راغله [او کله چې ماشـوم دوى د مر يم په غيږکې وليده] وو يل: اى مر يم! ته خو د ډير لوى تور سره راغلې، او اى د هارون خورې! د ستا پلار خو بد سړئ نه وه او نه د ســتا مور زنا کاره وه! يعنى اى د هارون غوندې پيغمبر خورې! د ســتا ابا او ادې (مور او پلار) د بد کار او د زنا خلک نه ول، نو څنګه تا د ميړه نه پرته زوى ز يږولئ دئ؟ دا خو ده ډير بد کار کړئ دئ!

[٢٩] نو بيا مر يم په پته خوله ماشـوم ته اشـاره وکړه [يعنى دا چې د

هغه نه و پوښتی؟ قوم يې په ځواب کې] وو يل: څنګه مونږ د غيږې ماشوم سره خبرې وکړو؟

[۳۰] [نو بيايې ماشوم عيسی عليه السلام په خبرو راغئ] او و يو يل: زه د الله بنده يم ماته الله کتاب راکړئ دئ او زه يې نبي ګرځولئ يم، يعنی زه به پيغمبر سم او د الله کتاب به پرما باندې رانازل سي.

[۳۱-۳۳] او زه الله مبارك ګرځولئ يم او زه چې هرچيرته وم؛ ګته مه خلکوته رسيږي، او ترڅو چې ژوندئ يم الله راته پر لمانځه کړو، زکات ورکولو او خيرات کړو سپارښت کړئ دئ، او زه د خپلې مور سره الله ښه کړونکئ ګرځولئ يم، او زه يې کبرجن او سرکښ نه يم ګرځولي، يعنی زه به د خپل رب الله بنده ګي کړم او د مور خدمت به کړم او هيڅ کله پرچا باندې کبر او ظلم نکړم او د الله حکمونو نه به سرغړونه نکړم، او په هغه ورځ چې زه وز يږ يدلم او بيا په هغه ورځ چې زه مرم او بيا په هغه ورځ چې بيرته راجګيږم [يعنی بيرته راژوندئ کيږم] الله ماته ډاډ را کړئ دئ.

ګرانو دوستانو! يقيناچې د مر يم عليها السلام دا قصه چې هغه د دې مور په نذر سره پيل سوې ده؛ د ښځې لوړ مقام څرګندوی، او د دوی دواړو مور او لور دا ستر مقام دلته ضمنا الله تعالی؛ کلک ستايلئ دئ، نو ښايي چې د زمونږ مومنې ميرمنې؛ د مر يم عليها السلام په پله لاړې سي او د خپلې کورنۍ او ټولنې خدمت ته ځانونه چمتو کړي او د خپل پَت او عفت په ساتنې سره د خپل رب عبادت او ر يښتينه بنده ګي وکړي.

{عيسی د مريم عليهما السلام زوی ؤ نه د خدای زوی}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د عيسی عليه السلام په بنده ګی چې د مر يم عليها السلام زوی ؤ او د الله بنده ؤ؛ ټينګار کړئ دئ، خو د يهودو ډلګيو پکې اختلاف وکه او ځينو عيسی عليه السلام خدای و باله، او په بيان کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ذَٰلِكَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَۚ قَوۡلَ ٱلۡحَقِّ ٱلَّذِي فِيهِ يَمۡتَرُونَ ٣٤ مَا كَانَ لِلَّهِ

أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ ۖ سُبْحَانَهُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٣٥﴾ وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٣٦﴾ فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٣٧﴾ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا لَٰكِنِ الظَّالِمُونَ الْيَوْمَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَن عَلَيْهَا وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿٤٠﴾

[٣٤] [هو! ای پیغمبره!] دا ؤ عیسی ابن مر یم [چې د هغه قصه تاته مونږ وکړه] او دا خبره هغه حقیقت ؤ چې یهودو پکې شکونه کړل.

[٣٥] او الله ته لائق نه ده چې [د خپلو بنده ګانو نه] څوک زوی ونیسي، څکه الله د زوی نیولو نه پاک دئ، او الله چې هرکله د کم کار کړو پر یکړه وکړي، نو بیا ورته وایي: پیدا سه! او بیا هغه پیدا کیږي، یعنی د الله حکم د زنډ نه پرته چلیږي او نافذیږي او څوک یې مخ نیولای نسي.

[٣٦] [او ای پیغمبره! هغه ورځ راپه یاد کړه کله چې عیسی بن مر یم علیهما السلام په خپل قوم باندې غږ وکه او ورته یې وو یل:] ای خلکو! یقینا چې الله د زما رب دئ او هغه د ستاسې هم لوی څښتن دئ، نو د الله عبادت او بنده کي وکړئ [یعنی حکمونه یې ومنئ] او دا سمه لار ده.

[٣٧] نو بیا د بني اسرائیلو ډلګیو [یعنی حز بونو] د عیسی په باره کې سره په اختلاف کې ولو یدل [یعنی د هغه ځینې پلو یانو عیسی خدای وګانه (العیاذ بالله) او ځینو د خدای زوی او ځینو نورو بیا در یم د درې خدیانو وګانه، او یهودو ورته کوډکر وو یل] نو هغه کسان چې کافران سول دوی ته د قیامت لویې ورځې سزا نه کلک ګواښ دئ!

[٣٨] او کافران به د قیامت په ورځ چې مونږ ته راتلونکي ورځ ده؛ هرڅه ښه اوري او ښه به یې و یني، خو دا ظالمان نن په ښکاره ورکتیا کې دي، یعنی حق د دوی نه ښکاره ورک دئ، نه هغه و یني او نه یې اوري، نو

آه او افسوس ده وي پر دغسې ناپوهانو چې د حق لارې نه ورک سول، يعنې د سمې لارې نه واوښتل او کافران سول.

[٣٩] ای پيغمبره! او د پښيمانۍ ورځې سختۍ نه خلک وو يره وه، ځکه په هغه ورځ نور هرڅه فيصله سوي دي، خو خلک لا په غفلت او بې پروايي کې دي او ايمان نه راوړي، يعنې د قيامت په ورځ نوره پښيماني ګټه نه لري، ځکه د ايمان راوړو او د ښه عمل کړو وخت نور تير سوئ دئ.

[٤٠] او يقينا چې دا ځمکه او څوک چې پکې ميشت دي؛ دوی ټول مونږ په ميراث وړو او بيا حساب ورکولوته ټول خلک مونږ ته راګرځول کيږي، يعنې د قيامت په راتګ سره هرڅه الله ته ميراث پاتې کيږي.

قدرمنو وروڼو اوخو يندو! دا وه د مر يم او د هغې زوی عيسی عليهما السلام د بې پلاره ز يږ يدلو قصه او د عيسی عليه السلام په خوله د هغه خپل نبوت بيان چې هغه الله تعالی په ډير تفصيل سره مونږ ته يادە کړې او بيان کړي دە، نو ځکه دا مبارکه سوره د مر يم په نامه نومول سوې دە؛ که څه هم دا قصه لنډه لنډه په نورو سورو کې هم راغلې دە، خو په دې مبارکه سوره کی لمړئ د مر يم پټ عبادت بيان سوئ دئ چې کله دا د خپلې کورنۍ نه بيله سوه او د پردې شاته ميشت سوه، نو په دې وخت کې الله ورته خپل استازئ جبرئيل عليه السلام راولېږه، ترڅو مر يم ته د زوی ز يږئ ورکړي او دا زوی به د پلار نه پرته وز يږ يږي، ځکه مر يم وادە نوه کړئ، نو يقينا چې د عيسی عليه السلام ز يږ يدل؛ د الله تعالی د قدرتونو لو يه نښه وه، لکه څنګه چې الله تعالی آدم عليه السلام بې پلاره او بې مورە د خاورې نه پيدا که، نو دا دئ اوس يې عيسی عليه السلام د مر يم نه بې پلاره پيدا کړه، نو بيا چې کله مر يم عليها السلام د خپلې غيږې ماشوم سره خپل قوم ته ور وګرځيدله؛ دوی هغه کلکه ملامته او تورنه کړه، ځکه مر يم عليها السلام د پيغمبرانو کورنۍ نه وه او د هارون عليه السلام غوندې يوه پيغمبر خور وه، يعنې دا چې د ښو خلکو او د درندې کورنۍ غړو بد کار؛ ډير کلک د غندنې وړ او کرکجن کار دئ، خو الله تعالی د مر يم نه کلکه دفاع وکړه او عيسی بن مر يم يې چې نوئ ز يږ يدلئ ماشوم ؤ؛ د خپل راتلونکي رسالت خبرلوځ و ياند وګرځا

ؤ، او دا هم د الله تعالى د قدرتونو بله لوی یه نښه وه او د مریم علیها السلام براءت او پاکی پې ساړئ شاهد ؤ، او هغه دا چې عیسی علیه السلام د الله بنده او پیغمبره ؤ، نه د الله زوی، ځکه الله تعالى د زوی نیولو نه پاک دئ، نو هر څوک چې عیسی علیه السلام د الله زوی بولي او یا پې د الله سره په خدایي کې شریک یکوي؛ دوی مشرکان دي او د حق نه چې د الله عبادت او بنده کې په توحید سره ده؛ اوښتي دي، ځکه د حق لار پې ورکه کړې ده.

ګرانو عزیزانو! او همدارنګه د پام وړ ده چې د دنیا ژوند تلونکئ او ډیر ژر تیریدونکئ ژوند دئ، او د آخرت په وړځ ټول خلک د الله تعالى په حضور کې حساب ورکولوته درېږي، نو بیا نیکمرغه هغه څوک دئ چې په دنیا کې پې ایمان راوړئ وي او ښه عمل ولري، او بد مرغه محروم هغه څوک دئ چې د خپل ځان سره ایمان او د ښه عمل توښه ونه لري.

{ابراهیم علیه السلام د الله پیغمبر ؤ پلار او قوم پې توحید ته راوبلل}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالى د ابراهیم علیه السلام قصه کړې ده او د هغه نبوت پې یاد کړئ دئ، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِبۡرَٰهِيمَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيًّا ٤١ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ لِمَ تَعۡبُدُ مَا لَا يَسۡمَعُ وَلَا يُبۡصِرُ وَلَا يُغۡنِي عَنكَ شَيۡـٔٗا ٤٢ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدۡ جَآءَنِي مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَمۡ يَأۡتِكَ فَٱتَّبِعۡنِيٓ أَهۡدِكَ صِرَٰطٗا سَوِيّٗا ٤٣ يَٰٓأَبَتِ لَا تَعۡبُدِ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ عَصِيّٗا ٤٤ يَٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٞ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيۡطَٰنِ وَلِيّٗا ٤٥ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنۡ ءَالِهَتِي يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ لَأَرۡجُمَنَّكَۖ وَٱهۡجُرۡنِي مَلِيّٗا ٤٦ قَالَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكَۖ سَأَسۡتَغۡفِرُ لَكَ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيّٗا ٤٧ وَأَعۡتَزِلُكُمۡ وَمَا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدۡعُواْ رَبِّي عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيّٗا ٤٨﴾

[٤١] ای پیغمبره! په دې کتاب قرآن کی ابراهیم یاد کړه [یعنې د هغه پیغمبرۍ قصه خپل امت ته وکړه، ځکه چې] ابراهیم یقینا یو ر ښتونکئ

او صادق پيغمبر ؤ.

[٤٢] هو! کله چې ابراهيم خپل پلارته وو يل: ای پلارجانه! ولې ته د داسې څه(بوت)عبادت کړې چې هغه نه څه اوري او نه څه و يني او نه د ستانه څه منه کړای سي؟

[٤٣] ای پلارجانه! ماته په يقين سره داسې علم راغلئ دئ چې هغه علم تاته ندئ راغلئ، نو ما پسې لاړ سه [يعنی د زما متابعت وکړه] ترڅو سمه لار دروښيم.

[٤٤] او ای پلارجانه! د شيطان عبادت مکړه [يعنی هغه پسې مځه او خبره يې مه منه، ځکه] شيطان يقينا د الله حکم ونه مانه او ورڅخه يې سرغړونه وکړه، يعنی نو بيا شيطان د الله تعالی رحمت نه محروم سوئ وشړل سه.

[٤٥] هو! ای پلارجانه! زه و يره يرم چې د الرحمن رب الله د سزا اور لمبې به پر تا باندې ولږ يږي، نو بيا به د شيطان ملګرئ سي، يعنی د شيطان سره به يوځای د دوزخ په اور کې رټل سوئ کړ يږې!

درندو دوستانو! ابراهيم عليه السلام چې د الله تعالی يو ر يښتونکئ صادق او موحد بنده او لوی پيغمبره ؤ او پلارې آزر د بتانو عبادت کا ؤ، نو ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته ورغئ او په ډير ادب او په خوږو خبرو سره يې هغه د خپل نبوت او پيغمبری نه خبر که او د شيطان ملتيا او فرمان وړو او د شرك نه يې چې هغه شيطان ورته ډير ښايسته کړئ ؤ؛ کلک منع يې که او شيطان يې چې د الله حکم نه يې سرغړونه کړی وه؛ ښه ورو پيژاند، نو ښايې د پيغمبرانو لارې لارو يان دعات تل د خپلو امتونو سره همداسې په ادب او په خوږه ژ به وچليږي او دوی ته په پسته خبرو سره توحيد ته بلنه او دعوت ورکړي، خو آزر د ابراهيم عليه السلام مشرك پلار بيا د خپل زړه سواندې زوی ابراهيم عليه السلام خبرې ونه منلې او په ډيره غوصه يې ورته وويل:

[٤٦] ای ابراهيمه! آيا تا د زما خدايانو نه مخ اړولئ دئ؟ نو که ته د دې کار نه لاس وانخلې، نو تا به په تيږو وولم [يعنې سنګ سار بده کړم]

او د زما نه نور لرې لاړ سه، یعنی زه ورک سه چې بیا ده ونه و ینم، نو بیا ابراهیم عليه السلام په خواب کې ورته وویل:

[٤٧-٤٨] [ای پلارجانه!] سلامتي ده غواړم، خو زه به د خپل رب نه چې یقینا د زما ډیر قدر کړي [یعنی راباندې مهربان دئ] تاته بښنه وغواړم او زه د ستاسې نه او د هغو بتانو نه چې د الله نه پرته یې عبادت کړی بیلیږم او خپل رب غواړم او عبادت یې کړم او هیله ده چې د خپل رب نه په دعاء کې محروم او رټل سوئ نه وم، یعنی الله تعالی د زما دعاء قبلوي.

{الله ابراهیم عليه السلام ته د کافر انو نه بیلتون کې رحمت وبانسه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې چې کله ابراهیم عليه السلام د خپل قوم نه بیل سه الله تعالی ورته د کهول ورکولو یادونه کړې ده او هغه ورته لو یه ډاډکیرنه بلل کیږي، او فرمایلي دي:

﴿فَلَمَّا ٱعۡتَزَلَهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۖ وَكُلّٗا جَعَلۡنَا نَبِيّٗا ٤٩ وَوَهَبۡنَا لَهُم مِّن رَّحۡمَتِنَا وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ لِسَانَ صِدۡقٍ عَلِيّٗا ٥٠﴾

[٤٩-٥٠] نو بیا چې کله ابراهیم د خپل بت پرست قوم او د دوی بتانو نه چې د الله نه پرته یې د هغو عبادت کا ؤ؛ بیل سه، نو مونږ ورته زوی اسحاق او [بیا لمسئ] یعقوب و بانسه او هر یو مونږ نبي وګرځا ؤ او دوی ته مونږ د خپل رحمت نه برخه و بښله او د دوی ژبې مونږ په ر یښتیا و یلو سره لوړې وګرځولې.

قدرمنو دوستانو! دا وې د الله تعالی لویې پیرزویني چې هغه یې ابراهیم عليه السلام ته ډالۍ کړې، ځکه کله چې دئ پیغمبر سه او د الله تعالی عبادت او بنده ګی رسالت په توحید سره ورته وسپارل سه، نو ژر خپل پلار آزر او د هغه قوم ته ورغئ او دوی یې د الله توحید ته راو بلل او د شرك نه یې کلک وګواښل، خو پلارې (آزر) ابراهیم عليه السلام په ډیرې غوصې سره د کوره وشاړه، نو بیا ابراهیم عليه السلام خفه ورځخه لاړه، خو د خپل پلاره سره یې وعده وکړه چې دئ به ورته د خپل لوی مهربان رب الله نه بښنه وغواړي، ځکه د

بتانو عبادت لو يه ګناه ده، نو بيا الله تعالى ابراهيم عليه السلام ته د تسليت او ډاډ لپاره زوى اسحاق ورکه، که څه هم ميرمن يې (ساره د اسحاق مور) ډيره زړه وه او بيا د هغه نه الله لمسئ يعقوب ورکه او هغه دواړه الله تعالى نبيان وګرځول او په پيغمبرۍ کې د پلار ځاى ناستي سول.

او همدارنګه الله تعالى ابرهيم عليه السلام ته د هاجر نه مشر زوى اسماعيل بښلئ وه چې په راتلونکو(٥٤او٥٥) آيتونو کې يې يادونه سوې ده، او بيا اسماعيل د خپل پلار ابراهيم سره د الله تعالى کور کعبه مبارکه په مکه کې ودانه کړه، او هغه الله تعالى د خپل توحيدي عبادت لپاره مومنانوته قبله وګرځوله چې د قيامت ورځې راتک پورې به هلته مومنان ابراهيمي توحيد لمانځي او د نړۍ ګوډ ګوډ نه به حج او عمرې ته راځي.

{موسى او اسماعيل او ادريس د الله غوره سوي پيغمبران ول}

او په ورپسې مبارکو آيتونو کې الله د موسى، اسماعيل او د ادريس عليهم السلام د نبوت او پيغمبرۍ لنډه يادونه کړې ده او دوى يې کلک ستايلى دي، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مُوسَىٰٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ مُخۡلَصٗا وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ٥١ وَنَٰدَيۡنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنِ وَقَرَّبۡنَٰهُ نَجِيّٗا ٥٢ وَوَهَبۡنَا لَهُۥ مِن رَّحۡمَتِنَآ أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيّٗا ٥٣ وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِسۡمَٰعِيلَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صَادِقَ ٱلۡوَعۡدِ وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ٥٤ وَكَانَ يَأۡمُرُ أَهۡلَهُۥ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِۦ مَرۡضِيّٗا ٥٥ وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِدۡرِيسَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيّٗا ٥٦ وَرَفَعۡنَٰهُ مَكَانًا عَلِيّٗا ٥٧﴾

[٥١-٥٢] اى پيغمبره! په دې کتاب (قرآن) کې موسى راپه ياد کړه [يعنى د هغه پيغمبرۍ او نبوت نه خلک خبر کړه] هو! يقينا چې موسى يو غوره سوئ بنده، پيغمبر او نبي ؤ او د طور غونډۍ ښي خوا نه موسى ته مونږ غږ وکه او دئ مونږ خپل مناجات او ځانګړې مرکې ته را لنډ که، يعنى د

مصر اوسنۍ سینا په ډاګ کې موسی علیه السلام خپل رب الله سره مناجات وکه.

[٥٣] او موسی ته مونږ د زمونږ رحمت او لور یې نه د هغه ورور هارون ورسره نبي و بانبه، یعنی دا چې الله تعالی هارون د موسی ورور هم پیغمبر وګرځا ؤ، ترڅو د موسی ملا ترسي، او دا د الله نه د موسی غوښتنه وه چې الله ومنله او هارون هم پیغمبر سه.

[٥٤-٥٥] او ای پیغمبره! [همدارنګه] په دې کتاب (قرآن) کې د اسماعیل نبوت او پیغمبرۍ قصه راپه یاد کړه او یقینا چې اسماعیل په خپلو وعدو کې ر ښتونکې ؤ او هغه پیغمبر او نبي ؤ او اسماعیل خپلې کورنۍ ته په لمونځ کړو او زکات ورکولو امر کا ؤ او د اسماعیل نه د هغه رب الله راضي او خوښ ؤ.

ګرانو عز یزانو! اسماعیل بن ابراهیم علیهما السلام د الله تعالی هغه نازولئ بنده ؤ چې پلارې دئ د خپلې مور سره د بیت المقدس نه مکې ته راوست او بیاې هلته په مکه کې د الله رحمت ته پر ښود، ترڅو چې الله ورته د زمزم مبارکو او بو چینه راوخوتوله، او کله چې اسماعیل زلمئ سه د خپل پلار ابراهیم مرسته یې وکړه او د کعبې معظمې چې د الله کور دئ؛ بنسټ کښود او د الله کورې ودان که، او همدارنګه اسماعیل علیه السلام د خپل پلار ابراهیم علیه السلام په غوښتنه په منی کې قر بانۍ ته تیار سه، ترڅو الله تعالی د جنت نه مړ راولیږه او بیا هغه ابراهیم د اسماعیل علیهما السلام پرځای حلال او قر باني که.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې د ادر یس علیه السلام نبوت الله تعالی لنډ یاد کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[٥٦-٥٧] ای پیغمبره! او په دي کتاب (قرآن) کې ادر یس راپه یاد کړه، او یقینا چې هغه یو ر ښتونکئ نبي ؤ او هغه ته مونږ لوړ مقام ورکړي ؤ، یعنی ادر یس علیه السلام ته الله وحیه کړې وه او د نبوت لوړ مقام خاوندې ګرځولئ ؤ، او پیغمبران ټول د آم او د ابراهیم علیهما السلام کهول ول، خو ور پسې کسانو د حق لار پر ښوده او توحید یې په شرك بدل که.

عزتمنو دوستانو! او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې د آدم، نوح، ابراهيم او اسرائيل (يعقوب بن اسحاق) عليهم السلام کهول نه ټول پيغمبران ستايلي دي چې دوی ټول الله تعالى ته په سجده پراته ول، خو هغوی پسې وروسته بيا داسې کسان پاتې سول چې لمونځ يې پر ښود او خپلو هوسونو پسې لاړل، نو دوی به د خپلو بدو کړنو سزا سره مخامخ سي، لکه په ور پسې مبارکو آيتونوکې چې الله تعالى فرمايلي دي:

{د آدم نوح ابراهيم عليهم السلام کهول باندې الله نعمتونه وورول}

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ وَمِمَّنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٖ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡرَٰٓءِيلَ وَمِمَّنۡ هَدَيۡنَا وَٱجۡتَبَيۡنَآۚ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُ ٱلرَّحۡمَٰنِ خَرُّواْ سُجَّدٗا وَبُكِيّٗا ۩ ٥٨ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيّٗا ٥٩ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا ٦٠ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّهُۥ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَأۡتِيّٗا ٦١ لَّا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوًا إِلَّا سَلَٰمٗاۖ وَلَهُمۡ رِزۡقُهُمۡ فِيهَا بُكۡرَةٗ وَعَشِيّٗا ٦٢ تِلۡكَ ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِي نُورِثُ مِنۡ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيّٗا ٦٣﴾

[٥٨] او هغوی د آدم کهول نه او د نوح سره سپرو کسانو نه او د ابراهيم او اسرائيل کهول نه [يعنی دوی د ټولو پخوانيو پيغمبرانو نه] هغه کسان ول چې الله پردوی باندې خپل نعمتونه پيرزوکړل، نو دوی او نورو هغو کسانو چې دوی مونږ سې لارې ته هدايت او غوره کړي ول [يعنی د دوی د يادښت قصې په دې کتاب قرآن کې مونږ تاته ای پيغمبره! وکړي] او کله چې به د الرحمن رب الله آيتونه لوستل کيدل؛ دوی ټول به پرمخې الله ته د درناوي په سجده پر يوتل، يعنی خپل رب ته بې زاري وکړه او د الله د لو يو پيرزو ينو شکريې وايست او مننه بې وکړه.

[٥٩-٦٠] خو بيا دغو پيغمبرانو پسې وروسته د دوی ځای ناستي

داسي کسان راغلل چې لمونځ کړل يې پر يښودل او خپلو مزو او هوسونو پسې لاړل، يعنی د خپلو پلرونو د نبوت ميراث يې ضائع که، نو بيابه دوی هم د دوزخ اور سزا سختی سره مخامخ سي، خو هغه چاچې تو به وايستله او الله ته بيرته وروګرځيدل او ايمان راوړ او ښــه عمل يې وکه، نو هغوی جنت ته ورننوځي او پردوی باندې هيڅ ظلم نکيږي او نه سزا ورکول کيږي، يعنی داځکه چې دوی شکر و يستونکي ول.

[٦١-٦٢] او دغه جنتونه چې مهر بان الرحمن رب په پته ســره خپلو بنده ګانوته وعده کړي دي؛ هغه به تل پاتې وي او د الله وعده راتلونکې ده او جنتيان به هلته پکې بې ګټې خبرې نه اوري او په سلام اچولو ســره به د دوی هرکلئ کيږي او د دوی خواړه به صبا او بيګاه تيار وي، يعنی دوی به د الله تعالی په لو يو نعمتونو کې وي او ورځخه به خوند اخلي.

[٦٣] او دا هغه جنتونه دي چې هغه مونږ خپلو متقيانو بنده ګانوته ورکو، ځکه دوی په دنيا کې د خپل رب ســزا و يرې نه ځانونه د ګناه او معصيت نه ساتلي ول، يعنی تل يې ښه کړل او بديې نکړل.

درندو دوستانو! دا دي د الله تعالی د ښکلو جنتونو او پيرزو ينو لوی ز يري چې هغه يې پرخپلو ټولو مومنو او صادقو بنده ګانو باندې کړي دي او دوی يې ور باندې نازولي دي، نو ښــاد او نيکمرغه هغه کســان دي چې ايمان يې راوړئ دئ او مسلمانان دي او د الله حکمونوته يې غاړه ايښې ده او هغه يې پرخپلو ځانو باندې جاري کړي دي، او د الله تعالی حکمونو واجبات يې پرځای کړي دی او د محرماتو نه يې ځانونه کلک ســاتلي دي، نو دعا کړو چې الله تعالی ده مونږ د دوی ســره يوځای حشــر کړي او جنتونه ده د زمونږ ځای وګرځوي، اللهم آمين يارب العالمين.

{ملائکې د الله تعالی اسماني حکمونه پرځمکه جاري کوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د خپلې لو يتيا او د قدرتونو بيان په ترڅ کې رسـول الله ﷺ ته د ملائکو راکوز يدلو نه ځمکې ته چې د الله په حکم ترســره کيږي؛ ډاډ ورکړئ دئ، او د جبرئيل امين په خوله يې

ورته فرمايلي دي:

﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمۡرِ رَبِّكَۖ لَهُۥ مَا بَيۡنَ أَيۡدِينَا وَمَا خَلۡفَنَا وَمَا بَيۡنَ ذَٰلِكَۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيّٗا ٦٤ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا فَٱعۡبُدۡهُ وَٱصۡطَبِرۡ لِعِبَٰدَتِهِۦۚ هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا ٦٥﴾

[٦٤-٦٥] ای پیغمبره! او مونږ د اسمان نه ځمکې ته نه راکوز یږو، مګر د ستا رب الله په حکم سره، او د زمونږ نه وړاندې او وروسته او هم د دواړو په منځ کې د ټول جهان واکمنۍ علم او پوهه د الله سره ده او د ستا رب او لوی څښتن نه هیڅ څه شئ نه هیریږي، او د اسمانو او ځمکې او د دوی په منځ کې چې څه شئ دي؛ د هغو ټولو پالونکئ، چلونکئ او واکمن څښتن الله دئ، نو ته ای پیغمبره! یوازې د الله عبادت او بنده کې وکړه او د هغه پراطاعت او بنده کې صبر وکړه او هغه وزغمه، او ای پیغمبره! آیا ته د الله په نامه بل څوک پیژني؟ یعنی دا چې هیڅ څوک الله ته د هغه په قدرتونو، نومونو او صفتونو کې ورته نه دي، نو ښایي چې ټول خلک یوازې الله ته تسلیم سي او یوازې د الله عبادت او بنده کې وکړي او هیڅ څوک د الله سره په خدایي کې شریك نکړي، ځکه الله چې لوی ذات دئ؛ پر ټولو ښکلو نومونو او پر لوړو صفتونو باندې موصوف دئ، او هیڅ څوک سیال او مل نه لري او الله واحد ولا شریك ذات دئ او الله ته ورته نوم هیڅ څوک نه لري.

ګرانو دوستانو! او دا چې بشر یت تل د شرك او کفر د لو یو ګواښونو سره مخامخ دئ، نو الله تعالی په خپل وروستي اسماني کتاب قرآن عظیم الشان کې چې هغه یې مونږ ته لارښود رالیږلی دئ؛ خپل توحید په وار وار سره بیان کړئ دئ او هم یې د توحید ټول دلائل ښه روښانه بیان کړي دي او مونږ ورته په وعد او وعید سره رابلل سوي یو، ترڅو غافل نسو او د الله حق نه چې په بنده کې کې توحید دئ وا نوړو.

{د قيامت په ورځ ټول خلک راژوندي کيږي او انکاريې کفر دئ}

او ور پسې مبارکو آيتونو په پيل کې الله تعالى د انسان انکار د قيامت په ورځ بيرته راژوندي کيدو نه ياد کړئ دئ او بيايې دغسې کاذبه انکيرنه کلکه رده کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَيَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَءِذَا مَا مِتُّ لَسَوۡفَ أُخۡرَجُ حَيّٗا ٦٦ أَوَلَا يَذۡكُرُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ وَلَمۡ يَكُ شَيۡـٔٗا ٦٧ فَوَرَبِّكَ لَنَحۡشُرَنَّهُمۡ وَٱلشَّيَٰطِينَ ثُمَّ لَنُحۡضِرَنَّهُمۡ حَوۡلَ جَهَنَّمَ جِثِيّٗا ٦٨ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمۡ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ عِتِيّٗا ٦٩ ثُمَّ لَنَحۡنُ أَعۡلَمُ بِٱلَّذِينَ هُمۡ أَوۡلَىٰ بِهَا صِلِيّٗا ٧٠ وَإِن مِّنكُمۡ إِلَّا وَارِدُهَاۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتۡمٗا مَّقۡضِيّٗا ٧١ ثُمَّ نُنَجِّي ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيّٗا ٧٢﴾

[٦٦] او هغه انسان [چې کافر دئ او د الله په لو يو قدرتو باور نه لري] وايي: کله چې زه مړ سوم، نو آيا بيا به ژوندئ را وايستل سم؟ يعنى د هغه په ګمان د مرګ نه وروسته بيرته راژوندي کيدل نسته! نو بيا د هغه دا غلط ګمان او خامه انکيرنه الله کلکه رده کړې ده، او فرمايلي دي:

[٦٧] نو آيا دا کافر هغه وخت نه راپه يادوي، کله چې دئ مونږ يقينا په داسې حال کې پيدا که چې هيڅ څه شئ نه ؤ! يعنى نو د مړګ نه وروسته د هغه بيرته راژوندي کول الله ته اسانه دي.

[٦٨] او ای پيغمبره! نو د ستا پر رب الله باندې قسم دئ چې زه به دغه کافران او شيطانان را غونډوم، او بيابه دوی زه هرومرو د جهنم اور لمبوته راغونډ سوي په ګونډو راولم!

[٦٩] او بيابه د هرې ډلې نه هغه څوک چې د الرحمن رب فرمان نه ډير سرغړونکئ او سرکښ ؤ راباسو او سزا ورکول به ور باندې پيل کوو.

[٧٠] او بيا نو مونږ هغه کسان ښه پيژنو چې دوی د نورو نه په کړنو کې وړلاندي دي، يعنى دا چې ښايي دوی د نورو نه مخکې وسوزل سي.

[٧١] ای خلکو! هیڅ څوک به د ستاسې نه وي، مګر دا چې هغه جهنم ته ورننوتونکئ دئ [یعنی د جهنم پرهغه پله باندې به تیریږي چې نوم یې صراط دئ او دا پول د دوزخ ژورې تالې په سر ایښودل سوئ دئ] او هغه د مخکې نه فیصله سوئ حکم دئ، او ای پیغمبره! د ستا رب به دا حکم خامخا پلئ کوي، یعنی دوزخ ته ورننوتل او د صراط پر پله تیریدل؛ د الله تعالی حتمي حکم او پر یکړه ده او هیڅ بدلون پکې نسته او هغه حتما پلی کیږي او نافذیږي.

[٧٢] [او بیا د صراط پله پرسر د تیریدو نه وروسته] مونږ هغو کسانوته نجات ورکوو چې دوی متقیان ول او د الله سزا نه یې خپل ځانونه په اطاعت سره کلک ساتلي ول، او کافرانو چې پرخپلو ځانو باندې ظلم کړئ ؤ؛ دوی به په ګوندو پراته په دوزخ کې پر یږدو.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونوکې د قیامت ورځې یوې برخې ژوندئ انځور د زمونږ مخ ته ترسیم کړئ ایښئ دئ، ترڅو پکې ښه ژور فکر وکړو او ځانونه د دوزخ اور نه په ایمان راوړو او په ښه عمل سره وساتو، او یقیناچې هغه د الله د حکمونو عملي کول دي.

{مومنان به د قیامت په ورځ بر یالي اوکافران به ز یانمن وي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی همداسې د کافرانو سیالي د مومنانو سره یاده کړې ده او د قیامت په ورځ به مومنان بر یالي او کافران به ناسو بان یا ناکامان وي، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَىُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَٰثًا وَرِءْيًا ﴿٧٤﴾ قُلْ مَن كَانَ فِى ٱلضَّلَٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ مَدًّا ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْا۟ مَا يُوعَدُونَ إِمَّا ٱلْعَذَابَ وَإِمَّا ٱلسَّاعَةَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا ﴿٧٥﴾ وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْا۟ هُدًى ۗ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ

﴿خَيۡرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٞ مَّرَدّٗا ٧٦﴾

[٧٣] او کله چې د زمونږ کتاب بيانونکي آيتونه پرخلکو باندې لوستل کيږي، نو هغه کسان چې کافران سول مومنانوته وايي: د زمونږ او ستاسي نه د کمې ډلې ځای او مقام ښه او غوره دئ او د چا مجلس او د جرګو حجره ښکلې ده؟ يعنی کافران خپل ځانونه پرمومنانو باندې لوړ بولي او د خپلو جرګو حجرو او تالارونو په ښکلا کې يؤ پر بل فخر کړي.

[٧٤] او د دغو کافرانو نه څو پيړۍ وړاندې مونږ داسې کسان هلاک کړل چې د دوی نه يې ښه کورونه او ښه ژوند درلود، يعنی دا چې ښايي د تاريخ نه ځانونه خبر کړو او ورځخه څه زده کړو.

[٧٥] ای پيغمبره! [او ته پردغو کافرانو باندې غږ وکړه او ورته] ووايه: هغه کسان چې په ورکتيا کې د سمې لارې نه کاږه پاتې دي [يعنی د حق لارې ورکه کړې ده] نو الرحمن رب به دوی وزنډوي او مهلت به ورکړي [يعنی همداسې به ډير وخت په ورکتيا کې پاتې سي] ترڅو دوی په يقين سره د الله هغه و يرونکي وعدې وو يني چې ورسره يې کړی دي، نو بيا به دوی ته عذاب يا په دنيا کې راسي او يا به د قيامت په ورځ، نو په دې وخت کې به بيا دوی پوه سي چې د چا ځای او کور ډير بدځای دئ او د چا ملګري او مرستندوی پلو يان لږ دي؟ يعنی دا چې نه ښايي هيڅ څوک د دنيا په مال، دولت، په زور او ځواک باندې وغولېږي او حق ته شا کړي.

[٧٦] او هغو کسانوته به الله لا ډير توفيق ورکړي چې د حق پر سمه لار باندې وخوځيدل او د الله دين يې ومانه، او دوی ته د پاتې ښو کړنو ثواب د ستا رب پر وړاندې ای پيغمبره! ښه دئ او راتلونکې يې ښکلې ده.

{الله تعالی کبرجنو دروغژنو کافر انو ته سزا ورکوي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د هغه کبرجن کافر خبرې ردې کړې دي چې هغه رسول الله ﷺ ته د حيرانتيا وړ وي او دئ يې په کلکه سزا ګواښلئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى كَفَرَ بِـَٔايَـٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ ٱلْغَيْبَ أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَـٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾﴾

[٧٧] ای پیغمبره! آیا هغه کس تا ولیده چې دئ د زمونږ کتاب آیتونو نه منکر سه او بیایې وو یل: ماته به په قیامت کې خاماخا ښه ډیر مال، دولت، کهول او زامن راکړل سي؟

[٧٨] او دا سړئ [چې دغسې دروغ وایي]آیا د پټو حکمونو نه خبر سه؟ او یا یې د الرحمن رب الله نه دا هوډ اخستې دئ؟ یعنی دا چې هغه ته به په آخرت کې ډیر مال او دولت ورکړل سي؟

[٧٩] نا خبره هیڅکله دغسی نه ده! [یعنی دا کس نه پر غیبو پوهیږي او نه الله ورسره څه وعده کړې ده] او مونږ به د هغه دا خبرې ولیکو او بیا به هغه ته سزا اوږده او ډیره کړو، یعنی دا ځکه چې هغه الله پسې لو یه افترا کړې ده او غټ درغ یې و یلي دي!

[٨٠] او د قیامت په ورځ به هغه ته د خپلې و ینا میراث ور پشا کوو [یعنی سزا بې کالي] او دئ به مونږ ته یوازې راتلونکئ وي، یعنی د قیامت په ورځ هغه هیڅ څوک مرستندوی نه لري، ترڅویې د الله عذاب نه خلاص کړي او نجات ورکړي.

قدرمنو دوساتنو! روایت سوئ دئ چې دا مبارك آیتونه د هغه لوی کبرجن او سرکښ کافر په باره کې رانازل سوي دي چې هغه د خپل ځان نه دغسې خبرې کړې وې او الله پسې یې دروغ و یلي ول، او روایت سوئ دئ چې دا کبرجن سړئ العاص بن وائل د عمرو بن العاص (رضی الله عنه) پلار ؤ، نو بیا الله تعالی د هغه د دې حیرانونکو خبرو ځواب و یلئ دئ او رسول الله ﷺ ته یې ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ، ترڅو د دغسې کافرانو خبرې دئ په حیرانتیا کې وانچوي، او الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې ټولو دروغژنو مفتریانوته ګواښ کړئ دئ او دوی یې د بدې راتلونکې نه

کلک و یرولي دي.

{د مشرکانو خدایان قیامت په ورځ خپل براءت اعلانوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د مکې کافرانو بغاوت او سرکښي د الله تعالی او د پیغمبر ﷺ پر وړاندې یاده کړې او غندلې ده او بیایې د دوی انځور د قیامت په ورځ خپلو دروغژنو خدایانو سره یوځای ډیر ځلاند او په پر یکنده څیره کې تصو یر کړئ وړاندې کړئ دئ، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لِّيَكُونُواْ لَهُمۡ عِزّٗا ٨١ كَلَّاۚ سَيَكۡفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمۡ وَيَكُونُونَ عَلَيۡهِمۡ ضِدّٗا ٨٢ أَلَمۡ تَرَ أَنَّآ أَرۡسَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمۡ أَزّٗا ٨٣ فَلَا تَعۡجَلۡ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمۡ عَدّٗا ٨٤ يَوۡمَ نَحۡشُرُ ٱلۡمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ وَفۡدٗا ٨٥ وَنَسُوقُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرۡدٗا ٨٦ لَّا يَمۡلِكُونَ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحۡمَٰنِ عَهۡدٗا ٨٧ وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗا ٨٨ لَّقَدۡ جِئۡتُمۡ شَيۡـًٔا إِدّٗا ٨٩ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ وَتَنشَقُّ ٱلۡأَرۡضُ وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ هَدّٗا ٩٠ أَن دَعَوۡاْ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٗا ٩١ وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ٩٢ إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدٗا ٩٣ لَّقَدۡ أَحۡصَىٰهُمۡ وَعَدَّهُمۡ عَدّٗا ٩٤ وَكُلُّهُمۡ ءَاتِيهِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَرۡدًا ٩٥﴾

[٨١] او مشرکانو د الله نه پرته بتان ځانوته خدایان ونیول [یعنی د هغوی عبادت پې وکه] ترڅو دا په نامه خدایان؛ دوی عزتمن کړي، یعنی پلو یان پې سي او مرسته ورسره وکړي.

[٨٢] خو خبره هیڅ کله داسې نکیږي او دغه ناحقه معبودان [بتان] به د قیامت په ورځ د مشرکانو عبادت او د دوی بنده ګی نه منکر یږي او د دوی پرضد او خلاف به در یږي.

[٨٣] ای پیغمبره! آیا تا ونه لیدل چې شیطانان مونږ کافرانوته راولیږل او پردوی باندې مونږ مسلط کړل، ترڅو کافران ګناه کړوته وهڅوي، یعنی دا چې دا د دوی د بدو کړنو سزا وه.

[٨٤] نو ته ای پیغمبره! کافرانوته په عذاب ورکولو کې تلوار مکړه او د دوی هرڅه مونږ شمیرو او بیا سزا ورکوو.

[٨٥-٨٦] او د قیامت په ورځ متقیان په ډیر عزت سره ډله ډله د دوی الرحمن رب ته ورغونډوو او مجرمان (کافران) د دوزخ اور ته د منډو په ستړیا سره ورولو!

[٨٧] او په هغه ورځ پرته د هغه چانه چې د الله نه یې سپارښت کړو وعده اخستې ؤ؛ بل هیڅ څوک د شفاعت او سپارښت واک نه لري، یعنی د مومنانو نه پرته بل هیڅ څوک د یو بل لپاره سپارښت کړلای نسي.

[٨٨] او کافرانو وو یل چې الرحمن رب ځان ته زوي نیولئ دئ! [العیاذا بالله من ذلك]

نو بیا الله تعالی د دوی دا دروغژن تور رد کړئ، او فرمایلي دي:

[٨٩-٩١] ای کافرانو! تاسې ډیر بد څه وو یل او لنډ ده چې اسمانو نه د ستاسې د دې سپکې خبرې نه ټوټه سي او ځمکه وچوي او غرونه ړنګ سي، ځکه دوی الرحمن رب الله پوری د زوی نیولو افترا وکړه!

[٩٢] او الرحمن رب الله ته نه ښایي چې ځان ته څوک زوی ونیسي، یعنی دا ځکه چې زوی درلودل د نقصان نښه ده او الله تعالی د هرنقصان او عیب نه پاک او لوړ دئ.

[٩٣] او یقینا ټول هغه څوک چې په اسمان کې دي او څوک چې په ځمکه کې دي؛ دوی ټول الرحمن رب الله ته په عبودیت او بنده ګی سره راځی، یعنی د قیامت په ورځ د الله تعالی حضورته راغونډیږي.

[٩٤-٩٥] او دا ټول مخلوقات په یقین سره الله شمیرلي دي او یو یو یې حساب کړي دي او بیا ټول الله ته د قیامت په ورځ یوازی یوازی راځي

او راغونډيږي، يعنى ترڅو هرچاته الله د هغه ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکړي، او د الله تعالى عدالت قائم سي.

{ مومنانو ته د الله تعالى د محبت او مينې ز يرئ }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې چې د مر يم سورې وروستي مبارك آيتونه دي الله تعالى لمړئ مومنان د خپل محبت او مينې نه د دوى په زړونو کې خبر کړي دي او بيايې د پخوانيو سرکښو امتونو او ولسونو د هلاکت لنډه يادونه کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا ٩٦ فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلۡمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوۡمٗا لُّدّٗا ٩٧ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هَلۡ تُحِسُّ مِنۡهُم مِّنۡ أَحَدٍ أَوۡ تَسۡمَعُ لَهُمۡ رِكۡزًا ٩٨﴾

[٩٦] او يقينا هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه کارونه يې وکړل الرحمن رب الله به د دوى په زړو کې خپله مينه او محبت واچوي، يعنى الله تعالى په ايمان او ښه عمل سره د بنده په زړه کې ځاى مومي.

[٩٧] اى پيغمبره! نو يقينا چې قرآن مونږ د ستا په ژ به اسانه كه، ترڅو ته په قرآن باندې متقيانوته د ښادۍ ز يرئ ورکړې، او هغه کسان [چې په باطل او سر زورۍ او ضد کړو سره] ناحقه دعوا او جنجال کړي، نوته به اى پيغمبره! دوى د خپل تور برخليک او بدې راتلونکې نه وو يروي.

[٩٨] او اى پيغمبره! د دغو کافرانو نه وړاندې څو پيړۍ ولسونه مونږ هلاك کړل، نو آيا اوس ته د هغوى د کم يوه احساس کړې او يا د کم يوه غږ اورې؟ ځواب دا چې هغوى ټول تير سول او د دوى هيڅ نوم او نښان پاتې ندئ، نو همداسې به دغه اوسني کافران هم له منځه ځي او ختميږي به! نو هوښيار هغه څوک دئ چې د تير تاريخ نه څه زدکړي او ورڅخه پند وا خلي، او د پخوانيو کافرانو غوندې بغاوت ونکړي، بلکې ښايي خپل سر په کر يوان کې کته کړي او ښه ژور فکر وکړي او حق ته تسليم سي.

{ هو! دلته يوه اړ ينه يادونه د پام وړده }

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په ډيرو ښکلو نومونو او لوړو صفتونو نومول سوئ او ستايل سوئ ذات دئ، او دا نومونه څه ځانګړي او خاص نومونه دي چې يوازې الله تعالى ور باندې يادیږي او ستايل کيږي لکه: الله، الرب، الرحمن،الأحد او الصمد او ديته ورته نور د الله تعالى ښکلي نومونه او لوړ صفتونه، نو د خلکو نومول په دغسې نومونو باندې پرته د اضافي ترکيب نه لکه: عبدالله، عبدالرب، عبدالرحمن، عبدالأحد او عبدالصمد ... روا ندي، خو د الله تعالى څه نور ډير نومونه بيا عام دي، لکه: الرحيم، العز يز، الوکيل او ديته ورته، نو د الله تعالى بنده ګانو نومول ور باندې روا دي او هيڅ پروا نلري، او د الله تعالى (الرحمن) نوم په دې مبارکه سوره کې چې په مر يم عليها السلام نومول سوې ده او پکې د مر يم عليها السلام ر ښتيني عبادت قصه په خپل محراب کې د بيت المقدس ښار الاقصى مسجد کې پکې يادە سوې ده، او بيا د مر يم عليها السلام خارق العاده ولادت قصه د عيسى عليه السلام په ز يږ يدلو سره چې لو يه معجزه وه؛ ښه روښانه بيان سوې ده، او دا مبارکه سوره د الله تعالى لوى رحمت په يادونه په زکر يا عليه السلام باندې پيل سوې ده، او پکې الله تعالى خپل ځان د الله او رب پرځای په الرحمن باندې ځوارلس ځله د دې مبارکې سورې په وروستيو آيتونو کې ياد کړئ دئ، نو يقيناچې دا بيان د الله تعالى د هغو لو يو رحمتونو څرګندوى دئ چې هغه يې پرخپلو پيغمبرانو او پرځينې نورو بنده ګانو باندې لوروې دي، ځکه الرحمن د الله ښکلئ نوم او لوړ صفت دئ او الله تعالى تل په هغه ستايل سوئ دئ، نو د همدې مقصد لپاره الله تعالى [والله أعلم] د الله په ځای الرحمن باندې؛ خپلې پيرز ينې پرخپلو بنده ګانو باندې په دې مبارکه سوره کې يادې کړې دي، ترڅو مونږ د الله تعالى لو يو رحمتونو شکر و باسوو او خپل الرحمن رب؛ هيڅ کله هير نکړو او په خپل منځ کې پر يو بل رحمت او زړه سواندئ ولرو، او ښايي د الله نه پرته بل څوک په [رحمن يا الرحمن] ونه نوموو.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د طه سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

الحمد لله الذي أنزل القرآن تذكرة لمن يخشى والصلاة والسلام على المبعوث رحمة للعالمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وعلى من اهتدى بهديه إلى يوم الدين وبعد:

{د طه مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

ګرانو دوستانو! د (طاء، هاء) سوره مکي سوره ده او د الله تعالی د عظمت او قدرتونو لویې نښې او د توحید دلائل پکې بیان سوي دي، او په پیل کې یې الله تعالی رسول الله ﷺ ته چې د کافرانو د زورونو، کفر، کینو او عناد نه ډیر وکړ یده؛ کلک تسلیت او ډاډ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي: چې ای پیغمبره! پرتا باندې د قرآن رانازلیدل رحمت دئ نه کړ یدل او بد مرغي، ځکه د ستا رسالت او دنده خلکوته د قرآن رسول دي او ته دوی د الله توحید ته په عبادت او بنده ګۍ کې رابولې، نو بیا د دوی خوښه چې د ستا دعوت مني او کنه؟ نو ته ای پیغمبره! هیڅ کله د کافرانو په کینه کښو سر زور یو باندې مه خفه کیږه، او د قرآن تبلیغ نه وروسته بیا دوی پرخدای وسپاره، او الله به دوی ته هغسې سزا ورکړي چې د دوی لائق ده، او یقینا چې داسې لارښودنه د اسلام هر مبلغ لپاره کلک اطمئنان او پوخ ډاډ دئ، او حق ته رابلونکي علماء ده هیڅ کله د توحید مخالفانو په سپکو خبرو نه خفه کیږي او خپل زړه ده نه په تنګوي او په کلک باور او یقین سره ده؛ د پیغمبرانو په لار روان سي او د الله تعالی د دین حکمونه ده خلکوته په سړه سینه ورسوي، نو که د دوی په نصیب کې خیر او نیکمرغي وه، نو رسول الله ﷺ پسې به روانیږي او خبره بې مني، او که څوک محروم وه او شر ورته الله لیکلئ وه، نو همداسې به د شیطان

وسوسو ښکار کړئي او د حق نه به مخ اړوي، او بيا الله تعالى رسول الله ﷺ ته په دې مبارکه سوره کې د لا ډير ډاډ لپاره د موسى عليه السلام قصه په تفصيل سره را په ياد کړي ده، او بيا يې د آدم عليه السلام قصه باندې د طه سوره پاى ته رسولې ده، هو! دا مبارکه سوره په طه، ځکه نومول سوې ده چې پيل يې په (طه) طاء او هاء دوه هجائي حرفونو باندې سوئ دئ، او طه د رسول الله ﷺ نوم نه دئ، بلکې مقصد يې همدا مقطعات توري دي چې د طه سورې نه وړاندې او وروسته نورې ډيرې سورې ور باندې پيل سوي دي، او پکې د قرآن ادبي اعجازته اشاره ده.

{قران د خلاصون او ښادۍ پيغام دئ نه د کم بختۍ}

د طه مبارې سورې په پيل کې الله تعالى د قرآن کر يم نزول مقصد بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿طه ۝١ مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ ۝٢ إِلَّا تَذۡكِرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰ ۝٣ تَنزِيلٗا مِّمَّنۡ خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلۡعُلَى ۝٤ ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ ۝٥ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَمَا تَحۡتَ ٱلثَّرَىٰ ۝٦ وَإِن تَجۡهَرۡ بِٱلۡقَوۡلِ فَإِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخۡفَى ۝٧ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ ۝٨﴾

[١] طه ۝١ د مقطعاتو تورو نه دوه توري دي، يعني د عربي ژبې د هجاء هغه پر يکړل سوي توري دي چې د قرآن مجيد ځيني سورې ور باندې پيل سوي دي، او په مراد او مقصد يې د جمهورو مفسر ينو په و ينا يوازې الله ښه پوهيږي، خو نورو ډيرو مفسر ينو بيا د دغو حرفونو او تورو د معنا په بيان کې خپل بيل نظرونه څرګند کړي دي، او د هغوى نه يو غوره سوي نظر چې په دغسې هجايي تورو پيل سوو سورو بيان کې مخکې په وار وار سره ياد سوئ دئ؛ دا دئ چې د الله تعالى عظيم الشان کلام قرآن چې په عربي ژ به را نازل سوئ دئ؛ ټول د همدې عربي هجاء حرفونو نه جوړ

سوئ کتاب دئ، خو بيا هم هيڅ څوک د عر بانو اديبانو نه د هغه غوندې خبرې د ځان نه جوړولای نسي، نو يقينا چې د عر بانو اديبانو دا بې وسعي د قرآن په ادبي اعجاز باندې پوخ دليل دئ، او له همدې کبله مفسر ين وايي چې (طه) د رسول الله ﷺ نوم نه دئ، لکه څنګه چې ځينې مفسر ينو دا خبره کړې ده، بلکې هغه همدا د عربي خوږې ژبې دوه توري (طاء او هاء) دي او ورڅخه همدا د قرآن بياني اعجاز بيان مقصد او مراد دئ.

[٢-٣] ای پيغمبره! دا قرآن پرتا باندې مونږ د دې لپاره ندئ رانازل کړئ چې ته ور باندې ستړئ سي [يعنی دا چې ته ور باندې بد مرغه يا کم بخته سي] هو! دا قرآن هغو کسانوته چې د الله عذاب نه و يرې ور يادونکئ پيغام دئ، يعنې د الله عذاب خلکوته ور په يادوي، ترڅو خپل ځانونه د الله سزا نه په ايمان راوړو، اطاعت او په صادقانه بنده ګۍ سره کلک وساتي

[٤-٥] او قرآن د هغه چانه رانازل سوئ دئ چې هغه ځمکه او لوړ اسمانونه پيدا کړل او بيا همدا الرحمن خالق په عرش مستوي سه، يعنی د الله مقام سره لائق يې پاس پرعرش يا څوکۍ باندې داسې استوا وکړه چې د الله تعالی په واکمني او لوی قدرت باندې پرمخلوقاتو ښه ښکاره او څرګنده ځليږي.

هو! درندو عز يزانو! د الله تعالی استوا پرعرش هغسې استوا نه ده، لکه د بشر استوا پر تخت باندې، بلکې هغه د الله تعالی شان او لوړ مقام سره لائقه استوا ده، ځکه د مخلوقاتو نه هيڅ څه شئ د الله غوندې نه دي او نه خالق مخلوق ته ورته دئ، او دغسې تفسير د صحابو، تابعينو او د خير القرون ټولو پخوانيو علماوو تفسير دئ، يعنی د الله تعالی استوا پر عرش باندې يو منل سوئ ثابت حقيقت دئ، خو څرنګوالئ او کيفيت يې مونږ ته معلوم نه دئ او د کيفيت نه سوال يا پوښتنه روا نده، ځکه دغسې سوالونه شبهې او شکونه راپاروي او په دغسې مسئلو کې مونږ رسول الله ﷺ د ډيرو فلسفی بحثونو او جدل نه کلک منع کړي يو، ځکه دغسې مناظرې د اسمان نه رانازلې سوې وحی د معنا سره سمون نه

لري او ورته اړتيا هم نسته او نه پکې څه ګټه سته؛ پرته لدې چې وخت پکې ضائع سي او د مومنانو په منځ کې د بيلتون او اختلاف سبب وګرځي، لکه په تار يخ کې چې هغه لولو او تار يخ ور باندې شاهد دئ، او د بده مرغه هغوی هم د يونان سوفسطائي فلسفې ښکار سوي ول.

[٦] او ټول هغه مخلوقات چې په اسمانونو کې او څه چې په ځمکه کې دي او يا د دوی دواړو په منځ کې دي او يا د ځمکې لاندې دي؛ هغه ټول د الله واک لاندې دي، يعنی الله تعالی پيدا کړي دي او الله پې چلونکئ او پالونکئ لوی څښتن دئ.

[٧] او ای پيغمبره! که ته په جګ غږ څه خبره وکړې [او يا پې پټه په زره کې وکړي؛ هغه ټول الله ته يو شئ دي] ځکه الله په پټه خبره او د هغې نه لا په ټيټ غږ سره خبره باندې پوهيږي، يعنی د الله نه هيڅ څه شئ پټ نه دي، او الله پر پټ او ښکاره ټولو باندې پوهيږي، نو ځکه ښايي خپلې غوښتنې د الله نه په ورو غږ سره وغواړو نه په نعرو او چيغو سره، او دا په دعاء کې د الله تعالی سره هغه اړ ين ادب دئ چې هغه يې په دې مبارك آيت کې مونږ ته ښودلئ او ښه روښانه ياد کړئ او بيان کړئ دئ.

[٨] او د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسته او ټول ښکلي، کامل او پوره نومونه د الله دي، يعنی الله تعالی پر ټولو پوره او پرښکلو نومونو او لوړو صفتونو نومول سوئ او ور باندې موصوف دئ، نو ځکه ښايي ټول هغه نومونه او صفتونه چې الله تعالی ځان ته په قرآن کې او يا د رسول الله ﷺ په خوله په احادثيو کې ثابت کړي دي؛ ښايي هغه مونږ هم يوازې الله تعالی ته ثابت کړو، او کم ناقص صفتونه چې الله د خپل ځان نه لرې کړي دي؛ هغه ورځخه لرې کړو او الله ور باندې ونه ستاييو.

{موسی عليه السلام ته الله تعالی د نبوت مقام و بانبه}

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته د لا ډير ډاډ لپاره د موسی عليه السلام د وړکتوب او د فرعون په کور کې د هغه رالو ييدلو او روزنې قصه؛ ډيره اوږده ياده کړې ده او بيا يې د

موسی علیه السلام نبوت او پیغمبرۍ قصې په پای کې د موسی علیه السلام بر یا پر فرعون باندې په رونټیا او تفصیل سره بیان کړې ده، او بیا الله تعالی د هغو کړاوونو یادونه کړې ده چې هغه موسی علیه السلام د خپل قوم بني اسرائیلو د لاسه چې یو کینه کښ او ناشکره قوم ؤ وګالل، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَهَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ٩ إِذۡ رَءَا نَارٗا فَقَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِقَبَسٍ أَوۡ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدٗى ١٠ فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ يَٰمُوسَىٰٓ ١١ إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخۡلَعۡ نَعۡلَيۡكَۖ إِنَّكَ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوٗى ١٢ وَأَنَا ٱخۡتَرۡتُكَ فَٱسۡتَمِعۡ لِمَا يُوحَىٰٓ ١٣ إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ١٤ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخۡفِيهَا لِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا تَسۡعَىٰ ١٥ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنۡهَا مَن لَّا يُؤۡمِنُ بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرۡدَىٰ ١٦﴾

[۹] ای پیغمبره! او آیا تاته د موسی هغه خبرې او قصه راغلې ده؟ یعنی هغه قصه چې کله موسی د مدین نه مخ په مصر د خپلې کورنۍ سره وخوځیده؟ نو ای پیغمبره! اوس د موسی نبوت او پیغمبرۍ اوږدې قصې ته چې د کړاوونو نه ډکه وه؛ پام وکړه، ترڅو پوه سې چې د ستانه مخکې پیغمبرانو، لکه موسی د خپل کینه کښ قوم نه څومره کړاوونه وګالل او دئ خپل قوم څومره ډیر او کلک وزورا وه؟

[۱۰] هو! موسی چې کله د خپل مزله په شپه یو بل سوئ اور ولیده، نو بیایې خپلې کورنۍ او کهول ته وو یل: تاسې دلته کینئ او تم سئ، ځکه یقینا چې ما اور ولیده، نو کیدای سي تاسي ته زه د هغه نه څه سکروټې راوړم او ځانونه ور باندې د یخنۍ نه تاوده کړئ، او یا به د دې اور سره څوک لارښود بیامومم او مونږ ته به لار وښیي؟

[۱۱-۱۲] نو بیا چې کله موسی د اور ځای ته ورغئ هلته ور باندې غږ

وسه چې ای موسی! زه د ستا رب یم، نو څپلې ده و باسه، ځکه ته د طور ډاګ په مقدس ناو کې یې، یعنی د خپل رب الله تعالی مناجات او ځانګړې مرکې او خبروته ځان تیار کړه!

[١٣] ای موسی! ته ما د خپلې پیغمبرۍ لپاره غوره کړې، نو تاته چې څه وحیه کیږي هغه واوره، یعنی د خپل رب پټو خبروته کلک غوږ و باسه.

[١٤] هو؛ ای موسی! زه یقینا الله یم او د زما نه پرته بل څوک په حق سره معبود نسته، نو یوازې د زما بنده ګي وکړه [یعنی د زما فرمان یوسه] او لمونځ وکړه او په لمانځه کې ما یاد کړه، یعنی یوازې د خپل رب الله ستاینه ، بنده ګي او عبادت وکړه او فرمان یې یوسه.

[١٥] او ای موسی! باور وکړه چې قیامت راتلونکئ دئ او ټول خلک به پکې حساب ورکولوته بیرته راژوندي کیږي، او زه غواړم چې هغه د خلکو نه پټ کړم، ترڅو هیڅ څوک پوه نسي چې قیامت کله راځي؟ او بیا به هرچاته د هغه د خپلو کړنو ثواب او سزا ورکړه سي.

[١٦] نو ای موسی! هغه کسان چې په قیامت باور نه لري او خپل هوس پسې اخستي دي [یعنی خپلو نفسي غوښتنو پسې ځي] هغوی تا د قیامت ورځې نه وانړوي [یعنی تا د قیامت ورځې ته د تیاري نه منع نکړي] ځکه چې بیا به هلاك سې.

درندو دوستانو! په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ د موسی علیه السلام پیغمبرۍ نه خبر کړي یو او بیایې د قیامت ورځې حساب یادونه کړي ده، ځکه یقیناچې هغه د ټولو پیغمبرانو رسالت او دنده وه او دوی ټولو خپل امتونه ورته راباللي دي.

{موسی علیه السلام ته د معجزو ورکړه د هغه پیغمبري تصدیق کړه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی موسی علیه السلام ته د معجزو ورکول یاد کړي او بیان مونږ کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ١٧ قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُا۟ عَلَيْهَا

وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ أُخْرَىٰ ﴿١٨﴾ قَالَ أَلْقِهَا يَا مُوسَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَلْقَاهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَىٰ ﴿٢٠﴾ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ ۖ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا الْأُولَىٰ ﴿٢١﴾ وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ آيَةً أُخْرَىٰ ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ آيَاتِنَا الْكُبْرَى ﴿٢٣﴾

[١٧-١٨] ای موسی! او په ښي لاس کې ده څه شئ دي؟ موسی وو يل: دا زما لکړه ده چې په تک کې ور باندې تکيه کوم او خپلو ميږوته د ونو پاڼې ور باندې راځنډم، او په دې لکړه کې د زما نورې ډيرې ګټې او مقصدونه هم نغښتي دي.

[١٩-٢٠] نو بيا الله ورته وو يل: ای موسی! لکړه ده پرځمکه وغورځوه، نو بيا موسی خپله لکړه پرځمکه وغورځوله او ګوري چې هغه ښامار دئ په منډه ځي!

[٢١] نو بيا موسی ته الله وو يل: لکړه ده بيرته راواخله مه و يره، هغه به بيرته درته لکړه کړو.

[٢٢-٢٣] او ای موسی! لاس ده د خپل ولي لاندې تخرک ته ورټول کړه او هغه به پرته لدې چې پيس وي، لکه واوره سپين بيرته راووځي او دا به ستا لپاره بله معجزه وي، ترڅو په دې ډول تاته مونږ ای موسی! د خپلو قدرتونو لويې نښې او معجزې دروښيو.

قدرمنو دوستانو! په دې ډول الله تعالی موسی خپل پيغمبر په حسي معجزو ونازا ؤ، ترڅو فرعون سره مقابلې ته جوګه سي او خپل قوم بني اسرائيل د فرعون ظلم نه خلاص کړي.

{ فرعون د خدايي دعوا وکړه نو الله ورته موسی استازئ ولیږه }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې موسی عليه السلام ته الله تعالی حکم کړئ دئ چې فرعون ته لاړ سه او هغه د سرکښۍ نه د الله اطاعت او بنده ګۍ ته

راو بوله، او فرمايلي دي:

﴿ٱذۡهَبۡ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ٢٤ قَالَ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي ٢٥ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ٢٦ وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ٢٧ يَفۡقَهُواْ قَوۡلِي ٢٨ وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرٗا مِّنۡ أَهۡلِي ٢٩ هَٰرُونَ أَخِي ٣٠ ٱشۡدُدۡ بِهِۦٓ أَزۡرِي ٣١ وَأَشۡرِكۡهُ فِيٓ أَمۡرِي ٣٢ كَيۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيرٗا ٣٣ وَنَذۡكُرَكَ كَثِيرًا ٣٤ إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرٗا ٣٥ قَالَ قَدۡ أُوتِيتَ سُؤۡلَكَ يَٰمُوسَىٰ ٣٦ وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَيۡكَ مَرَّةً أُخۡرَىٰٓ ٣٧﴾

[٢٤] ای موسی! فرعون ته ورسه، ځکه هغه یقینا د الله اطاعت نه سرکښي کړې ده، یعنی نو هغه د الله بنده کې او فرمان وړو ته راو بوله.

[٢٥-٢٨] [نو بیا موسی د الله نه وغوښتل] او وو یل: ای ر به! د زما زړه رښا کړه او کار مه اسانه کړه او زما د ژبې نه غوټه خلاصه کړه، ترڅو خلک زما په خبره پوه سي.

[٢٩-٣٠] او ای ر به! زما د کورنۍ نه څوک راسره ملګرۍ وګرځوه، هارون زما ورور را ته وز یر او مل کړه او د زما ملا پرهغه وتړه او د زما سره یې په کار کې شر یک کړه، یعنی هارون هم پیغمبر کړه.

[٣٣-٣٥] ترڅو مونږ تا ای لو یه څښتنه! سه ډیر په پاکۍ سره یاد کړو، او ته ای لو یه ر به! یقیناچې مونږ سه و یې!

[٣٦] [نو بیا الله تعالی موسی ته په ځواب کې] وو یل: ای موسی تا ته د ستا ټولې غوښتنې درکړې سوې، یعنی الله د موسی علیه السلام دعاء قبوله کړه.

[٣٧] او ای موسی! یقینا چې پرتا باندې مونږ یوځل بیا احسان وکه، یعنی ته مونږ بیا ونازولې او د ستا ټولې غوښتنې ومنل سوې.

درندو دوستانو! یقینا چې پیغمبري ډیر درونده رسالت او لوی امانت دئ او د دغسې عظیم استاز یتوب سر ته رسول د الله تعالی مرستې نه وروسته د ژبې فصاحت او غوره بیاني بلاغت ته کلکه اړتیا لري، نو ځکه موسی علیه السلام د خپلې ژبې فصاحت او د خپل ورور(هارون) ملتیا وغوښتله،

ځکه د هارون ژبې فصاحت د موسی ژبې نه ښه او وچت ؤ، نو ښایي د دین مبلغین او دعات د خپلو ژ بو په فصاحت کې ز یار و باسي او د ادبیاتو فصاحت او بلاغت اصول او قاعدې ښې زده کړي او هغه په و ینا او خطابت سره ښه ډیرې تمر ین او کردان کړي، ترڅو خپل پیغام په خوږه او روانه ژ به خلکوته په اسانۍ سره ورسوي او دوی ښه پوه کړي، نو دا دئ الحمد لله په ځینو اسلامي هیوادونو کې د خطابت لپاره د د دعاتو او خطیبانو ښې روزنې په مقصد عالي انستیتونه جوړ سوي دي، او پکې دعات او خطیبان نظري او عملي روزل کیږي، او د دې مضمون تدر یس او عملي تمر ین افتخار ماته الحمد لله لسهاوو کلونه الله تعالی؛ په مکه معظمه کې د اسلامي نړۍ رابطې په عالي انستیتوت راو باښه.

عزتمنو دوستانو! هو؛ الله تعالی داځل موسی عليه السلام په پیغمبري باندي ونازا ؤ، او د هغه ټولې اړتیاوې یې ورته پوره کړي او لدې نه وړاندې الله تعالی موسی عليه السلام د فرعون په کور کې په روزنې او لو یدلو سره نازولئ ؤ، او الله ور باندې ښه ډیر احسان کړي ؤ، او د دغسې پاملرنې او احسان کړو اړتیا دا وه چې موسی عليه السلام په هغه کورنۍ کې وز یږ یده چې فرعون د خپلو منجمینو په خوله فرمان صادر کړئ ؤ چې د بني اسرائیلو ټول نوې پیدا سوي یا ز یږ یدلي نار ینه ماشومان ده ووژل سي، ترڅو په دې کار سره د هغه نوي ز یږ یدلي ماشوم کوانښ مخنیوئ وسي چې هغه د منجمینو په وړاندې و یلو سره د فرعون پاچایي ننګوي او ورته کوانښ دئ.

{موسی عليه السلام د الله په غیبي حکم د فرعون په کورکي رالوی سه}

نو بیا الله تعالی خپله تقدیري پر یکړه د همدې قصې بیان سره سمه نافذه کړه او موسی عليه السلام ته یې په و ینا کې فرمایلي دي:

﴿إِذۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰٓ ٣٨ أَنِ ٱقۡذِفِيهِ فِي ٱلتَّابُوتِ فَٱقۡذِفِيهِ فِي ٱلۡيَمِّ فَلۡيُلۡقِهِ ٱلۡيَمُّ بِٱلسَّاحِلِ يَأۡخُذۡهُ عَدُوّٞ لِّي وَعَدُوّٞ لَّهُۥۚ وَأَلۡقَيۡتُ عَلَيۡكَ مَحَبَّةٗ مِّنِّي وَلِتُصۡنَعَ عَلَىٰ عَيۡنِيٓ ٣٩ إِذۡ تَمۡشِيٓ أُخۡتُكَ فَتَقُولُ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ مَن يَكۡفُلُهُۥۖ

فَرَجَعْنَٰكَ إِلَىٰٓ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ۚ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَٰكَ مِنَ ٱلْغَمِّ وَفَتَنَّٰكَ فُتُونًا ۚ فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِىٓ أَهْلِ مَدْيَنَ ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٠﴾ وَٱصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِى ﴿٤١﴾

[٣٨-٣٩] ای موسی! [او دغه احسان پرتا باندې هغه وخت وه] کله چې د ستا مورته مونږ هغه څه وحیه کړل چې پټ و یل کیږي، او د ستا مورته مونږ وو یل: زوی ده په کندو (تابوت) کې کیږده او بیایې په سیند کې وغورځوه، نو بیا به د سیند او به دئ د سیند څنډې ته راو باسي او زما او د هغه دښمن (فرعون) به موسی د سیند غاړې نه راو باسي.

[٤٠] ای موسی! او کله چې د ستا خور ستا په څار کې روانه وه، نو بیا هغې هغه چاته چې ته یې د سیند غاړې نه راوایستلې وو یل: آیا تاسې ته زه داسې څوک دروښیم چې دې ماشوم ته ټئ ورکول په غاړه واخلي؟ نو بیا هغه وه چې ته ای موسی مونږ بیرته خپلې مورته راوکړځولې، ترڅویې سترګې پرتا یخې سي او تا پسې غمجنه او خفه نسي، او بیا تا ای موسی! یو سړئ مړکه، نو بیا تاته مونږ د دې غم نه نجات درکه، او ته مونږ ډیر ازمایښت کړې او ډیر کړاوونه پرتا باندې راغلل، نو بیا تا ډیر کلونه د مدین اوسیدونکو سره تیر کړل او دا دئ اوس ته ای موسی په ټاکل سوي وخت کې د مدین نه بیرته مصرته راغلې.

[٤١] او ای موسی! ته مونږ خپل ځان لپاره جوړ کړې او ښه مو وروزلې، یعنی دا چې ترڅو ته د زمونږ رسالت او استاز یتوب وړتیا او لیاقت بیامومي او دي لوړ مقام ته ورسیږې.

ګرانو دوستانو! هو! کله چې موسی علیه السلام یو کس قبطئ د فرعون قوم نه په غلطئ سره مړکه، نو بیا مدین ته وتښتیده او هلته یې د شعیب علیه السلام لور سره وا ده وکه او لس کاله هلته خانه داماد پاتې سه او د خپل خسر کورنئ خدمت یې وکه، او بیا د سینا له لارې بیرته مخ په مصر وخوځیده او د طور غونډه کې په څیرمه فرعون ته پیغمبر او د الله تعالی په استاز یتوب وګمارل سه.

{موسی علیه السلام الله فرعون ته ولیږه چې د اطاعت ته یې راو بولي}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې فرعون ته د موسی علیه السلام د استازولۍ په بیان کې فرمایلي دي:

﴿ٱذۡهَبۡ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔايَٰتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكۡرِي ٤٢ ٱذۡهَبَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ٤٣ فَقُولَا لَهُۥ قَوۡلٗا لَّيِّنٗا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوۡ يَخۡشَىٰ ٤٤ قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفۡرُطَ عَلَيۡنَآ أَوۡ أَن يَطۡغَىٰ ٤٥ قَالَ لَا تَخَافَآۖ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسۡمَعُ وَأَرَىٰ ٤٦ فَأۡتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرۡسِلۡ مَعَنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبۡهُمۡۖ قَدۡ جِئۡنَٰكَ بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكَۖ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلۡهُدَىٰٓ ٤٧ إِنَّا قَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡنَآ أَنَّ ٱلۡعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ٤٨﴾

[٤٢-٤٤] ای موسی! ته او ورور ده (هارون) د زما معجزو سره لاړ سی او د زما په ذکر او یاد کې سټړي نسی [یعنی د خپل رب الله پیغام په کلک تصمیم او غښتلي اراده فرعون ته ورسوی او د ستړیا احساس ونکړی] هو! تاسې دواړه فرعون ته ورسی، ځکه هغه په یقینا سره د الله بنده کی نه سرکښه سوئ دئ، او فرعون ته تاسې پسته خبره وکړی، نو هیله ده چې د الله سزایي راپه یاد سي او وو یر یږي، یعنی دا چې نور د بغاوت او سرکښی نه لاس واخلي!

[٤٥] موسی او ورور یې هارون وو یل: ای د زمونږ لو یه خدایه! مونږ خو یقینا چې د دې نه کلک و یر یږو چې پر مونږ ز یاتئ ونسي او فرعون پرمونږ تیرئ ونکړي؟

[٤٦] [نو بیا دوی ته الله تعالی ډاډ ورکه او ورته یې] وو یل: تاسې دواړه مه و یر یږی، او زه یقینا چې د ستاسې دواړو سره یم او زه هرڅه اورم او هرڅه و ینم، یعنی دا چې تاسې به د فرعون شر نه وساتم.

[٤٧] نو بیا تاسې دواړه فرعون ته ورسی او هغه ته ووایي: یقیناچې مونږ د ستا رب الله استازي یو، نو بني اسرائیل زمونږ سره ولیږه او دوی

ته سزا مه ورکوه، او مونږ یقینا تاته ای فرعونه! د ستا رب الله معجزې سره راغلو، او پرهغه چا ده سلام وي چې سمو لارښودنو پسې لاړه، یعنی حق یې ومانه او خپل رب الله ته تسلیم سه او د هغه حکم یې ومانه.

[٤٨] او مونږ ته په یقین سره وحیه سوې ده چې د الله عذاب پر هغه چا باندې یقینا رانازلیږي چې هغه د الله پیغمبران دروغژن و بلل او دوی ته یې شا واړوله، یعنی د الله پیغمبرانو دعوت یې توحید ته ونه مانه!

{ موسی په مناظره کې پر فرعون باندې زورور سه }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې مونږ ته الله تعالی د فرعون او موسی د مرکې یا مناظرې ژوندئ انځور وړاندې کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ ٱلۡقُرُونِ ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥١﴾ قَالَ عِلۡمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَٰبٖۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَسَلَكَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّن نَّبَاتٖ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾ كُلُواْ وَٱرۡعَوۡاْ أَنۡعَٰمَكُمۡۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ﴿٥٤﴾ * مِنۡهَا خَلَقۡنَٰكُمۡ وَفِيهَا نُعِيدُكُمۡ وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً أُخۡرَىٰ ﴿٥٥﴾﴾

[٤٩] [نو بیا فرعون د موسی علیه السلام نه و پوښتل] او و یو یل: نو د ستاسې دواړو خدای څوک دئ؟ یعنی دا چې زه خو د خپل ځان نه پرته بل څوک خدای نه و ینم؟

[٥٠] موسی [فرعون ته په ځواب کې] وو یل: د زمونږ خدای هغه څوک دئ چې هرڅه ته یې د هغه څیره [او ځانګړتیا] ورکړي ده او بیا یې هرڅوک خپلې لارې ته سم کړي دي.

[٥١] [نو بیا د موسی نه فرعون و پوښتل] او و یو یل: نو د پخوانیو ولسونو حال به څنګه وي؟ یعنی دا ځکه چې دوی هم د الله نه منکر او کافران ول!

[٥٢] موسی [فرعون ته په ځواب کې] وو یل: د هغوی علم د زما خدای الله سره په کتاب کې لیکل سوی دئ، او د زما خدای نه ورکیږي او نه یې څه شئ هیریږي، یعني الله هرچاته د هغه عمل لائق ثواب او سزا ورکوي.

[٥٣] او د زما رب هغه څوک دئ چې ځمکه یې ستاسې لپاره اواره کړې ده او ستاسي د ژوند چارو لپاره یې لارې پکې راو یستلې دي او د اسمان نه یې او به راوورولې دي او په او بو باندې یې د ځمکې نه مونږ ته جوړه جوړه بوټي راشنه کړل، یعنی دا چې ترڅو مونږ د هغو نه د ژوند په چارو کې کټه اخلو او ورڅخه استفاده کړو.

[٥٤] نو ای خلکو! دغه پاکه روزي وخورئ او خپل څاروي پکې وڅروئ او یقینا چې په دې کې هوښیارانوته د الله لو یو قدرتونو نښانې نغښتې دي، یعنی نو ښایي چې هوښیاران ورڅخه کټه واخلي.

[٥٥] او ای خلکو! تاسې مونږ د ځمکې نه پیدا کړئ او بیا تاسې بیرته ځمکې ته ورګرځوو او بیا بل ځل تاسې بیرته د ځمکې نه را باسو، یعنی د قیامت په ورځ ټول خلک الله تعالی حساب اخستلوته راژوندي کوي.

{فرعون د الله قدرتونو نه منکر سه او موسی یې کودګروګانه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د فرعون در یځ د موسی علیه السلام دعوت پروړاندې بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ أَرَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾ قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٥٧﴾ فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهِۦ فَٱجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهُۥ نَحْنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾ قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ ٱلزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ ٱلنَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُۥ ثُمَّ أَتَىٰ ﴿٦٠﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنِ ٱفْتَرَىٰ ﴿٦١﴾ فَتَنَٰزَعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّجْوَىٰ ﴿٦٢﴾ قَالُوٓا۟ إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ

ٱلۡمُثۡلَىٰ ٦٣ فَأَجۡمِعُواْ كَيۡدَكُمۡ ثُمَّ ٱئۡتُواْ صَفّٗاۚ وَقَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡيَوۡمَ مَنِ ٱسۡتَعۡلَىٰ ٦٤

[٥٦] او يقيناچې فرعون ته مونږ خپلې ټولې معجزې او د قدرتونو نښانې ورولیدلې او هغه مو ورښکاره کړې، خو فرعون هغه دروغ و بللې او د ایمان راوړ نه يې سرغړونه وکړه.

[٥٧-٥٨] او بیا فرعون موسی ته وو یل: آیا ته ای موسی! مونږ ته د دې لپاره راغلئ يې چې په خپلو کوډو سره مونږ د خپلې خاورې نه و باسي، یعنی مونږ د خپل کلي پر یښودلوته اړ کړي، نو مونږ به یقیناچې ستا د کوډو غوندې کوډې درته راوړو، نو ته د زمونږ او ستا په منځ کې په داسې یوځای کې د ملاقات نیټه وټاکه چې نه مونږ او نه ته ورڅخه پاتې سو او پرخپله وعده ونه در یږو.

[٥٩] [موسی په ځواب کې ورته] وو یل: د زمونږ وعدې ټاکل سوئ وخت به د جشن ورځ وي، او ټول خلک به غرمه پکې راغونډ سي، یعنی د دوی دودیز بازار په ورځ به چې ټول خلک پکې راغونډیږي سره یوځای سو.

[٦٠] نو بیا فرعون بیرته لاړه او خپل ټول چلونه او چلکړې راټول کړل او بیا راغئ.

[٦١] [نو بیا موسیعليه السلام د فرعون په کوډګرو غږ وکه او ورته يې] وو یل: د الله سزا نه وو یر یږی او الله پسې دروغ ونه وایي، ځکه بیا به الله تاسې په عذاب باندې هلاك کړي او له منځه به مو یوسي، او هرڅوک چې الله پسې افترا وکړي هغه تاوان کړئ دئ او ز یانمن دئ.

[٦٢-٦٤] نو بیا کوډګرو د یو بل سره جنجال وکه او خولې يې سره واچولې، خو بیايې پټه جرګه وکړه او و یو یل: دا دواړه [موسی او هارون] کوډګر دي او غواړي چې تاسې په خپلو کوډو سره د خپلې خاورې (مینې او هیواد) نه و باسي او د ستاسې غوره کړنلاره لمنځه یوسي [یعنی د ستاسې دا د کوډو پوخ کسب بې اعتباره کړي، نو ورته ټینګ سی او د یو بل سره اختلاف مکړی] او خپل چلونه سره یوځای کړی او په یؤ متحده لیکه او صف کې ورته راوړلاندې سی، او یقینا چې نن هغه څوک بر یالئ

دئ چې پورته جګ سه.

{د فرعون کوډګر د موسی عليه السلام پرور اندې کلک رسوا سول}

قدرمنو دوستانو! د فرعون کودګرو د پورته یاد سوي هوډ او هوکړې سره سم خپل ځانونه د موسی او هارون علیهما السلام سره سیالۍ ته تیار کړل او د لوی ازمایښت ډګرته راووتل او تیار سئ سول، خو د کلکې ماتې سره مخامخ سول چې په بیان کې الله تعالی فرمایلي:

﴿قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلْقِىَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ أَلْقُوا۟ ۖ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴿٦٦﴾ فَأَوْجَسَ فِى نَفْسِهِۦ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِى يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوٓا۟ ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا۟ كَيْدُ سَٰحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ فَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾﴾

[٦٥] [د فرعون کودګرو لښکر پرموسی غږ وکه] او و یو یل: ای موسی! اوس به یا ته [خپله لکړه] راغورځوی؟ او یا به مونږ لمړي کسان یو [چې خپل پړي] به مو راغورځولي وي؟

[٦٦] موسی ورته وو یل: بلکې تاسې پې لمړئ راوغورځوی، نو بیا موسی ته [د دوی پرې چې کودې پې پرې کړې وې] داسې ښکار یدل، لکه چې یقینا منډې وهي، یعنی لکه ښاماران کړندي خوځیږي.

[٦٧-٦٩] نو بیا موسی په زړه کې وو یر یده، خو مونږ ورته وو یل: ای موسی مه ویر یږه، ځکه ته یقینا پردوی باندې وچت او برلاسئ یې، او لکړه ده چې په ښي لاس کې ده وروغورځوه، نو بیا هغه د دوی ټول جوړ کړي ښاماران خوري [یعنی د ستوني نه یې تیروي] ځکه دوی چې څه شئ جوړ کړي دي هغه د کودګر چل دئ او کودګر چې چیرته لاړ سي نه بر یالئ کیږي، یعنې کودګر کلکه ماته خوري.

[٧٠] نو بیا کودګر پرمخې الله ته په سجده ولو یدل او غږ یې وکه چې

مونږ د هارون او موسی پر رب الله باندې ایمان راوړ!

{فرعون خپل کوډګر چې کله یې ایمان راوړ په سزا وګواښل}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د فرعون چلند او در یځ د خپلو کوډګرو سره مونږ ته یاد کړئ، او فرمایلي دي:

﴿قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ ۖ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِى جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴿٧١﴾ قَالُوا۟ لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلَّذِى فَطَرَنَا ۖ فَٱقْضِ مَآ أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِى هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَآ ﴿٧٢﴾ إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا وَمَآ أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ ٱلسِّحْرِ ۗ وَٱللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴿٧٣﴾ إِنَّهُۥ مَن يَأْتِ رَبَّهُۥ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُۥ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿٧٤﴾ وَمَن يَأْتِهِۦ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلدَّرَجَٰتُ ٱلْعُلَىٰ ﴿٧٥﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُا۟ مَن تَزَكَّىٰ ﴿٧٦﴾﴾

[٧١] [نو فرعون په ډیره غوصه پرخپلو کوډګرو پټکه وکړه] او ورته یې وو یل: هو! تاسی مخکې لدې چې زه درته اجازه وکړم موسی ته تسلیم سوی او ایمان مو راوړ! نو یقینا چې موسی د ستاسې هغه مشر دئ چې کوډې یې در زدکړې دي، نو زه به د ستاسې پښې او لاسونه د یو بل نه بیل بیل (ښي خوا او کین خوا) سره پر یکړم او د کجورو یا خرما پر ونو کې به تاسې رازوند کړم او بیا به ښه پوه سی چې کم یو د زمونږ کلک سزا ورکونکئ دئ او همداسې پاتې دئ؟ یعنی دا چې زه او که د موسی خدای؟ ځکه فرعون ځان خدای باله، نو په دې ګواښ سره یې خپل ځان د موسی پرخدای الله تعالی باندې لوړ او جګ وګانه او دا د کبرجنو خلکو خوی دئ.

او بیا د فرعون مومنو کوډګرو د ګواښونو پروا ونکړه او هغې سرتیرې او قربانی ته تیار سول چې په بیان کې الله تعالی فرمائلي دي:

[٧٢-٧٣] [هو! کوډګرو د فرعون ګواښونو پروا ونکړه او په ځواب کې يې] وو يل: ای فرعونه! مونږ هيڅ کله پرهغو روښانو معجزو باندې چې هغه مونږ ته راغلې دي؛ تا نه غوره کوو او د خپل فطرت چې الله ور باندې پيدا کړي يو؛ مخالفت نکړو [يعنی د ستا خدايې نه منو] نو ته چې څه فيصله او پر يکړه کړې خپله پر يکړه وکړه، او ته ای فرعونه! د دې دنيا په ژوند باندې حکم کړې، يعنی دا چې ته به د زموږ ژوند په دنيا کې راڅخه واخلې، خو مونږ پرخپل رب الله تعالی باندې يقينا ايمان راوړ، ترڅو د زمونږ تيروتنې [او ګناهوې] او هغه کودې را ته و بښي چې هغه تا راباندې په زور وکړې، او الله مونږ ته ښه دئ او هغه تل پاتې خدای دئ، ښې ډيرې پيرزو ينې يې پر مونږ باندې خورې دي!

[٧٤] او يقينا څوک چې خپل رب الله ته ګناه ګار او مجرم ورسي، نو د هغه ځای هرومرو په جهنم کې د دوزخ اور دئ او هلته به پکې نه مري او نه به ژوندئ کيږي، يعنی همداسې به په تل پاتې عذاب کې کړ يږي.

[٧٥-٧٦] او هرڅوک چې خپل رب ته د ايمان سره ورسي او هغه په يقين سره ښه کړي وي، نو دوی ته لوړې رتبې دي او هغه تل پاتې جنتونه او بنونه دي چې د او بو و يالې به پکې بهيږي او دوی به پکې تل اوسيږي، او دا هغه چاته ثواب دئ چې هغه خپل ځان د ګناه نه پاک کړ، يعنی په سوچه ايمان سره خپل رب الله ته ورغئ.

درندو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آيتونو کې د حق او باطل او د معجزو او کودو په منځ کې د جګړې هغه ځلانده انځور د زمونږ مخې ته ايښئ دئ چې پکې حق پر باطل باندې زورور سوئ دئ، او دا هغه حق ؤ چې د فرعون اجرتي کوډګرو زړوته ورننوت، نو بيا دوی ډير ژر ايمان راوړ او د موسی عليه السلام پيغمبرۍ يې ومنله او د هغه خدای الله ته تسليم سول او د فرعون ګواښونو پروايې ونکړه او هغه يې په کلک يقين او په پاخه باور سره وغندل، نو بيا الله تعالی مومنان د جنتونو انعامونو په ز يري ونازول او مجرمان او کافران يې د دوزخ په سزا وګواښل، نو يقينا چې په دې قصه کې د حق او باطل پلو يانوته ښې ډيرې ګټې نغښتې دي، نو ښايي چې

هوښیاران ورڅخه پند واخلي او د باطل نه حق ته، لکه د فرعون کوډګر را واوړي او هغه خوښ او غوره کړي.

{موسی فرعون نه په تیښته سه او فرعون ورپسې په سمندر کې ډوب سه}

او بیا موسی عليه السلام د فرعون په کوډګرو باندې د بر یا نه وروسته د الله تعالی په حکم خپل قوم بني اسرائیلو سره د مصر نه مخ په بیت المقدس پټ په تیښته کړه سه، او فرعون چې د خپلو لښکرو سره ور پسې سه په سمندر کې ډوب سه، او د موسی او فرعون قصې دا برخه مونږ ته الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې داسې یاده کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَسۡرِ بِعِبَادِي فَٱضۡرِبۡ لَهُمۡ طَرِيقٗا فِي ٱلۡبَحۡرِ يَبَسٗا لَّا تَخَٰفُ دَرَكٗا وَلَا تَخۡشَىٰ ٧٧ فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ بِجُنُودِهِۦ فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلۡيَمِّ مَا غَشِيَهُمۡ ٧٨ وَأَضَلَّ فِرۡعَوۡنُ قَوۡمَهُۥ وَمَا هَدَىٰ ٧٩ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ قَدۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ عَدُوِّكُمۡ وَوَٰعَدۡنَٰكُمۡ جَانِبَ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنَ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰ ٨٠ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَلَا تَطۡغَوۡاْ فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبِي وَمَن يَحۡلِلۡ عَلَيۡهِ غَضَبِي فَقَدۡ هَوَىٰ ٨١ وَإِنِّي لَغَفَّارٞ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا ثُمَّ ٱهۡتَدَىٰ ٨٢ * وَمَآ أَعۡجَلَكَ عَن قَوۡمِكَ يَٰمُوسَىٰ ٨٣ قَالَ هُمۡ أُوْلَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِي وَعَجِلۡتُ إِلَيۡكَ رَبِّ لِتَرۡضَىٰ ٨٤ قَالَ فَإِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۢ بَعۡدِكَ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ ٨٥﴾

[٧٧-٧٩] او بیا موسی ته مونږ په یقین سره وحیه وکړه چې د زما بنده ګان ځان سره په شپه کې و باسه او په سمندر کې ورته د خپلې لکړې په وهلو سره وچه لار پرانیزه او د فرعون لښکرو د نیولو او په سمندر کې د ډوبیدو نه مه و یر یږه! [نو بیا چې کله موسی عليه السلام د خپل قوم مومنانو سره د سمندر نه تیر سه] فرعون خپلو لښکرو سره ور پسې سه، نو بیا د سمندر او به چې دوه خوا دمه سوې وې بیرته سره یوځای سوې او دوی

يې په کلکه لاندې کړل او په سمندر کې يې ډوب کړل، او فرعون خپل قوم ورک که او په سمه لارې روان نکه، يعنې فرعون خپل لښکر په لوی لاس پرته د کم ژور فکر نه په سره سمندرکې کې لاهو او ډوب که.

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې دغه نعمتونه پر بني اسرائلو باندې ياد کړې دي او سر غړونکي يې ګواښلي، او فرمايلي دي:

[٨٠-٨١] ای بني اسرائيلو! [او هغه وخت ر اپه ياد کړی کله چې تاسې په يقين سره مونږ د ستاسې دښمن نه خلاص کړی او د طور غونډې په ښي اړخ کې مونږ درسره وعده وکړه او د من او سلوا تيار خواړه مونږ پرتاسې باندې را کوز کړل [او بيا مونږ تاسې ته وو يل] چې د هغو پاکو خوړو نه چې هغه تاسې ته مونږ روزي درکړه؛ وخوری او پکې پر يو بل باندې تيرئ ونکړی؛ کنه نو بيا به د زما غوصه در باندې راسي، او په هرهغه چاچې د زما غوصه راغله، نو دئ ژورې تالې ته لو يدلئ هلاک سه.

[٨٢] او زه هغه چاته ډير بښونکئ يم چې هغه تو به وايستله [يعنی خپل رب ته بيرته وروګرځيده] او ايمان يې راوړ او پرسمه لار روان سه.

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د موسىٰ عليه السلام نه نری ګيله کړې ده او ورڅخه يې پوښتې دي:

[٨٣-٨٤] او ای موسی! ته پرخپل قوم بني اسرائيلو باندې څه شي تلوار ته وهڅولې؟ يعنی دوی ده ژر پر يښودل او ته د طور غوندی ښي خوا ته لاړې، نو موسی په ځواب کې وو يل: ای لو يه خدايه! دا دئ دوی ما پسې دي، او ما تاته د دې لپاره تلوار وکه [يعنی لږ څه بيړئ سوم] ترڅو ته ای لو يه خدايه! د زمانه خوښ او راضي سي.

[٨٥] او الله ورته وو يل: نو يقينا چې بيا مونږ د ستانه وروسته ستا قوم کلک وازمايه [يعنی په لوی امتحان کې ولو يدل] او سامري دوی د سمې لارې نه ورک کړل، يعني سامري دوی ته خوسئ خدای جوړ که!

قدرمنو دوستانو! د موسىٰ عليه السلام قوم بني اسرائيل د الله تعالى ښو ډيرو پيرزو ينو سره؛ د سمې لارې نه ورک سول او پرلوی شرك وازمايل

سول.

{د موسی عليه السلام غمجنه مرکه د خپل مشرک قوم سره}

او بیا د موسی عليه السلام غوصې ژوندئ تصو یر خپل قوم سره چې کله دوی خوسئ ځانوته خدای ونیؤ مونږ ته الله وړاندې کړئ، او فرمایلي دي:

﴿فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَلَمۡ يَعِدۡكُمۡ رَبُّكُمۡ وَعۡدًا حَسَنًاۚ أَفَطَالَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡعَهۡدُ أَمۡ أَرَدتُّمۡ أَن يَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبٞ مِّن رَّبِّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُم مَّوۡعِدِي ٨٦ قَالُواْ مَآ أَخۡلَفۡنَا مَوۡعِدَكَ بِمَلۡكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلۡنَآ أَوۡزَارٗا مِّن زِينَةِ ٱلۡقَوۡمِ فَقَذَفۡنَٰهَا فَكَذَٰلِكَ أَلۡقَى ٱلسَّامِرِيُّ ٨٧ فَأَخۡرَجَ لَهُمۡ عِجۡلٗا جَسَدٗا لَّهُۥ خُوَارٞ فَقَالُواْ هَٰذَآ إِلَٰهُكُمۡ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ٨٨ أَفَلَا يَرَوۡنَ أَلَّا يَرۡجِعُ إِلَيۡهِمۡ قَوۡلٗا وَلَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا ٨٩ وَلَقَدۡ قَالَ لَهُمۡ هَٰرُونُ مِن قَبۡلُ يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوٓاْ أَمۡرِي ٩٠ قَالُواْ لَن نَّبۡرَحَ عَلَيۡهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرۡجِعَ إِلَيۡنَا مُوسَىٰ ٩١﴾

[٨٦] نو بیا موسی [د الله تعالی سره د مناجات نه وروسته] بیرته خپل قوم ته راوګرځیده [خو دا چې قوم پې مشرک سوئ ؤ او د خوسې عبادت پې کړي ؤ] ډیر خفه او په غوصه ؤ او د خپل قوم نه پې و پوښتل او ورته پې وو یل: ای خلکو! آیا د ستاسې رب الله درسره ښه وعده نوه کړي چې لاربښود کتاب تورات به درته رانازلوي؟ نو آیا دا وعده بیا پر تاسې اوږده سوه؟ او یا دا چې تاسې وغوښتل داسې یو کار وکړئ چې د ستاسې رب پر تاسې باندې په غوصه سي؟ نو بیا تاسې د زما وعدې سره مخالفت وکه، یعنی تاسې ای عز یزانو! د الله وعده د تورات په رانازلیدلو سره هیره کړه او د زما وعدې سره تاسې کلک مخالفت وکه او خپل ځانونه مو د الله عذاب او سزا وړ او مستحق وګرځول!

[٨٧-٨٨] [نو بيا بني اسرائيلو موسى ته په ځواب کې] وو يل: مونږ په خپله خوښه د ستا وعدې سره مخالفت نه دئ کړئ، مونږ ته د فرعون قوم سرو زرو درانده پيتي راپشا سول، نو بيا هغه مونږ [په يوه ژوره تاله کې وغورځول، نو بيا هغه ؤ چې د جبرئيل اس (دلدل) د پښو خاوره چې د دوی سره وه پردغو سرو زرو باندې] سامري راوچوله، نو بيا سامري دوی ته داسې جوړ کړئ خوسئ راوايست چې رمباړې يې وهلې، نو [بيا دغو بې لارې سوو بني اسرائيلو] يو بل ته وو يل چې دا خوسئ د ستاسې خدای دئ او هغه د موسى خدای هم دئ او هغه موسى دلته هيرکه، يعنى موسى لاړه او خدای يې هير سه! العياذ بالله.

[٨٩] نو آيا دغه اسرئيليان [چې د خوسې بنده کان سول] نه و يني چې خوسئ د دوی د خبرو ځواب نه وايي او نه دوی ته څه کټه او تاوان رسولای سي؟ يعنى دا چې نو څنګه د دوی انساني پوهه او عقل دوی پريږدي چې د دغسې کالبوت عبادت او بنده ګي وکړي؟

[٩٠] او يقينا چې مخکې هارون [د موسى بيرته راتګ نه وړاندې بني اسرائيلوته] وو يل: ای د زما قومه! تاسې پردې بوت باندې ازمايل سوي ياستئ [يعنى داچې ترڅو کافر او مومن سره بيل سي] او ستاسې خدای الرحمن دئ، نو د زما حکم ومنئ، يعنى د سامري خوسې عبادت پر يږدئ.

[٩١] [نو بيا دغو د خوسې بنده ګانو يهودو هارون ته په ځواب کې] وو يل: مونږ به همداسې د دې خوسې عبادت او بنده ګي کړو، ترڅو موسى مونږ ته بيرته راوګرځي.

{موسى عليه السلام په غوصه سه چې هارون ولې يهود د خوسې عبادت ته پريښودل}

او بيا د موسى عليه السلام غوصه د هارون پر وړاندې مونږ ته الله تعالى ياده کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿قَالَ يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذۡ رَأَيۡتَهُمۡ ضَلُّوٓاْ ٩٢ أَلَّا تَتَّبِعَنِۖ أَفَعَصَيۡتَ أَمۡرِي

﴿٩٣﴾ قَالَ يَٰبۡنَؤُمَّ لَا تَأۡخُذۡ بِلِحۡيَتِي وَلَا بِرَأۡسِيٓۖ إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقۡتَ بَيۡنَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَلَمۡ تَرۡقُبۡ قَوۡلِي ﴿٩٤﴾ قَالَ فَمَا خَطۡبُكَ يَٰسَٰمِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرۡتُ بِمَا لَمۡ يَبۡصُرُواْ بِهِۦ فَقَبَضۡتُ قَبۡضَةٗ مِّنۡ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ فَنَبَذۡتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتۡ لِي نَفۡسِي ﴿٩٦﴾ قَالَ فَٱذۡهَبۡ فَإِنَّ لَكَ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَۖ وَإِنَّ لَكَ مَوۡعِدٗا لَّن تُخۡلَفَهُۥۖ وَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ إِلَٰهِكَ ٱلَّذِي ظَلۡتَ عَلَيۡهِ عَاكِفٗاۖ لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِي ٱلۡيَمِّ نَسۡفٗا ﴿٩٧﴾ إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَسِعَ كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمٗا ﴿٩٨﴾

[٩٢-٩٣] [موسی چې کله بیرته خپل قوم ته راوګرځیده او خپل قوم یې د خوسي په عبادت کې لګیا بیاموند، نو ډیر خفه او په غوصه سه او هارون ته یې] وو یل: ای هارونه! کله چې تا دوی ولیدل چې د حق نه ورک او کاږه سول [یعنی خپل دین یې پر یښود] نو بیا ته ولې ما پسې رانغلې؟ او دوی ده پر یښودل چې د خوسي بنده کې وکړي، آیا تا ای هارونه د زما حکم نه سرکښي وکړه؟

[٩٤] [هارون په ځواب کې ورته] وو یل: ای د زما مور زو یه! ما د ګیرې او سر نه مه نیسه! زه خو وو یر یدلم چې بیا به ته را ته وایې بني اسرائیل ده ټوټه ټوټه کړل او د زما خبره ده په پام کې ونه نیوله او نه ده د زما سپارښت پروا وکړه!

[٩٥-٩٦] [نو بیا موسی علیه السلام سامري ته مخ واړا ؤ او و یو یل: ای سامري! ته څه وایې؟ [سامري په ځواب کې] وو یل: ما هغه څه ولیدل چې دوی ونه لیدل [یعنی جبرئیل علیه السلام ما ولیده] نو بیا ما د دې استازي د اس پښو لاندې یو موټۍ خاوره په خپل موټي کې را ټوله کړه او په تاله کې کوټ سوو سرو زرو باندې هغه خاوره ما وشیندله او زه دغسې بدې کړنې ته د خپلو بدو کړنو نفس او ځان وهڅولم، یعنی زه د خپل نفس وسوسو ښکار سوم.

[٩٧] [نو بيا موسى عليه السلام سامري ته] وو يل: څه ورک سه د ستا سزا په دنيا کې داده چې ته به تل رټل سوئ وې، نه به چا ته لاس ورکوي او نه به د چا لاس نيسې، او يقينا چې تاته ټاکل سوې وعده ده او الله هيڅ کله وعده خلافي نکړي [يعنى بيا به هلته تاته الله تعالى کلکه سزا درکړي] او څه خپل خداى (خوسې) ته ده وګوره، څکه ته د هغه بنده ګى ته پروت وې او هغه به خامخا مونږ سوزوو او ايره يې بيا په سمندر کې شيندو چې ورک سي او شمال او بادې يوسي.

[٩٨] [او بيا بني اسرائيلوته موسى عليه السلام] وو يل: هو! يقينا چې پرحق سره د ستاسې معبود؛ الله دئ او د هغه نه پرته بل په حق سره معبود نسته او الله په هرڅه پوه دات دئ.

قدرمنو دوستانو! دا وه د موسى عليه السلام د قوم بني اسرائيلو هغه قصه چې دوى د سامري په لاس سې لاړې نه ورک سول او سامري دوى ته د فرعون قوم نه راوړل سوو سرو زرو نه د خوسې کالبوت جوړ که او هغه يې ځان ته او بني اسرائيلوته خداى وګرځا ؤ او د هغه عبادت يې وکه، او يقينا چې په دې کې د موسى عليه السلام قوم ته لوى ازمايښت ؤ، او دوى بيا هرڅه ډير ژر پر يښودل او د موسى عليه السلام وصيت او سپارښت يې هير سه او مشرکان سول، روايت سوئ دئ چې سامري د سامرا کلي نه ؤ[او سامرا د اوسني عراق يو ولايت دئ] او سامري د بني اسرائيلو سره کډ سوئ ؤ او دغه لوى شيطاني چل يې بني اسرائيلوته جوړکه او دوى يې د حق نه واړول، نو بيا موسى عليه السلام سامري د الله په سخته سزا باندې په دنيا او په آخرت کې وګواښه او کلک يې ورا ته.

{قرآن مونږ ته د پخوانيو پيغمبرانو قصې لوى قاموس دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ډاډ ګيرنې او تسليت ز يرئ ورکړئ دئ او قرآن کريم يې ورته د تير تار يخ يادښتونو لوى کتاب ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ مِن لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾

مَّنۡ أَعۡرَضَ عَنۡهُ فَإِنَّهُۥ يَحۡمِلُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وِزۡرًا ١٠٠ خَٰلِدِينَ فِيهِۖ وَسَآءَ لَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ حِمۡلٗا ١٠١ يَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِۚ وَنَحۡشُرُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ زُرۡقٗا ١٠٢ يَتَخَٰفَتُونَ بَيۡنَهُمۡ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا عَشۡرٗا ١٠٣ نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذۡ يَقُولُ أَمۡثَلُهُمۡ طَرِيقَةً إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا يَوۡمٗا ١٠٤

[٩٩] هو؛ ای پیغمبره! لکه څنګه چې تاته مونږ د موسی او فرعون قصې وکړې، همدارنګه تاته پخوا تیرې سوې قصې کړو، او یقینا چې مونږ تاته د خپل ځان نه ذکر(قرآن) راوړ، یعنی هغه د زده کړې او د یادښت کتاب دئ، نو ښایي چې مومنان ورڅخه ښې ګټورې زدکړې وکړي.

[١٠٠-١٠١] او هغه څوک چې د دې کتاب قرآن نه مخ واړوي، نو د قیامت په ورځ به یې دا ګناه پښا وي او په سزا کې به تل کړ یږي او دا پیټئ د قیامت په ورځ ډیر بد پیټئ دئ.

[١٠٢-١٠٣] او د قیامت ورځ هغه ورځ ده چې سورنئ پکې پوکیږي او ټول خلک ور باندې د خپلو ګورونو نه بیرته راجګیږي، او په هغه ورځ مجرمان(کافران) تک شنه اوښتي راغونډیږي او په خپلو منځو کې یو بل ته ورو ورو وایي: مونږ په د نیا کې د لسو شپو او ورځو نه ډیر نه یو پاتې سوي، یعنی د دنیا ژوند ډیر لنډ وه او ژر تیر سه.

[١٠٤] هو! مونږ د دوی په خبرو ښه پوهیږو چې څه وایي؟ او د دوی هوښیاران وایي: تاسي یوازي یوه ورځ په دنیا کې تیره کړي ده.

ګرانو عز یزانو! په دې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د رسول الله ﷺ په پیغمبرۍ او د قیامت ورځې په یقیني راتګ باندې ټینګار کړئ دئ او د هغه ښه روښانه انځور یې مونږ ته وړاندې کړئ دئ چې پکې هیڅ شک نسته او د قیامت ورځ چې د حساب ورکولو ورځ ده؛ هغه خاماخا راتلونکې ده، نو تیارئ ورته پکار دئ.

{د قيامت لنډ انځور چې پرځمکه ميخ سوي غرونه الوزي}

او په ور پسې مبارکو آيتو کې د رسول الله ﷺ نه د قيامت ورځې راتک په باره کې د کافرانو پوښتنوته الله تعالى ډير قاطع او روښانه ځوابونه و يلي دي او فرمايلي دي:

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّى نَسْفًا ﴿١٠٥﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَآ أَمْتًا ﴿١٠٧﴾ يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ ٱلدَّاعِىَ لَا عِوَجَ لَهُۥ ۖ وَخَشَعَتِ ٱلْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَرَضِىَ لَهُۥ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا ﴿١١٠﴾ *وَعَنَتِ ٱلْوُجُوهُ لِلْحَىِّ ٱلْقَيُّومِ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾﴾

[١٠٥-١٠٧] ای پيغمبره! او د ستا قوم قريش ستانه د غرو پوښتنه کړي چې غرونه د قيامت په ورځ څنګه کيږي؟ نو ته [په ځواب کې ورته] ووايه: د زما رب الله غرونه الوزوي او ټوټه کوي يې او بيا يې ځايونه آوار سوي پر يږدي او هيڅ ککښت او لوړې او ژورې پکې نه و يني، يعنى ټوله ځمکه اوار سوئ ډګر يا ميدان ګرځي.

[١٠٨] او په دغه ورځ ټول خلک د هغه چا غږ پسې ځى چې د قيامت ډګر ته يې راغواړي او هيڅ څوک د هغه نه بلې خوا ته نه اوړي [يعنى ټول خلک ور پسې روان وي] او الرحمن رب ته ټولو غوږ نيولئ وي او د ورو ګونګسو نه پرته بل هيڅ څه غږ نه اورې، يعنې کلکه چوپتيا وى.

[١٠٩] او په هغه ورځ سپارښت او شفاعت نور چاته ګټه نه رسوي، مګر دا چې الرحمن خداى کم چاته اجازه وکړي او د هغه خبرو نه الله خوښ او راضي وي، يعنى هغه ايمان راوړئ وي او د لا إله إلا الله محمد رسول الله کلمه يې په اخلاص سره و يلې وي.

[١١٠] هو! الله د خلکو پروړالاندې او وروسته ټول حال باندې ښه پوه دئ، خو خلک د الله نه خبر نه دي او د دوی علم پرالله راتاو نه دئ.

[١١١] [او د قیامت په ورځ] ټول خلک د تل پاتې ژوندي خدای الله پروړاندې په ګونډو کیږي، او هرڅوک چې په هغه ورځ کفر پشا مشرك راغئ، نو هغه تاوان کړي دئ او مختورن دي.

[١١٢] او هغه څوک چې مومن وي او ښه کارونه یې کړي وي، نو دئ د ظلم او تیري او د خپل حق هضمولو او کمولو نه نه و یر یږي، یعنی مومنان د خپل لوی رب په عدالت باندې ډاډه وي او یقین لري چې الله پرخپلو مخلصو مومنو بنده ګانو باندې؛ هیڅ کله ظلم نکړي.

قدرمنو دوستانو! دا دئ د قیامت ورځی لنډ انځور چې هغه الله تعالی د زمونږ مخې ته ایښئ دئ، نو هوښیار هغه څوک دئ چې هغې ورځې ته ځان تیار کړي او په ایمان او ښه عمل سره د دنیا نه لاړ سي او په سپین مخ د الله په حضور کې سرلوړئ ودر یږی، نو دعا کړو چې الله ده هغه لوړ مقام د زمونږ په برخه کړي او په دنیا کې ده د ښه عمل توفیق راکړي.

{قرآن په عربي ژبه رانازل سوئ او پکې د الله حکمونه دي}

هو؛ درندو دوستانو! قرآن کر یم الله تعالی په روښانه عربي ژ به رانازل کړئ دئ او خپل ټول حکمونه یې پکې مونږ ته یاد کړي او بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا وَصَرَّفْنَا فِيهِ مِنَ ٱلْوَعِيدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ أَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ ۗ وَلَا تَعْجَلْ بِٱلْقُرْءَانِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضَىٰٓ إِلَيْكَ وَحْيُهُۥ ۖ وَقُل رَّبِّ زِدْنِى عِلْمًا ﴿١١٤﴾﴾

[١١٣] [ای پیغمبره! څنګه چې تاته مونږ د پخوانیو پیغمبرانو قصې د دوی ولسونو سره کړو] همداسې قرآن مونږ په عربي ژ به را نازل که او په هغه کې خلک مونږ د سزا ورکولو نه خبر کړل [یعنی د دوزخ عذاب مونږ دوی ته ور په یاد که او ښو کړنوته مونږ وهڅول] ترڅو خپل ځانونه د

سزا نه وساتي،او دا قرآن دوی ته پند ورکونکئ او عذابونو ور یادونکئ سی.

[١١٤] نو الله په حق سره ټولواک لوړ ذات دئ [یعنی د ټول جهان په سر واکمن او پالونکئ څښتن دئ] او ته ای پیغمبره! د قرآن په لوستلو او زد کولو کې مخکې لدې چې د هغه وحیه تاته پوره سي؛ تلوار مکړه او دعاء وکړه او ووایه: ای د زما لو یه ر به! د زما پوهه او علم ډیر کړه.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دې مبارکو آیتونو کې خپله لوړتیا او جګوالئ پرمخلوقاتو باندې مونږ ته یاد کړئ او بیان کړئ دئ او د قیامت په ورځ یې د خپل عدالت او انصاف نه را ته ډاډ را کړئ دئ او پیغمبرﷺ یې چې په ژ به عرب ؤ ډاډمن کړئ دئ چې دا لوستل سوئ کتاب قرآن ما په عربي ژ به رانازل که، ترڅو تاسې ته پوهیدل ور باندې اسانه وي، او په قرآن کې الله د عذاب نه ګواښ او و یرول بیان کړي دي، ترڅو خلک خپل ځانونه د الله سزا نه وساتي،او بیا الله تعالی رسول الله ﷺ ته لارښودنه کړي ده چې د قرآن رانازلیدلو په وخت کې مه ورخطا کیږه او د قرآن په زدکړه کې مخکې لدې چې جبرائیل امینعليه السلام د هغه وحیه تاته پوره کړي؛ تلوار او عجله مکړه او د الله نه ډیر علم وغواړه، نو یقینا چې دا اسماني لارښودنه په زده کړه کې هغه ضروري لارښودنه ده چې په اوسني پرمختللی تدر یسي نظام کې ور باندي کلک ټینګار سوئ دئ.

هو؛ قدرمنو دوستانو! الله تعالی خپل لوستل سوئ کتاب قرآن په روښانه عربي ژ به چې د قر یشي پیغمبرﷺ مورنۍ ژ به وه؛ رانازل کړئ دئ، ترڅو دوی د الله په مقصد او پیغام ښه پوه سي، نو ځکه الله تعالی هرقوم ته د دوی پیغمبر په خپله ژ به را لیږلئ دئ، خو دا چې د اسلام دین او پیغمبر یې ټولو خلکو او پرګنوته په نړۍ کې را لیږل سوئ دئ او رحمة للعالمین دئ، نو د عربي ژبې زدکول علماوو او دعاتوته اړ ین دي، ترڅو دوی قران او د پیغمبر سنت مومنانوته ورسوي او هغوی ښه پرې پوه کړي، او الحمد لله دا خدمت اسلام ته رابلونکو علماوو او دعاتو په اخلاص سره کړئ دئ، او دا لړۍ په اوسني عصر کې چې د تجر بوي علومو او نوې تکنالوژۍ عصر دئ؛ ښه په چټکتیا سره په مخ ځي، او

الحمد لله ماته هم الله تعالى دا فرصت راپه برخه كه چې د قرآن مجيد پښتو معنا سره د لنډ تفسير وليكم او هغه ان شاء الله خپلو مومنو وروڼوته په ژ به او په قلم ورسوم، نو د الله تعالى د دې لوى رحمت او پيرزو يې منونكئ يم او په ډيره تواضع او زارۍ سره دعاء كړم چې د دې مبارك تفسير بيا كتنه د يو لسم ځل لپاره په خير پوره سي او بيا هغه چاپ او خور سي او د زما مومن وروڼه هغه ولولي او كټه ورځخه واخلي، لكه څنګه چې دا اوس زه خيل صوتي لنډ تفسير د نيټ لارې نه د خپل فيسبوك په دعوتي پاڼه كې (د قرآن رڼا) هره اونۍ يوه برخه خوروم، او همدارنګه په تلګرام او واتساپ دعوتي ګروپونو كې هم د زما قدرمنو اور يدونكوته هغه خور يږي، او دا صوتى تفسير ټول په (٣١٦) برخو كې ثبت سوئ دئ او هرڅوك هغه د ګوګل درايب نه راكوزولاى او خورولاى او اور يدلاى سي، والحمد لله على ذلك حمدا طيبا مباركا فيه.

{آدم عليه السلام د الله سره خپل هوډ هيركه نو د شيطان ښكار سه}

او په ور پسې مباركو آيتونوكې الله تعالى د موسى عليه السلام قصې پسې وروسته د آدم ابوالبشر عليه السلام قصه كړې ده او هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دين ته رابلونكو دعاتوته د سختيو پروړاندې د تسليت او ډاډ لوى پيغام دئ، او په بيان كې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ عَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبۡلُ فَنَسِيَ وَلَمۡ نَجِدۡ لَهُۥ عَزۡمٗا ١١٥ وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ ١١٦ فَقُلۡنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ هَٰذَا عَدُوّٞ لَّكَ وَلِزَوۡجِكَ فَلَا يُخۡرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلۡجَنَّةِ فَتَشۡقَىٰٓ ١١٧ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعۡرَىٰ ١١٨ وَأَنَّكَ لَا تَظۡمَؤُاْ فِيهَا وَلَا تَضۡحَىٰ ١١٩ فَوَسۡوَسَ إِلَيۡهِ ٱلشَّيۡطَٰنُ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ هَلۡ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ ٱلۡخُلۡدِ وَمُلۡكٖ لَّا يَبۡلَىٰ ١٢٠ فَأَكَلَا مِنۡهَا فَبَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۚ وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ١٢١ ثُمَّ ٱجۡتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَتَابَ

عَلَيۡهِ وَهَدَىٰ ١٢٢ قَالَ ٱهۡبِطَا مِنۡهَا جَمِيعَۢاۖ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشۡقَىٰ ١٢٣ وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ١٢٥ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمَ تُنسَىٰ ١٢٦ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي مَنۡ أَسۡرَفَ وَلَمۡ يُؤۡمِنۢ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦۚ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبۡقَىٰٓ ١٢٧

[١١٥] او يقينا چې مونږ د پخوا نه آدم ته سپارښت وکه [چې په جنت کې ده ئ د يوې ځانګړې ونې ميوه نخوري] نو بيا آدم د الله حکم هيرکه، خو مونږ په هغه کې قصد بيانمود، يعنی د الله نافرماني د آدم قصد نه وه، خو لعين ابليس د هغه په زړه کې تلوسه واچوله او آدم عليه السلام او حواء يې وغلول، ترڅو د دغې ونې ميوه وخوري چې په جنت کې تل پاتې سی، نو بيا الله تعالی په تقدير کې خپله ليکل سوې پر يکړه پردوی باندې عملي کړه او دوی يې د جنت نه راوايستل، نو دا قصه هم، لکه نورې قصې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته او د هغه امت دعاتوته د تسليت او ډاډ پيغام دئ.

[١١٦] ای پيغمبره! او هغه وخت راپه ياد کړه، کله چې ملائکوته مونږ وو يل: آدم ته سجده وکړی، نو بيا دوی آدم ته د درناوي سجده وکړه، خو ابليس ډ ډه وکړه، يعنی سجد يې ونکړه او ابليس د پيريانو نه ؤ، خو د ملائکو سره په جنت کې ؤ، نو ځکه پرسجده مامور سه.

[١١٧] نو بيا آدم ته مونږ وو يل: ای آدمه! دا ابليس د ستا او ميرمنې ده يقيني دښمن دئ، نو کوره چې تاسې دواړه د جنت نه ونه باسي، نو بيا به بد مرغي سی!

[١١٨-١١٩] او ای آدمه! ډاډه اوسه؛ ته به په جنت کې نه وږئ کيږې او نه به لوڅيږې او نه به ته پکې تږئ کيږې او نه به د ډيرې تودوخې نه پکې زور يږي، يعنی د جنت هوا به معتدله وي.

[١٢٠] نو بيا شيطان ورته په زړه کې تلوسه واچوله او ورته يې وو يل: ای آدمه! آيا تاته په جنت کې د تل پاتې کيدو او نه زړ يدونکې پاچايي دروښيم؟ يعنی د هغې ونې ميوې خوړل دروښيم چې که هغه ده وخوړله، نو بيا به د جنت په پاچايي کې تل پاتې وې!

[١٢١] نو بيا آدم او حواء دواړو د هغې ونې ميوه وخوړه چې دوی الله ورځخه منعې کړي ول، نو بيا دوی دواړو ته د دوی عورت او د شرم ځايونه ښکاره او لوڅ سول او دوی دواړو بيا د جنت ونو پر پاڼو د خپل عورت پټولو هڅه وکړه او پرې لګيا سول، هو! آدم د خپل رب نافرماني وکړه، نو وښو يده، يعنی دوی د هغې ونې ميوې په خوړلو وغوليدل چې ورځخه منعې سوي ول او د ميوې خوړل يې ور باندې حرام ؤ.

[١٢٢-١٢٤] خو بيا آدم خپل رب خوښ که، نو تو به يې قبوله کړه او په سمه لار يې روان که او ورته يې وو يل: تاسې ټول [آدم، حواء او ابليس د جنت نه ځمکې ته راکوز سی او هلته به د يو بل دښمنان وی، نو بيا به د زما لخوا درته لارښودنه درسي، نو چاچې د زما لارښودنه ومنله، نو هغه د سمې لارې نه نه ورکيږي او نه بد مرغه کيږي، او چاچې د زما يادونې نه مخ واړا ؤ، نو يقينا چې د هغه ژوند به تنګ او سخت وي او د قيامت په ورځ يې ړوند راجګوو، يعنی د حشر او د راغونډولو ډکړته به ړوند را وايستل سي او هيڅ څه به نه و يني!

[١٢٥] او بيا به دا کافر وايي: ای ر به! ولې ده زه ړوند حشر کړم؟ زه خو په دنيا کې بينا وم، يعنی د زما سترګې روغې وې او هرڅه ما ليدل.

[١٢٦-١٢٧] [نو بيا الله تعالی ورته] وايي: هو! ته مونږ همداسې ړوند د حشر ميدان ته راوايستلې، ځکه تاته د زمونږ کتاب آيتونه راغلل، خو تا هغه هير کړل [يعنی تا هغه ونه منل] نو همداسې ته نن د دوزخ په اور کې هير سوئ پاتې کيږي او مونږ هغه چاته همداسې سزا ورکوو چې هغه پرخپل ځان باندې تيرئ وکه او د خپل رب پرآيتونو يې ايمان رانوړ [يعنی هغه يې ونه منل] او د آخرت ورځې سزا او عذاب خو لا ډير سخت او تل

پاتې عذاب دئ!

ګرانو دوســتانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې مونږ د آدمعليه السلام تعهد نه الله ســره او بيا يې د تعهد هيريدلو نه او د شــيطان په لومو کې نښــتلو او غوليدلو نه خبر کړي يو، او بيا الله تعالى آدم عليه السلام په توبې و يســتلو خوښ کړئ دئ او بيايې ټولوته حکم کړئ دئ چې د جنت نه ځمکې ته کوز ســي او هلته به دوی ته د الله تعالى لارښــودنې د پيغمبرانو ســره راســي، نو بيا چې هرڅوک هغه ومنې؛ ښــاد او نيکمرغه به ســي او څوک چې سـرکښـي وکړي؛ پرهغه باندې به ژوند تنګ سـي او په آخرت کې به مختورن د الله په حضـور کې ودرول سـي، ځکه هغه په دنيا کې د الله تعالى حکمونو نه مخ اړولئ ؤ او سمه لارې ورکه کړې وه.

او يقينا چې د آدمعليه السلام او شــيطان په منځ کې د دې دښــمنۍ دا اوږده قصه د زدکړې؛ هغه ګټوره قصه ده چې ښايي ټول خلک ورڅخه د قيامت ورځې پورې د عبرت اخســتلو ســبقونه زده کړي، او همدارنګه دا قصــه د آدم ټول کهول ته او په ځانګړي ډول علماوو او دعاتوته د صــبر او زغم ګاللو ګټورو لارښــودنو نه ډکه قصــه ده، او په دې قصــه کې الله تعالى اسـباب د مسـببـاتو سـره کلک تړي دي، يعنى د الله تعالى تل پاتې سـنت او قانون دا دئ چې د هغه واک لاندې ټوله نړۍ کې هيڅ کار لـه اســبابو نه پرته نه پيښــيږي او ټول واقعات او پيښــې د خپلو عواملو ســره تړلې دي، ترڅو د الله تعالى د ازمايښـت نظام عدالت په تله وتلل سـي او هرڅوک د خپل عمل ګټه او تاوان وو يني او پايلې وګالي.

{د پخوانيو خلکو برخليک نه عبرت اخستل فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ د پخوانيو خلکو تار يخ نه عبرت اخستلوته کلک رابللي يو او په ډير صراحت او قاطعيت سره يې فرمايلي دي:

﴿ أَفَلَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ يَمۡشُونَ فِي مَسَٰكِنِهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ١٢٨ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامٗا

وَأَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾ فَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا وَمِنْ ءَانَآئِ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْ وَأَطْرَافَ ٱلنَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضَىٰ ﴿١٣٠﴾ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿١٣١﴾ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴿١٣٢﴾

[١٢٨] [ای پیغمبره!] نو آیا [د ستا قوم قر یش] د هغو ډیرو ولسونو هلاکت چې په تیرو پیړو کې هغوی مونږ هلاک کړل؛ په سمه لار باندې روان نکه؟ سره لدې چې دوی د دغو تیر سوو ولسونو په کنډ واله سوو کلیو باندې تیریږي او راتیریږي او هغه و یې، او یقینا چې د هغوی نه په پاتې سوي تار یې میراث کې هوښیارانوته د الله قدرتونو لویې نښانې ښې رڼې ځلیږي، یعنی نو هوښیارانوته ښایي چې ورځخه ګټه واخلي.

[١٢٩] ای پیغمبره! او که د ستا رب پخوانی پر یکړه او تقدیري حکم نه وای چې پکې کافرانوته سزا ورکول د یوې ټاکلې نیټې پورې زنډولې سوي دي، نو همدا اوس بې سزا ورکړې وه، یعنی کافرانوته سزا ورکول تر ټاکل سوې نیټې پورې زنډول سوي دي.

درندو عز یزانو! په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د عاد، ثمود او د مدین هغو سرکښو ولسونو هلاکت ته اشاره کړې ده چې دوی د عر بانو په لو یه جز یره یا ټاپو کې پرا ته ول، خو اوس یې کلي کنډواله سوي دي او د رسول اللهﷺ قوم قر یشو د اوړي او ژمي سوداګر یز کاروانو نه په خپلو مزلو او جو پو کې ور باندې تیریدل راتیریدل، خو بیا یې هم ورځخه د زدکړې پند نه اخست، حال دا چې ښاییدل د هغوی سرکښې نه یې عبرت اخستئ وای او د خپل پیغمبر محمد رسول اللهﷺ خبرې او بلنه یې منلې وای!

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ صبر او زغم ته رابللي دئ او ورته یې د الله دین ته د دعوت او تبلیغ په لار کې ښې ګټورې لارښودنې کړې دي، او فرمایلي دي:

[١٣٠] ای پیغمبره! د کافرانو پرسپکو سپورو خبرو باندې صبر وکړه [یعنی هغه وزغمه] او هر صبا د لمر راختلو نه مخکې او بیا ماښام د لمر پر یوتلو نه وروسته ده خپل رب په پاکئ سره یاد کړه او د هغه حمد او ستاینه وکړه [یعنی لمونځ وکړه] او په شپه کې او د ورځې په دوه خواوو کې (صبا او بیګا) لمونځ وکړه، ترڅو ته ور باندې خوښ سې، یعنی ترڅو یې په ثواب کې الله تعالی جنت درکړي.

قدرمنو دوستانو! په دې مبارك آیت کې الله تعالی په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمنځونو ته اشاره کړي ده.

[١٣١] او ای پیغمبره! ته ده سترګې هغو دنیايي نعمتونو (مال او دولت) ته وروړدې نکړې چې هغه کافرانوته مونږ د ازمایښت لپاره ورکړي دي [یعنی د دنیا توکو نه څه شئ د کافرانو نه ونه غواړي او دوی ته طمعه ونکړې او په دې ډاډه اوسه] چې د ستا خدای الله نعمتونه او ثوابو نه تاته ډیر ښه او تل پاتې دي.

[١٣٢] او ای پیغمبره! خپلې کورنۍ ته ده په لمانځه کړو او ور باندې په صبر کړو سپارښت وکړه او ستانه مونږ روزي نه غواړو؛ تاته مونږ روزي درکوو، او ښه راتلونکې د متقیانو ده، یعنی هغو کسانوته الله تعالی ښه راتلونکې ور په برخه کوي چې تقوا لری او د الله تعالی سزا نه خپل ځانونه په اطاعت او فرمانوړو سره ساتي.

{د مکې کافرانو رسول الله ﷺ نه مادي معجزه وغوښتله}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې کافرانو د تعجیز په مقصد د رسول الله ﷺ نه مادي معجزه وغوښتله، که څه هم قرآن د رسول الله لو یه او تل پاتې معنوي معجزه ده، نو بیا الله تعالی د دوی دا غوښتنه بې ارزښته وګڼله او معنوي معجزه یې چې قرآن دئ او د پخوانیو کتابونو تصدیق کوي؛ کافي و بلله، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿وَقَالُوا۟ لَوْلَا يَأْتِينَا بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّهِۦٓ ۚ أَوَلَمْ تَأْتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِى ٱلصُّحُفِ

ٱلْأُولَىٰ ﴿١٣٣﴾ وَلَوْ أَنَّآ أَهْلَكْنَٰهُم بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهِۦ لَقَالُوا۟ رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ مِن قَبْلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخْزَىٰ ﴿١٣٤﴾ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوا۟ ۖ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ أَصْحَٰبُ ٱلصِّرَٰطِ ٱلسَّوِىِّ وَمَنِ ٱهْتَدَىٰ ﴿١٣٥﴾

[١٣٣] او کافرانو وو ویل: [محمد ﷺ] ولې مونږ ته د خپل رب نه معجزه نه راوړي؟ [ترڅو هغه د هغه پیغمبري تصدیق کړي؟ نو په ځواب کې یې الله تعالی فرمایلي دي:] آیا هغه معجزه چې په لمړ یو پانو کې ده او د هغه تصدیق کوي؛ آیا هغه دوی ته نه ده راغلې؟ هو! دلته استفهام یا پوښتنه تقریري ده، یعنی قرآن مجید د الله تعالی هغه لو یه معجزه ده چې پر رسول الله باندې رانازل سوئ او دوی ته راغلئ دئ او د پخوانیو پیغمبرانو تصدیق کوي، او په پخوانیو کتابونو کې د محمد ﷺ پیغمبرئ ز یري هم راغلي دي، نو دا معجزه کافرانوته بس ده، ځکه رسول الله ﷺ آمي ؤ او لیک او لوست یې زده نه ؤ، خو قرآن چې پرهغه باندې رانازل سوئ دئ؛ هغه پخواني کتابونه مني، نو قرآن د رسول الله ﷺ لو یه او تل پاتې ځلانده معنوي معجزه ده، او د عر بانو ټول ادیبان او شاعران د قرآن آیتونو او یا د سورو راوړو نه پاتې راغلل او ورځخه بې وسې او عاجز سول.

[١٣٤] او که مونږ دا کافران د پیغمبر د را لیږلو نه مخکې د عذاب په راتلو سره هلاك کړي وای او لمنځه مو وړي وای، نو بیا به دوی و یل چې ای د زمونږ لو یه ر به! ولی تا مونږ ته پیغمبر راونه لیږه؟ ترڅو مونږ مخکې لدې چې خوار او سپک سو؛ ستا آیتونو پسې تللي وای، یعنی هغه مونږ منلي وای او سر لوړی او بر یاته رسیدلي وای، او دا دئ اوس دوی ته پیغمبر د کتاب سره راغلئ دئ، نو ښایي چې هغه ومني او د کفر نه لاس واخلي او په اخلاص سره مومنان سی.

[١٣٥] [نو ته ای پیغمبره! دوی ته په ځواب کې] ووایه: مونږ او تاسې هر یو به انتظار و باسو چې څه کیږي؟ نو تاسې همداسي په انتظار کې تم سی، نو بیا به پوه سی چې څوک د سمې لارې خاوندان ول او حق ته سم

سوي ول؟ يعنى دا چې بيا به په يقين سره پوه سى چې تاسې اى كافرانو! په كره لار روان وى او مونږ په سمه لار تلو!

والحمد لله رب العالمين، والصلاة وسلام على رسوله وآله وأصحابه أجمعين.

و سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

❁❁❁